هذا ما كنزته (نقد)

١٤١٨ هجری

د پښتو یو تحقیقی او تنقیدی

لیک

١٩٩٧م

مشتاق مجروح یوسف زے

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

سبحان الله

صفحه نمبر	کرښه	غلط	سم
٦٧	شپږمه	ضد	زد
٦٧	اوولسمه	مرحوم	محترم
٦٨	اوومه	مرحوم	محترم
١١٩	دیارلسمه	ددمرګ	دمرګ
٢٩٩	د اوولسمی کرښی نه تر د صفحه ٣٠٠ د دویمی لکیری تر (د پام نه دے کړے) پوری لیکل د غلط فهمی نتیجه ده ګران لوستونکی دی ورته توجه نه کوی۔		
٣٨٧	پینځمه	٥٩٩٢	٥٩٩
٤١٢	پینځلسمه	١٤٢	١١٤٢
٤٧١	پینځمه	دیوانونه	دیوانونو
٤٧٩	ورڅومبی	شاه محمد	شاه محمد(؟)
٥٦١	پینځلسمه	په	به
٥٦٢	اوومه	ترجیح	ترجیع
٦٥٩	نولسمه	چاپ ده	کښی چاپ ده
٦٧٧	محوارلسمه	مطلب چی	مطلب دا چی

نوټ:۔ تر وسه کوشش شوے دے چی ټیک املا ولیکلی شی خو د کمپیوټر کمپوزرانو د لاعلمی په وجه ځنی دا املا غلطی شوی دی۔ چی د هغی د پاره د ګرانو لوستونکیو نه معذرت خواه یم۔

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

حقونه د لیکونکی په حق کښې محفوظ دی

د کتاب نوم : هٰذَا مَا کَنَزْتُمْ (نقد)
(دا ستاسو خزانې دی)
(سورۃ التوبۃ ایۃ نمبر ۳۵)

د چاپ کال : نومبر ۱۹۹۷م

د چاپ ځای : تاج پریس پیښور

قیمت : یو سل شپیتهٔ روپی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

انتساب

د

اولوا الألباب

په نوم

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

إِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓا

کهٔ یو فاسق خبر راوړی نو سبهٔ پوره لټون په کښې کوئ۔

(الحجرات آیة نمبر ٦)

یاداشت : د آیتونو ترجمه د حافظ محمد ادریس صاحب مرحوم د "کشاف القرآن" نه اخستې شوې ده ۔

www.pukhto.net

فهرست

۱- ابتدائی معروضات ۱

(ا) اوهن البيوت ۳

کمزوري کور (العنکبوت آية نمبر ٤١)

(ب) اعدلوا ۲۷

انصاف کوئ (المائدة آية نمبر ٨)

(ج) ألآن حصحص الحق ۵۷

اوس خو رشتيا څرګند شو

(يوسف آية نمبر ۵۱)

(د) و ما أدراك ما عليون ۷۵

او تاته څهٔ معلومه ده چې عليون څنګه

ځائ دی - (المطففين آية نمبر ۱۹)

(هـ) ساء ما كانوا يحكمون ۸٦

دوی ډيره خرابه فيصله کوی-

(الجاثية آية نمبر ۲۱)

(و) افلا تعقلون ۱۰۳

تاسو ولې د عقل نه کار ناخلئ

(البقرة آئة ٤٤)

(ز) إن هذا إلا أساطير الأولين ۱۲۲

دا خو نور څهٔ نهٔ دی تشې پخوانۍ

قصې دی - (الأنعام آية نمبر ۲۵)

(ح) إدفع بالتی هی احسن ۱٤۵

په ښه طريقه د ځانه دفع کوه

(حم السجدة آية نمبر ۳٤)

www.pukhto.net

٢۔ د یونس د دیوان شهادت ١٦١
(ا) ما لكم كيف تحكمون ١٦٣
دا تاسو څنګه فیصلې کوئ
(القلم اية نمبر ٣٦)
٣۔ بیلګې ١٩٣
(ا) أفلا يتدبرون ١٩٥
ایا تاسو فکر نه کوئ (محمد اية نمبر ٢٣)
(ب) لم تقولون ما لا تفعلون ٢٣٣
داسې خبره ولې د خلق نه وباسئ چې هغه
نه کوئ۔ (النجم اية نمبر ٢)
(ج) هاتوا برهانكم ٢٥٥
خپل دلیل پیش کړئ (البقرة اية نمبر ١١١)
(د) هذا لشى عجاب ٢٦٤
دا خو څه ډیره ناشنا خبره ده۔
(ص اية نمبر ٢)
(هـ) إن الظن لا يغنى من الحق شيئا ٢٧٥
اټکل د حق په مقابله کښې هیڅ کار
نه ورکوی۔ (النجم اية نمبر ٢٨)
(و) رجماً بالغيب ٢٨٣
دا ټولی اټکل غیبی خبرې دی۔
(الكهف اية نمبر ٢٢)
(ز) فاتوا بكتاب ٢٩٧
راوړئ کتاب (القصص اية نمبر ٤٩)
٤۔ تاریخی پس منظر ٣١٣
(ا) فهم في أمر مريج ٣١٥
نو دوی په تردد کښې دی (ق اية نمبر ٥)
٥۔ جدیدیت ٣٣١

www.pukhto.net

(ا) لا يجرمنكم شنآن قوم
على الا تعدلوا ۳۳۳
د يوې دلې دشمنۍ دې تاسو دې ته نه
تيارو ی چې د انصاف نه لاس واخلئ۔
(المائدة آية نمبر ۸)
٦۔ د پتې خزانې مآخذ ۳٦۳
(ا) إن هم إلا يخرصون ۳٦٥
او دوی تش اټکلونه چلوی
(الانعام اية نمبر ۱۱٦)
(ب) فاعتبروا يا اولي الابصار ٤۰۱
نو ای د سترګو خاوندانو له دی
نه سبق واخلئ (الحشر اية نمبر ۲)
(ج) هذا إفك قديم ٤۲۲
همغه زاړه دروغ دی (الاحقاف اية نمبر ۱۱)
(د) قولوا قولاً سديداً ٤٤۸
او سمه (محکمه) رښتينې خبره کوئ
(الاحزاب اية نمبر ۷۰)
(هـ) فاسئلوا أهل الذكر ٤۷٥
نو تاسو لږ د کتاب د خاوندانو
نه پوښتنه وکړئ (الانبياء اية نمبر ۷)
(و) ذلك مبلغهم من العلم ٥۰۹
د دغې خلقو د پوهې اخری حد بس دغه
هومره دی (النجم اية نمبر ۳۰)
۷۔ د پتې خزانې راويان ٥۳۷
(ا) إن يتبعون إلا الظن ٥۳۹
دوی خو محض په ګومانونو پسې
روان دی (الانعام اية نمبر ۱۱٦)

www.pukhto.net

۸۔ اینکر انزم ۵۷۵
(ا) لا تکتموا الشهادة ۵۷۷
ګواهی هیڅري مهٔ پټوئ
(البقرة آیة نمبر ۲۸۳)
۹۔ ورپسې ۶۰۳
(ا) إن هذا الاختلاق ۶۰۵
دا خو د ځانه جوړه شوې خبره ده
(ص آیة نمبر ۷)
۱۰۔ ریشتلے ۶۲۷
(ا) و تنسون أنفسكم ۶۲۹
او خپل ځانونه مو هیر دی
(البقرة آیة نمبر ۴۴)
(ب) واجتنبوا قول الزور ۶۵۳
او ځان بچ ساتئ د دروغو ونیلو نه
(الحج آیة نمبر ۳۰)
(ج) و تلك حجتنا ۶۸۴
او دا زمونږ ه هغه دلیل وهٔ ۔
(الإنعام آیة نمبر ۸۳)
۱۱۔ اشاریة الف ۷۰۲
۱۲۔ اشاریة ب

www.pukhto.net

بسم الله الرحمن الرحیم

عبدالحئی خان حبیبی مرحوم د پښې خزانې د څلورم چاپ په مقدمه کښې لیکی---

"له کومه وخته چې دغه کتاب (پټه خزانه - راقم) نشر شوے دے د دغو درې دیرشو کالو په موده، دول دول خبرې د دغه کتاب په باب ارویدل شوی دی او مختلف شکوک د خینې خلقو له خوا پرې ښکاره شوی دی، چا وویل چې دغه کتاب ما جوړ کړے دے، او خینو بیا دا خبره کړې چې محمد هوتک دغه کتاب د خپل حکمدار شاه حسین بن حاجی میرویس خان د خوشالۍ له پاره جعل کړے دے۔"

او حقیقت هم دغه دے چې حبیبی مرحوم بیان کړے دے - له دغې خبرې نه پس هغوی د خینو شکاکانو خواب کړے دے۔

په پټه خزانه د شکونو اظهار د هغې د چاپ سره سم شروع شوے دے - خو محترم قلندر صاحب وړومبے نقاد دے چې په دغه موضوع ې پوره کتاب د "پټه خزانه فی المیزان" په نوم په ۱۹۸۸ عیسوی کښې چاپ کړو- چې په کال ۱۹۹۲ عیسوی کښې ې د همیش صاحب له خوا د "تول پارسنګ" په نوم د جواب یو کوشش وشو - هسې خو د همیش صاحب نه اګاهو دوۍ افغانانو لیکونکیو محمد آصف صمیم او زرین انخور په شریکه "د پټې خزانې میزان ربنتیا میزان دے؟" په نوم د قلندر صاحب د یاد شوی کتاب د یوې ډیرې تلیلې برخې چې زیاتې په کښې د کتابت غلطۍ پیش

www.pukhto.net

شوی دی جواب کړے وۀ چې ما ئې په خپل دې کتاب کښې جواب ور کړے دے۔ دغه رنګ همیش خلیل صاحب هم د هغوی د پوره کتاب جواب نه وۀ کړے۔ خو بیا هم د افغانستان دلویو لویو عالمانو نه نبۀ دے ،او کوشش ئې کړے دے چې د قلندر صاحب اعتراضونه غلط ثابت کړی ۔ خو په دې مقصد کښې هغه څومره کامیاب شوے دے ؟ دا به زما له دې خاوړې ایرې تحقیق نه ګرانو لوستونکیو ته په ډاګه شی۔

زۀ دلته یوه بله خبره کول هم ضروری ګڼم او هغه دا چې قلندر صاحب او همیش صاحب دواړه زمانه پیر مشران دی د دواړو ډیر احترام کوم۔ خو د همیش صاحب د کتاب تول پارسنګ جواب کول هم په خان فرض ګڼم او هغه څکه چې قلندر صاحب په کوم مقصد "پټه خزانه فی المیزان" لیکلے وۀ نو هغه د هغوی په الفاظو کښې دا وۀ چې۔۔۔

" د دې مقالې د لیکلو یوه وجه دا هم ده چې له څۀ مودې راسې ما دا محسوس کړی دی چې د افغانستان وروڼه لیکونکی او د هغوی په تتبع کښې د سو ویت یونین، امریکې، برطانیې، هند او نورو ملکونو مستشرقین او پښتو شناسان "پټه خزانه" په پټو ستر ګو د منلو یوه صحیفه ګڼی او څکه د دې خبرې امکانات ورځ په ورځ زیاتیږی چې څۀ موده پس به دا کتاب هغه استناد حاصل کړی چې د انتقاد په عدم موجودګۍ کښې به راتلونکی نسلونه ګمراه کړی او د مستقبل د تحقیق او ریسرچ لار کښې به یو غټ خنډ را پیدا کړی۔"

www.pukhto.net

ددې برعکس د محترم همیش صاحب کتاب "ټول پارسنګ" چې د کومې جذبې لاندې لیکلے شوے دے هغه محترم همیش صاحب په خپله یوه انټرویو کښې چې ښاغلی ګل محمد بیتاب ترې اخستې وه او د پینځم دسمبر کال نولس سوی یو نوی په "غازی" اخبار کښې چاپ شوې وه داسې بیانوی ----

" ګل محمد بیتاب :- پته خزانه فی المیزان مقاله چې کله قلندر مومند صاحب لیکلې وه نو دا ې تاسو ته ښودلې وه تاسو ددې اصلاح هغه وخت ولې نه کوله؟

همیش صاحب :- خبره دا ده چې دا ې ماته ښودلې نه وه- البته چې کله ې ورومبی مقاله لیکله نو ماته ې ونیلی وو چې زه یوه مقاله لیکم - زه ددې نه انکار نه کوم چې دۀ ماته مخکښې ونیلی وو خو ما دا نه وو ونیلی چې زه به ددۀ جواب کوم ما خو وې چې دې به ې خدا ې خبر کله لیکی چې وۀ ې لیکی نو کۀ صحی وه، وۀ به ې منو او کۀ صحی نه وه نه به ې منو- نو محۀ وخت چې دۀ دغه مقاله چاپ کړه او محۀ موده تیره شوه نو دۀ بیا یوه لافه وکړه "چې داسې لا څوک پیدا نه شو چې زما جواب وکړی" نو ما وې راشه اوس دا سړے خرابیږی - نو ما چې ددۀ مقاله وکته او بیا مې قلمی نسخې وکتې نو ددۀ هغه اعتراضونه ماته ښکاره شو نو ما ددۀ جواب ولیکلو-"

نو زۀ کۀ یو خوا د هغوی خالص ضدی لیک دې خبرې ته

www.pukhto.net

جور کړم چې د تول پارسنګ جواب وکړم نو بل پله د خنې نوې نقادانو د "تیارې سوکونه" زمادد ې لیکلو محرک وګرځیدل۔

د یو دوۍ خبرو متعلق معلومات ماته د دې کتاب مکمل کیدو نه پس وشو۔ نو غواړم چې هغه دلته ګرانو لوستونکیو ته پیش کړم۔

وړومبۍ خبره دا وه چې د هیواد په بحث کښې محترم همیش صاحب د مرزا حنان بارکزی دا شعر پیش کړے وۀ چې۔۔

سوال په وخت کوه د نو خطانو۔۔۔

مسافر د بل هیواد په زړۀ نړے وی

ما هلته د دې شعر متعلق صرف دومره خبره کړې ده چې د ا شعر بې وزنه دے۔ او مرزا حنان بارکزی بې وزنه شعرونه نه دی ونیلی۔ خو اوس چې د پښتو اکیمۍ کونټې له خوا د حنان بارکزی مکمل دیوان چاپ شو نو پته ولګیده چې د معصوم هوتک په چاپ شوی دیوان کښې دیرې غزلې نشته او دا دیوان ې لری۔ خو د حیرانۍ خبره دا ده چې دغه شعر خو څۀ چې دغه پوره غزل په دغه نوموړی دیوان کښې نشته۔

دویمه خبره د رحمان بابا په حقله چې کوم بحث په "پته خزانه فی المیزان" کښې شوے دے او همیش صاحب ې د جرس په یوه ګڼه کښې د "اشرف خان هجری قیدی کۀ آزاد" تر عنوان لاندې جواب کړے دے دهغې جواب ما په خپل دې کتاب کښې ورکړے دے ګران لوستونکی به ې وګوری۔ قلندر صاحب په خپل بحث کښې د سکندر خان خټک دیو نظم متعلق د کامل مرحوم په حواله خبره کړې وه۔ خو په حوالو کښې

www.pukhto.net

یې ذکر نه وه کړے - چې محترم همیش صاحب پرې تنقید کړے دے او ونیلی یې دی چې د دې نظم ذکر کامل مرحوم چرته کړے دے؟ دا نظم خو په وړومبی خل بناغلی ح رفیع ادبی دنیا سره متعارف کړے دے۔ د دې خبرې جواب ما په متعلقه بحث کښې ورکړے دے خو هغه وخت ما د معلوماتو د عدم موجودګی په وجه دا خبره نه وه کړې چې د دې نظم ذکر کامل مرحوم په خپل کتاب "رحمان بابا" کښې په صفحه ۲۹ کړے دے۔ په دې لړ کښې زه د ګران ملګری سید محمود ظفر ممنون یم چې دا حواله یې راته وښیلله۔

ما غوښتل چې د حوالو نمبرې لرې نمایان وی چې لوستونکیو ته اسانی وی خو چونکې په پښتو او اردو کمپیوټر پروګرامونو کښې هغه سهولیات نشته کوم چې انګریزی یا عربی کمپیوټر پروګرامونو کښې موجود دی خکه نو ما د حوالو نمبرې په عربی هندسو کښې Reverse ورکړی دی - او د کتاب د صفحاتو د نمبرو د پاره هندی هندسې استعمال شوی دی - امید لرم چې ګران لوستونکی به یې Mind کوی نه۔

ما تر خپله وسه د محترم همیش خلیل صاحب او د خینو نورو هغو مد افعینو جوابونه کړی دی چې پته خزانه معنوی هستی ګنهی او هیڅ یو علمی دلیل له اهمیت نه ورکوی - او د خنو نورو مد افعینو په جواب کښې صرف دا اشرف خان هجری دا یو شعر کافی ګڼم چې---

نور قابل دیادونه دی په دا ذیل

نه یې شعر سنجیده نه د باور دے

www.pukhto.net

زهٔ د محترم مشر قلندر مومند صاحب او د ساهو لیکونکیو د مرکې د نورو غړو خصوصی شکریه ادا کوم چې په دې مقالو د هغوی ګټه ور تنقید زما ډیره رهنمائی کړې ده ـ دغه شان د ملګرو زبیر حسرت، حنیف خلیل، جمشید مومند هم ډیر ممنون یم چې په دې سلسله کښې یې ما له ډیر د حوالو کتابونه راکړی دی ـ دغسې د ډاکټر اسرار صاحب، قیصر اپریدی او تاج الدین تاجور د مفیدو مشورو هم منه کوم ـ د کراچۍ د ملګرو روښان یوسفزی، ریاض تسنیم، محب وزیر او د کراچۍ میوزیم د قلمی نسخو د انچارج محمد شاه بخاری هم شکریه ادا کوم چې د یونس د قلمی دیوان نقلونه یې ماته فراهم کړی دی ـ

مشتاق مجروح یوسفزے

د جمادی الاخرۍ ورځ ومبۍ ورځ ۱۴۱۸ هجری

مطابق څلورم اکتوبر نولس سوه اوو ډ نوی

www.pukhto.net

www.pukhto.net

اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ

د محمد هوتک علیه الرحمة د تذکرې "پټې خزانې" د نوم په حقله محترم قلندر مومند په خپل کتاب "پټه خزانه فی المیزان" کښې لیکی---

"چې د کتاب نوم د شلمې صدۍ د نفسیاتی کیفیت پیداوار دے او د یو داسې کس د ذهن اختراع ده چې هغه خپلو اوستونکیو باندې د اثر قائمول غواړی چې هغوی دې دا کتاب د یوې داسې خزانې په حیثیت تسلیم کړی چې تر اوسه پټه وه دا کیفیت د محمد هوتک نه شو کیدے۔ (1)

د محترم قلندر مومند دې خبرې سره به هر سړے اتفاق وکړی چې په پټه خزانه کښې ذکر شوی شاعران که د شلمې صدۍ د خلقو د پاره پټ وو خو د محمد هوتک او د هغه وخت د خلقو د پاره هیڅ کله پټ نه وو او نه محمد هوتک ته دا علم وه چې په شلمه صدۍ کښې به د هغه کتاب چاپ کیږی نو د غه شاعران او د هغوی کتابونه به موجود نه وی نو د هغوی په غیر موجودګۍ کښې به دا کتاب پټه خزانه ګڼلے شی ۔ او که د داسې وګڼلے شی نو بیا به دا هم منل پکار وی چې محمد هوتک ته علم غیب هم حاصل وه۔

محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې د دې اعتراض په جواب کښې لیکی چې---

"مونږ د هیڅ یو لیکوال نه دا حق نه شو اخستے او نه دا حق لرو چې هغه په خپل تصنیف ، تالیف او یا بل کوم

www.pukhto.net

کتاب کوم نوم ولې کښيښود۔ د ا د هر ليکوال، شاعر، افسانه نګار، درامه نويس او تذکره نګار وغيره خپله خوښه ده چې هغه د خپل کوم ادبی اثر دپاره کوم نوم غوره او مناسب ګڼی د ا د هغهٔ حق دے چې هم هغه نوم ورباندې کيږدی او د ا روايت د محمد هوتک نه هم ډير د وړاندې نه را روان دے۔ چونکې د زير بحث کتاب ورومبی خزانه اکثره په متقدمينو اړه لری چې حالات يې بيخی پټ ووخکه نو هم په دغه وجه هم کهٔ محمد هوتک د خپل تاليف نوم پټه خزانه کښيښود نو هغهٔ ته د ا حق حاصل دے او د ا حق د هغهٔ نه ترورل د هغهٔ په ذهنی متاع د يوې ډاکې اچولو نه په هيڅ صورت کمه نهٔ ده۔ دغه ضمن کښې د مخزن الاسرار ذکر به بې ځايه نهٔ وی کهٔ په دغه عين موقعه وشی۔ د ا کتاب چې د پټه خزانه نه ورومبے ليکلے شوے دے د صوفيانو په تصوف او تذکرو مشتمل دے او د اسې حالات په کښې راغلی دی چې د اکثرو صوفيانو نه پټ نهٔ وو ولې بيا يې هم نوم مخزن الاسرار ايښودے شوے دے۔ هم دغه شان د اخون درويزه مخزن چې د ګڼو مذهبی کتابونو او مسئلو يوه د اسې مجموعه ده چې د اخون درويزه نه وړاندې هم د چا نه پټې نهٔ وے او ډيرو عالمانو ته معلومې وے بيا يې

www.pukhto.net

هم نوم مخزن دے خو په دغه کتاب تر اوسه هیڅا دا
اعتراض ونۀ کړو چې په دغه بنکاره مسئلو ولې مخزن
نوم کښیښودے شو۔ دغه شان به مخزن افغانی واخلو چې
ټول حالات او واقعات ئې معلوم وو"۔ (2)

د دې اعتراض په جواب کښې به زۀ دومره ووایم چې تر کومه دیو کتاب د نوم کښیښودو تعلق دے نو دا ټیک ده چې دا د مصنف یا د مولف حق دے او ځوک د هغۀ په ذهنی متاع پاکه نۀ اچوی خو دا هم د مصنف یا مولف ذمه واری ده چې هغه به کتاب له د اسې نوم ږدی چې د هغې د کتاب د مندرجاتو سره څۀ ترون او تعلق وی۔ کۀ ځوک خپل کتاب له چمن بې نظیر نوم ږدی نو هغۀ ته به دغسې بنکاری ځکه چې هر ځوک خپل ګټی بناغلی۔ البته ځومره پورې چې د مخزن الاسرار خبره ده نو هغه د صوفیاؤ ذکر او د تصوف رازونه وو چې ډیرو کمو خلقو ته معلوم وو ځکه چې د صوفیاؤ تعداد په هره زمانه کښې ډیر کم وی۔ نو هغه کۀ د صوفیاؤ دپاره پټ رازونه نۀ وو نو د اکثریت دپاره پټ وو۔ باقی محترم همیش صاحب د اخون درویزه د مخزن خبره کړے ده ۔ نو په دې حقله به زۀ دومره ووایم چې د مخزن معنیٰ خزانه ده او د هغۀ د دغې تصنیف یا تالیف سره د پټې څۀ تخصیص نشته نو نۀ پوهیږم چې بناغلی ولې په دلیل کښې پیش کړے دے۔ بیا ئې ورپسې د مخزن افغانی خبره کړے ده نو په هغې کښې هم د پټوالی څۀ خبره نشته۔ ماته د اسې بنکاری لکه چې محترم همیش صاحب هره خزانه پټه ګټی حالانکې د اسې نۀ ده ۔ او نۀ دا ضروری ده چې هره خزانه دې پټه

www.pukhto.net

وی۔ خکه نو دهغوی پیش کړی دغه دلیلونه هیڅ وزن نه لری۔

په دغه اقتباس کښې چې ما پورته د تول پارسنګ نه نقل کړو یوه خبره دا هم شوے ده چې "چونکې د زیر بحث کتاب ورومبی خزانه اکثره په متقدمینو اړه لری چې حالات یې بیخی پټ وو"۔ او دا خبره د پټې خزانې مولف هم کړے ده چې۔۔

"د دې کتاب نوم دے پټه خزانه خکه چې دلته هغه احوالونه راغلی دی چې پټ وو او نه وو بنکاره" (3)

خو ددې باوجود د ورومبی خزانې عنوان داسې لیکی۔۔۔

"په بیان کښې دهغو شاعرانو چې پخوا تیر سوی او مونږ ته ددوی ویناوی بنکاره وے"۔ (4)

نو د دې دواړو متضاد خبرو په موجودګی کښې به لوستونکی خواران کومه خبره ټیک ګڼی۔ د دې نه علاوه محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب کښې د بناغلی زلمی هیواد مل صاحب دا خبره نقل کړے ده چې "د محمد هوتک دا پیژندلی مشاهیر زیاتره معلوم خلق دی"۔ نو د پټې خزانې د داخلی او د بناغلی زلمی هیواد مل د خارجی شهادت نه دا څرګندیږی چې په پټه خزانه کښې داسې احوال نه دی راغلی چې هغه د چا نه پټ وو۔ اوس نه پوهیږم چې محترم همیش صاحب دا خبره په کوم دلیل کوی۔ چې "د زیر بحث کتاب ورومبی خزانه اکثره په متقدمینو اړه لری چې حالات یې بیخی پټ وو"۔ ام عندهم الغیب فهم یکتبون۔

د پټې خزانې دواړه خبرې ما لوستونکیو ته وړاندې کړې چې

www.pukhto.net

ښکاره تضاد لری خو د پټې خزانې دفاع کونکی د دې په حقله هیڅ نه وائی
ګنې د دې غلطۍ احتمال د کاتب نه ممکنه کیدل خو چرته تلی نه دی خو نه
پوهیږم چې ولې؟

د دې نه پس په پته خزانه فی المیزان کښې چې کوم اعتراض شوے
دے هغه د کال یولس سوه یو څلویښتم هجری، د شپارسم جمادی الثانی د
جمعې د ورځې په لیکلو شوے دے۔ محترم قلندر مومند صاحب لیکی---

"که دا ثابته شی چې شپارسم جمادی الثانی یولس سوه یو
څلویښتم هجری د جمعې ورځ نه وه نو د پټې خزانې
ټول عمارت به راپریوځی او یو دلیل به هم قاری په دې
قانع نه کړی چې ګوندې دې کتاب کښې څه اصلیت
هم شته۔" 5

او د دې لیکلو نه پس یې د تقویم تاریخی سره مقابله کوی او لیکی--

"د عبد القدوس هاشمی مرتبه تقویم تاریخی مطابق یکم
جمادی الثانی د اتوار ورځ او د جنوری او وولس سوه یو
کم اویا عیسوی دریمه نیټه وه په دې حساب شپارسم
جمادی الثانی یولس سوه یو څلویښتم هجری د پیر
ورځ یعنې دو شنبه وه اوس د هجری میاشتو په سلسله
کښې د ورځې نیمې فرق خو ممکن دے لیکن د جمعې او
پیر (ګل) فرق بالکل ممکن نه دے۔ 6

د دې په جواب کښې همیش صاحب په خپل کتاب تول پارسنګ

www.pukhto.net

کښې د قاسم علی خان افریدی دا شعرونه پیش کړی دی کوم چې هغه د خپل پلار په مرګ وئیلی دی---

د شپیتو کالو په عمر وۀ جهان کښې

سن قصبغ وۀ د هجرت رسول خدا

په تاریخ اوولسم جمادی الاول کښې

چهارشنبه د نماز دیګر وۀ وقت قضا [7]

او لیکی---

"چې پورته شعرونو کښې د کال یولس سوه دوه نوی هجری د جمادی الاول اوولسم تاریخ د چارشنبې ورځ ښودلے شوے ده حالانکې د تقویم تاریخی په حساب د ذکر شوی کال د جمادی الاول اوولسم تاریخ د خالی (شنبې) ورځ راځی او د ورځو دا فرق هم هغه هومره دے لکه څومره چې د محمد هوتک په ښودلی تاریخ کښې دے"۔ [8]

دغسې هغوی د امیر خان د دیوان نه هم خنې تاریخونه راخستی دی او د کاظم خان شیدا د دیوان د ختمیدو تاریخ یې هم په دلیل کښې پیش کړے دے چې د تقویم تاریخی سره فرق لری۔ او د دې ثابتولو یو ناکام کوشش یې کړے دے چې یا خو په اسلامی میاشتو کښې د دریو ورځو فرق راتلل ممکن دی او یا دا چې تقویم تاریخی غلط دے۔ حالانکې د اسې نه ده نه تقویم تاریخی غلط دے او نه په اسلامی میاشتو کښې د یوې ورځې

www.pukhto.net

لیمې نه زیات فرق راتلل ممکن دی۔ ښاغلی همیش صاحب عجیبه کار دا کړے دے چې لکه د نورو اعتراضونو په شان ې دلته دغه غوړه په کاتب نۀ ده ور اړولے او خامخا ې دومره بحث کړے دے چې کۀ یو خوا ې د لوستونکیو وخت ضائع کړے دے نو بل پله ې منلی شوی اصولو ته د شک په نظر کتلی دی۔

د قاسم علی خان افریدی دغه شعرونه چې بره نقل شو ، شاعر ادیب خو ځۀ کۀ هر هغه سړے ې وگوری چې لږ ډیر د شعر ذوق لری نو هم به پرې پوې شی چې دا شعرونه غلط دی ۔ لکه دغه دوه شعرونه داسې دی چې هره مصرعه ې د دولس سیلابه لری سیوا د هغې دریمې مصرعې نه په کومه کښې چې تاریخ بیان شوے دے ۔ دغه دریمه مصرعه څوارلس سیلابه ده چې ښکاره غلطه ده او ښاغلی همیش صاحب په دلیل کښې پیش کړے ده چې پخپله یو ښۀ شاعر او ادیب دے او زما تر ې دا توقع بیخی نۀ وه۔ دغه مصرعه کښې کۀ مونږ د اوولسم په ځاې اووم ولیکو نو یو خو به مصرعه دولس سیلابه او د نورو مصرعو برابر شی او بل به تاریخ د تقویم تاریخی سره ټیک شی۔ لکه داسې ---

د شپیتو کالو په عمر وۀ جهان کښې

سن قصبغ وۀ د هجرت رسول خدا

په تاریخ اووم جمادی الاول کښې

چهارشنبه د نماز دیگر وو وقت قضا

په تقویم تاریخی کښې یولس سوه دوه نوی هجری کال کښې جمادی الاول

www.pukhto.net

د پنجشنبې په ورځ شروع شوے دے او اووم تاریخ ې د چارشنبې په ورځ راځی چې بیخی ټیک دے او دیوې ورځې فرق هم نه لری - بناغلی همیش صاحب په کتابیاتو کښې د قاسم علی خان افریدی د قلمی دیوان ذکر کړے دے او دغه شعرونه ې هم د هغې نه پیش کړی دی۔ د بناغلی سیف الرحمان سید سره چې د قاسم علی خان د قلمی دیوان کومه برخه ده ، برخه ورته څکه وایم چې لږې پانې دی یعنې د "الف" ردیف پوره دے او د "ب" ردیف نیمګړے دے په هغې کښې دا شعرونه داسې راغلی دی۔۔۔

د شپیتۀ کالو په عمر وو جهان کښې

سن قصبغ وو د هجرت رسول خدا

په هنګام زۀ دنو کالو وم یارانو

شوم یتیم لادوه کشران وو راسرا

زما اوس په فرخ آباد کښې ستو که ده

نوابی د مظفر جنګ ده در این جا

خو په دې شعرونو کښې لکه چې لوستونکیو وکتل د تاریخ او ورځې ذکر نشته - بهر کیف لکه چې ما اګاهو عرض وکړو چې دغه غلطی د ناقل یا کاتب ده څکه چې ټولې مصرعې دولس سیلابه دی او دغه مصرعه چې په کښې تاریخ بیان شوے دے څوارلس سیلابه ده - چې یوه ښکاره غلطی ده -

دغه رنګ د تقویم تاریخی د غلط ثابتولو او په اسلامی میاشتو کښې د دریو څلورو ورځو د فرق ممکنه کولو دپاره محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب تول پارسنګ کښې د کاظم خان شیدا د قلمی نسخې

www.pukhto.net

کومه چې د هغوی د وینا مطابق د اسلامیه کالج په لائبریرۍ کښې محفوظه ده د هغې د اختتام نیټه په خپل دلیل کښې پیش کړے ده ـ زهٔ یې دلته د لوستونکیو د اسانۍ دپاره نقل کوم ---

"تمام شد دیوان شید ا تصنیف خان والا شان مظهر لطف والاحسان حاتم زمان خان زاده کاظم خان شید ا دام اقباله بخط بندهٔ احقر العباد فیض علی ولد قاسم بیگ متوطن شاه جهان آباد بتاریخ هفدهم شهر صفر بروز جمعه سنه ۱۱۹۲ هجری"- 9

د دغې اختتامیې د نقل کولو نه پس لیکی چې-----

"د تقویم تاریخی په حساب د کال یولس سوه دوه نوی هجری د صفر اوولسم تاریخ د جمعې نه بلکې د سه شنبې ورځ ده چې د محمد هوتک له حسابه یوه ورځ نوره هم زیاته ده۔" 10

ما خپل خانی د اسلامیه کالج دغه ذکر شوے نسخه نهٔ ده کتلے خو د James Fuller Blumhardt, M.A او D.N. Mac Kenzie M.A.Ph.d کتاب Catalogue of Pushto Manuscripts in the Libraries of the British Isles مې په دې غرض وکتلو ، په هغې کښې د کاظم خان شید ا د څلورو قلمی نسخو د ختمیدو تاریخونه ورکړی شوی دی ـ د وړومبۍ قلمی نسخې د اختتام تاریخ داسې ښیئی--

"تمت تمام شهٔ په تاریخ شپارسم د جولایۍ سنه (۱۷۸۲)

www.pukhto.net

اوولس سوه دوه اتیا عیسوی په دستخط د غلام جیلانی پښاوری۔" (11)

ددویمې قلمی نسخی تاریخ داسې بیانوی---

"تمت تمام شۀ په تاریخ لسم د ماه اګست سنه (۱۸۷۶) اتلس سوه شپږ اویا عیسوی په دستخط د فقیر حقیر غلام جیلانی پښاوری۔" (12)

ددریمې قلمی نسخې داختتام تاریخ داسې لیکی---

"تمت تمام شد دیوان بعون الله تعالیٰ بخط احقر العباد فیض علی۔" (13)

د څلورمې قلمی نسخې تاریخ داسې نقل کوی۔

"تمت تمام شد دیوان شیدا بعونه المستعان بخط پلید بنده اضعف العباد پندت کرتا کشن عفی الله عیبه و ستر عیوبه واقعه تاریخ بیست سوم درویشتم مارچ سنه (۱۸۵۲) اتلس سوه دوه پنځوسم عیسوی یوم شنبه اختتام پوشید۔ (14)

په دیو څلورو مختلفو نسخو کښې یوه نسخه د فیض علی په کتابت تر سره شوے ده خو د بد قسمتی نه هغه تاریخ او ورځ نه لری۔ کنی د دغې کتاب لیکونکیو دیره خواری کړے ده او په خپل دغه کتاب کښې ې د قلمی نسخو د صفحاتو شمیر، سائز، د لکیرو تر شمیره پورې معلومات ورکړی دی۔ خو کۀ مونږ دهمیش صاحب په کوته کړی شوے دغه تاریخ د ۱۱۹۲ هجری په خاې ۱۱۹۶ هجری وګنو نو بیا ې ورځ د تقویم تاریخی سره

www.pukhto.net

ټیک راځی۔ او دا هغه غلطی وی چې د ناقل یا کاتب نه یې احتمال کیدے شی خو محترم همیش صاحب د پټې خزانې په حقله دغه احتمال د کاتب نه ممکن ګڼی ولې د بل د کتاب کاتب ورته د کراماً کاتبینو ځنې یو تن بنکاری۔ زما خپل خیال دا دے چې په اسلامی میاشتو کښې د یوې نیمې ورځې نه زیات فرق نه راځی او نه تقویم تاریخی غلط دے خو یا د دغې نسخې د کاتب نه غلطی شوے ده او یا بیا د نقل کولو په وخت سهوا شوے ده ۔ او نه محترم همیش صاحب د دغې قلمی نسخې متعلق پوره معلومات ورکړی دی ۔ چې فیصله یې وشی څکه چې د شیدا صاحب د ځلورو قلمی نسخو په حقله معلومات مونږ ته دغه کیټلاګ راکوی او تر دې پورې چې هم د دغه کاتب یعنې فیض علی د لاسو لیکلے قلمی نسخه په برېښ میوزیم کښې پرته ده خو لکه چې د ختمیدو نیټه نه لری څکه نو په دغه کیټلاګ کښې یې نیټه نه ده ښټیلے شوے ۔ خو خیر په تول پارسنګ کښې دنورو پیش کړو شوو نمونو نه به لوستونکیو ته اندازه وشی ۔

په بره ذکر شوی کتاب کښې د ګڼو شاعرانو د قلمی دیوانونو په حقله معلومات ورکړی شوی دی خو اکثر د خاتمې پوره تاریخونه نه لری ځنې عیسوی سنونه لری او ځنې که په هجری حساب دی نو د ورځې ذکر په کښې نه وی شوے ۔ صرف د قاسم علی خان افریدی په دیوان کښې دوه ځایه د کاتب له اړخه داسې لیکل شوی دی ۔ یو ځای په صفحه ۱۳۳ بی لیکلی شوی دی چې---

" دیوان افریدی به دستخط فقیر حقیر کثیرت لتقشیر

www.pukhto.net

(کذا) من تصنیف قاسم علی خان افریدی بروز پنج شنبه
تحریر بیستم شهر ربیع الاول سنه یک هزار دو صد و نه
هجری جلوس شاه عالم روند بادشاه سنه ۳٦ اتمام یافت۔" (15)

د تقویم تاریخی په حساب په دولس سوه نهم هجری کال ربیع الاول د جمعې په ورځ شروع شوے دے او په دې حساب د ربیع الاول شلم تاریخ د چارشنبې په ورځ راځی او صرف دیوې ورځې فرق لری۔ دغسې هم په دغه دیوان کښې دویم تاریخ په صفحه یو سل درې څلویښتمه بی داسې لیکلے شوے دے۔۔۔

"تمت تمام شد به دستخط فقیر حقیر من تصنیف قاسم
علی خان افریدی اتمام یافت به روز ادینه وقت غرمه به
تاریخ بیست یکم ربیع الاول سنه (۱۲۰۹) دولس سوه نهم
هجری۔" (16)

د تقویم تاریخی په حساب د ربیع الاول یویشتم تاریخ د پنج شنبې ورځ راځی او دا تاریخ هم دیوې ورځې فرق لری۔

د قلمی نسخو یا د شاعرانو په دیوانونو کښې د راغلیو تاریخونو په نسبت د تاریخ په کتابونو کښې راغلی تاریخونه زیات قوی وی خکه چې هغوی تاریخ بیانوی نو حتی الوسع کوشش ې دا وی چې تیک تاریخ ولیکی۔ دلته زه د مورخینو نه په معذرت سره دومره عرض کوم چې د بد قسمتی نه زمونږ په وطن کښې د تاریخ کتابونه هم داسې دی چې په تاریخ ې اعتبار نه شی کیدے او مورخین صاحبان ې هډو خیال نه ساتی۔ لکه هم

www.pukhto.net

دې بحث کښې محترم همیش خلیل صاحب د تزک بابری نه یوه دوه نمونې پیش کړی دی او دا ئې ثابته کړے ده چې په اسلامی میاشتو کښې د دریو محلورو ورځو فرق هم ممکن دے او یا تقویم تاریخی غلط دے۔ ځکه چې د تزک بابری نه پیش کړے شوو نمونو کښې چې کوم تاریخونه ذکر دی هغه د تقویم تاریخی سره سمے نه خوری۔ تزک بابری اصل کتاب په ترکی ژبه کښې لیکلے شوے دے بیا ئې په فارسی، انګریزی او اردو کښې ترجمې شوی دی۔ بناغلی همیش صاحب د تزک بابری اردو ترجمې نه استفاده کړے ده لکه چې د تول پارسنګ په اخره کښې د کتابیاتو د فهرست نه ښکاره ده۔ د تزک بابری ورومبی نمونه هغوی دا پیش کړے ده۔۔۔۔

"تزک بابری د ۹۱۵ هجری په واقعاتو کښې لیکی چې تیسری صفر کو جمعہ کے دن دریائے پنجکوڑہ اور دریائے بجور کے سنگم پر منزل کی اتوار کے دن میں بجور پہنچا اور خواجہ کلاں کے ہاں رات گزاری۔ شراب نوشی کی محفل جمی۔" (17)

د دې اقتباس نقل کولو نه پس ته لیکی چې۔۔۔۔

"د کال ۹۱۵ هجری د صفر دریم تاریخ د جمعې ورځ د تقویم تاریخی په حساب د چارشنبې ورځ راځی، هر کله چې د پټې خزانې د جمعې ورځ د پیر ورځ ده۔ خو اوس که د جمعې او پیر فرق څوک بالکل ممکن نه ګڼی نو د جمعې او چارشنبې دغه فرق ته به څه وائی۔" (18)

اوس نو ښکاره خبره ده چې لوستونکی به دې تاریخ ته غلط وائی ځکه چې د

www.pukhto.net

اردو مترجم هر څوک چې دے هغې خوار ته دا پته هم نشته چې دا بجور نه بلکې باجوړ دے ۔ خو بیا هم چې ما په دې غلط تاریخ پسې تحقیق شروع کړو نو اصلی ترک بابری چې په ترکی ژبه کښې دے چرته هم په لاس رانغلو او نه ئې فارسی ترجمه څکه نو ما د Annettes.Beverige ترجمه کړے ترک بابری چې د بابر نامه په نوم دے او د ترکی نه ترجمه شوے دے و کتلو ۔ نو دغه ذکر شوے واقعه په ۹۲۵ هجری کښې بیانوی ۔ او په ۹۱۵ هجری کښې د باجوړ هیڅ ذکر نه دے راغلے څکه نو زه په دې وئیلو کښې څان په حقه ګڼم چې یا د دغې کتاب د مترجم نه غلطی شوے ده او یا بیا همیش صاحب د نقل کولو په وخت د ۹۲۵ په ځائ ۹۱۵ لیکلے دے ۔ او چې لکه د بابر نامې نه ښکاره ده چې دغه کال ۹۲۵ هجری شی نو بیا ورځ ټیک راځی ۔ بابر نامه د ۹۲۵ هجری په واقعاتو کښې لیکی چې --

4th Feb, On Friday the 3rd of the month of safar we dismounted at the confluence of the water of Bajour and Punjkora.On sunday the 5th of the month, we went from that ground to Bajour where there was a drinking party in Khwaja Kalan's house.

په ۹۲۵ هجری کښې د صفر میاشت د تقویم تاریخی په حساب د چارشنبې په ورځ شروع کیږی او په دغه حساب د صفر دریم تاریخ ټیک د جمعې ورځ راځی ۔

www.pukhto.net

د تزک بابری دویمه نمونه هغوی د ۹۳۲ هجری کال د واقعاتو نه راخستے ده چې لکه ددې تاریخ غلطه ده لیکی چې۔۔۔۔

"جمادی الاول کی تیئسویں تاریخ کو جب کہ اتوار کا دن تھا اور ہم انبالہ سے کسی قدر آگے ایک تالاب کے کنارے پر اتر پڑے تھے۔" (20)

او لیکی چې۔۔۔

"د ۹۳۲ هجری د جمادی الاول درویشتم تاریخ هم د اتوار ورځ نه پریوخی بلکې دا هم د چارشنبې ورځ لوئیږی او دا فرق هم هغه هومره دے لکه د جمعې او پیر د ورځې چې دے۔" (21)

دا واقعه چې ما په بابرنامه کښې وکتله نو په دغه کال د فروری ۲۳ د پینځویشتم تاریخ په احوالو کښې لیکی چې۔۔۔۔

Marching from Ambala, we dismounted by the side of a lake. There Mumin Ataka and Kitta Beg rejoined us, both on the same day, Sunday the 13th of the first Jumada. (22)

دا د ۹۳۲ هجری کال د جمادی الاول واقعه ده چې په بابرنامه کښې راغلے ده او د تقویم تاریخی سره تیک ده۔ زۀ نه پوهیږم چې د تزک بابری اردو ټول تاریخونه دغسې غلط دی او کۀ همیش صاحب ترې د غلطو تاریخونو چوڼ غوره کړلے دے ۔ د یو اعتراض په جواب کښې د نورو

www.pukhto.net

خلقو غلطی بیانول د اعتراض جواب چرې هم نه شی کیدے البته خان له ملګری کتل ورته وئیلی شو - په داسې قسمه تحقیقی کارونو کښې یا خو اوریجنل تیکست کتل پکار وی یا دهغې داسې ترجمې چې مستندې وی- البته په انګریزی ترجمو کښې هغوی د تاریخونو کافی خیال ساتلے وی نو باید چې هغه کتے شی- د قلمی نسخو او د شاعرانو د دیوانونو چې په هغې کښې ډیرې لاس وهنې شوی وی نمونې پیش کول خو هډو پکار نه دی ترڅو چې شاعر په خپله په یو نظم یا نورو اشعارو کښې دیوې واقعې تاریخ نه وی بیان کړے- بل د دیوانونو خاتمې اکثر کاتبانو لیکلی وی نو د ډیر اعتبار ور نه وی- محترم همیش صاحب چې د ډیرو دیوانونو د چاپ کولو شرف هم ورته حاصل دے په دې خبره ښه پوې دے چې په قلمی نسخو کښې څومره لاس وهنې شوے وی - خو چې هر کله هغه دغه قسمه خبرې مونږ ته په دلیل کښې پیش کوی نو سړے به څه ووائی - بل په دې بحث کښې هغوی د ډیرو کمو دیوانونو نمونې پیش کړی دی حالانکې د اسې دیوانونه ډیر بلا دی چې ټیک تاریخونه لری- خو لکه چې ما اګاهو ووئیل چې د هغوی مطلب د اعتراض جواب نه بلکې خان له ملګری کتل دی -او د هغې صرف یوه نتیجه مرتب کیږی یعنې د وخت ضیاع- بل محترم همیش صاحب قصداً د اسې کوی چې لوستونکی کنفیوز کړی ګنی اصل حقائق هغوی ته پخپله هم معلوم دی- خو دا به وخت او را روان نسل ته پریږدو چې هغوی د همیش صاحب دا حرکت د ادبی خیانت په زمره کښې راولی او که څه بل نوم ورله ورکوی-او ډیره عجیبه خبره خو دا ده چې محترم

www.pukhto.net

همیش صاحب په خپل دغه کتاب کښې خپل همعصر ته ادبی خائن وئیلی دی۔اوس زۀ یوه داسې واقعه پیش کوم چې د دې خبرې وضاحت به ترې ډیر په اسانه وشی چې ادبی خائن څوک دے؟

په تول پارسنګ کښې د امیر خان د دیوان نه هم یوه نمونه پیش کړے شوے ده ۔ بناغلے همیش صاحب په خپل دغه کتاب کښې لیکی چې---

"بیا د امیر خان هجری د دیوان د نقل په اخره کښې چې د مختلفو کسانو د مرګونو کومې نیټې ورکړے شوے دی هغو کښې یوه په دې دول ده" چې وهر ګه والده صاحبه از دار فنا بدار بقا رحلت نمود سن هجرت یک هزار و دو صد و چهل شش بود که در ماه شوال به بیست و هشتم در شب پانشنبه وقت خفتن وفات یافت و در شب جمعه در مزار خود دفن شده۔" (23)

ولې په Catalogue of Pushto manuscripts کښې چې اګاهو ې ما ذکر وکړو په یو سل لسم نمبر د امیر خان ذکر راغلے دے چې هجری ورسره نۀ دې لیکلے شوے او د دیوان اختتام ې دا سې بیان شوے دے---

"تمت تمام شد این کتاب مستتاب (Sic) دیوان امیر خان ولد عالی جاه شاهنواز خان محمود زئ مسما به بحری۔" (24)

او د دې دیوان په حقله نور لیکی چې---

A persian memorandum written on the recto of first folio gives the dates of the death and

www.pukhto.net

burial of the writer,s mother, 24 Shawwal A.H.

25 1247 (A.D.1832)

د امیر خان د مور د وفات نیټه همیش صاحب دولس سوه شپږ
څلویښتم هجری ، د شوال د میاشتې اتویشتم او د چارشنبې ورځ یاده کړے
ده کومه چې د تقویم تاریخی په حساب غلطه ده او ما د هغوی د کتاب نه
لوستونکیو ته پیش کړه ۔ او د قلمی نسخې په نقل کښې کوم چې په پښتو
اکیډمی کښې محفوظ دے هم دغسې راغلے ده ۔ او لکه چې د انګریزی متن
نه ښکاره ده هغوی د شاعر د مور د مرګ کال دولس سوه اووۀ څلویښتم او
میاشت یې د شوال او تاریخ یې څلیریشتم ښیئلے دے ۔ د دې انګریزی کتاب
ښیئلے نیټه د تقویم تاریخی سره ټیک راځی خو یو خوا په کښې د ورځې
تخصیص نشته او بل خوا یې د دیوان د داخلی شهادت سره ټکر راځی ځکه
نو د منلو ور نۀ ده ۔

د امیر د دیوان چې کومه نسخه ما یاده کړه د دې قلمی نسخې په
اخره کښې د څو تنو د مړینې نیټې درج دی ۔ خو محترم همیش خلیل
صاحب صرف یوه نیټه کومه چې غلطه ده ، راځستے ده او نورې یې نۀ دی
راځستې ۔ او صرف په دې وجه یې راځستے ده چې د تقویم تاریخی او د
هغې ترمینځه فرق دے او هغه خپلو لوستونکیو ته دا ثابتول غواړی چې په
اسلامی میاشتو کښې د یوې ورځې نیمې نه زیات فرق راتلل هم ممکن دی او
یا دا چې تقویم تاریخی غلط دے ۔ ګنی هغوی په ورکه خزانه کښې د امیر
خان ذکر کړے دے او د هغۀ د کلام نمونې یې هم راځستی دی خو هغه وخت

www.pukhto.net

ې دغه تاریخونه لکه چې مستند نۀ ګڼل ځکه نو هلته ې د دغې تاریخونو ذکر نۀ دے کړے ۔ خو چې نن هم هغه تاریخونه مونږ ته په دلیل کښې پیش کوی نو زۀ داسې محسوسوم لکه چې هغوی سره د دفاع دپاره دارو ګولی بیخی ختم شوی وی ۔

د انګریزی کتاب Catalogue of Pushto manuscripts هغه تاریخ چې د تقویم تاریخی سره خو سم دے ولې د دیوان د داخلی شهادت سره ې تکر راځی هغه دا دے چې په دغه دیوان کښې شاعر د خپلې مور په مرګ یوه مرثیه وئیلے ده ۔ دغه مرثیه کښې هغه تاریخ داسې بیانوی ---

د میاني په اتو یشتمه ماسخوتن

والدې می کړ لاس پورې په رفتن

چې ې کوچ کۀ له دنیا وۀ په تاریخ کښې

دولس سوه شپږ پنځوس د هجرت سن 26

دا مرثیه د اصل نسخې په دوه سوه ځلور ځلویښتمه صفحه راغلے ده او د نقل نسخې په ځلور سوه اووۀ اویایمه صفحه موجوده ده ۔ پښتنۀ د ذیقعد میاشتې ته میانه وائی ۔ خو د بدقسمتی نه شاعر یا کاتب یا ناقل چې کله د کتاب په اخره کښې په فارسی کښې دغه د مرینې نیټې نقل کولے نو د میاني په خاې ې شوال لیکلے دے حالانکې پکار ذیقعده وه ۔ بل شاید چې له دې وجې نه هم هغه سهوا شوې وی چې دغې تاریخ سره نور هم تاریخونه شته دے چې د شوال د میاشتې دی ۔ نو اوس کۀ مونږ د میاني یعنې ذیقعدې اتو یشتم تاریخ د پنج شنبې ورځ وګڼو نو د تقویم تاریخی سره ټیک ده ۔ خو د دیوان

www.pukhto.net

داخلی شهادت د شاعر د مور د مرګ کال دولس سوه شپږ پنځوسم هجری ښیی- او د داخلی شهادت په موجودګۍ کښې زۀ یو داسې خارجی شهادت چې صرف د کال فرق لری منلو ته هیڅ کله هم تیار نۀ یم - په کیټلاګ آف پشتو مینو سکرپټس کښې راوړلے شوے هجری کال دولس سوه اووۀ ځلویښتم او د شوال د میاشتې ځلیریشتم تاریخ د شاعر د مور نه بلکې د پلار د وفات کال دے - او د خوش قسمتۍ نه په دغه تاریخونو کښې د شاعر د پلار د مرګ تاریخ هم لیکلے شوے دے چې په دې ډول دے---

"سن هجرت یک هزار دو صد چهل هفت بود که خان صاحبی ام، قبله گاه بنده به بیست و چهارم شب ماه شوال در شب سه شنبه بوقت نیم شب از دار فنا بدار بقا در شیرپاؤ رحلت نمود-"

(27)

یعنې د شاعر د پلار د وفات کال دولس سوه اووۀ ځلویښت دے او د شوال په ځلیریشتم تاریخ وفات شوے دے - لکه چې د پورته فارسی متن نه ښکاره ده - دا تاریخ د ټولو یم تاریخی سره بالکل ټیک دے - د انګریزی کتاب لیکونکی خو انګریزان دی هغوی کۀ داسې غلطی وکړی نو جواز لری خو د محترم همیش خلیل صاحب چې پښتون هم دے او لوړ شاعر ادیب هم دے او د دیرو قلمی دیوانونو چاپ کولو شرف هم ورته حاصل دے، نۀ پوهیږم چې هغوی ولې د دیوان د داخلی شهادت نه ډډه کړے ده - او ورسره ورسره ږ په دغه دیوان کښې د لیکلو شوو نورو تاریخونو نه چې بیخی ټیک دی هم ځنګ کړے دے - او د لوستونکیو د نظر نه ږ ډډې ته ساتلی دی- زۀ نۀ پوهیږم چې

www.pukhto.net

د یو نقاد د اسې حرکت به د را روان نسل پوهه لوستونکی په ادبی خیانت کښې شماری او کۀ څۀ بل نوم به ورکوی ؟

په تول پارسنګ کښې د پټې خزانې د یو غلط تاریخ د دفاع دپاره چې محترم همیش صاحب څۀ پیش کړی وو هغه ما لوستونکیو ته وړاندې کړل- چې یو هم په کښې د محترم قلندر مومند د خبرې جواب نۀ وۀ - البته د دغې غلط تاریخ دپاره ې نور د اسې تاریخونه پیش کړی وو چې هغه هم غلط وو- او ظاهره ده چې هیڅ یو باشعوره لوستونکے به د ا نمونې د هغې اعتراض جواب ونۀ ګنی- بهر کیف ما د هغوی پیش کړی ټول تاریخونه صحیح ثابت کړل - لکه چې لوستونکیو ته په ډاګه شوه - خو د همیش صاحب غوندې یو پوهه لیکونکی له پکار دی چې د لوستونکیو د کنفیوز کونکیو خبرو نه ډډه وکړی- ځکه چې د یو نقاد کار دا نۀ دے چې هغه دې له یو کتابه صرف غلط تاریخونه واخلی او په خپل دلیل کښې دې پیش کړی- لکه چې هغوی کړی دی- ګنی په ترک بابری اردو کښې به ډیر د اسې تاریخونه هم وی چې ټیک به وی خو همیش صاحب هغه نۀ دی نقل کړی-

د ملا لتاړ دیوان د افغانستان د علومو د اکادمی د ژبو او ادبیاتو ریاست له خوا په کال ۱۳۶۷ هجری شمسی کښې د عبدالرحیم ځدران د مقدمې ، حاشیو او لغت نامې سره چاپ شوے دے - په دغه دیوان کښې ملا لتاړ د خپل دیوان د ختمیدو تاریخونه د اسې وئیلی دی ---

دا زۀ به وایم له تیره حاله

شکر چې خلاص شوم د غم له جاله

www.pukhto.net

چې په اتمام دیوان لتارشة

شوی هجری ووسل زرنوی کاله (28)

په دې شعرونو کښې صرف د کال ذکر شوے دے۔ خو ورپسې په نورو دوۀ شعرونو کښې میاشت، ورځ او تاریخ داسې بنیی---

میاشت دذالحج وه واۀ ورئ عالمه

تاریخ شلم وۀ تر هغه دمه

ورځ پنج شنبه وقت ماسپښین وۀ

زۀ لتار خلاص شوم له دغه غمه (29)

اوس چې د ا تاریخ د تقویم تاریخی سره گورو نو په کال یولس سوه نویم هجری کښې ذالحجه د شنبې په ورځ شروع شوے ده او شلم تاریخ ې پنج شنبه راځی۔ او دغسې دا تاریخ هم د تقویم تاریخی سره تیک دے۔ په دې ضمن کښې زۀ ډیرې د تاریخونو نمونې پیش کولے شم چې هغه د تقویم تاریخی سره تیک راځی خو د ډیر طوالت له خاطره د هغې نه ډډه کوم۔ بیا هم کۀ څوک شوق لری او د تقویم تاریخی په استناد شکمن وی یا ې د ا خیال وی چې په اسلامی میاشتو کښې د یوې ورځې نیمې نه زیات فرق راتلل هم ممکن دی۔ نو د مولانا غلام رسول مهر مرتب کړی کتاب "خطوط غالب" دې وگوری په هغې کښې د اکثرو خطونو سره تاریخونه داسې راغلی دی چې د کال او تاریخ نه علاوه د ورځې او اسلامی میاشتې ذکر هم په کښې شوی وی۔

www.pukhto.net

حوالی

1. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ٤
2. تول پارسنګ ص ص ـ ۹۰۸
3. پټه خزانه ص ـ ٦
4. هم دغه کتاب ص ـ ۸
5. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۸
6. هم دغه کتاب ص ـ ۱۹
7. تول پارسنګ ص ـ ۵۱
8. هم دغه کتاب ص ـ ۵۱
9. هم دغه کتاب ص ـ ۵۲
10. هم دغه کتاب ص ـ ۵۲
11. Catalogue of Pashto manuscripts ص ـ ۸۳
12. هم دغه کتاب ص ـ ۸۲
13. هم دغه کتاب ص ـ ۸۳
14. هم دغه کتاب ص ـ ۸۳
15. هم دغه کتاب ص ـ ۸۷
16. هم دغه کتاب ص ـ ۸۷
17. تول پارسنګ ص ـ ۵۳
18. هم دغه کتاب ص ـ ۵۳

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

19 Babar Nama ص- ۳۷۵

20 تول پارسنگ ص ۔ ۵۳

21 هم دغه کتاب ص ۔ ۵۳

22 Babar Nama ص ۔ ٤٦٥

23 تول پارسنگ ص ۔ ۵۲

24 Catalogue of Pashto Manuscripts ص ۔ ۹۰

25 هم دغه کتاب ص ۔ ۹۰

26 دامیر قلمی دیوان نقل ص ۔ ٤۷۷

27 هم دغه کتاب اخری صفحه

28 د ملا لتار دیوان ص ۔ ۲۵۱

29 هم دغه کتاب ص ۔ ۲۵۱

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

اِعْدِلُوا

قلندر صاحب په خپل کتاب پټه خزانه فی المیزان کښې په ابتدائی معروضات کښې یوه خبره دا کوی چې ---

"د بحث دویمه برخه د کتاب ترتیب سره تعلق لری هر څو که دا ناممکنه نه ده ولې دیره غیر اغلبه ضرور ده چې په کومو ورځو کښې عربی، فارسی او پښتو کښې د موضوعاتو په لحاظ د کتاب د تقسیم طریقه نه وه رائجه "محمد هوتک" خپل کتاب په دریو جدا جدا برخو کښې څنګه وویشلو - د متقدمینو طریقه دا وه چې هغوی به د موضوع د ختمیدو نه پس د "فصل" لفظ ولیکلو او نوې موضوع به یې شروع کړه - مورخینو چې به تاریخ لیکلو نو هم به یې د باب بندی څخه اهتمام نه کولو بلکې د عبارت په مینځ کښې به یې په سور خط "فصل" یا "ذکر د ----" ولیکلو یا زیات نه زیات به یې د کتاب په حاشیه په سور خط عنوان ولیکلو - د پیراګرافونو اهتمام خو د شلمې صدۍ جدت دے او شاید چې د انګریزۍ د روایت په تتبع کښې د دنیا ټولو ادبونو ته رانغوتے دے - دغه وجه ده چې د پیراګراف دپاره فارسی، عربی او پښتو او هندۍ کښې هیڅ نوم نشته - نوې عربی او فارسی کښې د جز او قطعه الفاظ په دې معنو کښې استعمالیږی خو دا دیر جدید مفاهیم دی او قاموسونو کښې په دې معنو کښې نه دی

www.pukhto.net

استعمال شوی - لیکن پته خزانه کښې د پیر اګرافونو دا استعمال داسې په کثرت سره شوے دے چې د اترې ثابتیږی چې کم از کم محمد هوتک په ۴۲-۱۱۴۱ هجری کښې ددې په اهمیت خبر وۀ -

کۀ دا ووئیلے شی چې د پیر اګرافونو تقسیم عبدالحیٔ حبیبی کړے دے نو دا اعتراض خو به لرې شی ولې ورسره به دا اعتراض کیږی چې مرتب او مدون د بې شماره حاشیو په موجودګی کښې یوه حاشیه په دې غرض ولې نۀ زیاتوله چې په اصل کتاب کښې پیر اګراف نشته - (دا وینا صحیح نۀ ده چې کامل مومند مرحوم هم تاریخ مرصع کښې پیر اګرافونه له خپله خانه داخل کړی دی او حاشیو کښې یٔ وضاحت نۀ دے کړے - پښتو دسمبر ۱۹۷۹) تاریخ مرصع کښې د مثال په طور په ۳۳،۳۹،۵۷ ۷۰،۸۹،۱۵۸،۱۸۶،۲۰۶،۲۳۳،۲۳۵ او ۲۳۷ مخونو د پیر اګرافو په خاې هم هغه اهتمام شوے دے چې ما یٔ ذکر کړے دے او فصلونه او عنوانات ور کړی شوی دی - خو فرض کړیٔ کۀ دا سې نۀ وے شوے نو هم پته خزانه او تاریخ مرصع ډیر لوې فرقونه لری - د تاریخ مرصع ډیرې نسخې دی او د پټې خزانې بله نسخه نشته د تاریخ مرصع لیکونکے هر څوک پیژنی او محمد هوتک هیڅوک هم نۀ پیژنی د پټې خزانې ذکر هیچا نۀ دے کړے او د تاریخ مرصع ذکر ډیرو مورخینو (خپلو پردیو) کړے دے او له معمورو نسخو چې په مختلفو خایونو کښې موجودې دی دا

www.pukhto.net

خبره ثابتیدے شی چې تاریخ مرصع کښې پیر اکرافونه نشته او
د پټې خزانې دفاع کونکی ته هم دا نه ده معلومه چې د دغه کتاب
عکسی نسخه چاپ شوې ده او په کښې پیر اکرافونه شته او د دغه
دا دفاع غلطه ده چې پټه خزانه پیر اکرافونه نه لری - بله دا چې د
چاپی کتاب د ۱۱۱ مخ ته مخامخ د اصل کتاب کومه "فیک سیمیلی"
لګیدلې ده د هغې په ورومبی مخ هم د پیر اکراف اهتمام شوے دے
(دا فیک سیمیلی د پټې خزانې اولې او دویمې چاپی نسخې سره
لګیدلې وه او چې دا مقاله چاپ کیده نو د پټې خزانې دریمه چاپی
نسخه (عکسی چاپ) لا منځ ته نه وه راغلې - د عکسی نسخې د
چاپ کیدو نه پس خو اوس دا وینا بیخی غلطه او بې بنیاده ده
چې پټه خزانه پخپل اصلی متن کښې بالکل پیر اکرافونه نه لری -
وګورئ پښتو دسمبر ۱۹۷۹ - له دې رویه دا ونیل صحیح دی چې
د کتاب ترتیب د دولسمې صدۍ هجری په مقابله کښې
څوارلسمې صدۍ ته ډیر نژدی دے - که د اومنلے شی نو د کتاب
استناد مجروحیږی - " (۱)

محترم همیش صاحب د دې اعتراض په جواب کښې لیکی ---

"دا خبره تر یوه حده سمه ده چې هغه وخت دا عامه قاعده نه وه
ولې دا خبره بیخی نا سمه ده چې کنی هغه وخت یا د هغه نه
وړاندې د کتاب د تقسیم دا طریقه بالکل رانجه نه وه - د مثال په
ډول د محمد هوتک نه اتکلاً دوه نیم سوه کاله وړاندې د "تذکرة

www.pukhto.net

الشعرا." په نامه د مرزا طاهر نصیر آبادی تذکره هو بهو هم د پټې خزانې په دول ترتیب شوې ده - چې وروسبې برخه یې په متقدمینو دویمه برخه یې په متوسطینو او دریمه په متاخرینو اړه لري - هم دغه شان "روضة السلاطین" چې د کال ۶۰۰ هجری خواوشا لیکلے شوے دے د زمانې په بنیاد دے او لکه د پټې خزانې آخره کښې د میرمنو برخه هم لري - د مولانا جامی د "نفحات الانس" (هکذا) او د قدرت الله شوق گوپاموی د تذکرو ذکر به هم بې ځایه نه وی چې په لسمه او دولسمه هجری پیرۍ کښې پرله پسې لیکلی شوی دی هم د زیر بحث کتاب په دول ترتیب شوی دی - بیا خوشحال خان خټک په خپلو خنو کتابونو کښې لکه "دستار نامه" د اول باب په شلو هنرونو او د خصلتونو دویم باب یې هم د شلو خصلتونو د موضوعاتو او فضل نامې یولس بابونه د سلو نه په زیاتو موضوعاتو یا د اخلاق نامې شل بابونه د اصل کتاب اخلاق محسنی په تتبع کښې د مختلفو عنوانونو د لاندې هم ډیر په خلاص مټ د باب بندۍ اهتمام کړے دے - دغه شان حمید بابا قصه شاه و گدا، نیرنگ عشق او عبدالقادر خان خټک گلدسته او یوسف زلیخا کښې هم د بیلو عنوانونو د اهتمام ضرورت محسوس کړے وه - خکه نو د دا اعترانس هم بې ځایه او بې وقعته دے -" (2)

محترم همیش صاحب د هغوی دغه خبره تر یوه حده سمه گڼلې ده

البته په دې خبره ې بحث کړے دے چې کنی هغه وخت یا د هغه وخت نه وړاندې دا طریقه بیخی رانجه نه وه ۔ او په دلیل کښې ې د فارسیږ د یو څو تذکرو نومونه اخستی دی او لکه چې د کتابیاتو نه ې ښکاره ده دا ټول کتابونه چاپ شوی دی ۔ پکار وو چې د قلمی تذکرو حواله ې ورکړې وے ۔ بل کۀ د قلندر مومند صاحب اعتراض ته لږ په غور وکتے شی نو هغوی هم دا خبره کړې ده چې "دا ناممکنه نۀ ده ولې دیره غیر اغلبه ضرور ده" (حواله تیره شوې ده) ۔ قلندر صاحب دا هم لیکلی دی "چې متقدمینو به د موضوع د ختمیدو نه پس د فصل لفظ ولیکلو او نوې موضوع به ې شروع کړه، مورخینو چې به تاریخ لیکلو نو هم به ې د باب بندیږ څۀ اهتمام نۀ کولو بلکې د عبارت په مینځ کښې به ې په سور خط فصل یا ذکر د ۔۔۔ ولیکلو یا زیات نه زیات به ې د کتاب په حاشیه په سور خط عنوان ولیکلو ۔" (حواله تیره شوې ده) اوس د هغوی د دې خبرې په رڼا کښې چې مونږ د پټې خزانې عکسی چاپ ګورو نو په هغې کښې د متقدمینو د دغې قاعدې خیال نۀ دے ساتلے شوے ۔ بلکې په پټه خزانه کښې د پیراګرافونو استعمال شوے دے او پیراګراف لکه چې قلندر صاحب وئیلی دی دیر یو جدید څیز دے چې د انګریزیږ نه راغلے دے او تر دې پورې چې مونږ سره په پښتو کښې او فارسیږ او هندیږ کښې د پیراګراف دپاره هیڅ نوم نشته ۔ محترم همیش صاحب د فارسیږ د کتابونو نه علاوه د خوشحال بابا د څنو کتابونو حوالې هم ورکړی دی لکه دستار نامه چې ورومبے باب په شلو هنرونو او خصلتونو دویم باب ې هم په شلو خصلتونو مشتمل دے دا

www.pukhto.net

خبره بیخی ټیک ده او چا له دې نه انکار نه دے کړے ولې پخوانو خلقو که بابونه منعقد کول او که موضوعات نو طریقه ې لکه چې قلندر صاحب بیان کړې ده هم دغه ده چې یو باب به ختم شه نو سمدستی به ې ورپسې بل باب شروع کړو او زیات نه زیات به ې په سور خط باب یا فصل یا ذکر د ----- ولیکلو۔ کومه طریقه چې په پټه خزانه کښې پکارولې شوې ده دا طریقه په هغه وخت کښې نه وه او که فرض کړه د پټې خزانې نه دوه نیم سوه کاله اګاهو تذکرة الشعراء هو بهو هم د پټې خزانې په دول ترتیب شوې ده نو تر کومې چې مونږ ته د هغې قلمی نسخه نه وی په ګوته کړے شوے مونږ ې منلو ته تیار نه یو۔ خکه چې اکثر مرتبینو ترتیب ورکړے وی۔

پخوانی تذکرې به یا تاریخی لحاظ سره وے یا به اول د بنو او لویو شاعرانو ذکر وه او بیا د ورو شاعرانو ۔ لکه د پټې خزانې به نه وه چې ورومبی خزانه "په بیان کښې د هغو شاعرانو چې پخوا تیر سوی" دویمه "په بیان کښې د هغو شاعرانو چې اوس ژوندی دی" او دریمه خزانه په بیان کښې د هغو ارتینو او بنځو چې دوی په پښتو شعرونه پاته کړی دی" اوس نو چې مونږ ګورو نو د پټې خزانې په دریمه برخه کښې اکثر بنځې شاعرانې هغه دی چې دیرې پخوا تیرې شوی دی پکار وو چې د دوی ذکر په ورومبی خزانه کښې راغلے وے۔ بل د قلندر صاحب د اعتراض مطلب دا قطعاً نه دے چې ګنې تذکرې په دې حساب نه شوې لیکلې هغوی دا ونیل غواړی چې د زمانې په حساب به وے خو د باب بندی او جدا جدا موضوعاتو اهتمام به ې نه کولو۔ مسلسل به روان وو او چې چرته به ذکر

www.pukhto.net

ختم شة نو هلته به باب یا فصل یا ذکر د۔۔۔ ولیکلو ۔ او پته خزانه بیخی په جدید طرز لیکلې شوې ده تر دې پورې چې د پیر اګراف اهتمام هم په کښې شوے دے۔

محترم همیش صاحب خوشحال بابا پورې د منسوب شوے اخلاق نامې ، د حمید بابا قصه د شاه و ګدا او نیرنګ عشق او د عبدالقادر خان ختک د ګلدستې او یوسف زلیخا ذکر هم کړے دے او لیکی چې په هغې کښې هم د عنوانونو اهتمام شته ۔ نو د عنوانونود اهتمام نه کله او چا انکار کړے دے ۔ د شیخ سعدی ګلستان او بوستان پخوانی کتابونه دی په هغې کښې خو هم بابونه او عنوانونه شته دے ۔ او بیا دغه یاد شوی کتابونه ټول د فارسی کتابونو ترجمې دی ۔

د پیر اګراف داستعمال په حقله محترم همیش صاحب لیکی ۔۔

" دا اعتراض په دغه وجه بیخی غلط دے چې ګنی پته خزانه پیر ګرافونه (هکذا) لری ۔ د پټې خزانې د افستی چاپ(هکذا) نه پس دا بې ارزښته اعتراض هم خپل منطقی انجام ته ورسیدۀ او کوم څیز ته چې پیر ګراف (هکذا) وئیلے شی هغه د محمد هوتک په پته خزانه کښې نشته ۔ بیا هم که د لږ ساعت دپاره ومنلے شی چې زیر بحث تذکره پیر اګرافونه لری نو دا اعتراض په دغه وجه هم رد کیدلے شی چې د پټې خزانې موجوده نسخه د اصل نسخې د نقل نقل دے او بناغلے معترض چې کوم څیز ته پیر ګراف (هکذا) وائی د کاتب له خوا ئ احتمال کیدلے شی او که

www.pukhto.net

بالفرض دا خبره هم څوک نه منی بیا هم دا اعتراض غلط دے چې
ګنی هغه وخت د پیر ګرافونو (هکذا) رواج نه وو او دغه لږ
کښې د دې حقیقت نه به څوک څنګه ستر ګې پټې کړې شی چې
پیښور میوزیم کښې د قلب السیر کومه نسخه موجوده ده او یو
فوټو ستیټ نقل یې د پښتو اکیډمۍ د قلمی نسخو په الماری
کښې هم پروت دے، د پیر ګرافونو (هکذا) استعمال په کښې دا سې
په کثرت او اهتمام سره شوے دے چې په پټه خزانه دغه بهتان د
سړی نه هیر کړی ۔ د دغه حقیقت د تصدیق دپاره و ګورئ د قلب
السیر د فوټو ستیټ نقل صفحات ۱۷،۲٦،٤۷،٥۳،٦۳،۷۹،۸٦،۹۲،۱۰۱
۲۰،۲۰٦،۲۰۸،۲۱۱۹ او ۲۳۱ وغیره ۔"

3

په کلهم پښتو ادب کښې محترم همیش صاحب ته صرف قلب السیر دا سې یو کتاب په ګوتو ورغلے دے چې په هغې کښې د هغوی په قول پیر اګراف شته دے ۔ حالانکې دا سې بیخی نه ده ۔ قلب السیر د ګوهر خان خټک د فارسی نه ترجمه شوے سیرت دے چې د پیښور په میوزیم کښې پروت دے یوه فوټو کاپی یې په پښتو اکیډمۍ کښې او یوه یې محترم قلندر صاحب سره موجوده ده ۔ په دې کتاب کښې چرته هم د پیر اګراف استعمال نه دے شوے ۔ البته د فصل او باب خایونه په کښې خالی پریښودی شوی دی کوم چې د هغې زمانې د قلمی نسخو عام رواج وه دغه عنوانات به هغوی په سور رنګ لیکل ۔ په یو وخت کښې دوه رنګونه هغوی نه شو ساتلی ځکه چې په هغه زمانه کښې فونټین پنونه نه وو ۔ نو چې کله به یې ټول کتاب مکمل کړو نو بیا به

www.pukhto.net

ې په سور رنګ دغه خالی ځایونه ډکول ـ قلب السیر کښې هم دغه شان شوی دی خو که محترم همیش صاحب لږ په غور کتلے وے نو دا خبره به ې چرې هم نه وے کړے ـ ځکه چې د قلب السیر په وړومبیو صفحو کښې ګوهر خان خټک د کتاب د بابونو، فصلونو او حکایتونو ذکر کړے دے ـ نو اوس که څوک د هغې د هغې لیکلو په رنا کښې دغه خالی ځایونه ډک کړی او عنوانات په کښې ولګوی نو څه ته چې همیش صاحب پیراګراف وائی هغه به ختم شی ـ بیا هم زه د قلب السیر نه د یو څو پاڼو فوټو کاپی ګرانو لوستونکیو ته وړاندې کوم فیصله دې هغوی وکړی چې دا پیراګرافونه دی او که نه ـ زه دا منم چې د قلب السیر نه د نمونو پیش کول به د کتاب د ضخامت سبب جوړیږی خو ضروری ې ځکه ګڼم چې زمونږ فاضل نقاد په ابتدائی معروضاتو کښې په یو بل بحث کښې هم د قلب السیر د نثر نمونه پیش کړې ده چې د املا سره تعلق لری ـ نو ګران لوستونکی دې د قلب السیر دا نمونې هم د پیراګراف د پاره وګوری او هم دې د هغه وخت د املا اندازه تړې ولګوی ـ د قلب السیر دا نمونې د لسمې، وولسمې، اتلسمې، نولسمې او شلمې صفحې دی ـ وولسمه صفحه باندې فهرست د کتاب او فصول او ابواب ختم شوی دی او د بسم الله الرحمان الرحیم نه پس لږ غوندې ځای پریښودے شوے دے او شروع ې له دې نه شوې ده چې " نسب د موژ د پیغمبر " خو په لسمه صفحه لیکلی شوی دی چې " کتاب مشتمل په دیرش باب، باب اول په نسب د موژ د پیغمبر " نو ظاهره خبره ده چې په وولسمه صفحه خالی پاتې ځای کښې باب اول لیکل وو دغسې بیا په

www.pukhto.net

اتلسمه صفحه دویمه کربنه کښې "علیه السلام" نه پس خالی ځای دے او ورپسې "په تفصیل د نسب" الفاظ لیکلی شوی دی - خو چې لسمه صفحه وکتے شی نو هلته لیکی "باب دویم په تفصیل د نسب" - په اتلسمه صفحه پینځمه، شپږمه، وومه او اتمه کربنه کښې اته ځالی ځایونه دی چې په لسمه صفحه په فهرست کښې ې د باب دویم نه پس وضاحت داسې شوے دے چې "دا باب ووۀ فصله هم لری" نو ظاهره ده چې دغو اتو خالی ځایونو کښې ووو ځایونو کښې فصل ورومبے، دویم، دریم، څلورم، پینځم، شپږم او وووم لیکل پکار وو - اتم خالی ځای لکه چې د لسمې صفحې د تفصیل نه بنکارۀ ده دریم باب دے په اولاد د اسماعیل علیه السلام - په نولسمه صفحه د اخری کربنې نه بره کربنه کښې خالی ځای دے او ورپسې دا لیکل دی "په تعاقب د نسب" د لسمې صفحې د فهرست مطابق دا څلورم باب دے او د څلورم باب ځای خالی دے - دغسې په شلمه صفحه کښې په یولسمه کربنه کښې د باب پینځم ځای خالی دے -

www.pukhto.net

نظم دا کتاب په پښتو ژبه غنیمت دی: په لسټونی یې نازل د
خدای رحمت دی: چې لولي یا یې کښینه ما د یاد کا: په تکبیر به
فاتحه یې د ډیر شاد کا: که څوک سهو یا خطا پکښې وه وینې: یا صلاح
دې عیب پټ کا د ولي: فهرست کتاب مشتمل په ویرښت باب
باب اول په نسب موږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر عبد الله او تر آدم
علیه السلام لور باب دویم په تفصیل د نسب محمود پیغمبر صلوات
الله علیه تر اسمعیل علیه السلام او تر عبد الله لور د باب مشتمل دی
پیدا وه فصل باب دریم په اولاد د اسمعیل علیه السلام تر باب څلورم
پټ عاقب د نسب د موږ د پیغمبر صلوات الله علیه وسلامه پس له اسمعیل
تر عدنان لور باب پنځم تر معد بن عدنان لور پیدا فصل کښې به حکایت
د ملوک د یمن او حکایت د سطیح د دشق او حکایت د ابرهه
اشرم چه قصدې وکړ چه کعبه خراب کړم او حکایت د موږ د
پیغمبر د معجزات صلی الله علیه وسلم چه کیوا تړه لعبه د بادشاه کانو
د یمن ظاهر شوې دي او نور حکایتون چه تعلق پیغمبرلري تفصیل
به د هر یوه پیدا لو حکایتو نو کښې راشي باب شپږم د نزار بن د معد
پیدا کښې تفصیل د فرزندانو د وه او حکایت چه پیدا تعلق لري باب
اوم د الیاس بن د مضر او نور فرزندان د وه باب اتم د مدرکه

www.pukhto.net

الارض او نزول د حضرت عیسی علیه السلام او د یاجوج ماجوج
او قیام د قیامت او د بعث او د حشر او د کتاب د حساب او د میزان
او د صراط او ذکر د دخول د جنت د نعمتونو د نعمت تمام شو د
فهرست د کتاب او فصول د ابواب و الله اعلم بالصواب

بسم الله الرحمن الرحیم

نسب د مؤثر د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر مبدا او د تر
آدم صلوات الله علیه محمد[1] بن د عبدالله[2] بن عبدالمطلب[3] بن
د هاشم[4] بن د عبد مناف[5] بن د قصی[6] بن د کلاب[7] بن د مره[8] بن
کعب[9] بن د غالب[10] بن د لوی[11] بن د فهر[12] بن د مالک[13] بن د نضر[14]
بن د کنانه[15] بن د خزیمه[16] بن د مدرک[17] بن د الیاس[18] بن د مضر[19]
بن د نزار[20] بن د معد[21] بن د عدنان[22] بن د اود[23] بن د سلم[24]
بن د تاحور[25] بن د ترح[26] بن د یعرب[27] بن د یشجب[28] بن د تابت[29]
بن د اسماعیل علیه السلام[30] بن د ابراهیم[31] خلیل الرحمن بن د تارح[32]
بن د ناحور[33] بن د ساروح[34] بن د راعو[35] بن د فلنج[36] بن د عیبر[37]
شالخ[38] بن د ارفخشد[39] بن د سام[40] بن د نوح[41] بن د لامک[42] بن د
شیخ بن د اخنوخ[43] بن د یرده[44] بن د مهلیل[45] بن د قینن[46] بن د انوش[47]
د شیث[48] بن د آدم علیه السلام[49] اخنوخ نوم د ادریس نبی علیه السلام[50]

اول

www.pukhto.net

اول چا چه د حضرت آدم صلوات الله علیه په فرزندانو کښې پیغمبري
بیا موندا د په قلم ي خط و کولیش او درس ده علیه السلام
په تفصیل د نسب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر حضرت اسمعیل علیه
السلام او تر عبد الله پورې او اباب اوه فصله هم لري
د حضرت اسمعیل علیه السلام تعا قب د نسب د سید محمد صلی
الله علیه وسلم تر عدنان پورې تر معد بن د عدنان پورې تر
نزار بن د معد پورې تر الیاس بن د مضر پورې تر مدرکه
بن د الیاس پورې اولاد د عبد المطلب تعداد د حضرت
اسمعیل د فرزندانو محمد بن د اسحاق بن د یسار المطلبي رحمة الله علیه
وائي د حضرت اسمعیل علیه السلام اوه دولسم زامن وو اول ثابت
دویم قیدار درېم اذبیل څلورم منشي پنځم سمع شپږم ماشي اوم
دما اتم اذر نهم طیما لسم رطو یو دلسم قیس دوو دلسم قیدا اما ثابت
یو ډیر کوښې مشر وه دوه ډیر ډیر مور وه لوی د مضاض بن د عمرو
الجرهمي وه هر یوم زوي د قحطانیانو وه قحطانیان پلار د اهل یمنو
وه لیکن جمله عرب د قیدار څخه په یمن کښې اوسیدل چه قحطان
د زمي قحطان د عامر بن د شالخ بن د ارفخشد بن د سام بن د نوح علیه
السلام د حشام زوي وائي چه عرب جمله د اسمعیل علیه السلام د سل

www.pukhto.net

دي يا د قحطان او بعضو نو د دوو يلي دي چه قحطان هم د حضرت اسمعيل
عليه السلام د فرزند اقوند دي عرب جمله د اسمعيل عليه السلام د نسل
دي محمد بن د اسحاق په روايت دي چه قبائل دي لکهاد مخکښه حديث
د هم معالق او آيم د اسمعيل عليه السلام عمر د حضرت اسمعيل عليه السلام
شپيته د پرېښ کاله وه او نوم د حضرت اسمعيل د مور د هاجره وه
مورزوي د روايه تر حجر د خانه کعبې د لاندې مدفون دي هاجره د اسمعيل
د اهل مصر وه پيغمبر د مونږ صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي اذا فتحتم
مصرا فاستوصوا باهلها خيرا فان لهم ذمة و نسبا و صهرا
يعنې اصحابو ورته دي وه فرمايل چه پس مالو فتح چه د مصر ملک
کاڼي د مصر د عالم سره نيکي کاڼي تيار د اشت اور عايت د سره لازم
دکښې چه اهل مصر لما سره خويشي او بيوستيکه لري خويشي د اهل مصر
پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره د وه چه هاجره مور د اسمعيل عليه السلام د اهل
مصر د ته وه او بيوستيکه چه ليده کړي وه د وه چه ماريه قبطيه چه سريته
د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ابراهيم زوي د حضرت ترسوله شوي
د اهم له مصره پادشاه د اسکندريه له ملکه په تحفه پيغمبر ته راتګلي د
د سفيد پادشاه مقوقس وه په لقب د سيد عالم صلى
الله عليه وسلم پس د اسمعيل تر عدنان پورې د مونږ د پيغمبر نسب

www.pukhto.net

علیه وسلم لښې د حضرت اسمعیل علیه السلام په ثابت ورځمې چه مشر
زوی د حضرت اسمعیل وی پس له ثابت په شیخ شیخ بشیخ بن زوی د
ثابت دی شیخ دیلعرب بلعرب بن یشجب یعرب تاحور تاحورد مقدم
مقدم د آذر آذر د عدنان محمد بن د اسحاق رحمة الله علیه دای چه نسل
د حضرت اسمعیل علیه السلام د عدنان نه مشرقی دی قبیلې د عربو
لږه پاڅیدې په اطراف د بلادو جای ورښوه د عدنان دوه فرزندان
دی یو نوم ډلوه معد وه دبل ملک ملک مشر وه ملپور د یمن روان شه په یمن
کښې دی جای ورښوه د اشعر مالیږلو قبیلې دی خولښې د کهلان لور خوزې د
عوښته دوه یو سره هم لغت هم زبان شه نسب د قبیلې اشعریه په پیړیت
کښې په تفصیل مذکور شې او معد ښځه دی چه نسب د موږ د پیغمبر صلی الله
علیه وسلم پدې ورځلی دی معد د عدنان په افضل کښې به حجو
حکایت راښې په حکایات د ملوکو د یمن او تعاقب پس ماذکی د ملک
په سبب د تبدل احوال پدې حکایت کښې قصه هم موافق د دې حکایتونو
سره لږی د احکایات کړچه د نفس نسب نه دی چه ما پدې احکایتونو شروح
د کړه لیکلې لوړی اطراف د نسب پدې تعلق لری بل پدې احکایتونو
کښې معجزې د موږ د پیغمبر ظاهر دی او دلیلونه د نبوت یکښې داخل دی
د هغه څه منقول دو پدې سیرت کښې زمونږ دلل پدې اثر جمه کښې محمد بن ❹

www.pukhto.net

دغه شان یوه خبره بله ده او هغه دا ده چې قلندر صاحب لیکلی دی چې په پته خزانه عکسی چاپ کښې د پیراګرافونو اهتمام شوے دے او محترم همیش صاحب لیکی چې په پته خزانه کښې پیراګراف نشته - په دې حقله زه هیڅ وئیل ضروری نه ګڼم صرف ګرانو لوستونکیو ته دومره عرض کوم چې د پټې خزانې عکسی چاپ دې وګوری یا دې د پټې خزانې ورومبی او دویم ایډیشن کښې لګیدلے "فیک سیمیلی" وګوری او فیصله دې په خپله وکړی -

محترم قلندر صاحب بل اعتراض داسې کوی ----

"د عربی، فارسی او پښتو قلمی کتابونو یو عام روایت دا هم دے چې په صفحاتو په هندسو کښې شمیر نه شی لیکل کیدے - د پټې خزانې فیک سیمیلی کښې په یو مخ د ۱۱۱ هندسه هم لیکلے شوې ده (د عکسی چاپ د راوتلو نه پس اوس وئیلے شو چې په ټول کتاب د صفحاتو نمبرې په هندسو کښې لیکلی شوی دی) د قلمی نسخی وروستے تاریخ د ۱۳۰۳ هجری قمری دے یعنې دا نسخه په وروستی خل کوتې کښې په دغه کال نقل شوې ده - که د نولسمې صدی، بله یوه نسخه کښې چرې د صفحاتو شمیر په هندسو کښې راوښیلے شی نو زما دا اعتراض به غلط شی بناغلی هیوادمل د خپلې کتابونو حواله ورکړې ده خو دا دعوئ یې نه ده کړې چې د دغه کتابونو په مخونو هندسې هم هغه کاتب لیکلی دی چا چې کتاب لیکلې وه او که نه دا هندسې وروستو

www.pukhto.net

لیکلی شوی دی - خکه چې په دغه ټولو کتابونو کښې ر کابونه هم شته (د محمد هوتک ژوند او مزار) بناغلی هیوادمل په خپل یو بل کتاب کښې چې د هندوستان د پښتو قلمی نسخو کوم تفصیل ورکړے دے هغو کښې ې صرف د یو کتاب ادم درخانی ر په سلسله کښې دا لیکلی دی چې دغه کتاب د مخونو شمیر په هندسو کښې لری (د هند په کتابخانو کښې د پښتو د قلمی نسخو فهرست ص - ۳۲) گویا د هند د کتابخانو په ټولو پښتو قلمی نسخو کښې صرف یو کتاب نمبرې لری -" 5

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ---

" د پټې خزانې افستې چاپ (هکذا) په هره صفحه لکه د نورو اکثرو پښتو قلمی نسخو د رکابونو په موجودګی ر کښې دا احتمال کیدے شی چې د ا صفحې لکه د پښتو په خنې نورو قلمی نسخو د لکیدلو صفحو وروستو بیا چا لګولی وی - ولې بیا هم که څوک دا دلیل نه منی د اعتراض مسترد کولو دپاره به د پښتو اکیډمی ر د یوې داسې قلمی نسخې حواله ورکړو چې د خپل قدامت له مخه وینو په کښې هم لارې جوړې کړی دی او د ګلدسته او کلیله دمنه تاریخ مرصع مخزن فواند شریعت او فیاض د قصه بهرام شهزاده او کل اندامې په څه برخو مشتمله د ګلستان په نامه محفوظه ده چې په هره برخه ې خان خان له

www.pukhto.net

هندسې لیکلی دی چې ورومبی برخه یې په ٤٤ صفحاتو دویمه په ٦٥ دریمه په ٦٤ څلورمه په ١٤ پنځمه په ٢٦ او شپږمه برخه یې په ٥٦ صفحاتو مشتمله ده - بیا دغه برخې د یوې صفحې نه په بله د لفظ حوالې (رکابونه) هم نه لری چې هغه وخت د رکابونو د روایت سره سره د صفحاتو شمیر په هندسو کښې د روایت تصدیق هم کوی. ۱۰ اعتراض بې بنیاده او غلط ثابتوی چې ګنی هغه وخت دغه ځمن کښې صرف په رکابونو عمل در آمد کیدو۔" 6

محترم همیش صاحب چې د پښتو ادب ژوره مطالعه لری او دیر قلمی دیوانونه یې چاپ کړی دی هم لکه د زلمی هیواد مل صاحب صرف یو کتاب د اسې پیدا کړے دے چې په هغې کښې د صفحاتو شمیر په هندسو کښې لیکلے شوے دے - خو هغوی هم لکه د هیواد مل صاحب دا خبره نه ده کړې چې دغه د صفحاتو نمبرې هم د هغه کاتب په قلم لیکلی شوی دی او که نه؟

بل دا چې د دغه کتاب چې د ګلستان په نوم محفوظ دے د لیک کال نه دے ښیئلے شوے - صرف دومره وئیلی شوی دی چې د قدامت له مخه په کښې وینو لارې جوړې کړی دی - نو په دې حقله زه دومره عرض کول مناسب ګڼم چې د یو کتاب د قدامت د پاره په هغه کتاب کښې د وینو لارې جوړیدل دلیل نه دے - په کومه علاقه کښې چې وینه موجود وی نو هلته په یو کتاب کښې میاشت پس هم لارې جوړیدې شی او چرته چې وینه نه وی هلته په کلونو کلونو کتاب د وینو له خوراکه بچ پاتې وی - بل لکه چې

www.pukhto.net

همیش صاحب وئیلی دی چې ګلستان یو انتخاب دے د ګنو کتابونو نه په کښې نمونې راخستی شوی دی نو ظاهره ده چې پخوا په پښتنو کښې د منتخباتو راجمع کولو رواج نه وه دا رواج انګریزانو له ځانه سره راوړے دے او ځومره مستشرقینو چې په پښتو کښې کار کړے دے نو هغوی دغه شان منتخبات چاپ کړی دی - چې همیش صاحب ترې زمانه ښه خبر دے - نو مونږ دا وئیلے شو چې دغه قلمی نسخه چې د ګلستان په نوم محفوظه ده دانګریزانو د راتلو نه پس لیکلے شوې ده نو که په هغې د صفحاتو نمبرې په هندسو کښې لیکلی شوی وی نو وی به خو په دلیل کښې پیش کول ې تر هغې پکار نه دی تر ځو چې ې دلیکلو کال په ګوته نه کړے شی - دهیوادمل صاحب یاد کړی کتاب چې د هند په کتابخانو کښې پروت دے په هغې د رکابونو سره سره د صفحو نمبرې هم لګیدلی دی نو ښکاره خبره ده چې نمبرې وروستو بل چا لګولی دی ګنی د رکابونو په موجودګۍ کښې د صفحاتو شمیر په هندسو کښې لیکل څه معنیٰ لری -

په ابتدائی معروضات کښې قلندر صاحب د کاسی او کانسی څه خبره نه ده کړې خو چونکې هغوی دغه خبره په خپله وړومبۍ مقاله کښې چې په پښتو مجله کښې چاپ شوې وه کړې وه ځکه نو همیش صاحب په خپل دې کتاب کښې دا خبره کړې ده چې ---

"شاید هغه وخت زما د جوابی مقالې دلیل ې په خپل اعتراض درولند ګنلے دے ځکه د ا اعتراض ې دوباره له خپله کتاب وویستو -" (6)

www.pukhto.net

ما په دې حقله د قلندر صاحب نه پوښتنه وکړه نو هغوی ووئیل چې وروستو بیا ما ""کاسی" لفظ هم ولوستو او په دې نتیجه ورسیدم چې دواړه رنګه لیکلے او لوستے شی خکه نو دغه اعتراض مې په کتاب کښې دوباره تکرار نه کړو - خو اوس چې همیش صاحب بیا په خپل کتاب کښې دغه خبرې ته اشاره کړی دی نو ضروری ګڼم چې هم په دغه موضوع خبرې وکړم - بله یوه وجه ې دا هم ده چې قلندر صاحب د دې قائل شوے دے چې کاسی او کانسی دواړه وئیلے شی - ولې همیش صاحب په خپل دې کتاب کښې لیکی چې ---

"د پښتو کوم تاریخونه چې تر دغه وخته په پښتو، فارسې او اردو ژبو کښې لیکلی شوی دی او کم از کم دغو کښې کوم چې زما له نظره تیر شوی دی په دوی کښې یو هم د "کاسیانو" ذکر د "کانسیانو" په شکل نه دے کړے - لکه مخزن افغانی چې د کال ۱۰۱۸ هجری خواوشا لیکلے شوے دے، یا تاریخ مرصع چې د دولسمې پیړۍ په حدودو کښې لیکلے شوے دے او د فاضل محقق کامل مومند په مقدمه او حاشیه په کال ۱۹۷٤ کښې شائع شوے او خور شوے دے، یا تواریخ خورشید جهان په فارسې ژبه او حیات افغانی په فارسې ژبه چې د نولسمې پیړۍ په خواوشا کښې لیکلے شوے دی یا د بهادر شاه ظفر پښتانه د تاریخ په رڼا کښې یا د سیال کاکړ پښتو او پښتانه په سویلی پښتونخوا کښې دغو ټولو تاریخونو کښې یو هم "کاسیانو" ته کانسیان نه دی

www.pukhto.net

وئیلی۔" (8)

لکه چې ما اګاهو ووئیل د کاسی او کانسی دواړه شکله رواج لری، دیر لری به نۀ خو د بلوچستان یو ځلمے چې د امریکې له خوا مجرم ګرځیدلے دے ایمل نوم یې دے او لا تراوسه ګرفتار شوے نۀ دے د هغۀ په پاسپورټ کښې هم د نوم سره کانسی لیکلې شوے دے۔ هم د دغه ایمل کانسی ذکر بیا بیا په اخبارونو کښې راځی د دویشتم مارچ کال نولس سوه پینځۀ نوی اردو اخبارونه کۀ وکتے شی نو هغوی ټولو ایمل کانسی لیکلے دے۔ البته ځنو اجمل کانسی په غلطی سره لیکلے دے۔ بل د کانسی د ټولو نه غټ ثبوت دا دے چې ترننه په کوټه کښې یو روډ د کانسی روډ په نوم موجود دے او د بلوچستان ټول وسیدونکی ورته کانسی روډ وائی او لیکی یې هم۔

محترم همیش صاحب دا هم وئیلی دی چې په تاریخ مرصع ۲۰ ځ چرته هم کانسی نۀ دے لیکلے شوے هر ځای کاسی لیکلے شوے دے۔ نو زما په خیال چې دا د لوستونکیو د ګمراه کولو یو کوشش دے ځکه چې په تاریخ مرصع کښې خبره د دې برعکس ده۔ نۀ پوهیږم چې همیش صاحب داسې ولې کړی دی۔ تاریخ مرصع کښې زما په ځنو ځایونو کښې لفظ کانسی تر نظره شوے دے۔ د ګرانو لوستونکیو په خدمت کښې یې وړاندې کوم---

۱۔ پهار خان لوحانی او زوم د شیر شاه چې تتار خان کانسی وۀ۔

۲۔" ذکر نهم هغه مظهر د فتوحات غیبی او مصدر د مکاشفات لاریبی او قدوه د عارفانو او برهان د سالکانو یعنې متهٔ کانسی له

www.pukhto.net

جمله مشائخانو د وخت او مرید د شاه عبد الرحمان بختیار وۀ ـ"

۳ـ" ذکر په بیان د خرشبون د اولاد چې څوے د سړه بن وۀ الله تعالیٰ دۀ ته دري زهمن ورکړۀ کند، زمند، کانسی ـ"

٤ـ"او کانسی څوے د خرشبون وۀ الله تعالیٰ دولس فرزندان ورکړۀ ـ"

٥ـ فهرست د هغو بزرګانو چې له اولاده د سړبنی وو دا دی اول قطب الدین اوشی شیخ اسماعیل سړبنی ---- شیخ متهه کانسی ـ

---شیخ حسن کانسی ------ 9

په تاریخ مرصع کښې یو ځاې د شیخ حسن کانسی په ځاې شیخ حسن کاسی زما تر نظره شوے دے ـ او هغه داسې دے ـــ

ذکر دے دوه ویشتم هغه عاشق صافی او عارف وافی شیخ حسن کاسی دیر عتاب او جلالیت درلۀ ـ 10

ولې په نوټونو کښې کامل مرحوم چې چرته د تاریخ خان جهانی او تاریخ مرصع موازنه کړې ده او د دواړو فرق یې په ګوته کړے دے نو هلته یې په صفحه ۱۲۸۸ د تاریخ خان جهانی په حواله شیخ حسن کاسی او د تاریخ مرصع په حواله یې شیخ حسن کانسی لیکلے دے ـ نو مونږ وئیلی شو چې په تاریخ مرصع کښې کۀ یو خل کاسی راغلے دے نو هغه د کتابت غلطی کیدے شی ـ او کۀ ځوک یې د کتابت غلطی نۀ ګڼی نو بیا دومره وئیل ضروری ګڼم چې په تاریخ مرصع کښې زیات کانسی او یو ځاې نیم کاسی لیکلے شوے دے ـ نو پکار دی چې زیات استعمال شوے تورے صحیح و ګڼلے شی ـ بل کۀ چرې

www.pukhto.net

دا تورے غلط وے نو د کامل مرحوم غوندې یو لوړ نقاد او عالم فاضل انسان پرې حاشیه ولې نه لیکله - لکه چې مخکښې هم پرې خبره وشوه کانسی او کاسی دواړه وتیلے او لیکلے شی - بلکی دا اسې وتیلے شو چې پخوا کانسی لیکلے شو او اوس ې جدید شکل کاسی دے - هو بهو لکه د مهمند او موسند په شان پخوانیو خلقو چرته هم موسند نه دے لیکلے - ولې نن سبا ې دیر خلق موسند لیکی -

محترم قلندر صاحب په ابتدائی معروضات کښې یو اعتراض دا هم کړے دے چې ---

" د پښتو قلمی نسخو کښې "د" "دا" "ده" یو شان "د" لیکلے شی لیکن د پټې خزانې په قلمی نسخه کښې دا فرق په دیر اهتمام شوے دے او یو خاې کښې هم په دې توریو کښې غلطی نه ده شوے - دغسې د زړې املا له رویه "ژبه" "ژب" "نورو" "نور" "حیواناتو" "حیوانات" "نسته" "نست" لیکل پکار وو حکه چې متقدمینو به د "ه" او "و" په خاې زور او پیښ (ضمه) استعمالولو - (خوشحال بابا د ماده تاریخ په ویستلو کښې هم دغه هجه برقراره ساتلې ده) او دا روایت د شلمې صدۍ تر سره پورې وو - بلکې د شلمې صدۍ په چاپی کتابونو کښې هم د دې ثبوتونه موندۀ کیږی - " (11)

او له دې نه محترم قلندر صاحب دا نتیجه وکښلې ده چې د پټې خزانې املا زړه املا نه ده - د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې بناغلے

www.pukhto.net

همیش صاحب لیکی ---

"دا اعتراض بیخی درست ځکه نۀ دے چې د پټې خزانې په آفستی (هکذا) چاپ کښې د ښکارندویۍ قصیده، ابو محمد هاشم اشعار، خلیل خان نیازی او سلطان بهلول رباعیات، زرغن شاه نورزی ساقی نامه عبد القادر خان خټک غزل او ملا محمد حافظ بارکزی بدله بعینهی (؟) په هغه املا کښې لیکل شوی دی کومه چې د ښاغلی معترض مقصد ده - دا د ادبی دیانتد اری ر تقاضا وه چې ښاغلی همعصر دغه خوا هم اشاره کړې وے - خو باوجود د دې بیا هم د پښتو کومې منظومې او نثری قلمی نسخې چې د کال ۱۱۵۰ هجری نه هم ور په اخوا او یا وروستو لیکلی شوی دی دغه ټولې په کراتو کراتو په خورا ډیر واضحه او څرګنده ډول د پټې خزانې دا املا تصدیق کوی -" 12

محترم همیش صاحب د هغوی دا خبره بیخی درست نۀ ده ګڼلے یعنې تر څۀ حده یې ټیک ګڼی - خو د نقل شوی پیراګراف په اخره کښې دا خبره کوی چې د ۱۱۵۰ هجری نه ور په اخوا او وروستو لیکلو شوۍ نسخو کښې د متقدمینو د دغې قاعدې خلاف ورزی ر شوی دی یعنې جدیده املا هم لیکلے شوې ده - او په دې لړ کښې یې د ارزانی، بیدل، میاں نعیم، له دیوانونو او له قلب السیر نه څنې نمونې پیش کړی دی - چې په کښې د ملفوظې "ه" استعمال او د اعرابو په ځایې د حرفونو استعمال شوے دے په دې ضمن کښې زۀ د څنو چاپ شویو دیوانونو نه یو څو اقتباسات پیش کوم - -

www.pukhto.net

۱۔ د یونس دیوان چې په ۱۱۷۶ هجری کښې یعنې د همیش صاحب د یاد کړی شوی کال ۱۱۵۰ هجری نه شپږ ویشت کاله پس قلمی شوے دے په حقله بناغلے عبدالله خدمتگار بختانی صاحب لیکی ---

"د قلمی نسخې لیک دود هم داوسنی لیک دود سره ډیر فرق لری مثلاً ډیر ځله (پ، ب) ،(د، و)، (چ، څ)، (ذ، ز) یو د بل په ځایّ راغلی دی او (ګ) په ځایّ تل (ک) لیکل شوے دے او د علت د تورو هیڅ مراعات نه دی شوی ۔ ناسخ کله لیکلی دی او کله نه" 13

۲۔ د میاں نعیم دیوان چې د جناب خیال بخاری مرحوم د مقدمې سره د پښتو اکیډمی له خوا په کال ۱۹۶۴ عیسوی کښې چاپ شوے دے ۔ نو مورے دیوان په کال ۱۲۷۴ هجری کښې د همیش صاحب د یاد شوی کال یعنې ۱۱۵۰ هجری نه یو سل څلیریشت کاله پس لیکلے شوے دے ۔ د دې دیوان په دیباچه کښې خیال بخاری مرحوم لیکی ---

" د غزلو د ترتیب په حقله یوه خبره بله هم په ګوته کول غواړی هغه دا ده چې لکه د ځنو پخوانو دیوانونو ېّ د ردیفونو پوره کولو دپاره ځنې الفاظ په ځایّ د "ه" یا "ی" تش په زور یا زیر لیکلی دی لکه واخلے :۔

د "له جانبه"، "زما صاحبه"، "له قالبه" په ځایّ "له جانب"، "زما صاحب"، "له قالب" یا د "توره تپه"، "په هپه"، "په لپه" په ځایّ "توره تپ"، "په هپ"، "په لپ" یا "جواب کړے"، "اجتناب کړے" په ځایّ "جواب کړ" "اجتناب کړ" یا د "نه ده" په ځایّ "ند" وغیره

www.pukhto.net

وغیره۔" (14)

۳۔ د سعید دیوان چې په کال ۱۹۵۸ عیسوی کښې محترم همیش صاحب چاپ کړے دے او یوه عالمانه مقدمه ئې پرې لیکلے ده ۔ په دغه مقدمه کښې هغوی لیکی ---

" د دیوان سعید د قلمی نسخې نه معلومیږی چې نن نه تقریباً دوه سوه کاله ورومبے "ه" چې اوسنی لیک دود کښې د کلمې د اخری توری (حرف) د زبر او زیر په ځائ استعمالیږی ۔ هغه زمانه کښې د دغه غیر ملفوظي ه ګانو یعنې "ه" استعمال قطعاً نه وه لکه ---

هم دغه حال دے که لوئ شول شک ئې نشت

رضا مند به ئې په مرګ د دوئ فساد کا

ته دیدن ته د ګور څه تن پروری کړ

که د زړه بصر لرے څه دادراک (15)

قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د بیلګې د عنوان لاندې د پښتو څنی توری پیش کړی دی او بحث ئې پرې کړے دے کوم چې په پټه خزانه کښې په غلطو معنو استعمال شوی دی ۔ او جواب ئې محترم همیش صاحب په تول پارسنګ کښې کړے دے ۔ ما د همیش صاحب د جواب، جواب په خپلو نورو مقالو کښې کړے دے اوس دا وخت صرف یو تورے چې قلندر صاحب پرې په ابتدائی معروضات کښې خبره کړې ده د لوستونکیو په خدمت کښې پیش کول غواړم ۔ قلندر صاحب لیکی چې ---

www.pukhto.net

داسعد سوری مصرع ده "پر نتلیو اوروی د غم ناتار"

بناغلے حبیبی ددے ترجمه کوی :

"طوفان غم را بر غمزد گان نازل می سازی" او په حاشیه کښې د "نتلیو" معنیٰ کوی "افسرده و غمزده و محزون" ددې حاشیې نه لاندې د "ناتار" معنیٰ لیکی تاراج و یلغار و شدت طوفان باد و باران - د ناتار وړومبی معنیٰ خو صحیح ده ولې نورې ټولې معنې غلطې دی - "نتل" (چې ناتار تړې حاصل مصدر دے) لوټ کولو ته وائی او اوس هم کټ مټ په دغو معنو کښې مستعمل دے ولې د اسعد سوری په شعر کښې یې هم هغه معنیٰ سمون خوری چې حبیبی صاحب له غلطی کړې ده -" 16

محترم همیش صاحب دهغوی ددې اعتراض په جواب کښې لیکی --

"دغه نه پس د گوانبل ،ناتار او نتل په معنو دا اعتراض شوے دے چې پټه خزانه کښې استعمال شوی دغه لفظونه هغه معنې نه ورکوی کومې معنې چې د کوزې پښتونخوا په ادب کښې پکارولی هم دغه لفظونه ورکوی - دغه اعتراض هم هو بهو هغه شان دےکوم چې د ایواد یا هیواد او گروهیدل په ضمن کښې شوے دے - د دغه تکرار شوی اعتراض په حقله عرض دا دے - د معنو د دغه اعتراض په حقله لرې به نه خو هم په کوزه پښتونخوا کښې که د لفظونو معنوی تضاد ثابت شی نو دغه اعتراض به هم بې معنې شی - مثلاً "پټکے" څرگنده خبره ده چې د پیښور

www.pukhto.net

مردان او سوات وغیره خلق ېې د "پګړۍ" او دستار په معنیٰ اخلی هر کله چې بنوځی او ځنو نورو علاقو کښې د "څادر" په معنو کښې هم استعمالولے شی - بیا یو بل لفظ "ورا" چې د بنوں خلق ېې د "جنج" په معنیٰ او پیښور وغیره خلق ېې د زلمی له خوا د ښځو ډلې ته وائی چې د ناوې د سینګارولو او ډولۍ تیارولو دپاره د جینۍ کور ته په ساز او سندرو ځی - بل لفظ ډنګر دے چې د پښتونخوا په ځنو سیمو د څاروی او ځنو سیمو کښې د لاغر او کمزوری په معنو استعمالولے شی - هلک هم یو لفظ دے چې مونږ ېې د طفل په معنیٰ او ځنو ځایونو کښې د سپک او بې قدره په معنو مستعمل دے - من چې کوزه پښتونخوا کښې د څلویښتو سیرو او بړۍ پښتونخوا کښې د اووه نیمو کیلو په معنو پکارولے شی - راز لفظ د افغانستان خلق د قسم یا رنګ په معنیٰ اخلی هر کله چې مونږ ېې سر معنیٰ کوو - داسې ډیر الفاظ شته چې په یوه علاقه یوه معنیٰ ښندی او بله علاقه بله (هکذا) - اوس په د اسې حالاتو کښې کۀ د بړۍ پښتونخوا محمد هوتک، شیخ بستان بړیځ، شیخ اسعد سوری او ابو هاشم زید سروانی ېې یوه معنیٰ کوی او د بیلیو قاموس ېې نورې معنې کوی نو داځۀ د تعجب خبره نۀ ده -" 17

د همیش صاحب د دې خبرې په جواب کښې زۀ دومره عرض لرم چې کۀ د اسې وی نو په زور نظم او نثر کښې دې بې له پټې خزانې نه ځۀ

www.pukhto.net

نمونې پیش کړی نو باید چې لوستونکی یې وهٔ منی - څومره پورې چې د همیش صاحب د پیش کړیو شوو توریو خبره ده نو لکه چې څنګه هغهٔ ته معلومه ده دغسې هر چاته دا پته ده چې دغه توری په مختلفو علاقو کښې مختلفې معنې ورکوی - خو د ناتار او نتل په بحث کښې د دیو توریو پیش کول پکار نهٔ وو ځکه چې زما په خیال د دیو توریو په معنو کښې هیڅ تضاد نشته ، کهٔ چرې وی نو پکار دی چې نمونې یې د زور پښتو ادب نه پیش کړې شی -

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص - ٦٠٥٤
2. تول پار سنګ ص - ١١٩٠
3. هم دغه کتاب ص - ١٢٩١
4. قلب السیر قلمی نسخه
5. په خزانه فی المیزان ص - ٧٠٦
6. تول پار سنګ ص - ١٤١٣
7. هم دغه کتاب ص - ١٤ حاشیه
8. هم دغه کتاب ص - ١٥
9. تاریخ مرصع ص - ١٧٥، ٥٢٧، ٥١٤، ٦١٠، ٦٠٩ بالترتیب
10. هم دغه کتاب ص - ٥٣١

www.pukhto.net

11 پټه خزانه فی المیزان ص - ۷

12 تول پارسنګ ص - ۱۶

13 دیونس د دیوان سریزه دیرشم او یو دیرشم مخ

14 د میاں نعیم دیوان دیباچه ص - ۲۸

15 د سعید د دیوان مقدمه ص - ز

16 پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۵

17 تول پارسنګ ص - ۴۱۴۰

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

اُلۡئِنَ حَصۡحَصَ الۡحَقُّ

په پټه خزانه فی المیزان کښې د ابتدائی معروضات د عنوان لاندې په پټه خزانه شوؤ ګڼو اعتراضونو کښې یو اعتراض د "یائے مجهول" په نۀ استعمالولو هم شوے دے - په دې حقله محترم قلندر مومند لیکی چې -

د املا په لړ کښې یو دلچسپ حقیقت دا دے چې د "فیک سیمیلی" په دواړو مخونو کښې یو ځل هم "یائے مجهول" نۀ ده لیکلے شوے - د افغانستان د پښتو حروف تهجی نه د "یائے مجهول" جلاوطنی خو ډیره اوسنی واقعه ده - بناغلی عبد الحئ حبیبی چې په ۱۳۱۷ هجری شمسی کښې د خوشحال خان خټک ملغلرې پټیلې نو دا حرف موجود وۀ، خو چې په ۱۳۲۳ هجری شمسی کښې "پټه خزانه" رابنکاره شوه نو ثابته شوه چې بناغلی محمد عباس کاسی په ۱۳۰۳ هجری قمری کښې دا تورے د پښتو نه خارج کړے وۀ - (1)

محترم قلندر مومند صاحب په دې اقتباس کښې صرف د "فیک سیمیلی" په دوؤ مخونو کښې د "یائے مجهول" د نشت خبره کړے ده خو اوس د پټې خزانې د دریم چاپ نه دا خبره په ډاګه شوه چې په ټول کتاب کښې "یائے مجهول" نۀ ده پکار ولے شوے - د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې لیکی چې --

د املا په ضمن کښې یو "دلچسپ حقیقت" دا هم په ګوته کړے

www.pukhto.net

شوے دے چې د افغانستان پښتو کښې چونکې د یائے مجهول خارجیت ډیره نوې خبره ده او د خوشحال خان خټک د ملغلرې تر وخته دا حرف موجود وۀ خکه نو پټه خزانه کښې د دغه حرف غیر موجودگی د کتاب په جدیدیت گواهی لی ـ د دغه اعتراض په حقله عرض دے چې دا بحث د پښتو قلمی نسخو په برخه کښې د بحث ور نۀ دے او د خوشحال خان خټک ملغلرې په ضمن کښې چې کوم ذکر شوے دے هغه دیوې چاپې نسخې په باره کښې دے او دا نسخه سید حسین چې د طلوع افغان کاتب وۀ لیکلے ده ـ د دې نه دا حقیقت جوتیږی چې د پټې خزانې املا دنورو قلمی نسخو سره هم سمون او مشابهت لری ❷

د محترم قلندر مومند اعتراض لکه چې د وړاندې ذکر شوی تباس نه بنکاره شو دا دے چې په "پټه خزانه" کښې یائے مجهول نۀ ده ستعمال شوے ـ او د پټې خزانې د مولف د وینا تر مخه هغۀ دغه خزانه په ولس سوه یو څلویښتمه او دوه څلویښتمه هجری کښې تالیف کړے ده ـ و دا هغه وخت وۀ چې د پښتو د حروف تهجی نه لاد یائے مجهول اخراج په عمل کښې نۀ وۀ راغلے ـ خکه چې تر دیارلس سوه اوولسمې هجری د خوشحال خان خټک د ملغلرې د چاپ د کال پورې د افغانستان د پښتو په حروف تهجی کښې یائے مجهول موجوده وه ـ نو پکار ده چې د دولسمې صدی په کتاب کښې یائے مجهول لازماً موجوده وے خو داسې نۀ دی شوی د په پټه خزانه کښې د افغانستان د خلقو د دغې فیصلې پوره لحاظ ساتلے

www.pukhto.net

شوے دے او چرته هم په کښې نۀ ده استعمال شوے ۔ او له دې نه دا خبره په ډاګه کیږی چې د پټې خزانې املا جدیده او معیاری ده ۔

د دې اعتراض په جواب کښې چې محترم همیش صاحب څۀ وئیلی دی هغه زما کم علمه په فهم کښې نۀ راځی چې اخر ولې دا بحث د قلمی نسخو په برخه کښې د بحث ور نۀ دے ۔ پکار ده چې د دې خبرې لږ وضاحت شوے وے ۔ باقی هغوی لیکلی دی چې "د خوشحال خان خټک ملغلرې په ضمن کښې چې کوم ذکر شوے دے هغه د یو چاپې نسخې په باره کښې دے او دا نسخه سید حسین چې د طلوع افغان کاتب وۀ لیکلے ده" ۔ په دې خبره ې هم پوې نۀ شوم د خوشحال خان خټک ملغلرې چې هر چا لیکلی وی زمونږ د هغۀ سره څویمه ده ۔ خو خبره دا ده چې د خوشحال خان خټک ملغلرې په ۱۳۱۷ هجری شمسی کښې سید حسین لیکلے بناغلی حبیبی صاحب چاپ کړی دی او یانے مجهول لری ۔ او پټه خزانه چې د دولسمې صدۍ کتاب دے او په ۱۳۰۳ هجری قمری کښې محمد عباس کاسی کتابت کړے او د افغانستان حکومت د دریم چاپ په شکل کښې خور کړے دے یانے مجهول نۀ لری ۔ دواړه چاپ شوی کتابونه دی خو نۀ پوهیږم چې محترم دا خبره په کوم دلیل کوی چې "دا بحث د قلمی نسخو په برخه کښې د بحث ور نۀ دے" ۔ پکار دا وه چې محترم د پټې خزانې د وخت د لیکلے شوۀ داسې کتابونو حوالې ورکړے وے چې په هغې کښې هم یانے مجهول نۀ وے پکارولے شوے نو باید چې لوستونکی ې قانع کړے وے ۔ صرف دا چې "دا بحث د قلمی نسخو په برخه کښې د بحث ور نۀ دے" نۀ د

www.pukhto.net

شوی اعتراض جواب دے او نۀ لوستونکی قانع کولے شی - بل دا چې دغه نسخه سید حسین لیکلے وه له دې نه څنګه دا جوتیږی چې د پټې خزانې املا د نورو قلمی نسخو سره سمون او مشابهت لری - په زړو قلمی نسخو کښې خو "ترو" ، "سکه" ، څخو" ، " خبله" ، "وبله" ، "خپسر" ، وغیره استعمال شوی دی کومو ته چې محترم قلندر مومند صاحب د ابتدائی معروضاتو په اخره کښې اشاره کړے ده - ولې په پټه خزانه کښې په دغو ټکو کښې یو ټکے هم په نظر نۀ راځی - نو د همیش صاحب دا خبره به لوستونکی اخر په کوم دلیل منی چې د پټې خزانې املا د نورو قلمی نسخو سره سمون او مشابهت لری -

دویم تورے "ګاف" دے چې په "پټه خزانه "کښې هر چرته د "ګ" په شکل کښې لیکلے شوے دے - قلندر مومند صاحب په دې توری د اسې اعتراض کوی --

د پټې خزانې د املا د جدیدیت یو روښان ثبوت د "ګ" استعمال دے - متقدمینو به دې توری ته " کاف فارسی" وئیل او په لیک کښې به یې هم "ک" لیکلو - پښتنو البته خپل کونده لرونکے "ګ" په موجوده شکل کښې لیکلو او " کاف فارسی" یې نوملو -(پښتو کښې د " ګ" په باره کښې مرحوم حبیبی صاحب د خوشحال خان خټک ملغلرې په صفحه ۷ لیکی " د اسې بنکاره کیږی چې په هغه وخت کښې دغه املا مروجه وه --- او د کاف او ګاف تر مینځه فرق هم نۀ کوی)-

www.pukhto.net

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب کښې لیکی چې--

د دغه اعتراض جواب د قاسم علی خان افریدی د دیوان هغه قلمی نسخه چې په کال ۱۲۳۰ هجری قمری کښې لیکلے شوے ده روغ یو باب الگاگ ردیف سی ام است دے۔ د دې ردیف دری غزلې دی او دغو دری وارو غزلو کښې هم د گاف تورے د "گ" په شکل کښې لیکلے شوے دے۔ (4)

له دغې نه پس د قاسم علی خان افریدی دیو څو شعرونو پیش کولو نه وروستو لیکی چې---

د نور الله د سکندر نامې په یوه قلمی نسخه کښې هم د "گ" استعمال په دغه شکل ښهٔ پریوانه شوے دے۔ (5)

د هغوی په دې جواب د تبصرې کولو نه اگاهو زهٔ غواړم چې هم د هغوی د دیوان سعید د لیکلے مقدمې نه یو اقتباس پیش کړم----

" لفظ "گ" خو یوخاې هم په اوسنی شکل نهٔ دے کښلے شوے بلکې په ټول دیوان کښې د "گ" په خاې "ک" استعمال شوے دے داسې معلومیږی چې هغه زمانه کښې د "گ" او "ک" دپاره هم یو "ک" استعمالولے شو "۔(ص-ش) (6)

او له دې نه پس یې یو دوه شعرونه په نمونه کښې پیش کړی دی۔ او اوس یې مونږ ته د "گ" استعمال د قاسم علی خان افریدی په قلمی نسخه کښې په گوته کړے دے۔

www.pukhto.net

چه دلاور است دزدے که بکف چراغ دارد

د اسې ښکاری چې محترم همیش صاحب ته ددې لیکلو په وخت دا نه وو یاد چې ما د سعید د دیوان په مقدمه کښې د اسې لیکلی دی - پکار دی چې همیش صاحب په خپلو هغو لیکلو یا دې لیکلو کښې د یو لیک تردید وکړی -

د پټې خزانې د وخت یو کتاب "قلب السیر" چې گوهر خان خټک لیکلے دے او همیش صاحب په خپل کتاب کښې په کتابیاتو کښې د صدر خان خټک کتاب ښیئلے دے، په دغه کتاب کښې چرته هم "گاف" په دغه شکل نشته په کوم شکل چې په پټه خزانه کښې لیکلے شوے دے تر دې پورې چې چرته هم په شعرونو کښې "گوهر" راغلے دے نو هغه ئې هم "کوهر" لیکلے دے - دغه رنګ د کامګار خان خټک "شرح العقائد" چې قلمی نسخه ئې په پښتو اکیډمۍ کښې محفوظه ده چرته هم گاف په دغه شکل کښې نه لری - د عبدالحمید بابا "شرعة الاسلام" چې د افغانستان له خوا د قلمی نسخې عکس اخستے شوے او چاپ شوے دے چرته هم گاف په دغه شکل کښې نه لری - د علی خان دیوان چې د ارکائیوز په لائبریرۍ کښې پروت دے په هغې کښې هم چرته گاف په دغه شکل کښې نشته - بلکې په اکثرو قلمی نسخو کښې گاف د کاف په شان لیکلے شوے دے - واحد پټه خزانه ده چې په هغې کښې گاف د اردو او فارسی د گاف په شکل لیکلے شوے دے - کوم چې نن هم د افغانستان لیکونکی لیکی - ظاهره ده چې گاف په دغه شکل لیکل یو جدید عمل دے او په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری کښې په

www.pukhto.net

لیکلی شوی کتاب کښې ئې په دغه شکل لیکل په ذهنونو کښې شکو.
راولاړوی - او سړے په دې وینا مجبوروی چې په پښه خزانه کښې د
مستقبل املا پکارولے شوے ده - زهٔ د "یائے مجهول" او د "گ" دنهٔ لیکنو په
بنا په دې وینا خان په حقه گنهم چې دا خبره رښتیا ده چې پښه خزانه د جدید
لیکونکی قرأت استعمالوی -

د محمد هوتک علیه الرحمة په تذکره "پښه خزانه" کښې د پښتو یو
مخصوص تورے "خ" هر ځائې په هم دې یو شکل لیکلے شوے دے کوم چې
نن سبا مونږ لیکو - محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب "پښه خزانه
فی المیزان" کښې د "جدیدیت" د عنوان لاندې د پښتو د دې توری په حقله
لیکی چې ---

" د خیر البیان د عکسی ایډیشن ۱۳۵۳ هجری شمسی (۱۹۷٤) کښې د
افغانستان د لوئ عالم پوهاند (اوس متقاعد) عبد الشکور رشاد
یوه مقاله "د خیر البیان لیک دود" چاپ شوے ده - مقاله کښې
صرف د خیر البیان په لیک دود عالمانه او محققانه بحث نهٔ دے
شوے بلکې د دې خبرې سره سره فاضل پوهاند رشاد د موجود
لیک دود په باره کښې هم خپله رائې پیش کړے ده - پوهاند رشاد
وائی "د "خ" اوسنے مروج شکل چې د "خ" پر سر همزه (ء)
کښلی دی - د وزیر محمد گل خان مومند ایجاد دے - چې
وروسته عام سو له په لر او بر پښتونخوا کښې ئې رواج
وموندو" - د فاضل پوهاند دا تحقیق په دې لحاظ ډیر اهم دے چې

www.pukhto.net

دوی په کوم کتاب کښې دا تحقیق کړے دے د هغۀ په تالیف کښې ورسره په مشرانو کښې مرحوم حبیبی او مرحوم بینوا هم شامل دی - او تر اوسه د دې مشرانو له خوا د دې مقالې د دې حصې واضح تردید نۀ دے شوے ځکه نو مونږ مجبور یو چې د فاضل پوهاند رشاد دا تحقیق د لیک دود په باره کښې د افغانستان متفقه موقف وګڼو -

کۀ د "ځ" دا تورے د وزیر محمد گل خان مومند ایجادوی نو د پټې خزانې د حقانیت او قدامت د حامیانو په خدمت کښې زۀ دا حقیقت پیش کول غواړم چې وزیر محمد گل خان مومند عین په هغه کال پیدا شوے دے په کوم کال (۱۳۰۳ هجری) چې د پټې خزانې دویم کاتب "محمد عباس کاسی" خپل کار باستعجال تمام خلاص کړے دے - بناغلی زلمی هیواد مل په خپل کتاب "فرهنګ زبان و ادبیات پښتو" کښې د "مومند محمد گل" تر عنوان لاندې خپل لیک کښې د دوی د پیدائش کال ۱۳۰۳ هجری قمری او د وفات کال ۱۳٤۲ هجری شمسی بیانوی، چې په ترتیب ۱۸۸٦ - ۱۸۸۵ او ۱۹٦۳ عیسوی راځی - او په دې لحاظ مرحوم زمونږ معاصر وۀ - فاضل استاذ رشاد دا صراحت خو نۀ دے کړے چې وزیر محمد گل خان مومند د "ځ" دا تورے کله ایجاد کړے وۀ خو په هر حال کښې د "پټې خزانې" د لیکلو د کال (۱۳۰۳ هجری) نه ې پس کړے وۀ او ځکه نو د پټې خزانې په املا کښې

www.pukhto.net

د "خ" د استعمال د دې نه بغیر. بله هیڅ تشریح نۀ شی کیدے چې پته خزانه د محمد گل خان مومند د سن شعور ته درسیدو نه پس ته دور کښې لیکلے شوے کتاب دے او څکه نو دا سروپ دروغ دی - چې دا کتاب په ۱۳۰۲ هجری کښې لیکلے شوے دے - د خیر البیان په چاپ کښې برخه اخستونکی مهربانان کۀ اوس هر څۀ وائی خو د دې حقیقت تردید نۀ شی کولے چې دوی د کتاب د چاپ کیدو نه پس تر اوسه یعنې تر ۱۹۸٦ عیسوی د فاضل پوهاند رشاد په تحقیق خاموشه پاتې شوی دی - او څکه د خپلې خاموشۍ په وجه ې دا ثابته کړے ده چې دوی ورسره متفق دی - اوس کۀ د پټې خزانې د دفاع دپاره دا بناغلی خپله رائې بدلوی نو دا د دوی خوښه، خو د غیر جانبدار مبصر په رائې کښې د فاضل رشاد دا بیان د "سلطانی گواه" د بیان حیثیت لری - او د دې تحقیق په نتیجه کښې د پټې خزانې جدیدیت او جعلی حیثیت په خپله ثابت شی -"

7

د دې په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب "تول پارسنگ" کښې لیکی چې---

"زما په خیال دا ورومبۍ موقعه ده چې په یو علمی تحقیق کښې بناغلے همعصر د خپل موقف نه په شا شوے دے او د هغې وجه دا کیدے شی چې د پوهاند رشاد صاحب د "خ" دغه تحقیق د پټې خزانې جدیدیت ته تقویت رسولے دے - څکه نو د بناغلی

www.pukhto.net

معترض دغه کردار ته مونږ د حضرت علیؓ سره د حب نه بلکې د حضرت معاویهؓ سره د بغض معاویهؓ په وټیلو حق په جانب یو - د حیرانۍ خبره خو داده چې د ډیرو قدیمی قلمی نسخو د مطالعې باوجود بناغلی معترض چې د حقیقت نه په کوم جرأت سره سترګې پټې کړی دی هغه د فارسی د یو شعر دغه مصرعې سره ښه سمون خوری "چه دلیر (؟) است دزدے که به کف چراغ دارد" - چا ته چې د پښتو لرغونی ادب د مطالعې څه لږه موقعه هم په لاس ورغلے وی هغوی به زما سره په دې خبره کښې متفق شی چې "خ" زمونږ په قدیمی ادب کښې په دغو دریو شکلونو مروج دے یعنې ۱- "خ" ۲- "ج" ۳- "څ" - د پښتو ادب په خطی نسخو کښې د اسې پریوانه مثالونه شته چې زهٔ یې د خپلې دعوې په دلیل کښې پیش کولے شم-" 8

له دې نه پس همیش صاحب د سکندر خان خټک یو شعر، د فوائد الشریعت نه دری نمونې او د صدر خان خټک د "سیف الملوک بدری جماله" نه یوه نمونه پیش کړے ده -

د محترم همیش صاحب په جواب کښې زما وړومبے عرض دادے چې هر کله د عبد الشکور رشاد صاحب دغه خبره غلطه ده نو په دې خبره تراوسه مرحوم حبیبی صاحب، مرحوم عبد الرؤف بینوا او د افغانستان نور محترم لیکونکی ولې خموشه پاتې شوی دی ؟ او په خپله همیش صاحب په دغه پورته اقتباس کښې د پوهاند رشاد صاحب دغې رایې ته ولې

www.pukhto.net

غلط نه دی وئیلی؟ اوس خو که څوک د پوهاند رشاد صاحب له دغې رایې سره اختلاف کوی او یا یې نه منی نو دا خو "مشت بعد از جنگ "دے - چې هیڅ فائده نه ورکوی - بل په دې کښې چې کومه اهمه خبره ما محسوس کړه نو هغه دا ده چې که د همیش صاحب دا خبره ټیک وی چې "څ" په دې شکل څنګه چې اوس دے دغسې پخوا هم موجود وه نو بیا خو د هغه د قلم د ضد د لاندې د افغانستان لویې عالمان او پوهان ټول راغلل - ځکه چې د هغوی په قول " چاته چې د پښتو لرغونی ادب د مطالعې څه لږه موقعه هم په لاس ورغلی وی هغوی به زما سره په دې خبره کښې متفق شی چې "څ" زمونږ په قدیمی ادب کښې په دغو دریو شکلونو مروج دے -" د دې نه د اسې ښکاری چې دغو ټولو مرحومینو ته د لرغونی پښتو ادب د مطالعې لږه موقعه هم په لاس نه وه ورغلے - او بیخی تر ې نه ناخبره وو -

د پوهاند رشاد صاحب دا مقاله په ۱۹۷٤ عیسوی کښې چاپ شوے ده او محترم همیش صاحب پرې دا "ان دائرکټ" اعتراض په ۱۹۹۲ عیسوی کښې هله وکړو چې کله د دغې مقالې یو اقتباس د پټې خزانې خلاف پیش کړے شو - ګنی تر هغې وخته سم سمکے وه - اوس نه پوهیږم چې لوستونکی به د یو نقاد د اسې حرکت ته څه وائی - بل په دغه اقتباس کښې محترم همیش صاحب د قلندر مومند صاحب له خواد مرحوم رشاد صاحب تحقیق په دلیل کښې د پیش کولو په حقله دا خبره هم کړے ده "چې د معترض دغه کړدار ته مونږ د حضرت علی رضی الله عنه سره د حب نه بلکې د حضرت معاویه رضی الله عنه سره د بغض معاویه په وئیلو حق په

www.pukhto.net

جانب یو "- اول خو دا خبره داسې لیکل پکار وو چې "د معترض دغه کردار حب علیؓ نه بلکې بغض معاویهؓ دے نو شاید چې مفهوم یې بنهٔ ادا شوے وے - خیر هغوی خو د بغض په ځایې هم بعض لیکلے دے - او کهٔ د معترض دغه حرکت هغوی بغض معاویهؓ ګڼی نو خپل دغه حرکت ته به څهٔ وائی چې ډ رشاد صاحب تحقیق په ۱۹۷٤ عیسوی کښې چاپ شوے دے او بناغلی پرې هیڅ اعتراض نهٔ دے کړے خو چې کله دغه تحقیق د پټې خزانې خلاف استعمال شهٔ نو دغه تحقیق یې رد او مرحوم رشاد صاحب یې دروغژن وګرځولو -

محترم همیش صاحب په خپل دغه اقتباس کښې دا خبره کړے ده چې "ځ" لکه څنګه اوس لیکلے شی دغسې پخوا هم لیکلے شو - او د بې شمیره قلمی نسخو باوجود یې صرف دریې حوالې ورکړی دی چې صرف یوه په کښې داسې نسخه ده چې تاریخ لری - مرحوم ګل باچا الفت په خپل کتاب "لیکوالی املاء او انشاء" کښې د "پښتو املاء په پښتو کتابونو کښې" د عنوان لاندې د ګڼو پښتو قلمی کتابونو ذکر کړے دے، په دغو کتابونو کښې هغوی د خیر البیان داملاء په حقله د "ځ" په ضمن کښې لیکی چې --

د "ځ" په عوض هم له "څ" نه کار اخستل شوے دے - " ⑨

داخون درویزه په مخزن کښې د "ځ" په حقله لیکی چې --

" د "ځ" په ځایې هم "څ" لیکی - " ⑩

د ملا مست د سلوک الغزات په حقله لیکی چې ---

" د "ځ" په عوض "څ" لیکی او له دغه توری نه د دوو تورو (څ -

www.pukhto.net

څ) کار اخلی۔" (11)

د دولت په قلمی دیوان کښې د "خ" استعمال داسې په ګوته کوی چې --

"دا دوه توری (خ-ږ) داسې لیکی (ب-ذ) یعنې د لومړی توری په ځای (د) لیکی او یو ټکی تر یې نه لاندې ږدی او د دوهم توری په عوض (ذ) استعمالوی۔" (12)

او د اخون قاسم د "فوائد الشریعت" په کوم کښې چې محترم همیش صاحب د "خ" استعمال په موجوده شکل کښې مونږ ته ښیئلے دے په هغې کښې د "خ" په حقله لیکی چې --

"د ا کلمات بربند، هومره، زما، زمونږ، زمکه، برخه، مینځی، رومبی، بیرته د اسې لیکی برمند، همبره، څما، څمونږ، زمکه، برخه، وینځی، ورځنبلی، بیارت۔" (13)

اوس نو نۀ پوهیږم چې د چا خبره وۀ منم خکه چې همیش صاحب وائی چې "څ" په کښې په موجوده شکل کښې موجود دے او مرحوم الفت صاحب وائی چې نشته ۔ بیا له دغې نه پس د خوشحال خان خټک د املا۔ په حقله لیکی چې --

"څ ۔ د ا تورے داسې لیکی (چ) یعنی د (ح) لاندی ټکے لیکی او له ټکی لاندې یې همزه لیکی۔" (14)

د عبدالقادر خان د املا۔ په حقله لیکی---

"د خپل پلار مخصوصه املا۔ یې غوره کړے ده۔" (15)

د عبدالرحمان بابا په قلمی دیوان کښې د "خ" استعمال په دې شکل ښیی ---

www.pukhto.net

"څ" د "خ" په خائ استعمالوی یعنی (خائ) څائ لیکی -" 16

محمد شاه بابا په دیوان کښې ددې توری په حقله لیکی چې --

"خان، ورځ، خما په "څ" لیکی یعنی هم دغه یو تورے د دوو

تورو په خائ استعمالوی -" 17

اورتی د گلشن روه د املا په لړ کښې لیکی چې ---

"څ" د "خ" په خائ استعمالوی -" 18

بښتو نخوا د شعر هار و بهار کښې د "خ" د استعمال په حقله لیکی --

"د "خ" په خائ "څ" راوړی -" 19

په ۱۳۳۳ هجری قمری کښې د چاپ شوی کتاب "لمړی کتاب د پښتو" کښې

استعمال شوی "خ" شکل داسې ښیی --

"د پښتو مخصوص تورے "خ" د اسې لیکی "خ" یعنې "ح" لیکی

او د "ج" او "خ" دواړه ټکی ورکوی -" 20

د "پښتو مرکې" په املا کښې د "خ" استعمال داسې په گوته کوی ---

" د "خ" په خائ "څ" نه لیکی مگر "خ" داسې لیکی چې د "ح"

توری ته د "ج" او "خ" دواړه ټکی ورکوی -" 21

د منشی احمد جان د املا په حقله لیکی چې ---

"د "څ" تورے د "خ" په خائ استعمالوی -" 22

د سلیمان ماکو د "تذکرة الاولیا" په املا کښې د "خ" په حقله لیکی --

"د اوسنی لیک نه هم دغه هومره فرق لری چې د "خ" له توری

لاندې ې یو ټکے اینبے دے -" 23

www.pukhto.net

د محمد هوتک په "پټه خزانه" کښې د "څ" استعمال په دې شکل ښیی --

"د "څ" تورے په دغه شکل لیکی او دنورو په شان له "څ" نه د دوو

تورو کار نه اخلی -" (24)

دا د افغانستان د یو لوړ عالم تحقیق دے چې دا خبره پرې ثابته کړے ده چې په زړو قلمی نسخو کښې سیوا د پټې خزانې نه "څ" په موجوده شکل کښې نه دے استعمال شوے - او د پټې خزانې دا جدیدیت او انفرادیت هغوی په خپله خلقو ته په ګوته کړے دے - نه پوهیږم چې د پټې خزانې مدافع به له دې حقیقت نه هم انکار کوی او که نه -

د مرحوم الفت دا کتاب په وړومبی ځل په ۱۳۳۶ هجری شمسی کښې چاپ شوے دے، او تر ننه پورې پرې چا څه اعتراض نه دے کړے - او د هغوی له دغې رایې سره چا هم اختلاف نه دے بنکاره کړے - نو اوس که د پټې خزانې مدافع محترم همیش صاحب د هغوی دغه تحقیق هم نه منی او ورسره اختلاف کوی لکه څنګه چې د رشاد صاحب تحقیق رد کړے دے نو هیڅ ځای نه نیسی - او د محترم قلندر مومند صاحب دا خبره بیخی ټیک ثابتیږی چې ---

"پټه خزانه شاید اکی یو کتاب دے چې د ننني معیاری املا سره یا بالکل مطابق دے او یا په کښې ډیر خفیف فرق دے ځکه نو د ټول کتاب په بنیاد کم از کم دا املا تر حده دا دعوی په اسانه ثابتیدے شی چې "پټه خزانه" په جدیده معیاری املا کښې لیکلے شوے کتاب دے او جدیدې معیاری املا د دې کتاب د "اخری کاتب" محمد

www.pukhto.net

عباس کاسی تر وخته (یعنې ۱۳۰۳ هجری کښې) لا رواج نه وه بیاموندلے، حتیٰ چې د "خوشحال خان خټک مرغلرې" املا هم تر هغه حده معیاری نه ده تر کومه حده چې د پټې خزانې املا معیاری ده ـ او دا د پټې خزانې د جدیدیت د ثابتولو دپاره بنه کافی دلیل دے ـ" (25)

له دې نه علاوه په پټه خزانه کښې یو بل تورے "کښې" دے چې په دریوو مختلفو شکلونو استعمال شوے دے ـ چرته "کښ" چرته "کښې" او ډیرو ځایونو کښې "کی" په نظر راځی ـ او د "کښې" دا شکل یعنې "کی" ډیر یو جدید شکل دے چې نن هم په افغانستان کښې رواج لری ـ مرحوم گل باچا الفت په خپل کتاب "لیکوالی املاء او انشاء" کښې د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء، د میاں روښان د خیر البیان، د اخون درویزه د مخزن الاسلام، د ملا مست د سلوک الغزات، د هرزا خان انصاری د قلمی دیوان، د دولت د قلمی دیوان، د اخون قاسم د فوائد الشریعت، د خوشحال بابا، د عبد القادر خان خټک، د عبد الرحمان بابا د قلمی دیوان، د محمد هوتک د پټې خزانې، د احمد شاه بابا د دیوان، د راورټی د گلشن روه، د پښتو نخوا د شعر هار وبهار، لمړے کتاب د پښتو، پښتو مرکه، د منشی احمد جان املاء او د پښتو ادبی انجمن د املاء په حقله چې کوم معلومات ورکړی دی په هغې کښې په زړو کتابونو کښې د پښتو مرکې له خوا په ۱۳۰۲ هجری شمسی کښې چاپ شوے کتاب "پښتو پښویه"، لمړے کتاب د پښتو ۱۳۳۶ هجری شمسی چاپ او د پښتو ادبی انجمن له خوا په ۱۳۱۱ هجری شمسی کښې چاپ شوے "پښتو

www.pukhto.net

خبرې " د اسې کتابونه دی چې د اتورے په کښې په "کښې" او په "کی" لیکلے شوے دے ۔ خو یو د اسې زور قلمی کتاب نه دے ښیئلے شوے چې په هغې کښې "کښې" په دریو ۳ مختلفو شکلونو کښې لیکلی شوے وی ۔ سیوا له پټې خزانې نه چې په کښې د اتورے په درې مختلفو شکلونو کښې راغلے دے ۔ حالانکې څوک د اسې یوه زړه نسخه نه شی ښیئلے چې په یو دور کښې لیکلے شوے وی او یو توری په کښې په دریو ۳ مختلفو شکلونو کښې استعمال شوے وی ۔ په بره ذکر شوو ۳ تولو زړو نسخو کښې یا "کښې" او یا "کښې" استعمال شوے دے ۔ که د پښتو لمړی کتاب یا پښتو خبرې کښې د اتورے د "کی" په شکل راغلے دے نو هغه جدید کتابونه دی ۔ البته پټه خزانه چې د اتورے د دوو ۲ زړو شکلونو نه علاوه په جدید شکل کښې هم استعمالوی نو د اسې ښکاری چې د اپه ۱۳۰۳ هجری قمری کښې نه بلکې ډیره وروستو لیکلے شوے ده ۔

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص ۹۰۸
2. تول پارسنګ ص ۔ ۲۶،۲۵
3. پټه خزانه فی المیزان ص ۔ ۸
4. تول پارسنګ ص ۔ ۲۲،۲۱
5. هم دغه کتاب ص ۔ ۲۲

www.pukhto.net

6 د سعید دیوان ص ـ ش

7 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۷۲

8 تول پارسنگ ص ـ ۱۵۵

9 لیکوالی املاء او انشاء ص ـ ۲۰

10 هم دغه کتاب ص ـ ۲۰

11 هم دغه کتاب ص ـ ۲۱

12 هم دغه کتاب ص ـ ۲۲

13 هم دغه کتاب ص ـ ۲۴

14 هم دغه کتاب ص ـ ۲۴

15 هم دغه کتاب ص ـ ۲۵

16 هم دغه کتاب ص ـ ۲۶

17 هم دغه کتاب ص ـ ۲۷

18 هم دغه کتاب ص ـ ۲۸

19 هم دغه کتاب ص ـ ۲۹

20 هم دغه کتاب ص ـ ۲۹

21 هم دغه کتاب ص ـ ۳۰، ۳۱

22 هم دغه کتاب ص ـ ۳۱

23 هم دغه کتاب ص ـ ۱۸

24 هم دغه کتاب ص ـ ۲۶

25 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۶۹، ۱۷۰

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ

په پښ. خ انه فی المیزان" کښې د "ابتدائی معروضات" د عنوان لاندې ورو هو اعتراضونو نه علاوه یو اعتراض په "پته خزانه" کښې د "خان علیین مکان" په ترکیب هم شوے دے - محترم قلندر صاحب لیکی --

مـ په دې لړ کښې د "خان علیین مکان" ترکیب دے چې محمد هوتک ې د خوشحال بابا او میرویس خان بابا دپاره استعمالوی - دا غلط ترکیب زما د تحقیق مطابق پښتو کښې له ټولو نه اول افضل خان خټک په "تاریخ مرصع" کښې د خوشحال خان بابا دپاره استعمال کړے دے، (او د پټې خزانې د مراجع او مآخذ په ۳۵ نمبر بناغلی حبیبی د تاریخ مرصع د هغه انتخاب حواله ورکړے ده چې راورتی په "گلشن روه" کښې راوړے دے) - د عربی د گرامر مطابق صحیح ترکیب "خان علیون مکان" پکار وه ځکه چې قرآن کریم کښې "علیین" په مجرور حالت کښې راغلے دے - د عربی په یو قاموس کښې هم دا تورے په حالت رفع کښې "علیین" نه دے - افضل خان که غلطی وکړه نو تقاضائ بشری ده لیکن محمد هوتک دا

www.pukhto.net

غلطی څنګه وکړه ـ حال دا چې محمد هوتک "پټه خزانه" کښې نه دافضل خان ذکر کړے دے او نه ئې دهغه د تاریخ حواله ورکړے ده ـ بیا دا حسن اتفاق څنګه وشو چې کومه غلطی افضل خان کوی هغه دافضل خان او د هغه له کتاب نه د عدم واقفیت باوجود محمد هوتک هم کوی ـ او که د عربی له قواعدو نه د ناخبره څنې لیکونکیو په لیکونو کښې داستعمال په بنیاد دا فرض کړو چې د "خان علیین مکان" ترکیب صحیح هم دے، بیا هم ترڅو پورې چې دا ثابته نه شی چې خوشحال بابا په ټوله پښتو نخوا کښې د خپل مرګ نه پس په "خان علیین مکان" یادیدهٔ د محمد هوتک له خوا هغه په دې نوم یادوُل څنګه ممکن کیدے شی او خاص طور سره په داسې حال کښې چې محمد هوتک نه افضل خان سره ملاقات کړی وه او نه ئې تاریخ مرصع لوستلې وه ـ (تاریخ مرصع تر ۱۱۳۶ هجری پورې حالات ښیی او "پټه خزانه" د محمد هوتک دوینا مطابق یولس سوه یو څلویښتمه او دوه څلویښتمه هجری کښې لیکلے شوے ده) ـ نه عبد القادر خان په خپل دیوان کښې خپل پلار په دې نوم یاد کړے دے او نه ئې بل کوم معلوم کتاب کښې دا نوم راوړے دے او نه کوم لیکونکی ـ (دا یاد ساتل پکار دی چې "پټه خزانه" کښې

www.pukhto.net

د عبد القادر خان احوال راغلی دی) بیا نو د محمد هوتک
د معلوماتو ذریعه د راورتی د گلشن روه نه بغیر څه
کیدے شی؟ ❶

د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب "تول پارسنگ" کښې لیکی چې ---

در اصل "علیین" عربی لغت دے ۔ د دغه لغت په حقله د عربی ژبپوهانو او هم امام ابی عبد الله محمد بن احمد انصاری قرطبی په خپل تفسیر قرطبی کښې د دغه لغت متعلق لیکلی دی چې دا یوه مفرده کلمه ده چې جمع او تثنیه نه لری او هم دغه مفرده کلمه د جمع په صیغه را روانه ده ۔ په مذکر او مونث دواړو کښې په "نون" سره راځی ۔ دغه شان په تفسیر صاوی کښې د علیین د گرامر په باره کښې لیکلی دی چې علیین مجرور یا مضاف الیه واقع شی نو "علیین" وئیلے شی او که فاعل یا مبتدا واقع شی نو "علیون" وئیلے شی ۔ لکه چې د سورت المطففین په اوولسم آیت " كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ" کښې مجرور او په اتلسم آیت " وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ" کښې فاعل مبتدا واقع شوے دے ۔ اوس د ذکر شوی گرامر له مخه په " خان علیین مکان" او " حاجی میر خان علیین مکان" کښې مضاف الیه واقع شوے دے ځکه نو علیون

www.pukhto.net

غلط دے ۔ البته که په "خان" یا "حاجی میر خان" علیین
مقدم کړي شی نو بیا په دغه حال کښې علیون صحیح
دے ۔ لکه چې داسې ووئیل شی "د علیون خان" حکه چې
په دې صورت کښې علیون مبتدا واقع کیږی او د عربی
د ګرامر له مخه مبتدا همیشه مرفوع وی او مجرور نه
وی ۔ علیین له علو نه اخستل شوے دے او هر هغه شے
چې وچت وی علیین بلل کیږی ۔ او که په دې هم د پټی
خزانې له اصلیته د منکر تسلی ونه شی نو بیا هغه د
مرحوم دوست محمد خان کامل خبره چې "محمد هوتک
خو محض تذکره نګار دے نه چې د عربی ګرامر عالم" ۔
او بیا که په قول د معترض افضل خان دا غلطی وکړه نو
تقاضائ بشری وه خو لکه چې ددې په خیال محمد هوتک
د بشری حیثیت نه بالاتر وه ۔ (2)

د علیین او علیون او د همیش صاحب د دې خبرې په جواب کښې د
څه وئیلو نه اګاهو زه د هغوی په دې اقتباس کښې په شوو غلطیو یو نظر
اچول ضروری ګڼم ۔ محترم چې کله د تفسیر صاوی په حواله خبره کوی
(دلته دې دا خبره یاده وی چې په تفسیر صاوی کښې په علیین او علیون
بحث خو شوے دے لیکن دا خبره په کښې نه ده شوے) نو لیکی چې --

علیین چې مجرور یا مضاف الیه واقع شی نو علیین
وئیلے شی او که فاعل یا مبتدا واقع شی نو علیون

www.pukhto.net

وئیلے شی - (حواله اګاهو تیره شوې ده)

پکار وو چې د اسې لیکلے شوے وے چې "علیون کله مجرور یا مضاف الیه واقع شی نو علیین شی -" ځکه چې اصلی تورے علیون دے او شکل د هغۀ بدلیږی نه چې د علیین - علیین په خپله مجرور حالت کښې دے نو ځنګه به مجرور یا مضاف الیه واقع کیږی - دغسې هم په دغه بحث کښې بل ځایٔ د اسې لیکی چې --

البته کۀ په "خان" یا "حاجی میر خان" علیین مقدم کړې شی نو بیا په دغه حال کښې علیون صحیح دے" (حواله اګاهو تیره شوې ده) -

دلته یٔ بیا هغه چل کړے دے - لکه چې ما اګاهو عرض و کړو چې علیین بنیادی تورے نۀ دے او په بل حالت کښې نۀ واقع کیږی ځکه نو دلته هم د اسې لیکل پکار وۀ چې " البته کۀ په "خان" یا "حاجی میر خان" علیون مقدم کړې شی نو بیا په دغه حال کښې یٔ شکل نۀ بدلیږی - او هم علیون به وئیلے شی" -

په دغه اقتباس کښې محترم صاحب د تول پارسنګ د کامل مرحوم یوه خبره نقل کړے ده خو د حوالې ضرورت یٔ نۀ دے محسوس کړے - نۀ پوهیږم چې په دې کښې ځۀ راز وۀ - حالانکې په د اسې تنقیدی کتابونو کښې حوالې ضروری وی -

دغسې بله خبره همیش صاحب دا کړے ده---

چې کۀ افضل خان غلطی و کړه نو هغه تقاضائ بشری

www.pukhto.net

ده خو لکه چې د دۀ په خیال محمد هوتک د بشری
حیثیت نه بالاتر وۀ - (حواله وړاندې ذکر شوې ده)

د دې په جواب کښې زۀ دومره عرض لرم چې کۀ یو تن غلطی وکړی نو هغه به مونږ تقاضائ بشری ګڼو - خو کۀ هر کله له هغۀ نه پس ې دویم تن هم هغسی وکړی نو بیا هغې ته تقاضائ بشری نۀ شی وئیلے بلکې هغې ته نقل وئیلے شی -

باقی چې څومره پورې د " خان علیین مکان " د ترکیب تعلق دے نو په هغې چې څۀ قلندر صاحب وئیلی دی هغه ټیک دی - د عربی یو قاموس علیین لفظ نۀ دے اخستے بلکې په علیون کښې ې لیکلی وی چې دا لفظ کله مضاف الیه یا مجرور واقع شی نو بیا علیین وئیلے شی - دائرۀ المعارف اسلامیه چې د د انشګاه پنجاب له خوا چاپ شوے ده د علیون په حقله لیکی چې ---

دا لفظ په قرآن مجید کښې راغلے دے " و ما ادراک ما علیون (المطففین - ۱۹) " یعنې تاته څۀ پته ده چې څۀ دے علیون ؟ - عام طور له دې نه اووم اسمان مراد اخستے شی یا د اسې دفتر چې په کښې د نیکو خلقو نیک عملونه درج وی - او د دې آیت د تفسیر دپاره خصوصاً تفسیر " مواهب الرحمن " کتل پکار دی - دا لفظ د جمع سالم صیغه ګڼلے شی - او د اسې د جمع صیغه هم چې واحد نۀ لری - د بعضې مفسرینو په نزد دا د اهل جنت نوم

www.pukhto.net

دے۔ او که دا لفظ صیغه جمع سالم وګڼلے شي نو دا بیا د
انسانانو دپاره مختص دے او معنیٰ به ئې دا شی چې
ابرار او نیک خلق به د "عیون" په دله کښې شامل وی۔

(ترجمه) ❸

محومره پورې چې د "تول پارسنګ" د راوړی شوے حوالې تعلق
دے چې "علیین" مجرور یا مضاف الیه واقع شی نو بیا "علیین" ونیلے
شی بیخی سمه ده خو هغه چې د اسې وونیلے شی "چې علیون کله
مجرور یا مضاف الیه واقع شی نو "علیین" ونیلے شی ولیکلے شی۔ خو په
دې سره هم هغه خبره نه هوارېږی۔ او د کوم اعتراض د جواب ورکولو
ناکام کوشش چې په تول پارسنګ کښې شوے دے هغه لوستونکی نه قانع
کوی۔ خبره د "خان علیین مکان" او "حاجی میر خان علیین مکان" ده او په
هغې کښې د مضاف او مضاف الیه څه خبره نشته۔ بلکې د صفت او موصوف
خبره ده۔ "علیین مکان" صفت دے او "خان" او "حاجی میر خان" موصوف
دی۔ که چرې په یو قاموس یا تفسیر کښې د اسې لیکلے شوے حواله محترم
همیش صاحب پیش کړے وے چې "علیون" کله صفت راوړې شی نو بیا
علیین" ونیلے شی۔ نو ما به منلے وه او د قلندر صاحب خبرې ته به مې
غلطه ونیلے وه۔

بل په دغه نقل شوی اقتباس کښې یوه خبره هغوی دا هم کړے ده
چې --

البته که په "خان" یا "حاجی میر خان" علیین مقدم کړے

www.pukhto.net

شی نو بیا په دغه حال کښې "علیون" صحیح دے ـ لکه چې د اسې وونیل شی "د علیون خان" خکه چې په دې صورت کښې علیون مبتدا واقع کیږی او د عربی ړد ګرامر له مخه مبتدا همیشه مرفوع وی او مجرور نه وی ـ (حواله مخکښې ذکر شوې ده)

په دې اقتباس کښې دا خبره چې "مبتدا همیشه مرفوع وی" یو منلے شوے خبره ده ـ او څوک ترې انکار نه شی کولے ـ خو "د علیون خان" خو هم د صفت او موصوف خبره ده ـ "د" په کښې د اضافت تورے "علیون" صفت او "خان" په کښې موصوف دے ـ لکه چې همیش صاحب وئیلی دی چې که د علیون خان وونیلی شی نو بیا ټیک ده نو که داسې وی نو بیا خو خان علیین مکان هم دغه معنیٰ ورکوی یعنې د علیون خان د خان علیین مکان ترجمه ده ـ

دا بیله خبره ده چې نن سبا زمونږ په وطن کښې دے غلط ترکیب رواج مونده دے ـ هسې خو مونږ اکثر د علماؤ نه اوږو چې نیک بندګان به به په علیین کښې وی یا د هغه روح به اوس په علیین کښې وی نو په دې خبرو کښې علیین استعمالول ټیک دی خکه چې حرف جار ورسره راغلے دے ـ خو چې کله خوشحال خان علیین مدن وئیلے شی نو دغه خای کښې غلط دے ـ تر اوسه پورې زما صرف یو خ خوشحال خان علیون مکان د صدر خان خټک په مثنوی آدم خان درخانی کښې تر نظر شوے دے چې بناغلی نواز طائر په حاشیه کښې لیکلے دے ـ او بل د پښتو اکیډمی په مجله "

www.pukhto.net

پښتو خوشحال نمبر " کښې مرحوم عبد الحليم اثر صاحب هر څاې
"علیون مکان" لیکلې دے۔ نور هر چا د تاریخ مرصع په تقلید کښې دغه غلط
ترکیب پکارولے دے او چا هم پرې څه تحقیق نه دے کړے۔ نو که اوس
محترم قلندر مومند صاحب په دې غلط ترکیب اعتراض کوی نو پکار دی
چې وه منلے شی۔ خو متاسفانه زمونږ په وطن کښې څوک هم غلطی
منلو ته نه دی تیار۔ او لګیا دی بحثونه پرې کوی۔ ګنی د هغوی د اعتراض
په جواب کښې دومره وئیل کافی وو چې دا ترکیب غلط العام دے او بس۔
خو لکه چې په دې وینا د پټې خزانې استناد ته د نقصان رسیدو ویره وه،
څکه نو دغه خبره ې نه ده کړے۔ حالانکې محمد هوتک د نقل یا غلطیو
کولو نه مبرا نه وه۔

یوازې دا ترکیب نه بلکې زمونږ په وطن کښې دغسې یو بل د
عربی تورے هم شته دے چې دیر ښه او پوهه خلق ې غلط استعمالوی او هغه
تورے "ابابیل" دے د یو خاص مرغو دپاره ې پکاروی۔ حالانکې په قرآن
مجید کښې په سورة فیل کښې دا تورے "وَ اَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ"
راغلے دے او معنئ ې دا ده چې "راوې لیکل په دوئ باندې مارغان دلې
دلې۔" طیر په عربی کښې مرغی ته وائی۔ و ابابیل سیل یا دلې یا ټولګی ته
وئیلے شی۔ خو چې یو څل چا غلط استعمال کړے دے نو ورپسې چا
تحقیق نه دے کړے او په پټو ستر ګو ې منلے دے۔ تر دې پورې چې دا اردو
پښتو او فارسی اکثرو لغاتو هم په دغه غلطه معنئ کښې راخستے دے۔ اوس
که په دې توری یعنې ابابیل څوک بحث کو ې نو هغوی به هم د دغې

www.pukhto.net

اردو لغاتو حوالې ورکوی - او بنکاره خبره ده چې هغوی غلطه معنیٰ کړې ده - که د عربی په یو قاموس کښې هم دابابیل معنیٰ د یوې خاص قسمه مرغی شوے وی نو باید چې وه منلے شی - خو داسې یو قاموس نشته چې د ابابیل معنیٰ ې یوه خاص مرغی کړے وی -

د "علیین" ډ غلط استعمال نه علاوه محترم قلندر مومند صاحب په مخکښې نقل شوی اقتباس کښې یوه خبره داهم کړې ده چې ---

"که د عربی له قواعدو نه د ناخبره خنې لیکونکیو په لیکونو کښې د استعمال په بنیاد دا فرض کړو چې د "خان علیین مکان" د ترکیب صحیح هم دے، بیا هم ترڅو چې دا ثابته نه شی چې خوشحال بابا د مرګه پس په ټوله پښتونخوا کښې په "خان علیین مکان" یادیدة، د محمد هوتک له خوا هغه په دې نوم یادول څنګه ممکن کیدے شی -" (حواله اګاهو تیره شوې ده)

د دې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب هیڅ هم نه دی ونیلی او له دې نه چې لوستونکی هر څه مطلب اخلی دا د هغوی خوښه ده - او تر کومې چې د هغوی د دې خبرې مدلل جواب نه وی شوې نو مونږ مجبور یو چې د پټې خزانې خلاف د قلندر صاحب د نقطه نظر مرسته وکړو - لکه څنګه چې هغوی لیکلی دی دا غلط ترکیب د ټولو نه اګاهو افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې د خوشحال بابا د پاره استعمال کړې دے - د هغوی نه علاوه د خوشحال بابا په خامنو کښې یو تن هم خپل پلار په دغه نوم نه دے یاد کړې - او دا ترکیب د تاریخ مرصع نه پس په پښتونخوا کښې خور شوې

www.pukhto.net

دے ۔ په یولس سوه یو څلویښتمه هجری کښې د محمد هوتک له خوا هغه په دے نوم یادول هله ممکن کیدے شی چې محمد هوتک تاریخ مرصع کتلی وی ، او لکه چې څرګنده ده د محمد هوتک په ماخذونو کښې د تاریخ مرصع هیڅ ذکر نشته البته مرحوم حبیبی صاحب په تعلیقاتو کښې د تاریخ مرصع حوالې ورکړی دی ۔ نو لکه څنګه چې قلندر صاحب وئیلی دی " تر څو چې دا ثابته نه شی چې خوشحال بابا په یوه پښتو نخوا کښې د خپل مرګ نه پس په " خان علیین مکان " یادیدۀ ، د محمد هوتک له خوا هغه په دې نوم یادول څنګه ممکن کیدے شی او خاص طور سره په داسې حال کښې چې محمد هوتک نه افضل خان سره ملاقات کړے وۀ او نه ئې د هغۀ تاریخ مرصع لوستلې وۀ ۔ " (حواله مخکښې تیره شوې ده ۔)

Pukhto.Net
پښتو

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۱۴۱۳
2. تول پارسنګ ص ۔ ۳۶،۳۷،۳۸
3. دائرة المعارف اسلامیه جلد ۲ ۔ ۱۴ ص ۔ ۱۶۵
تفسیر صاوی اخری جلد
مثنوی آدم خان درخانی
پښتو مجله خوشحال نمبر

www.pukhto.net

سَآءَمَا يَحْكُمُونَ

د محمد هوتک په تذکره "پټه خزانه" کښې په صفحه ۲٤ د شیخ متی په ذکر کښې راغلی دی چې---

"نقل کا چې شیخ متی بابا، لوې زاهد او عابد او پر خاوند مټین سړے وٗ - د دۀ اولاد ولارل او په پیښور او بدنی میشته سول -" (1)

د دی په حقله محترم قلندر مومند صاحب په پټه خزانه فی المیزان کښې د "بدنی" په استعمال اعتراض کوی او لیکی ---

"چې په دې جمله کښې "بد نی" لفظ قابل غور دے - محمد هوتک دا نۀ وائی چې دۀ له کومه خایه دا معلومات حاصل کړی دی- خو هر کله چې د شیخ عیسیٰ مشوانی او سلطان بهلول لودی رحمهما الله په ذکر (ص ۷٤-۷۸) کښې دے د مخزن افغانی ذکر کوی او مخزن افغانی کښې یې دا لفظ "بد نی" لیکلے دے نو وټیلے شو چې محمد هوتک دا له دغه کتابه نقل کړے دے - کۀ د مخزن افغانی مصنف په فارسی کښې "بدنیۀ" نۀ شو لیکلے نو گرم نۀ وۀ ولې د حیرانتیا خبره دا ده چې هوتک پښتون وۀ بدنیۀ

www.pukhto.net

ولې په "بدنی" یاده کړے ده - بیا نعمت الله هروی که په پیښور او بدنی کښې فرق نه شو کولے نو هم ملامته نه دے خو پښتون هوتک ته چې "د پښتونخوا په لتو گرځیدلے وه (پته خزانه ص -٦) دا ولې معلومه نه وه چې بدنی د پیښور په نواح کښې یو کلے دے - او د دې کلی ذکر "او په پیښور او بدنی " نه بلکې "د پیښور په بدنی" په صورت کښې لیکل پکار وه۔ 2

د پته خزانه فی المیزان د څه برخې جواب محترم همیش صاحب په خپل کتاب " تول پارسنگ" کښې کړے دے۔ هغوی د دغې بره ذکر شوی اعتراض په جواب کښې په صفحه ۳۸ لیکی۔۔۔

"عرض دا دے چې دا معلومه نه ده چې دا لفظ مولف په خپله هم د"بدنی" په صورت لیکلے دے او که د کاتب نه سهوا شوے ده - بیا هم چونکې د مولف او کاتب دواړو دپاره دا د یو ډیر لرې خای نوم دے او دا قسمه مکانی نومونه هم له مولفینو او هم له کاتبانو اکثر غلطیږی او غلط شوی هم دی۔ ولې عجیبه خو دا ده چې هم د بدنی کلی یو وسیدونکی قاضی صفی الله په خپل پښتو چاپ شوی کتاب "سیف المبتدین" کښې دا نوم هم د محمد هوتک غوندې د "بدنی" په شکل لیکلے دے - اوس په داسې صورت کښې په محمد هوتک یا عباس کاسی چې

www.pukhto.net

دواړه د بدنی نه دیر لږ وړ دا الزام اخر څنګه وارد یدلے شی؟- ③

محترم همیش صاحب چې د پټې خزانې د دفاع دپاره کومه ورومبۍ حربه استعمال کړے ده هغه دا ده چې "دا معلومه نه ده چې دا لفظ مولف په خپله هم د "بدنی" په صورت کښې لیکلے دے او که د کاتب نه سهوا شوے ده" او دا حربه هغوی په خپل کتاب کښې اکثر پکار ولے ده او ټوله غوره په کاتب ور اړوی- خو زه به دومره عرض وکړم چې په پته خزانه کښې د "بدنی" لفظ دوه ځله په پښتو کښې او شپږ ځله په دری ژبه کښې راغلے دے، که چرې یو ځل راغلے وے نو بیا به لوستونکیو د هغوی دا عذر منلے وۀ - په پته خزانه کښې یو ځل د بدنی ذکر لکه چې ذکر وشو د شیخ متی په ذکر کښې راغلے دے (ص-۲۴) او په دویم ځل د بی بی نیک بختې په ذکر کښې په ص-۱۸۲ داسې راغلے دے۔۔

"په سن (۹۵۶) ې له بطنه غوث الزمان قطب دوران شیخ میا قاسم افغان په "بدنی" کښې پیدا شو" ④

دویمه حربه هغوی دا استعمال کړے ده چې "چونکې د مولف او کاتب دوارو دپاره دا دیو دیر لږ خاې نوم دے او دا قسمه مکانی نومونه هم له مولفینو او هم له کاتبانو اکثر غلطیږی او غلط شوی هم دی-"

د دې په جواب کښې به زه دا عرض وکړم چې اټک، اجمیر، اشنغر، اصفهان، بنوں، شکار پور، کوهاټ، لاهور، مستنګ، ملتان دا ټول نومونه په دغه تذکره کښې راغلی دی او ټول تیک لیکلی شوی دی نو آیا دا

www.pukhto.net

مکانی نو مونږ د مولف او کاتب نه لرې نه وو۔ او که مونږ د مولف او کاتب دا عذر ومنو نو محشی او مفسر محترم حبیبی صاحب په خپلو حاشیو او تعلیقاتو کښې ولې دا نوم لکه د محمد هوتک علیه الرحمة غلط لیکلے دے۔ حالانکې حبیبی مرحوم په پښتو نخوا کښې دیره موده پاتې شوے هم وه او د پاکستان په دیرو خایونو کې خیلے هم وه۔ هغوی د محمد هوتک سره په دې غلطی کښې برابر شریک معلومیږی۔ او هسې هم د دوو کسانو په یوه غلطی متفق کیدل دا نښې چې یو دبل نه نقل کړے دے، او بیا داسې دوه کسان چې یو په دولسمه صدی کښې تیر شوے وی او بل په څوارلسمه صدی کښې۔ خو هغه د قلندر مومند صاحب خبره چې۔۔

"د محمد هوتک او د هغې خزانې د محترم مرتب محشی مفسر او کاتب ترمینځه یو "ذهنی" تعلق وه۔

او که مونږ د محمد هوتک دغې کار ته تقاضای بشری ووایو نو د بناغلی حبیبی صاحب په اسما الاماکن تعلیقاتو او دری ترجمه کښې چې دا لفظ هم په دغه شکل یعنې بدنې راغلے دے۔ او د کابل کالنی ۱۳۲۲ هجری شمسی کښې چې د حبیبی مرحوم کومه مقاله د "پښتو نوم ورکی مورخین" په نامه چاپ شوے ده په هغې کښې هم هغوی د نعمت الله هروی په حواله لیکلی دی چې۔۔

"شیخ قاسم د شیخ عبدالقادر جیلانی له مریدانو څخه وه او د ۹۵۶ هجری کال په پسرلی د بدنی روډ په غاړه د پیښور مشرق ته وزیږیده۔"

www.pukhto.net

نو هغې ته به څه وایو - خو د دې مطلب دا دے چې حبیبی مرحوم دا نوم تیک ګنې او څکه پرې څه تبصره نه کوی - نو که نعمت الله هروی یې بدنی ولیکی خو فارسیبان دے خو د محمد هوتک علیه الرحمة او حبیبی مرحوم له خوا بدنی لیکل د غور ور خبره ده - او بیا خصوصاً حبیبی مرحوم چې په پیښور کښې دیر پاتې شوے هم دے · چې هغه یې لکه د فارسیبانو لیکی نو سړے حیران شی - او چې یو خل نعمت الله هروی د بدنی په حقله لیکلی دی چې " رودی است در شرق پشاور" نو هم هغسې حبیبی مرحوم د پټې خزانې په تعلیقاتو او په نومورې مقاله کښې هو بهو نقل کړے دی - حالانکې بدنی د پیښور نه په قطب ارخ بهیږی - او دا هغه څیز دے چې قلندر مومند صاحب یې په دې وینا مجبوره کړے دے چې د پټې خزانې د مولف، محشی او کاتب ترمینځه یو ذهنی تعلق وه -

محترم همیش لکه چې د دغې دوو حربو استعمالولو نه پس په دې پوې وه چې دغې سره به د هغوی همعصر (قلندر مومند) قانع نه شی نو دریمه حربه داسې استعمالوی -

" ولې عجیبه خو دا ده چې هم د بدنی کلی یو وسیدونکی قاضی صفی الله په خپل پښتو چاپ شوی کتاب " سیف المبتدین " کښې دا نوم هم د محمد هوتک غوندې د " بدنی" په شکل لیکلے دے - اوس په دا سې صورت کښې په محمد هوتک یا عباس کاسی چې دواړه د بدنی نه دیر لرې وو دا الزام اخر څنګه واردیدلے شی؟

www.pukhto.net

ددې په جواب کښې به زۀ دومره ووایم چې تراوسه په پښتو کښې
د اسې هیڅ یو کتاب نۀ دے چاپ شوے چې نوم ئې سیف المبتدین وی۔
محومره پورې چې د بدنیۀ د قاضی صفی الله صاحب د کتاب تعلق دے نو د
هغې نوم "سیف المبتدی" دے او په علم منطق لیکلے شوے او په کال ۱۳۸۱
هجری قمری کال کښې چاپ شوے دے او د ا وخت په مارکیټ کښې
موجود دے۔ په دغه کتاب کښې چرته هم د "بدنیۀ" په خائې "بدنی" نۀ دے
لیکلے شوے۔ دغه کتاب په زیړ کاغذ چاپ دے او په ټائټل ئې د اسې لیکل
شوی دی---

"شکر دے چې د بدنیۀ مشهوره ضابطه د منطق نامداره په
"سیف المبتدی" د حضرت علامه قاضی صفی الله صاحب
مرحوم د بدنیۀ په کتابت او کوشش د محمد گل رحیم
اسماری (فاضل دیوبند) باهتمام مکتبه اکرمیه محله
جنگی عقب قصه خوانی پشاور"۔ 8

او د ټائټل په شا چې محمد گل رحیم اسماری کومې خپلې خبرې
لیکلی دی په هغې کښې لیکی چې--

"زما مهربان قدیم مولانا فضل الرحیم صاحب فاضل دیوبند
عرف صاحب حق بوسته حالاً صدر المدرسین دارالعلوم
اسلامیه جمهوریه تخت بهائی مرد ان یو ځل جناب
قاضی حبیب الله صاحب د بدنیۀ ته عرض وکړو چې
ستاسو هغه د منطق ضابطه چې صرف ستاسو خاند انی

www.pukhto.net

شے دے زما د خوئ عبدالرحمان د پاره پکار ده۔" 9

په دغه کتاب کښې په محلورم خل "بدنې" تکے په ورومې صفحه "قاضي صفي الله صاحب مرحوم ساکن بدنې ضلع پيښور" په جمله کښې راغلے دے او په پينځم خل د کتاب په اخره کښې په صفحه ۵۲ داسې راغلے دے۔

"تصديق د تصحيح د حضرت قاضي صاحب مدظلهم"

نحمده و نصلي علىٰ رسوله الکريم پس له دينه ما په خواهش او په درخواست د مولانا صاحب محمد گل رحيم اسماري سره د سيف المبتدی سره د نورو ضوابطو د اول نه تر اخره پورې په غرض د تصحيح ملاحظه کړے بلکل صحيح دے۔ العبد قاضي حبيب الله بدنې بقلم خود ۲۰ ذي القعده ۱۳۸۱۔" 10

او په دې اخرې خل بدنې دارد و په "د" ليکلے شوے ده۔ او دا ټول د بدنې استعمال وة چې ما د سيف المبتدی نه د لوستونکيو په خدمت کښې پيش کړو۔ که چرې سيف المبتدين نومې کتاب وی او محوک ې مثال پيش کړی نو هغې سره به هغه وخت کتے شی۔ د محترم هميش صاحب بنټيلے سيف المبتدين هم د اسيف المبتدی دے خکه چې د دغې مصنف د دغې کتاب کوم چې هغه يادوی ما دير تحقيق وکړو خو پيدا مې نه کړو۔ البته د سيف المبتدی د دغې اقتباس نه کوم چې ما اګاهو ذکر کړو دا پته لګی چې له دې نه اګاهو يو ايډيشن چاپ شوے دے۔ او ذکر ې د قاضي صفي الله صاحب خوئ

www.pukhto.net

قاضی حبیب الله په دې الفاظو کړے دے ...

په سبب د تیریدود دیرې زمانې چې ما اکثرې نسخې د
ضابطې د طالبانو په لاس کښې ولیدې نو په دوی کښې
دیر تغییر تبدل او زیادت او نقصان واقع شوے وه نو ما
پس د تقاضا د دیرو دوستانو خاصکر د بار بار مطالبې د
مولوی محمد گل رحیم صاحب اسماری (فاضل دیوبند)
دپاره د عام کولو د فائدې د اصل صحیح نسخې د ضابطې د
چاپ کولو اراده وکړه او مولوی صاحب ته مې د چاپ
کولو اجازت ورکړو۔" (۱۱)

د دې اقتباس نه دا معلومیږی چې په ورومبی ایډیشن کښې غلطی وے او هغه د قاضی صفی الله صاحب خوئ رفع کړی دی۔ خو عجیبه منطق دا دے چې محترم همیش صاحب یو خوا خو د پټې خزانې د دفاع په هڅه کښې دغه غلطی په کاتب ورتپی خو بل پله په سیف المبتدی کښې د "بد نئ" صرف یو خل استعمال په دلیل کښې پیش کوی۔ په تحقیقی مقالو کښې د کتابونو حوالې سره د چاپ د کاله او صحیح ورکول پکار وی او د ایډیشن په حقله ئې لوستونکیو له معلومات ورکول هم د مقاله نگار ذمه واری ده۔ خو متاسفانه په تول پارسنگ کښې داسې نه دی شوی۔ او یو خل که د کتاب په متن کښې " سیف المبتدین " لیکلے شوے دے نو بیا په اخره کښې په کتابیاتو کښې په صفحه ۵۸ دوباره سیف المبتدین سره د دې وضاحته لیکلے شوے دے چې " د سر پانه نه لری۔" خکه نو په هیڅ یوه

www.pukhto.net

طریقه دا غوړه په کاتب نه ور اوړی۔

له دې نه علاوه محترم همیش صاحب یو څو مکانی نومونه پیش کړی دی چې هغه څنې کسانو د هغوی په خیال غلط لیکلی دی ۔ نو په هغې خو زهٔ څکه بحث نه کوم چې هغې ته محترم همیش صاحب پخپله غلط ونیلی دی نو پکار دی چې په هغې هغوی پخپله اعتراض وکړی ۔ البته په دغه یو څو نومونو کښې یو نوم داسې دے چې د بحث قابل دے ۔ محترم همیش صاحب په خپل دغه کتاب کښې لیکی چې ---

"بیا عبد الخالق خلیق مرحوم په خپل کتاب د "ازادیٔ جنګ" کښې "د ګنداو سړک" په ځاې "د ګنداب سړک" لیکلے دے ، اوس په دغه کهٔ څوک دا اعتراض وکړی چې دا نوم خلیق مرحوم دا اردو له کوم کتابه نقل کړے دے، څکه نو د ازادیٔ جنګ د کتاب دا حقیقت چې خلیق مرحوم لیکلے دے مشکوک دے ، اخر دا اعتراض به څومره خندنے وی او کوم د عقل خاوند به یې ومنی؟ (12)

ما خو دغه کتاب نه دے کتلے چې ایا هغه دغسې لیکلی دی او که نا لکه د سیف المبتدین غوندې خبره کوی ، بهر کیف په پته خزانه او د خلیق مرحوم په کتاب کښې دیر لوې فرق دے ۔ پته خزانه صرف یوه قلمی نسخه لری او چې په چا پورې منسوب شوے ده د هغه له مرګه دیر پس ته چاپ شوے ده ۔ د هغې برعکس د ازادیٔ جنګ د خلیق صاحب کتاب دے او د هغه په ژوند چاپ شوے دے ، په هغې هیڅوک هم شک نه کوی ، البته د

www.pukhto.net

انسان نه غلطی کیږی - که هغوی د ګنداو په خاې ګند اب لیکلی وی نو
مونږ ورته تقاضای بشری وئیلی شو - او که څوک پرې خامخا څه لیکل
غواړی نو دا به لیکی چې خلیق مرحوم له پکار وو چې د ګنداب په خاې
ګند او لیکلے وے خکه چې پښتانه ورته ګند او وائی - د پټې خزانې په
مقابله کښې د یو داسې کتاب چې هغه مصنف په خپل ژوند چاپ کړې وی
او په مودو مودو پرې چا څه اعتراض نه وی کړے په دلیل کښې پیش کول
څه دیره نا اشنا خبره ده - بل دا خبره دې یاده وی چې په دغې تذکره کښې
نورې دیرې خبرې دی چې د هغې په بنیاد هغه مشکو کیږی - د بدنی خبره
سرف دا ده چې نعمت الله هروی بدنی لیکلے ده بیا ورپسې محمد هوتک
چې پښتون هم وه په دغه شکل لیکلے ده - او بیا دیره عجیبه خبره پکښې دا
ده چې د پټې خزانې محشی او مفسر هم په دغه شکل لیکلے ده - نو د پټې
خزانې د مولف او محشی په یوه غلطی متفق کیدل د اسې دی چې د دغې
تذکرې صحت مشکو کوی -

بدنی هغه لفظ وه چې قلندر صاحب په کوته کړے وه او ما دتول
پارسنګ په جواب کښې په هغې څه خیرې وکړې - اوس زه هم د دغه
نوعیت یو بل کیس لوستونکیو ته وړاندې کوم چې په پته خزانه کښې
راغلے دے او هغه "اکوړه" دے - پته خزانه د خوشحال بابا په ذکر کښې
لیکی ---

" د خوشحال بیک کلے اکوړه نومیږی او هلته
ختکان پراته دی -" (13)

www.pukhto.net

او دا لفظ هم لکه زه بدنی په شان دے یو پښتون ورته اکوړه نه وائی
بلکې اکوړے ورته وائی - تاریخ مرصع کښې د دې خاې نوم دسلو نه هم
زیات واړې راغلی دے ولې چرته هم ورته اکوړه نه دے وئیلے شوے -
بلکې هر خاې ورته سرای وئیلی شوی دی - حالانکې تاریخ مرصع او پته
خزانه تقریباً دیو دور سره تعلق لری - او د خوشحال خان بابا دیو شعر نه هم
دا پته لګی چې هغه به هم ورته سرای وئیله شعر دا دے ---

رحمت په اکوړی شه چې ې خاې وئیو سرای

چې ښه فهمې وکړې باور وکړه خاې دے خاې

میاں سید رسول رسا مرحوم دارمغان خوشحال په مقدمه کښې د
خوشحال خان ختک د خاندان په حقله لیکی چې ---

" د خوشحال ختک د غور نیکه نوم اکوړے وو دے تری
ختک وو د ملک اکوړی په زمانه کښې هم د ختکو لویه
حصه په کوهات پرته وه - خو ملک اکوړے خپله د
کوهات نه راغلو او د اتک په خوا و شا کښې د هغې
بادشاهی لاړې په غاړه اباد شو کومه چې د اتک نه په
نوښار پیښور ته تلے ده - او اوس په جرنیلی سړک
یادیږی - د اسې معلومیږی چې په هغه زمانه کښې هم د
نوښار او اتک تر مینځه ختک اباد وو - او د دې ختکو
او هغه ختکو کوم چې د ملک اکوړی سره د کوهات نه
راغلی وو اکوړے مشر شو - ملک اکوړی د سرای په نوم

www.pukhto.net

د مغلو د بادشاهی سړک په غاړه یو کلے اباد کړو چې تر
ننه پورې اباد دے او د سرای اکوړی په نوم مشهور دے" [14]

او بیا د دغې نه پس ې دغه شعر ذکر کړے دے کوم چې ما بره نقل کړو ۔ دغه رنګ زمونږ په پښتو نخوا کښې دیر د اسې نومونه شته دے چې په پښتو کښې یو شان او په نورو ژبو کښې یعنې غیر پښتنو بل شان یاد کړی دی۔ لکه جهانګیرے، تور دیرے، نوښار، پیو، متنو، ځوکنو او د اسې نور او هم دغه نومونه چې غیر پښتانه یادوی نو جهانګیره، توردهیر، پیی، متنی، چمکنی وائی۔ لکه د پښتو نخوا د شعر هار و بهار کښې دار مستیتر په تشریحاتو کښې چې ترجمه ې پوهاند بهاو الدین مجروح کړے ده یو خای لیکی چې---

"میاں عمر د چمکنی" (یو کوچنی کلی چې د پیښور
طرف ته په پینځو میلو کښې پروت دے) او په پښتو
ورته ځوکنی هم وائی۔" [15]

اکوړی ته په هغه زمانه یعنې د محمد هوتک په زمانه کښې کم از کم اکوړه نه شو وئیلے او نه ورته په پښتو کښې اکوړه وئیلے شی ۔ لکه چې د تاریخ مرصع نه بنکاره ده۔ هغه وخت سرای بللې شو بیا وروستو سرای اکوړے شو۔ او تر ننه د اکوړی خلق خپل کلی ته سرای وائی۔ البته نن سبا د اردو زیر اثر د پښتو نخوا ځنې خلق کوم چې شاعران ادیبان نه دی هغوی اکوړه خټک لیکی او وائی چې ټیک نه دے۔ او بیا محمد هوتک چې پښتون هم وه او د پښتو نخوا په لتو د ګرځیدو شرف هم ورته حاصل وه چې هغه

www.pukhto.net

ې اکوړه لیکی نو د لوستونکی ذهن ته دوه خبرې راځی چې یا خو دا دروغ دی چې هغه د پښتونخوا په لتو کرخیدلے وۀ او یا ې بیا دا ټکے چرته دبلې ژبې نه اخستے دے۔ او د ټولو نه عجیبه خبره دا ده چې د پټې خزانې محشی، مرتب او مفسر پرې هم څۀ نۀ دی وئیلی۔ ګنی دا خو ې وئیلے شو چې په پښتو کښې ورته اکوړے وائی۔

د پښتونخوا د شعر هار و بهار کښې د محمود نومی یو شاعر چاربیته راغلے ده کومه چې د جمال ګړی د افضل خان هجو ده۔ د دغې چاربیتې دویم بند داسې دے۔۔

شاګرده چې میلمه په ستر ګو وویني له ورایه
استاذه ورته وائی راغلې له کوم خایه Sic
شاګرده په پوښتنه ې ابتر کړه سر تر پایه
استاذه نۀ ې ترس شی نۀ ې ویره شی له خدایه
شاګرده دې په اصل کښې راغلی دے له سرایه
استاذه نوم په دۀ نوی بدنام د نجف خان
شاګرده په جمال ګړی کښې شته دے افضل خان

16

یعنې په دې چاربیته کښې هم اکوړی ته سرائ ې وئیلے شوے ده او بیا هم د دغې کتاب په تشریحاتو کښې په صفحه ۵۵ سرائ ې ته لیکی۔۔۔

"سرائ ې ۔۔ اباسین ته نژدې د اټک لمر پریواتۀ خوا ته یو خائ ې دے چې د ختیکو له مهمو خایو څخه دے او د ختیکو

www.pukhto.net

د پلرونو نیکونو هدیره په کښې ده۔ (17)

د دار مستیتر په ذکر کښې باید چې دا خبره هم دلته ذکر کړم چې د هغوی په دغه کتاب کښې د تشریحاتو په برخه کښې دوه ځله اکوړے په صفحه ۱۲ او صفحه ۱۸ راغلے دے ۔ او یوه پیره اکوړه په صفحه ۱۱ لیکلے شوے دے۔ او د دوه ځله اکوړی په موجودګی ٔ کښې مونږ دا ونیلے شو چې دا به د کتابت غلطی وی ۔ بل دا چې محمد هوتک د خوشحال بابا ذکر د محمد رسول هوتک د بیاضه کړے دے او دا پته نه لګی چې دغه بیاض په کومه ژبه کښې وه ۔ او د پټې خزانې اکثر روایات دغسې دی چې ځه د "نقل کا" نه او ځه د "فلانی په خپل بیاض کښې کښلی دی" نه شروع کیږی او هیڅ قسمه وضاحت او ثبوت نه لری۔

د پټې خزانې نه علاوه دا لفظ "اکوړه" د محترم حبیبی مرحوم په یو بل کتاب کښې هم راغلے دے او دغه کتاب "پښتانه شعراء" لمړے ټوک دے چې د پښتو ټولنې کابل له خوا چاپ شوے دے ۔ په دغه کتاب کښې محترم حبیبی د خوشحال شهید په ذکر کښې لیکی چې---

"یو پارسو کتاب چې په ۱۱۶۶ هجری کښې د ختکو په اکوړه کښې لیکلے شوے دے په دې کتاب کښې د دې نوم ورکی شاعر یو ځو بیته لیکل شوی دی"۔ (18)

مطلب دا چې که محمد هوتک هر ځو پښتون وه خو بیا هم هغه لکه د فارسیبانو او یا نورو غیر پښتنو غوندې اکوړے په اکوړه لیکلے دے ۔ او بناغلی محشی محترم حبیبی مرحوم پرې څه حاشیه نه ده لیکلے ۔ نو

www.pukhto.net

اوس د دې بیلګې په موجودګۍ کښې څوک دا خبره هم نه شی کولے چې کیدے شی د هغوی ورته فکر شوے نه وی او یا د کاتب نه سهوا شوے وی۔ بلکې د دې بیلګې په موجودګۍ کښې هغه خبره سل په سل ټیک ثابتیږی کومه چې محترم قلندر صاحب بیا بیا کړے ده چې "د پټې خزانې د مولف او محشی تر مینځه یو ذهنی تعلق وه۔"

په دولسمه صدۍ کښې په پښتو کښې دا لفظ په دې شکل نه وه خو بیا هم محمد هوتک علیه الرحمة په خپله تذکره کښې استعمال کړے دے۔ او که مونږ د هغوی دغې غلطۍ ته تقاضائ بشری ووایو نو بیا په څوارلسمه صدۍ کښې محترم حبیبی مرحوم چې هم لکه د هغه اکوړه لیکلے دے هغې ته به څه وایو۔ گران لوستونکی چې له دې نه هر څه نتیجه اخلی داد هغوی خو بنه ده۔

بله خبره چې زه یې دلته هسې د ضمنۍ په طور نقل کوم هغه داده چې د خوشحال بابا په ذکر کښې دغه تذکره مونږ ته دا معلومات هم راکوی چې ---

"خوشحال بابا د مغلو په بند کښې وه او پښتانه ختکان ولاړل او هغه یې د بند نه راخلاص کړ او اورنګ زیب نه سو پرې خبر څو چې وطن ته راورسید"۔ (19)

او د دې هم څه ثبوت نه ورکوی۔ خیر په دې به په خپل ځای بحث کیږی خو چې په دې کښې کومه اهمه خبره ده نو هغه دا ده چې ما ته تراوسه دا پته نه وه چې په ختکو کښې سندیان ختک، پنجابیان ختک، او

www.pukhto.net

بلوچیان خټک هم شته خکه چې د خوشحال بابا د بنده د راخلاصولو دپاره صرف پښتانه خټک تللی وو لکه چې د پورته اقتباس نه بنکاره ده۔

حوالې

1. پته خزانه ص ۲٤
2. پته خزانه فی المیزان ص ۱٤او ۱۵
3. تول پارسنګ ص ۔ ۳۸
4. پته خزانه ص ۔ ۱۸۲
5. پته خزانه فی المیزان ص ۔۱۳۳
6. د حبیبی مرحوم مقاله "د پښتو نوم ورکی مورخین "د کابل کالنی ۱۳۲۲هجری شمسی ص ۔۱٤۹۔
7. تول پارسنګ ص ۔ ۳۸۔
8. سیف المبتدی پټانټل
9. سیف المبتدی د پټانټل شامخ
10. سیف المبتدی ص۔ ۵۲
11. سیف المبتدی ص ۔ ۱
12. تول پارسنګ ص ۔ ۳۹ ۔
13. پته خزانه ص ۔ ۸۰

www.pukhto.net

14 مقدمه ارمغان خوشحال ص ـ ۸

15 د پښتو نخواه د شعر هار و بهار ص ـ ۳

16 هم دغه کتاب ص ـ ۱۸۷ـ۱۸۸

17 هم دغه کتاب د تشریحاتو برخه ص ـ ۵۵

18 ادبی تحریکونه د ډاکټر راج ولی شاه ص ـ ۳۰۷ او ص ۲۷۶

19 پټه خزانه ص ـ ۸۰

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

اَفَلَا تَعقِلُونَ

په پټه خزانه کښې د پښتو نظم تقریباً ټول اصناف راجمع کړی شوی دی ۔ لکه غزل، رباعی، مرثیه، مثنوی، قصیده، بدله وغیره ۔ قلندر مومند صاحب په خپل کتاب کښې یو اعتراض په دې خبره هم کړے دے چې د بی بی حلیمې غزل ته محمد هوتک بدله و نیلے ده ۔ دوی لیکی چې--

"د دې نه پس چې کومه بدله د نمونې په طور راغلې ده هغه غزل دے ۔ د غزل دپاره د "بدلې" استعمال هم هغه روایت دے چې بناغلی حبیبی د خوشحال خان خټک مرغلرې کښې شروع کړے دے ۔" (1)

د دې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی --

"هر کله چې محمد هوتک خپله شاعر نه بلکې یو تذکره نګار وه که د غزل په تعریف دغه ناپوره اثر ته ې بدله و وئیله نو آخر کومه ګناه ې وکړه ؟ بیا هر کله چې په موجوده دور کښې هم محققین د بدلې په تعریف کښې یوه خلهٔ نه دی که په ۱۱۴۲ هجری کښې ورته محمد هوتک بدله و وئیله نو دې کښې داعتراض څهٔ خبره ده ؟ بیا هم که د بدلې څوک هر رنګه تعریف وکړی خو د دغه متفقه تعریف چې د عشق او محبت له محوره به چاپیره چورلی هم تر یوهٔ حده د بی بی حلیمې اثر د بدلې په تعریف کښې راځی ۔ عام طور بدله د خپل لفظی چوکاټ له مخه نه بلکې د خپل

www.pukhto.net

مخصوص آهنګ په وجه پیژندلے شی۔" (2)

د خوشحال خان خټک مرغلرې حبیبی صاحب په ۱۳۱۷ هجری شمسی کښې چاپ کړی دی۔ په دې کتاب کښې حبیبی مرحوم غزل ته بدله ونیلې ده۔ خو چې کله په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری کښې لیکلې شوې تذکره پته خزانه پیدا شوه او په ورومبی خل په ۱۳۲۳ هجری شمسی کښې چاپ شوه نو پته ولګیده چې محمد هوتک له حبیبی مرحوم نه اګاهو په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری کښې غزل ته بدله ونیلې ده۔ که چرې د خوشحال خان خټک مرغلرې دپټې خزانې د پیدا کیدو نه پس چاپ شوې وے نو مونږ دا ونیلی شو چې حبیبی مرحوم د محمد هوتک اتباع کړې ده ولې اوس په دې صورت کښې د دې خبرې هیڅ جواز نه جوړیږی۔ یعنې په څوارلسمه صدی کښې حبیبی صاحب مرحوم غزل ته بدله وونیله خو چې کله پته خزانه پیدا شوه نو پته ولګیده چې تقریباً دوه سوه کاله اګاهو محمد هوتک هم غزل ته بدله ونیله حال دا چې د حبیبی صاحب غزل ته د بدلې ونیلو په وخت د پټې خزانې نسخه پیدا شوې هم نه وه۔ پکار وه چې محترم همیش صاحب د دې حسن اتفاق په حقله څه خبره کړې وے خو هغوی په دې حقله څه نه دی ونیلی۔

محترم همیش صاحب په پورته نقل شوی اقتباس کښې دا خبره کړې ده "چې محمد هوتک خپله شاعر نه بلکې یو تذکره نګار وه که د غزل په تعریف دغه ناپوره اثر ته ې بدله وونیله نو اخر کومه کنده ې وکړه؟ (حواله اګاهو تیره شوې ده) نه پوهیږم چې همیش صاحب محمد هوتک ولې شاعر

www.pukhto.net

نه ګڼی یو خوا پرې سیمینارونه کیږی او کتابونه پرې لیکلی شی او بل خوا چې غلطی وکړی نو بیا محض تذکره نګار شی او د شاعری له قطاره ې هم وباسی - بنده حیران شی - محترم همیش صاحب په خپل دغه اقتباس کښې محمد هوتک شاعر نه محض یو تذکره نګار ګڼی حالانکې محمد هوتک د خپل خان په حقله لیکی ---

"زما راتګ دې نابودې دنیا ته یعنې تولد مې واقع سوے وۀ په ۱۳ د رجب المرجب سنه ۱۰۸٤ هجری په کوکران کښې، او سن ته د تمیز ورسیدم نو مې پلار درس راته شروع کا، او تر اتلسم کاله د عمر مې ولوستل احکام د دین او فقه او اصول او تفسیر او د فصاحت علوم لکه قافیه او عروض او بیان او معانی او نور، چې زما پلار مرحوم وفات سو، او زۀ په تقاضا د پادشاه ظل الله دامت سلطنه شاه حسین راغلم د قندهار بنار ته تر اوسه په نظر کیمیا اثر د پادشاه اسلام ښاد یم، او هر کله په احسان او مرحمت د دې خاندان عالیشان سر بلند یم، عمر مې تیریږی په لوستلو او کښلو د کتابو، له نعمتو د جهان بله بهره نۀ لرم، او زړۀ مې هم خوښی نۀ کا بې له دې اشغالو په بل څۀ، په دې اوقاتو د عمر چې مې تیر کړل یو څو کتابونه مې وکښل چې یو له دغو څخه دغه خزانه ده او نور دا دی یو کتاب مې کښلې دی په بیان د علوم او فصاحت چې خلاصة الفصاحة باله سی، او په دغه کتاب مې ټول علوم د فصاحت په پښتو د خپلو پښتنو طالبانو دپاره خلاصه کړل، بل

www.pukhto.net

کتاب مې کښلې دی په بیان د طبابت او علاج چې خلاصة الطب
ې نوم دے په سنه ۱۱۳۹ هجری چې مې دغه کتاب د پادشاه عالم پناه
مدظله مخ ته پیښ کا سل طلاوې ې ماته صله کا او هر کله داسې
مراحم د پادشاه د دې فقیر غریب په حق ډیر دی او ارکان د دولت
ابد مدت هم پر دې فقیر د مرحمت نظر کا، خاص بیا بهادر خان
عالی مکان چې ننۍ ورځ په قندهار د غرباوۍ پر سر ظل د رحمت
دے، خالق دې عمر ډیر کا۔ ما له یو دیوان د اشعار و هم سته چې په
دې وقت کښې مردف او مدون سوے دے او غزلونه او قصائد او
رباعی لری کله چې طبع قاصر میل د شعر او وینا کا، شعرونه
کاږم او موزونان د روزګارې خوښوی۔"

د محمد هوتک د دې بیان نه علاوه د هغه یو غزل هم په پته خزانه
کښې موجود دے خو معلومه نه ده چې محترم همیش صاحب ې د دې
باوجود شاعر ولې نه ګڼی۔ حالانکې د افغانستان ټول عالمان وروڼه محمد
هوتک یوازې شاعر نه بلکې یو بنه نثر لیکونکے هم ګڼی۔

مرحوم حبیبی صاحب د محمد هوتک په حقله په پته خزانه
کښې "نګاهی به نثر کتاب پته خزانه" د عنوان لاندې داسې تبصره کوی ---

"چهل سال از وفات خوشحال خان خٹک نه گزشته بود، که در قندهار یک نفر
نویسنده زبردست و مورخ دانشمندی بوجود آمد، که در نثر پشتو سبک بسیار شیرین
و دلچسپی را به میان کشید ---------- این نویسنده زبردست و مقتدر را می توان
استاد سبک نثر نگاری موجوده دانست ------- حقیقت این است که خوشحال

www.pukhto.net

خان برای از بین بردن سبک ناپسندیده خیرالبیان صرف مساعی فرمود، ولی نتوانست آن اغلاق و پیچیدگی ها را تماماً از بین برد، و خودش کمتر ک زیر اثر آن سبک رفت، ولی نویسنده مقتدر پټه خزانه درین جهد ادبی فیروز بر آمد، و آن اغلال و سلاسل را کاملاً از هم برید۔ (4)

ترجمه:۔ د خوشحال خان خټک د وفات لا څلویښت کاله نه وو شوی چې په قندهار کښې یو تن زبردست لیکونکے او دانشمند مورخ پیدا شو۔ چې د پښتو په نثر کښې ې یو ډیر زیات او خوږ سبک میدان ته راوکښو۔۔۔ دا زبردست او مقتدر لیکونکے باید چې د موجوده پښتو نثر نګاریږ د سبک استاذ وګڼلے شی ۔۔۔۔حقیقت دا دے چې خوشحال خان د خیر البیان د ناخوښه سبک له مینځه د لرې کولو کوشش وکړو چې هغه ګرانوالے او پیچیدګیږ ټولې له مینځه لرې کړی خو کامیاب نه شو ۔ او په خپله لږ څوندې د هغه سبک د اثر لاندې لاړو۔ خو د پټې خزانې مقتدر لیکونکے په خپل دې ادبی کوشش کښې کامیاب شو او هغه ټول طوقونه او زنځیرونه ې په کامله توګه غوڅ کړل۔

"د نازو انا یاد" کښې پوهنمل بریالے باجوړے د محمد هوتک په حقله لیکی ۔۔۔۔

"محمد هوتک د خپل وخت مروجه علوم لوستی وو د شعر او ادب سره اشنا وه، په عروضو، قافیه، بیان، معانی او د ادب په نورو څانګو کښې د مطالعې خاوند وه نو ځکه د شاه حسین د توجه وړ وګرځید او د پټې خزانې لیکلو ته ې وهڅاوه۔" (5)

www.pukhto.net

دغسې نور هم ډیر لیکونه شته او زهٔ یې پیش کولے شم چې د افغانستان عالمان محمد هوتک یواځې شاعر ادیب نه بلکې نقاد هم ګڼی - خو نه پوهیږم چې محترم همیش صاحب یې شاعر ولې نه ګڼی ؟

هم په دغه اقتباس کښې محترم همیش صاحب دویمه خبره دا کړې ده چې " که د بدلې څوک هر رنګه تعریف وکړی خو د دغه متفقه تعریف چې د عشق او محبت له محوره به چاپیره چورلی هم تر یوهٔ حده د بی بی حلیمې اثر د بدلې په تعریف کښې راځی " (حواله اګاهو تیره شوې ده -) نو اول خو د اسې نه ده او که خامخا یې هغوی د اسې ګڼی نو بیا زهٔ له پټې خزانې نه د ملا محمد حافظ بارکزی دا بدله پیش کوم چې د عشق او محبت له محوره هم چاپیره نهٔ چورلی او محمد هوتک او مرحوم حبیبی یې بدله هم ګڼی ---

کم بخته مهٔ کړه په دنیا دونګونه
که دې زړهٔ غواړی د جنت ګلونه
کم بخته مونږ یو میلمانهٔ په دنیا
وطن مو بل دے آخر څو په ربنتیا
هم به ښهٔ بد سی را معلوم په عقبا
نو له سرهٔ اور کیږ په امان خانونه
کم بخته مهٔ کوه حرام چې بد دی
چې کړی حرام هغه باطن کښې د د دی
اعمال یې تو له په عقبا کښې ر د دی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

په لویه ورځ به ټې وی تور مخونه

کم بخته مه کوه حرص قرار سه

ثنا درب کوه صبور په کار سه

تو بنه ددین ورځه په دې کاروبار سه

چې بې تو بنې نسی پیدا سودونه

کم بخته مه خه د حرام په لوری

خدای به و تاته په غضب و ګوری

که دې زړه غواړی بنانسته بنې حوري

بې ځایه مه ږده بې پروا پلونه

6

له دې نه علاوه دیرې داسې بدلې شته چې په هغې کښې تاریخی قیصې بیان شوی دی - یعنې دا ضروری نه ده چې بدله به د عشق او محبت له محوره چاپیره چورلی -

له دې نه علاوه محترم همیش صاحب لیکی چې ----

"د (بدلې) دا اعتراض د شیخ بستان بریځ او بی بی حلیمې په ضمن کښې شوے دے چې د اول الذکر په اشعارو د (شعر چې بدله ټې بولی) او بی بی حلیمې د شعرونو په حقله محمد هوتک (دغه یوه بدله ټې زما پلار ماته وویل) په شکل لیکلې ده - ولې دیره د افسوس خبره خو دا ده چې دا قسم سرخط د شیخ بستان بریځ په اشعارو خو وینی ولې د بی بی حلیمې په شعرونو چې غټ پټ غزل لیکلے دے د هغې له حقیقته ستر ګې پټوی-"

7

www.pukhto.net

محترم قلندر صاحب د شیخ بستان برېخ په بدله اعتراض نه دے کړے البته هلته ئې د پټې خزانې د محشی او مفسر د "بدلې" د تعریف سره اختلاف بنکاره کړے دے ۔ هغوی اعتراض په دې کړے دے چې د بی بی حلیمې غزل ته ئې په قول د همیش صاحب غټ پټ غزل لیکلے دے او سره د هغې هم محمد هوتک ورته بدله وئیلې ده ۔ د همیش صاحب معترض "دغټ پټ غزل لیکلو" له حقیقته سترګې نه دی پټې کړې ځکه خو ئې پرې اعتراض کړے دے ۔ بسوخت عقل ز حیرت ۔۔۔۔

محمد هوتک په خپله خزانه کښې د بی بی حلیمې په ذکر کښې لیکی ۔۔

" دغه یوه بدله ئې زما پلار ماته وویل چې په خزانه کښې داخلوم " (8)

او له دې نه پس چې بدله نقل کوی نو پرې د پاسه غټ پټ "غزل" لیکی ۔ داسې بنکاری چې د پټې خزانې مولف غزل او بدله یو څیز ګڼی بلکې د پټې خزانې مدون او محشی هم په کښې څه فرق نه محسوسوی ۔ ګنی پکار وو چې مدون او محشی د محمد هوتک په دې غلطی خامخا څه نوټ یا حاشیه لیکلے وے خو هغوی داسې نه دی کړی ۔ نو اوس په یوه غلطی د دوو تنو د متفق کیدو نه چې لوستونکی هر څه نتیجه اخلی دا د هغوی خو بنه ده ۔ د یونس د دیوان فوټو کاپی چې د کراچی په میوزیم کښې پرته ده او په ۱۳۲۰ هش کښې عبدالروف بینوا نقل کړې ده په هغې کښې په شپږ اتیایمه صفحه هغه غزل ته چې د یو شعر نه ئې د افغانستان عالمان د رحمان بابا د وفات کال رلوباسی داسې حاشیه لیکلې شوې ده ۔۔۔

www.pukhto.net

"دا بدله ې د رحمان بابا په مرثیه کښې وئیلې ده."

هم په دغه صفحه بل غزل چې مطلع ې داسې ده ---

سر مې شل خله تر تا دلبره خار شه

ولې هو مره در ته وایم چې مې یار شه

ته په حاشیه لیکی چې ---

"د دې بدلې په پاې کښې هم "ه" شته ۔" 9

یعنې غزلو ته د بدلې وئیلو روایت په افغانستان کښې د وخته نه موجود دے او هم دغه روایت محمد هوتک هم برقرار ساتلے دے۔

محترم همیش صاحب په دغه بحث کښې ورانديې لیکی ---

"دیره عجیبه خبره خو دا ده چې هم د بدلې د صنف په ذکر کښې د شیخ ملک یار بابا، ملا باز توخی، محمد گل مسعود، بهادر خان ملا محمد حافظ بارکزی، نصیر الدین خان اندړ او سید ال خان ناصر د بدلو د تکنیک سره خو متفق دے ولې د شیخ بستان بړیځ د بدلې په تکنیک اعتراض کوی حالانکې د شیخ بستان بړیځ بدله په تکنیکی لحاظ د بهادر خان د بدلې سره تر دیره حده یو والے لری۔" 10

زما په خیال محترم قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د شیخ بستان بړیځ د بدلې په تکنیک اعتراض نه دے کړے، بلکې د پټې خزانې د محشی له خوا د بدلې د شوې تعریف سره ې اتفاق نه دے کړے چې مخکښې هم ورته اشاره وشوه ۔ او د حلیمې غزل ته ې په بدله وئیلو اعتراض کړ۔

www.pukhto.net

دے او د خوشحال خان خټک د مرغلرې حواله ې ورکړې ده چې هلته هم غزل ته بدله ونیلې شوې ده ۔ دغسې د بابا هوتک شعر ونو ته محمد هوتک سندره او حبیبی مرحوم بدله ونیلې ده نو په هغې ې هم بحث کړے دے ۔ او چې په پټه خزانه کښې د بحر او وزن څه غلطۍ ې تر نظر ه شوی دی په هغې ې هم اعتراض کړے دے ۔ خو د شیخ بستان بړیځ د بدلې په تکنیک ې څه اعتراض نه دے کړے ۔

در حیرتم که باده فروش از کجا شنید

د افغانستان د حکومت له خوا چاپ شوی یو کتاب " شیخ بستان بړیځ " کښې یو لیکونکی چې نوم ې "ه" لیکلے دے "د شیخ بستان بړیځ بدله" تر عنوان لاندې په بدله یو وړ د بحث کړے دے ۔ دغه "ه" په اخره کښې لیکی چې ----

" محمد هوتک په خپل ارزښتمن کتاب پټه خزانه کښې د بدلې (اولسی تخلیقی شعر) او غزلې (دیوانی تقلیدی شعر) تر منځ فرق کړے دے ۔ د خوشحال ص ۔ ۳۵، رحمان بابا ص ۔ ۴۷، شیخ محمد صالح ص ۔ ۴۹، علی سرورر لودی ص ۔ ۵۱، شاه حسین هوتک ص ۔ ۵۷، یونس ص ۔ ۵۸، عبد القادر خان خټک ص ۔ ۶۲ الله یار اپریدی ص ۔ ۶۸) اشعار و ته ې د (غزل) سر لیکونه کښلی او هغه اشعار واقعاً غزلې دی، چې زمونږ ادب کښې د نورو ژبو د ادبیاتو په تقلید رواج شوی دی ۔ محمد هوتک غزلو ته بدلې نه دی ونیلی، او دا د ده په عمیق نظر او دقت او په موضوع کښې په

www.pukhto.net

هر اړخیز ورود دلالت کوی۔ دغه دول ګډون د پټې خزانې له پیدا کیدو او تر لاسه کیدو د مخه واقع شوی دی۔" (11)

بناغلے "ه" وائی چې محمد هوتک غزلو ته بدلې نه دی ویلی خو داسې نه ده ۔ اګاهو ما د پټې خزانې نه یوه خبره ګرانو لوستونکیو ته پیش کړه چې محمد هوتک غزل ته بدله ویلے ده ۔ دلته یې د بناغلی "ه" دپاره لږه په تفصیل پیش کوم ۔ په پته خزانه کښې د حلیمه حافظه په ذکر کښې محمد هوتک لیکی ---

" د حلیمې په اشعارو کښې مجازی عشق نه بنکاری بلکې ټول شعرونه یې د حقیقت پر لار دی، او د محبوب حقیقی صفت کا، دغه یوه بدله یې زما پلار ماته وویل چې په خزانه کښې داخلوم رحمة الله علیها۔" (12)

او له دغې نه پس یې دا غزل داسې پیش کړے دے چې پرې دپاسه "غزل" هم لیکلے شوے دے ---

داشنای په فکر خو بنه هسې شان شوم
نه پوهیږم چې ممتاز که نور جهان شوم
چې یې کړمه ستا په مینه سرفرازه
ثنا خوانه په ځو رنګه درحمان شوم
چې مجاز مې دایاز ولاړې له زړه نه
سر بلنده تر محمود غوندې سلطان شوم

www.pukhto.net

وهر چاوته چې ګورم واړه دې دے

د جمال په نندارو ې شادمان شوم

غیر فکر مې له زړۀ نه را بهر شو

پر خلیل و پر عدو باندې یکسان شوم

حلیمې د غماز مکر زیات له حد شو

چې دې بیل له یارہ نۀ کا په ګمان شوم 13

نۀ پوهیږم چې بناغلی "ه" پته خزانه لوستے نۀ ده او کۀ څۀ بله وجه ده - بناغلی "ه" پوره کوشش کړے دے چې د محمد هوتک دفاع وکړی خو ناکامه شوے دے - ګنی د پټې خزانې په دغه عالم فاضل مولف خو قلندر صاحب یو اعتراض دا هم کړے دے چې ---

"د عارفه، کامله بی بی نیک بخته په ذکر کښې چې محمد هوتک

د هغې کومه مثنوی رانقل کړې ده هغه داده ---

په زړۀ ښاد شے اے مومنه

په ظاهر په باطن سپینه

ظاهر زهد په اخلاص کړه

په زړۀ ټینګ شه له یقینه

شکر صبر په هر حال کړه

خودنمائی مۀ شه خودبینه

شب و روز به په ژړائې

کۀ خبر شے له سجینه

www.pukhto.net

سجين ځايې د خو دنمايه

دبې نمازو او بې دينه

د هغه ځايې امان راکی

يا اله العالمينه

د دې شعرونو عنوان محمد هوتک "مثنوی په نصيحت" کښې ورکړے دے۔ که د ا مثنوی وی نو د خلاصة الفصاحت د ليکونکی د مهارت او علم اندازه کول گران کار نه دے۔ خو له دې نه هم عجيبه خبره دا ده چې دا غلطی د پټې خزانې د مصحح او مدون له نظره څنگه پټه پاتې شوه او دا څه وجه ده چې کله دا سې غلطی شوې ده نو محمد هوتک او حبيبی مرحوم دواړو په شريکه کړې ده۔" 14

مطلب دا چې د پټې خزانې مولف او مدون دواړه مثنوی نه پيژنی - چې مثنوی څه وی؟ څکه نو که هغوی د بدلې په تعريف کښې تير ووځی نو دا څه بده خبره نه ده۔ دا خو قلندر صاحب هسې زورور دے۔

بناغلی "ه" د بدلې په دغه بحث کښې زمونږ په پښتونخوا کښې چې د بدلې چا چا او څومره تعريفونه کړی دی هغه ټول رد کړی دی۔ او د محمد هوتک او حبيبی مرحوم تعريفونه يې په تله پوره ختلی دی۔ څه به ښه وه که د دغې په ځايې د قلندر صاحب د دې اعتراض جواب کړے وے۔ چې محمد هوتک ولې مثنوی نه ده پيژندلے؟ او بيا د دغه کتاب مفسر،

www.pukhto.net

مشرح، مدون، او مترجم پرې ولې خاموش پاتې شوے دے؟

قلندر صاحب وړاندې اعتراض داسې کړے دے---

"د مثال په طور د رحمان بابا ذکر په هغو شاعرانو کښې کوی چې له دۀ پخوا تیر دی ولې د عبدالقادر خان ذکر خپلو معاصرینو سره کوی۔ د رحمان بابا تاریخ وفات ۱۱۱۸ هجری لیکی (حالانکې د هغۀ تر ۱۱۲۳ هجری پورې ژوند د گل خان جمال خان د قصیدې نه جوت دے) او عبد القادر خان تر تاریخ تحریر پورې ژوندے گنهی (حالانکې د عبد القادر خان د ژوند د ۱۱۲۵ هجری نه پس ته شهادت نشته) او خاص طور سره په داسې حال کښې چې دا هم وائی "ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان واستول او له پیښوره یې د رحمان بابا علیه الرحمة د دیوان نقلونه راوړل" کۀ د محمد هوتک دا خبره رښتیا وی نو دغو کاتبانو ته د رحمان بابا او عبد القادر خان خټک د وفات په حقله هیڅا هم څۀ ونۀ وئیل او کۀ نه دوی د دیوان د نقلونو راوړلو نه بغیر د بل څۀ نه منع کړے شوی وو۔" 15

دا اقتباس ما په یوه بله مقاله کښې چې د رحمان بابا د وفات سره تعلق لری، هم پیش کړے دے۔ دلته د عبد القادر خان خټک د ذکر دپاره دوباره پیش کړے شو۔ د دې اعتراض په جواب کښې هميش صاحب لیکی--

"بیا د عبد القادر خان خټک په حقله چې په پته خزانه کوم اعتراض شوے دے هغه دا دے چې محمد هوتک عبد القادر خان

www.pukhto.net

خټک تر تاریخ تحریر پورې ژوندے ګڼی حالانکې دا خبره سمه نه ده او محمد هوتک دا نه دی وئیلی چې ګنی عبد القادر خان یقیناً ژوندے دے په دغه حقله حقیقت دا دے۔

"اوس چی دغه کتاب تالیف کوم ما ته نه ده بنکاره چې دا خان به وفات سوی وی که نه؟ خو هسې ګڼم چی وفات سوے به وی پته خزانه ص۔ ۱۱۹" 16

محترم همیش صاحب وائی چې دا خبره سمه نه ده چې عبد القادر خان خټک د محمد هوتک تر تاریخ تحریر پورې ژوندے وه ۔ او په دلیل کښې ې له پټې خزانې نه د محمد هوتک یو اقتباس چې مخکښې نقل شو پیش کړے دے ۔ زه په دې حقله دومره وئیل غواړم چې د عبد القادر خان خټک ذکر په دوهمه خزانه کښې راغلے دے محمد هوتک مرحوم د دوهمې خزانې په حقله لیکی ۔۔۔

"په بیان د هغو شاعرانو چې زمونږ معاصرین دی۔" 17

مطلب دا چې عبد القادر خان محمد هوتک خپل معاصر ګڼی ۔ او ذکر ې په ژوندیو شاعرانو کښې کوی ۔ قلندر صاحب دغه خبره صرف په دې بنیاد کړے ده ۔ زه دا منم چې د عبد القادر خان په ذکر کښې هغه دا خبره یقیناً نه ده کړے چې عبد القادر خان ژوندے دے خو دا خبره ې هم یقیناً نه ده کړے چې ګنی مړ دے ځکه چې د هغه خپل عبارت چې څه لږ غوندې همیش صاحب پیش کړے وه داسې دے ۔۔۔

" ماته نه ده بنکاره چې دا خان به وفات سوی وی که نه؟ خو هسې

www.pukhto.net

ګڼم چې وفات سوی به وی۔ ځکه چې اوس یې چا د ژوند انهٔ
خبر نهٔ دې راکړے کهٔ به مړ وی خدایې دې وبخښی۔" 18

محمد هوتک چې عبد القادر خان خټک ته کومه دعا کړے ده نو هغه هم مشروط ده یعنې کهٔ چرې مړ وی الله پاک دې وبخښی۔ او کهٔ بیا هم هميش صاحب د خلاصة الفصاحت د مصنف له دغې بیان نه دا استنباط کوی نو بیا محمد هوتک دې اعتراض ته ځیلمه کیږی چې وفات شوے وهٔ نو ذکر یې په ورومبیر خزانه کښې ولې نهٔ دے شوے ۔ اصل خبره دا ده چې محمد هوتک شکی خبره کړے ده خو چونکې ذکر یې محمد هوتک په معاصرینو کښې کړے دے ځکه نو قلندر صاحب دغه خبره کړے ده۔ او یوازے دا نه قلندر صاحب په خپل دغه کتاب کښې یو بل ځایې دا هم لیکلی دی چې --

" چې هر کله محمد هوتک د خوشحال بابا د خوی عبد القادر خان خټک غوندې خان د مړ ژوندی نه خبر نهٔ دے نو د یونس د ژوند په حقله دې په قطعیت ځنګه خبره کولے شی۔" 19

یعنې قلندر صاحب هم د محمد هوتک له بیانه دا ګڼلے ده چې تذکره نګار موصوف د عبد القادر خان خټک د مړینې په حقله د تذبذب ښکار دے۔ نهٔ پوهیږم چې هميش صاحب ته دا خبره ولې سمه نهٔ ښکاری۔

د قلندر صاحب په پیش کړی شوی اقتباس کښې یوه خبره دا هم شوے ده چې کوم کاتبان د رحمان بابا د دیوان په نقلونو راوړلو پسې لیږلی شوی وو هغوی بغیر له دغې کار نه د نورو معلوماتو اخستو نه منع کړی شوی وو؟ د دې په جواب کښې محترم هميش صاحب لیکی ---

www.pukhto.net

"پاتې شوه د کاتبانو د لیږلو خبره ـ کاتبان خو ظل الله پادشاه جهان شاه حسین لیږلی وو او په محمد هوتک ې هیڅ اړه نه لرله او دا هم کیدے شی چې کاتبان د محمد هوتک د تذکرې له لیکلو خبر هم نه وو خو چې کله دغو کاتبانو د رحمان بابا د دیوان نقلونه راوړی وی نو محمد هوتک د دربار د یو واقعه نگار په حیث دا موضوع په خپل تالیف کښې لیکلے ده ـ" 20

عجیبه خبره ده یو خوا محمد هوتک د دربار واقعه نگار بنیې او بل خوا لیکی چې کاتبان خو بادشاه لیږلی وو په محمد هوتک ې هیڅ اړه نه لرله ـ او له تذکرې نه ې هم ناخبره وو ـ کوم تذکره نگار چې له دیرشو کالو راهسې د پښتنو شاعرانو احوال راغوندوی هغه د اسې زرینه موقعه څنګه ضائع کولے شی حال دا چې د کاتبانو د لیږلو په وخت په دربار کښې موجود هم وه ـ که کاتبان بادشاه هم لیږلی وو نو بادشاه هم یو شاعر سړے وه هغه ولې صرف د دیوان راوړلو حکم ورکړے دے پکار ده چې هغه تر ې د مرګ او ژوند په حقله هم معلومات غوښتے وے او دغسې د نورو هغو شاعرانو چې دغه وخت ژوندی وو ـ د پټې خزانې د یو راوی رحمت هوتک په حقله په یو ځاې کښې همیش صاحب لیکلی دی ـ

"البته دا خبره یادول پکار ده چې رحمت هوتک د پټې خزانې د موادو تر لاسه کولو په مهم پیښور ته نه وه راغلے ـ د رحمت هوتک د محمد یونس خان او محمد ګل مسعود دوارو سره ملاقاتونه اتفاقی وو ـ" 21

www.pukhto.net

نو چې کوم تن په دغې غرض نه وی راغلے هغه خو دې د دوو شاعرانو سره اتفاقی لیدل کتل کوی او د هغوی د شعر نمونې هم خپل تربور ته رسوی نو د هغه کاتبانو په حقله چې صرف د دیوان د نقل راوړلو دپاره استولے شوی وو له نورو معلوماتو حاصلولو نه ولې منع کړی شوی وو؟ باید چې د دې جواب وشی۔

د دیو اعتراضونو په جواب کښې همیش صاحب د تاریخ مرصع څنې حوالې پیش کړی دی چې په هغې کښې هم دغه دغه خامۍ دی۔ نو دغه خامۍ خو کامل مرحوم په خپله مقدمه کښې په ګوته کړی دی او افضل خان ې ګرم کړے هم دے۔ لوستونکی دې دا ونه ګڼی چې ګنی همیش صاحب په تاریخ مرصع کښې دغه غلطۍ راویستې دی۔ باقی لکه چې مخکښی هم دا خبره څو واره تکرار شوے ده تاریخ مرصع څه ترجمه ده او څه د څټکو حالات دی او څه د پښتنو اولیاؤ احوال دی۔ او یو ضخیم کتاب دے او بلا دیرې نسخې لری او خپلو پردیو ې ذکر کړے دے۔ د دې برعکس پته خزانه یوه محدوده تذکره ده او چا د دې ذکر نه دے کړے۔ ځکه نو د تاریخ مرصع سره ې موازنه کول پکار نه دی۔

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص۔ ۱۶
2. تول پارسنګ ص۔ ۴۲
3. پته خزانه دوهم چاپ ص۔ ۲۰۰

www.pukhto.net

4 هم دغه کتاب ص ـ ۲۶۷

5 د ناز و انا یاد ص ـ ۶۵

6 پته خزانه دوهم چاپ ص ـ ۱۵۸، ۱۶۰

7 تول پارسنګ ص ـ ۴۲

8 پته خزانه ص ـ ۱۸۰

9 د یونس د دیوان نقل ص ـ ۸۶ د کراچۍ د میوزیم

10 تول پارسنګ ص ـ ۴۳

11 شیخ بستان بریځ ص ـ ۱۲۱

12 پته خزانه دوهم چاپ ص ـ ۱۸۰

13 هم دغه کتاب ص ـ ۱۸۲

14 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۲۸۹، ۲۹۰

15 هم دغه کتاب ص ـ ۱۷

16 تول پارسنګ ص ـ ۴۵

17 پته خزانه ص ـ ۱۰۶

18 هم دغه کتاب ص ـ ۱۲۰

19 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۳۹

20 تول پارسنګ ص ـ ۴۶

21 هم دغه کتاب ص ـ ۱۹۵

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

إِنْ هٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ

په پټه خزانه فی المیزان کښې د ابتدائی معروضات د عنوان لاندې قلندر صاحب یوه خبره داهم کړې ده چې ---

"د کتاب په متن کښې د تاریخی غلطیو په حقله لکه چې ما اګاهو عرض کړې دے زهٔ دلته څهٔ وئیل نهٔ غواړم ولې دومره عرض ضروری ګڼم چې څنې د اسې خبرې چې هغه بالبداهت غلطې بنکاری د مولف د تسامح نتیجه نهٔ شی کیدے - د مثال په طور د رحمان بابا ذکر په هغو شاعرانو کښې کوی چې له دهٔ پخوا تیر دی - ولې د عبد القادر خان ذکر خپلو معاصرینو سره کوی - د رحمان بابا تاریخ وفات ۱۱۱۸ هجری لیکی (حالانکې د هغهٔ تر ۱۱۲۳ هجری پورې ژوند د ګل خان او جمال خان د قصیدې نه جوت دے) او عبد القادر خان تر تاریخ تحریر پورې ژوندے ګڼی (حالانکې د عبد القادر خان د ژوند د ۱۱۲۵ نه پس ته شهادت نشته) او خاص طور سره په داسې حال کښې چې داهم وائی " ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان واستول او له پیښوره یې د رحمان بابا علیه الرحمة د دیوان نقلونه راوړل" کهٔ د محمد هوتک

www.pukhto.net

دا خبره ربنتیا وی نو دغو کاتبانو ته د رحمان بابا او عبد القادر خان خټک د وفات په حقله هیڅا هم څه ونه وئیل او که نه دوئ د دیوان د نقلونو راوړلو نه بغیر د بل څه سوال نه منع کړی شوی وو۔" (1)

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب کښې لیکی چې ---

" حقیقت دا دے چې پته خزانه کښې د رحمان بابا د مړینې کال په هندسو کښې ۱۱۱۸ هجری لیکلې شوې دے هر کله چې تاریخ مرصع کښې د گل خان او جمال خان پیښه ۱۱۲۳ هجری په حروفو کښې لیکلې شوې ده خکه د پټې خزانې نیته غلطیږی خو اصل واقعات دا دی چې یونس خیبری په خپل دیوان کښې د رحمان بابا په حقله کومه مرثیه لیکلې ده د هغې د دغه شعر نه د رحمان بابا د مړینې کال ۱۱۲۸ هجری راوځی ۔ شعر دا دے --

له رحمانه فیض یاب عبد الرحمان شة

چه له دې سرایه په نوې سرائ میهمان شة

۲ + ۵ + ۳۰ + ۵ + ٤ + ۱۰ + ٦۰ + ۲۰۰ + ۱ + ۱۰ + ۵ + ۲ + ۵۰ + ٦ + ۱۰ + ٦۰

+ ۲۰۰ + ۱ + ۱۰ + ٤۰ + ۱۰ + ۵ + ٤۰ + ۱ + ۵۰ + ۳۰۰ + ۵ = ۱۱۲۸

خکه نو کیدلې شی چې محمد هوتک هم کال ۱۱۲۸ هجری لیکلی وی او کاتب لکه څنگه چې په خپله د نی استعجال تمام قلمی شد" لفظ استعجال غور طلب دے څه دا غالب امکان دے چې د

www.pukhto.net

محمد هوتک ۱۱۲۸ هجری کاتب د استعجال په وجه ۱۱۱۸ هجری لیکلی وی - که چرې دا نیټه په حروفو کښې لیکلې شوې وے نو بیا په دغه اعتراض غور کیدلې شو -" (2)

په پټه خزانه کښې د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری لیکلې شوې دے چې له هر چا نه اګاهو پرې محترم مشر کامل مرحوم په خپل کتاب " رحمان بابا" کښې اعتراض کړې دے - له هغې نه پس د افغانستان عالمانو د کاتب د باستعجال تمام قلمی شد عذر پیش کړو او دغه غلطی ې د معافی قابله وګڼله - بیا وروستو د افغانستان یو لوې عالم عبد الشکور رشاد صاحب د یونس د یو شعر نه د رحمان بابا د وفات د کال د راویستلو یو کوشش وکړو - بیا په "غږ ګه" (۱۹۸۵ عیسوی) کښې د حبیب الله رفیع یوه مقاله چاپ شوې چې په کښې دغه شعر پیش کړې شوې وۀ - محترم قلندر صاحب د هغې په جواب کښې په رحمان پوهنه کښې لیکی چې ---

" زمونږ د افغانستان وروڼه لیکونکی د رحمان بابا د وفات کال کښې د کتابت د غلطی له دغه ذکره پس د یونس له دیوانه د محترم رشاد صاحب په حواله د یونس له یوې مصرعې د ۱۱۲۸ هجری کال د رحمان بابا د وفات د کال په حیثیت استخراج کړې دے - د محترم عبد الشکور رشاد دغه ذکر شوې لیک زما له نظره نه دے تیر شوې څکه زۀ پرې د بحث کولو په پوزیشن کښې نۀ یم البته د غږ ګې په مقاله کښې چې له کومې مصرعې نه د ۱۱۲۸ هجری کال راوکښلې شوې دے هغه شمیر زما په حساب بالکل غلط دے او

www.pukhto.net

څکه زۀ نۀ شم ونیلې چې د پروفیسر رشاد غوندې عالم به داسې غلطی کړی وی - د غږ گې د مقالې مطابق د یونس د مصرعې --

چه له دې سرایه په نوې سرائ مهمان شۀ

نه "د ابجدی ارزښت" له رویه د ۱۱۲۸ هجری کال راووخی - دې ضمن کښې د هغوی حساب داسې دے --

چه	۸
له	۳۵
دی	۱٤
سرایه	۲۷٦
په	۷
نوی	۷٦
سرائ	۲۷۱
مهمان	۱۳٦
شۀ	۳۰۵

د دې ټولو میزان مقاله کښې ۱۱۲۸ هجری لګولې شوې دے حالانکې د صحیح حساب مطابق د دې میزان ۱۱۱۸ هجری دے څکه چې د شپږم ټکی "ابجدی ارزښت" ۷٦ نه بلکې (ن و ی ۵۰ جمع ٦ جمع ۱۰ یعنې ٦٦ دے - له دې مصرعې نه د ۱۱۱۸ هجری اعداد راوکښل هم د جدید رسم الخط له رویه ممکن دی څکه چې د یونس په زمانه کښې نه بلکې له هغۀ نه دیر پس د پښتو لیک دود

www.pukhto.net

د اسې نۀ وۀ لکه چې د یونس په دیوان کښې یا د غړګې په مقاله کښې استعمال شوې دے۔ اول خو دا خبره نظر انداز کول نۀ دی پکار چې د یونس دا مرثیه د "ش" په پټې کښې ده ځکه نو د مصرعې وروستے تورے "شۀ" نه بلکې "ش" دے په دې حساب ه تړې نور هم کم کړئ یعنې اوس به ئې میزان ۱۱۱۳ شی ۔" (3)

له دې نه پس قلندر صاحب د زړې املا مطابق د تاریخ ګویی دا یو ځو مثالونه هم پیش کړی دی چې ---

۱۔ خوشحال خان د خپل خوی طاهر خان د وفات کال "طاهر ومړ پشباب کښې" نه ۱۰۹۸ هجری راوکښے دے دا مصرعه کۀ د ننني املا سره سمه ولیکلے شی نو "طاهر ومړ په شباب کښې" په صورت کښې به ئې ابجدی ارزښت ۱۱۱۳ هجری شی او په دې شان به د اتنده مورخ دا هم وانی چې خوشحال بابا د خپل مرګ نه دیارلس کاله پس هم شاعری کوله۔

۲۔ خوشحال خان د خپلې رهایی تاریخ کښې چې د سید میر مور ته کوم کنځل کړی دی هغه مصرعه کۀ د موجوده املا مطابق ولیکو نو د رهایی تاریخ به ۱۰۹۶ هجری راووځی ځکه چې د "پکوز" په ځائې به "په کوزه" او د مصرعې اخر کښې به "ې" لیکو۔

۳۔ حافظ الملک حافظ رحمت خان په کال ۱۱۸۸ هجری کښې شهادت موندلے دے او د دوی د شهادت کال له "خانا دلِ راشا" نه

www.pukhto.net

ووځی خو کۀ دا الفاظ په موجوده املا کښې ولیکلے شی نو "
خانه دلې راشه" به تړې جوړ شی او د حافظ رحمت خان د شهادت
کال به ۱۲۰۶ هجری ته ورسی۔ 4

د یونس دغه مصرعه محترم همیش صاحب هم پیش کړې ده خو نۀ
یې د رشاد صاحب حواله ورکړې ده او نۀ یې د غړګې د مقالې په حواله خبره
کړې ده ۔ او د دغې مصرعې نه یې ۱۱۲۸ هجری کال تیک راوکښلې دے او
هغه داسې چې "مهمان" یې "میهمان" لیکلې دے ۔ املا د همیش صاحب د شعر
هم جدیده ده ۔ په دې حقله زما وړومبے عرض دا دے چې کۀ مونږ د
متقدمینو وئیلی تاریخونه په جدیده املا کښې لیکو او استخراج تړې کوو
نو زمونږ ټول زاړۀ تاریخونه به غلط شی ۔ لکه چې قلندر صاحب څنې
تاریخونه پیش کړی دی ۔ دویم دا چې لکه څنګه قلندر صاحب وئیلی دی
دا مرثیه د "ش" په پټې کښې ده نو ضروری خبره ده چې پینځۀ عدد به تړې
کمول پکار وی او چې دغسې وشی نو بیا تړې ۱۱۲۸ هجری کال نۀ راوځی ۔
دریم دا چې شاعر کله په شعر کښې تاریخ وئیل غواړی نو خامخا دا خبره
کوی چې دا یې تاریخ دے او څۀ نا څۀ اشاره ورته کوی ۔ خو یونس په ټوله
مرثیه کښې څۀ داسې اشاره نۀ ده کړې چې لوستونکی تړې دا اندازه
ولګوی چې کنی په دې مرثیه کښې تاریخ بیان شوې دے ۔ کۀ مونږ دغسې
کوو نو بیا د سر سید احمد خان د وفات نیټه ۱۸۹۸ عیسوی چا له دې قرآنی
آیت نه راویستې ده چې ---

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ اِنِّیْ مُتَوَفِّیْکَ وَ رَافِعُکَ

www.pukhto.net

د قرآن کریم آیت داسې دے---

وَ اِذْ قَالَ اللّٰہُ یٰعِیْسٰی اِنِّیْ مُتَوَفِّیْکَ وَ رَافِعُکَ اِلَیَّ - 5

نو څوک دا وئیلی شی چې د هغۀ د وفات تاریخ نعوذ بالله الله پاک وئیلې دے؟ افضل خان خټک د "علم خانه د انش" چې قلمی نسخه یې په پښتو اکیډمۍ کښې پرته ده د لیکلو تاریخ څۀ په دې دول وئیلې دے---

کۀ تاریخ یې له ما غواړئ راشئ واوړئ

کۀ یې وګورئ یو ګنج د پشتنو دے 6

د دې شعر د دویمې مصرعې نه ۱۱۴۲ هجری راوځی - اوس کۀ څوک دا ووائی چې افضل خان خټک د پټې خزانې د لیکلو کال وئیلې دے نو څوک به ورته څۀ ووائی - د متقدمینو دا قاعده وه چې په شعر کښې به یې صفا وئیل چې دا یې تاریخ دے او کۀ دا به نۀ وه نو څۀ نا څۀ اشاره به یې ضرور ورته کوله او یا به یې هغه ماده تاریخ ته لاندې کرښه راکښله - تر دې پورې چې فرهنګ عمید د ابجد کلمې د معنو کولو نه پس لیکی ----

" حساب ابجد در اشعار فارسی برائے ساختن ماده تاریخ بکار میرود و قاعده اش آنست که حروف کلمه یا مصراعی را که ماده تاریخ در آن گنجانیده شده تجزیه میکنند و اعدادی را که مخصوص آن حروف است زیر هم مینویسند و جمع میبندند از حاصل جمع آنها تاریخی که منظور شاعر بوده بدست می آید۔ 7

د مثال په طور خوشحال خان بابا چې کله د دستار نامې د لیکلو کال ښیی نو داسې وائی---

www.pukhto.net

کۀ تاریخ ئې دانشا له مانه غواړئ

8 وایم دا "بس دے محنت د بیلتانۀ"

دغسې عبد القادر خان خټک چې د "گلدستې" د لیکلو کال په شعر کښې بیانوی نو وائی ---

کۀ تاریخ ئې د آغاز دانجام غواړې

9 سن دهجر په شماره وۀ دغق دک

صدر خان خټک د دلی او شهی دلیکلو کال داسې بیانوی ---

ښۀ رنگ تم شوه سن ئې دا دے بی اشکاله

10 د شهی دلی قصه تمامه لاله

داسې نور هم ډیر تاریخونه شته چې په شعرونو کښې وئیلی شوی دی او هر یو شاعر په کښې څۀ نا څۀ اشاره کړې ده - ولې واحد د یونس دغه مرثیه ده چې په کښې د کال وئیلو خفیفه اشاره هم په نظر نۀ راځی - په دې خبره هم زمونږ مشران محققین متفق دی چې د یونس په دیوان کښې د معمو حل کونکے محمدی صاحبزاده دے - نو کۀ چرې یونس په دغه مرثیه کښې تاریخ وئیلی وۀ نو د محمدی صاحبزاده غوندې یو عالم او د هغه دور شاعر ولې دغه استخراج نۀ دې کړې - کۀ څوک دا خبره کوی چې له هغۀ نه هم څنې معمې بې د حل کولو نه پاتې دی نو هغه ټیک ده - چې څنې به هغۀ نۀ وی حل کړې خو څومره پورې چې د تاریخ تعلق دے نو د محمدی صاحبزاده غوندې عالم او شاعر نه دا توقع نۀ شی کیدے چې هغه به د یو شاعر د مرګ د کال وئیلی تاریخ نظر انداز کړې وی - بل د یونس له دغه شعر

www.pukhto.net

نه چې د همیش صاحب غوندې یو عالم بنده چې د زور پښتو ادب نه بنهٔ خبر دے او د زور رسم الخط نه هم اګاه دے د رحمان بابا د وفات کال راوباسی نو بنده ورته حیران شی - ځکه چې محترم همیش صاحب په خپله لیکی --

"د دیوان بیدل په پیش لفظ کښې ما د دیوان سعید د قلمی نسخې د لیک دود په حقله چې د کوم مفصل بحث په باب کښې وئیلی وو غواړم چې دلته ئې د لوستونکو په خدمت کښې عرض کړم - د دیوان سعید د قلمی نسخې نه معلومیږی چې نن نه تقریباً دوه سوه کاله وړومبے "ه" چې اوسنی لیک دود کښې د کلمې د اخری توری (حرف) د "زبر" او "زیر" په ځائې استعمالیږی هغه زمانه کښې د دغه غیر ملفوظی "ه ګانو" یعنې "ه" استعمال قطعاً نهٔ وهٔ "

(11)

دا د همیش صاحب خپل بیان دے چې د نن نه دوه سوه کاله پخوا د توری اخر ته راتلونکے "ه" قطعاً نهٔ شوه لیکلې - د یونس دغه شعر تقریباً دوه نیم سوه کاله اګاهو وئیلې شوې دے خو همیش صاحب ترې نن د جدید رسم الخط مطابق تاریخ رایستل غواړی - مطلب دا چې هغوی دا خبره منلې ده چې دوه سوه کاله اګاهو دا "ه" قطعاً نهٔ شوه لیکلې خو اوس چې د پټې خزانې دفاع کوی نو د خپلې هغې خبرې نه هم ګرځی کومه چې ئې په کال نولس سوه اتهٔ پنځوسم کښې کړې وه - نهٔ پوهیږم چې زمونږ ګران لوستونکی به له دې نه څهٔ نتیجه اخلی؟

د یونس دیوان صرف افغانستان کښې چاپ شوې دے او یوه قلمی

www.pukhto.net

نسخه لری د کومې متعلق چې محترم عبد الله خدمتګار د یونس د دیوان په مقدمه کښې وائی ---

"دا هغه دیوان دے چې د احمد شاه بابا د سلطنت په زمانه په ۱۱۷۶ هجری قمری کال په پیښور کښې د اشنغر د فیض طلب خان په فرمائش د پیښوری زین الدین په قلم لیکل شوے دے ۔ سمدستی د یونس د دیوان دغه قلمی نسخه په ټوله نړۍ کښې یوازینۍ (منحصر په فرد) نسخه ده چې د افغانستان د جمهوری ارګ د کتابخانې تر ۱۲۷-۲۱۷۶ لمبر لاندې ساتل کیږی ۔" 12

له دې نه پس محترم عبد الله خدمتګار بختانی لیکی چې ---

" په کلید افغانی کښې د یونس د چاپ شویو شعرونو او د ارګ د کتاب خانې د ذکر شوی قلمی دیوان له مخه پوهاند عبد الحئ حبیبی د یونس پیژندنه لیکلې ده او د شعرونو نمونې ې وړاندې کړی دی چې په ۱۳۲۰ هش کال په پښتانۀ شعراء لومړی ټوک کښې تر ۴۲ لمبر لاندې چاپ شوی دی ۔" 13

په دغه یوه قلمی نسخه کښې د یونس دغه زیر بحث مرثیه د "ش" په پټۍ کښې راغلې ده ۔ او د عبد الله خدمتګار له خوا په چاپ شوی دیوان کښې دغه مرثیه د "ش" په پټۍ کښې راخستې شوې ده خو ردیف ې "شۀ" دے ځکه نو د افغانستان د عالمانو له خوا د دغې چاپی دیوان له مصرعې نه د وفات د کال استخراج بیخی غلط دے ۔ او هم دغه شعر چې د رحمان بابا د وفات کال ترې راویستلې شی محترم عبد الله خدمتګار په مقدمه کښې د "

www.pukhto.net

شو" په ردیف سره لیکلې دے۔ نو تر څو چې دا شعر په زړه املا کښې نۀ وی لیکلې شوې له دې شعره استخراج کول هسې کار دے۔

د محترم عبدالشکور رشاد صاحب دغه لیک مانۀ دی لوستې چې هغوی په کښې دغه استخراج کړې دے۔ خو چې بناغلی حبیب الله رفیع ېې په غړګه کښې حواله ورکړې ده نو ضروری ګڼم چې څۀ خبره پرې وکړم۔ د ناز و انا یاد کښې د رشاد صاحب یوه مقاله د "یونس د یوې معما حل" چاپ شوې ده ۔ نوري خبرې به پرې د یونس د دیوان په شهادت کښې کولې شی دلته صرف د هغوی د دغې مقالې نه یو اقتباس پیش کوم ۔ رشاد صاحب لیکی چې ---

" دا بیت یوه معما ده او له معمو له سره سم هیڅ ناسخ حق نۀ لری چې په معما کښې لاس ووهی او د خپل وخت له لیک دو د سره ېې سمه کړی"۔ (14)

محترم رشاد صاحب ډیره د کار خبره کړې ده خو اے کاش چې په خپله ېې هم پرې عمل کړې وے څکه چې د یونس د دیوان په قلمی نسخه کښې په دغه شعر کښې د "ش" نه پس "ه" نشته ۔ نو محترم رشاد صاحب چې د یونس د کوم شعر نه دغه کال راوکښلې دے نه هغې کښې هم لاس وهنه شوې ده خو چونکې هلته ېې دغه لاس وهنه د مفادو خلاف تلله څکه نو هلته ورته په نظر نۀ ده راغلې ۔ د کراچۍ په میوزیم کښې هم د دغې نسخې په نقل کښې چې عبدالرؤف بینوا نقل کړې ده د دغې غزل ردیف "ش" دے او ورته په حاشیه داسې لیکل شوی دی ---

www.pukhto.net

"د دې غزلې پاې هم "ه" یا "واو" غواړی ۔" (15)

مطلب دا چې په ۱۳۲۰ هش کښې بناغلی عبد الرؤف بینوا مرحوم د یونس غزل کښې د "ه" یا "واو" ضرورت محسوس کړې وه خکه ې په حاشیه دغه نوټ ورکړې وه ۔ ولې دغه ضرورت یونس نه وه محسوس کړې خکه چې په هغه زمانه کښې هم دغه عام املا او قاعده وه ۔ نو که چرې یونس د رحمان بابا تاریخ وئیلی وی نو بیا به ې په دغه املا کښې وئیلی وی چې ردیف کښې به ې "ه" نه وی او چې دغسې شی نو بیا تر ۱۱۲۸ هجری کال نه راوړخی ۔

تر اوسه پورې د یونس د دویم قلمی دیوان متعلق نه په افغانستان کښې چا انکشاف کړې دے او نه زمونږ په وطن کښې چا د یونس د قلمی دیوان په حقله څه وئیلی دی ۔ ولې محترم حبیبی مرحوم په پښتانه شعراء کښې چې کله د یونس حال بیانوی نو د داسې یوې نسخې ذکر کوی چې هغه د فیض طلب خان توپچی باشی په امر په ۱۱۷۶ هجری کښې لیکلې شوې ده ۔ د یونس یوه قلمی نسخه چې پیدا شوې او افغانستان کښې چاپ شوې ده د فیض طلب خان په امر په ۱۱۷۶ هجری کښې لیکلې شوې ده ۔ صرف دومره فرق لری چې د حبیبی صاحب نسخه توپچی باشی لاحقه لری ۔ او د حبیبی مرحوم د دغې خبرې تردید خدمتګار صاحب د یونس د دیوان په مقدمه کښې کړې دے او ما تاسو ته پیش کړو ۔ له دغې نه علاوه محترم رشاد صاحب د "ناز و انا یاد" کښې د توپچی باشی خبره بیخی غلطه ثابته کړې ده او ما ې په خپله یوه مقاله کښې ذکر کړې دے ۔ د دغې دوو تردیدونو

www.pukhto.net

باوجود محترم همیش صاحب په تول پارسنګ کښې چې ما پرې یو بل ځای کښې هم بحث کړې دے لیکی چې ----

"د ا خبره قطعاً غلطه ده چې حبیبی صاحب په کال ۱۳۲۰ هش (دپښتانۀ شعراء لومړی ټوک د اشاعت کال) کښې د یونس د دیوان قلمی نسخه لیدلې وه - پښتانۀ شعراء کښې هغوی لیکی چې "د یونس د دیوان یوه نسخه خورا په ښۀ خط مطالا لیدلې شوې ده چې په پیښور کښې د فیض طلب خان توپچی باشی په امر په ۱۱۷٦ کال زین الدین نومې کاتب لیکلې ده -" اقتباس کښې "لیدلې شوې ده" او "توپچی باشی" الفاظ د توجه وړ دی - د وړومبیو الفاظو معلومیږی چې د یونس د دیوان قلمی نسخه محترم حبیبی صاحب په خپله نۀ وه لیدلې - او توپچی باشی له الفاظو څرګندیږی چې د ا هغه نسخه نۀ ده کومه چې عبد الله خدمتګار په ۱۳۵٦ هش کښې د یونس دیوان په نامه چاپ کړې ده ځکه چې چاپ شوې نسخه د توپچی باشی الفاظ نۀ لری - او د ا توپیر د یونس د دیوان د دوه قلمی نسخو امکان په ګوته کوی -" (16)

د دواړو محترمو لیکونکیو یعنې عبد الله خدمتګار او محترم همیش صاحب اقتباسات ما لوستونکیو ته وړاندې کړل - انصاف دې هغوی وکړی چې د چا خبره صحیح کیدے شی - زما خپل خیال کښې د عبد الله خدمتګار صاحب خبره ټیک ده ځکه چې حبیبی مرحوم او خدمتګار دواړه د افغانستان سره تعلق لرونکی دی - او همیش صاحب د لرې

www.pukhto.net

پښتونخوا وسیدونکے دے نو د منطق له رویه مونږ مجبور یو چې د حبیبی صاحب د وطنوال یعني عبد الله خدمتګار صاحب خبره وکړه منو - او که دغه نه هم وی نو د عبد الله خدمتګار صاحب خبره بیا هم وزن لری ځکه چې د ۱۳۵۶ هش نه را په دې خوا چا هم دهغه د دې خبرې تردید نه دې کړې - او حبیبی مرحوم د ثور په شلمه نیټه کال ۱۳۶۳ هش کښې وفات شوې دے - یعني د یونس د دیوان د چاپ کیدو نه تقریباً اووه کاله پس ته وفات شوې دے او په دغه موده کښې هغوی ضروری نه ده ګڼلې چې د خدمتګار صاحب د دغې خبرې تردید وکړی -

محترم همیش صاحب په خپل کتاب کښې د "یونس د دیوان شهادت" کښې د یونس د یو قلمی دیوان چې د کراچۍ په میوزیم کښې پروت دے او دیوان یونس خیبرے پرې لیکلې شوې دے حواله ورکړې ده - د یونس دا دیوان هم د هغه قلمی دیوان فوټو کاپی ده کوم چې په افغانستان کښې د عبد الله خدمتګار د مقدمې او حاشیو سره چاپ شوې دے - ځکه چې ترقیمه یې هم په دې دول ده ---

"بحسب فرمائش مرشد کونین مربی دارین پیشوائے سالکان طریقت رہنمائے گمرہان شریعت خان صاحب بلند اقبال فیض طلب خان ساکن ہشتنگر طال عمرہ کتاب میمونۃ المسمی دیوان یونس از قلم شکستہ رقم فقیر زین الدین غفر اللہ ولوالدیہ واحسن الیما والیہ صورت تحریر یافت مطابق ۱۱۷۶

الٰہی بیامرز سہ بندہ را

نویسندہ را خوانندہ را بینندہ را

www.pukhto.net

دا کتاب له یوې مطلا نسخې څخه چې زلمی ټولواک اعلیٰ حضرت محمد ظاهر شاه و پښتو ټولنې ته د نقل دپاره مرحمت کړی و نقل شو اونن مې تمام کی - سه شنبه ۲۳ د ثور ۱۳۲۰ - (عبدالروف بینوا) 17

د یونس او د خیبر متعلق به زه په خپل ځای خبره کوم دلته صرف د هغه شعر په حواله د کراچی د میوزیم د قلمی نسخې په حقله څه وئیل غواړم - په دغه دیوان کښې دغه مرثیه د "ش" په پټی د کښې راغلې ده او مهمان په کښې میهمان نه دې لیکلې شوې - زه ې فوټو کاپی گرانو لوستونکیو ته وړاندې کوم فیصله دې هغوی وکړی۔

۱۶ انجمن د بلبو یار انو نو بهار رو جدائی ورباندی پیړو کا خزان شی

چه په هر قدر کښې د رونه د د ریاب وو اوښکې صدف ې هغو د رو گوهر کښې ارښې

چه په شرق د څنائی ملکه نمر وخوت په مغرب ې جدائی کړ بن نهان شی

د اچه باد د جدائی به چې هانگړی د نگموت قلف به ې څرنگ لیږی کیږی

له ارحمانه فیض یاب عبدالرحمان شی (۱) چه له دې گرامیه به نوی سرای مهمان شی

مرگ سکینې د بلبو خبرو هکی شوم کا چه ې یو کلام زړه نه کیږی پرگران شی

چه پملک ې ې نام د نیکو شوم نه د ی څه شوداکر چې کتاب د مرد مانش

په پښتو مشهوره ې هکی نامه یو د ه چه څیږی په اشعار ایرانی تورانش

پر لذت مشو به څوک کا ندی یو ځ چه په مرگ څینې خاموش عبدالرحمانش

www.pukhto.net

محترم همیش صاحب په پته خزانه کښې د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری د کاتب غلطی ګڼلې ده او اصل تاریخ ئې د یونس دغه شعر ګڼلې دے۔ زهٔ د هغوی په جواب کښې د محترم قلندر مومند صاحب دیوې مقالې "د رحمان بابا د پیدائش او وفات کلونه" چې په "رحمان پوهنه" کښې چاپ شوې ده نه یو اقتباس پیش کوم---

""پته خزانه د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری بیانوی او زمونږ د افغانستان ورونه وائی چې دا د کاتب تیروتنه ده چې د ۱۱۲۸ هجری په ځائې ئې ۱۱۱۸ هجری لیکلې دے او دا تیروتنه د دستاویز داخرنی کاتب "محمد عباس کاسی" د "باستعجال تمام قلمی شد" (په دیره بیړه ولیکلې شو) په الفاظو د درګزر قابله ګڼی۔ زما محترم لوستونکی له هغې رائې واقف دی چې زهٔ ئې د پټې خزانې په باره کښې لرم ځکه دلته ئې تکرار نهٔ کوم البته دومره عرض به ضرور وکړم چې داستعجال تمام قلمی شد عذر د رحمان بابا د وفات د کال په سلسله کښې قابل سماعت نهٔ دے ځکه چې کهٔ محمد عباس د بیړې په وجه د ۱۱۲۸ هجری په ځائې ۱۱۱۸ هجری ولیکلو نو د پټې خزانې د محشی او مفسر بناغلی عبد الحئ حبیبی مرحوم له نظره دا غلطی ولې پته پاتې شوه او هغوی په دې کتاب د مفصلو نوټونو لیکلو په وخت کښې دې غلطی ته ولې اشاره ونهٔ کړه۔ کهٔ ځوک دا وائی چې بناغلی حبیبی مرحوم ته دا علم نهٔ وهٔ چې د رحمان بابا د وفات اصل کال کوم یو دے ځکه هغوی په پټو

www.pukhto.net

ستر گو د محمد هوتک یا د محمد عباس کاسی لیکلې کال ۱۱۱۸ هجری صحیح وګڼلو نو دا به صحیح نۀ وی ځکه چې له پټې خزانې نه اګاهو عبد الحئ حبیبی مرحوم " پښتانۀ شعراء " لومړے ټوک مرتب کړې وۀ او دې کتاب کښې (له غلطیۀ ځنې) ښاغلی عبد الحئ حبیبی مرحوم د بهادر شاه اول د تخت نشینیۀ کال ۱۱۱۸ هجری لیکلې دے او دا ئې وئیلی دی چې "د رحمان بابا ژوند د دۀ له وینا ځخه (سم) د شاه عالم تر جلوسه (۱۱۱۸ هجری) یقینی دے دا په میاشتو کښې دننه د ۱۱۱۸ هجری هندسه د حبیبی مرحوم خپل لیک دے۔" 18

د قلندر صاحب د دې اقتباس مطلب دا دے چې د محمد هوتک د ستر ی پیدا کیدو نه اګاهو حبیبی مرحوم هم د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۱۸ هجری پورې حسابولو ۔ ځکه نو ځوک د حبیبی صاحب له خوا د حاشیې نۀ لیکلو دغه جواز نۀ شی پیش کولې چې د رحمان بابا د وفات اصل کال حبیبی مرحوم ته معلوم نۀ وۀ ، ځکه ئې د محمد هوتک له خوا لیکلې شوې کال په پټو ستر ګو منلې دے۔

دغسې محترم قلندر مومند صاحب په پټه خزانه فی المیزان کښې دابتدائی معروضات دعنوان لاندې لیکی چې ----

"د رحمان بابا له دیوانه د میر ویس خان بابا د فال و کښلو افسانه د پټې خزانې په بنا د ۲۹ ذیقعدة الحرام ۱۱۱۹ یا له دې نه ځۀ ورځې اګاهو فرض کولې شو ځکه چې په دغه ورځ میر ویس خان بابا په

www.pukhto.net

قندهار ور ننوتے وۀ ـ د رحمان بابا کومې قصیدې ته چې مخکښې اشاره وشوه هغه د ۱۱۲۳ هجری د یوې واقعې (د گل خان او جمال خان مرگ) سره تعلق لری ـ لکه څنگه چې وړاندې عرض وشو رحمان بابا کم از کم ۱۱۲۳ هجری پورې ژوندے وو ـ ظاهره ده چې نۀ تر ۱۱۱۹ هجری د رحمان بابا دیوان مکمل شوې وو او نۀ تري د فال وکښلو سوال پیدا کیدے شو ـ شاید هم په دې غرض پټې خزانې رحمان بابا په ۱۱۱۸ هجری کښې "وژلې" دے چې په ۱۱۱۹ هجری کښې د هغۀ له دیوان نه د میرویس بابا د فال وکښلو جواز پیدا شی ـ" 19

ـ د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب د رحمان بابا د دیوان د هغۀ په ژوند د مکمل کیدو بحث کړې دے او د رحمان بابا شعرونه یې پیش کړی دی چې هغۀ په کښې د خپل دیوان ذکر او صفت کړې دے ـ او په اخره کښې لیکی چې ---

"دا ټول اشعار د رحمان بابا په ژوند، د هغو د دیوان په تکمیل او خوریدلو گواهی لی او داسې بریښی چې دا شعرونه یې هم په داسې وخت وئیلی دی چې دیوان یې بشپړ او تکمیل ته رسیدلې وو ـ هم له دغه جهته د رحمان بابا د دیوان د خوریدلو او قندهار ته د رسیدلو په باب د کوم سوال یا شک ځایې نۀ پاتې کیږی ـ" 20

د دې په جواب کښې به زۀ دومره عرض وکړم چې په دې چا هم اعتراض نۀ دې کړې چې گنی رحمان بابا په خپل ژوند دیوان نۀ وو مرتب

www.pukhto.net

کړی - نو د جواب خو ې هډو سوال نه پیدا کیږی - پکار وه چې محترم همیش صاحب داسې څه دلیل پیش کړې وے چې د ۱۱۱۹ هجری نه مخکښې د رحمان بابا د دیوان مکمل کیدۀ تړې ثابت شوې وے - خکه چې میرویس بابا په ۱۱۱۹ هجری په قندهار ور ننوتے وو ، او کۀ د رحمان بابا ژوند د افغانستان د نظر ثانی شوی تاریخ یعنې ۱۱۲۸ هجری پورې وګنو نو بیا ۱۱۱۹ هجری کښې د هغۀ دیوان په هیڅ شکل هم نه وۀ مکمل شوې او د فال ویستو خو هډو سوال نه شی پیدا کیدے - څنګه چې دا خبره واضحه ده چې رحمان بابا په خپل ژوند خپل دیوان مکمل کړې وو دغه رنګ له دې خبرې نه انکار نه شی کیدے چې میرویس بابا له د رحمان بابا دیوان نه دې رسیدلې - او دغه شان د هغۀ له دیوانه د میرویس بابا فال وکښل صرف او صرف یوه افسانه ده -

د پټې خزانې مد افعینو د ۱۱۱۸ هجری په ځاې ۱۱۲۸ هجری کال راویستلې دے خو په دې خبره ې سوچ نه دې کړې چې کۀ داسې وکړو نو بیا به د میرویس بابا د فال کتلو دپاره د رحمان بابا دیوان د هغۀ له وفاته لس کاله مخکښې څنګه تر لاسه کوو ؟ او دا چې محمد هوتک په خپله وئیلی دی چې له دیرشو کالو راهسې مې د پښتنو شاعرانو احوال راغونډ کړی دی او بیا ې دغه حالاتو له په ۱۱۴۲ هجری کښې د پټې خزانې شکل ورکړې دے نو مونږ وئیلی شو چې محمد هوتک په ۱۱۱۱ هجری کښې دغه کار شروع کړې وۀ او د ۱۱۱۱ هجری نه اوولس کاله پس د رشاد صاحب د استخراج مطابق رحمان بابا په ۱۱۲۸ هجری کښې وفات شوې دے - په دې حساب پکار وو چې د محمد هوتک له رحمان بابا سره لیدۀ کاتۀ شوی وے - او د رحمار

www.pukhto.net

بابا ذکر ئې په هغو شاعرانو کښې نۀ وے کړې چې پخوا تیر شوی وو ۔ لکه چې قلندر صاحب پرې اعتراض کړې دے۔

"د پټې خزانې راویان" د عنوان د لاندې قلندر صاحب یوه خبره دا هم کړې ده چې ---

" د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری لیکل د کتابت غلطی نۀ ده بلکې دا د حبیبی (لکه چې عرض وشۀ) او د محمد هوتک عقیده وه چې رحمان بابا په ۱۱۱۸ هجری کښې مړ وۀ ۔ زما د دې دعوې بنیاد دا دے چې د رحمان بابا د ذکر په سلسله کښې پته خزانه وائی چې (هغه مغفور "میرویس نیکۀ" یوه ورځ تر نمانښامه له نورو پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسې ئې ترون وکا چې ظالمان مړۀ کړی او ځانونه له جور و ظلمه وژغوری په پایۀ کښې حاجی میر خان علیه الرحمة ووئیل راسئ چې عبد الرحمان بابا "قدس سره" وپوښتو ۔ چې د ددۀ دیوان ئې خلاص کا)۔ د پټې خزانې دا عبارت "راسئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره وپوښتو" د میرویس نیکۀ الفاظ دی چې په ۱۱۱۹ هجری کښې ئې رحمان بابا ته "قدس سره" وئیلی دی او لکه چې مخکښې عرض شوې دے "قدس سره" صرف د مړی دپاره استعمالیږی ۔ او کۀ د کاتب د استعجال تمام په نتیجه کښې ژوندی رحمان بابا ته "قدس سره" ووئیلی شی نو حبیبی مرحوم پرې نوټ ولې ونۀ لیکلو ۔ ظاهره ده چې دا هم هغه اتفاقاتو کښې یو اتفاق

www.pukhto.net

دے چې حبیبی مرحوم او محمد هوتک پرې خپلو کښې متفق دی - څکه نو پته خزانه کښې د دې "قدس سره" د موجودګۍ په وجه د افغانستان د محترمو لیکونکیو دا څواب قابل قبول نۀ دے چې د پټې خزانې په روایت کښې ۱۱۱۸ هجری کال د کتابت سهو ده -" (21)

له دیو خبرو نه پس هم چې د پټې خزانې مدافعین د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۲۸ هجری باندې اصرار کوی نو د محمد هوتک او میرویس بابا دغو خبرو له به څۀ جواز پیدا کوی؟

دغسې یوه خبره د رحمان بابا متعلق دا هم ده چې د یونس استاذ وۀ - د استاذۍ او شاګردۍ دا څبره حبیبی صاحب مرحوم په پښتانۀ شعراء کښې کړې ده چې د پټې خزانې د دریافت نه څو کاله اګاهو چاپ شوې کتاب دے - محترم قلندر صاحب د "تاریخی مآخذ" د عنوان دلاندې لیکی چې ---

"د رحمان بابا او د یونس د استاذۍ او شاګردۍ د تعلق په باره کښې چې رحمت هوتک کوم انکشاف کړې دے هغه له دې انکشاف نه مخکښې حبیبی مرحوم ته معلوم وۀ او څکه هغۀ دا لیکلی دی - (یونس د خپل استاذ رحمان بابا مرثیه وئیلې او د هغۀ دابدی فراق په ارمان داسې غلبلې کړی دی-)" (22)

کۀ مونږ هر څۀ پریږدو او صرف دا دوه غلطې ثابتې شوې خبرې واخلو چې د پټې خزانې نه اګاهو حبیبی مرحوم د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۱۸ هجری حساب کړې دے او یونس ې د رحمان بابا شاګرد ښیئلې دے نو هم

www.pukhto.net

تړې د پټې خزانې د اصلیت پته لګیدے شی ـ ځکه چې کله پته خزانه پیدا شوه نو په هغې کښې د یو لوئ زمانی بُعد باوجود دغه دواړه خبرې هم هغه شان غلطې موجودې دی ځنګه چې په پښتانۀ شعراء کښې راغلی دی ـ نو مونږ د دې خزانې په حقله وئیلی شو چې ـــ

"ان هذا الا اساطیر الاولین" 23

ګنی دا ځنګه ممکنه ده چې یو تن په دولسمه صدیۍ کښې کومه خبره کوی بل تن د هغۀ او د هغۀ د خزانې نه د عدم واقفیت باوجود هم هغه خبره په ځوارلسمه صدیۍ کښې کوی ـ

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷
2. تول پارسنګ ص ـ ٤٤، ٤٥
3. رحمان پوهنه ص ـ ٤٣٤٢
4. هم دغه کتاب ص ـ ٤٤٤٣
5. قرآن حکیم سوره الانعام آیت نمبر ٥٥
6. علم خانه دانش قلمی نسخه د پښتو اکیډمۍ
7. فرهنګ عمید
8. دستار نامه ص ـ ٢٤٠
9. ګلدسته مقدمه ص ـ ٢٤
10. دلی او شهۍ ص ـ ۱۳۲

Pukhto.Net
www.pukhto.net

11 دیوان سعید مقدمه ص ـ ز

12 دیونس د دیوان مقدمه ص ـ اتویشمه

13 هم دغه مقدمه ص ـ اوویشتمه

14 د نازو انا یاد ص ـ ۲۹،۲۸

15 دیونس قلمی دیوان ص ـ ۸۵

16 تول پارسنگ ص ـ ۱۹۲،۱۹۱

17 دیونس قلمی دیوان د کراچی د میوزیم نسخه

18 رحمان پوهنه ص ـ ۳۹،۳۸

19 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۸

20 تول پارسنگ ص ـ ۵۰

21 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۲۵۷،۲۵۶

22 هم دغه کتاب ص ـ ۱۹۶،۱۹۵

23 قرآن حکیم سوره الانعام آیت نمبر ۲۵

Pukhto.Net
www.pukhto.net

اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ

پټه خزانه فی المیزان کښې په ابتدائی معروضاتو کښې محترم قلندر مومند صاحب د پټې خزانې د جدیدیت ثابتولو دپاره د نورو ډیرو خبرونه علاوه په اخره کښې لیکی چې ---

"البته په اخره کښې دا خبره کول غواړم چې د پټې خزانې په نظم او نثر کښې د متقدمینو د نظم او نثر څه روایات نه ښکاری - په نظم کښې "ترو"، "سکه"، "خبله"، "وبله"، خپسر "او په نثر کښې "وکانی"، "ما ورته که"، "څخو" او داسې نور لفظونه چې په پخوانی ادب کښې پانه په پانه موندے شی - په پټه خزانه کښې یو ځایې هم نه دی استعمال شوی - د دې نه زیاته دا خبره هر ذهین لوستونکی ته مخې له راځی چې محمد هوتک د پښتنو په لتو کښې ګرځیدو او د رحمان بابا او خوشحال بابا د شاعرۍ د مطالعې باوجود هم مرزا خان انصاری، دولت لوانے، ارزانی او مخلص له په خپله خزانه کښې ځایې نه دے ورکړې - د دې وجه دا خو نه وه چې محمد عباس کاسی یا بل چا ته د پټې خزانې د لیکلو په وخت د مرزا او نورو روښانیانو شاعرانو مطبوعه دیوانونه میسر نه وو - د دې معروضاتو په رڼا کښې د کتاب د اصلیت په باره کښې د شکونو پیدا کیدل ضروری دی - او ځکه

www.pukhto.net

زهٔ پټه خزانه له اعتباره پریوتې، بې بنیاده او فرضی مجموعه ګڼلو کښې حق بجانب یم"۔ (1)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب کښې لیکی چې---

"د دې جواب دا دے چې پټه خزانه یوه تذکره ده چې په کښې د شعرونو انتخاب شوې دے۔ کیدے شی چې په زیر بحث تذکره کښې د ذکر شوو شاعرانو په نور کلام کښې دغه الفاظ استعمال شوی وی۔ او دا ضروری نهٔ ده چې ذکر شوی الفاظ دې د کوم شاعر په هر غزل یا نور کلام کښې په کراتو کراتو استعمال شی۔ او د پټې خزانې د لیکوالو اکثریت چونکې د لویدیزی پښتونخوا سره تعلق لری او کوم خنې الفاظ چې د ختیزې پښتونخوا شاعران یا لیکوال په خپلو ادبی اثارو کښې استعمالوی مثلاً اګاهو، نچوړ، هډو، بوج، او جاج وغیره چې مونږ یې په کثرت سره په خپلو ادبی اثارو کښې استعمالوو خو هغوی یې نهٔ استعمالوی۔ یا لکه شیر محمد هوتک چې تقریباً په کال ۱۰۹۲ هجری کښې زیږیدلے په کتابونو اسرار العارفین، رساله میت او تجوید افغانی کښې دا یو لغت هم نهٔ دے راغلے۔ او د اسې دا خبره غلطه ثابته شی چې ګنی په قول د معترض په پخوانی ادب کښې پانه په پانه موندے شی۔" (2)

د محترم همیش صاحب په دې اقتباس کښې دا خبره یقیناً چې دیره

www.pukhto.net

روغه او سمه خبره ده چې "پټه خزانه یوه تذکره ده چې په کښې د شعرونو انتخاب شوې دے ، کیدے شی چې په زیر بحث تذکره کښې د ذکر شوو شاعرانو په نور کلام کښې دغه الفاظ استعمال شوی وی" خو د پټې خزانې یا د هغې د مولف دا غټه بد قسمتی ده چې په هغې کښې د ذکر شوو شاعرانو دیوانونه خو څۀ چې څۀ لږه ډیره برخه ېې هم (سیوا د یو څو معلومو شاعرانو نه چې د پټې خزانې د موندلو په وخت د هغوی دیوانونه پیدا شوی وو) تر اوسه پورې د چا لاس له نۀ ده راغلے - او یوازې دا نه په دغه خزانه کښې چې کوم کتابونه یاد شوی دی لکه غرغښت نامه ، بستان الاولیاء، د خدائې مینه، د بنکارندوی د بوللو غټ کتاب، تذکره غرغښت، تحفه صالح ، مسائل ارکان خمسه، جامع فرائض، گلدسته زعفرانی، افضل الطرائق ، القرائض فی رد الروافض، قصص العاشقین، محمود نامه، روضه ربانی، محاسن صلواة، تحفه واعظ ، اولیائے افغان، ارشاد الفقراء ، خلاصة الفصاحت، خلاصة الطب د محمد هوتک دیوان او د اسې نور -- حالانکې د پښتو د اسې ډیر کتابونه او دیوانونه چې مونږ ته ېې نوم نښان نۀ وۀ معلوم وخت په وخت پیدا شوی او چاپ شوی دی - او چې کوم د دنیا د مختلفو ملکونو په مختلفو لائبریرو کښې په قلمی شکل کښې موجود دی د هغې پته هم لګیدلے ده خو د بد قسمتی نه دا کتابونه چرته هم په نظر نۀ راځی - نو تر کومه پورې چې په دغه تذکره کښې د ذکر شوی شاعرانو نور کلام مونږ ته مخې له نۀ وی راغلې نو مونږ مجبور یو چې د قلندر مومند صاحب خبره وۀ منو -

www.pukhto.net

بل په دغه اقتباس کښې دا خبره هم شوې ده چې په تذکرو کښې د شعرونو انتخاب کولے شی ځکه نو هغه الفاظ کوم چې پخوا استعمالیدل هغه په دغه تذکره کښې نه دی راغلی - خو اخر لوستونکی به دا حسن اتفاق ځنګه ومنی - چې د پنځوسو شاعرانو په احوالو او کلامونو کښې چرته هم دغه الفاظ نه دی راغلی - زما په خیال د دې بله هیڅ توجیه نه شی کیدے بې له دې نه چې د دې تذکرې لیکونکی په یو داسې وخت کښې ژوند کولو چې په هغه وخت کښې دغه الفاظ متروک شوی وو - او دا یو داسې وخت وه چې په پښتو کښې د خپلو لفظونو جوړولو رواج شروع شوې وه ځکه چې په دغه تذکره کښې دیر داسې توری شته دے چې هغه په زوړ پښتو ادب کښې چرته په نظر نه راځی لکه هسک د اسمان په معنیٰ، غوږن د اګاه په معنیٰ، زوی نیو د متبنیٰ په معنیٰ، تون د ځایې په معنیٰ، پلن د پیاده په معنیٰ، زړن د بهادر په معنیٰ، بودتون د بتخانې په معنیٰ، پیژندو د روښانس او معروف په معنیٰ، جګړن د عسکر په معنیٰ، تور نمری د سیاه پوش په معنیٰ او داسې نور دیر لفظونه - په داسې صورت حال کښې به هیڅ یو د عقل خاوند داتذکره د دولسمې صدۍ تالیف ونه ګڼی - د پټې خزانې دلوستو په وخت چې بله کومه خبره د لوستونکی په ذهن کښې د شک مانی جوړوی هغه دا ده چې دغه نوی الفاظ کوم چې پاس ذکر شو په پته خزانه کښې د معلومو شاعرانو لکه د عیسیٰ مشوانی، خوشحال بابا، رحمان بابا، عبدالقادر خان خټک او یونس په کلامونو کښې بیخی نه دی استعمال شوی - او دا خبره هم د انتهائی تعجب ده چې په څلورمه، پینځمه، شپږمه

www.pukhto.net

او اوومه صدی کښې زمونږ پښتنو لیکونکیو نوی لفظونه جوړول خو بیا وروستو د څوارلسمې صدی پورې دغه عمل په نظر نه راځی، البته په څوارلسمه صدی کښې د پښتنو دې پله پام شوې دے۔ او څنې لفظونه ې جوړ کړی دی نو مونږ دا وئیلے شو چې په پته خزانه کښې د یو څو معلومو شاعرانو نه علاوه نور شاعران یا خو وو نه او یا د څوارلسمې صدی سره تعلق لری۔

محترم گل باچا الفت په خپل کتاب لیکوالی املاء او انشاء کښې د څنې هغو توریو فهرست ورکړې دے چې د هغوی په خیال پخوا استعمالیدل او اوس له استعماله پریوتی دی۔ د هغوی له دغې فهرسته زه دغه یو څو زیر بحث توری رانقل کوم---

۱۔ خپسر :۔ دا کلمه په پخوانیو کتابو کښې دیره راغلې د چې اوس متروکه ده۔

۲۔ څبله ۔ وبله : ۔ دا لغتونه هم په اوسنی لیک کښې نشته او پخوانی لیک کښې دیر استعمال لری۔

۳۔ سکه : ۔ دا لغت په زړه انشاء کښې دیر راغلے یعنې خوشحال خان، اخوند درویزه او نورو دا سې استعمال کړې دے (سکه احتیاط څنې وکانی ، سکه پرهیز دې هر څوک وکا) چې په اوسنی لیک کښې نه استعمالیږی ۔

٤۔ وکانی مه کانی : ۔ پخوا په څنو افعالو کښې د امر او نهی صیغې په دغه دول لیکل کیدے لکه (وکانی ۔ واخانی ، وروانی)

www.pukhto.net

چې اوس يې مونږ (وکړئ، واخلئ، وروړئ) لیکو - 3

نو اوس چې هر کله مرحوم گل باچا الفت دا الفاظ زاړه ګڼی او لیکی چې اوس متروک دی نو په پته خزانه کښې ددې نشتوالے ددې خبرې ثبوت دے چې پته خزانه یو جدید کتاب دے - بل همیش صاحب د لویدیزې او ختیزې پښتونخوا خبره کړې ده نو مرحوم گل باچا الفت خو هم د لویدیزې پښتونخوا وسیدونکے دے - بل کۀ دغه لفظونه په زړو نسخو کښې پاڼه په پاڼه نۀ شو موندے نو محترم گل باچا الفت صاحب به دا نۀ وئیل چې داتوری پخوا ډیر استعمالیدل - د کثرت استعمال دپاره محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب کښې "په پاڼه پاڼه کښې موندے شی" خبره کړې ده - د کومې د غلطې ثابتولو دپاره چې محترم همیش صاحب د شیر محمد هوتک د کتابونو حواله ورکړې ده چې په هغې کښې دغه زیر بحث توری نۀ دی استعمال شوی - گویا په ټول پښتو ادب کښې هغوی ته اکی یو سړے داسې په ګوتو ورغلې دے چې هغۀ دغه توری نۀ دی استعمال کړی - او د اکی یو سړی عمل ئې د خپلې دفاع دپاره کافی شافی ګڼلې دے - بل په اکثرو دیوانونو او کتابونو کښې زړه املا بدله کړې شوې ده لکه د رحمان بابا په چاپ شویو دیوانونو کښې دغه توری اوس چرته هم په نظر نۀ راځی - نو تر کومې پورې چې د شیر محمد هوتک د قلمی نسخې متعلق لوستونکیو نور معلومات نۀ وی فراهم شوی دغه خبره د منلو نۀ ده -

بل هډو کۀ به فرض محال تذکره نګار د دغه قسمه شعرونو انتخاب کړی وی او مونږ دغه حسن اتفاق وۀ هم منو نو مولف په خپلو خبرو

www.pukhto.net

کښې هم له دغو توریو نه یو تورے چرته نۀ دے استعمال کړې ۔ او له دې نه دا خبره ډیره ښه په ډاګه کیږی چې دا تذکره دیو جدید لیکونکی له قلمه وتې ده ۔

د قلندر مومند صاحب په پورته نقل شوی اقتباس کښې یوه خبره دا هم شوې ده " چې مرزا خان انصاری، دولت لوانے، ارزانی او مخلص په دغه تذکره کښې نۀ دی ذکر شوی حالانکې د خوشحال بابا او د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د دوئ ذکر موجود وۀ " د دې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب تول پارسنګ کښې لیکی چې ---

"بل دغه اعتراض چې محمد هوتک د رحمان بابا او خوشحال بابا د شاعرۍ د مطالعې باوجود د مرزا خان انصاری، دولت لوانی، ارزانی او مخلص ذکر په خپله تذکره کښې ولې نۀ دے کړې ؟ زما په خیال د دنیا په ادبی تاریخ کښې کۀ د کوم ادب د کوم دور چا داسې یوه تذکره هم را په ګوته کړه چې هغې کښې د متقدمینو، متوسطینو او متاخرینو د کلهمو لیکوالو (؟)ذکر احاطه کړی شوی وی، یا هم د یو دور د تولو لیکوالو (؟)ذکر هم کۀ چا په یوه تذکره کښې راوښودلو نو زۀ به خپل دا جواب واپس واخلم ۔ مرزا خان انصاری، ارزانی، دولت لوانی او مخلص چې د محمد هوتک سیمه وال هم نۀ وو ذکر خو لا څۀ چې د شیر محمد هوتک غوندې معروف او نومیالی لیکوال چې د تذکره نګار همعصر سیمه وال او د " اسرار العارفین" غوندې اهم کتاب مولف وو هم

www.pukhto.net

پټه خزانه ېې ذکر نه کوی ، او دا د دې خبرې د ټولو نه لوې ثبوت دے ۔ چې ضروری نه ده چې تاریخ یا کومه تذکره دې د کوم ادب د ټولو لیکوالو یا ټولو حالاتو په ذکر محیط وی ۔" (4)

د محترم همیش صاحب د دې خبرې سره زما هم اتفاق دے چې ضروری نه ده چې یوه تذکره دې د ټولو لیکونکیو ذکر احاطه کړی ۔ خو د مرزا خان انصاری، دولت لوانی، ارزانی او مخلص وغیره خبره د اسې ده چې د خوشحال بابا او رحمان بابا په شاعری کښې ېې ذکر شوې دے نو پکار ده چې په دغه تذکره کښې ېې ذکر راغلې وے ۔ که کلام ېې نه هم وے نو چې دومره ېې لیکلې وے چې دا شاعران خوشحال بابا یا رحمان بابا یاد کړی دی خو مونږ ته ېې څه کلام په ګوتو نه دے راغلې ۔ نو دا اعتراض به پرې نه واردیدۀ ۔ باقی د همیش صاحب دا خبره چې "مرزا خان انصاری، دولت لوانے، ارزانی او مخلص چې د محمد هوتک سیمه وال هم نه وو" تقریباً تیک ده ۔ تقریباً مې ځکه ووې چې مرزا خان انصاری عبد الحی حبیبی صاحب په "پښتانه شعرا" کښې د قندهار وسیدونکے ثابت کړې دے ۔ او په دې حساب هغه د محمد هوتک کلی وال وۀ ۔ نو که د دولت لوانی، مخلص، او ارزانی ذکر ېې نه دے کړې نو پکار ده چې د مرزا خان انصاری ذکر ېې خامخا کړې وے ۔ پاتی شوه د شیر محمد هوتک خبره نو که چرې شیر محمد هم تک، په پټه خزانه کښې ذکر شویو شاعرانو یاد کړې وی نو پکار ده چې د دغې کتاب مولف د هغوی په حواله راخستے وے ۔ بل د شیر محمد هوتک ذکر نه کول دا خبره په دا ګه کوی چې د محمد هوتک علیه الرحمة د

www.pukhto.net

پښتنو په لتو د ګرځيدو خبره يوه داسې افسانه ده چې هيڅ حقيقت نه لري - او دهغه ددير شو کالو راهسې د پښتنو شاعرانو د احوالو راغونډولو هلې ځلې هم د دغې افسانې يوه کړۍ ده - ګنې دا څنګه کيدے شی چې د پښتنو شاعرانو په حالاتو پسې د پښتنو په لتو ګرځيدونکے تذکره نګار دې د خپل کلی وال ذکر ونه کړی - بل ددغې تذکرې نه پرته خبره هم معلومه شوې ده چې د محمد هوتک په زمانه کښې يو ادبی دربار هم قائم شوې وه چې اوس اوس يو ښاغلی په خپل کتاب کښې په ذکر شويو ادبی جرګو کښې هم دغه دربار د پتولو نه اول ښيئلے دے - د نن په نسبت چې په خوا دومره شاعران هم نه وو بيا هم چې په قندهار کښې ادبی دربار جوړيدو نو دا څنګه کيدے شی چې شير محمد هوتک په دغې دربار کښې نه وی شامل شوې - او حقيقت هم دا دے چې که شير محمد هوتک په دغه دربار کښې وے نو محمد هوتک به په خپله خزانه کښې هم ځای کړې وے - ځکه چې شير محمد هوتک د قندهار هغه شاعر دے چې د څو کتابونو مصنف هم دے د دې برعکس محمد هوتک چې کوم شاعران په خپله دغه تذکره کښې راجمع کړی دی په هغو کښې د څو معلومو شاعرانو نه علاوه يو داسې شاعر نشته چې د شير محمد هوتک نه ښه شاعر وی - د تذکره نګار محمد هوتک له خوا خپل کليوال له په خپله تذکره کښې ځای نه ورکول دا ښيی چې دا تذکره نه محمد هوتک ليکلے ده او نه په يولس سوه دوه څلويښته هجری کښې قلمی شوې ده -

د محترم هميش صاحب په پورته اقتباس کښې يوه خبره دا،

www.pukhto.net

شوې ده چې " کۀ چا ما ته د یو دور د ټولو لیکوالو (؟) ذکر په یوه تذکره کښې راوښودلو نو زۀ به دا جواب واپس واخلم " د هغوی د دې خبرې په جواب کښې زۀ هم د هغوی د کتاب نه یو اقتباس پیش کول غواړم - چې هغوی په کښې د محترم قلندر مومند صاحب یوه خبره راخستے او څۀ داسې تبصره ېې پرې کړې ده ---

" کۀ د نولسمې صدۍ بله یوه نسخه کښې چرې د صفحاتو شمیر په هندسو کښې راوښیئلے شی نو زما دا اعتراض به غلط شی -" ص - ٦

دا یو ډیر عجیبه اعتراض دے - یعنې صرف د دې اعتراض رد کۀ چا و کړو، نو صرف هم دغه یو اعتراض به غلط شی او باقی پاتې اعتراضونه به باوجود د غلط ثابتیدو په خپل ځاې وی -"

د محترم قلندر مومند خبره دا ده چې "کۀ د نولسمې صدۍ بله یو نسخه کښې د صفحاتو شمیر په هندسو کښې راوښیئلے شی نو زما دا اعتراض به غلط شی " هسې خو دا یوه سمه خبره ده - خو محترم همیش صاحب ېې ښه نۀ ګڼی او خبره ېې پرې کړې ده - نو اوس کۀ ګران لوستونکی د همیش صاحب دغې خبرې سره اتفاق و کړی او د قلندر مومند صاحب دغه خبره غلطه و ګڼی نو د همیش صاحب دا خبره به هم هغه شان غلطه ګڼی چې " زۀ به دا جواب واپس واخلم " خکه چې مطلب د دواړو خبرو یو دے - اوس نو د همیش صاحب د وضع کړی قانون ترمخه کۀ څوک داسې یوه تذکره هغوی ته په ګوته کړی چې د یو دور د ټولو لیکونکیو ذکر په

www.pukhto.net

کښې موجود وی نو هغوی به خپل دغه جواب واپس واخلی او باقی پاتې جوابونه به ې باوجود د غلط ثابتیدو په خپل ځاې وی۔

د محمد هوتک د تذکرې د دفاع په لړ کښې محترم همیش صاحب وړاندې لیکی چې ----

"د مثال په ډول " تاریخ مرصع" به واخلو چې زمونږ دغه ادبی دستاویز کښې افضل خان خټک د پښتنو اولیاؤ په حقله کوم باب لیکلې دے په هغه کښې د حضرت سید علی ترمذی علیه الرحمة (پیر بابا)، د کوهاټ حضرت حاجی بهادر علیه الرحمة، حضرت شیخ حبیب الله علیه الرحمة، حضرت محمد یحییٰ علیه الرحمة (د اټک حضرت جی صاحب) او رحمان بابا غوندې آفاقی شاعر ذکر نۀ دے کړے۔ اوس کۀ هم په دغه وجه " تاریخ مرصع" ته څوک (خدائ مۀ کړه) یو بې حقیقته او جعلی تاریخ ووائی، نو ایا دهغۀ ذهنی توازن به مشکوک نۀ وی؟"۔ 6

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې زۀ دومره عرض کول مناسب ګڼم چې افضل خان خټک د پښتنو اولیاؤ ذکر کړې دے او پیر بابا علیه الرحمة مغل وۀ پښتون نۀ وۀ دغسې د اټک حضرت جی صاحب هم مغل یا چغتائی وۀ پښتون نۀ وۀ ۔ حضرت شیخ حبیب صاحب سرهندی وۀ ۔ د کوهاټ حاجی بهادر صاحب هم په اکره کښې پیدا شوې وۀ ۔ باقی د رحمان بابا خبره خو داسې ده چې هغه په ژوند چا هم سیوا د میر ویس نیکۀ او محمد هوتک نه ولی الله نۀ دے ګڼلې ۔ او دغې ته مونږ د هغوی د رحمان

www.pukhto.net

بابا سره حسن عقیدت وئیلی شو - باقی که په تاریخ مرصع کښې د یو ولی الله په ذکر کښې د دغو ذکر شویو اولیاؤ ذکر راغلی وی نو پکار ده چې افضل خان یاد کړی وے - باقی تاریخ مرصع د پټې خزانې سره په یوه تله تلل نه دی پکار ځکه چې تاریخ مرصع تاریخ دے تذکره نه ده او د تاریخ مرصع لیکونکے هر څوک پیژنی او نسخې یې هم ګڼی موجودې دی - او هغې ته څوک هم جعلی او بې حقیقته نه شی وئیلے - البته د "پټې خزانې" یو مدافع مولوی شریف احمد په خپل کتاب "مظلوم رحمان" کښې دغې تاریخ ته د دروغو تاریخ او افضل خان خټک ته یې دروغژن وئیلے دے - نو د همیش صاحب په قول دهغه ذهنی توازن مشکوک دے - بل دا چې اولیا په ژوند چا د اولیا الله په حیثیت نه وی پیژندلی بلکې له مرګه پس یې پته لګیدلے وی - او د دې برعکس شاعران د خپلې شاعرۍ په وجه په خپل وخت کښې نوم پیدا کړی ،او هر څوک یې وپیژنی -

بل محترم همیش صاحب دا خبره هم کړې ده چې --

" که محمد هوتک د رحمان بابا او خوشحال بابا د شاعرۍ د مطالعې باوجود د مرزا خان انصاری- دولت لوانی، ارزانی او مخلص ذکر نه کوی، نو افضل خان خټک هم د هغو شاعرانو چې خوشحال بابا او د دهٔ خپل پلار اشرف خان هجری په خپلو شعرونو کښې ستائیلی او یاد کړی دی، دے یې ذکر نه کوی -" 7

نو په دې حقله زما دا عرض دے چې " تاریخ مرصع" د شاعرانو تذکره نه ده بلکې تاریخ دے چې د نوم نه یې ښکاره ده - نه پوهیږم چې محترم همیش

www.pukhto.net

صاحب دا خبره په څهٔ وجه کړې ده - دغه شان هغوی یوه خبره د څو کنو د میاں عمر صاحب د تذکرې "ظواهر السرائر" کړې ده چې په هغې کښې د حاجی دریا خان چې د تذکرې لیکلو په وخت ژوندے وهٔ ذکر نهٔ دے شوې، نو ایا د دغه ذکر نهٔ کولو په دلیل به د "ظواهر السرائر" له حقیقته څوک ستر گې پټې کړې شی؟ د دې خبرې په حقله زما هم هغه عرض دے کوم چې مې د تاریخ مرصع په حقله وکړو - باقی چې څومره پورې د حاجی دریا خان د ذکر نهٔ کولو خبره ده نو د محمد شفیع صابر صاحب په کتاب شخصیات سرحد کښې چې دکومو اولیاوٗ ذکر راغلې دے په هغې کښې هم د حاجی دریا خان ذکر نشته - حالانکې "شخصیات سرحد" ډیر یو جدید کتاب دے - بل لکه چې ما اګاهو خبره کړې ده چې اولیاء داسې وی چې د مرګ نه پس ېې پته ولګی - په ژوند ېې هیڅا ته معلومات نهٔ وی او نهٔ په ژوند چا ولی الله ګڼلی وی - بل محترم همیش صاحب په خپله هم د حاجی دریا خان په حقله هیڅ قسمه معلومات نهٔ دی ورکړی - بل هغوی د شاه محمد غوث پشاوری د تذکره غوثیه خبره کړې ده چې په هغې کښې د څو کنو د میاں عمر صاحب ذکر نشته ، نو په دې حقله زما دا عرض دے چې محمد غوث پشاوری او د څو کنو میاں عمر صاحب دواړه د بیلو بیلو سلسلو صوفیان وو او دواړه په یو دور کښې ژوندی وو نو یا خو دا چې د شاه محمد غوث د تذکرې لیکلو په وخت د څو کنو میاں صاحب په حیثیت د ولی الله مشهور نهٔ وهٔ او بل دا چې تذکره لیکونکے د کومې سلسلې سره تعلق لری نو هم د هغې سلسلې د صوفیانو او اولیاوٗ ذکر کوی - او دا خبره هم د چا نه پټه پناه

www.pukhto.net

نۀ ده چې د څو کنو میاں صاحب په خپل وخت کښې په صوفیاؤ کښې ډیر مخالفین لرل ۔ او کۀ دا ټولې خبرې نۀ هم وی نو د پټې خزانې د مدافعینو په خدمت کښې زما دا عرض دے چې دا قسمه خبرې د قلندر مومند صاحب د اعتراض جواب هیڅرې هم نۀ شی کیدے ۔ او نۀ به هیڅ یو باشعوره لوستونکے دا دهغې جواب وګڼی ۔ محترم همیش صاحب په اکثرو ځایونو کښې د مختلفو کتابونو حوالې ورکوی او وائی چې په فلانی کتاب کښې هم د اسې شوی دی د هغې په حقله ولې معترض څۀ نۀ وائی نو د هغې په جواب کښې زۀ په ډیر احترام دا عرض کوم چې د هغوی تنقید په پټه خزانه دے کۀ چرې په دغو کتابونو تنقید وکړی او دغه غلطۍ ې په ګوته نۀ کړی نو باید چې ګرم کړې شی ۔

له دې ټول بحث نه دا خبره په ډاګه کیږی چې په زور پښتو ادب کښې په کثرت سره استعمال شوی زاړۀ توری کوم چې نن سبا متروک دی په پټه خزانه کښې بیخی نۀ دی استعمال شوی ۔ د هغې برعکس څنې د اسې نادر توری لکه چې مخکښې ذکر شو په دغه تذکره کښې پکار ولی شوی دی چې په کلهم زور پښتو ادب کښې په نظر نۀ راځی ۔ نو د دې هر څۀ باوجود هم چې کوم محترم ملګری دغه تذکره د دولسمې صدۍ تالیف ګڼی او اصرار پرې کوی نو یا خو هغوی د زور پښتو ادب مطالعه نۀ لری او یا ې د دغې تذکرې د مولف او محشی سره بیشانه عقیدت ، دے ۔ او دغه وجه ده چې په پټه خزانه د شوؤ اعتراضونو په جواب کښ د دغې تذکرې مدافعین د جذباتیت بنکار شوی دی او معترض ته ې هغه څه ویلی دی چې د ادب په

www.pukhto.net

جولۍ کښې نۀ خانیګی - پکار دی چې د پټې خزانې مدافعین د دغې اعتراضاتو په سړه سینه کوتلی او مدلل جوابونه وکړی -

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص -۲۲
2. تول پار سنګ ص- ۶۱-۶۲
3. لیکوالی املا او انشاء ص - ۶۴
4. تول پار سنګ ص - ۶۲-۶۳
5. هم دغه کتاب ص -۱۳
6. هم دغه کتاب ص - ۶۳
7. هم دغه کتاب ص - ۶۳-۶۴ حاشیه

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

www.pukhto.net

مَالَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ

محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب پته خزانه فی المیزان کښې د برنی عنوان لاندې لیکی ---

"پته خزانه د شاعر په حقله چې کوم معلومات راکوی د هغو خلاصه داده :-

۱- محمد یونس په خیبر کښې وسیدۀ -

۲- دے په ۱۱۳۵ھ کښې یو دیرش کلن خوان وۀ -

۳- د پلار نوم یې نور محمد خان وۀ چې په خټه بابړ وۀ -

٤- یونس خان د رحمان بابا په ژوند د هغۀ شاگرد وۀ -

د- په کال ۱۱۳۵ھ کښې یونس خان خپل دیوان مرتب کړے وۀ -

٦- دوه غزلونه د دۀ له دیوانه په دې غرض رانقل شوی وو چې په پته خزانه کښې ثبت شی -

۷- یونس خان په ۱۱٤۲ھ کښې ژوندے وۀ -

دا هم هغه یونس دے چې دیوان یې د څیر ندوی عبدالله خدمتگار د مقدمې او څنډو سره په ۱۳۵٦ هش (۱۹۷۷ عیسوی) کښې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا چاپ شوے دے -

دا چاپی دیوان هغه دوه غزلې او یوه معما لری چې پته خزانه کښې د محمد یونس خان سره منسوب دی - په هر صورت تر اوسه لا دا خبره نزاعی نۀ ده چې کوم دیوان چې د یونس د دیوان په نوم چاپ شوے دے دا هم د هغه یونس کلام دے چې پته

www.pukhto.net

خزانه یې ذکر کوی - خکه که هغه معلومات چې پته خزانه یې
مونږ ته راکوی د یونس ددیوان له معلوماتو سره متصادم شی نو
د دیوان داخلی شهادت به زیات معتبر ګڼلے کیږی (لکه چې پکار
ده) او د دغه معتبر شهادت په رڼا کښې به د محمد هوتک تالیف
خپل استناد باٹیلی -" (1)

محترم قلندر صاحب چې له پټې خزانې نه کوم معلومات اخستی او مونږ ته یې پیش کړی دی هغه هم دغه هومره دی خو چې په هغې کښې د کتابت کومه غلطی شوې ده او په "سبحان الله" کښې یې تصحیح نه ده شوې په هغې محترم همیش صاحب اعتراض کوی او لیکی ----

"د ذکر شوی اقتباس له مخه دریمه نکته کښې د محمد یونس خان د قام قبیلې په حقله دا غلط بیانی شوې ده چې هغه په خپله بابر وه - خو اقتباس پخپله د دې غلط بیانی تردید کوی خکه چې اقتباس په ځایې د "بابر" د شاعر قبیله "موسیٰ خیل" نمانی -" (2)

د محترم همیش صاحب دا خبره په ځایې ده چې پته خزانه یونس خان په قام موسیٰ خیل یادوی خو قلندر صاحب چې کوم اقتباس له پټې خزانې نه پیش کړے دے نو هغې کښې هغوی دا خبره رانقل کړې ده چې "او په قوم موسیٰ خیل وه" - خو بیا وروستو چې یې له دغې اقتباسه کومې نکتې د بحث دپاره غوره کړی دی نو سهوا یې د یونس خان قوم بابر لیکلے دے - که چرې هغوی د پټې خزانې اصل عبارت پیش کړے نه وے نو بیا پرې د غلط بیانی الزام لګیدے شو - خو چې هر کله هغوی د پټې خزانې اصل عبارت پیش کړے دے نو مونږ په هغوی د غلط بیانی الزام نه شو

www.pukhto.net

لګولے ـ د کتابت د غلطیٔ نه بو بلا جوړول زما په خیال د نقاد ذمه واری نه ده ـ بل هم د دغه غلطیٔ په حقله سید محمود ظفر لیکی ---

" دلته یا د کاتب نه غلطی شوې ده یا زما نه ـ د تول پارسنګ لیکونکے دې د "بابړ" په خاې "کاکړ" ولولی ـ یونس موسیٰ خیل دے او موسیٰ خیل د کاکړو څانګه ده دا وضاحت حبیبی صاحب په خپله کړے دے ـ 3

محترم قلندر مومند صاحب وړاندې لیکی ---

" مخکښی له دې نه چې د "تالیف" د یونس په حقله معلومات د اهمیت په لحاظ وخیرلے شی د رحمت هوتک پیښور ته د راتلو په واقعه بحث پکار دے ـ د محمد هوتک په وینا د هغهٔ تربور رحمت هوتک په ۱۱۳۰ هجری کښې پیښور ته تللے وهٔ ـ دا هغه وخت دے چې افضل خان خټک او محمدی صاحبزاده خو حتماً او حمید بابا او علی خان غالباً ژوندی وو ـ د دوی نه علاوه د اشرف خان هجری، صدر خان خټک او سکندر خان خټک په حقله هم د یونس په واسطه معلومات حاصلیدے شو خو باوجود د دې چې رحمت هوتک د محمد هوتک په کتاب کښې د ثبت کولو دپاره د یونس دوه غزلې د هغهٔ له دیوانه راوړی دی دهٔ دا ولې ضروری ونهٔ ګڼله چې د دغو لویو شاعرانو په حقله چې د محمد هوتک همعصر هم وو معلومات د محمد هوتک د ثبت کولو دپاره راغوند کړی ـ او بیا خاص طور سره چې دے یوه میاشت د یونس میلمه وهٔ او دا یتول ذکر شوی شاعران د یونس

www.pukhto.net

مشران کشران او معاصرین وو د دوی په حقله یونس رحمت هوتک ته وئیل ولې غوره ونه ګڼل او بیا په داسې صورت کښې چې یونس خپل یو شعر کښې دیرو شاعرانو سره د مقابلې خبره په دې توریو کړې ده --

په تقریر د شعر فهم کړه یونسه

په قابو کښې درته ناست دی شاعران ډیر

یونس خپل میلمه د دغو ډیرو شاعرانو له احواله ولې خبر نه کړو۔ له دې زاویې نه چې د محمد هوتک روایت ته وکتلے شی نو په دې کښې هیڅ شک نه شی کیدے چې د رحمت هوتک پیښور ته د تللو دا واقعه بالکل فرضی ده۔" (4)

د قلندر صاحب په برنی اقتباس کښې په دې خبره چې "د محمد هوتک په وینا د هغه تربور رحمت هوتک په ۱۱۳۰ هجری کښې پیښور ته تللے وه" باندې همیش صاحب اعتراض کوی او لیکی ---

"دا هم د حقیقت بیانی نه روګردانی ده دغه لږ کښې د پټې خزانې اقتباس دا دے (هسې روایت کا زما تربور رحمت هوتک چې په ۱۱۳۰ هجری پیښور ته تللے وم۔ ص۔ ۱۱۳ ورومبے چاپ) د دوارو فقرو د معنو فرق وخیرئ او بیا پخپله فیصله وکړئ چې په قدم قدم د څومره غلط بیانی نه کار اخستلے شوے دے۔ بناغلے معترض خپلو لوستونکیو ته دا تاثر ورکول غواړی چې ګنې رحمت هوتک د محمد هوتک په وینا پیښور ته تلے وه حالانکې د پټې خزانې د اقتباس نه معلومیږی چې رحمت هوتک په خپله

www.pukhto.net

خو بنه او مرضی ر تلے وۀ ۔" 5

فاضل نقاد د قلندر صاحب له دې خبرې چې "د محمد هوتک په وینا رحمت هوتک په ۱۱۳۰ هجری کښې پیښور ته تللے وۀ" (حواله مخکښې تیره شوې ده) نه دا ګڼلی ده چې ګنې رحمت هوتک پیښور ته محمد هوتک استولے وۀ ۔ حالانکې د اسې نۀ ده ۔ ځکه چې هغوی په خپل کتاب کښې څلور ځایه د رحمت هوتک پیښور ته د تګ خبره کړې ده خو د اسې ې نۀ دی وئیلی چې ګنې هغه د چا په ګمارلو پیښور ته تلے وۀ ۔ په نقل شوی اقتباس کښې د هغوی مقصد دا دے چې د محمد هوتک په قول رحمت هوتک په ۱۱۳۰ هجری کښې پیښور ته تلے وۀ ۔ یعنې د "قول" په ځاې هغوی "وینا" لیکلې ده ۔ پکار وو چې فاضل نقاد دا "د محمد هوتک د وینا تر مخه" یا "د محمد هوتک د وینا مطابق" ګڼلے وے ۔

محترم همیش صاحب وراندې لیکی ---

"پاتې شو ذا اعتراض چې په قول د معترض د محمد یونس د زمانې د څوندیو شاعرانو لکه محمدی صاحبزاده، حمید بابا او علی خان یا د دوی نه علاوه د اشرف خان هجری، صدر خان خټک او سکندر خان خټک پحقله د یونس په واسطه معلومات حاصلیدلے شول او رحمت هوتک ولې صرف د یونس د دوۀ غزلو په وړلو اکتفا و کړه؟ دغه ضمن کښې عرض دا دے چې رحمت هوتک پیښور ته د کوم ادبی مهم د تر سره کولو یا د پټې خزانې د پاره د ادبی موادو او یا شاعرانو د تذکرو راغونډولو د پاره نۀ وۀ راغلے ۔ بیا هم د هر څۀ د پاره چې راغلے وۀ خو لکه چې

www.pukhto.net

څرګنده ده رحمت هوتک د محمد یونس د مهمان نوازۍ، شرافت، قدردانۍ، او عزت داري، نه متاثره شوے وۀ او بیا دا هم له قیاسه لرې نۀ ده چې رحمت هوتک ته د خپل تربور محمد هوتک د تذکرې لیکلو علم وو او هغۀ د محمد یونس نه د زیات تاثر اخستلو په وجه دا ضروري ګڼلی وی چې د یونس ذکر دې هم په دغه تذکره کښې وشی ـ خکه نو دا اعتراض هم هغه هومره بې حقیقته دے څومره چې د رحمت هوتک پیښور ته د تللو واقعه ګڼلې شوې ده ـ" 6

د پټې خزانې دفاع زمونږ فاضل نقاد دومره پریشانه کړے دے چې اوس ورته دا هم نه یاديږي چې رحمت هوتک یواځې د یونس احوال او د کلام نمونه نۀ ده وړې بلکې هغۀ د محمد ګل مسعود احوال او یوه بدله هم په دې غرض نقل کړې وه چې خپل تربور له ې ورکړی او په خزانه کښې ې ثبت کړی ـ دلته که زۀ د محترم همیش صاحب دا خبره ومنم چې رحمت هوتک د څۀ ادبی مهم دپاره پیښور ته نۀ وۀ تلے خو د یونس نه دیر متاثره شوے وۀ خکه ې د هغۀ کلام تربور له ورے وۀ نو د محمد ګل مسعود د کلام ورلو دپاره به څۀ توجیه کوی ـ خکه چې هغۀ خو ې میلمستیا هم نۀ ده کړې قدر او عزت ې هم ورله نۀ دے کړے ـ

بله خبره دا ده چې هر کله محمد هوتک په ۱۱۴۱ هجری کښې په تذکره لیکلو شروع کړې ده نو له دغې نه یولس کاله اګاهو رحمت هوتک ته دا علم څنګه شوے وۀ چې زما تربور به یولس کاله پس یوه تذکره لیکی؟

محترم همیش صاحب وراندې لیکی چې ----

www.pukhto.net

" او دا هم یوه ډیره عجیبه خبره ده چې په ذکر شوی اعتراض کښې محمدی صاحبزاده او علی خان د محمد یونس د زمانې ژوندی شاعران ګڼلے شوی دی - حالانکې د علی خان د پیدائش کال محققینو ۱۱۵۰ هجری ښودلے دے او رحمت هوتک په کال ۱۱۳۰ هجری کښې د محمد یونس سره میلمه وۀ - په دغه حساب خیبر کښې د محمد هوتک (؟) د موجودګیۀ نه به شل کاله پس علی خان پیدا کیږی - دغه شان صاحبزاده محمدی د کال ۱۱۰۹ هجری له مخه دغه وخت صاحبزاده محمدی یو ویشت کلن (؟) وو - کیدے شی چې په دغه عمر کښې هغه په حیث د شاعر د شهرت تر امکانه (؟) لانه وۀ رسیدلے - "

7

د علی خان د پیدائش تاریخ زمونږ د محققینو له خوا ۱۱۵۰ هجری ګڼل کیږی چې په قیاسونو ادا نه لری - د محترم همیش صاحب دا خبره ټیک ده چې د رحمت هوتک په خیبر کښې د موجودګیۀ ۱۱۳۰ هجری نه شل کاله پس علی خان پیدا شوے دے - او د محمدی صاحبزاده په حقله خبره داسې ده چې د یونس په وخت کښې محمدی صاحبزاده موجود وو - او همیش صاحب ې پینځلس کلنے ګڼی او لیکی چې لا ې شهرت نۀ وۀ موندے - نو کۀ یونس د خپل عمر په یو دیرشم کال دیوان مکمل کولے شی - نو بیا محمدی صاحبزاده هم شهرت حاصلولے شی - خو خبره دا ده چې قلندر صاحب یواځې علی خان او محمدی صاحبزاده نۀ دی یاد کړی - صدر خان خټک سکندر خان خټک حمید بابا ې هم یاد کړی دی - خو دهغوی په حقله همیش صاحب هیڅ رای زنی نۀ ده کړے - دغه رنګ افضل خان خټک

www.pukhto.net

هم دغه وخت ژوندے وو پکار ده چې د هغۀ په حقله يې ترې معلومات اخستے وے۔

قلندر مومند صاحب د يونس په ذکر وړاندې اعتراض په ديو الفاظو کوی ------

"پته خزانه چې د يونس په حقله کوم معلومات د رحمت هوتک په روايت مونږ ته راکوی د هغو ټولو تردید د يونس د ديوان نه کيږی ۔ د اهميت له اعتباره د ټولو نه زيات غلط روايت د هغۀ د ولديت په حقله دے ۔ د رحمت هوتک په حواله پته خزانه د يونس د پلار نوم نور محمد بنيۍ خو پخپله يونس د يو غزل په مقطع کښې وائی --

چې سل شپږ پنځوس او دوه اويا دوه نام کا
هغه پوه ګنه يونسه په ابجد ستا

دې شعر ګښې د يونس د اب (پلار) او جد (نيکۀ) د نومونو عدد بيلے شوے دے ۔ کۀ د ترتيب په رعايت سره سل شپږ پنځوس د هغۀ د پلار نوم وی نو دوه اويا يې د نيکۀ نوم دے او کۀ د شعر د وزن له کبله ترتيب ساقط شوے وی نو بيا دوه اويا يې د پلار او سل شپږ پنځوس يې د نيکۀ نوم دے ۔ کۀ د محمد هوتک د تاليف خبره صحيح وی او د يونس د پلار نوم نور محمد خان وی نو دا يو عدد هم دې نوم سره سمے نۀ خوری ۔ خو هر کله چې د ديوان داخلی شهادت زيات قابل اعتماد دے نو ځکه د رحمت هوتک او محمد هوتک دواړو خبره ځايې نۀ نيسی ۔" 8

www.pukhto.net

د قلندر صاحب د دې اعتراض په جواب کښې صاحب د تول پارسنګ لیکی چې ---

" د دې په حقله عرض دا دے چې دا ټول غزل پخپله مقطع کښې یوه معمیٰ لری او د مرموز رو روایتونو نه ډک دے او لوستونکی د خودیٔ نه د خدائیٔ لوری ته بلی او دا فاصله په ابجدی حساب له مینځه وړی او دا نصیحت هغو خلقو ته کوی چې د محمد یونس په ابجد پوهیږی ځکه چې د دیوان په نورو شعرونو کښې ابجدی معمی نوری هم شته -(هغه پوه ګڼه یونسه په ابجد ستا) د دې نه د یونس مقصد ابجد فهمی ده نه چې اب (پلار) او جد(نیکهٔ)-"

9

محترم همیش خلیل صاحب په دې اقتباس کښې لکه چې تاسو ولوستل دا خبره کړې ده چې "دا ټول غزل په خپله مقطع کښې یوه معمیٰ لری"- د غزل نه مخکښې د "ټول" په استعمال مې د افغانانو خبره سر خلاص نهٔ شو - خدائیٔ خبر چې د فاضل نقاد له دې نه مراد څهٔ دے؟

فاضل نقاد په خپله کوشش نهٔ دے کړے چې د یونس په دغه مقطع کښې بیان شوې معمه حل کړی - د دغې معمې کوم حل چې قلندر صاحب رایستے دے هغه قیاس ته نزدې دے - تر کومې چې همیش صاحب د دغې معمې د دې نه ښهٔ حل نهٔ وی پیش کړے مونږ د هغوی خبره نهٔ شو منلے -

محترم قلندر صاحب کهٔ "ابجد" نه مراد اب (پلار) او جد (نیکهٔ) اخستی دی نو هغه ځکه چې د ابجد نه پس د "ستا" موجودګی دا ښیٔ چې یونس خپل پلار نیکهٔ یادوی - او بله دا چې ابجد د چا وی نه؟

www.pukhto.net

له دغه خبرې نه پس همیش صاحب د قاسم علی خان دا شعر ونه پیش کړی دی ---

"افریدی قادری قاسم علی

آمد از ملک عدم چون در وجود

یک هزار و یک صد هشتاد و سه

در سن هجریست تولیدش نمود

چار حرف قجفغ و ابجد بدان

بستم ماه رجب دوشنبه بود

اوس د یونس "هغه پوه ګڼه یونسه په ابجد ستا" او د قاسم علی خان افریدی "ابجد بدان" خپله دا حقیقت څرګندوی چې د یونس دغه شعر صرف او صرف ابجدی حساب ته اشاره کوی-نه چې د هغه پلار او نیکه ته - البته بیا هم که څوک د خپل واضحه عادت نه د مجبوری په وجه له خپل موقفه نه اوړی نو کم از کم د خپل موقف په صداقت کښې باید داسې یو مثال خو پیش کړی چرته چې د "ابجد" د "اب" نه د پلار او "جد" نه د نیکه معنیٰ اخستې شوې وی -" (10)

محترم همیش صاحب د قاسم علی خان شعر ونه پیش کړی دی - او وائی چې د یونس " هغه پوه ګڼه یونسه په ابجد ستا" او د قاسم علی خان " ابجد بدان" دا حقیقت څرګندوی - نو په دې حقله زما دا عرض دے چې قاسم علی خان ابجد بدان ونیلی دی - چې معنیٰ یې مونږ داسې کولے شو چې "په ابجد پوه شه" دا یې نه دی ونیلی چې "زما په ابجد پوه شه" - په دویم شعر

www.pukhto.net

کښې يې "یک هزار و یک صد هشتاد و سه" یعنې ۱۱۸۳ هجری کال یاد کړے دے او په دریم شعر کښې يې "قجفغ" چې عدد يې هم هغه ۱۱۸۳ راوخی ښیئلے دے ۔ او لوستونکیو ته يې وئیلی دی چې په ابجد يې هم پوه شی ۔ د دې برعکس یونس خپل ابجد یادوی نو کهٔ فاضل نقاد دا منی چې ابجد هم د چا ملکیت وی نو بیا تیک ده ۔

په دغه اقتباس کښې هغوی دویمه خبره دا کړې ده چې بل د اسې مثال دې راته پیش کړی ۔ نو په دې حقله زهٔ فاضل نقاد ته دومره وایم چې د یونس د دې شعر چې معمیٰ ده مثال دې پیش کړی ---

څو چې نیم لبّ يې نمک اخستے نهٔ دے

د یونس نمکی اسم پرې حرام شه

ضروری نهٔ ده چې د هر څهٔ مثال دې موجود وی ۔ یونس په خپل دیوان کښې نورې هم ډیرې معمې وئیلی دی چې هغه په کلهم پښتو ادب کښې په نظر نه راځی ۔ د یونس په زیر بحث شعر کښې کهٔ مونږ د همیش صاحب کړې معنیٰ واچوو نو شعر هم بې معنې کیږی ۔ ځکه چې سل شپږ پنځوس او دوه اویا دوه نام شی نو څهٔ چل به وشی ۔ ځکه چې د سل شپږ پنځوس او دوه اویا نه ګڼ نومونه جوړیدے شی ۔ نو بیا اخر شاعر وئیل څهٔ غواړی ۔ بنکاره خبره ده چې دلته ابجد په خپله نزدې معنیٰ کښې نهٔ دے استعمال شوے ، بلکې مراد ترې اب او جد یعنې پلار او نیکهٔ دی ۔ او زما په خیال چې په دې کښې معمیٰ هم دغه ده چې ابجد په خپله معنیٰ استعمال شوے نه دے ۔ ګنی د عدد نه خو هر سړے ښهٔ په اسانه نوم جوړولے شی ۔

لکه چې ووئیلے شو محترم همیش صاحب په خپله د دې معمې څه

www.pukhto.net

حل نۀ دے پیښ کړے صرف د قلندر صاحب په پیښ کړی حل یې اعتراض کړے دے لیکی---

"د یونس دې مصرعه کښې "چې سل شپږ پنځوس او دوه اویا دوه نام کا" د هیڅ قسم کومې نوې لاحقې سیوا کولو ته اشاره نۀ کوی او صرف هم له دغو الفاظو نه خپل مقصد راویستل غواړی نو څکه دا خیال چې ګنی د احمدی جیو او محمدی جان به د یونس خان پلار او نیکۀ وی د معمې درست حل نۀ شی کیدے۔" 12

محترم قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د دې معمې په حقله لیکی چې---

"هسې خو د دې عددونو څنې ډیرې نامې جوړیدے شی خو هر کله چې د دیوان په حاشیه د معمو حل د محمدی په دستخط شوے دے نو پکار دے چې د دې عدد اولنے تعلق محمدی سره فرض کړے شی۔" 13

له دې نه پس قلندر صاحب په یوه طریقه احمد جیو او محمدی جان نومونه راایستلی دی او په بله طریقه ې تړې یوسف او یسع نومونه اخستی دی۔ خو زمونږ فاضل نقاد ې منلو ته تیار نۀ دے۔ یونس په دغې مقطع کښې د خپل پلار او نیکۀ نوم ښیئلے دے۔ خو په یو حساب هم له دغې عددونو نه نور محمد خان نوم نۀ راووځی کوم چې پټې خزانې د یونس پلار یاد کړے دے۔

لکه چې قلندر صاحب وئیلی دی له دې عددونو څنې ډیرې نامې

www.pukhto.net

جوړیدے شی نو چې هر کله د همیش صاحب د محمدی او احمد په لاحقو اعتراض دے نو کۀ زۀ دا ووایم چې د "سل شپږ پنځوس" نه یوسف او د "دوه اویا" نه مراد باسط دے نو په دې کښې د لاحقې خبره هم نشته - پکار دے چې محترم نقاد یې وۀ منی - گنی په خپله دې کوشش وکړی او له دې عددونو دې نامې راوباسی - خو چې هر څنگه نامې تړې راوباسی نو نور محمد خان نوم تړې قطعاً نۀ شی راویستے - او پټې خزانې د یونس د پلار نوم نور محمد خان راخستے دے - خکه نو د قلندر صاحب دا خبره چې د رحمت هوتک پیښور ته تگ او د یونس سره یوه میاشت تیرول محض یوه افسانه ده ، بیخی حقیقت دے او چې دا حقیقت شی نو پته خزانه خپل استناد بائلی -

محترم عبدالشکور رشاد صاحب د "نازو انا یاد" کښې د "یونس د یوې معما حل" د عنوان لاندې د قلندر صاحب په حل اعتراض کړے دے او په خپله یې دغه معمې دا سې حل کړې ده - چې سل شپږ پنځوس او دوه اویا یې جمع کړی دی دوه سوه اتویشت یې تړې راویستی دی بیا یې تړې لس لرې کړی دی نو دوه سوه اتلس عدد تړې جوړ شوے دے - او دوه سوه اتلس نه محمد یونس جوړیږی - محترم رشاد خان صاحب لیکی ---

"زۀ گومان کوم د "نام" په کلمه کښې چې کومه توریه سته، هغې د بناغلی قلندر خان فکر له لارې ایستلے او د "نام" غیر مقصودی مگر نژدې معنا ته یې متوجه کړے دے -------- "نام" د میم په زور په عربی ژبه کښې د "بیدۀ سو" معنا لری - ---- زما په خیال په دغه تر بحث لاندې معما کښې د نام کلمې دعربی معنا

www.pukhto.net

مجازی ارخ مقصوده دد۔" (14)

د محترم رشاد خان په وینا به لوستونکی پوه شوی وی هغوی دا وئیل غواړی چې "نام" په عربی کښې "وودهٔ شو" په معنیٰ دے۔ نو د یونس په شعر کښې هم دغه نام استعمال شوے دے۔ یعنې د سل شپږ پنځوس او دوه اویا نه به "دو" چې ابجدی عدد یې "لس" جوړیږی منفی کړو نو دوه سوه اتلس به پاتې شی او دوه سوه اتلس نه محمد یونس جوړیږی۔ په دې حقله زهٔ دومره عرض لرم۔ چې په دې شعر کښې توریه شته خو په "ابجد" کلمه کښې ده په "نام" کښې نه۔ بله دا چې "نام" خو وودهٔ شو معنیٰ لری خو منفی کولو ته وودهٔ کول په کومه ژبه کښې وئیلے شی۔ پکار دی چې د یوې ژبې نه یې د دغسې استعمال مثال پیش کړے وے۔ د شعر په وړومبے مصرعه کښې "نام" د میم په زور نهٔ دے استعمال شوے۔ او کهٔ د یونس مطلب تری هم دغه وهٔ کوم چې محترم رشاد خان صاحب بیان کړے دے۔ نو بیا خو هغهٔ دا شعر داسې وئیلے شو چې---

چې له دو صد او اتو یشت نه دو نام کا

هغه پوه ګنه یونسه په ابجد ستا

رشاد خان صاحب د شعر له وړومبی مصرعې نه محمد یونس نوم رااایستلے دے۔ خو خبره دا ده چې یونس په خپل ټول دیوان کښې چرته خان ته محمد یونس نهٔ دې وئیلے۔ تر دې پورې چې د قلمی دیوان ترقیمه کښې هم صرف یونس لیکلے شوے دے او د افغانستان د حکومت له خوا یې دیوان "د یونس د دیوان" په نامه چاپ شوے دے۔ دغسې په فرهنګ پښتو ادبیات کښې هم فقط یونس ذکر شوے دے۔ صرف پټه خزانه کښې محمد

www.pukhto.net

هوتک محمد یونس خان لیکلے دے او محمد یونس خان دابجدو په حساب اووۀ سوه نهۀ شپیتۀ جوړیږی - بناغلی رشاد خان صاحب مونږ ته د نام په حقله بلد دیر معلومات راکړی دی او په شعر کښې ئې راته توریه هم په ګوته کړې ده خو دې خبره باندې ئې هیڅ رڼا نۀ ده اچولے - کۀ په دیوان کښې یونس چرته هم خان ته محمد یونس وئیلی وی نو بیا ټیک ده - مطلب دا چې رشاد خان صاحب د معمې نه کوم نوم راایستے دے هغه نۀ په دیوان کښې شته او نۀ د محمد هوتک په تالیف کښې راغلے دے خکه نو د محترم رشاد خان صاحب دا حل غلط دے۔

محترم رشاد خان صاحب یو عالم فاضل سړے دے پکار دی چې دې خبرې ته ئې سوچ کړے وے۔ یو عدد په دوه قسطونو کښې وئیل اخر څۀ مقصد لری؟ یونس چې "سل شپږ پنځوس او دوه اویا" وائی نو "دو صد اتویشت" ولې نۀ وائی - بل دا چې کۀ چرې یونس ترې "دو" منفی کول غوښتل نو د وړومبی مصرعې په سر کښې ئې د "چې" په خائ "له" ولې نۀ پکار ولو - یونس په خپل دیوان کښې نورې هم ډیرې معمې وئیلی دی لکه د خپل نوم یوه معمیٰ ئې داسې ده ---

چې د قول لام دریمه حصه کم شی

باقی قول د یونس په نام ګواه 15

دا معمیٰ محمدی صاحب داسې حل کړې ده چې د "قول" عدد یو سل او شپږ دیرش دے او د یونس عدد یو سل شپږ ویشت دے۔ چې د "قول" "ل" نه دریمه حصه کم شی یعنې د "ل" د عدد دیرش نه "لس" عدد کم شی نو د یونس نام شی - مطلب دا چې د منفی کولو دپاره په دې شعر کښې یونس د

www.pukhto.net

"کم شی" الفاظ استعمال کړی دی - که مونږ د رشاد خان صاحب په "نام" پښې خو نو بیا به دلته هم د "نام" معنیٰ منفی کوو - او چې دغسې وکړو نو شعر به بې معنې شی - دغسې یوه بله معمیٰ هم ده چې په هغې کښې هم د منفی کولو خبره کوی خو منفی ته نام نه وائی ---

له یعقوبه پونده لرې شوه ښه نه وه

په هغه عونس بهی ورته انعام شة

بیا هغه بهی چې پښه ورلره نه وه

د یوسف اسم تړې هله سر انجام شة 16

په ورومبیږ مصرعه کښې "له" راغلے دے او د منفی کولو دپاره ې "لرې شوه" الفاظ استعمال کړی دی - قلندر صاحب دا معمیٰ داسې حل کړې ده چې - د یعقوب نه "عقب" لرې کړے شی نو "یو" پاتې شی - عقب پوندې ته وتیلے شی - بهی یوه میوه ده چې په عربیږ کښې ورته "سفرجل" وائی او چی د بهی یعنی سفرجل نه پښه (چی عربی کښې ورته "رجل" وائی) لرې کړے شی نو "سف" پاتې کیږی او چې د "یو" سره "سف" ملګرے شی نو "یوسف تړې جوړ شی -

د یونس په ذکر د قلندر صاحب له خوا بل اعتراض دا دے چې --

"پته خزانه یونس د خیبر وسیدونکے ګڼی او هر څو که خیبر یوه وسیعه علاقه ده او په خپله دا خبره چې رحمت هوتک هغه سره د یوې میاشتې د قیام نه پس ته هم هغه ځاې په ګوته نه کړے شو کوم ځاې چې یونس وسیدة دروایت د تضعیف دپاره کافی ده-" 17

www.pukhto.net

د هغوی د دې خبرې په جواب کې ما ـ د غول پارسنګ لیکی چې ---

" معلومه دې وی چې خیبر نه سر یوه ر سیمه علاقه ده بلکې هم په دغه علاقه د خیبر په نامه یو کې هم جود دے او دا کیدے شی چې د رحمت هوتک خیبر هم خیبر کلے وی ـ" 18

خیبر د یوې علاقې نامه ده او زه دیر پ ق سره دا خبره کوم چې د خیبر په علاقه کښې د اسې کلے نشته چې نوم یې خیبر وی ـ پکار دی چې فاضل نقاد مونږ ته د خیبر کلی حدود اربعه په کوته کړی ـ

محترم همیش صاحب د دغې اعتراض په جواب کښې وړاندې د مراد شنواری د تالیف "د خیبر ادب" حواله ورکوی چې په هغې کښې هم د دې دیر شو شاعرانو د وسیدو خایونه نه دی ښیلی شوی ـ نو که مراد صاحب تذکره لیکله نو په هغه هم مونږه دغه اعتراض کوو چې ولې یې نه دی ښیلی ـ دې ته خو خان له ملګری کتل ونیلے شی د اعتراض جواب هیڅ کله هم نه دے ـ

محترم قلندر صاحب وړاندې لیکی ---

" د یونس د دیوان نه د اسې معلومیږی چې هغه د غرونو وسیدونکے نه وه ـ د یونس یو شعر دے ---

په اسره یې سر کشان له غره راکوز شی

بې دعوې غالب په غراو په سم زر دی

دې شعر کښې د "راکوزیدۀ" د فعل استعمال صرف په هغه وخت ممکن وو چې یونس په سمه کښې وسیدلے ـ که د محمد هوتک د

www.pukhto.net

تالیف روایت صحیح وے او یونس په خیبر کښې وسیدے نو د دې شعر صورت به داوۀ --

په اسره یې سر کشان له غرۀ ور کوزۀ شی

بې دعوې غالب په غرۀ او په سم زر دی [19]

ددې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ----

"دا معلومه نۀ ده چې په قلمی نسخه کښې د اشعر به هم داسې وی لکه چې بناغلی عبد الله خدمتگار رانقل کړے دے او کۀ نه؟ حکه چې د قلمی نسخې د اشعارو په رانقل کولو کښې د سهو او غلطیو امکان هم وی -" [20]

چې کله یو شعر په دلیل کښې پیش کړے شو نو زمونږ فاضل نقاد ته دا خیال ورغے چې په قلمی نسخه کښې به هم داسې وی او کۀ نه؟ ولې کله چې د رحمان بابا د وفات کال د یونس د شعر نه راوکاږی نو بیا هغه وخت چاپی نسخه هر څۀ هر څۀ گنی او هلته د قلمی نسخې ضرورت هم نۀ محسوسوی - بلکې چې په قلمی کښې مهمان لیکلے شوې وی نو هغه په خپل اختیار "میهمان" کوی - گران لوستونکی دې فیصله وکړی چې دا تحقیق او تنقید داسې وی؟

په چاپی دیوان د اعتراض کولو نه پس محترم همیش صاحب د عمران دا شعر پیش کوی او لیکی ---

زرۀ مې ورک شو خدایه کوم طرف ته یې گورم

له کشمیره پسې سریم تر ختکو

"اوس کۀ چرې مونږ د ذکر شوی شعر له مخه د اووایو چې

www.pukhto.net

عمران د هزار خوانی نه بلکې د کشمیر وسیدونکے وۀ نو دا خبره به بیخی غلطه وی۔ او کۀ څوک دا ووائی چې کیدلے شی عمران څۀ وخت دپاره کشمیر ته تلے وی، نو بیا دا اعتراض خپله د معترض ددې توجیه خلاف دے هم دغه لږ کښې لیکی۔

(د شاعر په لاشعور کښې د یو مستقل حقیقت بنکاره کولو دپاره استعمالیدونکی علامتونه تل مستقل حیثیت لری او دا نۀ شی کیدے چې کوم څیز ته هغه افاقی صد اقت وائی هغه دې په عارضی علامتونو بدل کړی۔ ص۔ ۳۲) 21

یونس په خپل شعر کښې د زرو خبره کړې ده چې ددې په اسره سرکشان له غرۀ نه راکوز شی یعنې یو حقیقت ې بیان کړے دے۔ او زمونږ فاضل نقاد د عمران شعر پیش کوی چې په هغې کښې د زړۀ د ورکیدو او ورپسې د ګرځیدو خبره شوې ده چې فقط یو شاعرانه خیال دے۔ نو زۀ د فاضل نقاد نه پوښتنه کوم چې زړۀ هم چرته ورکیږی او بیا ورپسې ګرځیدۀ کیږی؟ پکار دی چې همیش صاحب د یونس د شعر په شان شعر پیدا کړی نو بیا به پرې بحث وکړو۔ زما په خیال د یونس له دغې یو شعر نه چې په کښې د "راکوزیدۀ" د فعل استعمال شوے دے او د غرۀ خلقو ته سرکشان ونیلی شوی دی دا خبره په دې اګه کیږی چې هغه د غرنیزې علاقې وسیدونکے نۀ وۀ۔

د قلندر صاحب له خوا وراندې اعتراض دا شوے دے چې ---

"د یونس د دیوان د څنو شعرونو نه دا استنباط کیدے شی چې دے د یوې داسې سیمې وسیدونکے وۀ چې هغه د حکومتی جبر

www.pukhto.net

او د معاشرتی استحصال بنکار وه ـ دا شعرونه ې خاص طور سره د غور بلنه ورکوی ـ ـ

رعیت د ظالمانو ظلم ورک کړه

په انصاف غوری ې نه اخلی خبر څوک

اربابان او حاکمان سره یو لاس کا

نور د خوار او غریب اوری شور او شر څوک

په دویم شعر کښې د "اربابانو" تورے د ابنکاره کوی چې یونس د یوې د اسې سیمې سره تعلق لرلو چې هغه د اربابانو د سیاسی تسلط د لاندې وه ـ د اسې سیمه صرف د غوریا خیلو کیدے شی خکه چې صرف د غوریا خیلو اولسی مشران او خانان د اربابانو په نامه یادیږی ـ او په دولسمه پیړۍ کښې غوریا خیل (خلیل مومند او د اوّدزی) هم په دې علاقه میشته وو کومه کښې چې دوی اوس هم پراتهٔ دی ـ خکه نو اغلب خیال هم دا کیدے شی چې یونس غوریا خیل او یا د غوریا خیلو په سیمه کښې وسیدهٔ ـ" 22

د دې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ـ ـ ـ

"یونس په ذکر شوو اووهٔ ویشتو شعرونو کښې د حکومت له خوا د واکمنو طبقو د اختیار مندو د ظلم ذکر کړے دے ـ د غه طبقه کښې صرف اربابان نه دی شامل، بلکې بادشاهان، شهزادگان، امراء، حاکمان، ملکان، پیادگان، کوتوالان، راهداران، قاضیان، مفتیان، او محتسبان ټول شامل دی ـ چې د علاقیز

www.pukhto.net

استحصال په خاي د ټول ملک په معاشرتی ژیاتو او استحصال رڼا اچوی۔ 23

د نسل نقاد محترم همیش صاحب د یونس د دغه غزل متعلق چې شعرونه تري پېښ شو دا رای لری چې دا د ټول ملک په معاشرتی ژیاتو او استحصال رڼا اچوی۔ خو هم په دغه غزل کښې یو شعر دا هم دے۔۔۔

پیادگان، کوتوال، ر هدار لیونی سپی دی

په دکه دي خدای مخوک نه کا برابر مخوک

په دي شعر کښې د استعمال شوی "دکه" نه د افغانستان عالمانو مراد د خیبر هغه خوا علاقه اخستې ده۔ چې قلندر صاحب پرې اعتراض کړے دے او د "په دکه اخستل" معنیٰ ې تنګول، د لاسو پښو نه نیول او خورندول او دیکه ورکول دی۔ د دکه په حقله بحث همیش صاحب په تاریخی ماخذ کښې کړے دے او ما ې جواب ورکړے دے هلته ې کتلے شې زه دلته صرف د محترم مشر نه دومره پوښتنه کوم چې هر کله دغه غزل د ټول ملک په معاشرتی ژیاتو او استحصال رڼا اچوی نو آیا دا "دکه" دومره اهم خاي وه چې په ټول غزل کښې یونس دبل یو خاي نوم نه دے اخستے او یوه دکه ې یاده کړې ده۔

همیش صاحب د دغې اعتراض په جواب کښې وړاندې لیکی۔۔۔

"اوس دا خبره چې صرف د غور یا خیلو اولسی مشران او خانان دار بابانو په نامه یادیږی بیخی غلطه او بې بنیاده خبره ده۔ او دغه ضمن کښې د معترض معلومات هم ډیر سطحی دی۔ ځکه چې د بلوچستان په خنو پښتنو علاقو کښې هم د اسې ډیر اولسی

www.pukhto.net

مشران شته چې هم اربابان بللے شی - پرته (؟) د پښتنو نه په غیرو پښتنو کښې هم اولسی مشران داربابانو په نوم یادیږی - (24)

قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د غوریا خیلو متعلق لیکلی دی چې مشرانې په اربابانو یادیږی - او په حاشیه کښې لیکی چې --

"د کاسیانو مشران هم اربابان یادیږی خو دلته د "کاسیانو" ذکر بې خایه دے -" (25)

د دې باوجود هم فاضل نقاد په خپل معترض د ډیرو سطحی معلوماتو لرلو الزام لګولے دے - کۀ په بلوچستان کښې د خنو پښتنو مشران په اربابانو یادیږی نو هغه هم دغه کاسیان دی چې په بلوچستان کښې آباد دی او قلندر صاحب لیکلی دی - باقی خومره پورې چې د غیر پښتنو خبره ده نو د هغې د لیکلو ضرورت څۀ وۀ؟ خکه چې یونس پښتون وۀ - بلکې قلندر صاحب خو له دې وجې کاسیان هم د خپل بحث نه ایستلی دی خکه چې یونس په بلوچستان کښې نۀ وسیدو -

محترم همیش صاحب وړاندې لیکی ---

" کۀ محمد یونس خان پخپلو شعرونو کښې محض د اربابانو د لفظ په راوړلو غوریا خیل او یا د غوریا خیلو په سیمه د وسیدلو اغلب خیال څوک کولے شی نو بیا بل چا ته هم دا حق حاصل دے چې هم په دغه بنیاد محمد یونس ته د افغانستان د شمالی یا مرکزی ولایتونو او یا د بلوچستان د پښتنو د کومې سیمې یا خایۍ وسیدونکے ووائی -" (26)

زمونږ فاضل نقاد چې چرته ارباب تورے لیدلے دے نو هغه ې پیش

www.pukhto.net

کړے دے یو دا ډ نه دی وئیلی چې په قرآن شریف کښې هم ارباب لفظ موجود دے - په دې حقله زه دومره عرض مناسب ګڼم چې په پښتنو کښې د تاکال اربابان، د لنډیۍ اربابان وغیره خو عام طور سره چې غوریا خیل دی یادیږی خو دبل ځایې اربابان دې ګران مشر ماته په ګوته کړی -

قلندر صاحب د پټې خزانې او پښتانه شعرا. دا شریک روایت چې یونس د رحمان بابا شاګرد وو هم غلط ګڼی - هغوی لیکی ----

"د یونس او رحمان بابا تر مینځه داستاذی او شاګردی رشته هم د رحمت هوتک د افسانې یوه حصه ده چې د یونس دیوان پرې هیڅ شهادت نه ورکوی - صرف په دې بنیاد چې د یونس دیوان کښې یو نظم داسې دے چې د رحمان بابا مرګ ته په کښې اشاره شوې ده، دا دعوی کول چې یونس د هغه شاګرد وه صحیح نه ښکاری -" (27)

خو د هغوی په جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

"د یونس په دیوان کښې د رحمان بابا ذکر خپله د رحمت هوتک د وینا تصدیق کوی د کوم موجودګی چې د رحمان بابا او یونس تر مینځه د استاذی او شاګردی په ځایې د دغو دواړو شاعرانو د دوستی په ثبوت کښې د پیش کولو کوشش شوے دے او هغه هم هله چې په قول د معترض که هغه د چا مرثیه لیکل صرف د هغه د معاصر ذمه واری وګڼی -" (28)

د یونس په ټول دیوان کښې یو نظم کښې د یو ځو شعرونو په لیکلو یونس د رحمان بابا شاګرد ګڼل یوه عجیبه خبره ده - که استاذی

www.pukhto.net

شاگردی په دې شی نو بیا خو نجیب، عبد العظیم بابا، ملا لتار، اخون کدا
وغیره ټول د رحمان بابا شاګردان ګڼل پکار دی - د یونس او رحمان بابا
استاذی او شاګردی ړ دا افسانه د پټې خزانې د دریافت کیدو نه مخکښې
حبیبی مرحوم ته معلومه وه - خکه چې هغوی په پښتانه شعرا. کښې دغه
خبره کړې ده (پښتانه شعرا. ص - ۲۰۳) که مونږ داومنو چې رحمت هوتک
دا انکشاف کړے دے نو بیا دا سوال راپورته کیږی چې حبیبی صاحب ته
دغه انکشاف څنګه او له چرته نه شوے وه؟ د اسې خو نه وه چې د پټې
خزانې نسخه د حبیبی صاحب سره د پښتانه شعرا. لیکلو په وخت
موجوده وه خو هغه وخت هغوی د دې څرګندونه نه کوله - د پټې خزانې
د شاعرانو د مولف او ددغې تذکرې د محشی او مترجم په غلطیو متفق
کیدل دا خبره په ډاګه کوی چې پټه خزانه جعلی ده -

قلندر صاحب وړاندې لیکی -----

"په دې لړ کښې د چاپی دیوان مقدمه لیکونکے د یونس دا شعر
پیش کوی --

حقیقت ې و یونس وته څرګند دے

دیر غرور دې په خپل شعر خټک نه کا

او دا سوال بې خوابه پریږدی چې دې شعر کښې خټک نه د
شاعر مطلب کوم خټک دے - بناغلی مقدمه لیکونکی دا شعر د
رحمان بابا د شعر ---

که ې شعر د رحمان مومند تر غوږ شی

غوږ به نه باسی په شعر د خوشحال څوک

www.pukhto.net

نه پس او د هغه په حواله لیکلے دے او خکه تري دا تاثر اخستے شی چې شاید یونس هم خپل شعر کښې خوشحال بابا ته اشاره کړې ده۔" 29

محترم همیش صاحب د هغوی د دې خبرې په جواب کښې لیکی چې ---

"د خټک نه مراد د بناغلی مقدمه نویس چرې هم خوشحال خان خټک نه دے۔ خو آیا زه دا پوښتنه کولے شم چې دغه اعتراض سره اخر د پټې خزانې څه تعلق دے؟" 30

د یونس د دیوان د مقدمه لیکونکی پوره خبره زه نقل کوم او لوستونکی دې انصاف وکړی چې له دې نه دا تاثر ولاړیږی او که نه؟

"یونس په شاعرۍ کښې د رحمان بابا شاګرد دے۔ دې هم خپل استاذ غوندې د پښتو په ستر شاعر خوشحال خان خټک ری نه وهی۔ استاذ وانی ---

که ې شعر د رحمان مومند تر غوږ شی

غوږ به نه باسی په شعر د خوشحال څوک

مګر شاګرد په دې برخه کښې د استاذ نه قدم اړوی او خټک ته توصیه کوی چې په خپل شعر دې مغرور نه اوسی ---

حقیقت ې و یونس وته څرګند دے

دیر غرور دې په خپل شعر خټک نه کا

کوم حقیقت؟ او کوم خټک؟ که د خټک نه د شاعر مراد خوشحال خان خټک وی نو دا پوښتنه مخ ته راځی چې دهغه د

www.pukhto.net

شخصیت حقیقت؟ کۀ یې د شاعری؟ د! خبرہ څنګه شوه؟ خدایې زده چې اصلی حقیقت به څنګه وی؟" (31)

اوس دې لوستونکی انصاف وکړی چې مقدمه لیکونکی خوشحال بابا یاد کړے دے او کۀ نه؟ باقی څومره پورې چې د دې خبرې تعلق دے چې د دې اعتراض د پټې خزانې سره څۀ تعلق دے؟ نو باید چې ګران مشر په دې لږ غور کړے وے۔ بیا یې هم زۀ دوی ته تعلق بنیټل غواړم۔ قلندر صاحب لیکی ---

د یونس دا شعر د کامګار خټک د یو غزل په جواب کښې دے چې مقطع یې دا ده --

هسې در کامګار خټک نۀ دی پیښلی
چې غوری خښی به غوږ څنې ډک نۀ کا

او دې مقطع کښې سخن ګسترانه خبرې یونس مجبور کړے دے چې د خټک دعویٰ په غرور مبنی وګڼی۔" (32)

له دې نه د قلندر صاحب غرض دا دے چې یونس د رحمان بابا په طرفداری کښې دغه شعر نۀ دے وئیلے۔ لکه چې د یونس د دیوان مقدمه لیکونکے یې ثابتول غواړی۔ دا هم د یونس او رحمان بابا د استاذی او شاګردی د افسانې یوه کړی ده۔ اوس دې وګورې چې د پټې خزانې سره یې تعلق شته او کۀ نه؟ بل د قلندر صاحب موقف دا دے چې یونس د غوریا خیلو سره تعلق لری۔ ځکه نو د کامګار خټک په شاعرانه تعلی بد ګڼی او جواب یې کوی۔

د یونس په ذکر د قلندر صاحب اخری اعتراض دا دے ---

www.pukhto.net

"پته خزانه په ۱۱۴۲ هجری کښې پای ته رسیدلی ده او د ۱۱۳۰ هجری نه دولس کاله پس چې محمد هوتک د یونس د ژوند د کوی نو ددې نه دا معلومیږی چې هغه ته دا علم وه چې یونس لا ژوندے دے ۔ له بده مرغه محمد هوتک د خپل دې علم ذریعه نه ښئ ۔ حال دا دے چې ۱۱۳۵ هجری نه پس ته چې د خپل ژوند کوم حالات بیانوی هغو کښې نه د پیښور د سفر ذکر شته او نه د خیبر د سیل څه سر کړشت ۔" 33

د دې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

"دا څنګه ځوک په یقین سره ونیلے شی او یا د دې خبرې څه ثبوت دے چې د یونس د پاره دا دعا محمد هوتک د خپلې تذکرې د تکمیل په وخت یعنې په کال ۱۱۴۲ هجری کړې ده؟ آیا دا نه شی کیدے چې هم په کال ۱۱۳۰ هجری کښې د یونس د غزلو تر لاسه کولو په وخت محمد هوتک په خپله تذکره (چې هغه وخت د لیکلو په مرحله کښې وه) کښې هم هغه وخت د لیکلو په دوران کښې کړې وی چې ورروستو بیا په کال ۱۱۴۲ هجری کښې تکمیل شوه؟ 34

د محترم همیش صاحب د دې خبرې نه دا خبره واضحه کیږی چې محمد هوتک په ۱۱۳۰ هجری کښې د دې خزانې په لیکلو شروع کړې وه حالانکې دا سې بیخی نه ده ۔ او زه دا په دومره وثوق سره څکه وایم چې د دغې تذکرې مولف په خپله وائی چې ---

"په دغه خزانه چې ما په کښلو ابتدا وکا ورخ وه د جمعې ۱۶ د

www.pukhto.net

جمادی الثانی سنه وه (۱۱۴۱) هجری ـ" 35

نو اوس دې ګران لوستونکی فیصله وکړی چې زمونږ ګران مشر تیک ونیلی دی او که نه؟

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص ـ ۲۶،۲۷
2. تول پارسنګ ص ـ ۶۵
3. په تله کښې پارسنګ ص ـ ۱۱۹
4. پته خزانه فی المیزان ص ـ ۲۷،۲۸
5. تول پارسنګ ص ـ ۶۶
6. هم دغه کتاب ص ـ ۶۶،۶۷
7. هم دغه کتاب ص ـ ۶۷،۶۸
8. پته خزانه فی المیزان ص ـ ۲۸،۲۹
9. تول پارسنګ ص ـ ۶۸
10. هم دغه کتاب ص ـ ۶۹
11. دیونس دیوان ص ـ ۱۹۴
12. تول پارسنګ ص ـ ۷۰،۷۱
13. پته خزانه فی المیزان ص ـ ۳۰
14. د ناز و انا یاد ص ـ ۳۲،۳۳
15. دیونس دیوان ص ـ ۱۸۸
16. هم دغه کتاب ص ـ ۱۹۳

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

17 پته خزانه فی المیزان ص - ۳۲،۳۱

18 تول پارسنگ ص - ۷۲

19 پته خزانه فی المیزان ص - ۳۲

20 تول پارسنگ ص - ۷۳

21 هم دغه کتاب ص - ۷۴،۷۳

22 پته خزانه فی المیزان ص - ۳۴،۳۳

23 تول پارسنگ ص - ۷۶،۷۷۵

24 هم دغه کتاب ص - ۷۸

25 پته خزانه فی المیزان حوالی او حواشی نمبر ۱۰ ص - ۴۰

26 تول پارسنگ ص - ۸۰،۷۹

27 پته خزانه فی المیزان ص - ۳۶،۳۵

28 تول پارسنگ ص - ۸۲،۸۱

29 پته خزانه فی المیزان ص - ۳۶

30 تول پارسنگ ص - ۸۳

31 دیونس د دیوان مقدمه وولسم مخ

32 پته خزانه فی المیزان ص - ۳۷

33 هم دغه کتاب ص - ۳۹،۳۸

34 تول پارسنگ ص - ۸۶،۸۵

35 پته خزانه دوهم چاپ ص - ۶

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

www.pukhto.net

اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ

په پټه خزانه شویو اعتراضونو کښې د قلندر مومند صاحب له خوا یو اعتراض دا هم دے چې هواد یا هیواد تورے په پټه خزانه کښې هر ځایې د وطن په معنیٰ پکارولے شوے دے حالانکې متقدمینو دا تورے د وطن دپاره نۀ پکارولو - هواد یا هیواد له د وطن معنیٰ ډیره وروستو ورکړې شوې ده - ځکه نو هغوی پټې خزانې ته یو جدید کتاب وئیلو کښې ځان حق په جانبه ګڼی - هغوی په خپل کتاب پټه خزانه فی المیزان کښې د "بیلګې" د عنوان لاندې هغه ټول توری په ګوته کړی دی چې هغه یا خو پخوا نۀ استعمالیدل او یا پخوا په یوه معنیٰ کښې پکار راوستے شو او د پټې خزانې مولف په بله معنیٰ کښې په خپل تالیف کښې راخاېې کړی دی - د هواد یا هیواد په لړ کښې هغوی لوستونکیو ته د دې ثابتولو دپاره چې د هواد یا هیواد معنیٰ وطن نۀ ده د پښتو زور ادب نه ډیرې نمونې پیش کړی دی - د هغوی د دغه کتاب په جواب کښې محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې په دغه موضوع بحث کړې دے او د خپل موقف په تائید کښې هغوی هم د پښتو زور ادب نه څۀ نمونې وړاندې کړی دی - هر څو کۀ د هغوی پیش کړې نمونې د قلندر صاحب د پیش کړیو نمونو نه ډیرې کمې دی خو بیا هم زۀ پرې د بحث ضرورت محسوسوم - بل په هغې د بحث یوه بله وجه هم ده او هغه دا چې د قلندر مومند صاحب پیش کړیو شوو نمونو کښې څنې د اسې نمونې هم شته چې بناغلے همیش خلیل ترې هغه

www.pukhto.net

معنې نۀ راوباسی کومې چې ترې قلندر مومند صاحب راوکښلی دی ۔ او ځنې نمونې په کښې د اسې هم دی چې محترم همیش صاحب نۀ خو د هغې نه نورې معنې راوکښلی دی او نۀ ئې په خپل کتاب کښې د هغې ذکر کړې دے ۔ حالانکې په حیثیت د یو نقاد د همیش صاحب دا فرض جوړیدل چې د هغوی پیش کړې شوې نمونې ئې غلطې ثابتې کړې وے ۔ او د خپل موقف په تائید کښې ئې د هغوی د پیش کړیو شوؤ نمونو نه زیاتې نمونې لوستونکیو ته وړاندې کړې وے ۔ نو شاید چې گران لوستونکی ئې قانع کړې وے ۔ ځکه نو ما ضروری وگڼل چې د دواړو محترمو لیکونکیو پیش کړې شوې نمونې په یو ځائې لوستونکیو ته مخې ته کړم شاید چې هغوی ته په فیصله کولو کښې اسانی پیدا شی ۔ خو د طوالت له ویرې زۀ د دواړو لیکونکیو د تبصرو نه ډډه کوم ۔

د هواد یا هیواد په حقله د محترم قلندر مومند موقف دا دے چې په پښتو زوړ ادب کښې دا تورے د "لرې"، "فاصلې" او "بُعد" په معنئ راغلے دے ۔ هغوی چې د زوړ پښتو ادب نه د نظم او نثر کومې نمونې پیش کړی دی هغه ځۀ په دې دول دی :-

دوه مئین چې په هواد وبله بیل شی
خدائې ئې ځشکله د تش سلام محتاج کا

د هواد یاران مې هر زمان یادیږی
چې ئې مخ په خوب کښې وویښم وویارم

www.pukhto.net

هغه یار چې له ما لرې په هوا ددے

همیشه راته حاضر د زړۀ په یاد دے

خوشحال بابا

چې په وقت د تلو راتلو کا چغارونه

د هوا د یاران رایاد زانې اکثر کا

کۀ نزدې کۀ په هوا ددی

کۀ په زړۀ لکه فولاد دی

په تحقیق چې نیم دیدن ورلره یوسی

له هواده چې یار وکاندې په یار خط

د مقصود کعبه کۀ لرې په هوا دوی

هم وردرومی کۀ مریے وی کۀ ازادوی

چې یې شا په شا په کټ کښې ناستے نۀ شۀ

دا فلک یې په هواد څبله جدا کا

له هواده سلام راوړی

بیا د وصل پیغام راوړی

یار په هوا دنۀ دے کۀ د زړۀ مینه پیدا کا

مینه هسې څیز دے چې نزدې لرې کوینه

شپه او ورځ کړم فریادونه

غږ مې څی په هوادونه

www.pukhto.net

چې بنکاره کړی فریادونه

غږ ئې څې په هوادونه

عبدالقادر خان خټک

نن مې څۀ رنګ هیوادی اشنا یادیږی

چې ډیر ډیر ئې یادوم زړۀ مې خوږیږی

دلیلئ بیلتون له قیسه هسې نۀ وۀ

لکه زۀ ئې په هیواد کړمه له یاره

تمامی زما دغم په اوښیو لوند شۀ

نن چې خط رالره راغلے دهواد

ابو القاسم

دهیواد اشنا په ستر ګو لیدۀ نۀ شی

کۀ په خوب راته حاضر شی ډیر کرم دے

یار هر ګوره له مالرې په هیواد دے

فوائح ئې راکوی قاصد مې باد دے

چې ئې عشق زما په زړۀ اینبے بنیاد دے

همیشه ورته حاضر کۀ په هیواد دے

اشتیاق دهیوادی اشنا غالب شۀ

په خاطر مې لا ثقیل دهجر باد دے

هجری څشکل ژړانۀ کاندې واعظه

چې له یاره نصیب لرې په هواد کۀ

www.pukhto.net

شب و روز ئې خالی نۀ یمه له فکره
سوزنده آتش دکن یار په هوا ددے

اشرف خان هجری

هسې شان کوم فریاد دستا له درده
چې مې غږ ځی په هوا د دستا له درده

نجیب

چې نژدې شۀ دا فرادیو و دیرې ته
و اسمان ته تلۀ لو ګی په هوادونه
له کاروانه بهرام و ګرۍ له پوښتنه
له دې ځایه چې نژدې ګۀ هوادین ته
دچین ښار ورته ښکاره شۀ له هواده
چې ئې وے ماهی وچتې له اسمانه
چې افراد ګزار کوؤ په زمکه پریوت
دفریاد نعرې ئې تلې په هوادونه

فیاض

بیا مې یاد دخپل وطن قدر په زړۀ شی
ځوک عزت دمسافر هیوادی کاندې
ما به حال دزړۀ و یار وته ښکاره کړې
داسرار خبرې چا ته په هوادشی

سکندر خان خټک

www.pukhto.net

سبا زیرے د وصال په مهجور کاندې
د هوا د خبر موندۀ شی له سیاحه

رحمان بابا

بد نصیب له نژدې یاره
څۀ رنګ لرې په هوا د کړم
کۀ هر څو یار ته نزدې د زړۀ په یادیم
په صورت چې ځنې لرې په هیوادیم

حمید بابا

په غربت کښې ستا د هجر دلګیری ده
یک تنها دې په هوا د کړم الغیاث
هغه غم چې له ما لرې په هوا د وۀ
اوس نزدې تر ما چا پیر شۀ ستا په هجر
په خاطر ئې د وصال وطن وریږی
هر چې شپه د جدائیه په هیوا د کا
کۀ تنها د جدائیه په هوا دیم
چې دې غم راسره مل دے زۀ پرې نبا دیم
د وصال رفیق ئې چرته له ما ورک کړو
یک تنها د جدائی په هیوا د یم

www.pukhto.net

دهیواد د سیل توان ور څخه لاړ شی

په ناکام به یې په خپل کور کښې نشست شی

یونس

لرې به سبا له خپله خدایه په هواد شی

نیم قدم حسین کهٔ نن پرې کیږدی په خطا

زړونه د صورت په جدایئ نهٔ جدا کیږی

څهٔ شو کهٔ تر میانه یې فرسنګ وی یا هواد

اشنایان په یوهٔ حال وی نژدې لرې

زړه چرګه نهٔ ښوری په هوادونه

کهٔ صورت یې په هواد وی عشق یې مراد وی

چې یې نقش د یار شکل په ضمیر وی

حسین

د مئینو مسافت په تن نه زړهٔ دے

په ایواده سره زړهٔ نهٔ وی منوط

سعید خټک

لکه نوک اوری به نهٔ جدا کیدلو

باري اوس دې خپل نصیب بند په هواد کړم

چې ارام په کلی کور کښې زمانهٔ شهٔ

په نصیب کښې د انبکاره لرې هواد شهٔ

www.pukhto.net

چې د زړۀ له درده تل ژړا فریاد کړم
هغه تللې هوادی اشنا را یاد کړم
لرغونی دی هوادی طوطیان راغلی
ستا د مخ په باغ کښې ناست دی سرې مښو کې
هوادی اشنا زما چې تر څنګ کښیناست
دا په ما باندې خدائ کړې لوئ کرم دے

بیاض

له هوا ده کله ردد سلام مو مم
کۀ مې سل واره دلدار لره سلام لاړ
یا وفا په هیوادی لالی کښې نۀ وه
یا دغرۀ په اور لاسونه نۀ تودیږی

علی خان

چې زما به ئ په څنګ کښې ارام نۀ شۀ
اوس فلک له هغۀ لرې په هیواد کړم
چې فلک له ما نه یار په هوا د بیل کړو
معز الله همیشه ناست یم په ماتم کښې

معز الله مومند

و طوطیانو ور کوی عالم شکرې
دوی راغلی له هوا ده هندیان ستا

www.pukhto.net

تهٔ ولاړې هوا ددې وطن کړهٔ

هجران دې راپرېښوهٔ چې رحم ېې نهٔ کېږی

په هوا د کهٔ پسې لارم بیا مې نهٔ موند

څهٔ عجب دے کهٔ مې زړهٔ له غمه مرینه

احمد شاه بابا

دوه دسته تندے وهم په دواړه لاسه

غماز لرې له مټینه په هوا د کړم

اخون کدا

کهٔ مرغونه وو کهٔ بادوهٔ

له دهٔ پاتې په هوا دوهٔ

سوداګر نیت د سفر کړهٔ

هوادی ېې خپل تبر کړهٔ

مهین

د توحید چراغ دې بل د زړهٔ په بام کړه

چې له نوره ېې غل لرې په هوا د شی

لاندې شو تر خاوره و مهرې څکه لیدے نهٔ شی

تللی چرته نهٔ دی چې به راشی له هواده

یا د فقیرۍ خرقه په غاړه قلندر شوے

وغوښتې په سیل مې پاک نهاد په هوا دونه

حافظ الپورے

www.pukhto.net

هوادی اشنا که خپل معاذ الدینه

په بد خواه به خندا کبر او دماغ کړم

ربه اشنا مې په هوادلار شة

تة ئې وژغورې له سختی روارې

معاذ الدین خټک

څة زماد کور محلت کوے پوښتنه

هره شپه د مسافرو په هواده

د سلام درد کار کله له هواد کا

کة مې سل واره دلدار لره سلام لار

هغه یار مې لباسی وة راغلے لار شة

اوس له کوره پسې څمه په هواد زة

واړه ستا د بیلتانة جور دے چې کیږی

محمدی ورک په هواد کړم الغیاث

هغه یار شة رانه پاتې په هواد اوس

څکه نة اوړی زما د خلې فریاد اوس

چې مې پرانت زما زړة ئې له غمه خلاص کة

له هواده چې په یار راغلے د یار خط

څوک منین په هوادی ښائسته مة شه

مسافرو پسې تل ده ژړا پوچه

www.pukhto.net

تسلی د هوادی وربانديې کيږی

جمع زړۀ کا محمدی پريشان کاغذ

ګوندې اشنا هوادی راشی و خپل خدايۍ ته

کوک په کوک نعرې کړه په سر خاوړې ايرې لونه

هايۍ ارمان دے هوادی اشنا رانغے

په غم مرم هوس نصيب زما رانغے

هوادی اشنا مې اے زانې چرته دے

ما ته نژدې دے کۀ دا ساعت بيرته دے

هوادی يارہ تۀ لاړې چرته

محمدی ولاړ دے اوس ستا و در ته

هوادی يار مې کۀ نن سبا راشی

مرور بخت به هله پخلا راشی

هوادی يارہ تۀ چرته لاړې

غم مې کړې وچې په خلۀ کښې لاړې

محمدی حال تړې زۀ د هوادی يار غوارم

دوی وائی چپ شه گفتار د زانو خی

د هوادی يار خبر لانۀ راخی

په ستر گو روند شوم نظر لانۀ راخی

قاصد مې تللې هوادی يار لهٖ دے

ښادی نور خلق کا غم ما خوار له دے

www.pukhto.net

له هوادی یاره خبر رانغے

محمدی زړۀ به د چا په ځایۍ

محمدی صاحبزاده

تا د زړۀ په صاف دور بین کښې همیش وینی

کۀ هر څوئ له شیدا په هوا دوره

کاظم خان شیدا

زۀ له هواده راغلم یارانو

میرا می ولید په دوه چشمانو

بیلتونه تۀ چې دا رنګ تاختونه کړی

اشنا به لرې په هوادونه کړی

کۀ له ما لرې په بل هوا دے

په هر ساعت کښې زما په یاد دے

زۀ قلندر به هله بنادی کړم

کۀ میرا راشی له هوادونه

قلندر

له هواده ئې ویشتل

تر ې چا پیړ وو قبائل

سید حسین

www.pukhto.net

ځان جهان مې تمامی له یاده ووت

په هواد تللې اشنا چې را په یاد شۀ

میاں نعیم

دبې نیازو په دیار کښې ځیګر خون شۀ

پیر محمد ځکه هواد بل هواد کا

یو اشنا ورسره مل دلارې نۀ شۀ

یک تنها و بل هواد ته نادان ولیښ

بیلتانۀ غمونو تنګ کړم په هواد کښې

لکه ځوک په بل وطن کښې وی اوساغ

مونږ راغلی طوطیان دبل هواد یو

د قسمت په لومه بند یو بیا به ځونه

تنها راغلم له هواده تنها درومم

په دا ملک کښې تنګ غمونو دغربت کړم

مونږ له هواده تنها راغلی یو

دبې طوطیان یو په دام نتلی یو

پیر محمد

بد نصیب ناسازې چارې په ما وکړې

له نژدوې لرې لرې په هواد کړم

www.pukhto.net

په هوا مې د کشمیر د تورو ستر ګو

له زړۍ وویاستۀ نیازمن د خپل هواد

شمس الدین کاکړ

د شبنم په څیر یې اوښکې څې له ستر ګو

چې و چا ته هوادی مئین خپل یاد شی

غریب

د هواد سفر تر ستر ګو څمبل ژر کا

چې خبر په هغه دا دی درویشان شته

لرې ملک ته په ورو تلۀ کله پکار دی

له هیواده درومی کور ته کاروان ژر ژر

ښۀ یاران چې یو تر بل سره ځاریږی

زمانه به یې څۀ ژر په بل هواد کا

لرې ملک راته نژدې، نژدې کا بیرته

د وصال ژمنه یې دا کۀ بل هیواد ده

صدیق

څۀ خړ سیلاب یم د عصیان اخستے

خبر مې واخله له هیواد صاحبه

اشنا مې لاړ شۀ په هوادونه

اوس مسافر شۀ په مدتونه

www.pukhto.net

چې په هواد درومې مارغانو

چې بیا راځې داشنا راوړې سلامونه

بې لتا زه دزړه کله لرم مراد څوک

که نژدې دی یا که لرې په هواد څوک

بیل چې له یاره زه په هیواد یم

قرار مې نه شی تل په فریاد یم

بیل چې په هواد له ما زما د مینې یار شه

سپین رخسار زما پسې په وینو لاله زار شه

له تګه یاره مدام چې ې تګی شی دستور

په هوادونو لرې خپل کور ښه دے

په دیر الم کړمه ژړا زه د فلک په جور

دې بد نصیب چې بیل لتا زه په هواد کړم یاره

د مجنون هسې وحشی په صحرا سر شه

له دلبره څنې بیل چې په هواد شه

زه چې جدا شوې په هواد له خپل دلدار یم

گرځمه کړیږم بې طبیبه زه بیمار یم

چې جدا لتانه یاره په هواد شوم

د حباب په دود بې بیخه بې بنیاد شوم

په دسمال به کړم د صبر اوښې وچې

زه موندل به داشنا تللې هواد کړم

www.pukhto.net

ربه یار هوادی ما وته قریب کړی

اجابت ددې دعا زما نصیب کړې

چې جدا په هوادونو یار له یار شی

وچې شوندې ګونه زیړه زړۀ افګار شی

سر ومال به کړمه ځار زۀ له قاصده

کۀ خبر دے ما له راوړی له هواده

هوادی یار چې زۀ را په یاد کړم

له ډیره غمه ژړا فریاد کړم

کۀ هوادی اشنا په ما کۀ څښتن پیښ یو ځله

ورته به زۀ د بیلتانۀ په ژړا وایمه حال

زۀ یمه راغلې ستا دیدن لره کنه

نن له یو هیواده دې وطن لره کنه

زړ ګیه چوې کۀ پاتې کیږې

اشنا مقام ونیو په لرې هیوادونه

چې مې همدم په دم قدم وے

نصیب دیره کړلې په لرې هیوادونه

د زړۀ سر مې له هجرانه شۀ دوه نیمه

هوادی اشنا مې راولې قدیمه

دا خراب زړۀ مې په ګو ګل کښې بیا زوریږی خلقه

چې هوادی اشنا و ماته را یادیږی خلقه

www.pukhto.net

د هجران په توره شپه کښې تنها ناست یم
رابنکاره کړې هوادی اشنا له ورایه
د بیلتانۀ به خاص غلام شم
کۀ هوادی اشنا مې پریږدی چې راځینه
دا هوادی اشنا زۀ غوارم
کۀ پسې ژاړم سوال خواب ئې نۀ مومه
عالمه لاس په دعا نیسئ
کۀ هوادی اشنا مې راشی په پوښتنه

امیر

واړه دۀ ته فریادی وو
د وطن کۀ هوادی وو
دا له ماره فریادی ده
چې راغلې هوادی ده

شمس الدین ختک

سر و کار مې له فریاد دے
یاد غمه څۀ ګریان کړم
یار مې پاتې په هیواد دے
سر وهم پسې ارمان کړم *
اویخته ستا په لمن یم
په هوادکۀ په وطن یم

www.pukhto.net

جگی جگی ډیر غمژن یم

راکړه لاس ولی دستګیره

میاں حسیب ګل

واړه خیلخانه رانه جدا زهٔ تري جدا یم

دور په هوادونو رانه نن تمام تبر دے

زړهٔ مې ګرځی په میرو په هوادونو

کهٔ ظاهره مې سر تیټ په دغه لور دے

درب په فضل به رسیږی تر منزله ګنی

دا هوادونه قطع نهٔ شی په مزل دسړی

میاں جناب کاکاخیل

دا کلام علی بابا کړهٔ په زړهٔ یاد

غلهٔ روان شو په طرف بیا دهواد

ملا نعمت الله (1)

هغه تپې چې په زړو قلمی نسخو کښې راغلی دی --

راغے هجران عمر مې ګران شو

له ما روان شهٔ یار په لرې هوادونه

زهٔ به کجل په ستر ګو کیږدم.

کهٔ هوادی اشنا مې راشی په پوښتنه (2)

دنثری ادب نه هغوی دانمونې پیش کړې دی ---

۱- او زهٔ باوجود ددې چې جانور وحشی یم چې دري ورځې طعمه

www.pukhto.net

په لاس راکا، حق نه فراموشوم هر گاه چې بنکار راځخه وغواړی بنکار ورته وکړم، بنکار پرې وخورم او که هر څو لرې هیواد تر میان وی چې تش اواز وکا په یوه پرواز راشم۔

علم خانه دانش دافضل خان خټک

۲۔ ډیر سړی دی چې د خلق نزدیکت کا و مولیٰ ته دوی له خدایه لرې په هوا دی۔

فوائد الشریعت داخون قاسم

۳۔ خدایّ تعالیٰ به په فرښتو فخر کاندې چې زما بندګانو ته وګورئ چې له هواده ګرد وهلی پریشان حال په خواری زما کور له راغلی دی۔

فوائد الشریعت داخون قاسم

٤۔ ابن سماک هسې وئیلی دی ډیر سړی دی چې دوی په پند خدایّ و خلقو ته یادوی ولې دوی به ترې غافل وی او ډیر سړی له خدایه به ویرول کاندې د خلقو ولې دوی به له خدایه لرې په هوا دوی۔

فوائد الشریعت داخون قاسم

٥۔ یا په اخلاقی یا په روحانی، یا په پاکو یا په ناپاکو، یا په تیرو شوو یا په راتلونکو، یا په ملکی یا په هوادی، یا په ذاتی یا په اتفاقی څیزونو کښې له تا سره خبرې کوم۔

سیر السالکین د تاس جان لی مهر او

قاضی عبدالرحمان

۶۔ دوست ملا خود غرضی ته وئیل چې هغه څوک دی چې

www.pukhto.net

زمونږ مخکښې په لارې خی - خود غرضی ووئیل چې هغه دوه هوادی سړی دی او په خپل طور په سفر روان دی -

سیر السالکین

۷- وطن مې په هیواد دے

خزینه افغانی 3

اوس زهٔ د محترم همیش صاحب پیش کړې شوې نمونې گرانو لوستونکیو ته وړاندې کوم چې څهٔ په دې ډول دی --

د هواد یاران مې هر زمان یادیږی

چې ږ مخ په خوب کښې ووینم وویاړم

دور کزیو افریدیو

په هیواد باندی درون

خوشحال بابا

د مقصود کعبه کهٔ لرې په هواد وی

هم وردرومی کهٔ اصیل وی کهٔ ازاد وی

عبد القادر خان خټک

د هیواد اشنا په ستر گو لیدهٔ نهٔ شی

کهٔ په خوب راته حاضر شی ډیر کرم دے

شب و روز ږ خالی نهٔ یمه له فکره

سوزنده آتش د کن یار په هیواد دے

اشرف خان هجری

www.pukhto.net

په غربت کښې ستا د هجر دلګیری ده

یک تنها دې په هواد کړم الغیاث

یونس

له هواده کله ردد سلام مومم

کۀ مې سل واره دلدار لره سلام لاړ

علی خان

چې زما به ئې په څنګ کښې ارام نۀ شۀ

اوس فلک له هغۀ لرې په هواد کړم

معزالله خان

د بې نیازو په وطن کښې ځیګر خون شۀ

پیر محمد ځکه هوا د بل هواد کا

یو اشنا ورسره مل دلاړې نشته

یک [illegible] و بل هواد ته نادان ولیښ

بیلتانۀ غمونو تنګ کړم په وطن کښې

لکه ځوک په بل وطن کښې وی اوساغ

مونږ راغلی غریبان د بل هواد یو

د قسمت په لو[illegible]ند یو بیا به ځونه

تنها راغلم له هواده تنها درومم

په دا ملک کښې تنګ غمونو د غربت کړم

www.pukhto.net

مونږ له هواده تنها راغلی یو

د بڼ طوطیان یو په غم نتلی یو

پیر محمد کاکړ

په هوا مې د کشمیر د تورو ستر گو

له زړۀ ویاست ناز من د خپل هیواد

بد نصیب ناسازې چارې په ما وکړې

له نژدوې لرې لرې په هواد کړم

شمس الدین کاکړ

د هواد سفر تر ستر گو څمبل ژر کا

چې خبر په هغه دادی درویشان شته

لرې ملک ته په ورو تلۀ کله پکار دی

له هیواده درومی کور ته کاروان ژر ژر

صدیق

بې لتازۀ د زړۀ کله لرم مراد څوک

کۀ نژدې دی یا کۀ لرې په هواد څوک

په ډیر الم کړمه ژړا زۀ د فلک په جور

دې بد نصیب چې بیل لتازۀ په هواد کړم یاره

زۀ چې جدا شوې په هواد له خپل دلدار یم

گرځمه کړیږم بې طبیبه زۀ بیمار یم

www.pukhto.net

چې جدا لتانه یاره په هواد شوم

د حباب په دود بې بیخه بې بنیاد شوم

سر و مال به کړمه خار زهٔ له قاصده

کهٔ خبر ئې ما له راوړی له هواده

زهٔ یمه راغلی ستا دیدن لره کنه

نن له یو هیواده دې وطن لره کنه

د مجنون هسې وحشی په صحرا سر شهٔ

له دلبره خنې بیل چې په هواد شهٔ

امیر

خواست په وخت کوه د نو خطانو (؟)

مسافر دبل هیواد په زړهٔ نرے وی

مرزا حنان

د خدائې دپاره د دیدن بې رحمی مهٔ کړه کبر ژنه

خواجه محمد به بله شپه په بل هیواد کاندې

خواجه محمد بنګش 4

هغه تپې چې له دیوانو نو نه اخستی شوی دی او تاریخ ئې معلوم دے۔۔

راغے هجران عمر مې گران شو

له ما روان شهٔ یار په لرې هوادو۔

زړ گیه چوې کهٔ پاتې کیږې

اشنا مقام و نیو په لرې هوادونه

www.pukhto.net

چې مې همدم په دم قدم دے

نصیب دیره کړمه په لرې هوادونه 5

هغه ټپې چې له دیوانونو نه نۀ دی اخستی شوی او د وئیلو تاریخ معلوم ---

توري په څرخ وهۍ خوانانو

هیواد مو خپل دے په سرو وینو به ېې ساتونه

تۀ به په کوم هیواد کښې ګرځې

زۀ ستا د مخ تصویر په جیب کښې ګرځومه

ستا د نیستی پیغورې راکړو

مئینه ملاتړه چې بل هیواد ته څونه

یار په یاری کښې ضامن غواړی

زۀ په پردی هیواد کښې څوک ضامن لرمه

د سحر باده خوشنمایه

تا د هیواده د یار راورل سلامونه

د کوم هیواد په هوا ګرځې

ستا له فرقته ما له نۀ راځی خوبونه

ربابه مات شے درې وړې

رایادوې اشنا دلرې هیوادونه 6

له دې پس ېې څنې متلونه پیش کړی دی چې مآخذ ېې نۀ دے بتئیلے ، دا متلونه د پښتو اکیډمی په چاپ شوۀ متلونو کښې نشته --

www.pukhto.net

دیو هیواداوبهٔ دبل هیوادداروی

دیهودپه هیواد گټه حرامه ده

دیادو به سره یادوی کهٔ ې کورونه په بل هیوادوی 7

په پټه خزانه فی المیزان کښې د خپل موقف په تائید کښې یو سل او اووهٔ دیرش نمونې د شعرونو او ټپو او اووهٔ نمونې د زور نثر نه پیش کړې شوی دی - په تول پارسنګ کښې نهٔ دیرش نمونې د شعرونو او ټپو او درې نمونې د متلونو پیش کړې شوې دی - د محترم قلندر مومند له خوا پیش کړیو شوو شعرونو او ټپو کښې بناغلی همیش صاحب صرف په شپږ ویشتو شعرونو بحث کړے دے او دهغې نه ې د وطن معنې اخستی دی دغسې ې په ټپو کښې د دریو ټپو نه د وطن معنې راوکښلی دی - په باقی شعرونو او ټپو او د نثر په نمونو غلے پاتې شوې دے او هیڅ قسمه بحث ې پرې نهٔ دې کړې لکه چې په هغې کښې د لرې او فاصلې د معنیٰ سره متفق دے ګنی نو نور په هغې د غلی پاتې کیدو څهٔ وجه کیدے شی ؟ -البته هغوی اووهٔ ټپې درې متلونه او دوه شعرونه له خانه پیش کړی دی چې محترم قلندر مومندنهٔ وو پیش کړی - دهغوی نوې پیش کړې شوې نمونې زهٔ یو خل بیا نقل کوم او بحث پرې کوم - ورومبے هغه دوه شعرونه ---

خواست په وخت کوه دنو خطانو

مسافر دبل هیواد په زړهٔ نرے وی

مرزا حنان

www.pukhto.net

د خدایې دپاره د دیدن بې رحمی مه کړه کبر ژنه

خواجه محمد به بله شپه په بل هیواد کاندې

خواجه محمد بنګش

لوستونکی دې دے شعرونو ته لږ فکر وکړی د وړومبی شعر وړومبی مصرعه لس سیلابه او دویمه مصرعه دولس سیلابه ده ـ دغسې د دویم شعر وړومبی مصرعه اوولس سیلابه او دویمه څوارلس سیلابه ده ـ دا خو وو د هغوی پیش کړې شوې شعرونه چې دواړه دفن په تله برابر نه دی ـ له دې نه پس به هغه ټپې لوستونکیو ته وړاندې کړم کومې چې نه خو د شاعرانو په قلمی دیوانونو کښې راغلی دی او نه په بل څه مستند کتاب کښې چې د تاریخ پته ېې ولګی خو بیا هم چې هغوی پیش کړی دی نو بحث پرې پکار دے ـ ټپې دادی ---

تورې په څرخ وهئ څوانانو

هیواد مو خپل دے په سرو وینو به ېې ساتونه

ته به په کوم هیواد کښې ګرځې

زه ستا دمخ تصویر په جیب کښې ګرځومه

ستا دنیستی پیغور ېې راکړو

مټینه ملاتړه چې بل هیواد ته څونه

یار په یاری کښې ضامن غواړی

زه په پردی هیواد کښې څوک ضامن لرمه

www.pukhto.net

دسحر باده خوشنمایه

تا دهیواده دیار راوړۀ دیدنونه

دکوم هیواد په هوا کړځي

ستاله فرقته ماله نۀ راځی خوبونه

ربابه مات شے درې وړې

رایادوي اشنا دلرې هوادونه

په دې ټپو کښې وړومبی ټپه داسې ده چې په وړومبی مصرعه کښې د اضافت یۍ نۀ شی لوستے یعنې د "به یۍ" په ځای به یۍ لوستونکی "بیۍ" لولی او هم دا ټپه د افغانستان په چاپ شوی کتاب "لنډۍ" کښې د اسې هم راغلی ده چې --

توري په ځرخ وهۍ ځوانانو

دبابا ملک دے په سرو وینو یۍ ساتونه 8

دغسې دویمه ټپه زمونږ په وطن کښې داسې وئیلی شی چې --

تۀ به د کوم محفل چراغ یۍ

زۀ دې تصویر د زړۀ په صدق جوړومه

د اسې ښکاری چې دهمیش صاحب له خوا پیش کړې شوې دغه ټپه د دې ټپې وران شکل دے - او هسې هم د ا یوه جدیده ټپه ده یعنې چې د کله نه فوټو ګرافی میدان ته راغلې ده او رواج یۍ موندے دے - دغسې ورپسې بله ټپه زمونږ په وطن کښې د اسې وئیلې شی --

www.pukhto.net

ستا دنیستی پیغوری راکړو

منینه ملا تړه چې بل وطن ته خونه

داسې ښکاری چې په دې ټپه کښې هم د وطن په خاې هیواد خاې کړې شوې دے۔ ورپسې بله ټپه همیش صاحب دا پیش کړې ده چې۔۔

یار په یاری کښې ضامن غواړی

زه په پردی هیواد کښې څوک ضامن لرمه

داټپه پښتو لنډی کښې راغلې ده خو په حاشیه ورته دانوټ دے۔۔

"په (د م) کښې (زه په پردی وطن کښې ضامن ورکمه)

راغلې ده په(م) کښې (هیواد کښې) په خاې (ولات کښې)

راغلی دے۔" 9

له دې نه علاوه یوه بله ټپه چې۔۔

ربابه مات شے درې وړې

رایادوې اشنا دلرې هیوادونه

نو که یو خوا داټپه په پښتو لنډی کښې موجوده ده نو ورسره داټپه شته چې ۔۔۔

ربابه مات شے درې وړې

رایادوې اشنا دلرې وطنونه 10

دغسې دهمیش صاحب له خوا پیش کړې شوې داټپه۔۔

د کوم هیواد په هوا کرخې

تاله سفر قته ما له نه راځی خوبونه

www.pukhto.net

هم زمونږ طرف ته داسې نه شی ویلې بلکې داسې ده چې ---

ته به د کوم محفل چراغ یې

ما له داستاله غمه نه راځی خوبونه

هومره پورې چې د تپو تعلق دے نو په داسې بحثونو کښې هغه تپې پیش کول پکار وی کومې چې په زړو دیوانونو کښې راغلې وی او د تاریخ تعین یې کیدے شی - هومره پورې چې د تپو د جوړو کړیو شویو کتابونو تعلق دے نو په هغې کښې اکثر د مولف کوشش دا وی چې زه دې له نورو نه زیاتې تپې په خپل تالیف کښې پیش کړم او هم دغه وجه ده چې یوه یوه تپه په هو هو شکله کښې نن هم موجوده ده - دافغانستان په چاپ شوی د تپو کتاب "لنډۍ" کښې تولې یولس زره یو سل او اته پنځوس تپې راجمع کړې شوی دی په دیو تولو تپو کښې درې سوه او هلور دیرش تپې د اسې دی چې په کښې وطن پکارولې شوې دے - د دې برعکس صرف په اتو تپو کښې " هیواد" استعمال شوې دے - کومې چې همیش صاحب پیش کړې دی - محترم همیش صاحب په خپل کتاب تول پارسنګ کښې یو ځایې لیکی چې --

" د بناغلی همعصر دا دعوی چې "هیواد" د پښتو لفظ نه دے او دا د عربی د "حواذ" نه اخستے شوے دے هم ارزښت نه لری ځکه چې پښتو ژبې خو به هم آخر د وطن دپاره یو لغت لرلو او هغه د هیواد نه آخر بل څه کیدلې شی خصوصاً په داسې حالاتو کښې چې د وطن تورے هم د عربی دے -"

www.pukhto.net

نو کۀ د لږ ساعت دپاره مونږ د محترم همیش صاحب داخبره وۀ منو چې
پښتنو خو به د وطن دپاره آخر څۀ لفظ لرلو او هغه د هیواد نه بغیر بل نۀ
شی کیدے نو په زرګونو ټپو کښې او متلونو کښې پکار وو چې د وطن په
نسبت هیواد زیات استعمال شوې وے خو داسې بیخی نۀ دی شوی - په ټپو
کښې د وطن او هیواد داستعمال اعداد و شمار ما لوستونکیو ته وړاندې کړو
البته د متلونو په حقله به دومره ووایم چې د پښتو اکیډمی له خوا چاپ
شوی د متلونو په دوه جلده کتاب کښې داسې یو متل نشته چې په کښې
هیواد پکارولې شوې وی - په متلونو کښې یو دیرش ځله وطن استعمال
شوې دے - همیش صاحب چې په دې بحث کښې کوم متلونه د خپل موقف
په تائید کښې پیش کړی دی هغه داسې متلونه دی چې یو هم د اکیډمی په
چاپ شوې متلونو کښې نشته - د هغوی له خوا پیش کړی شوی متلونه
چې ما اګاهو نقل کړل کښې یو متل دا هم دے چې " د یهود په هیواد ګټه
حرامه ده " نو نۀ پوهیږم چې همیش صاحب دا متل ولې پیش کړې دے
ځکه چې د کال نولس سوه اتۀ څلویښتم نه اګاهو خو د یهودو وطن وۀ نه
نو دا متل له کومه راغلو - او کۀ دا متل هغوی د اسلام راتلو نه د اګاهو
زمانې ګڼی نو بیا به ې ثابتول ضروری وی - دویم متل هغوی دا پیش
کړی دے چې " د یو هیواد اوبۀ د بل دارو وی " ما تر اوسه داسې متل نۀ
دے اوریدلې د اکیډمی په چاپ شویو متلونو کښې دا متل د اسې راغلې
دے چې " د یو وطن خاوره د بل وطن دارو وی " - دغسې د هغوی له اړخه
پیش کړی شوې دریم متل دا دے چې " د یادو به سره یاد وی کۀ ې کورونه

www.pukhto.net

په بل هیواد وی" دا متل هم داکیډمی په چاپ شویو متلونو کښې نشته ـ زهٔ نهٔ پوهیږم چې د اهغوی له کومه راپیدا کړې دی ځکه چې هغوی په خپل دغه کتاب کښې دحوالو ورکولو نه پرهیز کړې دے او صرف په کتابیاتو ې اکتفا کړې ده ـ کومه چې د تحقیق د اصولو خلاف خبره ده ـ البته د پټې خزانې یو بل مدافع ښاغلی زیار صاحب په خپل کتاب "پټه خزانه یوه لغوی خزانه" کښې د دغې ذکر شوی متل درک ورکړے دے ـ هر څو کهٔ دهغوی خبره هم د زلمی هیواد مل صاحب د وضع کړی قانون له مخه شفاهی خبره ده او نقاد ان ویسا پرې نهٔ کوی ـ خو بیا هم زهٔ ې نقل کوم چې د محترم همیش صاحب دا ماخذ څومره مضبوط دے ـ داکټر زیار صاحب لیکی چې

"په یوه زاړه متل کی (؟) د "هیواد" څرک (؟) چې ښاغلی سلطان محمد صابر له خپلې اروانبادې (؟) مور څخه یادښت کړے دے:

د یادو به سره یادوی

کی (؟) کورونه پر بل هیوادوی

دهیرو به سره هیروی

کی (؟) د کیږدی غوږونه سره تیروی (12)

مطلب دا شو چې محترم همیش صاحب د خپل معترض د زور نثر د ګنو نمونو راوړلو په جواب کښې دیو همعصر دمور له خوا شوے متل په دلیل کښې پیش کړے دے ـ چې دا د هغې جواب هیچرې هم نهٔ شی کیدے ـ حالانکې محترم همیش صاحب په خپل دے کتاب کښې دا خبره کړی ده چې

www.pukhto.net

"پښتنو خو به هم د وطن دپاره خپل یو لغت لرلو او هغه د هیواد نه علاوه څه کیدے شی "۔ (حواله مخکښې تیره شوې ده) پکار ده چې د پښتنو د زور نشر ې یوه دوه نمونې خو پیش کړے وے ۔ پښتنو په خپلو ټپو کښې بیشماره ځله وطن استعمال کړے دے خو د هیواد استعمال صرف دغه هومره دے کوم چې محترم هیمش صاحب په ډیر نول ځول پیدا کړې دے او ما پرې بحث وکړو ۔

بل د هیمش صاحب دا خبره چې آخر پښتنو خو به د وطن دپاره آخر څه لغت لرلو ځکه چې وطن هم د عربی لغت دے هم ډیره عجیبه خبره ده ۔ کۀ چرې پښتنو سره د هر لفظ دپاره د پښتو لفظونه وے نو مونږ به دا بې کچه ډیر فارسی او عربی لغات ولې استعمالول ۔ دغه اعتراض خو بیا په زرګونو الفاظو کیدے شی ۔ او چې هر کله پښتنو سره د وطن دپاره د هیواد لفظ وو نو بیا د خوشحال خان خټک په ملغلرې کښې "هیواد" په نادرو تورو کښې ډې لیکلې شو ۔ د دې لفظ معنیٰ تر ډیره وخته زمونږ ځنې عالمانو له خبره او د افغانستان عالمانو او پوهانو له عموماً نۀ ورتله ۔ او په خپله محترم هیمش صاحب چې د معز الله خان مومند دیوان چاپ کړے دے په هغې کښې دوه ځله "هیواد" ټکے راغلے دے نو هغه ې "هوا" لیکلے دے ۔ هغه دوه شعرونه دا دی ----

چې زما به ې په ځنګ کښې ارام نۀ شۀ

اوس فلک له هغو لرې په هوا کړم

چې فلک له ما نه یار په هوا بیل کۀ

www.pukhto.net

معز الله هميشه ناست يم په ماتم کښې 13

زما د دې خبرې چې تر ډيره وخته زمونږ خنې پوهان او عالمان خصوصاً او د افغانستان عالمان عموماً په دې لغت نه پوهيدل تصديق له دې شعرونو نه کيږي چې په کال نولس سوه اته پنځوسم کښې محترم هميش صاحب د هيواد په ځاې هوا ليکلے دے حالانکې په دې شعرونو کښې ورومبے شعر په هغې غزل کښې دے چې قافيه ې ياد او فرياد ده بيا هم محترم هميش صاحب په دې نوم نه دې پوهه شوے او هوا ې ليکلی ده او د حاشيې ضرورت ې هم نه دے محسوس کړے گنی د هغوی وينا ده چې وطن کلمه هم د عربی ږده او پښتنو به د وطن دپاره څه لغت خو لرلو او هغه بې له هيواد نه نور څه کيدے شی بيا نه پوهيږم چې هغوی ولې هغه وخت په دې ټکی نه دی پوهه شوی ۔ او عجيبه خبره دا ده چې اوس ې په تول پارسنگ کښې هم دغه شعر په خپل دليل کښې پيش کړے دے ۔

د قلندر مومند صاحب موقف دا دے چې "هيواد" د عربی ږد "حواذ" نه اخستے شوے دے او دا خبره قياس ته نزدې هم ده ۔ که چرې دا د پښتو لفظ وے نو تر ډيره وخته پورې د افغانستان عالمان ولې نه پوهيدل ؟ دا لفظ نن هم په سوات کښې دلرې او فاصلې په معنو کښې استعمالولے شی ۔

محترم قلندر صاحب د خپل موقف په تائيد کښې د نثر هم څه نمونې پيش کړی دی کومې چې ورانديې ذکر شوی دی خو د هغې په جواب کښې محترم هميش صاحب بيخی خبره نه ده کړې او نه ې لکه د هغوی د نثر څه نمونه پيش کړې ده ۔ د نثر د نمونې نه پيش کولو په حقله

www.pukhto.net

تری حنیف خلیل په یوه انټرویو کښی پوښتنه هم کړی ده نو د هغی په جواب کښی ورته همیش صاحب وئیلی دی چی ----

"زهٔ ستاسو دی جذبی سره اتفاق نهٔ شم کولے ځکه چی په متلونو کښی "هیواد" د "وطن" په معنیئ دپاره ما دیر ضرب الامثال پیش کړی دی - نهٔ شم وئیلے چی تاسو ضرب الامثال یعنی متلونه څهٔ ګنلی دی نظم او کهٔ نثر ؟" (14)

د محترم همیش صاحب هغه دیر متلونه ما لوستونکیو ته پیش کړل چی په ټول پښتو ادب کښی ئ په نول ځول صرف دری متلونه پیدا کړی دی او هغی ته ئ هم په انټرویو کښی "دیر" وئیلی دی - مطلب دا شو چی "دریو" ته هم دیر وئیلی شی -

دا ټیک ده چی څنی متلونه په نثر کښی او څنی په نظم کښی وی خو په متلونو د نثر اطلاق نهٔ شی کولے - د حنیف خلیل مطلب دا وهٔ چی د اسی نثر مو ولی نهٔ دے پیش کړے کوم چی ستاسو معترض پیش کړے دے نو د هغی په جواب کښی همیش صاحب دغه خبره کړی ده - او ظاهره ده چی دا د حنیف خلیل د خبری جواب نهٔ دے - ځکه چی د متل نه علاوه هم نثر شته دے خو محترم همیش صاحب د هغی په نمونو پیش کولو کښی پاتی راغلے دے - نو دغه خبره ئ کړی ده - له دی نه څوک هم انکار نهٔ شی کولی چی متل نثر نهٔ وی خو څوک هم متل ته نثر نهٔ وائی بلکی متل ورته وائی ځکه چی متل په نظم کښی هم وی لکه چی د همیش صاحب پیش کړیو شویو دریو متلونو کښی اخری متل نظم دے او داسی دے ---

www.pukhto.net

دیادو به څۀ یاد وی

کۀ ئ کورونه په بل هیواد وی

دهیرو به سره هیر وی

کۀ ئ د کیژدی غوږونه سره تیر وی

هسی همیش صاحب له پکار وو چی د خپل موقف په تائید کښی ئ د متلونو نه علاوه کتابی نثر لکه د قلندر صاحب پیش کړے وے ۔ یا ئ د هغوی په پیش کړی نثر څۀ تبصره کړی وے او هغه ئ غلط کړی وے ۔ خو هغوی داسی نه دی کړی او چی د دلائلو کمے ئ محسوس کړی دے نو داخبره ئ کړی ده چی ----

" کۀ یو سړے راپاڅی او دا ووائی چی له پیښوره بنوں تقریباً شپږ شلی میله هیواد دے یا له پیښوره مردان څلویښت میله هیواد دے نو لوستونکی دی خپله فیصله وکړی چی د داسی سړی ذهنی صحت به مشکوک وی او کۀ نه ؟" 15

محترم همیش صاحب د مطیع الله نیکۀ په دیوان کښی د هروهیل معنئ ویره کړی ده خو په تول پارسنګ کښی ئ د ګروهیل معنئ ایمان راوړل کړی ده نو "کۀ څوک د پیښوره مردان څلویښت میله هیواددے" وائی نو د هغۀ خو به ذهنی صحت مشکوک وی خو کۀ څوک د محترم د ګروهیل کړی معنئ ایمان راوړل د رحمان بابا په دی شعر کښی لګوی چی --

www.pukhto.net

هیڅ په حق د حقدارانو نه ګروهیږی

همیشه زما په وړی زړه منکر یٔ (16)

نو مطلب به یٔ دا شی چی هیڅ د حق دارانو په حق ایمان نه راوړی او همیشه زما په وړی زړه منکریږی - نو ګنی د هغه ذهنی صحت به مشکوک نه وی ؟ هم دغه رنګ د ګوانښ معنیٰ هم بناغلے همیش صاحب له ګناه او بد کار نه منع کول کوی نو که څوک د حمزه بابا مرحوم په دی شعر کښی دغه معنیٰ ولګوی ---

د میلمه قدر پښتانه پیژنی

نن چی له ګوانښه دی بانه پاتی دی (17)

نو د شعر مطلب به دا شی چی پښتانه د میلمه قدر پیژنی (خکه) دی نن بانه د ګناه او له بده کاره منع کول نه کوی - نو اوس دی لوستونکی انصاف وکړی چی د هغه ذهنی توازن به ټیک وی ؟ زه په دی موقع د دیر افسوس څرګندونه کوم چی د همیش صاحب غوندی د پښتو ادب استاذ چی ټول عمر یٔ پښتو ژبی ته د قدر وړی بخښنی کړی دی آخر د کوم مصلحت تر مخه خپل علمی تشخص په اباسین لاهو کول غواړی ؟ که یو سړے راپاڅی او دا وائی چی "له پیښوره بنوں شپږ شلی میله هیواددے" نو هغه د حمزه بابا مرحوم د دی شعر ---

ګوانښ د رقیب خیر خو چی مسکے یٔ ته

داسی تو دی بنی وی د سر و سره (18)

مطلب یم دی بیانولی شی چی خیر د که رقیب له ګناه نه منع کول

www.pukhto.net

کوی خو چی تہ راتہ مسکے یٔ ځکه چی سړو سره تودی وی۔

د پښتو په زړو قلمی دیوانونو او کتابونو کښی د وطن بی دریغه استعمال شوے دے بلکی د "وطنوال" او "وطند ار" کلمی هم بلا دیری استعمال شوی دی خو په ټول پښتو زوړ ادب کښی چرته هم د هیواد دار او هیوادوال کلمه په نظر نه راځی او که چرته وی نو د پټی خزانی مدافعینو له پکار دی چی په گوته یٔ کړی۔ ځکه چی هغوی دا عقیده خپله کړی ده چی وطن د عربی لغت وه او پښتنو به د وطن دپاره څه لغت خو لرلو او هغه بی له هیواد نه نور څه کیدے شی۔ خو کاش چی هغوی خپله دا عقیده په دلائلو ثابته کړے وے۔ ""کیدے شی" او "ممکنه ده" دومره گرانه مسئله نه شی حل کولے۔

حوالی

1. پته خزانه فی المیزان ص۔ ۴۷ نه تر ۸۹
2. هم دغه کتاب ص۔ ۹۰
3. هم دغه کتاب ص۔ ۹۲
4. تول پارسنگ ص۔ ۸۹ نه تر ۱۰۸
5. هم دغه کتاب ص۔ ۱۰۹
6. هم دغه کتاب ص۔ ۱۱۰ ۱۱۱
7. هم دغه کتاب ص۔ ۱۱۲ ۱۱۳
8. پښتو لنډی ص۔ ۸۹

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

9 هم دغه کتاب ص ـ

10 هم دغه کتاب ص ـ

11 تول پارسنګ ص ـ ۱۱٤

12 پته خزانه یوه لغوی خزانه ص ـ ۱۱

13 د معزالله مومند دیوان ص ـ ۲۰۱، ۱۵۲ بالترتیب

14 تنظیم مجله جولائی ۱۹۹۵ ء ص ـ ۳٤

15 تول پارسنګ ص ـ ۱۱٤

16 د رحمان بابا کلیات ص ـ ۳۰۸

17 د حمزه بابا کلیات دریم جلد ص ـ ٤۷

18 هم دغه کتاب وړومبے جلد ص ـ ۱۲۸

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ

ګروهیدل د پښتو ژبې یو داسې تورے دے چې تر ننه پورې مستعمل دے او د کوهاټ په ضلع کښې اوس هم وئیلے شی۔ په پټه خزانه کښې محترم حبیبی صاحب ددې توری معنیٰ "ګرویدن او عقیدت داشتن" کړے ده ۔ او دا تورے د شیخ رضی علیه الرحمة په ذکر کښې راغلے دے ۔ محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب "پټه خزانه فی المیزان" کښې د دې توری په دغه معنیٰ اعتراض کړے دے ۔ او د ګنو فرهنګونو لکه کرستو میتی، راورتی، بیلیو، خیر اللغات، لغات افغانی او پښتو سیند معنې یې په خپل دغه کتاب کښې راخستی دی او لیکی چې---

"د دکشنریو د دیو معنو نه دا څرګندیږی چې لکه د "هیواد" د "ګروهیدل" په سلسله کښې هم د لغت د دیو کتابونو مرتبینو (بغیر د پښتو سیند نه) صرف داټکل نه کار اخستے دے۔" (1)

"پښتو سیند" د ګروهیدل معنیٰ "له عقوبته اندیښنه کول" کړے ده د کوم په حقله چې محترم قلندر صاحب لیکی چې---

"زمونږ معنې ته ډیر نزدے بلکې تقریباً هم هغه معنیٰ یې کړے ده۔" (2)

او په خپله یې د ګروهیدل معنیٰ "له ما فوق الفطرته ویریدل" کوی۔ د څلورو

www.pukhto.net

پینځو فرهنګونو په حقله دا وئیل چې هغوی د ا معنې اټکلاً کړی دی، هسې خبره نه ده- هغوی د خپلې دې وینا د ټیک ثابتولو دپاره د پښتو زور ادب نه بلا ډیرې نمونې په دلیل کښې وړاندې کړی دی- او بیا په " تول پارسنګ " کښې محترم همیش صاحب د هغې جواب کړے دے- زه دلته د لوستونکیو د اسانۍ دپاره د دواړو دلیلونه پیش کوم او خبرې پرې کوم- په پته خزانه فی المیزان کښې وړومبے د خوشحال بابا د ا شعرونه قلندر صاحب پیش کړی دی--

مونږه به ومرو هسې پوهیږو
یاران مو لاړل لا نه ګروهیږو
که ورته وائې کله پوهیږی
قرآن که لولی کله ګروهیږی
چې بادشاه پرې نه ګروهیږی
نه ې زړه باندې شرمیږی
مومنان دې وګروهیږی
په صراط به ګزر کیږی
دا هم کفر دے چې کیږی
په قیامت چې نه ګروهیږی

له دې نمونو نه پس ته لیکی چې---

"په دیو شعرونو کښې د "ګروهیدل" معنیٰ ویریدل خاص [illegible] د " مافوق الفطرت نه ویریدل " ده خو هر کله

www.pukhto.net

چې د مافوق الفطرت نه د ویریدو په نتیجه کښې په ما فوق الفطرت د ایمان پیدا کیدل ضروری دی نو څکه حبیبی صاحب او نورو مستشرقینو ته د دې لفظ صحیح مفهوم ته په رسیدو کښې اشکال پیدا شوے دے او هغوی هغه معنیٰ یعنې عقیده لرل کړے ده چې د ګروهیدلو په نتیجه کښې پیدا کیږی۔" ۵

محترم همیش صاحب په خپل کتاب " تول پارسنګ" کښې د خوشحال بابا د دې شعر ونو په حقله لیکی۔۔۔

"دغه ضمن کښې چې د خوشحال بابا کوم پینځه شعرونه د خپلې دعوې په دفاع کښې پیش کړی شوی دی، هغو کښې دوه دا دی چې د " ګروهیدل " نه یې په زوره یا نافهمی د خوف او ویرې معنې راوښکلی دی۔

مومنان دې وګروهیږی

په صراط به ګزر کیږی

دا هم کفر دے چې کیږی

په قیامت چې نه ګروهیږی

د وړومبی شعر معنیٰ دا ده ۔ یعنې مومنان دې په پل صراط د تیریدلو عقیده ولری ۔ د دویم شعر معنیٰ دا ده ۔ کوم خلق چې د قیامت په ورځ اعتقاد نه لری دا هم کفر دے یعنې د قیامت په ورځ ایمان نه راوړل یا اعتقاد نه لرل

www.pukhto.net

کفر دے (دا امنت بالله والیوم الاخر ته اشاره ده)"۔ 5

اګاهو له دې نه چې د همیش صاحب د شعرونو په دې تشریح بحث وکړم یوه بله خبره د هغوی د دغې کتاب نه رانقل کول ضروری ګڼم کومه چې هغوی هم په دغې بحث کښې کړے ده لیکی چې---

"اګر کهٔ د "ګروهیدل" معنیٰ هم په لره پښتونخوا کښې د

"ویرې" او "خوف" په معنیٰ مستعمله ده"۔ 6

لوستونکی به پوې شوے وی چې په لره پښتونخوا کښې د "ګروهیدل" معنیٰ ویره او خوف په قول د همیش صاحب کیږی او رواج لری نو بیا دا خبره چې "د ګروهیدل نه یې په زوره یا نافهمیٔ د خوف او ویرې معنې راوښکلی دی" څهٔ حقیقت لری۔ یو خاې اعتراف او بل خاې تردید، نهٔ پوهیږم چې دا کوم منطق دے۔

اوس به راشم د خوشحال بابا هغه دوه شعرونو له چې قلندر صاحب تریې په قول د همیش صاحب په زوره یا نافهمیٔ د خوف او ویرې معنې راوکښلی دی۔ په پینځو راوړو شوو شعرونو کښې د دې دوو شعرونو انتخاب همیش صاحب په خپله کړے دے باقی دریې شعرونه یې په خپل خاې پریښی دی۔ شاید چې په هغو شعرونو کښې یې د همیش صاحب د خوښې معنیٰ نهٔ کیدله ګڼی نوره یې د نهٔ راوړلو څهٔ وجه کیدے شی۔ خو په دغې دوو شعرونو کښې مونږ د همیش صاحب کړے تشریح څکه نهٔ شو منلے چې مومن وائی هغه کس ته چې ایمان یې راوړے وی او په دغې شعرونو کښې خاص مومنانو ته ده او د مومنانو په پل صراط او قیامت عقیده وی

www.pukhto.net

خو د خوشحال بابا ﭘې ویرول مقصود دی۔ دغسې د دویم شعر تشریح خو دومره مضحکه خیزه ده چې مثال نه لری۔ دویم شعر داسې دی۔۔۔

دا هم کفر دے چې کیږی

په قیامت چې نه ګروهیږی

د دې شعر چې کومه تشریح صاحب د تول پارسنګ کړے ده هغه بره ذکر شوه چې " کوم خلق په قیامت اعتقاد نه لری نو دا هم کفر دے"۔ په قیامت اعتقاد نه لرل خو ښکاره کفر دے نو بیا د خوشحال بابا د دې نه مقصد څه وه ۔ په ورومبی مصرعه کښې د " هم" موجودګی دا ښیی چې په قیامت اعتقاد نه لرل ښکاره کفر دے خو که څوک ترې نه ویریږی نو دا هم کفر دے ۔ یعنې د اعتقاد نه لرلو کفر مومنانو ته معلوم دے خو خوشحال بابا ﭘې په دې نقطه هم پوهوی چې د قیامت نه نه ویریدل هم کفر دے ۔ او د ورومبی مصرعې "هم" دا شعر ډیر اسان کړے دے خو د پټې خزانې دفاع کونکے صاحب د تول پارسنګ ترې بیا هم هغه د ایمان راورلو معنیٰ راوباسی ۔ او د خپلې شعر فهمی ثبوت ورکوی ۔ بل دا شعر په ارمغان کښې د " کفر کلمات" د عنوان د لاندې راغلې دے، زه دلته د لوستونکیو د اسانی د پاره دغه شعر سره د وړاندې نورو محلورو شعرونو پیش کوم چې اندازه ترې په اسانه ولګی۔۔۔

که ظالم د مظلوم مال خوری

خوش خرم ﭘې په وبال خوری

www.pukhto.net

مظلوم ووائی و دۀ ته

مال مې مۀ خوره و کړه نغته

کنه حق به له تا غوارم

په قیامت به خدائ ته ژارم

ظالم هیڅ پرواه ونۀ که

بلکې لا ظلم په دۀ که

دا هم کفر دے چې کیږی

له قیامت چې نۀ ګروهیږی (7)

دورانديو ځلورو شعرونو او په دې شعر کښې د "له" داستعمال نه پس هم چې ځوک د ګروهيدل معنیٰ عقيدت لرل او ايمان راوړل کوی نو هغه به ځان پورې خلق خندوی۔

صاحب دتول پارسنګ په يو بل ځائ کښې ليکی چې---

"مونږ د بناغلو لوستونکو د اطلاع دپاره دا حقيقت هم په ګوته کول ضروری ګڼو چې په پته خزانه ټولو اعتراضونو کښې د تصوير د يو رخ ښودلو کوشش شوے دے او د خلقو د غولولو او بې لارې کولو دپاره دا کوشش دهر اعتراض په شا کار فرما دے"۔ (8)

لوستونکيو به کتلی وی چې د هغوی دا خبره تر کومه حده ټيک ده ځکه چې هم په دې بحث کښې قلندر صاحب د خوشحال بابا پينځه شعرونه په دليل کښې پيش کړی وو او صاحب دتول پارسنګ تر ې صرف

www.pukhto.net

په دوو شعرونو راوړلو اکتفا کړے ده ۔ او باقی دري شعرونه يې نقل کړی هم نه دی ۔ نو ګنې دا د تصویر دیو رخ پیش کولو کوشش نه دے ۔ او یا داد ادبی خیانت په زمره کښې نه راځی ۔ دغسې په هره موضوع شوی دی او زه به يې وخت په وخت ګرانو لوستونکیو ته په ګوته کوم چې په بل الزام لګونکے په خپله د دغې الزامه ځان بچ کولے شی او که نا؟

هغه دري شعرونه چې وړومبے نقل شوی دی او صاحب د تول پارسنګ پریښې دی زه يې دوباره نقل کوم ---

مونږه به ومرو هسې پوهیږو

یاران مو لاړل لانه ګروهیږو

که ګورته وائې کله پوهیږی

قرآن که لولی کله ګروهیږی

چې بادشاه پرې نه ګروهیږی

نه يې زړه باندې شرمیږی 9

لوستونکی دې په دې دریو وارو شعرونو کښې هغه معنیٰ یعنې اعتقاد لرل ځایې کړی او بیا دې وګوری چې څه ترې جوړیږی ۔ او هم دغه وجه ده چې په تول پارسنګ کښې دا دري واړه شعرونه نه دی ذکر شوی او د لوستونکیو له نظره پټ ساتلی شوی دی ۔

صاحب د تول پارسنګ په خپل کتاب کښې د خوشحال بابا نور شعرونه پیش کړی دی چې په کښې " ګروهیدل " استعمال شوے دے، شعرونه دادی ---

www.pukhto.net

دموسیٰ په معجزه به څهٔ ګروهیږی

دفرعون چې دهامان غوندی وزیر دے

کهٔ وئیل په هزار رنګه سودمند وی

دخوشحال په وئیل کله څوک ګروهیږی

چې نادان یٔ په مخ وخوری هله پوئ شی

ګڼه هومره په خبره نهٔ ګروهیږی 10

په ورومبی شعر کښې " ګروهیدل" هم د ویریدلو په معنیٰ دے څکه چې هر یو نبی نذیر وی او خلق ویروی۔ دغه رنګ په دویم شعر کښې کهٔ د اعتقاد معنیٰ ولګوو نو داسې به شی چې وئیل په هزار رنګه سودمند وی خو د خوشحال په وینا د چا اعتقادنهٔ پیدا کیږی او دا یٔ غلطه تشریح ده۔ دغسې په دریم شعر کښې "چې نادان یٔ په مخ وخوری" نه ښکاره ده چې تر هغې نهٔ ویریږی څو په مخ ګذار ونهٔ خوری۔ څکه چې په خبره اعتقادنهٔ لرل خو څهٔ ډیره عجیبه تشریح ده ۔ له دغې نه پس صاحب د تول پارسنګ د فالنامې اخلاقنامې دا شعرونه بالترتیب راوړی دی---

لا په فال کښې کهٔ پوهیږی

نفی حرف دے کهٔ ګروهیږی

هغه وخت چې لاصبی وهٔ

ګروهیدلے ازلی وهٔ 11

په دې دواړو شعرونو کښې " ګروهیدل" د ویرې په معنیٰ راغلی دی اګرچه په ورومبی شعر کښې دا خبره شوے ده چې لفظ "لا" په فال کښې د

www.pukhto.net

نفی علامت دے ځکه نو ویریږه او دا ویره هم دفوق الفطرت نه ده ـ او په دې شعر کښې ې اعتقاد لرل معنیٰ بیخی نه شی کیدے ـ دویم شعر د اخلاقنامې دے او په هغې کښې هم د اعتقاد معنیٰ نه ورکوی ـ له دغې نه پس ته صاحب د تول پارسنګ د حسین دا شعر پیش کړے دے ـــ

عبث وایم بې کسی خپله رقیب ته

نه ګروهیږی په مسلم ترسا زندیق (12)

په دې شعر کښې د "ترس" په معنیٰ راوړلے شوے دے او "ترس" هم د ویرې په نتیجه کښې پیدا کیږی ـ بل شعر هغوی د رحمان بابا داسې پیش کړے دے ـ

هیڅ په حق د حقدارانو نه ګروهیږې

همیشه زما په وړی زړهٔ منکرې (13)

او لیکی چې ـــ

"د دې شعر ترجمه حمزه صاحب داسې کړے ده ـــ

انہیں نہیں کچھ احساس حق حقداران

میں جب بھی دل کا تقاضا کروں تو وہ منکر (14)

اوس دې لوستونکی د حمزه بابا مرحوم د دې ترجمې نه اندازه ولګوی چې هغوی لفظی ترجمه کړے ده او که با محاوره ـ دا ترجمه بامحاوره ده او د لفظ لفظ ترجمه په کښې نه ده شوے ـ حالانکې دلته هم د ویرې په معنیٰ دے او د شعر تشریح داده چې "هیڅ هم د حقدارانو د حق خوړلو نه نه ویریږې همیشه زما په وړی زړهٔ منکرې" ـ زهٔ د رحمان بابا یو بل شعر د حمزه بابا مرحوم د کړی ترجمې سره پیش کوم چې په کښې ګروهیدل استعمال شوے

www.pukhto.net

دے لوستونکی به پوې شی چې د حمزه بابا ترجمه لفظی ده او که نا؟

گل لمبه شه د بلبل په آه رحمانه

نه گروهیږی یار په هاې و هوې دستا

ہو گل تو آہ سے بلبل کی شعلہ سا رحمان

مگر نہ یار کو پروائے ہائے اور ہو ہے 15

اوس که مونږ د حمزه بابا مرحوم په ترجمه پسې خو نو د "گروهیدل" په معنو کښې به یوه نه بلکې دوه معنې نورې هم ورزیاتوو - چې د ویرې نه علاوه ې "پرواه" او "احساس" معنې هم دی - د رحمان بابا یو بل شعر چې دوارو محترمو لیکونکیو نه دې راوړے او گروهیدل په کښې استعمال شوے دے څه دا رنګې دے----

چې دا حال ورباندې نه وی ورغلے

په وتیل به څه گروهیږی د رحمان 16

اوس دې لوستونکی وگوری چې په دې شعر کښې د اعتقاد او ایمان راوړلو په معنیٰ دے او که د ویریدلو په معنیٰ راوړلے شوے دے۔

په پته خزانه فی المیزان کښې د "گروهیدل" د استعمال دیرې نمونې راوړلی شوی دی۔ زه دلته هغه شعرونه د هغې نه نقل کول ضروری ګڼم کوم چې صاحب د تول پارسنګ نظر انداز کړی دی او هیڅ قسمه بحث ې پرې نه دې کړے۔

که باور کړې به گروهیږې

ته مې روح ې که پوهیږې

www.pukhto.net

دا ناست بد دی کۀ پوهیږې

ما رخصت کړه کۀ ګروهیږې

عبدالقادر خان خټک (یوسف زلیخا)

اعتقاد د خلقو سست شو نۀ ګروهیږی

چې په خپله خوری واړه دی اسان اوس

چې پوهیږې نۀ ګروهیږې

اختیار تاوته رخصت دے

سکندر خان خټک

ولی نۀ ګروهیږی اے زما خاطره سنګه

وار په وار مئین یاران کمیږی درنګ تر درنګه

د خواجه محمد په آه ې ترس نۀ شی

د بنائستوؤ زړونه سنګ دی نۀ ګروهیږی

چې د مرګ ډمامه اوری نۀ ګروهیږی

ولې کوې شوې تۀ دغوږو په شپیلۍ

خواجه محمد بنګش

نرم دل به په ژړا د خوار ګروهیږی

په اوبۀ کله نرمیږی سنګلاخ

مرم د ستا له دسته

نۀ ګروهیږې دل سنګینې

www.pukhto.net

دعاشق په اوښيو نرم زړهٔ ګروهيږی

نرميدهٔ په اوبو تراړو لره نهٔ دی

يونس

شاه وے دا زما آبروئ دے وپوهيږه

تفاوت په دا کښې نشته وګروهيږه

په دا خدائ چې دهر چا دے نهٔ ګروهيږی

واړوم له رقيبانو په کوم خدائ دوست

حميد بابا

رقيب که په ما ناسازی صنم هم

نهٔ ګروهيږی په مسجد په حرم هم

چې په روئ د خدائ رسول هم نهٔ ګروهيږی

اے نجيبه رقيب هسې شان بے دين دے

نجيب

که ګروهيږی هغه يار زما په وينو

ور مجره به کړم د زړهٔ درر عجب

څهٔ زما د يار تر ميان غمازه ګورے

نهٔ ګروهيږی يک دلان په چوغلی

چې جوپی ئ د يار غم لکه ګنے

په زارئ مې د يار ستر ګی نهٔ ګروهيږی

حسين

www.pukhto.net

اوس دې لوستونکی قضاوت وکړی چې په دې بره ذکر شوو شعرونو کښې
ګروهیدل د عقیدت داشتن معنیٰ ورکوی او کۀ دویرې؟ زما په خیال په دې
شعرونو کښې د اعتقاد معنیٰ نۀ فټ کیږی ځکه نو صاحب د تول پارسنګ
پرې په غلے پاتې کیدو کښې خیر ګټلے دے ګنې نو ، نوره د دې څۀ وجه
کیدے شی۔

په پټه خزانه کښې محترم قلندر صاحب د خپلې دعوې په تائید
کښې د رحمت داوی دا شعر هم پیش کړے دے چې---

خوار حیران په زړۀ زبون درته ولاړ دی
د مظلومو له ازاره وګروهیږه 18

په ځاې د دې چې د دې دلیل جواب شوے وے په تول پارسنګ کښې د رحمت
داوی دا شعر پیش کړے شوے دے چې---

اے عاشقه کۀ غماز ډیر در ګروهیږی

علی طوره خنجر یخ کا په کافر کښې 19

بناغلی همیش صاحب خو ې معنیٰ نۀ ده کړے چې د شعر مطلب څۀ دے خو
زما په خیال دلته لکه د تاریخ مرصع غوندې د پنډیدلو په معنیٰ راغلے دے۔
البته د رحمت د اوی وړومبے شعر کوم چې په پټه خزانه فی المیزان کښې
راغلے دے نو هغه ډیر صفا دے۔

په پټه خزانه فی المیزان کښې د نثر یوه نمونه د "تاریخ مرصع" نه دا
راوړلے شوے ده چې---

"هغه پښتانۀ وغیره چې د پیر روښان مریدان وو وارۀ

www.pukhto.net

زیات له پیر روښانه په دۀ وګروهیدل"۔ (20)

او لیکی چې---

"دلته د ګروهیدل هغه معنیٰ نۀ ده کومه چې د افغانس
محترم لیکونکی له دې لفظه وکښل غواړی بلکې د
لفظ معنیٰ د سیاق او سباق په رڼا کښې "پنډیدل او ج
کیدل دی" او دا د افضل خان خټک جوړ کړے مه
دے۔" (21)

ددې خبرې په جواب کښې صاحب دتول پارسنګ لیکی چې--

"بناغلی همعصر چې د افغانستان محترمو لیکونکیو
تاریخ مرصع د یو اقتباس په حواله د "ګروهیدل
سلسله کښې د کومې غلط فهمۍ ذکر کړے دے هغه ه
دلیله او سمه خبره په دې نۀ ده چې بناغلی لیکوال با
صرف هم د ذکر شوی اقتباس له مخه د غلط فهمۍ دا
اخر له کومه وشو"۔ (22)

په دې پورته اقتباس کښې دا خبره چې "هغه هم بې دلیله او
دې نۀ ده "د غور قابله ده۔ دا زما په علم کښې په وړومبی ځل
دلیل شوے خبره هم سمه نۀ وی حالانکې مونږ تراوسه دا ګڼل
خبره سمه نۀ وی۔ خو د صاحب دتول پارسنګ دې چار بنۀ و
کښې یې راله اضافه وکړه ۔ باقی پاتې شوه د تاریخ مرصع په د
د "ګروهیدل" د استعمال خبره چې په قول د هغۀ د اعتقاد لرلو

www.pukhto.net

ایا زهٔ دا پوښتنه کولے شم چې د مطیع الله نیکهٔ په دیوان کښې کوم چې دوی مرتب کړے دے، په هغې کښې د "گروهیدل" معنیٰ ولې "اعتقاد لرل" نهٔ ده شوے؟ او ډیره عجیبه خبره دا ده چې د پټې خزانې په حقله خو چې کله هم څهٔ خبره راشی نو د محمد عباس کاسی په سر ږې وروتپی خو په دې لړ کښې ولې د کاتب غلطی نهٔ منی۔ څومره پورې چې د گروهیدل خبره ده نو دا اوس هم ژوندے تورے دے او په کوهاټ کښې وئیلے شی ۔ او صاحب د تول پارسنگ ږې هم عملاً منی۔ نو بیا په دې خبره د دومره بحث نه د هغوی مطلب څهٔ دے۔

له دغې بحث نه پس صاحب د تول پارسنگ د دستار نامې نه د نشر دوه نمونې راوړی دی چې د هغوی په خیال کښې د اعتقاد لرلو په معنیٰ راغلی دی ۔ زهٔ ږې دلته نقل کوم۔۔۔

" پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې تمام عقل د دهٔ په سینه بې کینه کښې ځایږ وو اعجاز ږې چې فرمائیل هسې کیدل، نمر زمکه ږې په اعجاز کښې په حکم په فرمان وو ۔ مدت ږې دعوت وکړ عالم پرې هومره ونهٔ گروهیدهٔ څو ږې توره وربنکاره کړه"۔ (23)

"مانی هسې مهارت د دې هنر حاصل کړے وو چې په جدول کښې به ږې جدول راځکول ۔ هم دا هنر چې تر کمال ږې رسولے وو دعویٰ ږې د پیغمبرۍ وکړه معجزه ږې دا د جدول راځکول تصور کړل ډیر خلق پرې

www.pukhto.net

وګروهیدة"۔ (24)

ددې دواړو نمونو راوړلو نه پس لیکی چې---

"دغه دواړو ځایونو کښې "ګروهیدل" اخر سیوا داعتقاد

لرلو، ایمان راوړلو او منلو بله کومه معنیٰ ښندی؟"۔ (25)

په دې دواړو ځایونو کښې د اعتقاد لرلو او ایمان راوړلو معنیٰ نه ورکوی خو بیا هم د لږ ساعت دپاره دا خبره منم او یو ځل بیا خپله هغه خبره تکراروم چې دوی ولې د ګروهیدل معنیٰ ویریدل کړے ده ۔ او دا کوم انصاف دے چې په خپله ې یوه معنیٰ کوی او دبل له خوا شوے هم هغه معنیٰ ې غلطه ګڼی ۔ اوس به راشو د دستار نامې دغې دوو اقتباسونو له په کوم کښې چې د هغوی په خیال د ایمان راوړلو په معنیٰ کښې استعمال شوے دے ۔ د دې په جواب کښې زهٔ دومره عرض کول مناسب ګڼم چې هر نبی بشیر هم وی او نذیر هم وی یعنې زیری هم ورکوی او ویرول هم کوی په ورومبی اقتباس کښې د ویریدلو په معنیٰ استعمال شوے دے ځکه چې په ورپسې جمله کښې د "ځو ې توره ورښکاره کړه" نه دا څرګندیږی چې دلته د ویرې په معنیٰ استعمال شوے دے ۔ او دا بحث هم خوشحال بابا د شجاعت په ذکر کښې کړے دے او د توري فائدې ښیی ۔ چې ډیره موده پیغمبر صلی الله علیه وسلم تبلیغ وکهٔ خو خلق ونهٔ ویریدل تر دې چې توره ې ورپسې راپورته کړه ۔ دغسې په دویم اقتباس کښې د "مانی" ذکر دے کوم چې د نبوت دعویٰ کړے وه او د یو مسلمان او بیا سنی اوحنفی مسلکی شاعر نه دا توقع بیخی نهٔ شی کیدے چې هغه د یو دروغژن نبیٔ په حقله دا

www.pukhto.net

خبره وکړی چې خپله معجزه ې د جدول راڅکول تصور کړل او خلقو پرې ایمان راوړو - د دستار نامې کومه اردو ترجمه چې خاطر غزنوی صاحب کړے ده او پښتو اکیډمۍ چاپ کړے ده په هغې کښې هغوی دمانی په ذکر کښې د "وګروهیدهٔ" معنیٰ حلقه بگوش ہوگئے کړے ده- او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ذکر کښې د راغلی "وګروهیدهٔ" ترجمه ې په پرواه نه کی سره کړے ده- اوس زهٔ د ګروهیدل یو بل مثال د ګوهر خان خټک د قلب السیر قلمی نسخې نه ورکوم چې د پیښور په میوزیم کښې پرته ده- ګوهر خان خټک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ذکر کښې لیکی چې--

"د اسې وهٔ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت

آغاز کړ بعضې خلق وګروهیدهٔ او ایمان ې راوړ"- 26

ښه نو اوس د "ایمان راوړ" په موجودګۍ کښې د "وګروهیدهٔ" معنیٰ ایمان راوړل یا اعتقاد لرل څنګه کیدے شی- باید چې ګران لوستونکی پرې غور وکړی- او دا خبره د دستار نامې د هغې اقتباس کوم چې اګاهو ذکر شو سره ډیره نزدے خبره ده - پلار او خوئ دواړو د ویریدلو په معنیٰ کښې استعمال کړے دے - او د ګوهر خان خټک دا خبره د دستار نامې د اقتباس وضاحت هم په ډیره ښه طریقه کوی-

د خوشحال بابا یوه رباعی چې دواړو مچترمو لیکونکیو نهٔ ده پیش کړے زهٔ ې دلته پیش کوم او لوستونکیو ته دا ښیم چې د ګروهیدل معنیٰ ایمان راوړل او اعتقاد لرل بیخی نهٔ ده - رباعی دا ده--

www.pukhto.net

خالق زمایٔ په دا پوهیږم

حکم دے حق دے منم گروهیږم

چې دې ظلوم جهول پیدا کړم

په بدمې نیسے دا اندو هیږم 27

په پښتو ادب کښې "گروهیدل" د ویریدلو په معنیٰ استعمال شوے دے او د افغانستان چاپ شوے فرهنگ "سیند" ٔ بیخی ټیک معنیٰ کړے ده او صاحب د تول پارسنگ ٔ هم یو ځایٔ کښې ټیک معنیٰ کړے ده خو سره د هغې په پټه خزانه کښې د شوے غلطې معنې دفاع کوی ۔ د هغوی دې حرکت ته چې لوستونکی څه نوم ورکوی خو زهٔ دومره وایم چې دا صرف او صرف ضد دے لکه چې محترم همیش صاحب په خپله یوه انټرویو کښې د کومې یو اقتباس چې ما د خپل کتاب په شروع کښې رانقل کړے دے ۔ دا خبره کړے ده چې "ما وئیل دا سړے رانه اوس خرابیږی" او د پټې خزانې د دفاع په لړ کښې د هغوی دهرې خبرې په شا دغه ضد کار فرما دے ۔

اوس زهٔ د گروهیدل د استعمال څنې د اسې شعرونه گرانو لوستونکیو ته پیش کوم چې دوارو محترمو لیکونکیو نهٔ دی پیش کړی او فیصله ٔ ښاغلیو لوستونکیو ته پریږدم، چې هغوی وگوری چې په دیو شعرونو کښې "گروهیدل" د "ایمان راوړلو" په معنیٰ استعمال شوی دی او که نه

www.pukhto.net

ریږدی غاړې غږونه د خوشحال په فریادونه

واوره واوره واوره راشه څه خو وګروهیږه

28 خوشحال بابا

هیڅ نر په تا دا اوښې زمانه کا

درست جهان مې په دا حال باندې ګروهیږی

دا زما طالع هر ګوره دی زبونې

چې دلبر زما په حال هیڅ نه ګروهیږی

ورشه وګوره آیات په دا ناطق دی

له آیته له حدیثه نه ګروهیږی

29 حبیب الله

ستا په در کښې رقیبان راباندې بلوڅی

نه ګروهیږی په مکه او مدینه

30 حمید بابا

اهل حق په دا پوهیږی

مومنان باندې ګروهیږی

31 کمګار خان خټک

په هیڅ رنګ نه رضا کیږی

په وئیل مې نه ګروهیږی

شرم وکړه وشرمیږه

په وئیل مې وګروهیږه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

بد نصیبه ې دو بیږې

په وئیل مې نه ګروهیږې

32 میاں شمس الدین

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۰۹
2. هم دغه کتاب ص ـ ۱۰۹
3. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۰
4. هم دغه کتاب ص ص ـ ۱۱۰ ـ ۱۱۱
5. تول پارسنګ ص ـ ۱۱۷
6. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۶
7. ارمغان خوشحال ص ـ ۸۹۰
8. تول پارسنګ ص ـ ۱۱۷
9. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۱۰
10. تول پارسنګ ص ـ ۱۱۸
11. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۸
12. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۸
13. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۹
14. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۹
15. د رحمان بابا دیوان اردو ترجمه ص ـ ۱۲۳
16. د رحمان بابا کلیات ص ـ ۱۵۵
17. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۱۱ ۱۱۲ ۱۱۳ ۱۱۴ ۱۱۵ ۱۱۶
18. هم دغه کتاب ص ـ ۱۱۶

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

19 تول پارسنگ ص - ۱۲۰

20 پته خزانه فی المیزان ص - ۱۱۷

21 هم دغه کتاب ص - ۱۱۷

22 تول پارسنگ ص ص - ۱۲۰-۱۲۱

23 هم دغه کتاب ص - ۱۲۱

24 هم دغه کتاب ص - ۱۲۲

25 هم دغه کتاب ص - ۱۲۲

26 قلب السیر قلمی ص - ۸۳

27 ارمغان خوشحال ص - ۱۵۵

28 هم دغه کتاب ص - ۵۲۲

29 د حبیب الله دیوان ص - ۱۷۰،۱۳۷

30 د حمید بابا دیوان ص - ۳۱۵

31 شرح العقائد قلمی ص - ٤۳

32 مناقب شیخ رحمکار د میاں شمس الدین

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

هاتوا برهانکم

په پټه خزانه فی المیزان کښې چې د "بیلګې" د عنوان لاندې په بل کوم توری اعتراض شوے دے هغه "کلن" دے۔ محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب کښې ددې توری په حقله لیکی چې---

"دا تورے محمد هوتک په خپل کتاب "پټه خزانه" کښې د کال د صفتی شکل په معنیٰ استعمال کړے دے مثالونه یې دا دی---

۱۔ پادشاه ظل الله څوارلس کلن وۀ۔

۲۔ محمد یونس په دغه کال یو دیرش کلن ځوان وۀ۔

۳۔ په عمر دیرش کلن دے۔

٤۔ په عمر دیر پوخ سړے وۀ اتیا کلن۔

د پښتو د ګرامر یوه عامه قاعده دا ده چې د وخت او زمانې سره د صفت لرونکیو تورو اخر ته "ے" او "نے" راځی۔ د مثال په طور ننني، سبانے، پرونے، بیګانے، سږنے، پروسږنے، ورځ کلنے وغیره۔" (۱)

له دې نه پس هغوی د ځلورو فرهنګونو کرسټومیتی، راورتی، بیلیو او خیر الله پادری ذکر کړے دے چې هغوی ټولو دا تورے نۀ دې

www.pukhto.net

اخستے او صحیح تورے "کلنے "ې راخستے دے ۔ پینځم فرهنګ هغوی د راحت زاخیلی مرحوم هم یاد کړے دے خو لیکی چې --

"هم هغه ځۀ چې خیر الله پادری لیکلی دی هغه ې راوړی دی ۔" ❷

دفرهنګونو دحوالو راوړو نه پس لیکی چې ---

"یوه اهمه خبره دا ده چې دغې وړومبیو پینځو واړو کتابونو کښې د "کلن "لفظ نۀ دې اخستے شوے ۔ صرف دا یو حقیقت چې د لغت په ټولو کتابونو کښې "کلنے" شته او "کلن" نشته د دې خبرې ثبوت دے چې "کلن" یو ډیر نوے ټکے دے او په یولس سوه دوه ځلویښتمه هجرۍ کښې هډو استعمال نۀ وۀ ۔" ❸

له دې خبرې نه پس هغوی د اتمام حجت د پاره له پښتو ادبیاتو نه د نظم او نثر ډیرې نمونې هم پیش کړی دی چې د هغوی د دعوی تائید کوی ۔ دغه نمونې زۀ دوباره نقل کول مناسب نۀ ګڼم خو دلوستونکیو داسانۍ د پاره صرف د هغو نمونو په حوالو راوړلو اکتفا کوم ۔ هغوی دغه نمونې له دې کتابونو نه پیش کړی دی ۔

۱۔ د بیاض یو شعر

۲۔ یوه نمونه د بریښنا کیسه د حافظ محمد امین سر پریکړی

۳۔ د فوائد الشریعت نه دري نمونې

۴۔ د زړې عهد نامې نه یو دیرش نمونې

www.pukhto.net

په دیو ټولو نمونو کښې "کلنے" استعمال شوے دے او دا خبره تړې په ډاګه کیږی چې "کلن" د افغانستان یو جدید تورے دے۔ او د محمد هوتک مرحوم په زمانه کښې د دې توری د استعمال هډو امکان نه شو کیدے ګنی د لغت کتابونو به خامخا راخستے وۀ ۔ د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې د لوستونکیو د کنفیوژ کولو یو ناکام کوشش په دې الفاظو کړے دے------

"دا هم سمه خبره نه ده خکه چې د ګرامر د اسې ډیرې قاعدې دی چې هغو دپاره یوه فارمولا کارآمده نه شی کیدے مثلاً مونږ کۀ چرې د مذکر اسمونو جمع جوړوو نو د دې مختلفې قاعدې دی"۔ ❹

او له دې نه پس ئې د اسمونو په مذکر، مونث او واحد جمع جوړولو بحث کړے دے۔ حالانکې خبره د "کلن" او "کلنی" ده کوم چې د زمانې سره تعلق لرونکی صفتونه دی۔ پکار وو چې محترم همیش صاحب د وخت او زمانې سره د تعلق لرونکیو تورو ځۀ نمونې پیش کړے وے چې د "کلن" په شان وے او د هغوی د دعوې تائید تړې کیدلے ۔ لکه چې د هغۀ همعصر قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د کلنی بیشمیره نمونې د خپل موقف په تائید کښې پیش کړی دی۔ ولې به تول پارسنګ کښې د مدلل بحث په خاې د لوستونکیو د کنفیوژ کولو حربه پکار ولے شوے ده۔

د افغانستان د یو دیر محترم لیکونکی صدیق الله خان رښتین یو کتاب چې سید محی الدین هاشمی په پښتو کښې ترجمه کړے دے ۔ په هغې

www.pukhto.net

کښې د نسبتی صفتونو په حقله لیکی چې---

"د نسبتی صفتونو څینې نخښې دا دی وال، ی، خیل، زئ، نے، ین، یز لکه کامه وال، سلیمان خیل، سدوزئ، اوسنے، وریښمین، چرنیز او نور۔" (5)

خو د خوش قسمتی نه په دې نخښو کښې د "ن" نخښه نشته۔ اوس دې لوستونکی فیصله وکړی چې یو تورے په فرهنګونو کښې هم نه وی او د ګرامر په کتاب کښې ئې هم څه نخښه نښانه نه وی نو هغه به ګنی یو مخصوص او وضع کړے شوے تورے نه وی؟

په ځائې د دې چې د قلندر صاحب راوړلے شوے نمونې غلطې ګرځولې شوے وے یا د زوړ پښتو ادب نه د "کلن" څه نمونې پیش کړے شوے وے، په تول پارسنګ کښې د دې بحث د کنجلکه کولو په خیال داسې لیکلی شوی دی چې---

"آیا زه دا پوښتنه کولے شم چې که یو سړے د استقلال سل کلنے جشن په ځائې د استقلال سل کلیزه جشن ووائی نو د دې دا منطق به باطل نه شی؟ یا هم نن سبا زمونږ څنې ماهوار مجلې که د میاشتنی په ځائې میاشتیزه ولیکی نو د دې د ګرامر په دغه حواله کښې به څومره صداقت پاتې شی۔" (6)

لکه چې لوستونکیو وکتله ما په خپلو خبرو کښې د صدیق الله خان رښتین د ګرامر حواله ورکړه۔ نو ایا زه دا پوښتنه کولے شم چې د

www.pukhto.net

صدیق الله خان رښتین دغه ګرامر هم باطل دے او هیڅ صداقت نه لری۔ او که
داسې وی نو بیا تر ننه په دغې کتاب ولې چا څه تبصره ونه کړه؟ زه دلته د
محترم همیش صاحب د همصر د ګرامر ذکر نه کوم بلکې د صدیق الله خان
رښتین د ګرامر په حواله د جواب ورکولو کوشش کوم۔ محترم په بره نقل
شوی اقتباس کښې دا هم وئیلی دی که څوک میاشتنۍ ته میاشتیزه ووائی
او یا سل کلنی جشن استقلال ته د استقلال سل کلیزه جشن ووائی نو د دې دا
منطق به باطل نه شی؟ ددې په جواب کښې به زه دومره عرض وکړم چې
"میاشتیزه" او "کلیزه" خو هم بیخی لکه د "کلن" غوندې توری دی چې
دیر وروستو وضع کړی شوی دی۔ او دیر لږ وخت کیږی چې د افغانستان
په تتبع کښې ئې زمونږ په پښتونخوا کښې رواج موندې دے۔ په تول
پارسنګ کښې په دې موضوع چې څومره بحث شوے دے هغه د دغې
موضوع سره هیڅ تعلق نه لری۔ او نه په دغه موضوع دومره بحث ته څه
حاجت وه۔ پکار خو دا وه چې په پښتو زور ادب کښې د "کلن" استعمال
که په نثر کښې وے او که په نظم کښې په خپل دلیل کښې پیش کړے شوے
وے۔ خو د بدقسمتۍ نه په تول پارسنګ کښې داسې نه دی شوی او دغسې
دغه بحث لوستونکی نه قانع کوی۔

په پته خزانه د محترم قلندر صاحب بل اعتراض دا دے چې په پته
خزانه کښې د جدید لیکونکی ژبه استعمال شوے ده۔ چې د هغې یو مثال
"کلن" هم دے۔ او د ټولو نه عجیبه خبره دا ده چې څنګه په ټول زور پښتو
ادب کښې د "کلن" استعمال مفقود دے دغه رنګ په پته خزانه کښې د "کلنی"

www.pukhto.net

استعمال بیخی نۀ دے شوے ۔ کۀ چرې بفرض محال دواړو صورتونو کښې راغلے وے نو لوستونکیو به دا ګڼله چې دا د کتابت غلطی ده ۔ په پټه خزانه کښې لکه چې اګاهو ووتیلی شو محلور ځله "کلن" تورے استعمال شوے دے او د پټې خزانې دفاع کونکی هډو دا حق نۀ لری چې دا الزام په کاتب وروتپی ۔ خو په دغې بحث کښې محترم همیش صاحب په اخره کښې خبره په دې خلاصه کړے ده چې ---

"کۀ د دغو ټولو خبرو نه بیا هم ځوک انکار و کړی نو د قلمی نسخې نقل خو محمد عباس کاسی کړے دے آیا د هغۀ له خوا د دغه لیکلو احتمال ممکن نۀ دے؟" ❼

هم دا خبره هغوی د "استوګه" او "استوګنه" په بحث کښې هم کړے ده او لیکی چې ---

"چونکې "استوګنه" د بیلیو ، راورتی ، پښتو قاموس او د بهادر شاه ظفر کاکاخیل په فرهنګونو کښې هم په دواړه شکله راغلے ده ځکه نو د پورته ذکر شوو شعرونو او فرهنګونو حوالې دا حقیقت برڅیروی چې دا لغت د پخوا راسې په دواړو شکلونو کښې رائج دے او کۀ بیا ې هم ځوک نۀ منی نو لکه چې ما وړاندې عرض کړے دے چې د محمد هوتک د تذکرې دا قلمی نسخه د اصل نسخې د نقل ، نقل دے ، ځکه نو زیر بحث لغت د کاتب له خوا د "استوګنه" په شکل د لیکلو احتمال هم له امکانه

www.pukhto.net

بهر کیدلے نۀ شی ځکه چې کوم وخت محمد عباس
کاسی دغه موجوده نسخه لیکله نو هغه وخت د بیلیو او
راورتی فرهنګونه چاپ شوی وو"۔ (8)

خو د بد قسمتۍ نه دلته هغه خبره غلطیږی ځکه چې د راورتی او بیلیو په فرهنګونو کښې کۀ "استوګه" او "استوګنه" دواړه شکله موجود وو خو "کلن" په دغه دواړو فرهنګونو کښې نشته ۔ نو هلته کۀ محمد عباس کاسی له هغې فرهنګونو نه استفاده کړے وی نو احتمال ۍ ممکن دے، هر څو کۀ دا د منلو خبره نۀ ده خو بیا هم کۀ زۀ یا نور لوستونکی د یو ساعت دپاره دا خبره وۀ هم منی نو د "کلن" دپاره به هم دغسې د یو فرهنګ حواله ضروری وی چې لوستونکی قانع کړی۔ او کۀ بفرض محال مونږ دا د محمد عباس کاسی غلطی هم وګڼو نو څلور خایه به ۍ څنګه منو؟ بل چې محترم همیش صاحب دا خبره کوی چې "احتمال ۍ د کاتب نه ممکن دے" نو زۀ دومره عرض لرم چې بناغلی محشی او مشرح پرې د څۀ لیکلو ضرورت ولې نۀ دے محسوس کړے ۔ حالانکې محترم حبیبی صاحب په پته خزانه کښې په ډیرو توریو په حاشیه کښې نوټونه لیکلی دی ۔ دا ټول هغه سوالونه دی چې جواب نۀ لری۔ او د قلندر مومند صاحب هغه خبره ټیک ثابتیږی چې د پټې خزانې د لیکونکی، محشی او کاتب تر مینځه یو "ذهنی" تعلق وۀ۔" او د "کلن" د دې څلور خایه استعمال او په هغې د محترم محشی او مشرح د خاموشۍ نه دا خبره په ډاګه کیږی چې دغه تعلق شته دے ګنی داسې به هیڅ کله نۀ وو شوی۔

www.pukhto.net

محترم همیش صاحب د "مواس" په بحث کښې لیکلی دی چې--

"یوه بله ډیره عجیبه خبره دا هم ده چې یو خوا خو
بناغلی همعصر د "هیواد"، " گروهیدل"، " کلن" او
"استوگه" په بحث کښې د بې دریغو اشعارو نه علاوه د
نثر نمونې او فرهنگونو حوالې هم ورکړی دی ولې بل
خوا ئې د "بهیر"، "گوانبن" او "مواس" په بحث کښې نثر
خو څه چې د بې شمیرو شعرونو د موجودګۍ باوجود
یو شعر هم د خپلو اعتراضونو په دفاع کښې پیش نه کړے
شو-"

9

خو که دلته زه د هغوی نه دا پوښتنه وکړم چې د "کلن" په بحث کښې هغوی ولې د خپل موقف د دفاع دپاره د نمونو پیش کولو نه ډډه کړے ده- نو شاید چې د دې به هغوی سره هیڅ جواب نه وی -او ظاهره ده چې په پښتو زور ادب کښې د "کلن استعمال بیخی نه دے شوے- او په تول پارسنګ کښې د نمونو نه راوړل هم په دې خبره دلالت کوی - باقی د "گوانبن"، "بهیر" او "مواس" په بحث کښې چې په پته خزانه فی المیزان کښې نمونې نه دی راوړلې شوے د هغې په حقله به زه دومره عرض وکړم او په دې هر سړے پوهیږی چې هر کله د یو توری په معنو کښې په فرهنګونو کښې تضاد نه وی نو د هغې په بحث کښې د شعرونو او نثر توتو راوړل یو بې خایه کار دے او د تحقیق او تنقید د اصولو خلاف خبره ده - د "کلن" په حقله دومره حوالې محترم قلندر صاحب پیش کړی دی چې کافی او شافی دی البته د

www.pukhto.net

هغې توریو د کومو په حقله چې محترم همیش صاحب د نمونو راوړلو ارمان کړے دے ،د هغې د استعمال مثالونه به زهٔ انشاء الله تعالیٰ د هغې توریو په بحث کښې د اتمام حجت دپاره پیش کړم چې گیله ئې ورکه شی - دا وخت زهٔ صرف د علی خان یو شعر چې قلندر صاحب نهٔ دے پیش کړے لوستونکیو ته وړاندې کوُم چې په کښې "کلنے" استعمال شوے دے--

پند چې علی خان ته هغه پیر سل کلنے کا

هسې راته ښکاری لکه طفل شبینه (10)

حوالی

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۱۹
2. هم دغه کتاب ص - ۱۲۰
3. هم دغه کتاب ص - ۱۲۰
4. تول پارسنگ ص - ۱۲۲
5. د پښتو گرامر د صدیق الله خان ریښتین ترجمه د سید محی الدین هاشمی د پیښور چاپ ص ص - ۱۷۰، ۱۷۱
6. تول پارسنگ ص - ۱۲۳
7. هم دغه کتاب ص ص - ۱۲۳، ۱۲۴
8. هم دغه کتاب ص ص - ۱۲۵، ۱۲۶
9. هم دغه کتاب ص - ۱۳۰
10. د علی خان دیوان ص - ۱۴۸

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

هٰذَا الشَّیءُ عُجَابٌ

د پټې خزانې د جدیدیت ثابتولو دپاره محترم قلندر مومند صاحب په یو بل توری "استوګنه" بحث کړے دے کوم چې یو جدید تورے دے او په پټه خزانه کښې چرته هم په زور شکل یعنې "استوګه" نه دې راغلے ۔ محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب پټه خزانه فی المیزان کښې د دې توری په حقله لیکی چې---

"د دې ټکی د جدیدیت د ثابتولو دپاره دومره وینا کافی ده چې که یو خوا د دورن کرسټومیتی او د بیلیو په فرهنګونو کښې دا کلمه د استوګې او استوګنې په شکل راغلے ده نو بل خوا خیر اللغات او لغات افغانی صرف په یو شکل یعنې استوګنه راوړے ده او د دغه دواړو فرهنګونو چې د شلمې میلادی صدیء فرهنګونه دی د دې کلمی زور شکل استوګه هم دغسې رد کړے دے لکه چې پټې خزانې کړے دے حالانکې د ټولو قلمی نسخو متفق علیه قراءت استوګه دے۔" (1)

له دې خبرو نه پس محترم قلندر مومند صاحب د مخلص شپږ شعرونه، د رحمان بابا یو شعر، د اشرف خلیل یو شعر، د یونس دوه شعرونه د قادر یو شعر، په دلیل کښې پیش کړی دی چې په کښې "استوګه" استعمال

www.pukhto.net

شوے ده ـ د نثر په نمونو کښې هغوی له سیر السالکین نه یوه نمونه، له تاریخ مرصع نه څلور دیرش نمونې، د زړې عهد نامې له کتابونو نه یو یشت نمونې او له تواریخ حافظ رحمت خانی نه څلور نمونې هم پیش کړی دی ـ چې په کښې "استوګه" راغلے ده ـ له دغو نمونو راوړلو نه پس لیکی ---

"دیو ټولو قدیمو قلمی او چاپی نسخو کښې چې دا کلمه "استوګه" او پته خزانه کښې "استوګنه" نو لوستونکے به بې له دې نه نوره څه رایٔ قائموی چې پته خزانه د خپل جدید لیکونکی قراءت استعمالوی ـ حالانکې اوس خو دا خبره د افغانستان محترمو نقادانو هم عملاً منلے ده چې دا تورے استوګه دے"۔ ❷

د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب په ټول پارسنګ کښې لیکی چې ---

" اګر کهٔ دا لغت زمونږ په لرغونی ادب کښې اکثر د "استوګه" په شکل راغلے دے خو باوجود دې بیا هم کله کله "استوګنه" هم استعمال شوے دے"۔ ❸

د محترم همیش صاحب له دې جواب نه د اسې ښکاری چې پته خزانه لرغونے کتاب نه دے ځکه چې په قول د همیش صاحب " دا لغت زمونږ په لرغونی ادب کښې اکثر د " استوګه" په شکل راغلے دے"۔ لوستونکی به حیرانیږی چې په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری کښې لیکلے شوے کتاب څنګه لرغونے نه دے ـ خو دا زهٔ نه وایم بلکې دا خبره د

www.pukhto.net

محترم همیش صاحب د بره ذکر شوی اقتباس نه راووخی - څکه چې په پته خزانه کښې چرته هسې د خوند دپاره هم "استوګه" نه ده استعمال شوے - د همیش صاحب د وینا تر مخه په لرغونی ادب کښې په کثرت سره استعمال شوے تورے په پته خزانه کښې نه دے استعمال شوے - څکه نو مونږ څوک په دې خبره بیخی نه شی کرمولے چې مونږ پټې خزانې ته لرغونی کتاب ونه وایو - او د محترم قلندر مومند صاحب دا وینا په ځایې ده چې "پته خزانه د جدید لیکونکی قراءت استعمالوی" - تول پارسنګ د استوګنې د استعمال له نمونو راوړلو نه اګاهو هم هغه خبره چې په دغه کتاب کښې اکثر تکرارولے شی، دلته یو ځل بیا تکرار کړے ده چې ---

"په دغه حقله د مثالونو پیش کولو نه وړاندې ښاغلو لوستونکو ته به دا حقیقت ور په ګوته کول هم بې ځایه نه وی چې د پټې خزانې موجوده قلمی نسخه محمد عباس کاسی د اصل نسخې د نقل نه نقل کړے ده څکه نو دا احتمال کیدلے شی چې کاتب په خپله لهجه کښې د استوګه "په ځای "استوګنه" لیکلے وی" - ۹

دلته دې دا خبره یاده وی چې د "کلن" په حقله د شوی اعتراض په جواب کښې هم دغه حربه استعمال شوے ده خو فرق دا دے چې هلته د قلمی نسخې نقل محمد عباس کاسی کړے دے او دلته د اصل نسخې د نقل، نقل محمد عباس کاسی کړے دے - یعنې لوستونکی تر دې دا اندازه په اسانه لګولے شی چې د اصل نسخې نقل او بیا دهغې نقل دواړه محمد عباس کاسی کړی

www.pukhto.net

دی - او د نور محمد خروټی نوم خو تړې له سره الوتے دے - بهر کیف چې دغه احتمال هم مونږ د هغهٔ نه ممکن و ګڼو نو بناغلی مدون، محشی او مشرح پرې د څهٔ لیکلو ضرورت ولې نهٔ دې محسوس کړے - ځکه چې بناغلے مشرح حبیبی مرحوم یو لوړ عالم او فاضل وهٔ هغهٔ به ضرور لکه د همیش صاحب له دې نه خبر وهٔ چې په لرغونی پښتو ادب کښې په کثرت سره استعمالیدونکے تورے "استوګه" دے - نو پکار وو او ضرورت ږ هم لرلو چې د دې کمتر استعمالیدونکی توری په حقله ږ څهٔ خبره کړے وے - خو د بدقسمتی، نه هغوی د دې توری استعمال ته په خپلو حاشیو او تعلیقاتو کښې یوه خفیفه اشاره کول هم ضروری نهٔ دی ګڼلی - او لکه د محترم همیش صاحب ږ داد کاتب حرکت هم نهٔ دې ګڼلے -

له دغې حربې پکارولو نه پس ته د دغې اعتراض په جواب کښې لیکی چې ---

" د ا احتمال ځکه قرین قیاس دے چې کلیات خوشحال خان خټک کښې هم د خټکو لهجه په یوسفزیٔ لهجه اړولے شوے ده هم د دغه حقیقت له مخه کهٔ اوس څوک راپاسی او د ا اعتراض وکړی چې د ا د خوشحال خان خټک شعرونه نهٔ دی نو د دې جواب به اخر څوک څهٔ وکړی"- 5

دلته زهٔ یوه خبره د لوستونکیو په ذهن کښې کښینول ضروری ګڼم او هغه دا چې په تول پارسنګ کښې د ا واحد ځایٔ دے چې دلته د لهجې

www.pukhto.net

اړولو خبره شوے ده ۔ د دې په جواب کښې زما عرض دا دے چې هر کله داسې شوی دی نو فاضل محشی او مشرح پرې ولې څه نه دی وئیلی ۔ او یو دوه کرښې نوټ ئې پرې ولې نه دې لیکلے ؟ د دې نقل کتابت کونکے محمد عباس کاسی دے او مرحوم حبیبی کاسی هم نه وه نو بیا څنګه هغه د کاتب په دې حرکت غلې پاتې شوے دے ۔ ایا د دواړو لهجه یوه وه او که د اسې وی نو بیا به دا ثابتول غواړی ۔ خو داسې بیخی نه ده او هغه د قلندر صاحب خبره چې " د پټې خزانې د مولف، کاتب او مشرح تر مینځه یو ذهنی تعلق وه" بالکل صحیح ده ۔ بل د لهجې د بدلولو په ضمن کښې محترم همیش صاحب له پکار وو چې هم د پټې خزانې نه ئې د اسې نمونې پیش کړے وے چې بدلې کړے شوے وے او د کاسیانو د لهجې سره ئې مناسبت لرلې ۔ نو شاید چې لوستونکی به ئې قانع کړے وے ۔ خو متاسفانه هغوی داسې نه دی کړی ۔ او چې تر کومې پورې مونږ ته دا خبره معلومه نه شی چې د کاسیانو په لهجه او د قندهار د خلقو په لهجه کښې څه فرق دے تر هغې مونږ د همیش صاحب دا توجیه نه شو منلے ۔ محترم حبیبی صاحب مرحوم چې لوئ عالم او فاضل وه په نسبت د محترم همیش صاحب د دې توری د استعمال په حقله ښه توجیه کولے شوه ۔ خو د هغوی په دې لهجه اړونه چپ پاتې کیدل د قلندر صاحب هغې خبرې ته تقویت ورکوی کومه چې ما مخکښې وکړه ۔

له دغې نه پس محترم همیش صاحب یو شعر د علی خان، دوه د حسین او یو شعر د شمس الدین کاکړ چې په کښې استوګنه راغلے ده پیش

www.pukhto.net

کړی دی - محترم همیش صاحب دا نمونې د چاپ شویو دیوانونو نه ورکړی دی - ما صرف د علی خان یو قلمی دیوان چې د ارکائیوز په لائبریرۍ کښې پروت دے په دې غرض وکتلو نو په هغې کښې دوه شعرونه د اسې دی چې په کښې استوګه استعمال شوے ده - او دوارې خایه استوګه لیکلے شوے ده - هغه دوارې شعرونه دا دی --

علی خان کهٔ یې له غمه مری ګرم نهٔ دے

څهٔ استوګه به د کوهه لاندې کاه که

ورک به علی خان شی دبې دردو له کبله

نوره یې باقی استوګه ګرانه په وطن شوه 6

او زما خپل خیال دادے چې کهٔ دا نور شعرونه چې هغوی پیش کړی دی که دا هم په قلمی نسخو کښې وکتے شی نو شاید چې دا به هم استوګه وی -

په نثر کښې یې یو مثال د تاریخ مرصع نه هم ورکړے دے - خو د حیرانئ مقام دا دے چې په یو کتاب کښې څلور واړه استعمال شوے تورے خو د کاتب غلطی ګڼی او په ټول پښتو ادب کښې صرف پینځهٔ خایه د استوګنی استعمال د کاتب غلطی نهٔ ګڼی - او بنکاړه خبره ده چې لوستونکی به په لرغونی پښتو ادب کښې زیات استعمال شوے تورے صحیح ګڼی او کم کوز استعمال شوے تورے به د کاتب غلطی ګڼی - بل محترم همیش صاحب لوستونکیو له دا تاثر ورکول غواړی چې ګنې معترض د پښتو په تورپو اعتراض لری حالانکې دا سې نهٔ ده - په استوګنه د هیچا اعتراض نشته خبره د پښتو خزانې د قدامت او جدیدیت ده - "استوګنه" یو جدید تورے دے او د

www.pukhto.net

محمد هوتک په زمانه کښې چرې هم داسې نه وئیلے کیدۀ نو دهغه وخت په تذکره کښې د یو جدید توری راتلۀ یقیناً چې یوه داسې خبره ده چې د لوستونکیو په ذهن کښې شکونه پیدا کوی۔

د سکندر خان خټک "لیلیٰ مجنون" چې د افغانستان د علومو له اکیډمۍ د ژبو او ادبیاتو د انسټیټیوټ له خوا په کال ۱۳۵۸ (د یارلس سوه اته پنځوس) هجری شمسی کښې چاپ شوے دے، په هغې کښې دریځله "استوګه" راغلے ده۔ او هم د دغه کتاب په صفحه یو سل یو پنځوسمه په قاموسی برخه کښې ورته لیکلی شوی دی---

"استوګه۔ (۹۲،۹۱،۶۰ مخونه) استوګنه، سکونت، په پخوانیو متنونو کښې لکه خیر البیان، د خوشحال کلیات او نورو کښې یواځې په هم دغه فورم راغلے دے"۔ (7)

دا دیره عجیبه خبره ده چې یو خوا دا هم منی چې په پخوانیو متنونو کښې یواځې هم په دغه فورم راغلے ده او بل پله یې بدلوی او د بدلولو هیڅ جواز هم نه لری۔ او د دې قرآنی ایت په مصداق کار کوی---

يُحَرِّفُونَهُ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ (8)

نه پوهیږم چې دا کوم منطق او اصول دی چې په پخوانیو متنونو کښې راغلی توری بدلولے شی۔ که دا د فلالوژی څخه اصول وی نو پکار دی چې هغه لوستونکیو ته په ګوته کړے شی۔ او که نه وی نو بیا د زړو توریو بدلول څه معنیٰ لری۔ خو زما په خیال د دې صرف یوه وجه ده چې په پټه

www.pukhto.net

خزانه کښې راغلیو توریو له رواج ورکړے شی هر څو که هغه غلط ولې نه وی - او دا یو ډیر عجیبه حرکت دے -

"پته خزانه فی المیزان" په کال ۱۹۸۸ نولس سوه اته اتیایم عیسوی کښې چاپ شوے کتاب دے - هم په دغه کال د ملا لتار دیوان د افغانستان د حکومت له خوا چاپ شوے دے - څکه نو په "پته خزانه فی المیزان" کښې د نومورې دیوان نه د "استوګه" د استعمال نمونې نه دی راخستې شوی - د ملا لتار په حقله په دغه دیوان کښې زیات معلومات نشته خو بیاغلی مرتب یې د "ملا لتار او د هغه دیوان" تر عنوان لاندې لیکلی دی چې ---

"د خپل دیوان په ۱۱۹۰ هجری قمری کال بشپړ کړے دے په

دې باب د دده خپله وینا داده --

شکر چې خلاص شوم د غم له جاله

چې په اتمام دیوان لتار شه

شوې هجری وو سل زر نوی کاله" (9)

څکه نو مونږ ملا لتار د محمد هوتک علیه الرحمة همعصر ګڼلے شو خو د دده په دیوان کښې پینځه ځایه "استوګه" استعمال شوے دے - زه یې مثالونه ګرانو لوستونکیو ته وړاندې کوم ---

بیامارانو به په ګنج استوګه نه کړه

ستا په مخ که تور ویښته نه څنګیدل

زړه دې له دنیا عاشقان نه تړی لتاړه

نه کاندې استوګه مسافر تل په رباط

www.pukhto.net

عاقبت به تړي راپريوځي ناګهانه

چې استوګه دې په ونو کښې شوه يږه

چې بدی کاندې اختياره په دنيا کښې

په عقبا به ې استوګه په نيران وی

محبت مې په خاطر داشنا زورشۀ

په تندی باندې مې بل دمينې اورشۀ

ليونتوب مې په وګړی هسې خورشۀ

ودان کور راته په مثل لکه ګورشۀ

په بيديا مې شوه استوګه له دلدارە 10

خو د ملا لتار د ديوان مرتب ښاغلی عبد الرحيم خدران نۀ خو "استوګه" تورے په لغتنامه کښې درج کړے دے او نۀ ې ورله حليه بدله کړے ده - بلکې هيڅ قسمه نوټ ې پرې نۀ دے ليکلے - په اخره کښې زۀ د رحمان بابا هغه شعر ونه چې "استوګه" په کښې استعمال شوے ده او محترم قلندر صاحب نۀ دی پيش کړی پيش کوم --

په توده زمکه استوګه ده مشکله

څۀ به زيست شی له رحمان سره دچا

د دنيا د دين نسبت وبله نۀ شی

اور اوبۀ سره استوګه په څۀ شان کا

بې درګاهه ې بل ځاې د رحمان نشته

په سفر استوګه څو مسافران کا

www.pukhto.net

پس له دې می دې استوګه خدایۍ نصیب کا

په دا در کښې کۀ حیات وی کۀ ممات

لکه سیورے چې دنمر په مخکښې ګرځی

نۀ استوګه چرته کاندې نۀ استاد

چې استوګه په پردی وطن کښې کاندې

هغه نۀ لری هیڅ واک او اختیار

همیشه به در په در ګرځے رتلے

داستوګې ځایۍ به نۀ مومې هیچرته

دا دنیا لکه سیلاب هسې بهیږی

نۀ یې چا څخه استوګه نۀ استاد وی (11)

یو بل دیوان چې د پته خزانه فی المیزان نه وروستو چاپ شوے دے د میرزا حنان بارکزی دیوان دے - په دې دیوان کښې یو ځایۍ "استوګه" استعمال شوے ده - شعر دا دے ---

ځایۍ مې نۀ زامعلومیږی داستوګې

لکه کانے د مچلوغې سر ګردان یم (12)

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۲۳
2. هم دغه کتاب ص - ۱۲۶
3. تول پارسنګ ص - ۱۳۴

www.pukhto.net

۱۱

4. هم دغه کتاب ص ـ ۱۳٤
5. هم دغه کتاب ص ـ ۱۳٤
6. د علی خان قلمی دیوان د آرکائیوز
7. لیلیٰ مجنون د سکندر خان خټک ص ـ ۱۵۱
8. قرآن مجید آیت نمبر ۷۵ سورهٔ البقره ۲
9. د ملا لتار دیوان ص ـ ۷
10. هم دغه کتاب ص ـ ۹۱،۷٤،۵۰،۱۳،۲۱۳،۲۳٦
11. د رحمان بابا کلیات ص ـ ۱۲،۳۵،۳٦،٦۵،۷٤،۸۹،۱۰،۲۱،۲۹۵
12. د حنان بارکزی دیوان ص ـ ۸۰

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا

قلندر مومند صاحب چې په خپل کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې د "بیلگې" د عنوان لاندې د یو بل توری د غلطې معنې په استعمال اعتراض کړے دے هغه "بهیر" دے، هغوی لیکی چې ---

"د مثال په طور په "پته خزانه" کښې د "ښکار ندوی" د قصیدې دا شعر چې وگورو -

د شهاب جگړن به نه کښیننی له زغلو

نه به پریږدی دا زلمی خپل بهیر و نه

ددې ترجمه په فارسی کښې داسې شوې ده--

لشکر شهاب از تاخت نخواهند نشست و این

جوانان سلسله رفتار خود را نخواهند گسیخت

ددې شعر په حاشیه ښاغلے حبیبی مرحوم لیکی --

بهیر یا بییر - بمعنی قطار و جماعت مسلسل و سلسله مردمی است که متعاقب یک دیگر روند -

یعنې قطار، مسلسل جماعت او د سړیو سلسله چې یو بل پسې وی -

"شعر" کښې یې هم دغه معنیٰ کیږی خو دا معنیٰ بالبداهت غلطه ده - ځکه چې "بهیر" د هندی کلمه ده چې فارسی کښې هم

www.pukhto.net

استعمالیږی او مختلفو فرهنګونو کښې د ا کلمه په دې لاندې لیکلیو معنو کښې درج ده۔

راورتی - بهیر - ۱- دفوځ سامان - ۲- هجوم (هندی)

شټائن ګاس - بهیر - سامان - فوځ پسې تلونکی۔

لغات کشوری - بهیر - د لښکر بازاری خلق - دا د هندی کلمه ده۔

مجمع اللغات - بهیر - د چاوڼی خلق

او لکه څنګه چې عرض وشه که د دې شعر په معنیٰ کښې د بهیر هغه مفهوم داخل کړے شی چې فرهنګونه یې ذکر کوی نو شعر بې معنې شی - د شعر معنیٰ هله پیدا شی چې د بهیر هغه غلط معنیٰ و کړے شی چې د پټې خزانې فاضل مفسر یې کوی۔" (1)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب کښې لیکی ---

"دا هم په هغو تورو کښې دے چې بناغلے همعصر یې د تذکره نګار او محترم حبیبی صاحب سره په معنیٰ کښې متفق نه دے او د بنکارندوی په قصیده کښې د پټې خزانې د مشرح د معنو یعنې (قطار و جماعت مسلسل و سلسله مردمی است که متعاقب یک دیگر روند) په حقله دا سې لیکی (شعر کښې یې هم دغه معنیٰ کیږی خو دا معنیٰ بالبداهت غلطه ده - ص - ۱۲۷)

راځئ چې اوس په دغو شعرونو کښې د "بهیر" معنیٰ د پټې خزانې د فاضل او مشرح د معنیٰ سره وڅیرو - دا فیصله به هم

www.pukhto.net

گرانو لوستونکیو ته پریږدو چې آیا دغو شعرونو کښې د "بهیر" معنیٰ هم هغه ده کومه چې فاضل مشرح کړې ده او که نه گران معترض یو ځل بیا د غلط بیانی نه کار اخستے دے۔

خوشحال خان خټک

څوې بوی په هر طرف بهیر ونه کړ
په گلونو عندلیب نفیر ونه کړ

میاں نعیم

کل اسباب د شادمانی را څخه یوسی
چې په زړه باندې مې کوز د زړه (؟) بهیر کا

علی خان

لاتړې یو وتلی نه بل پرې ډیره شی
کاروان سرای د غم بهیر کړو زما زړه

صاحبزاده محمدی

د تسبو دانې کل لاندې تر محراب دی
زړه داوښیو نه پریږدی بل لور بهیر کج

سعید

په نااهل تل د عیش هسې گزر دے
تل په زړه لکه د اهل غم بهیر کا

www.pukhto.net

اخون درویزه

اکبر بادشاه بهیر کړل یوسفزی لره خطونه

چې ومایې راکانۍ د تاریک بندی کورونه

لغوی معنی

پښتو قاموس - قطار - جماعت مسلسل - خاندان

ظفر اللغات - قطار - لائن - ازدحام ، انبوه - تسلسل

راورتی -۱- The Baggage and material of an army

-۲- a crowd , a mobe, a throng ,a multitude

شټائن ګاس - Baggage, camp followers

فیروز اللغات - دفوځ متعلقین او سامان - بیړه

د دغو ټولو حقیقتونو په رڼا کښې اوس هم کۀ ځوک وائی چې د

بهیر معنیٰ د ښکارندوی په قصیده کښې فاضل مشرح غلطه کړې

ده نو دا به نمر په ګوته د پټولو یو بې نتیجې کوشش وی - 2

محترم همیش صاحب د دغې اعتراض په جواب کښې نورې

خبرې بیخی نۀ دی کړی صرف یو ځو شعرونه او دیو ځو فرهنګونو کړې

معنې یې پیش کړی دی - په فرهنګونو کښې واحد یو پښتو قاموس د هغوی

د موقف ترجمانی کوی او پښتو قاموس له پټې خزانې نه پس چاپ شوے دے

دغه معنیٰ یې له پټې خزانې نه اخستے ده او د افغانستان د حکومت له خوا

چاپ شوے دے - ځکه نو په دې بحث کښې د پښتو قاموس بلکې د هر هغې

www.pukhto.net

قاموس چې له پټې خزانې نه وروستو چاپ شوے وی یا د افغانستان د حکومت له خوا چاپ شوے وی حواله ورکول پکار نه دی - محترم همیش صاحب دا فیصله گرانو لوستونکیو ته پریښې ده - زما په خیال په دیو شعرونو کښې په یو شعر کښې هم "بهیر" د جماعت مسلسل و سلسله مردمی که متعاقب یک دیگر روند په معنیٰ نه فټ کیږی - پکار ده چې گران مشر په دغو شعرونو کښې دغه معنیٰ لګولے او مونږ ته پیش کړے وے -

اوس زه صرف دیو څو قاموسونو کړې معنې او یو څو شعرونه پیش کوم --

غیاث اللغات فارسی

بهیر :- بر وزن فقیر بازاریان - لشکر ظاهر - لفظ هندیست که بتفریس واقع شده است -

فرهنگ آصفیه

بهیر :- هندی، اسم، مونث د فوځ نه وروستو تلونکی چې په کښې د فوځیانو بخې او دکاندار هم شامل وی - (ترجمه) فرهنگ آصفیه د الطاف حسین حالی مرحوم دا شعرونه هم پیش کړی دی --

فوج اور بهیر دونوں پھرتی ہے بے سری سی

گویا امیر لشکر مارا گیا ہے رن میں

سپاہ و میر سپہ باغ باغ ہیں لیکن

بهیر روتی ہے اور ہاتھ ملتی جاتی ہے

www.pukhto.net

جدید اردو لغت

بهیر :- ۱- دفوځ نه وروستو تلونکی ۲- دفوځ سامان (ترجمه) 5

جامع اللغات

بهیر :- لښکر او دفوځ سامان - دفوځ شاګرد پیشه (ترجمه) 6

اوس دې ګران لوستونکی غور وکړی چې د حبیبی صاحب معنیٰ "قطار وسلسله مردمی که متعاقب یک دیگر روند" ټیک ده او که نه - اوس زهٔ یو څو شعرونه پیش کوم چې په کښې د بهیر استعمال شوے دے --

نور عالم په خپله لار څی

زهٔ یې بیل کړم له بهیر

مرزا خان انصاری 7

چې سفر دیار په لور نهٔ یې کلام کا

خدایې مې ګډمهٔ کړه په هسې رنګ بهیر کښې

رحمت داوی 8

دشانې په دود ګزار وربانده کیږی

سیه مار دې دے د زلفو چې تاویږی

که آتش یې د رخسار دے چې لوګیږی

په سپین مخ باندې یې خط دے چې بنکاریږی

که یې زنې ته میږیو ساز بهیر کړه

کاظم خان شیدا 9

www.pukhto.net

4 فرهنگ آصفیه

5 جدید اردو لغت

6 جامع اللغات

7 د مرزا خان انصاری دیوان ص ۔ ۱۳۹

8 د رحمت داوی دیوان ص ۔ ۷۶

9 د کاظم خان شیدا دیوان ص ۔ ۲۱۲

10 دیوان شمس الفلک ص ۔ ۴۱۱

11 تاریخ مرصع ص ۔ ۲۱۱، ۲۱۷

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

رَجْماً بِالْغَیْبِ

یو بل تورے چې په پته خزانه فی المیزان کښې پرې اعتراض شوے دے هغه "گوانبل" دے۔ دا تورے د شیخ بوستان بریځ په یوه بدله کښې استعمال شوے دے۔ دلوستونکیو داسانۍ دپاره یې زه یو خل بیا نقل کوم---

د خوږو زړونو له حاله تهٔ یې اے باداره اگاه

یې دبی وزلو همراه

د خپل عزت په روښ بستان ته کړه د مهر ښبنډل

کړے له گناهه گوانبل (1)

محترم قلندر مومند صاحب لیکی چې---

حبیبی صاحب "گوانبل" ته په حاشیه دا سې نوټ لیکلے دے۔

گوانبل - د اول حرف په سکون - امتناع او له بده کاره څوک منع کول، گوانبن هم په دې معنیٰ اوس هم مستعمل دے۔ (2)

له دغې نه پس محترم قلندر مومند صاحب د مختلفو فرهنگونو معنې راوړلی دی چې څه په دې دول دی---

راورتی ---- گوانبن - صلح، جوړه، ثالثی، مد اخلت، مذاکرات، خبرې اترې، گفتگو، جگړه هوارول۔

www.pukhto.net

بیلیو ---- گوابښ - ثالثي، منځګړے توب، خبرې اتري، جګړه هوارول -

خیر اللغات--- گوابښ - صلح، اتفاق، آمادګی -

گوابښل - صلح کول، یو خاې کول، لمسول، اماده کول -

سیند ---- گوابښ - د جنګ وهلو ټکولو په حالت کښې دوه کسان خپلو کښې خلاصول، دا ټکے له روغه سره فرق لري -

پښتو قاموس--- گوابښ - له جنګه بیلول، تهدید -

گوابښل - له جنګه منع کول، تهدید کول -

زړه پانګه ---- گوابښل - له جګړې نه سره بیلول، تهدیدول - 3

دلته قلندر مومند صاحب یوه یادداشت دا هم کړے ده چې---

سیند، پښتو قاموس او زړه پانګه دریې واړه د افغانستان چاپ شوی فرهنګونه دی - ورومبے فرهنګ د پټې خزانې د چاپ کیدو نه اووه کاله اګاهو او نور دواړه د پټې خزانې نه لس کاله او محلوبښت کاله پس بالترتیب چاپ شوی دی - او که دغه ورومبے چاپ شوے فرهنګ "سیند" هم کتلے شوے وے نو د پټې خزانې فاضل مرتب به دا نه وو فرمائیلی چې " گوابښ هم په دې معنیٰ کښې اوس هم مستعمل دے"- 4

www.pukhto.net

محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې د دې توری په حقله خپله اخری فیصله دا ورکوی چې---

دا کلمه لکه د نورو ژبو د لغت تضاد مثال دے یعنې جنګ کول او د جنګ په دوران کښې خلاصے کول ۔ او هم په دیو معنو کښې اوس هم مستعمل او ژوندے ټکے دے۔ خو له بده مرغه د شیخ بوستان بریځ قدس الله سره العزیز په شعر کښې دیو دوارو معنو کښې یې یوه معنیٰ هم نه شی کیدے او صرف هغه معنیٰ ورسره دې شعر کښې جوړیږی چې فاضل مرتب ورته بخښلے ده۔ 5

محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې د دغې خبرې په جواب کښې لیکی چې---

اګر کهٔ د دغه توری هغه معنې چې مختلفو لغتونو کړی دی زهٔ خپله ذاتی طورٌ په هغو کښې کے محسوسوم خو چونکې دا موقع د دې بحث نهٔ ده نو خکه فی الحال زهٔ خپل بحث هم د دغو معنو تر حده محدودوم۔ 6

له دغې نه پس بیا لیکی---

هر کله چې دغه لغتونه خپلو کښې هم د دغه توری په معنو کښې هم خیاله نهٔ دی ولې بیا هم د پښتو قاموس په "له جنګه منع کول" کښې په "منع کول" فکر وکړو نو بیا هم د پټې خزانې د بناغلی محشی، مشرح او مفسر "از

www.pukhto.net

فعل بد کسے را منع کردن معنیٰ صحی ده ځکه چې پښتو
قاموس بیا د ګوابلی معنیٰ منع کننده یعنې منع
کونکے کړے ده او د جنګ د لفظ نه لیکلو هیڅ ضرورت
ې نه دې محسوس کړے ۔ دا منع کونکے که له جنګه
ځوک منع کوی او که له بده کاره خو د منع کونکی یه
معنیٰ هیڅ فرق نه پریوځی۔ (7)

زه نه پوهیږم چې ټول فرهنګونه د دغې توری معنیٰ له جنګه سره
خاص کوی او محترم همیش صاحب وائی چې په منع کول سره خبره
صحی کیږی۔ دا تورے متروک تورے نه دے اوس هم استعمالیږی خو د
حبیبی صاحب مرحوم په معنو کښې نه بلکې چې د دې توری خپلې کومې
معنې دې په هغې کښې نن هم مستعمل او ژوندے دے۔ دا خبره ټیک ده
چې جنګ بد کار دے خو ځومره پورې چې د یو توری د لغوی معنې تعلق
وی نو هغه معنیٰ ې پکار ده۔ او عجیبه خو دا ده چې د دې توری کومې
معنې پخوانیو فرهنګونو کړی دی په هغې معنو کښې اوس هم پکاریږی۔ بل
لکه چې وړاندې ما د قلندر صاحب خبره نقل کړے وه چې پښتو قاموس هغه
فرهنګ دے چې د پټې خزانې نه ډیر وروستو چاپ شوے دے۔ او د منطق له
رویه د هغې نه استناد نه شی کیدے۔ او د قلندر صاحب د دې یاددهانی باوجود
محترم همیش خلیل صاحب ټول بحث هم د دغې فرهنګ په کړے
معنیٰ اډانه کړے دے ۔ دغسې ظفر اللغات هم دے چې د پټې خزانې نه ډیر
وروستو چاپ شوے دے او باید چې په دې بحثونو کښې د هغه سند هم پیش

www.pukhto.net

نه کړے شی- خو محترم همیش صاحب ځایې په ځایې د هغې حوالې هم ورکړی دی- سیوا له دې ځایه ځکه چې دلته یې د هغه د موقف ترجمانی نه کوله- لکه ظفر اللغات د "گوانښ" معنې داسې کوی---

گوانښ - مذکر - له جنگه بیلول، ثالثی، پنچائیت، تنبیه، دهمکی او د حمزه بابا دا شعر یې هم پیش کړے دے--

ستا په گوانښ مې اوښکې چې له ستر گو راجدا شوې
څه په بوږنیدو په موسیدو لاړې دستر گو نه

8

خو هر کله چې د فرهنگونو په معنو کښې په قول د همیش صاحب تضاد دے ځکه نو زه د فرهنگونو نه ډډه کوم او په شعرونو کښې د "گوانښ" استعمال لوستونکیو ته پیش کوم چې له هغې نه خبره واضحه شی - او گران لوستونکی هم کنفیوژ نه شی---

یار له یاره سره کاندی رابطه د اخلاص پته
بیگانه وّ سره کیږی په څر گنده گوانښ گیښ

نښتې زړه ارجل برجل په دام د زلفو
په دروغ کا و پرهیز ته څان گوانښې

9

حمید بابا

چې د زور ساری یې نه وی ورته گوانښی
هغه کس دوچند سیوا گڼم په خر

10

شاد محمد خان

او دا کله چې په دې شعرونو کښې د محترم حبیبی صاحب معنیٰ ولگولے

www.pukhto.net

شی نو هیڅ به هم تړي جوړ نۀ شی - په پټه خزانه کښې د دې توری شوے معنیٰ نۀ پخوا چا کړے ده او نۀ یې اوس کوی - دنورو نمونو پیش کولو اګاهو زۀ د محترم همیش صاحب یوه خبره د لوستونکیو مخې ته راوړم - هغه په خپل کتاب کښې د دې توری په بحث کښې لیکی چې--

یوه بله ډیره عجیبه خبره دا ده چې یو خوا خو بناغلی همعصر د "هیواد"، "ګروهیدل"، "کلن" او "استوګه" په بحث کښې د بې دریغه اشعارو نه علاوه د نثر نمونې او فرهنګونو حوالې هم ورکړی دی ولې بل خوا ته یې د "بهیر"، "کوانښ" او "مواس" په بحث کښې نثر خو څۀ چې د بې شمیره شعرونو د موجودګی باوجود یو شعر هم د خپلو اعتراضاتو په دفاع کښې پیش نۀ کړے شو آیا د دې مقصد دا خو نۀ دے چې د پښتو د دومره ډیرو قلمی او چاپی نسخو په موجودګی کښې یو شعر هم د دۀ د معنې ترجمانی ونۀ کړے شوه؟ (11)

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې به زۀ دومره عرض کافی وګڼم چې هر کله د چا د موقف تائید فرهنګونه کوی نو په داسې حالت کښې د شعرونو یا د نثر د نمونو راوړل هیڅ ضرورت نۀ لری - او د همیش صاحب د بره ذکر شوے خبرې نه دا هم بنکاره شوه چې د هغۀ همعصر د کومو توریو د پاره بې شمیره نمونې راوړلی دی هغه نمونې د هغۀ د همعصر د اعتراض تائید کوی - ځکه چې په یوه موضوع یې د همعصر له خوا د نظم او نثر د نمونو نۀ پیش

www.pukhto.net

کولو نه دا ګڼلے ده چې د هغهٔ د معنې ترجمانی یې نهٔ شوه کولے - نو ظاهره ده
چې په ډیرو موضوع ګانو محترم قلندر صاحب ډیرې نمونې د نظم او نثر نه
پیش کړی دی - او نتیجه یې د همیش صاحب د دې خبرې په رڼا کښې دا
راووځی چې د قلندر صاحب اکثر اعتراضونه ټیک دی - او دغه د نثر او نظم
نمونې د هغوی د اعتراض مرسته کوی - بله عجیبه خبره دا ده چې یو خوا
خو په خپل همعصر دا اعتراض کوی چې د بې شمیره قلمی او چاپی نسخو
په موجودګی کښې یې یوه نمونه د "ګوانښ" داستعمال نهٔ ده پیش کړے بل خوا
پخپله د دغې ګناه مرتکب شوے دے - او په دې بحث کښې یې د ظفر اللغات
حواله هم نهٔ ده ورکړے حالانکې په خپل دغه کتاب کښې هغوی خایې په خایې
د ظفر اللغات حوالې ورکړی دی او د هغې د حوالې نهٔ ورکولو وجه به
لوستونکیو معلومه کړی وی ځکه چې ما د ظفر اللغات هغه معنې کومې چې
هغهٔ د "ګوانښ" کړے وے لوستونکیو ته پیش کړے یوې معنې یې هم د محترم
همیش صاحب د خبرې مرسته نهٔ کوله - اوس کهٔ څوک دا په ادبی خیانت
کښې شماری نو دا د هغوی خوښه ده - دغسې د "کلن" په بحث کښې هم
محترم څهٔ نمونه نهٔ ده پیش کړے نو آیا لوستونکی به ګنی د دې نه دغه مطلب
نهٔ اخلی چې د دومره ډیرو قلمی او چاپی نسخو په موجودګی کښې یوه هم
داسې نمونه نهٔ وه چې د دهٔ د معنې ترجمانی یې کوله - بل په تحقیقی کارونو
کښې چې هر کله یو تن د خپل موقف دپاره نمونې پیش کړی نو د هغې
جواب کونکی له پکار دی چې د هغهٔ نه زیاتې نمونې په خپله دفاع کښې
وړاندې کړی - په "پته خزانه فی المیزان" کښې په اکثرو موضوعاتو بې

www.pukhto.net

شمیره نمونې پیش کړی شوی دی او دهغې برعکس په "تول پارسنګ" کښې یوه نیمه نمونه پیش کړے شوے ده ۔ حالانکې پکار وو چې په تول پارسنګ کښې د خپلې دفاع دپاره د "پټه خزانه فی المیزان" نه زیاتې نمونې پیش کړے شوے وے ۔ ځکه چې دغه کتاب د هغې په جواب کښې لیکلے شوے دے او "پټه خزانه فی المیزان" د چا په جواب کښې نه بلکې د "پټې خزانې" د جعلی ثابتولو دپاره لیکلے شوے کتاب دے ۔ نو کهٔ په هغهٔ کښې په یوه موضوع دیرې نمونې نهٔ وی پیش کړے شوے نو دا قابل اعتراض خبره نهٔ ده ۔ قابل اعتراض خبره خو دا ده چې "تول پارسنګ" د "پټه خزانه فی المیزان" جواب کښې لیکلے شوے دے نو پکار وو چې د هغې نه زیاتې نمونې په کښې راوړلے شوے وے او یا د هغهٔ راوړلې شوې نمونې غلطې ثابتې کړے شوے وے ۔ خو د خوش قسمتۍ نه "تول پارسنګ" په دغسې کولو کښې سخت ناکامه شوے دے ۔

زما د مطالعې تر حده په پټو ادب کښې "گوانبل" صرف یو ځایٔ د گناه سره راغلے دے او هغه هم د "پټې خزانې" په یوه بدله کښې، گنی نو دا تورے د جنگ سره خاص دے او چرته هم د گناه سره نهٔ دے راغلے ۔ او زیاته عجیبه خبره دا کوی چې په دې معنیٰ اوس هم مستعمل دے ۔ دا تورے په افغانستان کښې خو نهٔ شم وئیلے خو په پښتو نخوا کښې په دوو معنو اوس هم مستعمل دے یو د جنگ او بله د خلاصی په معنیٰ کښې ۔ او د حیرت خبره دا ده چې د افغانستان چاپ شوے د ملا لتار دیوان په ۱۳۶۷ هجری شمسی کښې خور شوے دے په هغې کښې په صفحه ۲۵۸ گاهکان ته معنیٰ گوانبل

www.pukhto.net

کونکے او تهدید کونکے لیکلے شوے ده - هر څو که د ګاهک معنیٰ دغه بیخی نه ده خو چونکې دا د دغې بحث ځایې نه دے ځکه نو زه ترې نه ځنډه کوم - دلته زما غرض د "ګوابښ" سره دے او ښاغلی عبد الرحیم خدران ګوابښ کونکے او تهدید کونکے یو ګڼلی دی ، مطلب دا چې دلته په پښتونخوا او هلته په افغانستان کښې "ګوابښ" په یوه معنیٰ مستعمل دے - نه پوهیږم چې حبیبی صاحب دا خبره په کوم دلیل کوی چې --

گوابښ هم بهمین معنی اکنون مستعمل است۔

او محترم همیش صاحب د "ګوابښ" د غلطې معنې د دفاع کولو په وخت لیکی چې " له جنګه منع کونکے معنیٰ ئې پښتو قاموس کړے ده ځکه نو د حبیبی مرحوم د امتناع او از فعل بد کسے را منع کردن معنیٰ تهیک ده" - خو لکه چې اګاهو ذکر وشو پښتو قاموس د پټې خزانې نه وروستو چاپ شوے فرهنګ دے۔ پکار وو چې محترم همیش صاحب د زور پښتو ادب نه داسې ځه نمونې پیش کړے وے چې په هغې کښې "ګوابښ" د منع کونکی په معنیٰ استعمال شوے وے خو د نمونې نه پیش کول دا ښیی چې دا تورے په دې معنیٰ کښې بې له پټې خزانې نه نه دے استعمال شوے او دا معنیٰ او استعمال ئې جدید دے کوم چې د پټې خزانې په جدیدیت ګواهی ورکوی۔

زه اوس لوستونکیو ته د امیر حمزه خان شینواری مرحوم هغه شعرونه پیش کوم په کومو کښې چې "ګوابښ" استعمال شوے دے - لوستونکی به ترې خپله اندازه ولګوی چې د "ګناه نه د منع کونکی" په معنیٰ استعمال شوے دے او که نا ؟

www.pukhto.net

ګوانښ د رقیب خیر خو چې مسکے یې نه
داسې سړې ښې وی د تودو سره
د لیمو له شښتانه لا په ترهه انتظار دے
د بهنو غشی ګوانښږی چې لا ویښ پکښې خمار دے
مسکے که دې ستر ګې کړې له ګوانښه پس
اوس رانه احساس د خطر چرته ځی
ستا ګوانښ کړې زما ښکلیه اشنا داسې وار خطا
تو ئیدې نه ستنیدې شی چې حیرانې اوښکې دی
جرګه خو پښتانه رتلے نه ده په هیڅ رنګه
دا ځکه ستا له ګوانښه مې په اوښکو کښې طوفان دے
دمیلمه قدر پښتانه پیژنی
نن چې له ګوانښه دې بانه پاتې دی
ستا ګوانښ زما د سوال او د زارو لارې وهی
دا ښکلی غلچکی د قافلو لارې وهی
ستا له ګوانښه پس لکه سلګی روی پښه نیولے
را مې شی ژړا وته اثر په ویره ویره
ووخی اسویلے مې خو ستا ګوانښ یې بې ښکالو کړی
پاتې که دا مړے بې کفن وے ډیر به ښه وه
شغال ګوره چې زمری ته یې ګوانښ و کړو
عجیبه ده زمکه چرته اسمان چرته

www.pukhto.net

له دې نه علاوه دوه ټپې چې په "پښتو لنډۍ" کښې راوړلے شوی دی داسې دی--

عالم خو دیر راته گوانښیږی

خدائ زده چې مرگ به مې دچا له لاسه وینه

د جغاول مزے دې لنډ کړه

لکه گوانښ گرندے د سینې مینځ له راځینه (13)

په وړومبۍ ټپه کښې د جنگ په معنیٰ او په دویمه کښې د خلاصی په معنیٰ راغلے دے ۔ دغسې د صوابۍ نه وتونکے د تنظیم مجلې د جنوری کال نولس سوه پینځه نوی گڼه کښې د هزاری د یو شاعر اختر حیات قمر یو نظم چې نوم ئې "گوانښ" دے ۔ زهٔ لوستونکیو ته پیش کوم چې په هغې کښې د "خلاصی" په معنیٰ راغلے دے---

اے خوشحاله بیا راپاسه

ابدالی ته هم ووایه

حمزه هم د خان سره کړه

هم ادیب ته خبر ورکړه

یو جرگه د خان سره کړه

راشه یو ځل خو بیا راشه

دې خپل قام ته پوهه ورکړه

هغه قام چې نازیدې پرې

نن جهاد لیونی کړی

www.pukhto.net

سنگرونه ېّ دی نیولی
د یو بل مرګ ته پراته دی
بس په یو بل ټول اخته دی
د خلاصون ېّ هیڅوک نشته
راشه ګوانښ خو ورله وکړه (14)

دغسې د پښتو اکیډمۍ له خوا په چاپ شوو متلونو کښې یو متل څه په دې دول دے چې --

ګوانښ کول میړانه ده ۔ او اردو ترجمه ېّ په دې الفاظو

شوے ده چې لڑائی کا ارادہ کرنا بھی بہادری ہے ۔ (15)

په دې شعرونو، ټپو، متل او نظم کښې د "ګوانښ" استعمال ما لوستونکیو ته وراندې کړو اوس دې هغوی انصاف وکړی چې په پته خزانه کښې اول شیخ بوستان بړیځ ګوانښل تورے د خپل وخت د خلقو نه په مختلفه معنیٰ یعنې د ګناه نه د منع کولو په معنیٰ کښې استعمال کړے دے او بیا د هم دغه کتاب فاضل محشی، مشرح او مفسر حبیبی مرحوم د هغې توری هم هغه معنیٰ کړے ده کومه چې د شاعر مقصود ده ۔ په دې لړ کښې ګڼ ځوک دا ووائی چې شیخ بوستان بړیځ غلطی فرمائیلے ده نو مونږ به ېّ وڼه منو ځکه چې تقاضائ بشری ده خو چې فاضل حبیبی ورسره هم په دغه غلطه معنیٰ کښې شریک شوے دے او صرف شریک شوے نه بلکې تر دې پورې ېّ وئیلی دی چې "بہمین معنیٰ اکنون مستعمل است" نو سړے حیران کړی ۔ او هم دا د پټې خزانې کمال دے چې په کښې ذکر شوی شاعران

www.pukhto.net

مرتب او محشی یې ټول په غلطه معنیٰ متفق وی - دې ته که څوک حسن اتفاق وائی او که بل څه دا دهغوی خوښه ده - ما کرانو لوستونکیو ته په پښتو کښې د گوانښ استعمال وراندې کړو او فیصله هم هغوی ته پریږدم - هسې په پښتو ادب کښې د دومره ډیر استعمال او د فرهنگونو په موجودگی کښې یو توری ته د خپلې خوښې جامه ور اغوندولو ته لوستونکی چې هر څه وائی او هر څه نوم ورله ږدی خو زه ورته رجماً بالغیب وایم -

حوالې

1. پته خزانه ص - ۶۸
2. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۲۸، ۱۲۹
3. هم دغه کتاب ص - ۱۲۹، ۱۳۰
4. هم دغه کتاب ص - ۱۳۰
5. هم دغه کتاب ص - ۱۳۰، ۱۳۱
6. تول پارسنگ ص - ۱۲۸
7. هم دغه کتاب ص - ۱۲۸، ۱۲۹
8. ظفر اللغات ص - ۱۱۴۳
9. د حمید بابا دیوان ص - ۱۳۹
10. د شاد محمد خان دیوان
11. تول پارسنگ ص - ۱۳۰
12. د حمزه بابا کلیات

www.pukhto.net

13 پښتو لنډی ص ـ ۳۴۷، ۱۹۳

14 تنظیم مجله د جنوری ۱۹۹۵ ګڼه

15 پښتو متلونه د اکیډمۍ چاپ ص ـ ۲۲۰، ۲۲۱

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

فَأْتُوا بِكِتٰبٍ

محترم قلندر مومند په خپل کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې د "بیلګې" د عنوان لاندې د یو بل توری "مواس" د غلطې معنې په استعمال اعتراض کړې دے او لیکی چې ---

"پته خزانه کښې د "خلیل خان نیازی "سره دا رباعی منسوبه شوې ده ---

خړې وریځې ژاړی له پاسه

کونله ږغ کا بیلتون له لاسه

یه هغه لونی ګوهر په خول ستا

دا مرحبا کا ستا زمونږ مواسه

ددې رباعی ترجمه فاضل مشر حبیبی مرحوم داسې کړې ده --

"از طرف بالا ابر ہائے سیاہ میگرید

کوئل از غم فراق می نالد

آن بر خود تو گوہر نثار می کند

واین مرحبائے ترا می کند اے نگہدار ما

د "مواس" په توری فاضل حبیبی مرحوم دا نوټ لیکلې دے --

"مواس در پشتو بمعنی محافظ و نگہدار است حمید مہمند گوید

www.pukhto.net

چې ې تل ستر گو کول په کښې خونونه

دمخ ښهر ې د ږيرې مواس ونيو

دمواس معنې مختلفو فرهنگونو داسې کړی دی---

راورتی :- مواس :- مخبر - چغلی خور - غيبت کونکے - جاسوس - فسادی - باغی - سرکښ - پاتلاتی سړے - شيطان مجازاً -

بيليو :- مواس :- غيبت کونکے - مخبر - باغی - فسادی -

مواس :- پناه - حفاظت - بچاؤ (هندی)

خير اللغات :- مواس :- پناه - محافظت - پناهی

لغات افغانی :- مواس :- پناه - محافظت - پناهی -

پښتو قاموس :- مواس :- نمام (چغلی خور) سخن چين - موچی

زړه پانگه :- مواس :- ۱- چغلی خور ۲ - مچی په معنیٰ قاموسونو اخستے دے خو په متنونو کښې د ۱ - ساتونکے حافظ مجازاً مشر ۲ - نوکر - نفر خدمت ۳ - اشغالگر - تالا کونکے په معناؤ هم راغلې دے -

له دې نه پس زړه پانگه د پټې خزانې د خليل خان نيازی د شعر سند ورکوی او له نهو شعرونو له حوالې نه زياتوی "ځينې ځايونو ې معنیٰ څرګنده نه ده (هم داسې)

زړه پانگه د حميد مومند د هغه شعر حواله هم ورکوی چې

www.pukhto.net

حبیبی مرحوم د پټې خزانې په حاشیه لیکلی خو سهوآ د "زیرې" په ځای "زیری" راوړی۔ حبیبی مرحوم چې د حمید مومند د کوم شعر حواله ورکوی هغه لکه چې نقل شۀ داسې دے۔۔

چې ې تل ستر گو کول په کښې خونونه

د مخ ښهر ې د زیرې مواس ونیو

شاید چې د حبیبی صاحب مرحوم په نزد د دې شعر دا معنیٰ ده۔۔

"د مخ هغه ښهر چې ستر گو ې په کښې تل خونونه کول (اوس) د زیرې محافظ ونیولو۔" حالانکې د مشرقی شاعرۍ د روایاتو او تلازمو په رنا کښې د شعر معنیٰ دا ده۔۔

"د مخ هغه ښهر چې ستر گو ې په کښې تل خونونه کول (اوس) د زیرې پناه ونیوله۔"

دا معنیٰ د ذکر شویو قاموسونو د معنو په رنا کښې خو صحیح ده ولې د حبیبی مرحوم قیاسی معنیٰ صرف هغه وخت صحیح کیدے شی چې د "مواس" معنیٰ د قاموسونو مطابق نه بلکې د محمد هوتک د مفهوم او د حبیبی صاحب د تشریح مطابق "نگهدار" وگڼلې شی۔ (۱)

اگاهو له دې نه چې زۀ د "تول پارسنگ" نه د هغوی د دې اعتراض شوې جواب نقل کړم یوه خبره ضروری گڼم او هغه دا چې د پټې خزانې په دوهم چاپ کښې په حاشیه مرحوم حبیبی صاحب د حمید مومند ذکر شوې شعر هم هغسې لیکلې دے څنگه چې دے، هغوی سهوآ د زیرې په

www.pukhto.net

ځایې زیری نه دے لیکلې - خو محترم همیش صاحب د خپل معترض دې سهوې ته پام نه دے کړې - اوس زه د محترم همیش صاحب کړې جواب لوستونکیو ته پیش کوم - هغوی لیکی چې---

"دغه ضمن کښې چې د کومو شپږو (حقیقت کښې د پینځو څخه چې "لغات افغانی" د پادری خیر الله د "خیر اللغات" کتې مټ نقل کړلې شوې دے) حوالې ورکړی شوی دی - هغو کښې صرف د پادری خیر الله او بیلیو دوه داسې فرهنګونه دی چې د مواس معنیٰ پناه، محافظت، حفاظت او پناهی کوی - هر کله چې باقی دری یعنې پښتو قاموس، زړه پانګه او راورټی دکشنری نورې نورې معنې کړی دی - ولې دیره عجیبه خبره خو دا ده چې د "هیواد" په بحث کښې اول خو د راورټی معنیٰ یې په قیاس مبنی کړې ده او بیا یې د خیر اللغات د معنو په حقله د خلقو په ذهنونو کښې د شک د ګنجائش پیدا کولو په دې الفاظو کوشش کړې دے--

"دې کتاب (خیر اللغات) کښې د راورټی په تتبع کښې د "هیواد" معنیٰ شوې ده -"

نو د مواس په ضمن کښې بیا خیر الله پادری د راورټی په تتبع کښې د زیر بحث لغت هغه یوه معنیٰ هم نه کوی کومې چې راورټی په خپله دکشنری کښې کړی دی - څکه نو مونږ دلته په دې پوښتنه کولو مجبور یو چې اخر د "مواس" په ضمن کښې هم

www.pukhto.net

لکه د "هیواد" پادری خیر الله ته د راورټی په تتبع کښې کوم امر مانع وۀ - یوه بله ډیره عجیبه خبره دا هم ده چې یو خوا خو بناغلی همعصر د "هیواد"، "گروهیدل"، "کلن" او "استوگنه" په بحث کښې د بې دریغه اشعارو نه علاوه د نثر نمونې او فرهنگونو حوالې هم ورکړی دی ولې بل خوا ئې د "بهیر"، "گوابن" او "مواس" په بحث کښې نثر خو څۀ چې د بې شمیره شعرونو د موجودګی ۀ باوجود یو شعر هم د خپلو اعتراضاتو په دفاع کښې پیش نۀ کړې شو - آیا د دې مقصد دا خو نۀ دے چې د پښتو د دومره ډیرو قلمی او چاپی نسخو په موجودګی ۀ کښې یو شعر هم د دۀ د معنې ترجمانی ونۀ کړې شوه - او د مواس په حقله د حمید بابا په هغه یو شعر تکرار ولو ئې اکتفا وکړه کوم چې د پټې خزانې فاضل مشرح راوړې دے او بیا دا هم ډیره د خوند خبره ده چې شعر نه د خپلې خوښې د ماتې ګوډې معنې راولاړولو دپاره د مشرقی شاعری ۀ د روایاتو او تلازماتو له ډانګورو نه کار اخستے شوې دے -" (2)

محترم همیش صاحب په دې نقل شوی اقتباس کښې وړومبۍ ۀ خبره دا کړې ده چې په دغو پینځو فرهنگونو کښې دوه داسې فرهنگونه دی چې د مواس معنئ پناه، محافظت، حفاظت او پناهی کوی - نو زۀ دا خبره کوم چې په دې کښې څۀ شک دے؟ خو دومره پوښتنه کول ضروری ګڼم چې د دغو دواړو فرهنگونو د معنو نه د دوی موقف ته کومه فائده

www.pukhto.net

ورسیده ـ څکه چې دغو دواړو فرهنګونو د مواس معنیٰ محافظ او نګهدار نه ده کړې ـ د خلیل خان نیازی په رباعی کښې خو مواس په دغه یوه معنیٰ یعنې نګهدار راغلې دے ـ خو نه پوهیږم چې همیش صاحب څنګه څان قانع کړې دے ـ که چرې په دغو پینځو فرهنګونو کښې یو هم د مواس معنیٰ محافظ یا نګهدار کړې وے نو بیا به خبره سمه وه ـ

هغوی دویمه خبره دا کړې ده چې د "هیواد" په بحث کښې ښاغلی همعصر وئیلی دی چې خیر الله پادری د هیواد معنیٰ د راورتی په تتبع کښې کړې ده نو د مواس په ضمن کښې خیر الله پادری ته د راورتی په تتبع کښې کوم امر مانع وه ؟ نو په دې حقله زما عرض دا دے چې اکثر فرهنګ لیکونکی د توریو معنې د نورو ډکشنریو نه اخلی او دا ضروری نه ده چې ټولې معنې دې د بل فرهنګ نه واخلی ـ بل خبره دا ده چې بیلیو په خپله ډکشنری کښې مواس تورے دوه خله اخستے دے یو ځل د اسې چې میم په کښې مضموم دے او بل وار یې د میم په زبر اخستے دے ـ او زبر واله ته یې هندی هم لیکلې دے ـ او راورتی صرف یو مواس اخستے دے ـ او لکه چې د معنو نه یې څرګنده ده هغه مواس دے چې بیلیو د میم په پیښ اخستے دے او په معنو کښې ورسره بیلیو هم شریک دے ـ او څومره پورې چې د خیر الله پادری خبره ده نو راورتی له سره د دویم مواس معنیٰ کړې نه ده نو د تتبع خو هډو سوال نه پیدا کیږی ـ

د محترم همیش خلیل صاحب دریمه خبره دا ده چې د هیواد، ګروهیل، کلن او استوګه په بحث کښې د هغوی همعصر د نظم او نثر بې

www.pukhto.net

شمیره نمونې پیش کړی دی، او د بهیر، مواس او ګوانښ په بحث کښې ې دبې شماره قلمی او چاپی نسخو د موجودګی باوجود یو شعر هم نه دې پیش کړې - نو په دې حقله زما عرض دادے چې هر کله د یو توری په معنو کښې فرهنګونه اختلاف لری یا په اولس کښې په یوه معنئ مستعمل وی او یو قاموس ې بله معنئ کړی وی نو په داسې حالاتو کښې نمونې پیش کولې شی- او هر کله چې د یو توری په معنو فرهنګونه متفق وی نو هلته ې نمونې نه شی پیش کولې - هم دغسې حال د بهیر، ګوانښ او مواس هم دے ځکه نو د دوی همعصر د هغې نمونې نه دی پیش کړی - بل زه دلته د هغوی نه دا پوښتنه کوم چې تاسو ولې د ګوانښ او کلن په بحث کښې د نظم او نثر نمونې نه دی پیش کړی؟ که د دیرو نمونو پیش کول کمال وی او ورپرې پرې معلومیدے شی نو بیا خو ستاسو همعصر ورځ دے ځکه چې هغوی، چرته چې پکار وے هلته بې شمیره نمونې پیش کړی دی-

په دې پسې محترم د حمید بابا د شعر د تشریح په حقله وائی چې د شعر نه د خپلې خوښې د ماتې ګودې معنئ راوباسو لو دپاره د مشرقی شاعری د روایاتو او تلازماتو له د انګورو نه کار اخستے شوې دے - نو دا فیصله ګرانو لوستونکیو ته پریږدم چې د مشرق د یو شاعر د شعر د تشریح دپاره به ګنی ګز د یورپ نه راوړې شی؟ څه دیره نا اشنا خبره ده نو ---له دې نه پس محترم لیکلی دی چې---

"دغو لاندینو شعرونو کښې دې د "مواس" د معنئ په حقله خپله لوستونکی فیصله وکړی چې دلته به د فاضل مشرح "محافظ او

www.pukhto.net

نگهدار" معنیٰ درسته وی او کهٔ دبناغلی معترض " پناه نیول"-- بیدل:-

کوم زمان به بیدل وولی دلبره

ورپسې شو دهجران سوارهٔ مواس

خواجه محمد :-

زهٔ خواجه محمد هر کوره دیر ویریزم

لور په لور ناري وهی وړاندې مواس

میاں نعیم :-

مواسانو چې دبرندو ستر گو لوټ کړم

هله راغلهٔ حبشیان د خط په هپه

کوم یو حکم ته دبنکلیو تیار نهٔ وم

چې خنجر راته دستر گو مواس واخست

ملک دصبر یې زما تاخت و تاراج کړو

بې گناهه ستا دسرو ستر گو مواس

بلکې مرزا خان انصاری خو د " نفس او شیطان" په معنیٰ هم دا لغت داسې پکار ولې دے--

ستا کهٔ دار شی په وجود کښې له مواسه

تل و زړهٔ ته پهره دار شه له وسواسه

د پورته شعرونو نه واضحه شوه چې د " مواس" کهٔ څوک هره معنیٰ کوی یا دا لغت هره معنیٰ لری بیا هم د محافظ او نگهدار له

www.pukhto.net

معنو یې انکار نه شی کیدے او که څوک یې د خپلو غرضونو تر
لاسه کولو دپاره کوی نو دا دهغو خوښه ده۔" 3

محترم همیش صاحب په دې اقتباس کښې ورومبی د ا خبره کړې ده چې د هغوی همعصر د مواس معنیٰ "پناه نیول" کړې ده۔ خو زه دیر په ادب عرض کوم چې هغوی چرې هم د ا معنیٰ نه ده کړې ۔ بلکې هغوی د مختلفو قاموسونو په رنا کښې د حمید بابا په شعر کښې د مواس معنیٰ "پناه" کړې ده ۔ همیش صاحب ورسره نیول هم ملګرے کړې دے۔ او بنکاره خبره ده چې په دې دیر لوې فرق پریوځی ۔ اوس زه راځم د هغوی له خوا پیش کړیو شویو شعرونو له ۔ که چرې د خلیل خان نیازی او حبیبی مرحوم کړې معنیٰ مونږ په دغو شعرونو کښې ور واچوو نو د بیدل د شعر مطلب به دا شی چې " د هجران سوارۀ نګهداران په بیدل پسې شوی دی څۀ وخت به یې وولی ۔" د خواجه محمد د شعر مطلب به دا شی چې "زه خواجه محمد دیر ویریږم څکه چې وړاندې نګهدار روان دے لور په لور ناړې وهی "۔ د میاں نعیم د ورومبی شعر مفهوم به د اسې شی چې " زه د برندو ستر ګو نګهدارانو لوټ کړم نو د خط حبشیان هله په هپه راغله ۔" د دویم شعر مطلب به یې دا شی چې " زه د بنګلیو کوم یو حکم ته تیار نه وم چې د ستر ګو نګهدار راپسې خنجر راواخست ۔" د دریم شعر تشریح به یې داسې شی چې " بې ګناه ستا د سرو ستر ګو نګهدار زما د صبر ملک تاخت او تاراج کړو ۔" نو اوس دې لوستونکی و ګوری چې دا تشریح یې مضحکه خیزه ده او که نه ۔ که د دې برعکس د قاموسونو کړې معنې په دې شعرونو کښې

www.pukhto.net

واچولې شی نو بیا به ې تشریح ټیک شی ۔ دلته زهٔ بله یوه دلچسپه خبره
ګرانو لوستونکیو ته کول غواړم او هغه دا چې د میاں نعیم دے شعر کښې ۔۔

مواسانو چې د برندو ستر ګو لوټ کړم

هله راغلهٔ حبشیان د خط په هپه 4

د مواسانو معنیٰ مرحوم خیال بخاری صاحب په حاشیه کښې محافظان کړې ده ۔حالانکې دا هغه مواس نهٔ دے د کوم معنیٰ چې حبیبی صاحب محافظ او نګهدار کړې ده ۔ بیا هم په هغه مخ بل غزل کښې مواس ته ې معنیٰ پناه او محافظت لیکلې ده ۔ دا شعر محترم همیش خلیل صاحب هم پیش کړې دے۔

د مرزا خان انصاری کوم شعر چې همیش صاحب پیش کړې دے نو لیکی چې مرزا خان انصاری خو ې د نفس او شیطان په معنیٰ هم استعمالوی۔ په دې حقله زهٔ دومره عرض کوم چې د مرزا خان انصاری په شعر کښې راغلې تورے مواس هغه نهٔ دے کوم چې د حمید بابا په شعر کښې استعمال شوې دے او راورتی ې معنیٰ شیطان مجازاً کړې ده ۔ د مواس په بحث کښې محترم همیش صاحب اخری خبره دا کړې ده چې "ددې توری ځوک هره معنیٰ کوی او یا ې هره معنیٰ وی خو له محافظ او د نګهدار له معنو ې انکار نهٔ شی کیدے۔" دا خبره به ټیک وه خو هله چې ثابته شوې وے یا د شعر نه او یا ې چرته داسې یو قاموس په ګوته کړې وے چې په هغې کښې ې د غه معنیٰ شوې وے ۔ کوم درې فرهنګونه چې همیش صاحب منلی دی هغوی کښې یو هم د مواس معنیٰ نګهدار او محافظ نهٔ ده کړې ۔ زهٔ نه

www.pukhto.net

پوهیږم چې هغوی دا خبره په کوم دلیل کوی -

د محترم همیش صاحب غټه ګیله ده چې د هغوی همعصر د مواس په حقله د شعرونو نمونې نه دی پیش کړی ، نو زه د پښتو ادب نه د اسې شعرونه پیش کوم چې په کښې مواس استعمال شوې دے خو د نګهدار په معنیٰ نه ، بلکې په هغه معنو کومې چې فرهنګونو کړی دی ---

اے حق بینه حق شناسه

خپل سر ژغوره له خناسه

یو نفس بې غمه مه شه

له دغه نزدې مواسه

د تلقین تو ره در واخله که عارف یې

هیڅ د زړه په ملک کښې مه پریږده مواس

5 دولت لوانے

در داوښیو مې د هجر مواس یو ړل

6 چې مې پټ ساتل داوښیو په صدف

په طریق د محبت مواسان ډیر دی

7 یو زمان فراغت مه کړه له مواسه

چې په بر کاسور لباس

پټوی زړونه مواس

8 کامګار خان خټک

www.pukhto.net

امر دادے چې له نهی لاس کوتاه کړه

او که نه وی خپسر و گنه مواس

رحمان بابا 9

که دې خط دامانی ړله ستر گو غواړم

تخت تاراج مې مواسان که دزړه کورلا 10

راته جوړ که مواسان دتورو زلفو

زړه مې لوټ کاندې دزلفو په تورتم عشق 11

ملک دزړه مې لکه پانه هسې ریږدی

دسرو ستر گو له مواسو له دبدبه 12

پرې مواس دیار دستر گو وکړو وو

دزړه ملک مې ې تالاکړو یو په یو

میاں نعیم 13

کړه اتکل په احتیاط درومه لتاړه

داچې ته ځے په دالار لگی مواس

ملا لتاړ 14

هر دم چې ې غواړې کشتنی غوندې حاضر دے

کله قلندر له تا باغی گرځی مواس

قلندر 15

www.pukhto.net

چې مهم ې ستا دستر گو مواس واخست

ملک دزړۀ مې ځکه ریږدی هراس واخست

علی خان [16]

د سنګ میل پبلیکیشنز لاهور له خوا چاپ شوی د John T. Platts په Urdu Classical Hindi & English ډکشنری کښې د مواس معنې Protection, Rufuge, Asylum, Retreat [17] شوی دی - دویم مواس د عربی دے او معنې ې لکه چې راورتی او بیلیو کړی دی هم دغه دی - په پښتو ادب کښې زیات استعمال شوې تورے "مواس" د عربی مماس دے - مصباح اللغات د ماس معنیٰ د اسې کړې ده "هغه سړے چې د چا نصیحت نۀ قبلوی" [18] او المنجد عربی د "ماس" لاندې لیکی "هغه سړے چې د چا نصیحت نۀ قبلوی" [19] - نو اوس چې مونږ د رحمان بابا په شعر کښې استعمال شوی مواس گورو نو بیخی په دې معنیٰ دے رحمان بابا وائی---

امر دادے چې له ځهی لاس کوتاه کا

او کۀ نۀ وی خپسر و گنه مواس

المنجد او مصباح اللغات له دغې نه پس د المماس معنیٰ چغل خور او فسادی کوی - نو مونږ دا وئیلی شو چې په پښتو کښې استعمال شوې مواس یو د هندی دے چې د پناه او حفاظت په معنیٰ دے او پښتو هم هغه شان او هم په هغه معنیٰ اخستے دے - دویم مواس د عربی مماس دے چې په پښتو کښې تړې "مواس" جوړ شوې دے او په معنیٰ کښې ې ځۀ بدلون نۀ دے راغلې - په پیش کړیو شویو شعرونو کښې واحد د حمید بابا په شعر کښې د هندی

www.pukhto.net

مواس پکارولې شوې دے ۔ باقی زما د معلوماتو تر مخه په پښتو ادب کښې زیات چې کوم مواس پکارولې شوې دے هغه هم دا د عربی مواس دے ۔ د دې ټول بحث مطلب دا شۀ چې په پښتو ادب کښې "مواس" یا د فسادی او شیطان په معنیٰ استعمال شوې دے او یا د پناه او حفاظت په معنیٰ ، صرف پته خزانه د اسې یو کتاب دے چې په هغې کښې دا تورے د محافظ او نګهدار په معنیٰ راغلې دے ۔ نو تر کومه چې محترم همیش خلیل صاحب یا د پټې خزانې بل یو مدافع یو د اسې فرهنګ نۀ وی پیش کړې چې هغۀ ېۍ معنیٰ محافظ او نګهدار کړې وی نو ګرانه ده چې ګران لوستونکی قانع کړی ۔

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

حوالی

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۳۱، ۱۳۲، ۱۳۳
2. تول پارسنګ ص - ۱۲۹، ۱۳۰، ۱۳۱
3. هم دغه کتاب ص - ۱۳۱، ۱۳۲
4. د میاں نعیم دیوان ص - ۵۱
5. د دولت لوانی دیوان ص - ۴۱، ۱۲۵
6. د کامګار خټک دیوان ص - ۹۲
7. هم دغه دیوان ص - ۷۷
8. هم دغه دیوان ص - ۸۰
9. د رحمان بابا دیوان ص - ۱۰۳
10. د میاں نعیم دیوان ص - ۳۷
11. هم دغه دیوان ص - ۱۰۷
12. هم دغه دیوان ص - ۴۵
13. هم دغه دیوان ص - ۱۴۱
14. د ملا لتار دیوان ص - ۶۸
15. د قلندر دیوان ص - ۳۳
16. د علی خان دیوان ص - ۲۶
17. اردو کلاسیکل هندی اینډ انګلش ډکشنری

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

18 مصباح اللغات د ابو الفضل مولانا عبد الحفيظ بلياوی ص ـ ٨٠٢

19 المنجد عربی د لويس معلوف ص ـ ٧٤٤

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

فَهْمٌ فِي أَمْرٍ مُّرِيبٍ

د محمد هوتک د تذکرې "پټې خزانې" د قلمی نسخې د دریافت په حقله شوی انکشافات کۀ یو خوا بې وخته دی نو بل پله په کښې تضاد هم موجود دے ۔ محترم قلندر مومند په خپل کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې ددې په حقله لیکی چې ---

" د کتاب په حقله یوه اشتباه له هغو تصریحاتو نه پیدا کیږی کوم چې بناغلی عبد الحیّ حبیبی د پټې خزانې د موندلو په ضمن کښې د کتاب د اشاعت نه پس کړی دی ۔ لکه چې مخکښې ذکر وشو، پته خزانه په ۱۳۴۳ هجری شمسی کښې چاپ شوے ده ۔ د بناغلی عبد الحیّ حبیبی وینا دا ده چې د دې کتاب قلمی نسخه د مرحوم عبد العلی اخونزاده په وساطت د دوی تر لاسه راغلے ده ۔ ولې متاسفانه دوی دا انکشاف د عبد العلی اخونزاده د وفات نه پس کول غوره وگڼل او تر څو چې هغه مرحوم ژوندے وۀ دوی دا خبره نۀ وه څرګندۀ کړے ۔ حالانکې د دوی علمی او اخلاقی فرض دا وو چې دوی مقدمې، حاشیو او تعلیقاتو کښې هغه وخت دا خبره واضحه کړے وے ۔ په دې صورت کښې به په دوی هغه اعتراض نۀ واردیدو چې اوس ورته څیلمه دی ۔ دا نۀ یوازې اخلاقاً ضروری وو بلکې د پټې خزانې د مستند ګیدو په ضمن کښې به یو لوی شهادت هم وۀ ۔ د عبد العلی اخونزاده

www.pukhto.net

مرګ نه پس په اول ځل دوی د "ازاد افغانستان" په یوه ګڼه کښې او بیا د "زیری" د لیندې د ه کال ۱۳۵٤ هجری شمسی مطابق د نومبر ۱۹۷۵ عیسوی په ګڼه نمبر ۲٦ کښې دا تصریح کړے ده چې د پټې خزانې قلمی نسخه دوی د "علامه عبد العلی اخونزاده په واسطه" له "اصلی مالک څخه د پیسو په بدل کښې "حاصله کړے وه - له بده مرغه بناغلی حبیبی په ۱۳۵٤ هجری شمسی کښې هم د "اصلی مالک "نوم څرګندول ضروری ونه ګڼل دا بعد از وفات شهادت به څوک ومنی؟"- (1)

محترم همیش خلیل صاحب د دې اعتراض په جواب کښې په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې لیکی چې---

"دا اعتراض دیر سطحی دے کیدلے شی چې اخونزاده عبد العلی مرحوم لکه چې عام طور د خپې خلقو عادت دے، علامه مرحوم هم محترم حبیبی صاحب د کتاب په حقله له دغې خبرې منع کړے وی - پاتې شوه د اصلی مالک د نوم نه څرګندونې سوال، نو لکه چې محترم حبیبی صاحب د "ازاد افغانستان" په یوه ګڼه او بیا د "زیری" د لیندې د ه کال ۱۳۵٤ هجری شمسی په ګڼه کښې دا تصریح کړے ده چې دوی د پټې خزانې قلمی نسخه د علامه عبد العلی اخونزاده په واسطه له اصلی مالکه څخه د پیسو په بدل حاصله کړے وه - "د پیسو په بدل" دا خبره د فکر ورده - یعنی هر کله چې یو څیز خرڅ شی د څنو په خیال بیا دا

www.pukhto.net

ضروری نه ده، چې کتاب کښې د پلورونکی د نوم ذکر دې هم وکړی۔" (2)

په دې اقتباس کښې محترم همیش صاحب شکی خبره کړے ده او د "کیدلے شی" نه یې خبره شروع کړے ده۔ نه پوهیږم چې په دې کښې څه راز وه۔ که هغوی د محترم حبیبی صاحب په تاریخی پلټنې کښې چاپ شوے هغه مقاله نه وی کتلے په کومه کښې چې هغوی دغه بې وخته انکشاف سره سره دا خبره هم کړے ده۔ نو د کوم کتاب په جواب کښې چې هغوی خپل دغه کتاب لیکلے دے په هغې کښې خو قلندر مومند صاحب د محترم حبیبی صاحب مرحوم دغه خبره داسې نقل کړے ده چې---

"مګر اخونزاده د خپلو خاصو مصالحو له پاره زما څخه دا خواهش هم وکړ چې په چاپ کښې به یې زما نوم نه اخلے نو خکه تر څو چې هغه مرحوم ژوندے وه ما د دې نوم نه اخستے او دا راز د دې یو امانت وه۔" (3)

د همیش خلیل صاحب د دې خبرې په جواب کښې زه د محترم قلندر مومند هغه خبره دوباره کوم کومه چې هغوی په خپل دغه کتاب کښې د "تاریخی پس منظر" د عنوان د لاندې کړے ده چې---

"که چرې علامه عبد العلی اخونزاده له حبیبی مرحوم خنې دا خواهش کړے وه چې د هغوی نوم دې قطعاً نه چاپ کیږی نو په ۱۳۵٤ او بیا په ۱۳۵٦ هجری شمسی کښې د هغوی نوم ولې چاپ کړے شه او که چرې په ۱۳۵٤ او ۱۳۵٦ هجری شمسی کښې د علامه

www.pukhto.net

مرحوم د نوم څرګندونې په نتیجه کښې د حبیبی صاحب هغه مرحوم سره کړے وعده نه ماتیده نو ۱۳۳۹ هجری شمسی (د پټې خزانې د دوهم چاپ کال) او ۱۳۴۲ هجری شمسی (د پښتانه شعرا دریم ټوک د چاپ کال) کښې که د علامه مرحوم نوم ښکاره کړے شوے وے نو هم به دغه وعده نه ماتیده او اضافی فائده به یې دا هم شوے وه چې د حبیبی مرحوم دا دعویٰ به صحیح ثابته شوے وے چې د علامه عبد العلی "تر وفات" وروسته هغوی دا "حقیقت نه دے پټ کړے" چې اوس یې د قبلولو دپاره هیڅ منطقی بنیاد نشته۔" 4

محترم همیش صاحب هم د دغې اعتراض په جواب کښې وراندې لیکی چې ---

"د دې جواب دا دے چې اخر د دې خبرې څه ضمانت دے چې که د مرحوم علامه عبد العلی ذکر د پټې خزانې په دویم او "پښتانه شعرا" په دریم ټوک کښې راغلے هم وے نو بیا غلی معترض به بیا دا اعتراض نه کولو چې د پټې خزانې په ورومبی اشاعت یا د مرحوم علامه عبد العلی د وفات نه فوراً وروستو دا خبره ولې ونه لیکلے شوه۔" 5

د دې خبرې په جواب کښې به زه دومره عرض وکړم چې که چرې د پټې خزانې په ورومبی ایډیشن کښې فقط دومره خبره هم شوے وے چې د دې کتاب قلمی نسخه مونږ د بلوچستان د یو پښتون نه تر لاسه کړه یا د پیسو په

www.pukhto.net

بدل یا بې پیسو او بیا ې د هغه له وفاته پس د هغه نوم بنکاره کړے وے شاید چې لوستونکیو منلے وے ۔ خکه چې په داسې صورت کښې به د پټو خزانې هر مدافع د ا خبره کولے شود چې محترم حبیبی په ورومبو ایډیشن کښې د وعدې مطابق نوم نه وو ښیلے او اوس ې د وفاته پس بنکار کړو ۔ خو افسوس چې د اسې نه دی شوی ۔ بل هم دغه یوه خبره حبیبی مرحوم په دوه شکله کړے ده چې تضاد لری او محترم قلندر مومند پرې پ خپل کتاب کښې داسې اعتراض کړے دے ۔۔۔

"خو له بده مرغه چې حبیبی مرحوم "تاریخی پلټنې" کښې په دې موضوع خپله اخری مقاله لیکله نو شاید چې د ا ټرې هیر شوې وو چې د پټې خزانې په بارد کښې دوی په ۱۳۵٤ هش کښې څه لیکلی دی خکه چې په دې اخری مقاله کښې لکه چې عرض وشه د کتاب له علامه عبد العلی اخونزاده نه تر لاسه کولو بالکل بدله قیصې رونیلے شوے ده ۔ د "اصلی مالک" او د "پیسو په بدل" په خاې د اخونزاده مرحوم سره د او ینا منسوبه شوې ده "ما خو تاته ساتلے وه واې خله او چاپ ې که "د دیو دوارو متضادو خبرو نه کم از کم د ا ثابتیږی چې د حبیبی مرحوم "حافظه" څه خو متاثره شوې وه او د حافظې له دې خرابیږ نه لوستونکی خپله خپله نتیجه اخذ کولو کښې حق په جانب دی ۔" (6)

خو محترم همیش صاحب د هغوی په دې اعتراض چپ پاتې شوې دے ۔ او د حبیبی مرحوم د دغو متضادو خبرو ې هیڅ توجیه نه ده کړې ۔ د حبیبی

www.pukhto.net

صاحب په دغه حقله شوې ټولې خبرې تضاد لري او دلوستونکيو په زړونو کښې د شک تخم کري - لکه عزيز لونی په خپل کتاب Afghan of Frontier Passes کښې ليکی چې---

Lorenz has stated that during a discussion with him Habibi had told him that in 1943 he had discovered in Quetta, in the house of an uneducated Pashtoon, a manuscript with the title of "Pata Khazana". As against this we have Habibi's letter published in the monthly "Gulistan" of Quetta of May 1958 where Habibi has stated that he obtained manuscript of Pata Khazana from late Akhunzada. The latter was anything but an uneducated pashtun.

ترجمه :- (لورنز ليکی چې حبيبی سره د بحث په دوران کښې هغه ماته ووې چې په کال نولس سوه دري څلويښتم کښې ما په کوئټه کښې د يو نالوستی پښتون په کور کښې د پټې خزانې په نوم يوه نسخه پيدا کړه خو د دې برعکس مونږ مياشتنۍ ګلستان کوئټه د کال نولس سوه اته پنځوسه په ګڼه کښې د حبيبی يو چاپ شوې خط لرو چې په هغې کښې هغوی يکلی دی چې ما دا نسخه د اخونزاده مرحوم نه اخستې ده څوک چې هر څه کيدے شی خو يو نالوستے پښتون نه -)

دا د حبيبی مرحوم دريم بيان دے او په دې بيان کښې دا خبره

www.pukhto.net

زیاته شوې ده چې د پټې خزانې قلمی نسخه هغوی په کوټه کښې د یو بې تعلیمه پښتون په کور کښې دریافت کړه - خو د کتاب لیکونکی پرې دا اعتراض کړے دے چې د کوټې په "گلستان" کښې د حبیبی مرحوم په چاپ شوی خط کښې هغوی داسې لیکلی دی چې دا قلمی نسخه ما د اخونزاده نه حاصله کړه - څوک چې هر څه کیدے شی خو بې تعلیمه نه شی کیدے -

له دې نه علاوه محترم قلندر مومند په خپل کتاب کښې د "تاریخی پس منظر" د عنوان لاندې لیکلی دی چې ---

"په ۱۳۱۷ هش کښې علامه عبدالعلی اخونزاده مرحوم عبد الحی حبیبی مرحوم ته له کوټې څخه پیغام ولیږه چې دوی د پښتو یوه قدیمه تذکره موندلې ده او که د هغې د چاپولو امکان د قندهار په مطبعه کښې وی نو به ې دوی راواستوی -" 8

قلندر مومند صاحب دا معلومات په "تاریخی پلټنې" کښې د حبیبی مرحوم د یوې چاپ شوې مقالې نه اخستی دی - خو د جولائی کال نولس سو څلور نوی په "پلوشه" کراچی کښې د ابوالخیر خلاندیو مضمون "د محترم عبدالکریم بریالی ادبی بې احتیاطیانې" کښې هغوی لیکی چې ---

"په اګست ۱۹۶۸ عیسوی کښې زمونږ د پښتو ټولنې کابل په بلنه د افغانستان په پنځوس کلن جشن کښې د ګډون کولو د پاره کابل ته تللی وو نو یوه ورځ په پینځویشتم اګست اروابناد علامه حبیبی په پامیر هوټل کابل کښې د سید محمد رسول فریادی په موجودګی کښې د بناغلی سلطان محمد صابر له خوا

www.pukhto.net

زما د تعارف وروسته (چې خلاند د علامه عبد العلی اخونزاده عزیز او کاکړ دے) سمدستی د پټې خزانې ذکر پیل کړې - حبیبی صیب وونیل " ما و عبدالعلی اخونزاده ته حال لیږلے وو چې کومه پښتو قلمی نسخه په لاس درشی نو راله خوندی ې کړه چې مونږ ې په هر قیمت اخلو -" علامه حبیبی په مخ وونیل "په دغه زمانه کښې سردار محمد نعیم خان وزیر معارف وو او هغه وماته په هره بیعه د پښتو د خطی نسخو رانیولو اجازه راکړې وه - په دې منځ کښې څه موده وروسته د اخونزاده صاحب له خوا پیغام راغلې چې ما یوه نادره تذکره له یو چا سره لیدلې ده که چرې راپیښ شولې او وه دې کتله نو به ښه وی -" 9

تر اوسه خو د پټې خزانې د دریافت کولو قیصه دا سې وه چې علامه عبد العلی اخونزاده له کوښتې نه حبیبی مرحوم ته خط ولیږلو چې یوه قدیمه نسخه مې پیدا کړې ده که د قندهار په مطبعه کښې ې د چاپ کیدو انتظام وی نو هغه به ې ورولیږی - خو اوس ښاغلی ابوالخیر خلاند د حبیبی صاحب د څې یوه دا سې خبره میدان ته راوویشته چې د هغې ځنډ ده او دوه گواهان ې هم په گوته کړی دی - ښه نو په دا سې متضادو خبرو کښې به لوستونکی گومه یوه خبره ټیک گڼی - دغه وجه ده چې محترم قلندر مومند صاحب د هغوی په حافظه شک کړې دے - گنې د حبیبی صاحب غوندې لوې عالم د خلې نه د دا سې متضادو خبرو وتلو به څه وجه کیدے شی -

www.pukhto.net

له دې نه علاوه د کوټې نه د خوریدونکی "سکام" مجلې د اکتوبر دسمبر په ګڼه کښې د کمال الدین کمال شیرانی یو مضمون د "قلندر مومند دې خاطر جمع اوسی" تر عنوان لاندې چاپ شوې دے کښې دا خبره په بل قسم شوې ده - کمال الدین کمال شیرانی یو خاې لیکی چې--

اوس به د اخونزاده او حبیبی خبره راواخلم - بناغلی حبیبی ۲ جولائی ۱۹۵۲ میاشتنۍ پښتو کونټه (دویمه ګڼه - مخ شپږم) باندې په خپل سمول کښې لیکلی دی چې "عبد العلی اخونزاده ما هغه وخت په کمکینۍ(کم عمر کښې) په قندهار کښې لیدلے وه چې دے لا هغه وخت زمے وو - د قندهار دادیبانو د بې بلبل وه - بیا دیر وخت پس چې دے په کونټه کښې ولید بیخی سپین زیرے شوې وه - ښه پر له ولګیدو - په خبرو خبرو کښې په خروښ راغے په سپینه زیره کښې اوښکې راتوې شوے وې وئیل پر موږ خو وار تیر شو اوس ستاسې د حوانانو کار دے دغه د ملا محمد عباس کاسی د لاس لیکلې شوې پټه خزانه واخله او زرې چاپ کړه - ما ددۀ ویناد یره زړ پر حې کړه - 10

له دې اقتباس رانقل کولو نه پس بناغلی کمال لیکی چې -----

له دې وینا څخه دا څرګندیږی چې د پټې خزانې د روپو د راکړۀ ورکړۀ هیڅ سوال نه پیدا کیږی بلکې دا د پښتو او پښتون ملت د خیر دپاره خیراتی کار وه - 11

اوس دې لوستونکی فیصله وکړی چې په یوه موضوع د یو لوې

www.pukhto.net

عالم له خوا د داسې متضاد خبرو څخه وجه کیدے شی۔

محترم قلندر مومند صاحب د پټې خزانې د قلمی نسخې په ۱۳۲۲ هجری شمسی کښې د لاس ته راتلو او بیا د دې کتاب علمی او ادبی حلقو ته پیش کول، او د دانشمند انو له خوا کتاب کښې د غیر معمولی دلچسپی، اظهار، تصحیح، ترجمه تحشیه او تعلیقات، هر څخه په دریو میاشتو کښې سر ته رسولو باندې هم اعتراض کړې دے۔ هغوی لیکی چې---

" نورې مرحلې به پریږدو د کتاب په حاشیو له ۱۰۷ کتابونو نه حوالې او د هغو د صفحاتو شمیر لیکل دومره دقت طلب او وقت طلب کار دے چې کلونه غواړی۔ خاص طور سره په داسې حال کښې چې دیو ۱۰۷ کتابونو کښې اکثر کتابونه په دیرو جلدونو مشتمل دی او هر جلد یې په سوونو صفحات لری۔ سره د دې په کښې قلمی او نور دیر کتابونه د اسې هم شته چې اندکسونه نه لری او حوالې راوکښل ترې د دیر وخت تقاضا کوی۔ لیکن سره د دې هر څخه دا ټول کار دهم دغه کال د میزان په لسمه (۱۲ اکتوبر) مکمل شه او دا شپږ واړه مرحلې د سرطان، اسد او سنبله دریو میاشتو کښې مکملې شوې لا بلکې دې دوران کښې حبیبی مرحوم د هم دغه کال د سنبلې په میاشت کښې د کابل د کالنۍ دپاره په "پټه خزانه" د یو دیرش مخونو یو طویل مضمون هم وکښلو۔ دا هر څخه په دومره لږ وخت کښې سر ته رسول یوه دومره لویه کارنامه ده چې د انسان دپاره یې تمامول

www.pukhto.net

انتهائی ناممکن دی او که بل یو دلیل هم نه وے نو صرف په دې یو دلیل د کتاب په باره کښې دا ثابتیدے شو چې هغه د جوناتن سوفټ خبره مونږ ته "یو د اسې شے" پیش کیږی "چې هغه نشته"۔ (12)

د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې لیکی چې ---

"عجیبه خبره خو دا ده چې دری میاشتې خو د جرمنی نه خیرالبیان د قلمی نسخې د فوټو سټیټ نقل په راورلو د مولانا عبدالقادر مرحوم او بیا د هغې په ابتدائی مطالعه د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمی په ابتدائی مطالعه هم نه دی لګیدلې، چې تقریباً د پټې خزانې یو په دری دے۔ دا بیله خبره ده چې په هند کښې د خیر البیان د قلمی نسخې د موجودګی باوجود مولانا مرحوم خیر البیان او نورو قلمی نسخو پسې په امریکه، انګلستان او جرمنی سر وه، حالانکې د هر ملک په کتب خانو کښې د کتابونو کیټلاګ موجود وی، او بیا په حکومتی سطحه د یو حکومت دپاره د بل حکومت نه د دغو کیټلاګونو د نقل راغوښتل اډو دسره څه مسئله نه وی۔ (هکذا)" (13)

محترم همیش صاحب په حاشیه کښې دا خبره هم کړې ده "چې دا خبره ماته مرحوم د پښتو اکیډمی په لائبریری کښې د یو ملاقات په وخت کړې وه چې اکیډمی نه د خیر البیان د نقل تر لاسه کولو د خپلې تلوسې له مخه د کتاب

www.pukhto.net

ورومبی سرسری مطالعه هغوی په څو ورځو کښې کړې وه۔"

اول خو د محترم همیش صاحب دا خبره شفاهی خبره ده او د زلمی هیواد مل، محمد آصف صمیم او زرین انځور دوی په خیال "شفاهی خبرې کې څه هم د یو ډیر لوړ علمی شخصیت له خوا وی نقادان ویسا پرې نه کوی" - بیا هم که د پښتو اکیډمی چاپ شوې خیر البیان وکتے شی نو مولانا عبدالقادر مرحوم لیکلی دی چې ----

"دا کال ۱۹۵۹ عیسوی وو چې زه د زړو او ورکو قلمی کتابونو او دستاویزونو په لټون پسې ووتم۔" (۱۶)

مولانا عبدالقادر مرحوم د خیر البیان په پیژندګلو کښې کومه چې هغوی په ۲۳ اپریل ۱۹۶۷ عیسوی لیکلے ده، دا خبره کړې ده۔ او دغسې مولانا عبدالقدوس قاسمی د خیر البیان مقدمه هم په دغه کال لیکلے ده۔ او د اسې څه ذکر یې په کښې نه دے کړې چې د هغې نه دا پته ولګی چې هغوی د دریو میاشتو نه په کمه موده کښې دغه نسخه مطالعه کړې وی۔ صرف دومره پته لګی چې د خیر البیان قلمی نسخه په کال ۱۹۵۹ عیسوی کښې پیدا شوې ده او په کال ۱۹۶۷ عیسوی کښې د مولانا عبدالقادر د پیژندګلو او د مولانا عبدالقدوس قاسمی د مقدمې سره چاپ شوے ده۔ بل که مولانا عبدالقدوس قاسمی صاحب دا خبره کړې هم وی نو د یو کتاب سرسری مطالعه په څو ورځو کښې کول ممکن دی۔ بل اوس هم که څوک خیر البیان وګوری کوم چې د همیش صاحب دوینا مطابق د پټې خزانې یو په دریم دے د هغې په مقدمه کښې ټولې داتو کتابونو حوالې راوړلې شوی دی۔

www.pukhto.net

په پته خزانه کښې د یو سل اوو کتابونو د حوالو په راوړو چې کوم اعتراض شوې دے دهغې په حقله محترم همیش خلیل صاحب لیکی چې ----

" پاتې شوه کتاب دپاره د یو سل اوو کتابونو مطالعه نو دا خبره هم بیخی سمه نه ده، چې ګنی د دومره کتابونو مطالعه محترم حبیبی صاحب صرف د پټې خزانې د حاشیو لیکلو دپاره کړې ده - د حبیبی صاحب مرحوم غوندې عالم او فاضل انسان د چا علمی او ادبی حیثیت چې د پټې خزانې نه وړاندې هم مسلم وه، دپاره ولې دا ممکنه نه ده، چې دغو کتابونو کښې د زیاتو مطالعه د مرحوم د پټې خزانې تر لاسه کولو وړاندې هم کړی وی؟ او په پته خزانه د حاشیو لیکلو نه وړاندې د دغو حاشیو اکثرې برخې له وړومبیه د مرحوم په ذهن کښې وې؟ او زما په خیال د بناغلی معترض د دغو ټولو خبرو د دروغو ثابتولو دپاره به د پټې خزانې د دغو حاشیو لیکلو نه وړاندې د مرحوم په تحقیقی شهپارو او تالیفاتو کښې د اکثرو هم دغو کتابونو د حوالو موجودګی کافی وی -" (۱۵)

د حبیبی صاحب د علمیت نه انکار نه شی کیدے خو د یو سل اوو کتابونو مختلفې حوالې او صفحې یادې ساتل دیره نا ممکنه خبره ده - او له دې نه هم انکار نه شی کیدے چې دغه کتابونه به هغوی د پټې خزانې د تدوین نه اګاهو نه وی کتلی، خو د پټې خزانې دپاره بیا دغه کتابونه سر دوباره کتل

www.pukhto.net

ناګزیر وو خکه چې که یو عالم ته یوه خبره یاده هم وی نو یا به تري د کتاب نوم هیر وی او یا به ورته دا نه وی معلومه چې په کوم جلد کښې ده او د صفحې نمبر یې څه دے - خکه چې اکثر داسې کیږی چې بنده ته دا خو یاد وی چې ما دا خبره چرته کتلې ده او شته دے خو هغه کتاب ورته نه یادیږی - نو څومره پوړې چې دهمیش صاحب ددغې خبرې تعلق دے چې "د دغې حاشیو اکثرې برخې له ورومبیه د مرحوم حبیبی صاحب په ذهن کښې وے" نو زما په خیال د یو سل او و کتابونو حوالې یادې ساتل د منلو خبره نه ده - او نه د یو انسان په وس کښې ده - نور د حبیبی صاحب مطالعه ډیره وسیع وه خو د کتابونو نومونه، جلدونه او د صفحاتو نمبرې کتل او هغه لیکل هم یوه وړه وخت غواړی او بیا د پټې خزانې ټول کار هغوی په اکی یو سر کړې دے - نو دا ټول کار په درې میاشتو کښې سر ته رسول صرف او صرف معجزه کیدے شی -

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۰۹
2. تول پارسنګ ص - ۲۶
3. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۴۹، ۱۵۰
4. هم دغه کتاب ص - ۱۵۲، ۱۵۳
5. تول پارسنګ ص - ۱۴۳
6. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۵۵

www.pukhto.net

7 Afghan of Frontier Passes ص-

8 پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱٤٤

9 پلوشه (کراچی) ګڼه

10 سکام (لورالائی) ګڼه

11 هم دغه مجله

12 پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱٤۹۱٤۸

13 تول پارسنګ ص ـ ۱۳٦

14 د خیر البیان مقدمه ص ـ ۲۱

15 تول پارسنګ ص ـ ۱۳۸۹۳۷

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



Pukhto.Net

www.pukhto.net

لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ
اَلَّا تَعْدِلُوْا

محترم قلندر مومند په خپل کتاب "پټه خزانه فی المیزان" کښې د "جدیدیت" د عنوان د لاندې د هغو توریو په استعمال اعتراض کړے دے کوم چې د پښتو گرامر او د متقدمینو د تعامل د قاعدې خلاف په دغه تذکره کښې استعمال شوی دی - هغوی لیکی --

"هغه اسماء یا صفتونه وغیره چې وروستے حرف یې "یا" وی د پښتو گرامر او د مشرانو د تعامل د قاعدې په بنیاد چې د جمع په صیغه کښې استعمال شی نو د "ې" په خاې د "یو" شکل واخلی مثلاً "مزری" به د جمع په صورت کښې "مزریو" شی "اپریدی" به "اپریدیو" شی او داسې نور او داسې نور -" (1)

د پښتو لرغونی ادب که څوک لږه مطالعه هم لری نو هغوی به د قلندر مومند صاحب دې خبرې سره اتفاق وکړی خکه چې مشرانو د دې قاعدې خلاف ورزی نه ده کړې - په "پټه خزانه" کښې په خنې خایونو کښې په دې قاعده عمل شوې دے خو داسې خایونه هم په کښې شته دے چې هلته د دغې قاعدې خلاف ورزی د لوستونکیو په نظر راځی - قلندر مومند صاحب د دغې خلاف ورزی نمونې داسې پیش کړی دی ---

"د امیر کرور" ویارنه" چې د "دویمې صدی هجری" تحریر او د پښتو وړومبے شعر ګڼلے شی ، دا بدعت لری - حالانکې دا غلطی په دویمه صدی کښې هډو ممکنه نه وه - امیر کرور وانی غشی د من مې خی بریښنا پر میر څمنو باندې

www.pukhto.net

په ژوبله یونم یرغالم پر تښتیدونو باندې

په ماتیدونو باندې له ما اتل نسته

دې بند کښې "تښتیدونو" او "ماتیدونو" په ترتیب د "تښتیدونې" او "ماتیدونې" د جمع صیغې دی - د پټې خزانې فاضل محشی او مترجم ددې بند دا ترجمه کړې ده -

تیر ہائے ارادہ و عزم من مانند برق بر دشمنان میبارد

در جنگ و پیکار میروم و می تازم بر گریزندگان و بر شکست خوردگان پہلوان ترے از من نیست

د "تښتیدونو" او "ماتیدونو" ترجمه په ترتیب "گریزندگان" او "شکست خوردگان" شوې ده او دواړه د جمع صیغې دی - که محوک دا ووائی چې دا د کتابت غلطی هم کیدے شی او ممکنه ده چې امیر کرور "تښتیدونیو" او "ماتیدونیو" وئیلی وی او نور محمد خروټی یا محمد عباس کاسی په لیک کښې غلطی کړی وی - دا "عذر گناه" به په دې وجه "بد تر از گناه" وی چې دا دواړه لفظونه د "میرمحمنو" په قافیه کښې استعمال شوی دی او که دا لفظونه "تښتیدونیو" او "ماتیدونیو" وگڼلے شی نو قافیه به غلطه شی - بله دا چې که چرې دا غلطی د پټې خزانې د محشی او مترجم په نظر کښې غلطی وے نو هغوی به پرې خامخا نوټ لیکلې وے - د دې صفا مطلب دا دے چې دا اهمه غلطی د امیر کرور، محمد هوتک او بناغلی حبیبی مرحوم نه په یوه طریقه

www.pukhto.net

صادره شوې ده ـ حالانکې د حبیبی مرحوم نه خو د جدیدیت په وجه دا غلطی ممکنه وه ولې د محمد هوتک او بیا دویمې صدۍ د شاعر امیر کرور نه خو په هیڅ صورت کښې ئې توقع نه شی کیدے څکه چې د دې غلطۍ دا صورت هډو په دغه وخت کښې موجود نه وه ـ" (2)

له دې نه علاوه محترم قلندر صاحب د ښکارندوی یو شعر، د محمد هوتک یو شعر او دري د نثر بیلګې خپلو لوستونکیو ته پیش کړی دی ـ د هغوی په جواب کښې محترم همیش خلیل صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې هم د "جدیدیت" د عنوان لاندې لیکی چې ---

"د پټې خزانې د آفسټی چاپ د مطالعې نه معلومیږی چې د پټې خزانې په دغه ایډیشن کښې د جمعې دا زیر بحث غلطه قاعده په اوړو کښې د مالګې حیثیت هم نه لری ـ په دا سې حالاتو کښې آیا دا ممکنه نه ده چې دغه سهوه د پټې خزانې له کاتبه په غیر شعوری ډول شوی وی او تر دغه حده د ښاغلی معترض دا ګومان صحیح وګڼلی شی چې د کتاب د اصلی نسخې دا نقل در نقل محمد عباس کاسی یو سل او یو شپیته کاله پس او د دنن نه تقریباً سل کاله وړاندې چې هغه وخت د بحث لاندې جمعې جوړولو دا قاعده عامه وه کړی وی، او که فرض کړه د ډیرو لږو توریو د جمعې جوړولو په قول د ښاغلی معترض دا غلطه قاعده د کوم جدید ترین لیکونکی کارنامه وی، نو بیا په دا سې حالاتو کښې

www.pukhto.net

اخر د دغه لیکونکی په ټول کتاب کښې په دغه قاعده د عمل کولو نه اخر د هغهٔ قلم چا نیولی وه؟" 3

چې څومره پورې د افستی چاپ تعلق دے نو زهٔ دیر مودبانه عرض کوم چې د پټې خزانې عکسی ایډیشن ته محترم افستی ایډیشن وائی چې دا هم یوه غلطی ده باید چې اصلاح یې وشی - باقی کوم توری چې محترم قلندر صاحب په نخښه کړی دی دغه ټول په عکسی چاپ کښې موجود دی - او زما په خیال په عکسی ایډیشن او نورو ایډیشنونو کښې هیڅ فرق نشته - اوس دغه توری په اورو کښې د مالګې برابر دی کهٔ یو پله ټیک خبره نهٔ ده نو بل پله د شوی اعتراض جواب هم نهٔ دے - بله خبره هغوی د کاتب د سهوې کړې ده نو د کاتب د سهوې نه څوک انکار نهٔ کوی خو سهو یو ځای نیم کښې وی دومره دیره نهٔ وی - بله دا چې د کتابت غلطی داسې وی چې د هغې توری نه بیخی هډو څهٔ جوړ نهٔ شی لکه د "قاعدې" په ځای "فاعدې" ولیکی د "خبرې" په ځای "قبرې" ولیکی دیر کم کوز داسې کیږی چې د کاتب سهو د معنې دار توری په شکل کښې مرتب کیږی خو د پټې خزانې د کتابت سهوې داسې دی چې هره یوه سهو او غلطی ټیک معنیٰ ورکوی او چرته هم په کښې د اسې غلطی یا سهو په نظر نهٔ راځی چې د هغې سره تورے بې معنې شوی وی - څکه نو کهٔ هغې ته څوک د کتابت سهو وائی نو د هغې به دا مطلب وی چې هغهٔ سره بل څهٔ مدلل جواب نشته - زهٔ د دې خبرې د وضاحت او د لوستونکیو د اسانۍ دپاره د پټې خزانې د عکسی چاپ نه د دغې غلطې قاعدې نمونې پیش کوم چې

www.pukhto.net

لوستونکی فیصله وکړی چې دا په اوړو کښې د مالګې برابر دی او کۀ نه ۔ او دا چې د دومره خله سهو امکان له یو کاتبه ممکن دے او کۀ نه ؟ زۀ اول هغه توری پیش کوم ، چې په دغه تذکره کښې د مشرانو د تعامل د قاعدې او د پښتو د ګرامر خلاف استعمال شوی دی ---

صفحه نمبر	تورے
٤	درو
٦	زلمو
١٢	شپیلو
١٤	تښتیدونو
١٤	ماتیدونو
١٥	وګړو
١٩	ویرژلو
٢٢	مړو
٢٧	اوښو
٣٠	استاځو
٤١	رشتینو
٥٤	غلجو
٥٥	غلجو
٦٤	اوښو
٦٤	ویرژلو

Pukhto Net
پښتو
www.pukhto.net

۸٦ غلجو

۸٦ کوچنو

۹٤ سپین ږیرو

۱۱۱ تاریکو

له دې خبرې نه انکار نۀ شی کیدے چې په دغه تذکره کښې ډیر توری د صحیح قاعدې مطابق استعمال شوی دی خو نولس خایه ئې غلط استعمال شوې دے۔ نو کۀ د یو سل یولسو صفحو کتاب کښې دومره غلطی ځوک په اوړو کښې د مالګې برابر هم نۀ ګڼی نو دا به د هغوی د دغې کتاب د مولف سره د بې کچه عقیدت وجه وی۔ بل دا چې د محترم قلندر مومند د کتاب نه کوم اقتباس ما د ددې مقالې په شروع کښې نقل کړو په هغې کښې هغوی د امیر کرور د ویاړنې په یو بند کښې د "ماتیدونو" او "تښتیدونو" په استعمال دغه اعتراض کړې دے۔ چې په قافیه کښې راغلی دی او کۀ هغه "ماتیدونیو" او "تښتیدونیو" شی نو بیا قافیه غلطیږی۔ ځکه نو دا د کتابت غلطی نۀ دی۔ د ددې خبرې په جواب کښې ښاغلی همیش خلیل لیکی چې---

"دغه بند کښې د "تښتیدونو" او "ماتیدونو" په حقله د پښتو د ګرامر او مشرانو د تعامل د قاعدې نه د انحراف سره سره د کتابت د غلطی د امکان د بیخی شنډولو د پاره دا منطق پیش کړې شوې دے، چې چونکې امیر کرور دغه لفظونه د "میر ځمنو" په قافیه کښې استعمال کړی دی او کۀ د دغو لفظونو پرله پسې د صحیح قاعدې مطابق جمع "تښتیدونیو" او "ماتیدونیو" جوړه کړے

www.pukhto.net

شی نو قافیه به غلطه شی او په د اسې صورت کښې کۀ دې ته څوک د کتابت غلطی ووائی نو دا "عذر گناه" به "بدتر از گناه" وی ـ اخر ښاغلے همعصر د دې حقیقت نه ولې ستر گې پټوی چې په شاعرۍ کښې د شعری ضرورت دپاره د اسې ډیر مثالونه شته ـ مثلاً خوشحال خان خټک د شعری ضرورت او قافیې د سمون دپاره د "اعتماد" نه "اعتمید" جوړ کړې دے ـ دا شعر په "کلیات خوشحال خان خټک" او "دستار نامه" دواړو کښې راغلې دے ـ ـ

د دوستانو په دوستۍ نشته امید

د دښمن په تملق ځۀ اعتمید

دغه شان عبد القادر خان خټک هم له دغه شعری رعایت نه د اسې فائده تر لاسه کړې ده ـ ـ

د اخل ډیر ورځنې ښاد عبد القادر شۀ

چې به بیا په ښائستو ؤ اعتمید کا

بیا دغه نه پس چې د ښکارندوی د قصیدې په یو بل شعر کښې د "مړو" له ذکره علاوه د شیخ رضی لودی، شاه حسین هوتک، او ملا نور محمد په تذکرو کښې د محمد هوتک په وینا او خپله د محمد هوتک په یو شعر کښې چې پرله پسې د "استاخو"، "غلجو" او "تاریکو" الفاظو ته کومه اشاره شوې ده د دوروستی لفظ "تاریکو" نه علاوه باقی درې واړه ذکر شوی توری لکه چې

www.pukhto.net

مخکښې هم عرض شوې دے د کتابت سهو کیدے شی ، هر کله چې د محمد هوتک په شعر کښې "تاریکیو" استعمال شی نو د شعر وزن مجروح شی شعر دا دے --

د بیلتون په تاریکو کښې مې زړهٔ شین شو
رڼا لمر د جام د میو په ظلام را 4

دامیر کرور د ویاړنې په یو بند کښې د "تښتیدونو" او "ماتیدونو" په حقله قلندر مومند صاحب وئیلی دی چې دا لفظونه په قافیه کښې راغلی دی نو کهٔ څوک ئې د کتابت غلطی وګڼی نو دا عذر ګناه به بدتر از ګناه وی- او پکار هم ده چې دا د کتابت غلطی ونهٔ ګڼلی شی خو د محترم همیش صاحب د کتاب نه په ورومبی پیش کړی شوی اقتباس کښې هغوی دغه غلطی د کتابت غلطی ګڼلی دی-

بله خبره بناغلی همیش خلیل د شعری رعایت یا ضرورت کړې ده او د خوشحال خان بابا او عبد القادر خان خټک دوه شعرونه ئې پیش کړی دی چې په هغې کښې د "اعتماد" نه "اعتمید" جوړ کړې شوې دے- نو په دې حقله زما عرض دا دے چې د ادب استاذانو کهٔ د شعری ضرورت یا رعایت اجازت ورکړې دے نو هغه دغه دے چې خوشحال بابا او عبد القادر خان خټک په پوره غزل کښې صرف یو تورے دغسې غلط استعمال کړې دے د دې برعکس دامیر کرور د ویاړنې په یو بند کښې پرله پسې په دوو مصرعو کښې دوه ځله شعری ضرورت به اخر څوک څنګه منی - بیا هم کهٔ د لږ ساعت دپاره مونږ دغه شعری ضرورت وهٔ منو نو هم په دغه ویاړنه کښې

www.pukhto.net

شپږم بند داسې دے---

خپلو وګړو لره لور پیرزوینه کوم
دوی په دادینه ښۀ بامم ښه ې روزنه کوم
تل ې ودنه کوم له ما اتل نسته ❺

په دې بند کښې "وګړو" خو شعری ضرورت هم نۀ دے یعنې په قافیه کښې هم نۀ دے راغلے نو دې ته به صاحب د تول پارسنګ ځۀ وائی ۔ خو لکه چې څنګه ې "مړو"، "استاخو" او "غلجو" ته د کتابت سهو ونیلې ده دغسې به دې ته هم د کتابت سهو ووائی ۔ او د محمد هوتک په شعر کښې د "تاریکو" په حقله لیکی چې کۀ "تاریکیو" شی نو د شعر وزن به مجروح شی ۔ لکه دا هم د هغوی په خیال شعری ضرورت دے حالانکې دا قافیه هم نۀ ده ۔ او بل دا چې وزن ورسره بیخی نۀ مجروحه کیږی لکه څنګه چې د "ښکلو" په خاۍ "ښکلیو" راوړلو سره په وزن ځۀ فرق نۀ پریوځی ۔

په "پټه خزانه" کښې کوشش د ا شوې دے چې پخوانۍ املا ولیکلې شی خو چونکې لیکونکے ې جدید وۀ ځکه نو په ټول کتاب کښې ې پخوانۍ املا برقرار نۀ ده ساتلې ۔ چې هغه د دغې ورکړې شویو مثالونو نه واضحه ده بلکې تر دې پورې دغه جدید لیکونکے تیروتے دے چې د "زرکو" په خاۍ ې هم "زرکیو" لیکلې دے، حالانکې "زرکه" چې د جمعې په صیغه کښې راوړلې شی نو "زرکو" شی ۔ اوس کۀ د پټې خزانې څوک مدافع دا غلطی هم د کاتب په اوږو باروی نو دا به زیاتے وی ځکه

www.pukhto.net

چې تراوسه پورې د دې کتاب ګڼ ایډیشنونه چاپ شوی دی او مترجم او محشی په دې توری هیڅ قسمه نوټ نه دې لیکلې - بل د همیش صاحب دا خبره چې "د لیکونکی په ټول کتاب کښې په دغه قاعده د عمل کولو نه اخر د هغهٔ قلم چا نیولې وهٔ؟" نو په دې لړ کښې به زهٔ دومره عرض وکړم چې د هغهٔ قلم صرف دې خبرې نیولې وهٔ چې هغهٔ ته دا علم وهٔ چې په کال یولس سوه دوه محلوییښتم کښې د اسې املا نهٔ شوه لیکلې څکه نو د هغهٔ کوشش دا وهٔ چې هم د هغه وخت مروجه املا ولیکی خو د جدیدیت په وجه هغه په دغسې کولو کښې ناکامه شوې دے۔

د جدیدیت دویمه بیلګه چې محترم قلندر مومند صاحب په ګوته کړې ده هغه د اجوف افعالو په حقله ده ، هغوی په خپل کتاب "پټه خزانه فی المیزان" کښې لیکی چې ----

"زمونږ د کلاسیکی شاعرۍ یو ښکاره روایت دا دے چې دغه شاعرۍ کښې ټول اجوف افعال د حرف علت په فتحه ټرلی شوی وی - د دې په نتیجه کښې هر اجوف فعل د یو سیلابیز لفظ په ځایٔ دوه سیلابیز شی - د مثال په طور "عَیْب" ټولو پخوانیو شاعرانو "عَیَبْ" او "قَوْل" یٔ "قَوَلْ" ټرلې دے - په کلاسیکی شاعرانو کښې د دې روایت مثالونه دا دی۔

راشه مهٔ کوه دیر جور

زهٔ هم خویٔ لرم یو طور

www.pukhto.net

د غماز په خلې مې وژنی

نۀ انصاف لری نۀ غور

وخت د نو بهار دے راغ و باغ وارہ گلزار دے

راز د کردگار دے دا گلونه طور طور

کښینم و رودبار ته چې روانې اوبۀ گورم

عمر غوندې درومی چې ښۀ و کړم باندی غور

خوشحال بابا

چې هنر گنهی یاری د زور اورو

بول و کړم زۀ رحمان په دا هنر

چې یو یار له بله یاره لرې باسی

د دې دور له ستمه ولې نۀ مرم

رحمان بابا

د دې کلاسیکی روایت په مقابله کښې د "پټې خزانې" د محمد گل مسعود د "بدلې" یو بند پیش کوم۔

راشه د خدائ دپاره غور کړه محمد گل ژاړی

تاته تل تل ژاړی

داستا د عشق په واویلا کښې لکه نل شۀ

اور راباندې بل شۀ

د دې بند په ورومبی مصرعه کښې د "غور" تورے بالکل د ننني تلنظ مطابق تړلې شوې دے او د "محمد هوتک" د معاصر شاعر نه

www.pukhto.net

دا امید نه شی کیدے چې هغه به په دولسمه صدۍ کښې د "غور"
کلمه په یو سیلابیز شکل کښې استعمال کړی۔" 6

که چا د پښتو زور ادب لوستے وی نو هغوی به د قلندر مومند صاحب دې خبرې سره اتفاق وکړی ۔ او په خپله محترم همیش خلیل صاحب چې په پښتو ادب ېې دیر کار کړې دے او ګڼ زاړه دیوانونه ېې چاپ کړی دی په دې خبره ښه پوې دے چې ټول اجوف افعال په هغه وخت کښې دوه سیلابیز وئیلی او لیکلی شو ۔ خو بیا هم چې د قلندر مومند صاحب د دغې خبرې جواب کوی نو داسې ګول مول چې لوستونکی پرې هیڅ نه پوهیږی چې آیا دوی د دغې خبرې په حق کښې دی او که مخالفت ېې کوی ۔ صرف د پټې خزانې د دفاع ارخ په کښې ښه ښکاره لیدے شی ۔ هغوی لیکی چې ---

"بیا د پټې خزانې د پانې پانې په کربنه کربنه کښې ډیوه په لاس د غلطو په لټه ښاغلے همعصر چې د محمد ګل مسعود د بدلې یو بند ته ورسی نو په ټول کتاب کښې صرف هم دغه یو ځاې د "غور" د لفظ په یو سیلابیز تلفظ کښې ورته جدیدیت ښکاره شی ۔ خکه چې د پښتو د کلاسیکی شاعرۍ له مخه ټول اجوف افعال د حرف علت په فتحه ترلی شوی وی چې نتیجه ېې هر اجوف فعل د یو سیلابیز نه دوه سیلابیز شی ۔

د محمد ګل مسعود د ذکر شوې بدلې بند دا دے --

راشه د خدای دپاره غور کړه محمد ګل ژاړی

تا ته تل تل ژاړی

www.pukhto.net

داستاد عشق په واویلا کښې لکه نل شة

اور راباندې بل شة

بیا دغه ضمن کښې د خوشحال بابا او رحمان بابا کوم شعرونه ې

چې د خپلې دعوې په تائید کښې پیش کړی دی - تاسفاً چې

هغوی کښې د خوشحال بابا د ورومبې رباعۍ شعرونو یو

سیلابیز اجوف افعال د بناغلی همعصر د دعوې تائید نه بلکې نفی

کوی - رباعۍ کښې دا اجوف افعال داسې استعمال شوی دی --

راشه مة کوه دیر جور

زة هم خوئ لرم یو طور

د غماز په خلې مې وژنی

نة انصاف لری نة غور

او کة په زوره ې محوک په دوه سیلابیز انداز لولی نو په یو

سیلابیز انداز هم دیر په اسانه لوستلې شی -" ❼

د محترم همیش خلیل صاحب له دې اقتباسه دا خبره ډیره ښه راوځی چې په دیو

دوو شعرونو کښې کة اجوف افعال یو سیلابیز ولوستے شی نو محة فرق نة

پریباسی ، حالانکې د اسې نة ده - صرف په مطلع کښې د هغوی په دغه

فارموله عمل کیدے شی خو کة په دغه فارموله مونږ دویم شعر وگورو نو

ورومبې مصرعه ې اتة سیلابه او دویمه مصرعه ې اووة سیلابه شی نو کة

اوس محوک دې ته ټیک وائی او محة فرق ې نة گڼی نو هغه به د خپلې شعر

فهمۍ ثبوت ورکوی - نن سبا چې د مشرانو د دغې روایت پابندی هم

www.pukhto.net

نۀ کیږی خو بیا هم کم از کم دا یو لفظ "غور" یو سیلابیز نۀ شی وئیلے ۔او په دغه رباعیٔ کښې اخری لفظ هم دغه "غور" دے ۔ د خوشحال بابا له دې یوې رباعیٔ نه علاوه په نورو شعرونو کښې شاید چې د هغوی دغې فارمولې کار نۀ ورکولو ځکه نو په هغې چپ پاتې شوې دے او هیڅ تبصره ېې پرې نۀ ده کړې ۔ حالانکې هغه شعرونه هم په یو سیلابیز انداز کښې دیر په اسانه لوستے شی صرف د یو سیلاب فرق به پریوځی ۔

په دغه تذکره کښې د جدیدیت دریمه بیلګه قلندر مومند صاحب دا پیش کړې ده چې --

"فارسی ، پښتو، اردو او د مشرق په ځنو نورو ژبو کښې هم شعر د "بیت" په معنیٰ استعمالیږی او تر څو چې د ترکیب اضافی په صورت کښې نۀ وی راغلے نو هم دا معنیٰ لری ۔ د اضافت یا د توصیف په ځنې صورتونو کښې معنیٰ البته شاعری شی لکه شعر العجم، شعر پارسی ، شعر آبدار وغیره ۔ د افغانستان محترم لیکونکی هم دا لفظ عام طور سره هم په دې معنیٰ استعمالوی ۔ په خپله په "پټه خزانه" کښې څو ځل دا کلمه هم په دې معنیٰ راغلې ده ، د مثال په طور --

نصر الدین خان اندړ ښۀ اشعار وائی او زمونږ د زمانې له موزونانو ځخه ګانۀ شی ۔ دیوان د اشعارو لری ۔

ځکه چې طبع لطیف ېې درلوده نو ېې دیر خوارۀ اشعار وئیل --- کاتب الحروف کله کله دے وینی او اشعار ېې اروی --- په

www.pukhto.net

مجالسو کښې اشعار ارتجالاً لولی۔

نازو انا ---- هسې ارتینه وه چې د خدائ تعالیٰ څخه په مناجات
ئ دیر اشعار وئیل۔

دغه شعرونه له هغه کتابه زما د پلار په یاد وو۔

ولې دا کلمه (شعر) د افغانستان محترم لیکونکی اوس په یوه نوی
معنیٰ کښې هم استعمالوی - چې په دغه معنیٰ کښې قدماؤ نه دے
استعمال کړې او دا استعمال ئ بالکل جدید دے۔

د افغانستان د دې دور لیکونکی "شعر" د نظم په معنیٰ استعمالوی
بلکې کله کله ئ د "غزل" دپاره هم پکاروی او "شعر" کم از کم
دریو څایونو کښې دیو جدیدو معنو کښې په "پټه خزانه" کښې
راغلے دے۔

دغه یو شعر ما له خپله پلاره اوریدلے وه چې نقل ئ کاندم۔

او له دې نه پس چې کوم "شعر" راانقل شوې دے هغه د لسو بندو
یو اوږد نظم دے۔

هم دغسې یو بل ځائ "محمد هوتک" وائی --

دغه شعر ما د خپل پلار له خلې واوریدې چې د شیخ بوستان
رحمة الله علیه دے۔

شعر چې بدله ئ بولی۔

له دې نه اګاهو یو بل ځائ محمد هوتک فرمائی --

د تیمن بابا دغه شعرونه زما پلار له بستان الاولیا. څخه نقل کول او

www.pukhto.net

ما اوریدل۔

شعر۔

دې حواله کښې په وړومبی ځل "شعرونه" په زړه معنیٰ کښې او په دویم ځل "شعر" په جدیده معنیٰ کښې استعمال شوې دے۔ د دې کلمې دا جدید استعمال دا ثابتوی چې د "پټې خزانې" د دیو متعلقه برخو لیکونکے ځوک نوې لیکونکے دے چې د دولسمې صدی هجری سره هیڅ تعلق نه لری او چې دا ثابته شی نو د "پټې خزانې" د جعلی کیدو یو بل ثبوت پیدا شی۔"

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې ښاغلی همیش خلیل په خپل کتاب کښې لیکی چې۔۔

دا اعتراض هم لکه د تر اوسه شوو نورو اعتراضونو بې خایه دے۔ فیروز اللغات فارسی د "شعر" معنیٰ داسې کړې ده۔ د سخن په اصطلاح کښې موزون او باقافیه کلام چې ویونکی له خپلې ارادې وئیلے وی۔ (ترجمه) د افغانستان د لغتونو ذکر به ځکه نه کوو چې ښاغلی همعصر به بیا وائی چې دا د پټې خزانې نه وروستو چاپ شوی دی۔ ولې زه حیران یم چې اخر د "شعر" د مفهوم او معنیٰ په حقله به د خوشحال بابا د رائې په حقله چې هم د محمد هوتک د معنیٰ په تائید کښې ښکاره شوې ده، ځوک څه جواب ورکړی؟ خوشحال بابا وائی۔۔

"دراصل شعر په لغت کښې کلام منظوم وته وائی۔ دوارې

www.pukhto.net

مصرعې د بیت په تول تللی، په حرفونو سره سمې۔ عروض قافیه سره جوړ، په دا کښې هر چې وی که قصیده وی که غزل که رباعی که قطعه ده که مخمس که مسدس په ډیرو چې شعر وایه شی۔"

"د امیر المومنین علی کرم وجهه تمام دیوان د شعر په عربی ژبه شته۔" 9

هم دا د خوشحال بابا د دستار نامې اقتباس له محترم همیش صاحب نه اګاهو د افغانستان دوؤ محترمو لیکونکیو ښاغلی آصف صمیم او زرین انځور دوی په خپل شریک کتاب "د پټې خزانې میزان ربښتیا میزان دے؟" کښې د خپل موقف په تائید کښې پیش کړې وه۔ خو محترم همیش صاحب د هغوی ذکر او حواله نه ده ورکړې۔ د "فیروز اللغات فارسی" د شعر کړې معنیٰ ئې په دلیل کښې پیش کړې ده نه پوهیږم چې د پښتو او اردو د لغتونو معنې د هغوی د موقف تائید نه کولو او که څه وجه وه چې فقط په فارسی لغت ئې اکتفا کړې ده۔ د شعر په حقله د بحث نه اګاهو زه غواړم چې د مختلفو فرهنګونو له خواشوې د "شعر" معنې ګرانو لوستونکیو ته پیش کړم۔۔

اردو پښتو لغت د سید انوار الحق

شعر :۔ معلومول ۔ په نظم کښې خبرې کول، موزونه خبره یا کلام۔ دوه مصرعې چې د یو وزن وی یا په یو بحر کښې وی او یو خاص خیال ظاهروی د قافیې یو شان کیدل په کښې ضروری نه دی۔ خو عام طور د شعر مطلب د دا اسې موزون کلام وی چې قافیه وار وی او په اراده سره وئیلے

www.pukhto.net

شوی وی - بیت - نظم - جمع اشعار - ⑩

Urdu English Dictionary by Dr. S.W.Fal on

شعر:- Poetry, a verse, couplet

⑪

جامع اللغات

شعر :- سخن موزون - دوه مصرعې چې د یو وزن وی او یو خیال ظاهروی - دقافیې یو شان کیدل ضروری نه دی - بیت - نظم (ترجمه) ⑫

فیروز اللغات

شعر :- معلومول - موزون او مقفیٰ کلام - نظم - بیت - گیت - سخن موزون - (ترجمه) ⑬

بیان اللسان د قاضی زین العابدین

شعر :- کلام منظوم - بیت جمع اشعار - ⑭

د محترم قلندر مومند د کتاب نه چې کوم اقتباس ما گرانو لوستونکیو ته وړاندې کړو په هغې کښې هغوی دا خبره کړې ده چې "شعر تر کومه د ترکیب اضافی په صورت کښې نه وی راغلې نو معنیٰ ې بیت وی او د اضافت یا د توصیف په څنې صورتونو کښې ې معنیٰ شاعری وی" خو د پټې خزانې مدافعین لوستونکیو له دا تاثر ورکول غواړی چې گنی هغوی د "شعر" د دویمې معنې یعنې شاعری بیخی قائل نه دی - حالانکې دا سې نه ده اقتباس ستاسو په وړاندې دے - زمونږ په وطن کښې شعر په دواړو یعنې د بیت او شاعری په معنو استعمالیږی - په خپله محترم همیش

www.pukhto.net

صاحب، آصف صمیم او زرین انخور په خپلو خپلو کتابونو کښې عملاً د دې خبرې ثبوت ورکړې دے - په تول پارسنګ کښې بناغلی همیش صاحب صرف د "یونس د دیوان شهادت" کښې محو خله بیت ته شعر وئیلے دے - او د یونس پوره غزل ئې پیش کړې دے او هغې ته ئې شعر نه دے لیکلے - باقی د خوشحال بابا د دستارنامې د اقتباس خبره هم د اسې ده چې که هغې ته دیو بناغلیو لږ فکر وکړو نو د دوی په حق کښې نه ده - ځکه چې په هغې کښې "دواړه مصرعې د بیت په تول تللی" په دې خبره دلالت کوی چې شعر دوو مصرعو ته هم وئیلې شی - لکه چې ما اګاهو ذکر وکړو د قلندر مومند د وینا مطلب قطعاً دا نه دے چې ګنې شعر د بیت نه علاوه په بله معنئ نه استعمالیږی - خو د پټې خزانې دفاع کونکی لوستونکیو له دا تاثر ورکول غواړی - لکه چې آصف صمیم او زرین انخور په خپل شریک کتاب کښې لیکی --

" د تعجب ور خبره ده - شعر یوازې د یو بیت په مفهوم نه دے او د اشعارو یا شعرونو مانا "بیتونه یا ابیات" نه دی - دا د بناغلی قلندر مومند په اصطلاح د افغانستان د محترمو لیکونکیو نوې او اوسنے ایجاد نه دے - د نړۍ په تولو ژبو او د تولو ژبو په ادبیاتو کښې شعر د ادبیاتو دیوې برخې په توګه یو عام مفهوم دے - له بده مرغه چې زمونږ د دې خواخنې پښتانه لیکوال شعر "بیت" بولی او شعرونه یوازې د بیتونو په مفهوم راوړی چې دا دے بناغلی قلندر مومند هم د یو بنیادی او ربښتینی اصل په توګه راخستے

www.pukhto.net

دے - په داسې حال کښې چې دا خبره د زیات تامل وړ ده او دلته زمونږ پښتانه وروڼه شاعران او لیکوال یو ځل بیا باید غور پرې وکړي - دا یوه تیروتنه ده چې شعر یوازې او یوازې د بیت په معنیٰ وکارول شي - او په پته خزانه کښې دا تیروتنه نه ده شوې ، هغه بیلګې چې بناغلی قلندر مومند راوړې دی له هغو څخه مقصد شعر په عام مفهوم دے نه د بیت او بیتونو په مفهوم - خبره دا ده چې شعر یو عمومی او کلی مفهوم دے که یو بیت وی، که یوه قصیده وی که یوه بشپړه غزل وی که یوه ځلوریزه وی که یو بشپړ نظم وی (البته په هغه صورت کښې چې ټول شعری خصوصیات ولری) که مخمس وی که یوازې دوه درې بیته وی یا ازاد شعر او شعری طرحه وی، ټول او ټول شعر دے - شعر یوازې د بیت په معنیٰ هغه ناسمی ده چې باید تصحیح شی -" 15

زه حیران یم چې چا د شعر د دویمې معنې نه انکار کړې دے چې بناغلی لیکونکی یې تصحیح کول غواړی؟ د پټې خزانې دفاع کونکیو له پکار وو چې د پښتو لرغونی ادب نه یې څه د اسې نمونې پیش کړې وے چې په کښې چا شاعر خپل نظم ته شعر لیکلې وے یا یې خپل مخمس ته شعر یا یې چې قصیدې له د شعر نوم ورکړې وے نو باید چې لوستونکی یې قانع کړې وے - د عبد القادر خان خټک ګلدسته کښې ډیرې قطعې، مثنویانې، رباعی او بیتونه راوړلی شوی دی، که څوک دا خبره کوی چې عبد القادر خان خټک ولې بیت ته شعر نه دے لیکلې نو د هغوی په خدمت کښې زما دا

www.pukhto.net

قوم ده - پښتو قاموس "قام" نه دے اخستے خو د "کام" معنیٰ ہم "مفغن قوم" کړې ده - ظاهره خبره ده چې "کام" ډیر اوسنے تګ دے او په ورومبی ځل په ۱۳۱۶ هش (سیند) کښې مینځ ته راغلے دے - او پښتو قاموس ثابته کړه چې "کام" د پښتو خپل ټکے نه دے بلکې د قوم مفغن صورت دے - دا نوې ټکے په پټه خزانه کښې داسې استعمال شوې دے --

خوان وۀ میړۀ د توري جنګ وۀ نا
ولاړ د کام په نام و ننګ وۀ نا

دې نظم کښې "قندهار" (چې اوس ې د افغانستان محترم لیکونکی بغیر له حبیبی مرحومه مفغن صورت کښې "کندهار" لیکی یولس ځل په "ق" لیکلے شوے دے - څرګنده خبره ده چې "کام" هم لکه د "کندهار" د "قام" د توری جدید صورت دے - او چې دا ومنو نو دا به هم منو چې دا جدیدیت د محمد هوتک د دور یعنې د دولسمې صدۍ نه ډیر پس د ځوارلسمې صدۍ وروستۍ نیمائۍ کښې مینځ ته راغلے دے او دا هډو ممکنه نه وه چې نور خو لا څۀ چې "محمد عباس کاسی هم دا تورے په دې صورت کښې لیکلے وے -" (17)

دهغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې "د پټې خزانې د املا د جدیدیت په حقله بل اعتراض دا کولے شی چې "قندهار" او "قام" دواړه توری هر کله چې بغیر له محترم

www.pukhto.net

حبیبی صاحبه د افغانستان اوسنی لیکونکی په مفغن صورت کښې "کندهار" او "کام" لیکی ددولسمې صدۍ نه ډیر وروستو د څوارلسمې صدۍ نیمائی کښې مینځ ته راغلے ۔ دغه اعتراض نه دوه خبرې راولاړیږی ۔

۱۔ یعنې پټه خزانه کتاب محترم عبد الحی حبیبی صاحب نۀ دے لیکلے ۔

۲۔ د دولسمې صدۍ نه ډیر وروستو د څوارلسمې صدۍ نیمائی کښې مینځ ته راغلے دے ۔ دغه جمله لکه د زهرو د ګولۍ په پتاسه کښې نغښتے ده ۔ خکه چې د پټې خزانې د موجوده قلمی نسخې کتابت محمد عباس کاسی هم په څوارلسمه صدۍ یعنې کال ۱۳۰۳ هجری کښې کړې دے ۔ لیکن بیاغلے معترض خپلو لوستونکیو ته د دولسمې صدۍ یعنې د محمد هوتک د زمانې خبره کوی او دا تاثر ورکوی چې ګنی د پټې خزانې دا موجوده املا د محمد هوتک په خپل قلم یا کم از کم د هغۀ د زمانې ده ۔ حالانکې دا خبره قطعاً سمه نۀ ده ۔" (18)

محترم همیش صاحب چې د خپل همعصر د دې اعتراض نه کوم استنباط کړې دے د هغې په حقله زما عرض دا دے چې په پټه خزانه فی المیزان کښې خو په ګنو خایونو کښې هغوی د محمد عباس کاسی نوم اخستے دے او د دې خبرې ۍ هم څۀ تردید نۀ دے کړې چې ګنی پټه خزانه په ۱۳۰۳ هجری کښې نۀ ده کتابت شوې ۔ بل د هغوی په پورته نقل شوی اقتباس کښې دا خبره "

www.pukhto.net

چې نور خو لا څه چې محمد عباس کاسی هم دا تورے په دې صورت کښې لیکلے وے ۔" د محترم همیش صاحب د دغې خبرې د رد دپاره کافی ده ۔ د قلندر مومند صاحب وینا داده چې قندهار او قام له مفغن صورت ورکول د ځوارلسمې صدۍ په وروستۍ نیمائۍ کښې مینځ ته راغلی دی ۔ خو محترم همیش خلیل صاحب د هغوی دغه خبره کښې د "وروستۍ نیمائۍ" نه "وروستۍ" لفظ حذف کړې دے ۔ بل د قلندر صاحب وینا داده چې په پښتو کښې دا عمل د پښتو سیند نه مخکښې په فرهنګونو کښې په نظر نه راځی ۔ صرف پښتو سیند په ۱۳۱۶ هجری شمسی کښې د دې توری مفغن صورت راوړلے دے ۔ او د محمد عباس کاسی د کتابت په وخت یعنې په ۱۳۰۳ هجری قمری کښې لا دې عمل رواج نه وه موندې ۔ بل محترم همیش صاحب یوه خبره دا کړې ده چې له دې اقتباسه دا راولاړیږی چې "پته خزانه کتاب عبد الحی حبیبی صاحب نه دے لیکلے " پته نشته چې هغوی ته دا الهام له کومه وشو خکه چې اقتباس د دې برعکس دے ۔ بل تراوسه خو دا خبره کیدله چې پته خزانه کتاب محمد هوتک لیکلے دے نو د حبیبی صاحب په کښې له کومه راغلو خو لکه چې د محترم همیش صاحب له خلې نه دا خبره غیر شعوری طور سره وتلے وی ۔ قلندر مومند صاحب په خپل دغه پورته اقتباس کښې دا خبره کړې ده چې " قندهار" بغیر له حبیبی مرحومه د افغانستان ټول محترم لیکونکی په مفغن صورت کښې " کندهار" لیکی ۔ او په پته خزانه کښې یولس خله "قندهار" په "ق" لیکلے شوے دے ۔ نو له دې نه خو دا خبره راولاړیږی چې دا کتاب عبد الحی حبیبی

www.pukhto.net

صاحب لیکلے دے۔ بیا محترم همیش خلیل صاحب د " کندهار" او "کام" مونې په یوه قلمی نسخه "لرغونے قندهار" کښې په ګوته کوی چې په ۱۳۰۷ هجری قمری کښې لیکلے شوے ده ۔ نو اول خو په کندهار اعتراض نه دے شوے صرف د کام خبره ده ګویا په ټول پښتو ادب کښې واحد دغه یوه قلمی نسخه ده چې په هغې کښې " کندهار" او " کام" لیکلی شوی دی ۔ که په پته خزانه کښې نولس خایه غلطی شوې وی نو هغه خو د کاتب غلطی ګڼلے شی خو که په کهم پښتو ادب کښې صرف په یو کتاب "لرغونے قندهار" کښې دغه دوه توری په منفن شکل کښې راغلی وی نو هغه ولې د کاتب غلطی نه شی ګڼلے ؟

د جدیدیت محلورمه بیلګه قلندر مومند صاحب دا پیش کړې ده چې په پته خزانه عکسی چاپ کښې په پینځه پنځوسمه صفحه د قرأت په خاې "قرات" لیکلې شوې دے کوم چې د دې توری جدید شکل دے۔ په دې حقله هغوی لیکی چې ---

" د مثال په طورد همزه لیکل وو ۔ دا حرف که د لفظ په مینځ کښې راشی نود زور لیک دود سره سم ې لیکل ممکن دی مثلاً مطمئن، مسئول وغیره ۔ داسې صورت کښې د "ې" دپاره جور کورکی ذ پاسه همزه اچول څه مشکل نه وو لیکن کوم خاې کښې چې دا حرف د مفرد حرف نه پس راځی هلته ې لیکل ناممکن شو مثلاً جرأت کښې د همزه مقام د" ا" دپاسه دے ۔ دې مقام کښې د ټائپ د حرفونو د ساخت له کبله د حرف د پاسه حرف

www.pukhto.net

لیکل ممکن نۀ دی خکه نو د دې دا علاج دریافت کړې شۀ چې دا همزه دې هم لکه د " مطمئن " د همزه په شان لیکلے شی - د دې علاج مطابق د "جرأت" د ټکی نوے شکل "جرائت" شۀ - اوداسې نورټکی هم په دې شکل کښې لیکل شروع شو - د افغانستان د عالمانو له خوا دا شاید په نسخ لیک دود کښې یوه ډیره د قدر قابله اضافه وه - لیکن بهر حال دا فیصله د ډیر و جدیدو مشکلاتو د مخ نیوی دپاره شوې وه خکه نو نوعیت یې بالکل جدید وۀ - پټه خزانه کښې له دیو الفاظو څخه یو لفظ استعمال شوې دے او د جدید لیکونکیو له خوا دنوی مشکلاتو په وجه لیک دود کښې د تبدیلی د فیصلې په نتیجه کښې چې په املا کښې کومې تبدیلی راغلې وے هغو سره د مانوسیت له کبله دانوې لیکونکی مجبور وو چې دا ټکی په عامه املا کښې هم، هم هغسې ولیکی لکه چې په ټائپ کښې یې لیکل ممکن وو - " (19)

محترم همیش صاحب د دې په جواب کښې ورومبی د اخبره کړې ده چې دا تورے په پینځۀ پنځوسمه صفحه نه بلکې په شپږ پنځوسمه صفحه راغلې دے، او ټیک هم ده - هغوی دویمه خبره د دې توری په حقله دا کړې ده چې ---

"بناغلی معترض د جدیدیت د دغه برخې په خپل یو بل ډیر عجیبه الزام کښې د پټې خزانې ټوله تذکره کښې صرف او صرف یو تورے په ګوته کړې دے چې هغه هم د کتابت د غلطی په وجه د

www.pukhto.net

"قرائت" په ځائ "قرأت" لیکلے شوي دے ۔ د دي مطلب دا شو چي موصوف دپروف غلطی هم لګیا دے د جدیدیت په کاته کښي اچوی ۔ بیا ذکر شوی توری ته د جدیدیت د لباس ور په غاړه کولو دپاره چي افغانستان کښي د ټائپ د طباعتی نظام د رواج کومه افسانه تراشلي شوي ده هغه بذات خود یوه داسي هڅه ده لکه چي خپل یو غوږ په ځائ د مخي له وروستو د نیولو کوشش کوی ۔" (20)

محترم همیش صاحب په دغه اقتباس کښي وائی چي د کتابت د غلطی په وجه د "قرأت" په ځائ "قرات" لیکلے شوي دے ۔ حالانکي دا خبره سمه نه ده ۔ ځکه چي دلته هغوی "قرأت" لکه څنګه چي په پټه خزانه کی المیزان کښي غلط لیکلے شوی دے غلط لیکلے دے ۔ پخوا به "قرأت" په "ق" "ر" "همزه واله الف او "ت" سره لیکلي شئ ۔ پکار وه چي دوارو محترمو لیکونکیو هغسي لیکلي وے ۔ په پټه خزانه کښي دا لفظ د اسي لیکلي شوي دے چي "ق" "ر" "ا" او د "ت" نه مخکښي یو کورکے جوړ شوي دے ۔ او دا شکل جدید دے ۔ کورکے جوړول د ټائپ دپاره وو خکه چي په ټائپ کښي لکه څنګه چي قلندر صاحب وئیلی دی د الف د پاسه همزه لیکل ممکن نه وو ۔ په عام لیک دود کښي به کورکے نه شو جوړولي، لکه چي سبا زمونږ په وطن کښي په عام لیک دود کښي قرأت د اسي لیکلي شی چي د الف د پاسه همزه لیکو ۔ اواوس په ځني کمپیوټر پروګرامونو کښي د الف د پاسه د همزه اچولو سهولت موجود دے ۔ او زمونږ برعکس په

www.pukhto.net

افغانستان کښې د دغې رواج له مخه اوس په عام لیک دود کښې هم قرأت داسې لیکلې شی چې د"ت" نه مخکښې کورکے جوړوی - نو په پته خزانه کښې ئ په دې صورت کښې لیکل چې د "ت" نه مخکښې کورکے جوړشوی وی یو جدید عمل دے اوپه دې باندې د دغې اعتراض واردیدل یو لازمی امر دے - محترم همیش صاحب لکه چې د هغوی په دغه اعتراض یا خو پوه شوی نۀ وی او یا ئې خامخا خبره ګول کړې وی ځکه چې هغوی هم په دغه بحث کښې لیکی چې --

" کۀ محمد عباس کاسی سهو آپه "قرأت" همزه وانۀ چوی نو بیا دې دپاره افغانستان کښې د ټائپ د طباعتی نظام د رواج افسانه جوړه کړې شی - " (21)

لوستونکیو ته به علم شوی وی چې خبره د همزه د اچولو نۀ ده بلکې د "ت" نه مخکښې د کورکی جوړولو ده - او کورکے جوړول یو جدید عمل دے - کوم چې د محمد عباس کاسی په وخت یعنې په دیارلس سوه دریمه هجری کښې چا پیژندلو هم نه -

لوستونکیو ته به له دې بحث نه اندازه لګیدلے وی چې دیو بناغلیو لیکونکیو په پته خزانه فی المیزان کښې د شوۀ اعتراضونو کوتلی او مدلل جوابونه نۀ دی ورکړی فقط د پټې خزانې سره ئې د خپلې بې کچه مینې او عقیدت اظهار کړې دے او بس -

www.pukhto.net

حوالی

1. پټه خزانه فی المیزان ص ۔ ۱۵۸
2. هم دغه کتاب ص ۔ ۱۶۰، ۱۶۱
3. تول پارسنګ ص ۔ ۱۴۷، ۱۴۸
4. هم دغه کتاب ص ۔ ۱۴۸، ۱۴۹، ۱۵۰
5. پټه خزانه ص ۔ ۳۶
6. پټه خزانه فی المیزان ص ۔ ۱۶۳، ۱۶۴، ۱۶۵
7. تول پارسنګ ص ۔ ۱۵۰، ۱۵۱
8. پټه خزانه فی المیزان ص ۔ ۱۶۵، ۱۶۶
9. تول پارسنګ ص ۔ ۱۵۱، ۱۵۲
10. اردو پښتو لغت
11. اردو انګلش ډکشنری د S.W Fal on
12. جامع اللغات
13. فیروز اللغات
14. بیان اللسان د قاضی زین العابدین
15. د پټې خزانې میزان ربښتیا میزان دے؟ ص ۔ ۳۶، ۳۷
16. هم دغه کتاب ص ۔ ۴۵
17. پټه خزانه فی المیزان ص ۔ ۱۶۶، ۱۶۷

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

18 تول پارسنگ ص ۔ ۱۵۲، ۱۵۳

19 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۱۶۸

20 تول پارسنگ ص ۔ ۱۵۴

21 ہم دغہ کتاب ص ۔ ۱۵۴

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



www.pukhto.net

اِنْ هُمْ اِلَّا یَخْرُصُوْنَ

په "تول پارسنګ" کښې محترم همیش صاحب لیکی چې---

"د کتاب د دغې برخې په وړومبی اعتراض کښې د محمد هوتک د لاندې درج اقتباس مفهوم غلط بیان شوے دے - محمد هوتک لیکی (ښکاره دې وی چې ما له دیرشو کالو راهسې د ډیرو شاعرانو د پښتنو احوالونه راټول کړی دی او هغه وقتونه چې د پښتونخوا پر لتو ګرځیدم له وګړیو څخه مې ډیر ښه حالونه اوریدلی دی ص-ه وړومبے اشاعت) د دې اقتباس مطلب دا نه دے چې ګنی دیرش کاله پرله پسې شپه او ورځ د انګ دبلی پر په غاړه محمد هوتک د شاعرانو احوالونو راغونډولو پسې د پښتونخوا په لتو ګرځیدو او نه تر اوسه د اسې شوی دی چې کوم تذکره نګار د خپل ژوند ټول مصروفیتونه په شا وغورځوی او محض د یوې تذکرې د تکمیل دپاره دیرش کاله سر وهلے بر وهلے کله د یو کلی کله د بل کلی کوڅه په کوڅه د شاعرانو حالاتو راغونډولو پسې بډې رابنکلې وی - د اقتباس دا مفهوم هم کیدے شی چې د تیرو دیرشو کالو راهسې یعنې دیرش کاله وشول چې دۀ دا احوال راغونډ کړی دی یعنې ضروری نه ده چې دغه تحقیق پوره دیرش کاله اخستی وی - او د ضرورت په وخت د پښتونخوا لتو ته هم ورپسې تلے وی -" (1)

www.pukhto.net

د محمد هوتک علیه الرحمة اصل عبارت پورته د تول پارسنګ نه نقل شة ـ اوس زة د "پټه خزانه فی المیزان" نه د قلندر مومند صاحب هغه اقتباس رانقل کوم په کوم کښې چې د همیش صاحب په خیال د غلط بیانۍ نه کار اخستے شوے دے ـ قلندر صاحب لیکی چې ---

"د پټې خزانې د مولف د وینا مطابق دة د "پټې خزانې" دپاره دیرش کاله تحقیق کړے دے او د پښتونخوا په لتو ې د ګرځیدو تکلیف کړے دے ـ" (2)

اوس زة نة پوهیږم چې "له دیرشو کالو راهسې د دیرو شاعرانو د پښتنو احوالونه راټولول" له دغې نه سیوا بل کوم مفهوم او معنیٰ ورکوی ـ کة د قلندر مومند صاحب په خپل بل څوک نقاد وے نو شاید چې هغة به هم دا خبره کوله چې د "پټې خزانې" دپاره محمد هوتک دیرش کاله تحقیق کړے دے ـ او عام طور سره زمونږ اکثر لیکونکی هم دغسې لیکی خو تر اوسه د هغې نه چا هم دا مطلب نة دے اخستے چې ګنی هغة په خان ورځ او شپه یو کړی وو د انګ دبلی په غاړه په یو کلی او بل کلی او کوڅه په کوڅه ګرځیدو ـ او نة تر اوسه چا د داسې کارونو دپاره خپل نور مصروفیات شاته غورځولی دی ـ بلکې دا خو مونږ خلق اکثر وایو چې "د سحره راهسې درپسې ګرځم" نو د هغې مطلب قطعاً دا نة وی چې ګنی مونږ د دنیا ټول هر څة پریښی وی او هغة پسې لے په لے ګرځو او نة تری چرته اوریدونکیو دغه مطلب اخستے دے ـ او هم دې له عالمانو د مجاز مرسل نوم ورکړے دے ـ بل قلندر صاحب دا نة دی وئیلی چې محمد هوتک د انګ دبلی په غاړه

www.pukhto.net

شپه او ورځ د پښتونخوا په لتو ګرځیدو که څوک د هغوی د خبرې نه دغه مطلب اخلی نو دا به د هغوی فراست وی - ځکه چې هغوی ډیر صفا وئیلی دی چې محمد هوتک دیرش کاله تحقیق کړے دے - بل لکه چې همیش صاحب په پورته نقل شوی اقتباس کښې وئیلی دی چې د اقتباس دا مفهوم هم کیدے شی د تیرو دیرشو کالو راهسې یعنې دیرش کاله وشول چې ده دا احوال راغونډ کړی دی - نو بیا خو پکار وو چې داسې ې وئیلے وے چې دیرش کاله اګاهو مې دا احوال راغونډ کړی وو او اوس ورله کتابی شکل ورکوم - اوس نو ګران لوستونکی دې انصاف وکړی چې په دوارو محترمو لیکونکیو کښې څوک د خلاصة الفصاحت د مصنف (چې اوس ې د پټې خزانې مدافعین محض یو تذکره نګار ګڼی) په خبره نه دے پوه شوے -

قلندر مومند صاحب د محمد هوتک علیه الرحمة دیرش کاله د پښتنو په لتو د ګرځیدو دعوئ په درغو مبنی ګڼی او لیکی چې --

"په کتاب کښې داسې هیڅ نشته چې دا دعوئ پرې ثابته شی - د دې برعکس د کتاب دننه چې څومره "مواد" را یو ځای کړی شوی دے له هغه څخه دا ثابتیږی چې دا کتاب هغه د صحافتی اصطلاح مطابق "په میز" جوړ شوے خبر دے - کتاب کښې د یو پنځوس لیکونکیو حالات "ثبت" شوی دی چې یو په کښې مولف او بل ې والد محترم "داؤد خان" دے - په دې لحاظ د نهه څلویښتو لیکونکیو دپاره د تاریخی سندونو ضرورت وه - له بده مرغه د پښتو معلومو لیکونکیو خوشحال بابا او رحمان بابا

www.pukhto.net

دپاره هم په کتاب کښې د کوم باوری سند حواله نه ده ورکړې شوې۔" 3

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب کښې لیکی چې ---

"حقیقت دا دے چې د پټې خزانې شعری او نثری مواد د خپل دور د هرې یوې تذکرې نه په هیڅ صورت لاندې نه دے البته که د تذکره نگار معلومات ځنې تاریخی غلطۍ لری نو دا د مایوسۍ خبره ځکه نه ده چې د اسې ځنې نورې تذکرې هم شته چې پریوانه غلطی لری، مثلاً مولانا شبلی نعمانی مرحوم د "شعر العجم" د وړومبۍ برخې په ماخذ کښې د "تذکره دولت شاه سمرقندی په حقله لیکی (مشهوره تذکره ده او اگر چې اکثرو ځایونو کښې یې غلطې دی بیا هم دلچسپه او مفیده ده)" 4

د دې په جواب کښې زه دا عرض لرم چې که په تذکره دولت شاه سمرقندی کښې غلطۍ وے نو هغه مولانا شبلی مرحوم پټې نه کړې ۔ او صرف مفیده او دلچسپه یې ورته ووئیله مستنده یې نه ده ګڼلی ۔ پته خزانه هم مفیده ده او هیڅوک ورته غیر مفیده نه شی وئیلے او نه ورته چا وئیلی دی البته د هغې په استناد شک دے او دا ټولې خبرې د دغه تذکرې د شکی وجود په حقله میدان ته راوتلی دی ۔ بل پته خزانه هغه واحد تذکره ده چې صرف یوه قلمی نسخه لری او د دې له نورو تذکرو سره مقابله کول پکار نه دی ۔ بیا هم که دولت شاه سمرقندی د خپلې تذکرې دپاره دیرش کاله تحقیق کړے

www.pukhto.net

وی او په لتو ورپسې ګرځیدلے وی نو باید چې ګرم کړے شی - بیا هم د دیرش کاله تحقیق نه کولو باوجود د مولانا شبلی غوندې نقاد دهغه غلطیو ته ګوته نیولې ده - دلته خبره په تذکرو کښې د غلطیو قطعاً نه ده بلکې د محمد هوتک علیه الرحمة د دیرش کاله تحقیق او د پښتو ژبې نخوا په لتو د ګرځیدو ده خکه چې په دغه تذکره کښې محمد هوتک صرف د ځوارلسو شاعرانو حالات د خپلو معلوماتو په رڼا کښې لیکلی دی - نو که په دیرش کاله کښې یو لیکونکے صرف د ځوارلسو شاعرانو حالات راغونډ کړی نو هغه ځنګه یو مکمله تذکره کیدے شی - په پته خزانه کښې ټول د نهه ځلویښتو لیکونکیو حالات راغونډ کړی شوی دی سیوا له دغو ځوارلسو باقی ټول د نورو کتابونو نه اخستی شوی حالات دی او عجیبه خبره دا ده چې د پښتو دیر هغه کتابونه چې چا ته یې هیڅ قسمه معلومات نه وو، پیدا او چاپ شو ولې د محمد هوتک په مآخذونو کښې یو مآخذ هم تر اوسه چا پیدا نه کړے شو - او له دې نه دا خبره په ډاګه کیږی چې دغه کتابونه هډو وو نه - ګنی تر اوسه د هغې د نه پیدا کیدو نوره ځه وجه کیدے شی -

محترم قلندر صاحب په پورته نقل شوی اقتباس کښې دا خبره کړې ده چې "د نهو ځلویښتو لیکونکیو د حالاتو دپاره د تاریخی سندونو ضرورت وه -" (حواله اګاهو تیره شوې ده) نو پکار خو دا وه چې محترم همیش خلیل صاحب د دې خبرې څه مدلل جواب کړے وے - خو هغوی داسې نه دی کړی او د ځنو نورو کتابونو حوالې یې ور کړی دی چې هغوی هم د اسی کړی دی - نو ظاهره ده چې هیڅ یو باشعوره لیکونکے به دا د

www.pukhto.net

قلندر مومند د اعتراض جواب ونه ګڼی او نه دا جواب دے۔ که چې نور چا دغسې کړے وی نو هغوی هم غلطه کړې ده۔ پاتې شوه دا چې د همیش صاحب معترض په هغې ولې څه نه وائی نو په دې حقله زما دا عرض دے چې د هغوی تنقید په پته خزانه روان دے نه چې په تذکره دولت شاه سمرقندی۔ که تذکره دولت شاه سمرقندی څه غلطی لرلے نو هغه لکه چې ذکر وشه مولانا شبلی صاحب په ګوته کړی دی۔ او دا د یو نقاد فرض جوړیږی۔ باقی که شعر العجم وی که مخزن افغانی او که تواریخ حافظ رحمت خانی هغه د پټې خزانې سره په مقابله کښې پیش کول په کار نه دی۔ خکه چې څه رنګې ما وړاندې وونیل پته خزانه صرف یوه قلمی نسخه لری نورې نسخې یې تراوسه نه دی پیدا شوے بل د دې دپاره هم د دغې تذکرې د مولف په قول دیرش کاله تحقیق او د پښتونخوا په لتو ګرځیدې شوی دی۔ د دې برعکس د دې نورو کتابونو چې همیش صاحب یاد کړی دی په حق له څوک دا نه شی وئیلے چې په هغې دومره دیر وخت تحقیق شوے دے لکه شعر العجم به واخلو چې مولانا په هندوستان کښې ناست وه او د ایران د شاعرانو تذکره یې لیکله۔ هم دغه رنګ مخزن افغانی د خان جهان لودی په وینا د هیبت خان کاکړ په مرسته خواجه نعمت الله هروی لیکلے دے۔

د وړومبی خزانې د وړومبی شاعر بابا هوتک په ذکر قلندر مومند صاحب دا سې اعتراض کوی ---

"د دې په حالاتو کښې څلور خل د "نقل دے" الفاظ راغلی دی۔

www.pukhto.net

دري واره د دې نقل د مآخذ ذکر نه دے شوے نه دا ښيئلی شوی دی چې دا حالات محمد هوتک ته چا بيان کړی دی صرف يو ځل "ماته خپل پلار دا سې نقل وکا" ليکلی شوی دی خو دلته بيا "سهوا "دا ذکر نه دے شوے چې د "داؤد خان" مرحوم مآخذ څه يا څوک وه او نه د داؤد خان د "نقل" د حد او سرحد پته لګی چې چرته ختم شوے دے ۔ ځکه چې له دغه الفاظو نه پس دا واقعات بيان شوی دی --

۱۔ سور غر په دغه ورځ د مغلو په وينو دا سې لجند سو چې پلو شو دلمر به بريښانده کا ۔

۲۔ په دې شخړه کښې پښتانه لږ او بې ځواک وو۔

۳۔ چې د سرو مغلو پيښه راغله او اخيسته يې وکا نو يو ځو غښتلی د بابا هوتک خپلوان ومړل۔

٤۔ بابا هوتک په لوړ ژغ دا سندره "لولوله" او په غشيو يې د مغلو ټټر ونه ځيرل ۔

اوس پته نه لګی چې د داؤد خان روايت کوم دے دا د تاريخ ليکلو له رويه ډيره ګمراه کونکی غلطی ده ۔ 5

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم هميش خليل ليکی چې ---

"بيا د وړومبی خزانې د وړومبی شاعر بابا هوتک عليه الرحمة د حالاتو په ضمن کښې دا اعتراض شوے دے چې څلور ځله د "نقل

www.pukhto.net

دے" مآخذ محمد هوتک نهٔ ښائی (؟) حالانکې "نقل دے" صرف دري څله راغلے دے او دغه ضمن کښې په څلورم وار لیکی ---
"ماته خپل پلار داؤد خان داسې نقل وکا" - ولې بدقسمتی خو دا ده چې د کوم "نقل" مآخذ محمد هوتک خپل پلار بیان کړے دے ښاغلے همعصر وربانديې مطمئن نهٔ دے او بیا د ا اعتراض کوی چې د محمد هوتک د پلار داؤد خان مآخذ څهٔ یا څوک وهٔ؟ او که بالفرض هغهٔ دا هم ښودلے وے نو بیا په وړاندې مآخذ دنهٔ ښودلو د اصرار څهٔ ضمانت وو؟ او دغه شان د مآخذ در مآخذ د اصرار نهٔ ختمیدونکی سلسلې د بهیر مخه به چا نیوله؟ 6

په دے اقتباس کښې محترم همیش صاحب لوستونکیو له د ا تاثر ورکول غواړی چې گنی د هغهٔ همعصر غلط بیانی کړې ده - خبره دا ده چې قلندر صاحب دا وئیلی دی چې د بابا هوتک په ذکر کښې څلور واره نقل شوے دے او صرف یو څل د نقل مآخذ مولف خپل پلار ښیئلے دے - او باقی د دري واره شوی نقل مآخذ نهٔ دے ښیئلے شوے - کهٔ د بابا هوتک په ذکر کښې صرف د "نقل دے" الفاظو راوړو خبره وی نو بیا خو ټیک ده چې دري څله "نقل دے" الفاظ راوړلی شوی دی - څلور واره نهٔ دی راوړلی شوی - خو خبره دا نهٔ ده - لکه چې همیش صاحب ګڼلی ده - د قلندر صاحب د اعتراض مطلب دا دے چې په دغه ذکر کښې څلور نقلونه شوی دی صرف د یو مآخذ ذکر شوے دے او د دریو مآخذ نهٔ دے ښیئلے شوے - باقی پاتې شوه د همیش صاحب د ا خبره چې " د مآخذ در مآخذ د اصرار نهٔ

www.pukhto.net

ختمیدونکې سلسلې د بهیر مخه به چا نیوله ؟" (حواله اګاهو تیره شوې ده)
نو زهٔ به دومره عرض وکړم چې یو تن د ځلورو پینځو سوو کالو پخوانی
واقعات بیانوی نود هغهٔ نه به ضرور د مآخذ پوښتنه کولے شی ۔ لکه زمونږ
محدثینو چې څومره احادیث روایت کړی دی نو هر یو حدیث ې په ټیک
طریقه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولے دے ۔ او چې د کومو
احادیثو په روایتونو کښې یا په راویانو کښې داسې څهٔ خبره راغلے ده نو د
هغې دپاره زمونږ محدثینو هغې احادیثو له بیلې بیلې نامې ورکړی دی ۔

په دغه بحث کښې همیش صاحب وراندې لیکی چې ---

"بهر حال کهٔ مونږ د بابا هوتک په ضمن کښې "نقل دے" هم ځلور
واره فرض کړو بیا هم د یو نقل دے مآخذ خو هغهٔ خپل پلار
ښیټلے دے ۔ هر کله چې د "تواریخ افاغنه" نه داستفادې باوجود
پیر معظم شاه د "تواریخ حافظ رحمت خانی" په مقام دوم د دله
زاکو سره د یوسفزو د جنګ په واقعه کښې ځلور ځله ګویند
راغلے دے خو پیر معظم شاه ې د مآخذ ښودلو ضرورت نهٔ دے
محسوس کړے او د هغې وجه غالباً دا وی چې د "تاریخ افاغنه"
مولف هم دا ضرورت نهٔ وو محسوس کړے ۔" (7)

محترم همیش صاحب یو ځاې "تواریخ افاغنه" او بل ځاې تاریخ
افاغنه لیکلے دے ۔ نهٔ پوهیږم چې ولې ؟ څومره پورې چې د تواریخ افاغنه
یا تواریخ حافظ رحمت خانی خبره ده نو کهٔ هغوی دواړه هم لکه د محمد
هوتک د ځلورو پینځو سوو کالو زړه واقعه بیانوی نو بیا خو په هغوی هم

www.pukhto.net

دغه اعتراض کیدے شی - کہ په تاریخ افاغنه کښې د دله زاکو سره د یوسفزو د جنګ په واقعه کښې څلور خله ګویند راغلے دے نو دغه جنګ د مورخ په وړاندې شوے دے په هغې کښې د مآخذ ضرورت نه وه -

هم د دغه اعتراض په جواب کښې همیش صاحب وړاندې لیکی --

" د داؤد خان د نقل نه پس چې د اعتراض دپاره کوم څلور واقعات په ګوته کړے شوی دی هغو دپاره هم د دې ابهام پیدا کولو کوشش شوے دے چې ګنې دا د داؤد خان د روایت نتیجه نه ده - حالانکې دا هم غلطه خبره ده او دغه واقعات هم د داؤد خان د روایت په نتیجه کښې رابرسیره شوی دی - دا هم د پټې خزانې په حقله د لوستونکیو د ګمراه کولو یوه بله ناکامه هڅه ده - " 8

د دې په جواب کښې به زه دومره ووایم چې دا د قلندر صاحب د اعتراض د جواب یوه ناکامه هڅه ده - بناغلی همیش صاحب دا د داؤد خان د روایت نتیجه ګڼی - حالانکې د اسې نه ده هیڅ یو باشعوره لیکونکے به دا د داؤد خان د روایت نتیجه ونه ګڼی - ځکه چې هم په دغو حالاتو کښې محمد هوتک د خپل پلار د روایت نه اګاهو دوه خله "نقل دے" لیکلے دے نو که چرې دا څلور واقعې د داؤد خان د روایت نتیجه و ګڼلی شی نو بیا به هغه دوه واره نقل هم د داؤد خان د روایت برخه ګڼو - او چې هغه هم د داؤد خان د روایت برخه شی نو بیا د خلاصة الفصاحت په مصنف دا اعتراض واردیږی چې ده په اول سر کښې ولې د خپل پلار نوم نه دے راوړلے - بل لکه چې لوستونکیو وکتل د داؤد خان د نقل نه پس دا څلور واقعات بیان

www.pukhto.net

شوی دی--

۱- سور غر په دغه ورځ د مغولو په وینو د اسې لجند سو چې پلوشو دلمر به بریښانده کا۔

۲- په دے شخړه کښې پښتانهٔ لږ او بې ځواک وو۔

۳- چې د سرو مغولو پیښه راغله او اخیسته یې وکا نو یو ځو غښتلی د بابا هوتک خپلوان ومړل۔

٤- بابا هوتک په لوړ ژغ دا سندره لولوله (؟)

اوس دې لوستونکی وګوری چې دا ټول بیل بیل واقعات دی او کهٔ نه؟ کهٔ چرې محمد هوتک دا سې لیکلے وے چې---

"ماته خپل پلار داؤد خان دا سې نقل وکا چې په دغه جنګ کښې پښتانهٔ لږ او بې ځواک وو کله چې سرو مغلو حمله وکړه نو یو ځو غښتلی د بابا هوتک خپلوان ومړل خو بیا هم پښتنو دا سې جنګ وکړو چې سور غر په دغه ورځ د مغلو په وینو دا سې لجند سو چې پلوشو دلمر به بریښانده کا۔

نو بیا پرې دا اعتراض نهٔ واردیدهٔ۔ خو د فاضل تذکره نګار جملې دومره بې ربطه او وړاندې وروستو دی چې هر ذهین لوستونکے به تړې هم دغه مطلب اخلی۔

قلندر صاحب مخکښې دا اعتراض کوی چې---

"د بابا هوتک د پیدائش او د وفات د کلونو غوندې اهمو حقائقو دپاره د هیڅ سند ضرورت نهٔ دے محسوس شوے۔"

www.pukhto.net

دهغوی ددې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی ---

" که محمد هوتک د بابا هوتک د ولادت او مړینې د کلونو د بنودلو دپاره د کوم سند ضرورت په نه پیش کولو قابل گرفت گڼلے کیږی نو بیا نعمت الله هروی خو هم د سړبنی قبیلې د مشانخو په ذکر کښې د اکثرو اولیاؤ د ولادت او مړینې د کلونو په بیان کښې د کوم سند ضرورت نه دے محسوس کړے۔" (10)

په دې حقله به زه دومره عرض وکړم چې په مخزن افغانی کښې کوم اولیا. الله ذکر شوی دی نو د هغوی ذکر په نورو تذکرو کښې هم موجود دے ۔ د هغې برعکس د پټې خزانې ځنې مشاهیر د اسې دی چې هیچا ې ذکر نه دے کړے او نه ې څوک پیژنی ۔ او واحد دغه خزانه ده چې دغه خلق مونږ سره معرفی کوی ځکه نو د سند ضرورت ې محسوسیږی ۔ او که چرې مخزن افغانی کښې نعمت الله هروی دغه غلطی کړی وی نو هغې ته هم مونږ غلطی وایو ۔ او د بل غلطی پر گوته کولو سره د غلطی اصلاح نه کیږی ۔ صرف خان له ملگری کتل ورته وتیلے شو ۔

د پټې خزانې د وړومبی برخې دویم شاعر ملکیار دے د دهٔ په ذکر قلندر صاحب دا اعتراض کوی ---

" هم دغه حال د بابا هوتک د خوی شیخ ملکیار د تذکرې هم دے چې د دهٔ په حالاتو کښې هم پینځهٔ واره د "نقل دے" تکرار شوے دے خو د منقول عنه ذکر نه دے شوے ۔ دا سې ښکاری چې محمد هوتک ته الهاماً دا ښیئلے شوی دی چې ملکیار د پلار د مرګ په

www.pukhto.net

کال (۷۴۰ ھ) د پینځهٔ ویشتو کالو خلے وهٔ (او په دې بنیاد یې د پیدائش کال ۷۱۵ ھ شی) - د شیخ ملکیار په ضمن کښې یوه عجیبه خبره دا ده چې پټې خزانې د ترنک د سیلاب کال (۷۴۹ ھ) خو لیکلے دے خو د شیخ ملکیار د وفات کال ترې هیر شوے دے - حالانکې که د سیلاب د کال د پاره د سند ضرورت نهٔ وهٔ نو دا تکلف د شیخ ملکیار د وفات د کال د پاره هم ضروری نهٔ وهٔ -" (11)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې صاحب د تول پارسنګ لیکی چې ----

"د شیخ ملکیار په تذکره کښې د پینځهٔ واره "نقل دے" د منقول (؟) په نهٔ ښودلو خو اعتراض کولے شی ولې د "تواریخ حافظ رحمت خانی" په مقام سیوم کښې د مولف له خوا د بابر بادشاه د راتللو او یوسفزیو د تسخیر ولو په حالاتو کښې دیارلس خله د ګوینډ په تکرار او ګوینده په نهٔ ښودلو خاموشی، کښې د بهتری ګڼلو آخر څهٔ وجه ده؟ بیا هم د شیخ ملکیار په ضمن کښې یو بل ډیر عجیبه اعتراض دا هم شوے دے چې تذکره نګار د ترنک کال (؟) ۷۴۹ ھ خو لیکلے دے ولې د شیخ ملکیار د وفات کال یې نهٔ دے ښودلے - جواباً عرض دا دے چې افضل خان خټک خو هم په تاریخ مرصع کښې د خپلو اکثرو ترونو د پیدائش تاریخونه لیکلی دی خو د اکثرو ترونو د مرګ تاریخونه ترې هیر شوی دی -" (12)

www.pukhto.net

محترم همیش صاحب دلته بیا دنورو غلطیږ پیش کړی دی - په دې حقله به زهٔ دومره عرض وکړم چې که چرې د قلندر صاحب تنقید په تواریخ حافظ رحمت خانی وے او هغوی دغه غلطیږ نهٔ وے په ګوته کړے نو بیا مونږ ګرمولے شو - د هغوی تنقید په پته خزانه روان دے او چې کومې غلطیږ ورته په نظر راغلی دی په هغې ېې اعتراض کړے دے - پکار ده چې د پټې خزانې مدافعین د هغوی د اعتراضونو کوټلی جوابونه وکړی - دنورو د غلطیو په پیش کولو سره د هغوی د اعتراضونو جواب هیچرے هم نهٔ شی کیدے -

د دویم اعتراض چې محمد هوتک د ترنک د سیلاب کال خو لیکلے دے ولې د شیخ ملکیار د وفات کال ترې هیر شوے دے په جواب کښې محترم همیش صاحب د افضل خان خټک غلطیږ په نخښه کړی دی چې هغهٔ هم د اکثرو ترونو د پیدائش کلونه خو نقل کړی دی ولې د اکثرو ترونو د وفات نیټې ېې نهٔ دی لیکلی - د دې په جواب کښې به زهٔ دومره عرض وکړم چې کامل مرحوم کله تاریخ مرصع ایډیټ کولو نو هغوی د افضل خان خټک دغه ټولې کمزورۍ په ګوته کړی دی او تنقید ېې پرې کړے دے - په تاریخ مرصع کښې د افضل خان خټک د ترونو د پیدائش نیټې راوړلی شوی دی خو هغه هم د خوشحال بابا د بیاض نه اخستی شوی دی - باقی د ترونو د مرګ نیټې ېې ځنې نقل کړی دی لکه د طاهر او بهرام د مرګ کلونه په تاریخ مرصع کښې موجود دی او ځنې په کښې نشته - په کومو چې کامل مرحوم اعتراض کړے دے - که په تاریخ مرصع کښې ځنې کوتاهیږ د

www.pukhto.net

مورخ نه شوی دی نو په هغې کامل مرحوم تنقید کړے دے ۔ ولې د پټې خزانې مفسر ، شارح او مترجم د پټې خزانې د یوې غلطۍ په حقله څهٔ نوټ یا حاشیه نهٔ ده لیکلے ۔ او شاید ددې وجه هم داده چې دا غلطۍ د محمد هوتک نه نهٔ دی سرزد شوے ۔ ګنی د ملکیار په تذکره کښې چې څومره د هغهٔ د وفات کال لیکل ضروری وهٔ دومره د ترنک د سیلاب کال ضروری نهٔ وهٔ ۔ خو بیا هم پرې محشی خاموش پاتې شوے دے ۔

هم د ملکیار په ذکر قلندر صاحب وړاندې دااعتراض کوی ---

"د شیخ ملکیار د سندرې مآخذ هم پته خزانه کښې نشته ۔ د خربنبون او اسماعیل په ذکر کښې هم د کومې حوالې ضرورت نهٔ دے محسوس شوے حالانکې دانسابو په کتابونو کښې کم از کم د دوی نامې خو شته ۔ د خربنبون د وفات د کال او د هغهٔ د کلام دپاره د محمد هوتک علم غیب کافی مآخذ ګڼلے شوے دے ۔" (13)

ددې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ---

" کهٔ افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې د خدکی سلطان، قلندر سلطان، حیات سکندر او د دوئ نه پس د میرویس خان غلجی حالات بغیر له کوم سنده په راوړلو بناغلی معترض کهٔ د کوم اعتراض ضرورت لااوسه (؟) پورې نهٔ دے محسوس کړے نو په پته خزانه دا اعتراض آخر د کوم مصلحت له مخه کیږی ؟ پاتې شوه د ملکیار د وفات د کال خبره عجیبه خو داده چې محمد هوتک د کوم شاعر د زیږیدنې یا وفات تاریخ وښائی (؟) نو

www.pukhto.net

اعتراض د ا وشی چې مآخذ یې نه دے ښودلے - چې مآخذ یې وښودلے شی نو اعتراض وارد شی چې د مآخذ، مآخذ یې نه دے ښودلے، چې د وفات تاریخ یې په سند سره وښودلے شی نو اعتراض وشی چې د ولادت تاریخ یې نه دے ښودلے شوے - حالانکې د دې حقیقت باوجود چې افضل خان خټک د میرویس خان د دور مورخ دے بیا یې هم د میرویس خان حالات نامکمل لیکلی دی - دغه شان نه یې د هغه د زیږیدنې نیټه ښودلے ده او نه وفات۔" (14)

ما یو ځاې کښې د تاریخ مرصع نه یو اقتباس پیش کړے دے چې افضل خان خټک په خپله وائی چې د خان جهان لودی مخزن افغانی مې ترجمه کړو او د خپلې قبیلې او ځنې پښتنو اولیاؤ حال مې ورسره ملحق کړو - تاریخ مرصع د ټولو پښتنو تاریخ نه دے - د میرویس خان بابا نه علاوه د پښتنو ډیر لوی لوی مشران په تاریخ مرصع کښې نه دی ذکر شوی چې کامل مرحوم پرې په خپله مقدمه کښې بحث کړے دے - باقی د څومره پورې چې میرویس خان پوره حالات نه لیکلو یا د هغه د حالاتو د پاره د سند نه پیش کولو خبره ده نو په دې حقله به دومره عرض وکړم چې میرویس خان بابا د افضل خان خټک نه څلور یا پینځه سوه کاله مخکښې نه وه تیر شوے بلکې د هغه همعصر وه - د میرویس خان د حالاتو د پاره افضل خان په خپله پوره سند دے - او که څوک یې سند نه ګڼی نو دا د هغوی خوښه ده - د دې برعکس محمد هوتک د دولسمې صدۍ تذکره نګار دے او شیخ ملکیار

www.pukhto.net

اتمې صدی ږسره تعلق لری - ځکه نو د ځلور سوه کاله اګاهو واقعات به خامخا سند غواړی - او محمد هوتک دغه ټول حالات بې له سنده پیش کړی دی - ځکه نن دے اعتراض ته ځیلمه دے۔

هم په دغه بحث کښې قلندر صاحب یو اعتراض دا کړے دے چې د شیخ ملکیار بابا د سندرې مآخذ نه دے ښیئلے شوے - خو صاحب د ټول پارسنګ ته لکه چې بل ځایّ کښې دغه شان غلطی نه وی ښکاره شوے ځکه نو د دې اعتراض د جواب ناکام کوشش یّ هم نه دے کړے - صرف یوه بې وسی یّ په دې الفاظو ښکاره کړے ده لکه چې بره نقل شو چې د وفات تاریخ یّ وښیی نو بیا یّ د ولادت تاریخ غواړی چې د ولادت تاریخ یّ وښیی نو بیا یّ مآخذ غواړی وغیره وغیره - خبره دا ده چې محمد هوتک داووه سوه کاله وړاندې تیرو شویو خلقو حالات بیانوی ځکه نو د مآخذ پوښتنه ترې کولے شی۔

قلندر مومند صاحب هم په دغه بحث کښې یو ځایّ دا هم لیکلی دی چې ----

" د اووم شاعر شیخ اسعد سوری ذکر د "لرغونی پښتانه" او " تاریخ سوری" په غبر ګه حواله شوے دے۔ او اګر چې د وفات د کال ځلور سوه پینځویشت هجری ذکر خو شته خو خدایّ خبر چې دغو دواړو کتابونو کښې د اسعد سوری د پیدائش کال ولې نه دے ښیئلے شوے او نه یّ دا خبره څه اهمه ګڼلی ده چې د پیدائش د کال په ضمن کښې دواړه کتابه ولې خاموشه

www.pukhto.net

دی۔" (15)

دهغوی د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب فرمائی چې ---

"د شیخ اسعد سوری په حقله لیکی چې د دۀ ذکر د "لرغونی پښتانۀ" او "تاریخ سوری" په غبر گه حواله شوے دے۔ د فقرې نه داسې معلومیږی چې محمد هوتک د دواړو کتابونو د مطالعې په نتیجه کښې د شیخ اسعد سوری حالات رانقل کړی دی۔ حالانکې حقیقت د اسې نۀ دے او د ا کوشش محض د خپل اعتراض درنولو او لوستونکیو په مغالطه کښې د اچولو دپاره حسب عادت شوے دے۔ د پټې خزانې الفاظ په دغه ډول دی --

(شیخ کټه په کتاب کښې لرغونی پښتانۀ له تاریخ سوری هسې نقل کا۔ ص۔ ۳۷ ورومبے اشاعت)

یعنې محمد هوتک د اسعد سوری حالات د "لرغونی پښتانۀ" نه نقل کړی دی چې "لرغونی پښتانۀ" د "تاریخ سوری" نه اخستی وو۔ ضروری نۀ ده چې تذکره نگار دې "تاریخ سوری هم کتلی وی خکه نو د غبر گې حوالې د اخبره غلطه ده۔" (16)

دهغوی د دې خبرې په جواب کښې زۀ دومره عرض کول مناسب گنم چې کۀ د پټې خزانې دغه نقل شوے عبارت هر څوک هم وگوری نو هغه به ترې نه دغه نتیجه اخلی چې د اسعد سوری ذکر په غبر گو حوالو شوے دے۔ کۀ یو لیکونکے له یوۀ کتابه یوه خبره رانقل کوی نو د هغې مطلب دا وی چې هغه ورسره متفق دے او هغه ې معتبره گنی۔ نو کۀ د اسې څوک وکړی او

www.pukhto.net

هغې ته څوک غبرګې حوالې ووائی نو په غلطه به نۀ وی ۔ د محمد هوتک له دغې خبرې نه هیڅ کله د ا مطلب نۀ راووځی چې ګنی هغۀ د دوارو کتابونو مطالعه کړے وه ۔ بل هم په دغه نقل شوی اقتباس کښې همیش صاحب دا خبره هم کړې ده چې "دا کوشش محض د خپل اعتراض درنولو او لوستونکیو په مغالطه کښې د اچولو دپاره حسب عادت شوے دے" (حواله اګاهو تیره شوې ده) نو کۀ قلندر مومند صاحب د خپل اعتراض درنولو او د لوستونکیو په مغالطه کښې د اچولو دپاره داسې کولې نو هم په دغه بحث کښې چې کله دامیر کرور ذکر کوی نو لیکی چې---

"د ورومبی خزانی شپږم شاعر "جهان پهلوان" امیر کرور دے د دۀ ذکر د "شیخ کټه متی زی" د کتاب "لرغونی پښتانۀ" په سند اخستے شوے دے او شیخ کټه خپل معلومات له "تاریخ سوری" اخذ کړی دی۔" [17]

نو زۀ دلته د محترم همیش صاحب نه په دې پښتنه کولو مجبور یم چې اخر هغوی د امیر کرور په ذکر کښې ولې په قول د دوی حسب عادت داسې نۀ دی کړی ۔ د شیخ اسعد سوری د ذکر نه اګاهو هغوی دامیر کرور ذکر کړې دے لکه چې بره نقل شۀ ورپسې سمدستی د اسعد سوری ذکر دے نو د قلندر مومند صاحب غوندې د یو عالم سړی د علمیت هم دا تقاضا وه چې د بیان پیرایه یې بدله کړې وے، او هم دغسې هغوی کړی دی ۔ اوس دې لوستونکی انصاف وکړی چې په دوارو بناغلیو لیکونکیو کښې کوم یو تن لوستونکی په مغالطه کښې اچول غواړی ۔

www.pukhto.net

په هم دغه بحث کښې همیش صاحب وړاندی لیکی چې ---

"داسعد سوری د پیدائش د کال نه لیکلو یا د پیدائش په ضمن کښې
د دواړو کتابونو د خاموشۍ دا پوښتنه آخر د محمد هوتک نه
ولې کولې شی ؟" (18)

نه پوهیږم چې د همیش صاحب غوندې یو پوهه انسان ولې په دې خبره نه دے پوه شوے ۔ دغه دواړه کتابونه د محمد هوتک د مآخذ حیثیت لری او قلندر صاحب دا ښیئ غواړی چې د پټې خزانې د مولف مآخذونه هم نیمګړی معلومات لری او دې ترې نه هم هغه نیمګړی معلومات راخلی او په خپله خزانه کښې ئې خایوی ۔ او عجیبه خبره خو دا ده چې همیش صاحب د محمد هوتک دغه تذکره د شعر العجم سره په تله کښې اچول غواړی او په خپل کتاب کښې ئې څو څو خله کوشش هم کړې دے ۔ د شعر العجم موازنه د پټې خزانې سره څکه پکار نه ده چې د شعر العجم اکثر مآخذونه چاپ شوی دی او هر چا کتلی دی او د پټې خزانې مآخذونه سیوا له یو څو نه تر اوسه چا پیدا نه کړې شول چې په یوه مقاله کښې ئې ما ذکر کړې دے ۔ بیا هم مولانا شبلی نعمانی مرحوم د شعر العجم د وړومبی برخې په مآخذ کښې د تذکره دولت شاه سمرقندی په حقله دا سې لیکلی دی چې "مشهوره تذکره ده او اګر چې اکثرو خایونو کښې ئې غلطی دی بیا هم داچسپه او مفیده ده" دا هم هغه اقتباس دے کوم چې همیش صاحب د یو اعتراض په جواب کښې پیش کړې دے او اګاهو نقل شوے دے ۔ نو پکار وو چې محمد هوتک هم د خپلو دغو مآخذونو متعلق لکه د مولانا شبلی نعمانی مرحوم څه خبره کړې

www.pukhto.net

وے ۔ خو متاسفانه محمد هوتک داسې نه دی کړی او په پټو ستر گو ې د هغوی هر څه منلی دی ۔ خکه نو د قلندر مومند له خوا له هغه نه دا پوښتنه بې خایه نه ده ۔ امید لرم چې اوس به محترم همیش صاحب پوه شوے وی چې د دغې پوښتنې د محمد هوتک سره څه تعلق دے ۔

د قلندر صاحب بل اعتراض دادے چې ---

"د بنکارندوی ذکر هم د دغو دوارو تاریخونو په سند راوړے شوے دے او متاسفانه دوارو تاریخونو د سلطان شهاب الدین غوری د درباری شاعر د پیدائش او وفات کال نه دے بنیلے او نه ې پرې څه افسوس بنکاره کړے دے ۔ د بنکارندوی هغه قصیده چې په پینځه څلویښتو شعرونو مشتمله ده دا داخمیر ۔ ری :-

ا ۔ د قصیدې د روایاتو مطابق کریز نه لری ۔

ب ۔ د قصیدې د روایاتو مطابق د شاعر تخلص نه لری ۔

ج ۔ پته خزانه دا نه بنې چې د دغه شعرونو دا قصیده محمد هوتک له کومه بیاموندې وه ۔ 19

محترم همیش صاحب ددې په جواب کښې لیکی ---

"ولې بناغلی معترض ته دا نه ده معلومه چې د سلطان سنجر د درباری شاعر انوری د زیږیدنې او مړینې کال هم ډیرو تذکرو نه دے بنیلے ۔" 20

لوستونکیو ته دې معلومه وی چې بنکارندوی د سلطان شهاب الدین غوری درباری شاعر دے ۔ او په اوومه صدی کښې تیر شوے دے ۔

www.pukhto.net

او دا هم هغه قصیده ده چې په کښې اتک استعمال شوے دے۔ حالانکې اتک نوم د لسمې صدۍ نه شروع شوے دے چې کله اکبر باچا د نیلاب او لنډی سبند دیو خاې کیدو په خاې د اتک په نوم قلا جوړه کړه۔

د محترم همیش صاحب په جواب کښې به زه دومره عرض وکړم چې د انوری ذکر کهنو خلقو کړے دے ولې د ښکارندوی ذکر بغیر له پټې خزانې هیڅا نه دے کړے۔ انوری د فارسۍ یو عظیم شاعر دے دیوان لرې ولې د ښکارندوی سیوا له دغې یوې قصیدې نه نور کلام چرته دے؟ خکه نو د ښکارندوی مقابله د انوری سره کول څه معنیٰ لری۔ که صرف په دې چې ښکارندوی هم درباری شاعر وه او انوری هم۔ نو په دې ضمن کښې زمونږ نقاد دهغې تذکرو نامې نه دی اخستے چې د انوری د پیدائش او وفات کال ې نه دے ښنیلے۔ خکه نو بحث پرې نه شی کیدے۔ بیا هم زه د دائرة المعارف اسلامیه نه د هغو تذکرو ذکر کوم چې د انوری د وفات مختلف کلونه ې ښنیلی دی ---

۱۔ د احمد بن محمد بن یحییٰ فصیحی مجمل ې د وفات کال ۸۵۸ هجری ښنیلے دے۔

۲۔ د دولت شاه سمرقندی تذکرة الشعرا ې ۹۴۷ هجری د وفات کال لیکلے دے۔

۳۔ د امین احمد رازی په هفت اقلیم کښې ې د وفات کال ۸۸۰ هجری درج دے۔

۴۔ د تقی کاشی خلاصة الاشعار ې د مړینې نیټه ۸۸۷ هجری ښې۔

www.pukhto.net

د۔ د تقی اوحدی عرفات العاشقین کښې ې د وفات کال ۱۰۰۷ هجری راغلے دے۔

۶۔ د حاجی خلیفه تقویم التاریخ ې په ۱۰۴۷ هجری کښې وفات شوے کښې۔

۷۔ د محمد بختاور خان مراۃ العالم ې د وفات کال ۱۰۹۲ هجری ثبت کړے دے۔

۸۔ شیر خان لودی په خپله تذکره مراۃ الخیال کښې لیکلی دی چې په ۱۰۹۱ هجری کښې وفات شوے وو۔

۹۔ غلام علی آزاد په سرو آزاد کښې د انوری وفات په ۱۰۸۵ هجری کښې کښلے دے۔

۱۰۔ رضا قلی خان په مجمع الفصحا کښې د انوری د وفات کال ۱۰۹۰ هجری درج کړے دے۔ 21

لکه چې ما عرض وکړو د انوری ذکر هر چا کړے دے او په حیثیت د شاعر کافی شهرت لری۔ ولې بنکارندوی بغیر له پټې خزانې نه هیڅا ذکر کړے نه دے او څوک ې نه پیژنی۔ خکه نو زما د بناغلی همیش صاحب په خدمت کښې دومره عرض دے چې چرته په یوه تذکره کښې دی ماته د بنکارندوی په حقله څه په گوته کړی۔

قلندر صاحب د بنکارندوی په قصیده کښې خامیو ته هم گوته نیولې ده۔ همیش صاحب د هغې په جواب کښې د خوشحال بابا د قصیدو حوالې ورکړی دی او لیکی ---

www.pukhto.net

"د خوشحال خان خټک په قصائدو کښې د "ر" د پټې رورومبی دویمه او دریمه قصیده چې پر له پسې په ۳۶، ۱۵ او ۶۷ شعرونو مشتملې دی تخلص نه لری۔" (22)

په دې حقله به اول زه دا عرض وکړم چې تر اوسه داسې نسخه مونږ له په لاس نه ده راغلې چې هغه خوشحال بابا په خپل لاس لیکلے وی۔ او نه د خوشحال بابا چاپ شوے دیوان تر اوسه د ټولو نسخو سره مقابله شوے دے۔ د هغه په خنو قصیدو کښې تخلص په مینځ کښې هم راغلے دے نو زه ونیلے شم چې دا به د ناقل سهوه وی۔ پکار وه چې دغه شعر د قصیدې مقطع کښې شوې وے۔ او خنې قصیدې ې داسی هم شته لکه چې همیش صاحب په دلیل کښې پیش کړی دی چې تخلص نه لری۔ خکه نو مونږ ې قطعی ګڼلے شو قصیدې نه۔ بیا هم چې محترم نقاد کومې قصیدې یادې کړی دی په هغې کښې اکثرو کښې تخلص استعمال شوے دے۔ لکه د محکمه ثقافت صوبه سرحد له خوا د خوشحال بابا په چاپ شوی دیوان د "ر" د پټې رورومبی قصیده داده ---

چې مې ولیده د خپلو خویو کار

خویه واړه خیکر خون دی د خپل پلار

نور تر دا د پاسه شکر کړه خوشحاله

چې له تا نه خپل بابا نه وه ازار (23)

لکه چې په دې قصیده کښې د محترم نقاد "خوشحاله" په نظر نه وی راغلے۔ او که محترم نقاد "خوشحال" د خوشحال بابا تخلص نه ګڼی نو بیا دی د

www.pukhto.net

خوشحال بابا بل تخلص مونږ ته وښئ۔

د"ر" د پټئ یو نظم هم چې د خوشحال بابا په دیوان کښې په قصائدو کښې راوړلے شوے دے محترم نقاد قصیده ګڼلې ده چې مطلع یې داده ---

بنهٔ کهٔ وزیږی له دکې بنځی مار

نهٔ زوولے ځنې ځویه ناهموار (24)

زهٔ د خوشحال بابا دا نظم قصیده نهٔ ګڼم او نهٔ دا قصیده ده ځکه چې یو خو په کښې تخلص نشته او بله دا چې کریز هم په کښې نشته۔

د"ر" د پټئ دریم نظم چې منظوم طب دے په دیوان کښې په قصائدو کښې راغلے دے۔ او بناغلی همیش صاحب هم قصیده ګڼلې ده۔ حالانکې مرحوم کامل صاحب ورته منظوم طب وئیلے دے۔ (وګورئ خوشحال خان خټک اردو د کامل مرحوم) ځکه نو د فاضل نقاد سره اتفاق نهٔ شی کیدے۔

محترم نقاد هم په دغه بحث کښې وراندی لیکی ---

" د"ل" د پټئ دویمه او "م" د پټئ اوله، دویمه او پینځمه قصیده چې پرله پسې په ۹۳، ۷۶، ۴۰ او ۳۸ شعرونو مشتملې دی د شاعر تخلص نهٔ لری۔" (25)

راځی چې اوس وګورو چې د همیش صاحب دا خبره تر کومه حده درست ده۔ د"ل" د پټئ دویمه قصیده داده ---

www.pukhto.net

هغه خدای چې بندی کړے ې دے خوشحال

هم هغه به ې خلاصے کا په هر حال 26

یعنې په مطلع کښې خپل تخلص استعمال کړے دے۔ بیا هم د دغې قصیدې دیارلسم شعر دادے۔۔۔

که خوشحال خټک وار بیاموند په جهان کښې

خو دبه وو ینی د دې چار ې مال 27

په دریم حل خپل تخلص د دغې قصیدې په څلور شپیتم شعر کښې داسې استعمالوی۔۔۔

په خوشحال باندې خو وار دے دادے راغے

خدای دې درست جهان ساتی له دې جیپال 28

او داسې بنکاری چې دا غلطی هم د ناقل نه شوے وی۔ پکار وه چې په کوم شعر کښې تخلص استعمال شوے وه هغه ې مقطع کړے وے۔ بیا هم که په مینځ کښې دے او که په اخره کښې خو تخلص په کښې شته۔ نو له دې نه پس هم چې کران مشر دا وانی چې د خوشحال بابا په دې قصیده کښې تخلص نه دے استعمال شوے نو سړے حیران شی۔ نه پوهیږم چې زمونږ خلمی لیکونکی به د هغوی دې سرزوری ته په کومه سترګه کوری۔

د "م" د پټی اوله دویمه او پینځمه قصیده محترد نقد بې تخلصه کښلی دی۔ د "م" د پټی اوله قصیده داده۔۔۔

www.pukhto.net

څو وانخلی له غلیمه انتقام

مردنه خوب کا نه خوراک کا نه ارام (29)

دا د شپږو اویاو شعرونو قصیده ده او نیمګړی ده تخلص په کښې نشته ـ خو لکه چې ما اګاهو ووئیل چې مونږ سره داسې نسخه نشته چې د خوشحال بابا د لاس لیکلے وی او مونږ ئې مستنده وګڼو ـ او بله خبره دا ده چې خوشحال بابا هم دې ته قصیده ونیلے ده او که نه ؟ محمد هوتک چې د خلاصة الفصاحت مصنف دے د بنګارندوی بې تخلصه او بې ګریزه نظم ته قصیده وئیلے ده او بیا ئې عالم او فاضل محشی هم قصیده ګڼلې ده ـ

د "م" د پټی دویمه قصیده په نوموړی دیوان کښې دا ده ـ مطلع او مقطع ئې پیش کوم ـ

زمانې له ښو یارانو نه مهجور کړم

څه بلاې مبتلا په دیر ضرور کړم

واړه خلق د خوشحال په پټ ولاړ دی

بخته تا له کومه لوریه راحضور کړم (30)

خو دا قصیده څلیریشت شعرونه لری خکه نو د همیش صاحب پیش کړې قصیده دا نه شی کیدے ـ خکه چې هغوی لیکلی دی چې څلویښت شعره ده ـ دغسې د "م" د پټی دریمه قصیده هم اته څلویښت شعرونه لری او مقطع ئې دا ده ـ

د افغان په ننګ مې وترله توره

ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم (31)

Pukhto.Net
www.pukhto.net

هم د دغې پټې ځلورمه قصیده چې مطلع او مقطع یې بالترتیب دا دی --

چې قانع د زمانې په خشک او تر یم

که مې پیژنې بادشاه د بحر و بر یم

زیست روزګار به مې له خلقه سره نه شی

زه خوشحال له وارې خلقه مرور یم 32

خو دا قصیده هم تخلص لری - او یو ویشت شعره ده - له دې نه پس د "م" د ردیف دوه نور نظمونه دی چې تخلص لری د دوارو مطلعې او مقطعې پیش کوم ---

زه په خپلو ګناهونو توبه ګار یم

چې مې کړی دی په وارو شرمسار یم

چې هم ډک له ګناهونو هم مغرور روی

زه خوشحال هغه بنده د خپل غفار یم

د نور روز منت په باغ دے په صحرا هم

نورانی یې شی له فیضه هغه دا هم

که خوشحال دیار وصال په دنیا مومی

تمامی دنیا تر پې خار شه ما فیها هم 33

نه پوهیږم چې بناغلی نقاد دا له کومه لیکلی دی - خکه چې نه خو یې د مطلع لیکنو تکلیف کړے دے او نه د حوالې --

له دغې نه پس یې لیکلی دی ---

"د "ن" د پټې ځلورمه پینځه او شپږمه قصیده چې پر له پسې

www.pukhto.net

۱۵۵، ۲۷ او ۶۰ شعرونه لری، شاعر په کښې خپل تخلص نه دے استعمال کړے۔" (34)

راځئ چې دا هم وګورو، د "ن" د پټې څلورمه قصیده داسې شروع کیږی---

راشه واوره داداستان

نیک و بد په کښې بیان (35)

خو په دریم شعر کښې لکه چې فاضل نقاد تخلص نه وی لیدلے---

زهٔ خوشحال د شهباز خان یم

چې تورزن یم کان په کان (36)

د "ن" د پټې دپینځمې قصیدې مطلع داسې ده---

چې تحویل شی دمیزان

توغ څرګند کا زمستان (37)

او شپږ ویشتم شعر یې داسې دے--

په خوشحال دې قدر ډیر دے

یمانی ستوریه جان جان (38)

محترم همیش صاحب وړاندې لیکی---

" د "و" د پټې د ۵۲ شعرونو ایکی یوه قصیده د "ه" د پټې په ۴۷ شعرونو مشتمله وړومبې او د "ی" د پټې د ۲۸ او ۲۵ شعرونو څلورمه او یوولسمه قصیده هم بالکل د شاعر تخلص نه لری۔ دغسې د عبد القادر خان خټک د "ن" او "ی" د پټې په ۲۸ او ۲۶

www.pukhto.net

شعرونو مشتملې قصیدې هم د شاعر تخلص نه لري ـ" (39)

ګورو چې ګران مشر خومره د صداقت نه کار اخستے دے ـ د خوشحال بابا د "و" د پټې راکی یوه قصیده ده چې مطلع یې دا ده ـــ

د دهلی د بهر بنه شان و شوکت وو

لور په لور ې کښلے کښلے عمارت وو (40)

هم د دغې قصیدې اته پنځوسم شعر دا دے ـــ

زه خوشحال چې دا شمار کړم شاعر نه یم

په دا کار مې ازمائیلے طبیعت وو (41)

اوس زه نه پوهیږم چې دا شعر د بناغلی نقاد په نظر نه دے راغلے او که بله څه وجه ده ؟ د "ه" د پټې د اووه څلویښتو شعرونو منظومه بازنامه ده چې بناغلے نقاد یې قصیده ګڼی په هغې کښې تخلص نه دے استعمال شوے ـ او په دیوان کښې په دویم نمبر ده ـ نو بناغلی نقاد وړومبی نظم چې مناجات دے په قصیده کښې نه دے شمارلے او بازنامې ته یې وړومبی قصیده وئیلے ده نو مناجات یې ولې قصیده نه ده ګڼلے ځکه چې د "ه" په پټې کښې وړومبے دغه مناجات دے ـ د دیوان مرتبینو نظمونه هم په قصائدو کښې درج کړی دی ـ خو زمونږ فاضل نقاد دغه مناجات قصیده نه ګڼی ځکه یې د "ه" د پټې دویم نظم ته وړومبی قصیده وئیلے ده ـ او پکار هم نه ده چې مناجات قصیده وګڼی ـ خو لکه چې څنګه یې مناجات ته قصیده نه ده وئیلے کاش چې دغسې یې بازنامې ته هم قصیده نه وے وئیلے ـ دغه رنګ د "ی" د پټې څلورمه او یوولسمه قصیده هم بې تخصیصه ګڼی ـ

www.pukhto.net

گران مشر د قصیدې مطلعې نه دی پیش کړی چې په اسانه ې پته ولکی خو زما خیال دے چې د "ی" د پټې څلورمه قصیده هغوی دا قصیده یادوی--

تور ویښته ې نه دی په ورو کوڅو اودلی

وارہ بنامارانِ دی په چندن باندې ختلی (42)

او په کښې دا شعر هم شته ---

دا څه شعر نه دے چې خوشحال خټک بیان کړ

وارہ لعل و در دی د بیان په تار پیټلی (43)

خو په دې قصیده کښې دا شعر هم شته ---

دانا به پرې پوهیږی دنا پوهو کار پرې نشته

دا در چې د بیان په تار خوشحال خټک پټیلی (44)

او دې قصیدې ته خوشحال بابا پخپله هم قصیده وټیلے ده - وانی---

دوه بحره دوه مطلع لری کۀ دا قصیده گورې

زر یو اتیا کلونه په صفر کښې ما وټیلی (45)

دا ټوله قصیده دری پنځوس شعرونه دوه مطلعې او دوه بحره لری - زۀ نۀ پوهیږم چې د بناغلی نقاد یاده کړے د پنځویشتو شعرونو یوولسمه قصیده په کومه نسخه کښې ده خکه چې په دیوان او ارمغان کښې خو نشته -

د خوشحال بابا د قصیدو د حوالو ورکولو نه پس گران مشر د عبد القادر خان خټک خنې قصیدې یادې کړی دی-

د عبد القادر خان خټک په دیوان چې د حدیقه خټک (؟) په نوم سید

www.pukhto.net

انوار الحق مرحوم چاپ کړے دے په هغې کښې د قصاندو برخه یولس منظومات لري- په هغې کښې د "ن" د پټې اکی یوه قصیده ده چې مطلع یې دا ده --

حاکمان او امرایان د دې زمین

چې لیدل شی په دوران د محی الدین (46)

او مقطع نه لري او نه په کښې چرته تخلص استعمال شوے دے بیخی نیمګړې ده - او یواځې دا قصیده نه بلکې د هغه په نوموړی دیوان کښې اوولس غزلې داسې دی چې مقطعې نه لري او نیمګړی دی - خو د دیوان مرتب لکه چې دیرو نیمګړو غزلو باندې نوټونه نه دی لیکلی دغسې یې په دې قصیده هم نوټ نه دے لیکلے - دویمه قصیده همیش صاحب د "ی" د پټې یاده کړې ده چې مطلع یې دا ده ---

دا کارونه چې نن ګانده عیانی دی

هیڅ په خوا په خاطر نه وو اسمانی دی (47)

او د دې قصیدی مقطع داسې ده ---

نه له چا ې طمع شی نه له چا ویره

څو خبرې ربنتیا کړے کړلانی دی (48)

عبد القادر خان خټک په اکثرو ځایونو کښې صرف خټک تخلص هم استعمال کړے دے او څنې ځایونو کښې یې کړلانے تخلص پکار ولے دے-

محترم همیش صاحب له دې نه علاوه د قلندر صاحب د سباون

www.pukhto.net

خپره هم کړے ده چې په هغې کښې هم ډیر منظومات داسې دی چې تخلص
په کښې نشته نو د هغې په حقله عرض دے چې هغې ټولو ته قلندر صاحب نا
مکمل لیکلی دی۔

د محترم قلندر مومند صاحب د دې اعتراض په جواب کښې چې
محمد هوتک د بنکار ندوی د قصیدې په حقله معلومات نه دی ورکړی چې دا
چرته وه؟ محترم همیش صاحب لیکی---

"هفت اقلیم خو هم د میر سید محمد عتابی د قصیدې (چې
تخلص نه لری) د ماخذ ښودل ضروری نه دی ګڼلی۔" (49)

د دې په جواب کښې به زه دومره عرض وکړم چې غلطه یې کړې
ده۔ تذکره نګار له پکار دی چې د دې خبرو خیال وساتی۔ خو که فاضل نقاد
د پښې خزانې مقابله د هفت اقلیم سره کول غواړی نو د هفت اقلیم په حقله
خو دائرة المعارف اسلامیه جلد لسم کښې لیکلی دی چې--

"یہ تذکرہ سات اقلیموں کی جغرافیائی ترتیب کے مطابق لکھا گیا ہے۔ ہر
اقلیم میں پہلے ایک مختصر جغرافیائی و تاریخی تعارف ہے اور اس کے بعد
شعراء علماء اور مشہور شیوخ وغیرہ کے حالات تاریخی ترتیب کے ساتھ درج
کئے گئے ہیں۔" (50)

ترجمه:۔ دا تذکره داوو و اقلیمونو د جغرافیائی ترتیب مطابق لیکلې شوې
ده۔ په هر اقلیم کښې ورومبے یو مختصر جغرافیائی او تاریخی تعارف
دے او له هغې نه پس د شاعرانو عالمانو او مشهورو شیخانو وغیره حالات
په تاریخی ترتیب سره درج شوی دی۔

www.pukhto.net

نو د ترتیب په لړ کښې د پټې خزانې مولف د امین احمد رازی متابعت ولې نه کوی؟

حوالې

1. تول پارسنګ ص ـ ۱۵۷،۱۵۸
2. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۵
3. هم دغه کتاب ص ـ ۱۷۵،۱۷۶
4. تول پارسنګ ص ـ ۱۵۸
5. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۶،۱۷۷
6. تول پارسنګ ص ـ ۱۵۸،۱۵۹
7. هم دغه کتاب ص ـ ۱۵۹،۱۶۰
8. هم دغه کتاب ص ـ ۱۶۰
9. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۷
10. تول پارسنګ ص ـ ۱۶۰
11. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۷
12. تول پارسنګ ص ـ ۱۶۱
13. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۷،۱۷۸
14. تول پارسنګ ص ـ ۱۶۱،۱۶۲
15. پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۸،۱۷۹
16. تول پارسنګ ص ـ ۱۶۲،۱۶۳

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

17 پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۸

18 تول پارسنګ ص ـ ۱۶۳

19 پټه خزانه فی المیزان ص ـ ۱۷۹

20 تول پارسنګ ص ـ ۱۶۴

21 دائرة المعارف اسلامیه جلد دریم ص ـ ۴۹۲،۴۹۳

22 تول پارسنګ ص ـ ۱۶۵

23 د خوشحال خان خټک دیوان ص ـ ۵۵۶، ۵۵۸

24 هم دغه دیوان ص ـ ۵۵۸

25 تول پارسنګ ص ـ ۱۶۵

26 د خوشحال خان خټک دیوان ص ـ ۵۸۲

27 هم دغه دیوان ص ـ ۵۸۲

28 هم دغه دیوان ص ـ ۵۸۵

29 هم دغه دیوان ص ـ ۵۸۷

30 هم دغه دیوان ص ـ ۵۹۱،۵۹۲

31 هم دغه دیوان ص ـ ۵۹۵

32 هم دغه دیوان ص ـ ۵۹۵، ۵۹۶

33 هم دغه دیوان ص ـ ۵۹۷،۵۹۸،۵۹۹

34 تول پارسنګ ص ـ ۱۶۵

35 د خوشحال خان خټک دیوان ص ـ ۶۰۱

36 هم دغه دیوان ص ـ ۶۰۱

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

37 هم دغه دیوان ص - ٦٠٩

38 هم دغه دیوان ص - ٦١٠

39 تول پارسنگ ص - ١٦٥

40 د خوشحال خان خټک دیوان ص - ٦١١

41 هم دغه دیوان ٦١٢

42 هم دغه دیوان ص - ٦٥٠

43 هم دغه دیوان ص - ٦٥٢

44 هم دغه دیوان ص - ٦٥٤

45 هم دغه دیوان ص - ٦٥٥

46 حدیقه خټک ص - ٢٤٦

47 هم دغه کتاب ص - ٢٥٤

48 هم دغه کتاب ص - ٢٥٥

49 تول پارسنگ ص - ١٦٥

50 دائرة المعارف اسلامیه لسم جلد ص - ١٠٦

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ

د پټې خزانې د نهم شاعر ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی په ذکر قلندر صاحب داسې اعتراض کوی ---

"د هغه د عربیو فارسیو او پښتو د شاعرۍ په باره کښې هیڅ ماخذ نه دے ښیئلے شوے او نه ددې وضاحت شوے دے چې کوم شعر په پټه خزانه کښې راغلے دے هغه له کومه خایه اخستے شوے دے - دغسې د هغه د پښتو کتاب "د سالو وزمه" په باره کښې نه د ماخذ د ښیئلو ضرورت محسوس شوے دے او نه د تفصیل شته چې دا کتاب په نثر وو او که په نظم - او بیا هم زمونږ خنې وروڼه په دې دعوئ اصرار کوی چې پټه خزانه د تذکرې نګارۍ اعلیٰ ترین نمونه ده -" (1)

ددې په جواب کښې محترم همیش صاحب د نورو تذکرو د غلطیو پیش کولو نه پس لیکی چې ---

"پاتې شوه د سالو د وزمې د تفصیل خبره - دغه باره کښې تاریخ مرصع خو د خوشحال خان خټک د کتابونو تفصیلی وضاحت څه چې د موصوف د ټولو لیکلو کتابونو نومونه قدری هم ذکر کړی نه دی - نو که پټې خزانې د سالو د وزمې په ضمن کښې دا ونه لیکل چې دے په نظم کښې دے او یا په نثر کښې نو څه وشو؟" (2)

www.pukhto.net

www.pukhto.net

یقیناً چې هیڅ ونه شو - ځکه چې تذکرو کښې خو دا قسمه خبرې نه شی لیکلې - زمونږ فاضل نقاد د پټې خزانې دفاع دومره پریشانه کړے دے چې د تذکرې موازنه د تاریخ سره کوی - او وانی چې تاریخ مرصع کښې د خوشحال بابا د ټولو کتابونو نامې نشته - سبحان الله - گران لوستونکی دې انصاف وکړی چې په تاریخ کښې د شاعرانو د کتابونو نامې لیکلی شی او که نه ؟

په دغه بحث کښې قلندر مومند صاحب د پټې خزانې د لسم شاعر شیخ تیمن په ذکر کښې په یوه خبره داسې اعتراض کوی ---

"د دې شاعر د ذکر په باره کښې دا خبرې د غور لاندې راوستل پکار دی - (۱) د مولف پلار قدس الله سره بستان الاولیا. د کال ۹۵۶ هجری لیکلے نه په خپله حواله ورکوی - (۲) بستان الاولیا. دلته په ۹۵۶ هجری کښې لیکلے شوے دے خو د بستان الاولیا. د مولف شیخ المشائخ بستان بړیځ په ذکر کښې راغلی دی چې بستان بړیځ چې وطن ته راغلے په سنه ۹۹۸ هجری کښې ې د اولیا. الله په بیان کتاب بستان الاولیا. وکیښل (۳) د پټې خزانې فاضل ایډیټر بناغلے حبیبی مرحوم وانی -- این اختلاف سنین شاید ناشی از سهو نساخ و نویسندگان باشد (۴) (دکلونو دا اختلاف شاید د نسخه نویس او لیکونکیو له سهوې پیدا شوی وی) - د پټې خزانې داخری کاتب محمد عباس کاسی د جملې " باستعجال تمام قلمی شد" په عذر د رحمان بابا د وفات کال که " ۱۱۲۸ هجری" په خاې "۱۱۱۸ هجری"

www.pukhto.net

لیکل سهو کتابت نتیجه و ګڼلې شی چې وروستو به پرې بحث
کیږی نو په اعدادو کښې خو څه یو والے شته چې دهغې په غلط
بنیاد دعویٰ شوې ده خو د ۹۵۶ هجری او ۹۹۸ هجری تر مینځه د
هندسو یا عبارت کوم التباس کیدے شة چې دهغې په بنا مونږ د
مرحوم حبیبی د سهو کتابت عذر ومنو - د حبیبی مرحوم د
وفات نه پس دهغو په باره کښې خیال انګیزی څه ښه خبره نة ده
خو له بده مرغه دهغوی د احاشیه لوستونکے په دې خیال انګیزی
کولو خامخا مجبور روی۔" 3

ددې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ---

"اول خو دا اعتراض په دې وجه هم غلط دے چې د کلونو دا فرق
حبیبی صاحب هم په ګوته کړې دے او حاشیه ې ورباندې لیکلې
ده چې دا اختلاف شاید نسخه نویس او لیکونکو له سهوې شوی
وی۔ بیا په دوارو قسمه ښودلو شوو سنونو کښې حبیبی
صاحب ۹۹۸ هجری په مخزن افغانی کښې د شیخ بستان برېځ د
مرګ د کال (جمعه ۱۱ ربیع الثانی ۱۰۰۲ هجری) په حواله قابل یقین
ګڼلے دے حالانکې د ۱۱ ربیع الثانی په خاې تاریخ مرصع کښې
اووم تاریخ د ربیع الثانی لیکلے شوے دے۔ قلمی نسخو کښې د
دغه قسمه امکانی سهوو له حقیقته انکار او په هغو اعتراض نه
د اسې بربښی چې ښاغلے معترض د خپل اصلی مقصد په خاې
لګیا دے د بې خایه اعتراضونو بوسارې تړی۔" 4

www.pukhto.net

د قلندر صاحب له پورته اقتباس نه دې لوستونکی اندازه ولګوی
چې هغوی ونیل څه غواړی او جواب یې څه کیږی - د حبیبی د حاشیې
خو هغوی حواله هم ورکړې ده خودا یې ورسره لیکلی دی چې که یو کاتب
یا ناقل د ۱۱۲۸ هجری په خای ۱۱۱۸ ولیکی نو هغه سهو کیدے شی خو په ۹۵۶
او ۹۹۸ هجری لیکلو کښې دا سهو څنګه ممکنه ده - پکار ده چې د دې
خبرې جواب شوے وے - بل حبیبی مرحوم په خپله حاشیه کښې د مخزن
افغانی په حواله کال ۹۹۸ هجری ټیک ګڼلے دے او فیصله یې پرې ورکړې ده
خکه چې په مخزن افغانی کښې د شیخ بستان بریخ د مرګ کال لکه چې همیش
صاحب مونږ ته په ګوته کړے دے او حبیبی صاحب یې په خپله حاشیه کښې
ذکر کړے دے د جمعې ورځ یولسم ربیع الثانی کال یو زر دویمه هجری
قمری دے - نو د حبیبی صاحب غوندې عالم له پکار وه چې دا معلومات یې
کړے وے چې په یو زر دویمه هجری قمری کښې په یولسم ربیع الثانی د
جمعې ورځ وه او که نه - بیا ورپسې همیش صاحب هم په پښتو ستر ګو د
هغوی خبره منلې ده او د تاریخ مرصع تاریخ له یې څه اهمیت نه دې
ورکړے حالانکې د تقویم تاریخی په حساب د تاریخ مرصع تاریخ ټیک دے
او د مخزن افغانی لیکلې شوے تاریخ غلط دے - د تقویم تاریخی په حساب
په کال یو زر دویمه هجری قمری کښې ربیع الثانی د شنبې په ورځ شروع
شوې ده او په دغه حساب د جمعې ورځ په اووم تاریخ راځی کوم چې تاریخ
مرصع راخستے دے -

د پټې خزانې د یولسم شاعر شیخ بستان بریخ چې قلندر صاحب

www.pukhto.net

سهو آلسم شاعر یاد کړے دے په ذکر دا سې اعتراض شوے دے--

"د پټې خزانې د لسم شاعر کاشف اسرار عرفان شیخ بستان بړیځ قدس الله سره العزیز ذکر د مولف پلار علیه الرحمة له قدماو څخه د روایت په بنا کړے دے۔ او له بده مرغه په ټول کتاب کښې د دی قدماو هیڅ تفصیل نشته ۔ د قدماو په دې روایت کښې د شیخ بستان د ژوند پیدا ش او وفات په باره کښې هیڅ تفصیل نشته ۔ د شیخ بستان د کلام نمونې د پاره د بل هیڅ سند ذکر نه دے شوے او صرف په هغه کتاب تکیه شوے ده چې هغه د "بستان لاولیا" په نامه داولیا. الله په بیان لیکلے شوے وه۔" 5

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ----

"که څوک د ا ووائی چې فارسیږ کښې د شلګونو تذکرو د موجودګیږ باوجود بیا هم په یوه تذکره کښې د فارسیږ د ورومبی صاحب دیوان شاعر رودکی د زیږیدنې او مړینې تفصیلات ولې نشته نو څوک به یې څه جواب وکا؟ بیا د شاعر د کلام د نمونې د پاره په ایکی یو کتاب د تکیه کولو جواب دا دے چې تاریخ مرصع خو هم د شیخ بستان بړیځ د کراماتو او مړینې د تاریخ په ضمن کښې صرف هم د یو کتاب مخزن افغانی تکیه اخستے ده۔" 6

د محترم همیش صاحب په جواب کښې به زه دومره عرض وکړم

www.pukhto.net

چې که نورو تذکرو د شاعرانو د پیدائش او مرینې نیټې نه وې نقل کړې نو هغوی هم غلطه کړې ده او اعتراض پرې کیدے شی - باقی تر څو چې د رودکی خبره ده نو د هغه ذکر ګنو تذکرو کړے دے د هغه په شاعری ډهیچا شک نشته - د پټې خزانې په شاعرانو خکه اعتراض کولے شی چې د دې شاعرانو ذکر بل چرته په لاس نه راځی - او که یو څو تنه یې په نورو کتابونو کښې ذکر شوی دی نو هلته هغوی شاعران نه دی ګڼلی - لکه هم شیخ بستان بړیځ به واخلو چې له پټې خزانې نه اګاهو مخزن افغانی کښې ذکر شوے دے خو شاعر یې نه دے یاد کړے - حالانکې هم دغه تاریخ شیخ عیسیٰ مشوانی شاعر ښینلے دے او د هغه د شعرونو نمونه یې هم ورکړې ده - پاتې شوه دا خبره چې د شیخ بستان بړیځ د ذکر دپاره تاریخ مرصع هم په یو کتاب تکیه کړې ده نو خبره داسې نه ده - له دې خبرې نه دا څرګندیږی چې زمونږ فاضل نقاد ته دا پته نشته چې تاریخ مرصع د مخزن افغانی ترجمه ده او بیا ورسره د خټکو او پښتنو اولیاوو احوال لګولی شوی دی - تاریخ مرصع د مخزن افغانی ترجمه ده او چې یو ذکر په یو کتاب کښې وی نو په ترجمه کښې به یې خامخا وی - د پټې خزانې مدافعین د نورو تذکرو او تاریخونو غلطی په جواب کښې پیش کوی خو دې ته نه ګوری چې یو تن مخزن افغانی او تاریخ مرصع شاعر نه دے ګڼلے صرف پته خزانه یې ګڼی خکه نو د یو کتاب نه علاوه د نورو کتابونو تقاضا کول تر اې ضروری دی -

زه دا منم چې خنو تذکرو به د رودکی د پیدائش او مرینې نیټې نه وی لیکلی - خو رودکی داسې یو شاعر دے چې دنیا یې پیژنی - د ده

www.pukhto.net

المعارف اسلامیه د رودکی د وفات کال ۳۲۹ هجری لیکلے دے ۔ وگورئ لسم جلد صفحه ۳۸۱ دائرة المعارف اسلامیه چې د دانش گاه پنجاب له خوا چاپ شوې ده ۔ خکه نو د بناغلی همیش صاحب دا خبره صحیح نه ده چې د رودکی د پیدائش او مړینې نیټې چا هم نه دی لیکلی۔

له دغې نه پس قلندر صاحب د پټې خزانې د دولسم شاعر شیخ رضی لودی په ذکر داسې اعتراض کوی ---

"د پټې خزانې دولسم شاعر امیر الفصحا شیخ رضی لودی علیه الرحمة دے ۔ د ده په باره کښې معلومات له کلید کامرانی څخه اخستی شوی دی چې دغه کتاب د شیخ احمد ابن سعید اللودی په کتاب اعلام اللوزعی فی اخبار اللودی مبنی دے ۔ د دوارو کتابونو لیکلو کال په ترتیب ۱۰۳۸ هـ او ٦٨٦ هـ لیکلے شوے دے ۔ خو د شیخ رضی لودی او دهغه د تربور نصر لودی د پیدائش او وفات د کلونو په باره کښې دوارو کتابونو خپلو لوستونکیو ته څه معلومات نه دی ورکړی ۔" (7)

د هغوی د دې اعتراض جواب محترم همیش صاحب په دیو الفاظو کوی ---

"که د حوالې په کتابونو کښې د شیخ رضی لودی د ولادت او وفات تاریخونه نه دی لیکلی، نو دې کښې د محمد هوتک څه قصور دے؟ البته د شیخ رضی لودی د پاړکی د ماخذ د نه ښودلو په جواب کښې دا وئیل کیدے شی چې پټې خزانې که د شیخ

www.pukhto.net

رضی لودی د پارکی ماخذ نه دے ښودلے نو هفت اقلیم خو هم د

خپلو اکثرو شاعرانو د شعری نمونو ماخذونه نه دی ښودلی۔" 8

قلندر صاحب دا ښځیل غواړی چې د محمد هوتک ماخذونو هم لکه د هغه د تالیف کمزوری او غیر مستند دی ۔ ځکه خو هغوی دغه تذکره جعلی ګڼی ۔ سوچ پکار دے چې دیو لیکونکی حالات له دوو کتابونو نه اخذ کولے شی او په هغې دواړو کښې د لیکونکی د ولادت او وفات ذکر نه وی شوے ۔ دا د منلو خبره ده ؟ او بیا په داسې حال کښې چې دغه دواړه د حوالو کتابونه تراوسه پیدا شوی هم نه دی ۔ زه نه پوهیږم چې زمونږ فاضل نقاد خو کله کله د پټې خزانې موازنه د شعر العجم سره کوی خو چې په داسې صورت حال کښې ې ولې شعر العجم له خیاله وځی ۔ ګنی هغوی په خپل کتاب کښې د شعر العجم نه د مولانا شبلی مرحوم د تذکره دولت شاه سمرقندی متعلق دا خبره په صفحه ۱۵۸ راانقل کړې ده چې "مشهوره تذکره ده او اګر چې اکثرو ځایونو کښې ې غلطی ردی بیا هم دلچسپه او مفیده ده۔" ولې محمد هوتک د خپلو ماخذونو په حقله د هیڅ قسمه رایې نه ده ورکړې ځکه نو قصور وار ګڼلے شی ۔ د ذکر شوی دویم اعتراض په جواب کښې ې د هفت اقلیم حواله ورکړې ده ۔ نو د هغې په حقله زه دا وایم چې لکه چې یو بل ځای کښې مې پرې په تفصیل سره خبره کړې ده د پټې خزانې موازنه د هفت اقلیم سره پکار نه ده ۔ او که خامخا ې ځوک کول غواړی نو بیا دې د هفت اقلیم ترتیب ته هم وګوری او د پټې خزانې هم ۔ هفت اقلیم په خومره وخت کښې لیکلے شوے دے او پټه خزانه په خومره موده کښې

www.pukhto.net

مکمل شوې ده؟

د شیخ رضی په ذکر د قلندر صاحب له خوا بل اعتراض دا شوے دے چې --

" په نصر لودی دا الزام لګیدلے دے چې دے مرتد شوے دے او د پلار نیکۀ له دینه اوړیدلے دے ۔ د دې الزاماتو په جواب کښې د شیخ احمد لودی په حواله د نصر لودی "غبرګون" راغلے دے چې د رضی لودی دالزاماتو ېې تردید کړے دے۔ پکار دا وه چې د دې تردیده پس د نصر لودی دعقیدې په باره کښې اطمینان بنکاره شوے وے خو له بدقسمتی نه داسې نۀ ده شوې او د هغۀ په باره کښې دا الزامات لاقائم دی ۔" (9)

محترم همیش صاحب ېې جواب داسې کوی ---

" دغه اطمینان دپاره د شیخ احمد لودی په حواله د نصر لودی تردیدی جواب کافی دے ۔ او کۀ بالفرض د شیخ رضی لودی دغه تردید ېې کافی نۀ وے ګڼلے نو ضرور به ېې وئیلی وو چې په دغه تردید د هغۀ اطمینان ونۀ شو ۔" (10)

بناغلی همیش صاحب په نقل شوی اقتباس کښې د شیخ رضی تردید یاد کړے دے ۔ مرتد شوے نصر لودی وۀ او شیخ رضی ورته پاڼ کی و کښلو چې دا دې څۀ وکړل د پلار نیکۀ دین دې پریښودو ۔ نو نصر لودی ېې تردید په اشعارو کښې وکړو چې نه داسې نۀ ده ۔ یعنې تردید رضی لودی نۀ وۀ کړے لکه چې همیش صاحب لیکلی دی ۔ باقی له دې تردید نه پس د

www.pukhto.net

شیخ رضی مطمئن کیدل عجیبه خبره ده - څکه چې په چا د ارتداد الزام ولګی نو داوړه خبره نه ده - او نه په چا د ارتداد د الزام لګیدل څوک بې له پخو دلائلو منئ - څکه نو د قلندر صاحب دا اعتراض چې د شیخ رضی لودی له خوا د اطمینان اشعار نه دی راوړلی شوی په ځایٔ دے - دا د منلو خبره نه ده چې یو سوچه مسلمان لکه چې پته خزانه شیخ رضی ګنی د یو مرتد شوی صرف دومره خبره "چې نه داسې نه ده زه مرتد نه یم بلکې هغه شان مسلمان یم" دې قابل اطمینان و ګنی - بله غټه خبره دا ده چې هر چا ته خپل دین او مذهب ټیک ښکاری - او په مسلمانانو کښې چې څومره دلې جوړې شوی دی هغوی ټول څان مسلمانان ګنی - او که بالفرض شیخ رضی لودی د هغه دغه تردید کافی ګنلے وی نو بیا پکار وه چې د الزام لګونکیو په حقله ئې په خپلو اشعارو کښې څه وئیلے وے -

د پټې خزانې څوارلسم شاعر شیخ عیسیٰ مشوانے دے - د ده کوم شعرونه چې دغه تذکره کښې راغلی دی د هغې په حقله قلندر صاحب لیکلی دی چې ---

"هم دغسې د شیخ عیسیٰ مشوانی په نمونه د کلام کښې هم اختلاف دے او هغه داسې --

د پټې خزانې قرات

پخپله کار کړې پخپل انکار کړې

کله بادار یم کله مې خوار کړې

www.pukhto.net

ته خو قادر ې په صفتونو

کله مې نور کړې کله مې نار کړې

عیسیٰ حیران دے په دې شیونو

کله مې یار کړې کله اغیار کړې

د مخزن افغانی قرات

پخپله کار کړې پخپله انکار کړې

کله عزیز مې کله مې خوار کړې

ته قادر ې په صفتونو

کله مې نور کړې کله مې نار کړې

عیسیٰ حیران دے په دې صفتو

کله مې یار کړې کله اغیار کړې

ورومبۍ دویمه ، دریمه او څلورمه مصرعه کښې لاس وهنه د لسمې صدۍ د شاعرۍ د څوارلسمې صدۍ د شاعرانه معیار سره د سمولو کوشش دے ۔ دا شعرونه "پښتانۀ شعرا" لومړی ټوک کښې داسې راغلی دی --

پخپله کار کړې پخپل انکار کړې

جګ پر هوا یم کله مې خوار کړې

ته ښۀ قادر ې صفت دې دادے

کله مې نور کړې کله مې نار کړې

www.pukhto.net

عیسیٰ حیران دے په دې صفت کښې

کله مې یار کړې کله اغیار کړې

د تنقید او تاریخ د اصولو تقاضا دا ده چې حبیبی مرحوم کم از کم په تعلیقاتو کښې (که حاشیه کښې ورته څه مشکل پیښیدې) دا بنکاره کړے وے چې دا شعرونه د "پښتانه شعرا" لومړی ټوک د پاره دوی هم د مخزن افغانی د قلمی نسخې نه په مختلف انداز کښې نقل کړی وو۔ بهر کیف د مرحوم دوست محمد خان کامل مومند د مخزن افغانی له چاپی او قلمی نسخو څخه نقل شویو شعرونو او د حبیبی مرحوم د قلمی نسخې (یا نسخو) څخه نقل شویو شعرونو کښې دا فرق په خپله دا ثابتوی چې د "پښتانه شعرا" او "پټې خزانې" قراتونه د شیخ عیسیٰ مشوانی په شعرونو کښې د شعوری لاس وهنې ثبوت دے ۔ او د دیو شعرونو د وزن کومې غلطۍ چې حبیبی مرحوم په ۱۳۱۹ هجری شمسی کښې محسوسې کړې وے هم هغه غلطۍ محمد هوتک په ۱۰٤۲ هجری قمری کښې هم صحیح کړې وے ۔ او حبیبی مرحوم په دې حسن اتفاق د پټې خزانې په نوټونو کښې څه لیکل ضروری ونه ګڼل ۔" (11)

له دې اقتباس نه خبره واضحه ده ۔ خو بیا هم زه د لوستونکیو د اسانۍ د پاره لږ په تفصیل کښې تلل غواړم ۔ د شیخ عیسیٰ مشوانی د کلام نمونه له ټولو نه اول مخزن افغانی کښې راوړلې شوې وه ۔ د پټې خزانې د

www.pukhto.net

پیدا کیدو نه اګاهو محترم حبیبی مرحوم په "پښتانه شعرا" کښې په کال ۱۳۱۹ هجری شمسی کښې د عیسیٰ مشوانی دغه شعرونه تصحیح کړی پښتنو ته پیش کړل - خو چې کله پته خزانه دریافت شوه نو پته ولګیده چې محمد هوتک په خپله دغه تذکره کښې د عیسیٰ مشوانی هم هغه شعرونه راخستی دی کوم چې په مخزن افغانی کښې راغلی وو خو فرق په کښې صرف دومره وه چې په پته خزانه کښې هم لکه د پښتانه شعرا صحیح کړی شوی وو - خو لکه څنګه چې د پښتانه شعرا مولف د دغې ردوبدل په حقله څه وضاحت نه وه کړے دغه رنګ محمد هوتک هم دا خبره ضروری نه وه ګڼلې - پښتانه شعرا په څوارلسمه صدی کښې تالیف شوے کتاب دے که په هغې کښې مولف دلسمې صدی د شاعری د څوارلسمې صدی د شاعری سره د برابرولو کوشش کوې نو بده خبره نه ده، خو ذکر کول ې بیا هم ضروری دی - خو په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری قمری کښې د یو مولف هغه کیفیت نه شی کیدے کوم چې د څوارلسمې صدی د یو مولف کیدے شی - بل عجیبه خبره دا هم ده چې د شیخ عیسیٰ حالات د مخزن افغانی نه اخستی شوی دی نو پکار دی چې هو بهو هم هغسې راوړلی شوی وے - ولې داسې نه دی شوی -

د قلندر مومند د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی چې ---

"پاتې شوه د کلام په نمونه کښې د فرق او حبیبی صاحب له خواد پښتانه شعرا په لومړی ټوک کښې د دې فرق نه ښودلو خبره

www.pukhto.net

دغه ضمن کښې که د محمدی صاحبزاده د چاپ دیوان او کلید افغانی کښې د محمدی صاحبزاده د خنو غزلو د خنو شعرونو موازنه وکړې شی، نو د بناغلی معترض نه په خپله هم هغه گناه سرزد شوې ده د کومې دپاره چې مرحوم حبیبی صاحب ته کوته نیولې شوې ده۔" (12)

د محترم همیش صاحب دا خبره ټیک ده چې د محمدی صاحبزاده په چاپ شوی دیوان کښې او په کلید افغانی کښې د هغوی په راوړلو شویو شعرونو کښې سره فرق دے۔ خو قلندر صاحب پرې ولې څه نوټ نه دے لیکلے نو په دې حقله زما دا عرض دے چې د محمدی صاحبزاده چاپ شوی دیوان کښې د حاشیو او تعلیقاتو التزام له سره شوے نه دے نو دا سوال خو هدو پیدا کیږی نه۔ بل دا چې دغه چاپ شوے دیوان اصل قلمی دیوان دے او کلید افغانی کښې یو څو غزلې دی نو دا اصل دیوان د نقل او بیا د یو څو غزلو سره موازنه کول او په هغې نوټونه لیکل ضروری نه دی۔ نو که د کلید افغانی او د چاپ شوی دیوان په شعرونو کښې سره فرق وی نو دا غلطی د کلید افغانی د مولف ده د چاپ شوی دیوان د مولف هرگز نه شی کیدے۔ دا خبره به هله ټیک وه چې د محمدی صاحبزاده د چاپ شوی دیوان او د کلید افغانی ماخذ یو وے۔ بل دا چې د محمدی صاحبزاده د دیوان مقابله د پټې خزانې سره پکارنه ده خکه چې په پټه خزانه حبیبی مرحوم نوټونه او تعلیقات لیکلی دی او د محمدی صاحبزاده په دیوان نوټونه او حاشیې نه دی لیکلی شوی۔ په هغې د دیوان مرتب صرف مقدمه لیکلې ده او چې څه

www.pukhto.net

په کښې ضروری وو نو دهغې ذکر ې په کښې کړے دے۔

د پټې خزانې د اوولسم شاعر خوشحال خان بابا په ذکر قلندر صاحب داسې اعتراض کوی ۔۔

"اوولسم شاعر خوشحال بابا دے د دۀ ذکر "لومړی خزانه" کښې په دې نۀ وۀ پکار چې لومړی خزانه د هغو شاعرانو په بیان کښې ده چې "پخوا تیر سوی" دی اوخوشحال بابا په ۱۱۰۰ هجری کښې وفات شوے دے ځکه نو د دۀ په زمانه د "پخوا" د لفظ اطلاق نۀ کیږی ۔" 13

د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې۔۔

" هر کله چې پته خزانه په کال ۱۱٤۲ هجری کښې لیکلې شوې ده نو د دوه څلویښتو کلونو پخوا په شاعر د پخوا اطلاق آخر ولې نۀ کیږی؟" 14

د قلندر صاحب د دې مختصر مگر جامع اعتراض وضاحت ضروری گڼم ۔ د قلندر صاحب اعتراض دا دے چې محمد هوتک علیه الرحمة په ۱۰۸٤ هجری کښې پیدا شوے دے، او په ۱۱٤۱ هجری قمری کښې ې په دې خزانه گوتې پورې کړی دی او لیکی چې "ما له دیرشو کالو راهسې د دیرو شاعرانو د پښتنو احوالونه راټول کړی دی ۔"نو کۀ مونږ د ۱۱٤۱ هجری نه دیرش کاله وباسو نو ۱۱۱۱ هجری کال به ترې راووځی مطلب دا شو چې په یولس سوه یولسمه هجری کښې محمد هوتک د دې خزانې جوړولو اراده کړې وه دا هغه وخت وۀ چې د خوشحال بابا د مرګ صرف

www.pukhto.net

یولس کاله شوی وو په نورو لفظونو کښې مونږ د اسې وئیلی شو چې د خوشحال بابا د مرګ په وخت محمد هوتک د شپارسو کالو وۀ نو خوشحال بابا د هغۀ دپاره هیڅ کله هم پخوانے نۀ وۀ بلکې همعصر یې وۀ۔ دا قسمه غلطی د هغه تن نه کیدے شی ځوک چې ذهنی طور سړه ځوار لسمې صدۍ کښې ژوند کوی ۔ د مثال په طور حمزه بابا مرحوم به واخلو چې د عمر په لحاظ هغه زمونږ نه پنځوس شپیتۀ کاله مشر وۀ خو مونږ هغۀ ته پخوانے نۀ وایو بلکې خپل همعصر یې ګڼو ۔

له دې نه علاوه په دغه بحث کښې محترم قلندر مومند د خوشحال بابا په هغو شعرونو کوم چې پته خزانه کښې راغلی دی هم اعتراض کړے دے ۔ چې په جواب کښې یې همیش صاحب یو خل بیا حسب معمول د محمدی صاحبزاده دیوان پله تلے دے ۔ او دا یې وئیلی دی چې هلته هم معترض د اسې قسمه شعرونو باندې څۀ نوټونه نۀ دی لیکلی ۔ نو د هغې جواب ما اګاهو کړے دے تکرار ول یې مناسب نۀ ګڼم ۔ البته د خوشحال بابا د دې شعر چې په پته خزانه کښې راغلے دے۔۔۔

هغه ځای په سیر ګرځم

چې تری نۀ رسیږی طیر

په حقله قلندر صاحب لیکی چې ۔۔۔

" ټولو چاپی نسخو کښې د دویمې مصرعې وروستے تورے "غیر" دے د خوشحال خان خټک مرغلرې کښې یې د متن قرات "غیر" او حاشیه کښې بغیر له څۀ حوالی یا د نسخی له وضاحته

www.pukhto.net

"طیر" راغلے دے او هم دا "طیر" په پته خزانه کښې هم دے۔" 15

په دې خبره یا اعتراض محترم همیش صاحب خاموشی بهتر ګڼلې ده پته نشته چې ولې ؟ د خوشحال خان خټک مرغلرې د پټې خزانې د دریافت کیدو نه اګاهو چاپ شوے کتاب دے، او هلته مرحوم حبیبی صاحب په دغه شعر کښې "طیر" لګولے دے۔ بیا چې کله په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری کښې لیکلې شوې پته خزانه د پیسو په بدل یا په بله طریقه په لاس راغله نو معلومه شوه چې په هغې کښې هم په دغه شعر کښې "طیر" استعمال شوے وه ۔ نو د داسې صورت حال نه دا خبره ذهن ته راځی چې یا خو پته خزانه د خوشحال خان خټک د مرغلرې د چاپ کیدو نه اګاهو د مرحوم حبیبی صاحب په قبضه کښې وه یا یې لوستے وه او یا دا چې پته خزانه په یولس سوه دوه څلویښتمه هجری کښې لیکلې شوې نه ده بلکې د خوشحال خان خټک د مرغلرې د چاپ نه پس لیکلې شوې ده۔

د خوشحال بابا په بحث کښې همیش صاحب د محمدی صاحبزاده د دیوان نه علاوه د رحمان بابا د کلیات خبره هم کړې ده لیکی چې ---

" پاتې شو د خوشحال خان خټک د نهو شعرونو په یو غزل دا اعتراض چې پته خزانه کښې په ځای د نهو شعرونو د اتو شعرونو په نقل کولو مرحوم حبیبی صاحب نوټ ولې نه دے لیکلے ؟ ولې خپله که د "رحمان بابا کلیات" کښې (چې د محترم دوست محمد خان کامل مومند مرحوم سره د هغو د وفات نه پس د تحقیق ، ترتیب او سمون په زیار کښې خپل خان برابر ګڼی)

www.pukhto.net

درحمان بابا "حمد" چې ورومبے شعر ې د ادے۔۔

گوره هسې کردگار دے رب زما

چې صاحب دکل اختیار دے رب زما

د عبدالروف بینوا، پښتو ټولنې کابل او پښتو اکیډمی پیښور له خوا د رحمان بابا چاپ شوو نسخو نه د رحمان بابا کلیات دپاره د استفادې باوجود بیا هم د رحمان بابا کلیات په ذکر شوی حمد کښې د پینځلسو شعرونو په ځاې په ځوارلسو شعرونو نقل کولو او دغه ضمن کښې د ذکر شوو چاپی نسخو په دغه لسم شعر د څه قسمه نوټ لیکلو د ضرورت نه محسوسولو او خپل ځان له هر قسمه گرفت نه آزاد گڼلے دے شعر دادے۔۔

که پیدا کړه پوشیده دے که اوسط دے

په همه وو وقوف دار دے رب زما" 16

د همیش صاحب د دې خبرې "چې قلندر صاحب ځان کامل صاحب سره د رحمان بابا د کلیات په کار کښې برابر گڼی" په حقله زه صرف دومره وئیل مناسب گڼم چې کاش چې د ا خبره همیش صاحب په دلائلو سره ثابته کړې وے او د قلندر صاحب هغه دعوئ ې لوستونکیو ته په گوته کړې وے۔ که د همیش صاحب په دې خبره اصرار کوی چې د رحمان بابا په کلیات کښې قلندر مومند صاحب برخه نه ده اخستے نو دا خبره غلطه ده۔ په دې لړ کښې زه د پینځلس ورځنی مجلې "رهنا" اپریل ۱۹۷۶ عیسوی کال دادارې نه یو اقتباس پیش کوم۔۔۔

www.pukhto.net

"د رحمان د دیوان په نوی دول د مرتب کولو په سلسله کښې مونږ بناغلی صاحبزاده حبیب الرحمان قلندر مومند او بناغلی دوست محمد خان کامل مومند ته د زړه د بیخه مبارکی ورکوو چې په خپلو انفرادی کوششونو د ګڼو ناوزګار تیاګانو باوجود یې دغه لوی کار ته ملاګانې تړلی دی- زمونږ تر معلوماتو دې بناغلیو دا ګران کار تر سره کړے دے-" 17

له دې نه علاوه د رحمان بابا د کلیات په مختصره غوندې دیباچه کښې قلندر صاحب لیکی چې---

"د رحمان بابا د دیوان د دوباره ترتیب کار بناغلی صنوبر حسین مومند د خپل وفات نه څو کاله اګاهو شروع کړے وه هغه وخت دوی سره صرف یوه قلمی نسخه وه چې د "ا" نسخې په حیثیت یې په نوټونو کښې ذکر شوے دے - د مرحوم د سیاسی مصروفیاتو له کبله دا کار مکمل نه شو او دغه نیمګړې کار مرحوم دوست محمد خان کامل مومند دا،ب،ج،د او ه نسخو په مدد په ۱۹۷٤ عیسوی کښې مکمل کړو - دیوان یې د حروف تهجی په بنیاد مرتب کړو - په دغه کال دا مرتب شوې نسخه ما ته په دې غرض حواله شوه چې پریس ته د لیږلو نه مخکښې یې زه وګورم - ما دا ترتیب شوې نسخه یو ځل بیا دا،ب،ج،د او ه د نسخو سره مقابله کړه - په دې دوران کښې د و او ز نسخې هم راپیدا شوې او دا کار نور هم وړ ځنډ شو -" 18

www.pukhto.net

لکه چې لوستونکیو وکتل قلندر صاحب خبره په پوره تفصیل کړې ده چې دا کار کاکاجی شروع کړې وه او کامل مرحوم پوره کړو او بیا یې ماله د پریس ته دلیږلو نه اول د کتو دپاره راکړو - نو که دې ته څوک د کامل صاحب سره په کار کښې د برابرۍ دعوئ وائی نو دا دهغوی د" فراست" دلیل کیدے شی نور هیڅ هم نه شی کیدے - له دې نه پس چې یې د رحمان بابا د حمد کومه خبره کړې ده نو لیکی چې په هغې یې نوټ نه دے لیکلے - نو عجیبه خبره خو دا ده چې اول خو په دغو کلیاتو کښې حصه دار نه ګڼی او بیا پرې اعتراض هم کوی - بیا هم د دغو کلیاتو په څلور سوه اووه صفحه د ضمیمه د (۲) ورومبے نوټ هم د دغې شعر په حقله دے کوم چې همیش صاحب پیش کړے دے - د ضمیمی په سر کښې لیکی چې --

"هغه شعرونه چې د کابل ذکر شوی دیوان کښې شته خو زمونږ قلمی نسخو کښې درج نه دی -" 19

له دغې نه پس یې یو مکمل فهرست ورکړے دے چې ورومبے په کښې دغه شعر دے او ورته یې لیکلی دی چې "د نسخې حواله نشته" - له دې نه ګران لوستونکی یا خو دا نتیجه وکښلې شی چې محترم نقاد په ډیره زیرکتیا سره لوستل کوی او یا دا چې د خپل مطلب دپاره خنې خبرې د لوستونکیو له نظره پټې ساتل غواړی - او دا یو داسې حرکت دے چې د علمی خیانت په زمره کښې راځی -

www.pukhto.net

حوالي

1. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۷۹،۱۸۰
2. تول پارسنگ ص - ۱٦٦
3. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۰،۱۸۱
4. تول پارسنگ ص - ۱٦٦،۱٦۷
5. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۱
6. تول پارسنگ ص - ۱٦۷،۱٦۸
7. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۱
8. تول پارسنگ ص - ۱٦۸
9. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۲
10. تول پارسنگ ص - ۱٦۸
11. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۳،۱۸٤
12. تول پارسنگ ص - ۱٦۹
13. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۵
14. تول پارسنگ ص - ۱۷٦
15. پته خزانه فی المیزان ص - ۱۸۷
16. تول پارسنگ ص - ۱۷٦،۱۷۷
17. پینځلس ورځنی ربنا اپریل ۱۹۷٦ عیسوی اداریه
18. درحمان بابا کلیات مقدمه ص - الف
19. هم دغه کتاب ص - ٤۰۷

www.pukhto.net

هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ

محترم قلندر مومند صاحب د پټې خزانې د اتلسم شاعر زرغون خان جنت مکان په ذکر داسې اعتراض کوی ---

" د خوشحال بابا نه پس اتلسم شاعر "زرغون خان جنت مکان" دے چې پټه خزانه یې د دوست محمد کاکړ د "غرغښت نامه" په حواله ذکر کوی۔ دوست محمد کاکړ د زرغون خان د پیدائش کال نه بیانوی خو دا ضرور وائی چې زرغون خان په کال ۸۹۱ سنه هجری مبارک لاړو هرات ته او دا هم وائی چې په ۹۲۱ هجری په دیراوت کښې وفات شو۔ دغسې دا هم نه بنیې چې د هغه دیوان چې پوره درې سوه اوراق یې وو د هغه له وفاته نهه کاله مخکښې په ۹۱۲ کښې څنګه د ملا ایوب تیمنی لاسو ته ورسیدهٔ ۔ غرغښت نامه لکه چې محمد هوتک یې اقتباس پیش کوی په نثر نه بلکې په نظم کښې دے او د غرغښت بابا قدس الله سره الکریم حکایات دی او له رشتینو خلقو یې روایات راجمع کړی دی (۱۰) دا کتاب د محمد هوتک پلار په توبه کښې میندلے وهٔ او د پټې خزانې د مولف په قول زمونږ کهول کښې مو کوچنیو او زنیو په سبق لوست (۱۱) اوس نو د دیو تصریحاتو په رڼا کښې داسوالونه پیدا کیږی --

(۱) چې غرغښت نامه په نظم کښې وه نو له هغې نه اقتباس په نثر کښې ولې غوره وګڼلے شهٔ او ټول روایت کښې د دوست

www.pukhto.net

محمد کاکړ د یو شعر حواله هم ورنۀ کړے شوه۔

(۲) چې کتاب غرغښت نامه د غرغښت بابا په حکایاتو مشتمل وۀ نو د غرغښت بابا په حکایاتو کښې د زرغون خان د کلام د رانقل کولو کومه موقع وه۔

(۳) د غرغښت نامې اصل د دوست محمد کاکړ د پلار کتاب "تذکره غرغښت" وۀ۔ هر کله چې د دوست محمد کاکړ پلار بابړ خان وفات شۀ نو دوست محمد کاکړ په کور نۀ وۀ او له دې کبله هغه کتاب ورک او ضائع شوے وۀ۔ خو دوست محمد کاکړ د دغه کتاب خبرې اوریدلې او په وارو وارو وئیلې وے او هم ې څۀ له هغو په یاد وے څکه نو د دوست محمد کاکړ د قول "ما پر خدائ توکل و کا او هغه قصې او روایات مې بیا په شعر ووئیل" او له دې څخه په ۹۲۹ هجری کښې غرغښت نامه جوړه شوه۔

اوس چې دا تفصیلات په ذهن کښې ساتو نو څرګنده خبره ده چې کۀ زرغون خان په ۹۲۱ هجری کښې وفات شوے وی نو د هغۀ ذکر په غرغښت نامه کښې هسې هم نۀ شو راتلے څکه چې په ۹۲۹ هجری کښې د دوست محمد کاکړ پلار مړ وۀ او په ۹۱۲ هجری کښې دوست محمد کاکړ د زرغون خان دیوان په کجران کښې لیدلے وۀ بابړ خان نۀ وۀ لیدلے څکه نو دا ټول روایت مجروحیږی۔ یا به غرغښت نامه د دوست محمد کاکړ کتاب ګڼو او دا روایت به منو چې دوست محمد کاکړ د زرغون خان دیوان

www.pukhto.net

په ۹۱۲ هجری کښې په کجران کښې لیدلے او هغه اوږده ساقی نامه یې تري رانقل کړې ده چې د پټې خزانې د دوهم چاپ په ص ۸۴،۸۶ او ۸۸ درج ده او ۳۹ شعرونه لري ـ او یا به دا منو چې غرغښت نامه د تذکره غرغښت په بنیاد لیکلې وږده مثنوی ده او چونکې د تذکره غرغښت د لیکونکی په باره کښې دا دعویٰ نه ده شوې چې هغه د زرغون خان دیوان لیدلے وه او د هغه د کلام د ذکر هډو امکان نشته ـ دیو دوارو کښې که هره یوه ومنلې شی نو پټه خزانه پرې جعلی ثابتیږی۔" (1)

په دې وږدا اقتباس کښې قلندر صاحب یوه خبره دا کړې ده چې غرغښت نامه د زرغون خان له وفاته نهه کاله مخکښې په ۹۱۲ هجری کښې د ملا ایوب تیمنی لاسو ته څنګه ورسیده ـ د هغوی د دې اعتراض جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

" د دویم اعتراض دپاره هم د شعر العجم په ذکر شوې برخې او سلمان ساوجی په حالاتو کښې تذکره نګار د غلام علی آزاد په حواله د دیوان سلمان د یوې خطی نسخې ذکر کړے دے چې غلام علی آزاد په کال ۷۹۱ هجری کښې لیدلې وه ولې غلام علی آزاد دا انکشاف نه دے کړے چې هغه ته دا خطی نسخه څنګه په لاس ورغله او یا هغه دا نسخه کوم ځای لیدلې وه ـ قاضی عبد الحلیم اثر افغانی په خپل تالیف "تیر هیر شاعران" کښې چې د فیض الله قریشی نومې شاعر کومو دریو کتابونو یعنې قامة الجمعة و

www.pukhto.net

فرضية الجمعة او د حضرت صاحب مناقب په پښتو ژبه منظوم مناقب ذکر کړے دے ۔ دا وضاحت یې ضروری نه دے ګڼلے چې دغه کتابونه موصوف ته کله او له کومه ځایه په لاس ورغلۀ او یا یې کوم ځای ورنه استفاده کړې وه ۔" (2)

ما ځو ځله دا خبره کړې ده چې د نورو غلطیې په ګوته کول د اعتراض جواب نه شی کیدے ۔ خو زمونږ محترم نقاد په خپل ټول کتاب کښې هم دغه کار کړے دے ۔ او دلته خو یې د عبدالحلیم اثر صاحب د کتاب تیر هیر شاعران نه یوه حواله ورکړې ده چې اثر صاحب مرحوم د فیض الله د دریو کتابونو ذکر کړے دے خو دا وضاحت یې نه دے کړے چې دغه کتابونه موصوف ته کله او له کومه ځایه په لاس ورغلۀ او یا یې کوم ځای ورنه استفاده وکړه ۔ (حواله تیره شوې ده) حالانکې اثر صاحب مرحوم په خپل دغه کتاب کښې لیکی ۔۔

"فیض الله درې کتابونه تالیف کړی دی" (۱) (3)

او په حاشیه ورته لیکی ۔۔۔۔

"چې قلمی نسخې یې د صاحبزاده صاحب د ټوپۍ په قلمی کتب خانه کښې زما د نظره تیرې شوی دی ۔ (عبدالحلیم اثر) (4)

اوس دې ګران لوستونکی انصاف وکړی چې دا غلط بیانی ده او که نه؟ او د لوستونکیو د ګمراه کولو کوشش دے او که نه؟

خبره دا ده چې زرغون خان د پټې خزانې د روایت مطابق په ۹۲۱ هجری کښې وفات شوے دے نو که د ۹۲۱ هجری نه پس د هغۀ د درې سوه

www.pukhto.net

اوراقو دیوان چا له په لاس ورشی نو دا څه بده خبره نه ده لکه چې اثر افغانی صاحب او غلام علی آزاد له د فیض الله کتابونه او د سلمان دیوان په لاسو ورغلی دی - د زرغون خان دیوان د هغه د مرګ نه نهه کاله مخکښې د ملا ایوب تیمنی لاسو ته څنګه رسیدلے دے - باید چې د دې خبرې جواب شوے وے - او که داسې شوی وی نو بیا به دا ثابتول غواړی چې د زرغون خان دیوان د هغه په ژوند چاپ شوے وه یا یې ګڼی نسخې کتابت شوې وے او په پښتنو کښې خورې شوې وے -

د قلندر مومند صاحب له خوا بل اعتراض دا شوے دے چې غرغښت نامه د زرغون خان هرات ته د تلو کال ۸۹۱ هجری قمری ښښی ولې د پیدائش کال یې نه ښښی "(حواله اګاهو تیره شوې ده) د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب یو ځل بیا د نورو تذکرو حواله ورکړې ده چې هغوی هم داسې کړی دی - او ظاهره ده چې دا د اعتراض جواب نه شی کیدے -

د قلندر صاحب دریم اعتراض دا دے چې "هر کله غرغښت نامه په هم کښې وه نو د هغې نه اقتباس په نثر کښې ولې پیش کړے شوے دے تر دې پورې چې د دوست محمد کاکړ یو شعر هم دے پیش کړے شوے" (حواله اګاهو نقل شوې ده) د دې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی ---

" د دریم اعتراض په حقله عرض دا دے چې غرغښت نامه په نظم کښې وه او محمد هوتک د زرغون خان منظوم حالات د اختصار

www.pukhto.net

له مخه په نثر کښې وليکل او دغه ضمن کښې ئې د دوست محمد کاکړ د کوم شعر اقتباس راوړل مناسب ونه ګڼل نو د اسې به محمد هوتک ته غوره ښکاريده ـ البته دغه لږ کښې که معترض ته د محترم دوست محمد خان کامل مومند د خوشحال خان خټک نومې کتاب پينځم باب (قيد و بند) ور په ياد شوے وے نو له دغه اعتراض نه به هم تير شوے وے ـ ځکه چې مرحوم په خپله هم د خوشحال خان خټک د قيد و بند په ذکر شو و حالاتو کښې د هغه ترکيب بند ذوالقافيتين نه کټ مټ لکه د دوست محمد کاکړ د يو شعر د کومې حوالې ضرورت هم نه دے محسوس کړے حالانکې د مرحوم په قول ـ

"دې نظم کښې خان د خپلې ګرفتارۍ او قيد حالات په تفصيل او د دوی په ضمن کښې خپل نور واقعات هم ليکلی دی" ـ (کليات خوشحال خان خټک ص ـ ٩٣٤ حاشيه) 5

د مرحوم دوست محمد خان کامل د خوشحال خان خټک نومې کتاب د وريادیدو خبره هميش صاحب کړې ده نو هغه په اردو کښې ليکلے شوے کتاب دے او مرحوم کامل مومند صاحب په خپل دغه کتاب کښې د قيد و بند باب کښې د حبسيات د عنوان لاندې داسې ليکی ـ ـ

قید کے ایام میں خوشحال خان نے متعدد غزلیات اور قطعات وغیرہ لکھے جو قیدوبند اور غریب الوطنی کے مصائب و آلام اور حالات اور وطن عزیز اوراقارب و احباب کی یاد اور فراق میں پرسوز اور دردناک نالہ و فغان پر

www.pukhto.net

مشتمل اور شاعر کی مظلومیت و بے گناہی کے آئینہ دار ہیں۔ ان نظموں میں تاریخی اعتبار سے ترکیب بند ذوالقافیتین (۴) بہت زیادہ اہم ہے جو گیارہ بند او ۲۲۰ اشعار پر مشتمل ہے اور ۱۰۷۵ یا ۱۰۷۶ ہجری میں رنتھمبور میں لکھی گئی۔ اس میں اپنی گرفتاری اور قید کے متعلق بہت سے حالات خوشحال خان نے نہایت دلچسپ انداز میں بیان کئے ہیں اور ضمناً جنگ تخت نشینی کا بھی مختصر سا حال آ گیا ہے۔ یہ نظم نہ صرف ایک بیش قیمت تاریخی دستاویز ہے بلکہ خوشحال خان کی ان متعدد نظموں میں سے ہے جو اس کی قادر الکلامی کی بین دلیل ہیں۔ ان نظموں سے (بشمول ترکیب بند ذوالقافیتین) کے بہت سے حوالے صفحات گزشتہ میں دیئے جا چکے ہیں۔ 6

ترجمہ -- " د قید په دوران کښې خوشحال خان ګڼی غزلې، قصیدې او قطعې وغیره ولیکلې کومې چې د قید و بند او غریب الوطنۍ د مصیبتونو او تکلیفونو، حالاتو او د خوږ وطن او د خپلو خپلوانو د یاد او د هغوی د جدایۍ په پرسوزه او دردناکو چغو او فریادونو باندې مشتملې او د شاعر د مظلومیت نخښه پته ورکونکی دی - په دې نظمونو کښې په تاریخی اعتبار سره ترکیب بند ذوالقافیتین ډیر اهم دے کوم چې یولس بنده او دوه سوه او شلو شعرونو باندې مشتمل دے او په یو زر پینځه اویا هجری یا په یو زر شپږ اویا هجری کښې په رنتمبور کښې لیکلے شوے دے - په دے نظم کښې د خپلې ګرفتارۍ او قید متعلق ډیر حالات خوشحال خان په بې کچه ښکلی اند از کښې بیان کړی دی - او ضمناً په کښې د تخت نشینۍ د جنګ هم لږ څه حال راغلے دے - دا نظم نه صرف یو بې بها قیمتی

www.pukhto.net

تاریخی دستاویز دے بلکې د خوشحال خان په هغو څو نظمونو کښې دے کوم چې د هغۀ د قادر الکلامی ښکاره دلیلونه دی ۔ له دې نظمونو نه په شمول د ترکیب بند ذوالقافیتین دیرې حوالې په تیرو شویو صفحو کښې ورکړی شوی دی"۔

لوستونکیو به کتلی وی چې کامل مرحوم په خپل دغه اقتباس کښې د اخبره کړې ده چې "دیرې حوالې په تیرو شویو صفحو کښې ورکړې شوی دی ۔" او خصوصاً د هم دغه ترکیب بند ذوالقافیتین نظم خبره ېې کړې ده خو محترم همیش صاحب یا خو د هغوی په خبره پوه شوے نۀ دے او یا ېې خامخا د لوستونکیو گمراه کولو هڅه کړې ده ۔ او د پښتو ژبې د یو لوړ نقاد او محسن په حق کښې ېې د حقائقو نه مخ گرځولے دے۔

دلته خبره د پټې خزانې ده او هغه یوه تذکره ده او کوشش دا شوے دے چې شاعران او د هغوی کلامونه پیدا کړے شی نو چې هر کله غرغښت نامه په نظم وه نو پکار دی چې له هغې نه حالات څنگه چې په هغې کښې وو هم هغسې په نظم کښې پیش کړی شوې وے ۔ د همیش صاحب وینا ده چې محمد هوتک له اختصار نه کار اخستے دے او نظم ېې په نثر کښې پیش کړے دے ۔ خو داسې بیخی نۀ ده څکه چې د پټې خزانې له عبارت نه دا پته لگی چې محمد هوتک علیه الرحمة کم از کم اختصار پسند نۀ وۀ او قلندر صاحب یو خاې کښې د محمد هوتک چې د خلاصة الفصاحت مصنف هم وۀ په نثر داسې اعتراض کړے دے ---

www.pukhto.net

"د مثال په طور زهٔ لاندې یو څو نمونې پیش کوم چې په کښې بې خونده او بې خایه تکرار شوے دے۔۔

۱۔ چې انسان ې په ژبه او بیان لور کا ص ۔ ۲ ژبه او بیان

۲۔ تمیز ې ور کا په نطق او وینا سره ص ۔ ۲ نطق او وینا

۳۔ نسته بل خاوند او بل بادار دو ګړیو ص ۔ ۲ خاوند او بادار

٤۔ مونږ تې راوښوله سمه لار او روده ص ۔ ۲ لار او روده

د یو قسم د اغلطی صرف له یوه مخه راغونډې کړې شوی دی داسې غلطی په هر مخ خورې پرتې دی او د مولف د قادر الکلامی ګواهی ورکوی۔" (7)

د قلندر مومند صاحب له خوا بل اعتراض دا دے چې د زرغون خان دیوان په کال ۹۱۲ هجری کښې دوست محمد کاکړ په کجران کښې لیدلے وه د هغه پلار بابړ خان نه وه لیدلے نو چې هر کله غرغښت نامه د بابړ خان د تذکره غرغښت د تلف کیدو نه پس دوست محمد کاکړ له خپل یاد اشت نه لیکلې ده نو په دې کښې د زرغون خان احوال له کومه راغلل ۔ خکه چې اصل خو هغه د بابړ خان تذکره ده او د بابړ خان نه د زرغون خان د دیوان لیدل ثابت نه دی خکه نو دا روایت مجروحیږی ۔ د دې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکلی دی ۔۔

" عرض د ادے چې بناغلی معترض نه دا خبره هیره شوې ده چې غرغښت نامه د دوست محمد کاکړ پلار نه بلکې دوست محمد کاکړ په خپله د پلار د مرګه پس د تذکره غرغښت د تلف

www.pukhto.net

کیدلو وروستو هم د دغه کتاب د حکایتونو او روایتونو په بنیاد لیکلې وه - خو بیا هم که د اخون درویزه د مخزن د قلمی نسخې په موجودګۍ دغه ذکر شوې نسخه کښې د هغه خوی کریمداد د ملحقات او متفرقات او اخون درویزه نمسی عبد الحلیم د ملحقات اضافه کیدلے شی نو د بابر خان د تذکره غرغښت په غیر موجودګۍ کښې د بابر خان د خوی دوست محمد کاکړ په غرغښت نامه کښې به هم د دغه شان اضافو نه د انکار اخر څه جواز څوک پیش کړے شی ؟ بیا هر کله چې بناغلی معترض دا هم منلې ده چې د زرغون خان دیوان دوست محمد کاکړ په سجران (؟) کښې لیدلے وه - آیا دا اعتراف په غرغښت نامه کښې د اضافو په تصدیق د سلطانی ګواه حقیقت نه په ګوته کوی ؟" 8

پته نشته محترم همیش صاحب له کومه دا خبره کوی چې بناغلی معترض نه دا خبره هیره شوې ده چې غرغښت نامه د دوست محمد کاکړ پلار نه بلکې دوست محمد کاکړ په خپله لیکلې ده -" حالانکه هغوی معترض دا خبره په اګاهو نقل شوی اقتباس کښې کړې ده-

تذکره غرغښت د تلف کیدو نه پس هغه په یادو لیکل چې دری سوه اوراق یې لرل د معجزې نه کمه خبره نه ده - خیر بیا هم مونږ د هغه دغه معجزه منو - محترم همیش خلیل صاحب چې د اخون درویزه د مخزن خبره کړې ده نو هغه هر چا ته پته ده چې نورو لیکونکیو په

www.pukhto.net

کښې اضافې کړی دی ـ خو دوست محمد کاکړ دا خبره نه ده کړې چې په غرغښت نامه کښې څه اضافې ما هم کړی دی او د زرغون خان مثنوی او حالات نقل کول زما د پلار نه بلکې زما کارنامه ده ـ هغه خو صرف دومره وئیلی دی چې تذکره غرغښت ورک او ضائع شوه او بیا ما په یادو ولیکله نو چې دومره خبره کوی نو اخر په دې وئیلو کښې هغه ته څه امر مانع وه چې د خپلو کړو اضافو خبره ې کړې وے ـ او که دغه هم نه وے شوے او دا د تذکرې د مولف غلطی وے نو د دغه تذکرې محشی او مفسر به پرې خامخا نوټ لیکلے وه ـ

د زرغون خان په حالاتو د قلندر صاحب دویم اعتراض دا دے چې "کتاب غرغښت نامه د غرغښت بابا په حکایاتو مشتمل وه نو د غرغښت بابا په حکایاتو کښې د زرغون خان د کلام رانقل کولو کومه موقع ده ـ" (حواله اګاهو تیره شوې ده) د دې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی ---

"که د مرزا خان انصاری د دیوان، اشرف خان هجری د دیوان، سعید خټک د دیوان، خوږدل د دیوان او دستار نامې وغیره د قلمی نسخو په حاشیو پرله پسې د شیخ نامد ار، شرف، نوازخټک، غلام محی الدین، قلندر، نجیب الله قاضی زاده او فتح علی خان کلام نقل کیدے شی نو د غرغښت نامې په حکایتونو یا څنډو که د زرغون خان کلام نقل کړے شوے وی اخر دے کښې د اعتراض څه خبره ده ـ"

www.pukhto.net

زما په خیال دلته د همیش صاحب د یاد نه د ا خبره وتلې ده چې غرغښت نامه یوځل تلف شوې اوبیا په یادو لیکلې شوې ده۔ اول خو یو کتاب د تلف کیدو نه پس په یادو لیکل لکه چې ما پرې خبره کړې ده د معجزې نه کمه خبره نۀ ده ۔ خو اوس محترم همیش صاحب خبره هغه ځایې ته ورسوله چې هغې له به د معجزې نه هم وچت نوم کیښودل پکار وی ۔ ځکه چې په ځندو راورلی شوی کلامونه او حالات یې هم یاد وو او هغه یې هم په یادو لیکلی وو ۔ محترم همیش صاحب چې کوم دیوانونه په دلیل کښې پیش کړی دی کۀ په هغې کښې یو هم د تلف کیدو نه پس په یادو لیکلی شوی وی نو زۀ به د هغوی د اجواز وۀ منم۔

قلندر مومند صاحب وړاندې لیکی ---

"د پټې خزانې نولسم شاعر د "غرغښت نامې" لیکونکے دوست محمد کاکړ بیان شوے دے ۔ چې د زرغون خان په ضمن کښې پرې بحث وشۀ ۔ دې سلسله کښې بس دومره خبره اهمیت لری چې د زرغون خان ذکر خو د غرغښت نامې په بنیاد شوے دے خود دوست محمد کاکړ ذکر هم د هغۀ د خپل کتاب (چې اصل کښې یې د پلار کتاب وۀ) په بنیاد شوے دے او لکه د زرغون خان د ذکر د دۀ خپل ذکر هم په نثر کښې راغلے دے حالانکې غرغښت نامه د "شیرینو بیتونو مثنوی" وه او په اسانه تړې شعرونه نقل کیدے شو ځکه چې "غرغښت نامه" کتاب د پټې خزانې د مولف په خاندان کښې " کوچنیو او زنیو په سبق

www.pukhto.net

لوست" او کۀ له دغه کتابه د ۳۹ شعرونو ساقی نامه او د ۳۳ شعرونو حکایت رانقل کیدے شۀ نو د مصنف "زرغون خان" په حال کښې هم یو څو شعرونه تر ې رانقل کول څۀ دومره مشکل کار نۀ وۀ۔" 10

محترم قلندر صاحب د دوست محمد کاکړ په حقله وائی چې د دۀ ذکر هم په پته خزانه کښې د غرغښت نامې په بنیاد شوے دے او غرغښت نامه د دۀ د پلار کتاب وۀ چې د تلف کیدو نه پس دۀ بیا په یادو لیکلے وۀ۔ او د غرغښت بابا په حکایاتو مشتمل وۀ ۔ نو په دې کتاب کښې د دوست محمد کاکړ ذکر څنګه راغلو ۔ چې محمد هوتک یۍ تر ې پیش کوی ۔ ولې محترم همیش صاحب د دې په حقله څۀ خبره نۀ ده کړې ۔ او د دې اهم اعتراض جواب یۍ ضروری نۀ دی ګڼلے ۔ البته د شعرونو رانقل کولو په حقله یۍ وئیلی دی ----

"ګران لوستونکی دې جواب دپاره د اتلسم شاعر زرغون خان په حالاتو کښې د دریم اعتراض جواب ته توجه وکړی ۔" 11

زۀ هم لوستونکیو ته دومره عرض کول مناسب ګڼم چې هغوی دې د همیش صاحب د دې خبرې په جواب کښې زما هغې جواب ته رجوع وکړی کوم چې ما د زرغون خان د حالاتو په ذکر کښې ورکړے دے۔

د پټې خزانې د شلم شاعر په ذکر قلندر مومند صاحب دا اعتراض کوی ---

"پته خزانه کښې د رحمان بابا ذکر د محمد رسول هوتک علیه

www.pukhto.net

الرحمة د بیاض په سند راغلے دے ۔ د رحمان بابا په دې خزانه کښې د راوستلو په باره کښې هم هغه اعتراض واردیږی کوم چې د خوشحال بابا په ضمن کښې عرض شوے دے ۔ یعنې د ا چې رحمان بابا د محمد هوتک د زمانې شاعر وۀ او لومړی خزانه کښې د محمد هوتک د خپل بیان مطابق هغه شاعران راتلل پکار وو چې "پخوا تیر سوی دی ۔" (12)

لکه چې اګاهو ما خبره کړې ده محمد هوتک په کال یو زر څلور اتیایم هجری کښې پیدا شوے دے او رحمان بابا د محمد هوتک د خزانې مطابق په یو زر دوه څلویښتمه هجری کښې پیدا شوے دے یعنې رحمان بابا د محمد هوتک نه دوه څلویښت کاله مشر دے خکه نو د هغۀ ذکر په پخوانو شاعرانو کښې محمد هوتک له پکار نۀ وۀ ۔ د دې خبرې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

"د وړومبی اعتراض د جواب دپاره به یو څل بیا "تاریخ مرصع" ته رجوع وکړو چرته چې افضل خان خټک "تذکره د پښتنو اولیاؤ" کښې د وړومبی ولی الله قطب الدین بختیار کاکی قدس الله روحه د ولادت تاریخ ۵۷۵ هجری ښودلے دے ولې د پښتنو اولیاؤ د تذکرې دا باب د خوشحال خان خټک د حالاتو (۱۰۲۲) نه تر (۱۱۰۰ هجری) ذکر د میرویس غلجی (وفات ۱۱۲۷ هجری) او مقدمه د جمال او نور حالات (۱۱۲۳ هجری) وغیره له بابو نو نه هم ډیر وروستو لیکلے دے او ډیره عجیبه خبره خو دا ده چې د

www.pukhto.net

زمانې د ا فرق د پټې خزانې د وړومبۍ او دویمې خزانې د شاعرانو تر مینځه د فرق نه هم زیات دے۔" (13)

د تاریخ مرصع متعلق به زهٔ دومره عرض وکړم چې افضل خان خټک چرته هم د ا نهٔ دی لیکلی چې دلته د هغه خلقو احوال راغلی دی چې پخوا تیر شوی دی ۔ خکه نو د پټې خزانې د تاریخ مرصع سره موازنه نهٔ ده پکار او نهٔ هغه تذکره ده ۔ بیا هم زهٔ له تاریخ مرصع نه د افضل خان خپل بیان رانقلوم ۔ افضل خان خټک "باعث تالیف کتاب او تهذیب ابواب" د عنوان لاندې لیکی ---

" مدت متمادی وشهٔ چې په خاطر فاتر به رسیدل چې یو کتاب له فارسۍ ژبې په پښتو ژبه ترجمه کړم چې په پښتنو ېې لوستل اسان وی ، فکر مې وکړ چې هیڅ تواریخ د دې قوم په ژبه نشته هم د ا تواریخ مې د پښتنو د بادشاهانو له فارسۍ نه چې په وخت د جهانګیر بادشاه د خان جهان لودی په حکم چې د فرزند خان په خطاب سرفراز وهٔ خواجه نعمت الله هروی کړے وهٔ ترجمه کړ ۔ او هر چې پس له هغهٔ لغایت د خان جهان لودی لوئ لوئ امراګان د پښتنو تیر شوی دی او سرګزشت د کابل د صوبې او حقیقت د خپل قبائل او اولیاء الله چې پس له هغه ېې تیغ د ولایت په میدان د هدایت بلند کړے دے ورسره مې پیوند او ملحق کړ ۔" (14)

اوس دې نو لوستونکی انصاف وکړی چې زمونږ د ګران مشر

www.pukhto.net

همیش صاحب خبره تر کومه حده ټیک ده ـ بره نقل شوی اقتباس د افضل خان خټک خپل بیان دے چې ما دا کتاب له فارسۍ نه په پښتو ترجمه کړ او له هغه پس مې ورسره نور حالات پیوند او ملحق کړل ـ ددې وینا باوجود هم چې همیش صاحب مونږ ته د تاریخ مرصع حواله راکوی نو سړے حیران شی ـ هغوی په خپل دې کتاب کښې په ګڼو ځایونو کښې د تاریخ مرصع حوالې ورکړی دی خو دا خبره دې لوستونکیو ته معلومه وی چې په تاریخ مرصع کښې چرته هم څهٔ قابل اعتراض خبره راغلې ده نو محترم مشر او د پښتو ژبې لوی محسن کامل مرحوم په هغې نوټ لیکلے دے او تنقیدې پرې کړے دے ـ او د هغې اندازه له دې نه لګیدے شی چې دومره ضخامت د تاریخ مرصع هم نهٔ دے ځومره چې د کامل مرحوم د دغې نوټونو دے ـ

باقی ځومره پورې چې د رحمان بابا د ذکر په هغې خزانه کښې کومه چې د هغو شاعرانو په حالاتو مشتمله ده چې "پخوا تیر سوی" وو کولو خبره ده نو په دې حقله زهٔ دومره وئیل غواړم چې رحمان بابا د هم دغې خزانې د روایت مطابق په کال یو زر دوه ځلویښتمه هجرۍ کښې پیدا شوے وهٔ او په کال یولس سوه اتویشتم هجری کال چې د افغانستان د عالمانو نظر ثانی شوے کال دے وفات شوے وهٔ ـ نو د همیش صاحب د وینا مطابق چې محمد هوتک کله په کال یولس سوه یو ځلویښتم کښې د خزانه لیکله نو حالات هغهٔ دیرش کاله مخکښې راغونډ کړی وو یعنې په کال یولس سوه یولسمه هجرۍ کښې هغهٔ دغه احوال راغونډ کړی وو او بنکاره خبره ده

www.pukhto.net

چې هغه وخت رحمان بابا ژوندے وۀ ۔ ځکه نو د هغۀ ذکر په وړومبیړ خزانه کښې پکار نۀ وۀ ۔ بیا هم کۀ وړومبیړ خزانې سره دا خبره نۀ وے شوې" چې په ذکر کښې د هغو شاعرانو چې پخوا تیر سوی "نو بیا پرې صرف دومره اعتراض واردیدے شۀ چې د ترتیب خیال یې نۀ دے ساتلے ۔ خو ددې وینا باوجود درحمان بابا ذکر په هغو شاعرانو کښې کول صرف یوه نتیجه زیګوی چې دا خزانه په یو د اسې وخت کښې لیکلې شوې ده چې رحمان بابا خلقو پخوانے ګڼلو ۔

درحمان بابا په ذکر د قلندر صاحب بل اعتراض دادے ۔۔

" دلته صرف دومره قدرې عرض کوم چې درحمان بابا د کلام د نمونې په طور د راغلی غزل ماخذ نۀ دې ښیئلے شوے او اګر چې دا وئیلی شوی دی چې د رحمان بابا د دیوان نقلونه "اوس دیردی" خو بیا هم د تاریخی تحقیقی او تنقیدی روایاتو تقاضا دا وه چې محمد هوتک دا ښیئلے وے چې دۀ دا غزل له کومې نسخې رانقل کړے دے هغه چا او کله لیکلې وه ۔" (16)

د دې اعتراض په جواب کښې هم محترم همیش صاحب د نورو تذکرو حوالې ورکړی دی چې هغوی هم د اسې کړی دی ۔ نو کۀ چرې ګران لوستونکی داد هغوی داعتراض جواب ګڼی نو داد هغوی خوښه ده ۔

له دغې نه پس قلندر صاحب د پټې خزانې د یویشتم شاعر محمد صالح رحمة الله علیه په ذکر داسې اعتراض کوی ۔۔۔

"محمد هوتک لیکی چې (ملا الله یار د خپل شیخ په نامه و کښې

www.pukhto.net

کتاب چې تحفه صالح ې نوم وۀ په هغه کتاب کښې د خپل شیخ علیه الرحمة احوال او خبرې وکښلې) خوسره د دې هم دغه احوال اوخبرې څۀ چې مونږ ته دا علم هم نۀ دې راکړے شوے چې د ددۀ شیخ د کومې زمانې سړے وۀ او د ددۀ د زمانې د یقین (زما په خیال چې دلته به "تعین" ټیک وی) دپاره مونږ د شاه بیګ خان په احوالو د تحقیق کولو محتاج یو ۔ او چې د ددۀ د نوم سره د قندهار د صوبه دار د الفاظو په وجه دے شاه بیګ خان کابلی په ګڼلو مجبور یو اوس نو سوال دا پیدا کیږی کۀ دا صوبه دار په ربنتیا کابلے وۀ نو بیا ورته شیخ محمد صالح پښتو کښې ولې لیک استولو ۔" (16)

ددې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ۔۔

" کۀ تحفه صالح د محمد صالح زمانه نۀ ده ښودلې نو د امین احمد رازی (هفت اقلیم" خو هم د (تذکرة الاولیاء) او (عجائب البدن) د غبرګو حوالو باوجود د حسین بن منصور الحلاج زمانه نۀ ده ښودلې ۔" (17)

د هفت اقلیم د منصور حلاج ذکر ډیرو تذکرو کړے دے او هر څوک ې پیژنی ولې د ملا الله یار الکوزی شیخ څوک نۀ پیژنی او نۀ ې چرته ذکر راغلے دے ۔ دغسې امین احمد رازی هم دنیا پیژنی ولې ملا الله یار څوک نۀ پیژنی ۔ څکه نو د هغۀ سره ې موازنه پکار نۀ ده ۔ محمد هوتک دا خو لیکی چې ملا الله یار د خپل شیخ په نامه کتاب ولیکلو او د هغۀ احوال

www.pukhto.net

او خبرې ې په کښې و کښلې خو د زمانې تعین ې نه کوی - او نه ې د وفات کال ښیئلے دے -

د قلندر صاحب ددې خبرې چې شاه بیګ خان کابلے وه نو هغه ته خط ولې په پښتو کښې استولے شوے دے په جواب کښې همیش صاحب لیکی --

"پاتې شوه د شاه بیګ خان خبره چې بناغلے همعصر ې د محترم حبیبی صاحب د حاشیې له مخه په شاه بیګ کابلی ګڼلو مجبور دے - حاشیه داده --

(شاه بیګ خان صوبیدار قندهار غالباً همان کس کابلی است که در اوائل عصر جهانگیر بعد از ۱۰۱۴ هجری صوبه دار قندهار بود ص - ۹۹ - ۱۰۰ پته خزانه ورومبے اشاعت)

اقتباس کښې "غالباً" قابل د توجه دے ضروری نه ده چې دا هم هغه شاه بیګ کابلی وی چې مرحوم حبیبی صاحب ورته اشاره کړې ده - بیا هم که د یو ساعت دپاره د قندهار دا صوبه دار هم شاه بیګ کابلی و ګڼلے شی نو د کابلی په اضافه معترض ته دا غلط فهمی شوې ده چې ګنی هغه په پښتو نه پوهیدو - د ا مفروضه ځکه غلطه ده چې په کابل کښې هر وسیدونکے کابلے دے لکه د قندهار هر استوګن ته چې قندهارے وئیلې شی خو په کابل کښې د هر وسیدونکی متعلق د ا خیال چې هغه به په پښتو نه پوهیږی یا د کابل په ټوله آبادی کښې به یو هم پښتون نه وی

www.pukhto.net

بیخی غلط خیال دے۔" (۱۸)

محترم همیش صاحب وړومبی خبره دا کړې ده چې د حبیبی صاحب په حاشیه کښې د "غالباً" لفظ قابل توجه دے وی به نو؟ حالانکې په تعلیقاتو کښې حبیبی مرحوم لیکی --

"باین نام دو نفر در تاریخ وطن ما معروف اند--

اول همان شاه بیگ ولد امیر ذوالنون ارغون است که در سال ۹۰۰ هجری در قندهار حکمد اری داشت و بابر در ۹۱۳ هجری وی را گریختاند و بسوئ شال و مستنگ پناهنده گردید، ولی در همین سال پس شاه بیگ قندهار را بتصرف آورد تا که در سال ۹۲۸ هجری بابر وی را شکست کلی د اد و بسوی سند و بلوچستان رفت، و در انجا مدتی حکم داری کرد۔

دوم شاه بیگ خان کابلی است که در ۱۰۰۳ هجری از طرف جلال الدین اکبر قندهار را تسخیر کرد، و حکمران آنجا بود، و تا آخر حیات اکبر ۱۰۱۴ هجری هم در آنجا ماند، چون درین سال قشون صفوی آن شهر را محاصره کرد، جهانگیر قواد عسکری خود را فرستاده آنجا را پس استرد اد نمود، و عوض شاه بیگ، پخته بیگ کابلی المخاطب به سرد ارخان در قندهار به حکم رانی گماشته گردید ۔ چون در این کتاب با نام شاه بیگ صوبه د ار قندهار نوشته شده میتوان گفت که مقصد همین شاه بیگ خان کابلی موخر الذ کر خواهد بود، زیرا شاه بیگ ارغونی بحیث حکم دار و پادشاه در قندهار می بود، نه بصورت صوبه دار" (۱۹)

ترجمه -- (په دې نوم زمونږ د وطن په تاریخ کښې دوه تنه معروف دی ۔ وړومبے شاه بیگ ولد امیر ذوالنون ارغون دے چې د ۹۰۰ هجری نه پس

www.pukhto.net

ې په قندهار کښې حکمداری لرله او بابر په کال نهۀ سوه دیارلسمه هجری کښې وزغلولو او په شال او مستنګ کښې ې پناه واخسته خو په دغه کال ې بیا قندهار په خپل تصرف کښې واخستو تر دې چې په کال ۹۲۸ هجری کښې ورله بابر پوره ماتے ورکړه او سند بلوچستان طرف ته لاړو او هلته ې تر دیره وخته حکمداری وکړه۔

دویم شاه بیګ خان کابلے دے چې په ۱۰۰۳ هجری کښې ې د جلال الدین اکبر له طرفه قندهار فتحه کړو او د هغه خاې حکمران وۀ او داکبر تر اخری ژوندے هم هلته وۀ ۔ کله چې په دغه کال صفوی فوځ دغه ښار محاصره کړو نو جهانګیر خپل عسکری قوت ور واستولو او هغه خاې ې واپس تر لاسه کړو او د شاه بیګ په عوض کښې پخته بیګ کابلی چې خطاب ې د سردار خان لرلو په قندهار کښې حکمران جوړ کړو۔ چونکې په دې کتاب کښې شاه بیګ د قندهار صوبه دار لیکلے شوے دے نو وئیلے شو چې مقصد تر ې موخر الذکر شاه بیګ خان کابلے دے خکه چې شاه بیګ ارغونی د بادشاه او حکمدار په حیثیت په قندهار کښې وۀ نه چې د صوبه دار په حیثیت۔)

محترم همیش صاحب د خپل همعصر توجه د "غالباً" لفظ ته راګرځولې ده ولې د حبیبی صاحب خپله وینا کومه چې بره نقل شوه د هغوی د دغې خبرې تردید کوی۔ زۀ دا منم چې یو خاې په حاشیه حبیبی مرحوم د غالباً لفظ استعمال کړے دے خو په تعلیقاتو کښې چې حواله ې پیش شوه هلته د غالباً خبره نشته بلکې د تول افغانستان په تاریخ کښې دوه

www.pukhto.net

تنه په دغه نوم شته یو بادشاه او بل صوبه دار دے ۔ چونکې په پټه خزانه کښې صوبه دار یاد شوے دے ځکه نو مونږ دغه تن په شاه بیګ کابلی ګڼلو مجبور یو ۔ او کهٔ چرې بل شاه بیګ څوک پښتون وی نو هغه پکار وو چې همیش صاحب په نخښه کړے وے ۔ باقی همیش صاحب دا خبره کوی چې "په کابل کښې د هر وسیدونکی متعلق د ا خیال چې هغه به په پښتو نهٔ پوهیږی یا د کابل په ټوله ابادیٔ کښې به یو هم پښتون نهٔ وی بیخی غلط خیال دے" ۔ په دې حقله زما د ا عرض دے چې کابلے سړے په پښتو نهٔ پوهیږی ۔ په کابل کښې وسیدونکی ټول فارسی خوان دی ۔ او بیا په هغه زمانه کښې به خطونه لکه چې اوس هم اکثر پښتانهٔ په اردو کښې خطونه لیکی په فارسیٔ کښې خطونه لیکلی شو ۔ بل د بیګ نه خبره بنکاره ده چې دغه شاه بیګ پښتون نهٔ وهٔ بلکې ترک وهٔ او د مغلو صوبه دار وهٔ او مغل هم ترک دی ۔ زهٔ منم چې په پښتنو کښې هم د مغلو په تتبع کښې دغې لفظ رواج موندے دے او ډیرو پښتنو هم دغه نومونه ایښی دی ۔

له دغې نه علاوه قلندر صاحب د صالح په یو شعر خبره کړې ده چې بې وزنه دے او په جواب کښې یې همیش صاحب د نورو زړو دیوانونو حواله ورکړې ده چې په هغو کښې هم دغه قسمه غلطیٔ له کاتبانو نه شوی دی ۔ له دې خبرې نه څوک هم انکار نهٔ شی کولے خو د دیوان یاد یوې تذکرې مولف چې هر کله د حاشیو او تعلیقاتو بوج په خپل سر واخلی یعنې د دغو څیزونو التزام وکړی نو بیا هغهٔ له پکار دی چې دا قسمه څیزونه په ګوته کوی ۔ د پټې خزانې مولف هم دغه بې وزنه مصرعه

www.pukhto.net

نه ده نوټ کړے او بیا ئې عالم او فاضل محشی هم بې له تبصرې پریښې ده ـ څکه نو نن دغې اعتراض ته څیلمه دی ـ

د پټې خزانې د وړومبۍ خزانې د اخری شاعر علی سرور لودی په ذکر د قلندر صاحب اعتراض څه په دې ډول دے ـ

"د پټې خزانې دویشتم شاعر علی سرور قدس الله سره العلی دے چې محمد هوتک ئې د تحفه صالح او مخزن افغانی په حواله ذکر کړے دے ـ مخزن افغانی د علی سرور د حالاتو دپاره مستند کتاب کیدے شی څکه چې د علی سرور نه بغیر هم په کښې د نورو پښتنو ولیانو ذکر دے خو تحفه صالح د علی سرور لودی د حالاتو دپاره یو بالکل غیر متعلق کتاب دے څکه چې د محمد هوتک د خپل بیان مطابق دا کتاب ملا الله یار الکوزی د خپل شیخ محمد صالح په احوالو او خبرو لیکلے وو نو څکه دې کتاب کښې د محمد صالح د ذکر نه بغیر دبل چا د ذکر ګنجائش نه وۀ ـ بیا خاص طور سره دا کتاب د علی سرور د غزل د مآخذ په حیث هیڅ وقعت نه لری او کۀ لری نو محمد هوتک ئې وضاحت نه دے کړے ـ" (20)

اګاهو له دې نه چې د همیش صاحب له خوا شوے جواب لوستونکیو ته وړاندې کړم یوه خبره ضروری ګڼم او هغه دا چې قلندر صاحب په خپل بره نقل شوی اقتباس کښې د علی سرور لودی سره "قدس الله سره العلی" لیکلے دے حالانکې په پټه خزانه کښې "قدس الله سره الولی

www.pukhto.net

دے۔ محترم همیش صاحب ددې اعتراض په جواب کښې وائی ۔۔

"کۀ د خوشحال خان خټک په کلیات کښې د کوم نامعلوم شاعر د شعرونو ګنجائش وی نو په تحفه صالح کښې د علی سرور لودی په ذکر آخر د دې اعتراض څۀ جواز دے؟ چونکې علی سرور لودی پټې خزانې دیو شاعر په حیث پیش کړے دے خکه نو تحفه صالح کښې ئې د کلام دنمونې موجودګی هم امکان لري او د موجوګی دا امکان د شاعر د غزل مآخذ هم کیدے شی۔" (21)

لوستونکیو ته دې معلومه وی چې تحفه صالح نومې کتاب چې تر ننه د دنیا په یو ګوټ کښې هم پیدا نۀ شۀ د محمد هوتک زیر مطالعه وۀ او هم د هغۀ وینا ده چې ----

ملا الله یار د خپل شیخ په نامه وکیښل کتاب چې تحفه صالح ئې نوم وۀ په هغه کتاب کښې ئې د خپل شیخ علیه الرحمة احوال او خبرې وکښلې او د دۀ اشعار ئې په کې ضبط کړل۔" (22)

نو کۀ چرې په دې کتاب کښې د نورو شاعرانو احوال او شعرونه وے نو چې محمد هوتک د دغه کتاب په حقله دومره کوائف ورکول نو د هغې په حقله ئې ولې څۀ نۀ وئیل۔ او بیا بناغلی محشی او مترجم په دې خبره د نوټ ضرورت ولې نۀ دے محسوس کړے ۔ چونکې مخزن افغانی علی سرور لودی په حیثیت دیو شاعر نۀ دے پیش کړے خکه نو محمد هوتک یا بل چا ته د هغۀ د شاعرۍ د ثبوت دپاره دیو کتاب ضرورت محسوسیدۀ او هغه هم دغه تحفه صالح کیدے شو چې تر ننه نۀ دے پیدا شوے۔

www.pukhto.net

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۸۸، ۱۸۹، ۱۹۰
2. تول پارسنګ ص - ۱۸۳
3. تیر هیر شاعران ص - ۲۲٤
4. هم دغه کتاب ص - ۲۲٤ حاشیه
5. تول پارسنګ ص - ۱۸۳، ۱۸٤
6. خوشحال خان خټک اردو ص -
7. پټه خزانه فی المیزان ص - ۳۱۰
8. تول پارسنګ ص - ۱۸٤، ۱۸۵
9. هم دغه کتاب ص - ۱۸٤
10. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۰، ۱۹۱
11. تول پارسنګ ص - ۱۸٦
12. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۱
13. تول پارسنګ ص - ۱۸۷، ۱۸۸
14. تاریخ مرصع ص -
15. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۱، ۱۹۲
16. هم دغه کتاب ص - ۱۹۲
17. تول پارسنګ ص - ۱۸۸، ۱۸۹
18. هم دغه کتاب ص - ۱۸۹

Pukhto.Net

www.pukhto.net

19 پته خزانه تعلیقات ص ـ ۲۵۹

20 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۹۲ ۱۹۳

21 تول پارسنگ ص ـ ۱۹۰

22 پته خزانه ص ـ ۱۰۰

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

قُولُوا قَولًا سَدِيدًا

د پټې خزانې د دويمې برخې د ورومبی شاعر ملا باز توخی په ذکر قلندر صاحب داسې اعتراض کوی ---

"اگر چې دا شاعر د محمد هوتک همراز او اشنائ راز دے ولې بیا هم محمد هوتک د هغۀ د پیدائش د کال ذکر نۀ دے کړے حالانکې دۀ په دې باره کښې له خپل معاصر نه پوښتنه کولې شوه ۔" ❶

د دې خبرې په جواب کښې همیش صاحب لیکی چې ---

"افضل خان خټک د خپلو هغه ترونو چې د هغۀ د وړاندې وفات شوی دی باوجود "تاریخ مرصع" کښې د هغو ټولو د پیدائش د تاریخونو په راوړلو، بیا هم د هغو د مړینې تاریخونه نۀ دی لیکلی۔ حالانکې دا ټول د محمد هوتک د همراز او اشنائ راز نه افضل خان خټک ته زیات ور نزدې وو۔" ❷

دا خبره ما اګاهو هم څو ځله تکرار کړې ده چې د خپلې غلطۍ په جواب کښې د نورو غلطۍ په نخښه کول جواب نۀ دے۔ بیا هم کۀ مونږ تاریخ مرصع لږ په غور سره ولولو نو معلومه به شی چې نور ترونه خو پریږده افضل خان خټک د خپل هغه ترۀ د چا د لاسه چې خوشحال بابا په سور اور کښې ولاړ وۀ او د افضل خان هم دښمن وۀ د هغۀ د مرګ تاریخ هم وتیلے دے۔ افضل خان خټک په خپل دغه تاریخ کښې لیکی ---

www.pukhto.net

"هم په دا آوان بهرام بد فرجام چې په نوښار کښې وه په بندوبست د تړې دبولاق بنادی پورته روان وم په نظام پور دیره وم، دے مړ شه - تابوت ې نوښاریو راواخست چشمې ته ې راوړ۔ له خپله بده خصلته ې هیڅوک په جنازه حاضر نه شه تاریخ ې مولف دا رنګ وئیلے دے---

چون عاق والدین مظالم ز جهان برد

امروز زیر خاک به ناکام جان سپرد

تاریخ فوت او شده در فکر خود چو جستم

بهرام شادی حرام به بد حال وی بمرد ۵

اوس زه نه پوهیږم چې دا تاریخ وفات د همیش صاحب تر نظره شوے نه دے او که خامخاې تړې ډډه کړې ده۔

بل اعتراض قلندر مومند صاحب د دې تذکرې د څلیریشتم او پنځویشتم شاعر شاه حسین او ملا زعفران په ذکر کړے دے۔ دوی لیکی ---

"د دوارو د حالاتو دپاره د چا د روایت ضرورت نه دے محسوس شوے - د شاه حسین په باره کښې د ټولو ضروری کلونو ذکر شته خو د اهتمام د ملا زعفران په سلسله کښې نه دے شوے او که دا ملا زعفران هم هغه ملا زعفران ترکی وی چې د ګلدسته زعفرانی لیکونکے دے نو د مدار المهام او صدر الافاضل په حیثیت هیڅ کله غیر معروف سړے نه وه او څکه

www.pukhto.net

ې ضروری معلومات حاصلول هیڅ گران کار نه وه ۔" ❹

ددې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی ---

"د تذکرې د څلیریشتم او پینځویشتم شاعر شاه حسین او ملا زعفران دواړو د حالاتو په حقله د کوم روایت په نه راوړلو اعتراض شوے دے ۔ د دغو دواړو د همعصرو او بیا د شاه حسین د دربار د تذکره نگار په حیث او په تیره تیره د ملا زعفران ترکی متعلق چې د شاه حسین د خوی محمد استاذ او بادشاه کین لاس وه، محمد هوتک ته د روایت راوړلو آخر څه ضرورت وه او که د ا روایت بناغلے معترض ضروری ګڼی نو بیا افضل خان خټک خو هم د خپل همعصر میرویس خان غلځی د پاره د کوم روایت ضرورت نه دے محسوس کړے ۔ او ملا زعفران که غیر معروف سړے نه وه او معلومات تر لاسه کول ې ګران کار نه وه نو میرویس خان غلځے خو هم د ملا زعفران نه څه کم اهم نه وه ۔ خکه چې ملا زعفران د میرویس خان د خوی شاه حسین درباری وه ۔" ❺

قلندر مومند صاحب د شاه حسین او ملا زعفران په حقله دا خبره کړې ده چې د دوی د حالاتو د پاره د چا د روایت ضرورت نه دے محسوس شوے ۔ دا اعتراض نه دے خو نه پوهیږم چې همیش صاحب پرې ولې نه دې رسیدلے ۔ که چرې هغوی دا خبره په دې شکل کړے وے چې "د دواړو د حالاتو د پاره د چا د روایت ضرورت ولې نه دے محسوس

www.pukhto.net

شوے "نو بیا اعتراض کیدے شو - بل قلندر صاحب دلته دا خبره واضحه
کول غواړی چې د دیو دواړو شاعرانو حالات مولف په خپله بیان کړی
دی زما په خیال چې له دې وینانه د قلندر صاحب غرض دا وه چې هسې
نه څوک دا حالات د بل چا روایت وګڼی - البته په دغه پورته نقل شوی
اقتباس کښې اعتراض دا شوے دے چې د شاه حسین په باره کښې د تولو
ضروری کلونو ذکر شوے دے خو د ملا زعفران په باره کښې دغه التزام نه
دے شوے حالانکې ملا زعفران او شاه حسین دواړو د محمد هوتک د پاره
یو شان حیثیت لرلو او دواړو سره یې ناسته پاسته وه - بیا ملا زعفران
چې صدر الافاضل او مدار المهام او د بادشاه کین لاس هم وه د هغه حالات
پټ نه وه او که چرې وو هم نو محمد هوتک ترې پوښتنه کولې شوه -
اوس نو چې گران لوستونکی به له دې نه څه نتیجه اخذ کوی چې د پټې
خزانې مولف د شاه حسین په ذکر کښې څومره حالات لیکلی دی په هغو
کښې یې کلونه هم ښیلی دی ولې د هم دغه بادشاه د څوی د استاذ او د یو
لوی درباری عالم په حقله یې صرف دومره معلومات راکړی دی چې د
بادشاه کین لاس دے او یو کتاب "گلدسته زعفرانی" یې کښلے دے او بس -
آیا د دې مطلب دا خو نه دے چې دا تذکره په یو داسې وخت کښې لیکلې
شوې ده چې د افغانستان تاریخ جوړ شوے وو او له هغې نه د شاه حسین د
حالاتو ټول کلونه اخستی شوی وی ؟ او چونکې د افغانستان په تاریخ
کښې د ملا زعفران په حقله معلومات نه وو څکه نو د دې تذکرې مولف
بس هم په دغه خاورې ایرې حالاتو اکتفا کړې ده -

www.pukhto.net

د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب یو ځل بیا "تاریخ مرصع" له رسیدلے دے او وائی چې "افضل خان خټک هم د میرویس غلځی دپاره د کوم روایت ضرورت نه دے محسوس کړے۔" نو لکه چې خبره وشوه د قلندر صاحب له خوا له سره دغه اعتراض نه دے شوے صرف همیش صاحب ګڼلے دے، بیا هم په جواب کښې یې دومره وایم چې د تاریخ مرصع لیکونکے د میرویس خان بابا همعصر وه ۔ د هغه د حالاتو لیکلو دپاره دبل چا د روایت ضرورت نه وه ۔

له دغې نه پس قلندر صاحب د پټې خزانې د شپږویشتم شاعر په ذکر داسې اعتراض کوی ---

"د مجموعې شپږویشتم شاعر محمد یونس خان دے چې پټه خزانه کښې یې ذکر د رحمت هوتک په حواله شوے دے او بناغلی حبیبی مرحوم پرې په تعلیقاتو کښې هیڅ اضافه نه ده کړې حالانکې هغوی داسې کولے شو خکه چې د یونس دیوان په ۱۳۲۰ هش کښې هغوی ته رسیدلے وه ۔ او د پښتانه شعرا په ص ۔ ۲۰۲ هغوی دا اعتراف کړے دے چې د یونس د دیوان یوه نسخه خورا په ښه خط مطلا لیدلې شوې ده چې په پیښور کښې د فیض طلب خان توپچی باشی په امر په ۱۱۷۶ کال زین الدین نومې کاتب لیکلې وه (کذا) د ا هم هغه نسخه ده چې بناغلی عبدالله خدمتګار په ۱۳۵۶ هش کښې د یونس دیوان په نامه چاپ کړې ده البته د توپچی باشی داتوری په هغه نسخه کښې

www.pukhto.net

نشته بلکې ددیوان ترقیمه داسې ده --

(بحسب فرمائش مرشدکونین مربی دارین پیشوائے سالکان طریقت، رہ نمائی گمراہان شریعت خان صاحب بلند اقبال فیض طلب خان ساکن ہشتنگر طال عمرہ کتاب میمونہ المسمیٰ دیوان یونس از قلم شکستہ رقم فقیر زین الدین غفر اللہ لہ ولوالدیہ و احسن الیہما صورت تحریر یافت مطابق سنہ ۱۱۷۶)

بناغلے عبدالله خدمتگار لیکی---

(د ۱۳۲۰ هش په شاوخوا کښې د افغانستان د دولت د ارګ کتابخانې ته د یونس یو بشپړ دیوان رسیدلے دے چې دغه دیوان د هغهٔ له مخه چاپ شهٔ او وروستو به پرې وګړیږو ----- د ارګ د کتاب خانې د ذکر شوی قلمی دیوان له مخه پوهاند عبد الحیّ حبیبی د یونس پیژندنه لیکلې ده ------ چې په ۱۳۲۰ هش کال په پښتانهٔ شعراء لومړی ټوک کښې تر ٤٢ لمبر لاندې چاپ شوې ده -) له دې صفا ښکاری چې د یونس دیوان بناغلی حبیبی ته د پښتانهٔ شعراء لومړی ټوک د ترتیب په وخت میسر وهٔ او حبیبی مرحوم د څهٔ خاص مصلحت په وجه نهٔ هغه وخت د دې خبرې اعتراف کړے دے او نهٔ یې د پټې خزانې په تعلیقاتو کښې د هم دغه "خاص مصلحت" له کبله دا خبره څرګنده کړې ده چې دوی د یونس دیوان لیدلے دے - ګران لوستونکی دې اوس د دې خاص مصلحت په باره کښې په خپله اند ازه ولګوی چې د پټې خزانې سره یې څهٔ تعلق شته

www.pukhto.net

او کة نه؟ " 6

د قلندر مومند صاحب د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی --

" دا خبره قطعاً غلطه ده چې حبیبی صاحب په کال ۱۳۲۰ هش (د پښتانة شعراء لومړی ټوک د اشاعت کال) کښې د یونس د دیوان قلمی نسخه لیدلې وه - پښتانة شعراء کښې هغوی لیکی "چې د یونس دیوان یوه نسخه خورا په بنة خط مطلا لیدلې شوې ده چې په پیښور کښې د فیض طلب خان توپچی باشی په امر په ۱۱۷٦ کال زین الدین نومې کاتب لیکلې وه - " اقتباس کښې لیدلې شوې ده او توپچی باشی الفاظ د توجه وړ دی - د وړومبیو الفاظو معلومیږی چې د یونس د دیوان قلمی نسخه محترم حبیبی صاحب په خپله نة وه لیدلې او توپچی باشی له الفاظو څرګندیږی چې دا هغه نسخه نة ده کومه چې عبدالله خدمتګار په ۱۳۵٦ هش کښې د یونس دیوان په نامه چاپ کړې ده ځکه چې چاپ شوې نسخه د توپچی باشی الفاظ نة لری او دا توپیر د یونس د دیوان د دوه قلمی نسخو امکان په ګوته کوی -" 7

د قلندر صاحب دا خبره چې څومره همیش صاحب "قطعاً" غلطه کړې ده شاید چې دومره به محترم حبیبی مرحوم هم نة وه غلطه کړې - پته نشته چې همیش صاحب دا خبره څنګه په دومره وثوق سره کړې ده - چې حبیبی مرحوم د یونس د دیوان قلمی نسخه نة وه لیدلې -

www.pukhto.net

او لیکی چې "لیدلې شوې ده" او توپچی باشی "الفاظ د توجه وړ دی - نو که مونږ دا وګڼو چې حبیبی مرحوم دغه قلمی نسخه په خپله نه وه لیدلې بلکې بل چا لیدلې وه نو د هغې متعلق دا دومره معلومات او د هغې د لیکلو کال هم بل چا یاد ساتلے وۀ او حبیبی صاحب ته ئې ښیئلے وۀ ؟ دا بیخی ممکنه نۀ ده - د دیوان په حقله کۀ یو تن بل له معلومات ورکوی نو دا به ورته وائی چې ما فلانی ځائ کښې د فلانی دیوان لیدلے دے او بس - دا ممکنه نۀ ده چې هغه دې ورته د کاتب نوم، د هغې د تحریر کال او چې د چا په امر لیکلی شوی د هغۀ نوم هم ورو ښئ -

په پښتانۀ شعراء وړومبی جلد کښې حبیبی مرحوم دا هم لیکلی دی چې یونس د رحمان بابا شاګرد وۀ او د هغۀ په مرګ ئې مرثیې وئیلی دی په فقه او صرف او نحو پوهیدو عالم او فاضل وۀ - او د یونس په شاعری کښې ئې صنائع بدائع هم رایستلی دی - (وګورئ پښتانۀ شعراء وړومبے جلد صفحه ٢٠٤) او د یونس هغه شعر چې "دکه" لفظ په کښې راغلے دے په پښتانۀ شعراء وړومبی جلد کښې هم هغسې غلط راغلے دے څنګه چې په چاپ شوی دیوان کښې راوړلے شوے دے - (وګورئ صفحه ٢٠٤ پښتانۀ شعراء وړومبے جلد) بلکې د پښتانۀ شعراء وړومبی جلد په صفحه "لد" مرحوم حبیبی صاحب د محمدی صاحبزاده په حقله په "څرګندونه" کښې په دریم نمبر لیکی ----

"د محمدی په امضا ځنې حواشی د یونس پر [illegible] دیوان (د دې کتاب (٢٠٢) مخ ته رجوع وکی) لیدلی شوی دی څکه چې هغه

www.pukhto.net

دیوان په (۱۱۷٦ هـ) کښې لیکلی شوی دی نو دا ښکاره کیږی چې تر
دغه کال وروسته هم محمدی ژوندے وۀ۔" (8)

نو کۀ "دلیدل شوی وو" نه مونږ دا مطلب واخلو چې دا قلمی دیوان بل چا لیدلے وۀ نو دا دومره معلومات ترې حبیبی صاحب ته له کومه وشو۔ ځکه چې د لیدلی شوی دیوان نه دومره ځۀ اخذ کول چې د شاعر مقام او د هغۀ علمیت ترې ښکاره شی ممکنه نۀ ده۔

بل د فیض طلب خان دنوم سره توپچی باشی دلاحقې خبره ده چې همیش خلیل صاحب ېې قابل د توجه ګڼی۔ دافغانستان یو لوړ عالم رشاد خان صاحب د یونس د دیوان په ترقیمه کښې د فیض طلب خان دنوم سره د توپچی باشی لاحقه غلطه ګڼی او وائی چې فیض طلب خان توپچی باشی د یونس د دیوان د لیکلی کیدو د کال یعنې ۱۱۷٦ هجری قمری نه شپږ ویشت کاله پس پیدا شوے دے، لکه چې د هغوی له دې اقتباس نه څرګنده ده ----

"د اشنغر دسې لوی خان فیض طلب خان محمد زی (د تاریخ احمد شاهی مصنف د ری) د عبد الصمد خان (۱۱۷٤ هجری قمری شهید) زوی او د صدیق خان لمسے وۀ فیض طلب خان نوم چې په درانی احمد شاه (٤۱۹ مخ) کښې فیض تالاب خان چاپ سوے دے د سمون ور املائی تیروتنه ده، فیض طلب خان د پلار تر مرګ (۱۱۸٤ هـ-ق) وروسته د لوړ احمد شاه بابا (۱۱٦۰-۱۱۸٦) له خوا د اشنغر د خان په توګه ومانۀ سو، د تیمور شاه سدوزی د

www.pukhto.net

باچهی (۱۱۸٦-۱۲۰۷ هـ-ق) تر وروستیو کلو پورې د اشنغر خانۍ د دۀ وړ په پښتانۀ شعراء (۱-۲۰۲ مخ) کښې چې د یونس د شاعرۍ په بحث کښې له دغه فیض طلب خان سره فیض طلب خان توپچی باشی (هکذا) لیکل سوی سهی خبره نۀ ده، فیض طلب خان توپچی باشی (د پښتنې شاعرې د درانی عائشې خوانی مرګ زوی د یونس د دغه دیوان تر امتنساخ شپږ ویشت کاله وروسته په ۱۲۰۲ هـ-ق په کابل کښې زیږیدلے دے۔"

9

د عبد الشکور رشاد صاحب دغه مقاله " د نازو انا یاد" نومې کتاب کښې په کال دیارلس سوه اویا یمه هجری شمسی کښې چې په عیسوی حساب نولس سوه یو نوی جوړیږی چاپ شوی ده او د همیش صاحب "تول پارسنګ" په نولس سوه دوه نوی کښې چاپ شوے کتاب دے۔ او د ادمنلو خبره بیخی نۀ ده چې د پټې خزانې د یو مضبوط مدافع په حیثیت دې هغوی ته دغه کتاب میسر شوے نۀ وی ۔ اوس نو ګران لوستونکی چې د هغوی د احرکت په هر څۀ محمولوی د ادهغوی خوښه ده۔

محترم همیش صاحب د یونس د دیوان د مرتب عبد الله خدمتګار وینا هم رد کړې ده چې هغوی وئیلی دی چې هم له دې دیوان نه حبیبی صاحب په پښتانۀ شعراء وړومبی جلد کښې استفاده کړې ده ۔ یعنې مدعی سست او ګواه چست ۔ د یونس دیوان چاپ کیدو نه پس زما تر علمه محترم همیش صاحب د خدمتګار صاحب د دغې وینا په حقله څۀ نۀ دی وئیلی او نه حبیبی صاحب مرحوم د هغوی د دغې خبرې تردید کړے دے۔

www.pukhto.net

هم د دې شاعر په ذکر کښې قلندر مومند صاحب بل اعتراض دا کړے دے ---

"د یونس د دیوان نه چې د پټې خزانې په باره کښې کوم معلومات حاصلیږی د هغو تفصیل مخکښې بیان شوے دے او گران لوستونکی دې ې هلته ملاحظه کړی البته دومره خبره دې پرې زیاته ولولی چې د رحمان بابا او د یونس تر مینځه د استاذی او شاگردی د تعلق په باره کښې چې " رحمت هوتک" کوم انکشاف کړے دے هغه د دې انکشاف نه مخکښې حبیبی مرحوم ته معلوم وۀ او ځکه هغۀ دا لیکلی دی -(یونس د خپل استاذ رحمان بابا مرثیه وئیلې ده او د هغۀ د ابدی فراق په ارمان داسې غلبلې کړی دی)"- (10)

دې خبرې ته اگاهو هم څو ځله اشاره شوې ده چې پښتانۀ شعراء ورومبے جلد د پټې خزانې له دریافت نه اگاهو چاپ شوے کتاب دے او د حبیبی صاحب مرحوم تالیف دے - هغۀ په خپل دغه تالیف کښې یونس د رحمان بابا شاگرد نښیلے دے بیا چې هر کله پټه خزانه یا په پیسو یا بې پیسو یا د عبد العلی اخونزاده مرحوم نه او یا د یو ناخوانده پښتون له کالۀ نه برآمد شوه نو معلومه شوه چې په هغې کښې هم یونس د رحمان بابا شاگرد نښیلے شوے دے - اوس نو له دې نه دوه نتیجې وکښلی شو، یا خو به د امنو چې پټه خزانه د پښتانۀ شعراء د چاپ نه پس ته لیکلې شوې ده او د رحمت هوتک د یونس سره میلمستیا محض یوه افسانه ده او یا دا

www.pukhto.net

چې د پښتانه شعرا. د تالیف کولو نه اګاهو پته خزانه دریافت شوې وه او د حبیبی مرحوم سره پرته وه۔

د یونس په ذکر د قلندر صاحب له خواشوے بل اعتراض دا دے چې ---

"بناغلی حبیبی مرحوم د یونس شعر--

پیاده ګان کوتوال راهدار لیونی سپی دی

پر ډکه دې خدای څوک نه کا برابر څوک

کښې د "ډکه" د غلطې معنې په بنیاد دا خیال ظاهر کړے دے چې په دې شعر کښې د ډکې د استعمال نه (بنکاریږی چې د خیبر د شاوخوا کښې وسیدې) او بیا ې د رحمت هوتک په روایت پته خزانه کښې د دې خیال توثیق کړے دے۔ حالانکې لکه چې د یونس د دیوان د شهادت په ضمن کښې عرض وشه دا ډکه هم هغه ډکه ده چې رحمان بابا په خپله د اسې استعمال کړې ده چې--

هم ې هند په ډکه واخست

هم کابل هم پیښاور

یا لکه خوشحال بابا چې وئیلی دی--

شړی ور پښتون به ې سل په ډکه یوسی

کشمیری چې بغرګ شالونه ې په دوش وی (11)

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

" محترم حبیبی صاحب د "ډکه" معنې د خیبر نه پورې غاړه

www.pukhto.net

علاقه ښودلې ده هر کله چې ښاغلی معترض ورنه منکر دے او د خپل موقف په تائید کښې یې په ترتیب سره د رحمان بابا او خوشحال بابا دا شعرونه راوړی دی --

هم یې هند په ډکه واخست

هم کابل هم پیښاور

شړی ور پښتون به یې سل په ډکه یوسی

کشمیری چې بغرګ شالونه یې په دوش وی

ددکه لغوی معنی :-

ظفر اللغات :- ټکره - تصادم - د اوبو بند - د پیریانو اثر - پغاړه - په ذمه واری - د ولې یا نهر وغیره غاړه - د ډک مونټ - مجازاً بلاربه ښځه یا ماده حیوان -

راورټی :- بلاربه

پښتو قاموس :- صدمه - تصادم - مرض جن زدګی - د پیریانو اثر - ذمه - عهده -

د معترض له خوا د رحمان بابا او خوشحال بابا په پیش کړو شوو دوه (کذا) شعرونو کښې د پورته لغتونو یوه معنیٰ هم سیواتر څهٔ حده د "تصادم" نه صحیح نهٔ پریوځی - زمونږ په علاقه د دې لفظ معنیٰ" په مخه اخستل یا په مخه ورتل" ده - هسې هم د ذکر شوو لغتونو له مخه دا لفظ ډیرې معنې لری - چې د رحمان بابا او خوشحال بابا په ذکر شوو دوه شعرونو

www.pukhto.net

کښې هم په یوه معنیٰ راځی - هر کله چې د محمد یونس په شعر
کښې د ا معنیٰ نۀ ښندی کۀ په زور ورنه د رحمان بابا او
خوشحال بابا د شعر معنیٰ څوک راوباسی نو بیا شعر به بې معنې
شی - "ډکه" یو ځایې یا علاقه هم ده او شعر کښې د پیاده ګان
کوټوال او راهدار موجودګی د اخبره سپینوی چې ددې ډکه
نه مقصد هم دغۀ د خیبر هغه غارې علاقه ده چرته چې د راهد
اری په وصولولو کښې سوداګر همیشه د پیاده ګانو کوټوالانو
او راهد ارانو د زیاتی او بې انصافی له لاسه په فریاد وی - د
شعر معنیٰ د ا ده چې پیاده ګان کوټوالان او راهد اران لکه د
لیونیو سپیو هر چاته خله اچوی دکې ته دې څوک خدایې نه
ورولی - دغه شان د خوشحال خان خټک او عبد القادر خان
خټک په څنو شعرونو کښې هم ډکه لفظ د لبریزه په معنیٰ
استعمال شوے دے - خو کۀ دغه ډکه نه هم څوک هغه معنیٰ
واخلی کومه چې تری ګران معترض اخستی ده نو بیا دې ورته
خدایې هدایت وکړی -" (12)

محترم همیش صاحب د "ډکه" معنیٰ په مخه اخستل یا په مخه ورل خو ټیک
کړی ده ولې په پښتو کښې یو بل هم دغسې تورے "ډکه" شته دے چې په
هغې کښې زور په ورومبی سیلاب او په زیر تبصره "ډکه" کښې زور په
دویمه چپه دے - دواړه بیل بیل توری دی - البته په څنو علاقو کښې دواړه
توری یو شان هم وئیلی شی - یو "ډکه" د "تشې" متضاد دے - و کۀ

www.pukhto.net

دکشنری د هغې معنیٰ بلاربه وکړی نو بلاربه هم دکه وی تشه نه وی خو
تر څو چې ددې بل توری تعلق دے نو باید چې د اتورے هغې سره خلط
ملط نه کړے شی - دوارِه لیکلے یو شان شی خو تلفظ کښې سره فرق
لری او داسې توری نور هم زمونږ په ژبه کښې دیر دی - دمثال په طور "
نوم" په دوو معنو کښې مستعمل دے یود "اسم" دپاره او یو د "نافِ" دپاره
دغسې بل لفظ "لور" دے چې د "طرف" او "لارۂ" دوارو دپاره
استعمالیږی - نو په داسې حالت کښې به بیا مضمون ته کتل پکار وی - د
خوشحال بابا او رحمان بابا په شعرونو کښې د "دکه" معنیٰ په مخه اخستل
دی - او دغسې د یونس په شعر کښې هم په دغه معنی استعمال شوې ده -
همیش صاحب لیکی چې د یونس په شعر کښې ې دغه معنیٰ وکړو نو شعر
به بې معنې شی حالانکې داسې نه ده - چې هم دغه معنیٰ په مخه اخستل
په کښې واخلو نو مطلب به ې دا شی چې پیاده کان کوتوالان او راهدـ
اران ټول لیونی سپی دی خدای دې څوک ددوی په دکه برابر نه کړی -
یعنې الله دې خلق ددوی په "مخه اخستو" نه په امان کړی - "دکه" د یوې
علاقې نوم دے خو هغه دومره اهم ځای نه دے لکه د پیښور او کابل چې
شاعران دې یاد کړی او چې بیا خبره هم د علاقیتز استحصال نه بلکې د
ټول ملک د استحصال وی نو هلته د دکې یادول څه معنیٰ لری - بل لکه
چې همیش صاحب ونیلی دی په دغه دکه کښې سوداګر د راهدـ اری په
وصولولو کښې تنګولے شی - نو د راهدـ اری وصولونکی صرف
راهدـاران کیدے شی د کوتوالانو او پیاده ګانو د راهداری سره څه کار دے -

www.pukhto.net

بل محترم همیش صاحب چې د یونس د دیوان د شهادت عنوان لاندې کوم بحث کړے دے په هغې کښې ئې د یونس دغه پوره غزل چې او ویشت شعره دے راخستے دے او لیکی چې ---

" یونس په ذکر شو او ویشتو شعرونو کښې د حکومت له خواد واکمنو طبقو د اختیار مندو د ظلم ذکر کړے دے ۔ دغه طبقه کښې صرف اربابان نه دی شامل بلکې بادشاهان، شاهزادگان، امرا، حاکمان، ملکان، پیاده گان، کوتوالان، راهد اران، قاضیین مفتیان او محتسبان ټول شامل دی چې د علاقنیز استحصال په خاې د ټول ملک په معاشرتی زیاتو او استحصال رنا اچوی ۔" (13)

د همیش صاحب د دې اقتباس سره زما بیخی او مکمل اتفاق دے ۔ صرف دومره عرض لرم چې هر کله شاعر د ټول ملک د استحصال خبره کوی نو بیا د "دکې" ذکر څه معنیٰ لری ، ولې په ملک کښې د ټولو نه اهم خاې صرف هم دا دکه وه؟

مخکښې هم دا خبره شوې ده چې د یونس اکی یو دیوان تر اوسه په لاس راغلے دے چې هغه د افغانستان د حکومت له خوا چاپ شوے دے۔ هم د دغې دیوان یوه فوټو کاپی د کراچی په میوزیم کښې په این ایم ۱۹۵۷ ۹٤ / ۹ ٤۲ نمبر پرته ده ۔ دا فوټو کاپی عبد الرؤف بینوا نقل کړې ده ۔ چې ترقیمه ئې داسې ده ---

" دا کتاب له یوې مطلا نسخې څخه چې زلمی ټولواک اعلیٰ حضرت محمد ظاهر شاه و پښتو ټولنې ته مرحمت کړے وو نقل

www.pukhto.net

شو او نن می تمام کی - سه شنبه ۲۳ د ثور ۱۳۲۰ هش - عبدالرؤف بینوا - ⑭

په دې فوټو کاپی کښې دغه زیر بحث شعر داسې راغلے دے --

پیادگان کوتوال راهدار لیونی سپی دی

پر ډکه خو دې خدایې نه کا برابر ځوک ⑮

ولې د عبدالله خدمتگار له خوا په چاپی دیوان کښې دا شعر داسې دے --

پیادگان کوتوال راهدار لیونی سپی دی

په ډکه دې خدایې ځوک نه کا برابر ځوک ⑯

او هیڅ قسمه نوټ پرې نه دے لیکلے شوے - د کراچۍ د میوزیم په نقل کاپی کښې د "ډکه" نه پس "خو" په بله سیاهۍ او د مصرعې دپاسه لیکلے شوے دے - د اسې ښکاری چې دغه فوټو کاپی هم زمونږ د محققینو د لاس وهنې ښکار شوې ده -

د پټې خزانې داوویشتم شاعر په ذکر د قلندر صاحب اعتراض دا دے ---

"اوویشتم شاعر پټه خزانه کښې د رحمت هوتک په روایت متعارف شوے دے چې هغه د سر آمد شعرایې موجود محمد گل مسعود نوم خو لیکلے دے خو د ده د پیدائش کال د استوګې ځایې او پیښور کښې د موجودګۍ وجه ې نه ده لیکلې - رحمت هوتک د محمد گل مسعود دپاره د "ولیدل شو" ټکی استعمال کړی دی چې دا ښیې چې د ده ورسره پوخ تعارف نه وه

www.pukhto.net

ځکه نو رحمت هوتک له پکار وو چې د هغه د بدلې ماخذ ې
ښیئلے وے چې ده د خپل تربور د پاره نقل کوله۔" (17)

دهغوی د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی---

" د ا اعتراضونه هم بې ارزښته ځکه دې چې د محمد گل مسعود په حقله معلومات محمد هوتک ته د هغه تربور رحمت هوتک ورکړی دی او رحمت هوتک محمد گل مسعود د پیښور په سفر کښې لیدلے وه او هم د دغه سفر په دوران کښې (۱۱۳۰ هجری) رحمت هوتک په خیبر کښې د محمد یونس خان سره هم میلمه وه ۔ د محمد یونس خان او محمد گل مسعود د کلام د نمونو تر لاسه کول دا حقیقت نمانی چې رحمت هوتک ته د پټې خزانې د لیکلو علم وو او د خپل سفر نه ې خپل تربور د پاره د موادو تر لاسه کولو فائده هم اخستې ده ۔ البته دا خبره یاده لرل پکار ده (هکذا) چې رحمت هوتک د پټې خزانې د موادو تر لاسه کولو په مهم پیښور ته نه وه راغلے ۔ د رحمت هوتک د محمد یونس خان او محمد گل مسعود دوارو سره دا ملاقاتونه اتفاقی وو ۔ پاتې شوه د پیدائش د کال او استوگنې د خاې د ذکر په نه کولو اعتراض نو دې کښې د محمد هوتک څه قصور دے؟ کیدے شی رحمت هوتک د تذکرې د اصولو نه د ناواقفیت په وجه صرف هم شعری نمونې ضروری ګڼلی وی ۔ بیاد بدلې د ماخذ نه نبودلو د ا اعتراض خو کلهم بې بنیاده ځکه دے چې

www.pukhto.net

محمد هوتک دغه لږ کښې صفا وئیلی دی چې (او دا یوه بدله د
دۀ څخه رحمت تربور رانقل کا، چې دلته ېې کاږم) ۔" 18
پورته د دواړو لیکونکیو د کتابونو نه ما اقتباسات پیش کړل ۔ قلندر صاحب
دا وئیلی دی چې د محمد گل مسعود ذکر د رحمت هوتک په روایت
شوے دے ۔ خو بیا هم همیش صاحب دا خبره کوی چې محمد هوتک
ته دغه معلومات رحمت هوتک ورکړی دی ۔ هر کله چې قلندر صاحب له
دغې نه انکار نۀ دے کړے نو د همیش صاحب له خوا د دغې خبرې په
ضرورت لوستونکے نۀ رسی ۔ د همیش صاحب په دغه اقتباس کښې د
هغوی د همعصر داعتراض د جواب یو ناکام کوشش په دې الفاظو شوے دے
"چې په دې کښې د محمد هوتک څۀ قصور دے؟" یو عالم فاضل انسان چې
د څو کتابونو مصنف او مولف هم وی او هغه تذکره لیکی نو هغۀ له پکار
دی چې داسې نیمگړی روایت نۀ قبلوی ۔ اصل خبره دا ده چې د رحمت
هوتک پیښور ته راتګ صرف او صرف یوه افسانه ده ۔ گنی دا څنګه کیدے
شی چې له چا سره دې څوک په سفر کښې یو ځاېۍ شی او پوره بدله دې
تري یادوی یا لیکی او دا پوښتنه دې تري نۀ کوی چې تۀ د کوم ځاېۍ ېې ؟
چرته اوسې؟ څۀ کار کوے؟ په څۀ غرض روان ېې او چرته روان ېې؟ او بیا
رحمت هوتک دومره ناجانه بنیادم هم نۀ دے یو ذهین او زیرک سړے دے
چې د خپل سفر نه دا فائده هم اخلی چې د خپل تربور د تذکرې دپاره مواد
راټولوی هغه څنګه داسې کولے شی ؟ خو اصل خبره دا ده چې د
محمد هوتک دا راوی هم جعلی دے ۔ په پټه خزانه کښې محمد هوتک د

www.pukhto.net

محمد گل مسعود په ذکر کښې لیکی ---

" هسې روایت کا، رحمت هوتک، چې په دوران د سفر د پیښور محمد گل په قوم مسعود خوی د محمد داؤد، ولیدل سو ،چې پوخ شاعر وو او هر کله به ئې بدلې ویلې-" (19)

نو اوس دې لوستونکی اندازه ولگوی چې یو تن دومره ذهین او پوهه وی چې په یوځل د یو شاعر په لیدو دهغه متعلق دا خبره کوی چې "پوخ شاعر دے او هر کله بدلې وائی" هغه د تذکرې د اصولو نه ناواقفه کیدے شی؟ هیچرې هم نه شی کیدے او که چرې شی هم نو بیا دا د تذکرې د مولف ذمه واری ده چې هغه د اسې روایت قبول نه کړی - او که چرې قبلوی ئې نو بیا هغه قصور وار دے او خلق دا حق لری چې په هغه تنقید وکړی-

عبدالقادر خان خټک د پټې خزانې اتویشتم شاعر دے د دهٔ په ذکر کښې هم قلندر صاحب په ځنې خبرو اعتراض کړے دے دوی لیکی ---

"د عبدالقادر خان خټک په باره کښې نواب محمد اندړ هم دا روایت کوی چې په سنه ۱۱۱۳ هجری کابل کښې لیدل شوے وهٔ - په صیغه مجهول کښې د دې روایت باوجود د عبدالقادر خان د پیدائش کال خو په ورځ هم ښیئلے شوے دے او دا وئیلی شوی دی چې هغه د ۱۰۶۱ هجری د جمادی الثانی په ۲۳ پیدا شوے وهٔ- ظاهره ده چې د لیدلی شوی عبدالقادر خان په باره کښې به دا معلومات په خپله له عبدالقادر خانه حاصل شوی وی او په دې صورت کښې دا خبره د عبدالقادر خان بالکل دروغ کړې یا

www.pukhto.net

نواب محمد اندر غلطه اوريدلي او محمد هوتک غلطه ليکلي
ده چې د ختکو خانان د عبدالقادر خان تابع وو ـ صرف کابل
کښې د ليدلی کيدو په نتيجه کښې د عبد القادر خان ختک په
باره کښې چې معلومات حاصل کړی شوی دی هغه يقيناً
حيرت انګيز دی ځکه چې صرف د عبد القادر خان د ليکلی
کتابونو تفصيل نه بلکې د هغو د ليکلو کلونه هم په کښې
راوړے شوی دی ـ او له ټولو حيرت انګيزه خبره دا ده چې
عبدالقادر خان په ۱۱۱۳ هجری کابل کښې ليدل شوی وه خو دده
په ذکر کښې دا هم شته چې دده په ۱۱۱۵ هجری کښې يو بل کتاب
نظم کا چې نوم يې دے حديقه ختک ـ دا کتاب محمد هوتک
په سنه ۱۱٤۰ هجری کښې له صدر الزمان بهادر خانه وليدو ـ دا
بهادر خان هم هغه سړے دے چې د پټې خزانې نهۀ ويشتم شاعر
او د محمد هوتک محسن دے ځکه چې د پټې خزانې دپاره يې
ورلره يوه بدله ورکړې ده ـ کۀ د غير ضروری تفصيلاتو په
ځاې محمد هوتک له دۀ ځنې دومره پوښتنه کړې وے چې
دۀ حديقه ختک له کومه پيدا کړے دے نو دا به د پښتو ادب يو
لوې خدمت وے ـ" ⑳

ددې اعتراض د جواب کوشش محترم همېش صاحب داسې کوی ---
" ورومبے اعتراض د هغۀ د پيدائش په تاريخ شوے دے چونکې
د عبد القادر خان ختک د حالاتو راوی نواب محمد اندر دے

www.pukhto.net

نو څکه کیدلے شی چې کۀ " د ختټکو خانان د عبد القادر خان تابع وو" غوندې د شاعر د پیدائش د تاریخ دې خبره کښې هم نواب محمد اندې غلط شوے وی او یا محمد هوتک نه سهوه شوی وی - بناغلی معترض د ا امکان منلے دے بیا هم کابل ته د عبد القادر خان ختټک تګ د هغۀ له دغه رباعی نه څرګندے دے۔

د خپله بخته و چا ته زار کړو

د چرخ ناسازې و چا ته شمار کړو

ډک دے له بنکلیو د کابل بنهر

هومره څۀ نشته چې یو ترې یار کړو

دویم اعتراض دا شوے دے چې د حدیقه خټک په حقله کۀ محمد هوتک د نواب محمد اندې نه دا پوښتنه کړې وے چې دۀ دا کتاب له کومه پیدا کړے وو؟ نو دا به د پښتو لوئ خدمت وو او کۀ زۀ هم دغه پوښتنه وکړم چې بناغلی معترض د صاحبزاده محمدی صاحب د دیوان د قلمی نسخې او ابو القاسم د دیوان د قلمی نسخې په حقله د خپل ګران دوست امتیاز صاحبزاده (چې د ددۀ دپاره یې دغه دواړه قلمی نسخې پیدا کړی دی) نه د دغه پوښتنې ضرورت ولې نۀ دے محسوس کړے چې د ریورنډ لوینتال لاس او انګلستان ته د ذکر شوی قلمی نسخې له کومه ور رسیدلی دی نو آخر څۀ جواب به یې وکړی ؟"- (21)

www.pukhto.net

محترم همیش صاحب د جواب ورکولو بیخی یو ناکام کوشش کړے دے ۔ لکه چې لوستونکیو ته به له پورته نقل شوی اقتباس نه د اعتراض پته لګیدلی وی ۔ قلندر صاحب دا خبره کړې ده چې که چرې عبدالقادر خان خټک په کابل کښې لیدلی شوی وی نو ضروری ده چې د هغهٔ متعلق معلومات به هم د هغهٔ نه اخستی شوی وی ، نو بیا د هغهٔ د پیدائش نیټه او دا خبره چې (د خټکو خانان د عبدالقادر خان تابع وو) دروغ ده ۔ یا خو عبدالقادر خان دروغ وئیلی ، یا نواب محمد اندړ غلط اوریدلی او یا محمد هوتک غلط لیکلی دی ۔ خکه چې دواړه خبرې غلطې دی ۔

بله خبره هغوی دا کړې ده چې هر کله عبدالقادر خان خټک په ۱۱۱۳ هجری کښې په کابل کښې لیدل شوې وو نو د دغه کال نه دوه کاله پس د هغهٔ د لیکلی حدیقه خټک علم دغه راوی ته څنګه وشهٔ ۔ بل دا چې د همیش صاحب همعصر د عبدالقادر خان خټک په کابل کښې په لیدلی کیدو هم څهٔ اعتراض نهٔ دے کړے خو نهٔ پوهیږم چې همیش صاحب ولې د عبدالقادر خان خټک د کابل ته د تلو دپاره د هغهٔ د رباعی په پیش د ولو خان په عذاب کړے دے ۔ د پټې خزانې یو راوی خو هغه دے چې محمد کل مسعود سره په سفر کښې یو ځای شوے دے او د کلی کور پوښتنه یې تری هم نهٔ ده کړې او یو نواب محمد اندړ دے چې د عبدالقادر خان په کابل کښې د "لیدل شوی وو" نه یې دومره معلومات اخستی دی چې د هغهٔ د لیدو د وخت نه پس ته یې د هغهٔ د راتلونکیو او لیکلی کیدونکیو کتابونو حال او تاریخ هم بنیټلے دے ۔

www.pukhto.net

باقی قلندر صاحب دا خبره کړې ده چې هر کله یو راوی
دومره په تفصیلاتو کښې خی او دیو شاعر دهر تصنیف دلیکلو کلونه هم
خلقو ته ښئ نو هغه له دا هم ضروری ده چې هغه د شاعر کوم کلام پیش
کوی چې د هغې دمآخذ په حقله هم څه نا څه معلومات ورکړی ۔ د دې
په جواب کښې همیش صاحب د محمدی صاحبزاده او ابو القاسم د دیوانونه
خبره کړې ده نو هغه خو لکه چې څنګه همیش صاحب په خپله هم منلې
ده امتیاز احمد صاحبزاده راپیدا کړی دی او دریورنډلو ینتال نه تر لاسه
شوی دی ۔ نو زما په خیال چې بس دغه هومره معلومات کافی دی ۔ او که
دا نه هم وی نو د حدیقه خټک د هغې سره موازنه پکار نه ده څکه چې د
ابو القاسم او محمدی صاحبزاده دیوانونه دواړه قلمی اوس هم موجود دی
خو د عبد القادر خان خټک کوم دیوان چې حدیقه خټک نوم ږ لرلو او
محمد هوتک له بهادر خانه سره لیدلے وه هغه چرته دے او څه شو ؟
څکه چې د عبد القادر خان خټک دیوانونه پیدا شوی دی او څنې د
برطانیې په لائبریرو کښې پراته دی خو دغه نوم نه لری ۔ البته د ډاکټر
انوار الحق له خوا چاپ شوے د عبدالقادر خان دیوان دغه نامه لری اوهغه
هم دغه نامه د پټې خزانې د مولفه اخستې ده ۔

د "پټې خزانې" د نهه ویشتم شاعر په ذکر قلندر مومند صاحب
داسې اعتراض کوی ---

" نهه ویشتم شاعر صدر اکابر دوران بهادر خان دے چې د شاه
حسین د لښکرو سالار او امیر الامراء بیان شوے دے خو له بد

www.pukhto.net

قسمتی نه د دومره معروف سړی د پیدا انش د کال په باره کښې پته خزانه هیڅ معلومات نه ورکوی۔" (22)

ددې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی ---

" د قصیدې د بادشاه او محمود غزنوی غوندې عظیم بادشاه د درباری شاعر فردوسی د پیدا انش د کال په حقله خو هم کومې تذکرې معلومات نه دی راوړی بلکې د پیدا انش کال خو څه چې دیرو تذکرو کښې د فردوسی د عامو حالاتو په حقله د شعر العجم مولف هم په دغه نوټ لیکلو مجبور شوے دے --

(د فردوسی حال په ټولو تذکرو کښې په تفصیل سره شوے دے ولې د ټولو تر مینځه سخت اختلاف دے۔ دغو کښې چار مقاله د ټولو نه زیاته قابل اتبار ده چې مصنف نظامی عروضی سمرقندی ؒ خپله نامتو شاعر او فردوسی زمانې ته نزدې دے(هکذا) سره د دې دغه تذکره کښې بیا هم سختې غلطې دی -

(ترجمه) (23)

په دې حقله به زه دومره عرض وکړم چې اول خو فردوسی صرف درباری شاعر وه سالار او امیر الامرا نه وو نو که د هغه د پیدا انش تاریخ یوه تذکره وه نو ښ نو مولف ؒ ګرم نه دے۔ خو د بهادر خان خبره داسې نه ده، دے د شاه حسین د دربار یو ازی شاعر نه بلکې د لښکر سالار هم دے او د تذکره نویس همعصر هم دے نو د دې تاریخ پیدا انش پیدا کول ممکن دی - بل که د فردوسی د پیدا انش تاریخ کومې تذکرې نه وی

www.pukhto.net

راخستے نو هغه تذکره به د هغۀ نه دیره پس لیکلی شوی وی - او د تذکرې لیکلو په وخت بهادر خان ژوندے هم وۀ نو محمد هوتک له په حیثیت د یو تذکره نگار پکار وو چې له هغۀ نه ې په دې حقله پوښتنه کړے وے - خو داسې ښکاری چې دا تذکره محمد هوتک نۀ ده لیکلې هغۀ سره منسوب شوې ده -

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۳
2. تول پارسنگ ص - ۱۹۰
3. تاریخ مرصع ص - ۴۰۶، ۴۰۷
4. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۳، ۱۹۴
5. تول پارسنگ ص - ۱۹۱
6. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۴، ۱۹۵
7. تول پارسنگ ص - ۱۹۱، ۱۹۲
8. پښتانۀ شعراء ورومبے جلد ص - لد
9. د ناز و انا یاد ص - ۲۷
10. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۵، ۱۹۶
11. هم دغه کتاب ص - ۱۹۶
12. تول پارسنگ ص - ۱۹۳، ۱۹۴
13. هم دغه کتاب ص - ۷۵، ۷۶

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

14 د کراچۍ د میوزیم د یونس د دیوان نقل ترقیمه

15 هم دغه کتاب

16 د یونس دیوان ص ـ ۱۴۵

17 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۹۶، ۱۹۷

18 تول پارسنګ ص ـ ۱۹۵، ۱۹۶

19 پته خزانه دوهم چاپ ص ـ ۱۱۸

20 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۹۷، ۱۹۸

21 تول پارسنګ ص ـ ۱۹۶، ۱۹۷

22 پته خزانه فی المیزان ص ـ ۱۹۸

23 تول پارسنګ ص ـ ۱۹۷

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

فَسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ

قلندر صاحب د پټې خزانې دنورو دوؤ شاعرانو چې بالترتیب ملا محمد صدیق پوپلزے او ملا پیر محمد میاجی دی او د تذکره نویس همعصر دی په حالاتو کښې د هغوی د پیدائش په تاریخونو نه پیش کولو اعتراض کړے دے۔ چې په جواب کښې ئې همیش صاحب حسب عادت د نورو تذکرو ذکر کړے دے چې هغه "اوسنی لیکوال" او "سویلی ستوری" دی او لیکی چې هغوی هم داسې کړی دی نو کیدے شی، خو د همیش صاحب له خوا په یادو شوو تذکرو کښې به د هر شاعر په باره کښې داسې نه وی شوی۔ او که هغوی داسې کړی وی نو په هغوی هم تنقید کیدے شی۔ په پټه خزانه کښې خو اکثر د پیدائش تاریخونه نشته۔

د ملا پیر محمد میاجی په ذکر کښې محترم قلندر صاحب په یوه خبره داسې اعتراض کوی ---

" د دۀ په ضمن کښې یوه غلطی چې د حبیبی مرحوم ورته خیال نه دے شوے دا ده چې محمد هوتک د شاه محمد هوتک (هکذا) "م۔۱۱۳۸" د وفات نه څلور کاله پس هم د هغۀ دپاره د "ادام الله دولتهم" دعائیه کلمات استعمالوی۔" [1]

ولې د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب بیخی خاموشی اختیار کړې ده۔ او هیڅ قسمه تبصره ئې ضروری نه ده ګڼلې حالانکې دا ډیره یوه اهمه خبره ده۔ ځکه چې شاه محمود هوتک په کال

www.pukhtq.net

یولس سوه اتهٔ دیرشمه هجری کښې وفات شوے دے او د پټې خزانې مولف محمد هوتک چې کله خپله تذکره په کال یولس سوه دوه محلوېښتمه هجری کښې لیکی نود هغهٔ دپاره چې د مرګ ېٔ محلور کاله شوی دی دا دعا کوی "چې الله پاک دې بادشاهی قائمه لری" - او بیا دیره عجیبه خبره په کښې دا ده چې د دغه تذکرې فاضل محشی دغه غلطی نهٔ ده په ګوته کړے - داسې ښکاری لکه چې دا غلطی د بل چا غلطی نهٔ وی - او زمونږ فاضل نقاد ته لکه چې دغه شان غلطی چرته د دنیا په یوه ژبه کښې په نظر نهٔ وی راغلے څکه ېٔ خاموشی اختیار کړې ده - اوس دې ګران لوستونکی فیصله وکړی چې دا غلطی د پټې خزانې د جعلیت ثبوت دے او کهٔ نه؟

له دغې نه پس محترم قلندر صاحب د پټې خزانې د دوه دیرشم شاعر په ذکر داسې اعتراض کوی ----

"د مجموعې د دودیرشم شاعر الهیار افریدی ذکر د عبد العزیز کاکړ په روایت شوے دے خو بیا ېٔ هم د پیدائش د کال ذکر نهٔ دے شوے - د محمد یونس د خیبر دسکونت د افسانې سره د الهیار افریدی په کاکړو کښې د سکونت افسانه څهٔ توازن خو پیدا کوی حالانکې په دولسمه صدۍ کښې د خپل قبیلوی ماحول نه بلې قبیلې ته منتقلی ناقابل یقین خبره ده -" (2)

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ----

" کهٔ ملک اکوړے د کوهاټ د تیرۍ تحصیل د کربوغې نه د

www.pukhto.net

لسمې هجری صدیۍ په وروستیو کلونو کښې اکوړی ته او هم په دولسمه هجری صدیۍ کښې نور ډیر خټک د یوسفزو او مندنو مختلفو کلیو ته منتقل کیدلې شو یا د محمد امین خوګیانی مرحوم مشران هم په دولسمه هجری صدیۍ کښې د مردان یوسفزو نه ننګرهار (افغانستان) خوګیانو ته منتقل کیدلې شی نو آخر الهیار افریدے ولې کاکړستان ژوب ته نه شی منتقل کیدے؟" 3

څومره پورې چې د ملک اکوړی د تګ خبره ده نو هغه یو داسې ځای ته تلے وه چې هغه ځای ابادی نه وه هغه اباد کړو لکه چې د نوم نه یې ښکاره ده - او نن هم هغه د خټکو علاقه ده - بل دا چې ملک اکوړے چې د کوم ځای نه راغلے وه نو هغه ځای یې هم پریښے نه وه نور خپل خپلوان یې هلته وو او تر ننه هلته موجوددی -

دغسې همیش صاحب د امین خوګیانی مرحوم خبره کړې ده نو په دې لړ کښې چې ما قدرمند م - ر شفق سره چې د مولانا محمد امین خوګیانی مرحوم خوریے دے رابطه وکړه او د هغوی نه مې کومې پوښتنې وکړې نو هغوی راته په خط کښې دا جوابونه راکړل ----

۱- د مولانا محمد امین خوګیانی مرحوم والد صاحب مولانا محمد اسرائیل شهید افغانستان ته هجرت کړے وه -

۲- مولانا محمد اسرائیل مرحوم چې هجرت کوو نو د کورنۍ نور خلق ورسره نه وو تلی - خو چې کله هلته میشته شو نو د تګ راتګ

www.pukhto.net

سلسله به جاری وه څوک نه څوک به راغلهٔ ،لاړهٔ۔

۳۔ دوئ په کال ۱۲۹۵ هجری قمری کښې هجرت کړے وهٔ وایه چې دیارلسمه صدی په ختمیدو وه۔

٤۔ اصل کښې په دغه کال یعنې ۱۲۹۵ هجری قمری کښې د سوات صاحب اخوند عبد الغفور وفات شوے وهٔ ، د دهٔ یو ماذون مجاهد عالم حضرت مولانا نجم الدین (اډې مولانا) د انګریزانو خلاف عملی مبارزه پیل کړې وه ۔ دهٔ سره د عالمانو یوه ډله وه هغوی کابل ته په دغه مقصد کډه یوړه، د طورو مولانا محمد اسرائیل مرحوم هم د عالمانو دغه ډله کښې شامل وهٔ۔

ګرانو لوستونکیو به کتلی وی چې د مولانا محمد امین خو ګیانی مرحوم پلار هجرت کړے وهٔ او د هجرت کولو وجه هم ښکاره شوه او دا معلومات هم وشو چې دا دولسمه صدی نهٔ وه بلکې دیارلسمه صدی په ختمیدو وه ۔ معلومه نهٔ ده چې محترم همیش صاحب څنګه او په کوم دلیل دغه هجرت په دولسمه صدی کښې شوے ګڼی ۔ د دې برعکس د یونس د پلار د یوې قبیلې نه بلې ته منتقلی په دولسمه صدی کښې د منلو خبره نهٔ ده ۔ او کهٔ چرې داسې شوی وی نو بیا به دهغې محرک ښیئل ضروری وی۔

په دې پسې بل شاعر بابو جان دے دچا په ذکر چې قلندر صاحب دا اعتراض کړے دے ---

"د پټې خزانې د دری دیرشم شاعر بابو جان په باب روایت په خپله د کتاب د مولف دے او هر څو کهٔ د دهٔ په ذکر کښې دوه

www.pukhto.net

تاریخونه ۱۱۳٤ هجری (د شاه محمد په ایران حمله)او ۱۱۲۹ هجری (د شها او ګلان د قصې د نظم کولو کال) راځی خو بیا هم دومره ښکاره او مشهور شاعر د پیدا ښ د کال ذکر مناسب نه دې ګڼلی شوې۔" (4)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب یو څل بیا حسب عادت د عبدالروف بینوا د یو کتاب حواله ورکړې ده چې په هغې کښې هغوی د محمد ګل خان مومند د زیږیدنې تاریخ ښه دے ورکړے۔ نو په دې حقله زما دا عرض دے چې که هغوی داسې ګړی دی نو هم غلطۍ ګړی دی پکار ده چې تنقید پرې وشی۔ څومره پورې چې د تذکرې خبره ده نو پکار دی چې په هغې کښې د شاعر د پیدا ښ کښ کور او مړینې تاریخ یا کال خامخا درج وی۔ د بابو جان په ذکر کښې د ایران د حملې ذکر دومره ضروری نه وه څومره چې د هغه د پیدا ښ نیټه ضروری وه۔

پټې خزانې د څلور دیرشم شاعر ریدی خان د ژوند معلومات نه دی راخستی او قلندر صاحب پرې اعتراض کړے دے او په جواب کښې ۍ همیش صاحب یو څل بیا د نورو خلقو غلطی قطار کړی دی کومې چې مونږ د اعتراض جواب نه شو ګڼلے۔ دغسې د محمد عادل چې د خزانې پینځه دیرشم شاعر دے د هغه په حالاتو کښې هم شوی دی او د قلندر صاحب د اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب د نورو تذکرو د غلطیو د ال سخې ته نیولے دے۔ او ظاهره ده چې دغه حربه لوستونکی نه

www.pukhto.net

شی قانع کولے۔

د خزانې د شپږ دیرشم شاعر په ذکر قلندر صاحب دا اسې اعتراض کوی ----

" د پټې خزانې شپږدیرشم شاعر "محمد طاهر جمریانی" دے د دۀ ذکر هم محمد هوتک په خپله ذمه داری کوی خو د پیدائش د کال یې ورته علم نشته بلکې د عمر متعلق یې دا اسې خبرې کوی چې په خپلو کښې متناقضې دی یعنې --

۱۔ "محمد طاهر خوش طبعه خوان دے" کۀ د مولف په دې خبره اعتبار وکړو او د محمد طاهر عمر ۲۵ کاله فرض کړو او

۲۔ "په کلو کلو په مستنګ کښې د پلار سره اوسیدې او هلته یې له اکملو علماؤ څخه لوست وکا او علوم دینی یې زده کړۀ" له جملو دا نتیجه وباسو چې دۀ لس کاله تحصیلات کړی دی نو

۳۔ د دۀ د یو دوست محمد عمر خان دې خبرې له به څو کاله له کومه راوړو چې د هغو په بنیاد محمد عمر دا ووئیلے شی چې زۀ "لس کاله د محمد طاهر سره په مجلس او وینا یم" د ایاد ساتل پکار دی چې مولف د څلویښتو کالو عمر ته پوخ عمر وائی ۔" 5

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی چې --

" د بناغلی معترض مقصد دا دے چې شاعر محمد طاهر د پینځۀ ویشت کلنۍ نه پس سبق ته کښیناست او لس کاله یې تحصیلات وکړۀ او چې د ۲۵ +۱۰ یعنې پینځۀ دیرشو کالو شو نو د هغه پس

www.pukhto.net

نور لس کاله د هغه یو دوست محمد عمر د هغهٔ سره په مجلس او وینا شو او دغه شان ٤٥ کلنۍ ته ورسیدو خو هر کله چې محمد هوتک د څلویښتو کالو عمر ته پوخ عمر وائی نو محمد طاهر ته ئې ولې خوش طبعه څوان وئیلے دے؟ قطع نظر د محمد طاهر د عمر، علمی تحصیلاتو او محمد عمر سره د دوستانې آیا دا ممکنه نهٔ ده چې دا هر څهٔ هم په ٢٥ کلنۍ کښې شوی وی؟ او بیا دا خبره کوم عقل منلے شی چې د علمی زده کړې دپاره دې کوم پینځویشت کلن (هکذا) شاګرد په مکتب کښینولے شی؟

بسوخت عقل زحیرت که این چه بوالعجبی ست." 6

د همیش صاحب د معترض مقصد هیڅ کله هم دا نهٔ دے چې ګنی محمد طاهر د پینځویشتو کالو په عمر کښې په سبق ناست دے۔ بلکې هغه دا وئیل غواړی چې محمد هوتک د خپلې خزانې مکمل کولو په وخت محمد طاهر څوان یادوی چونکې بل ځائې محمد هوتک په خپله دغه تذکره کښې څلویښتو کالو ته پوخ عمر وائی ځکه نو د محمد "څوان" مونږ د پینځویشتو کالو فرض کولے شو۔ د هغوی د اقتباس نه دا خبره بیخی نهٔ راووځی چې ګنی محمد طاهر د پینځویشتو کالو په عمر کښې مدرسه کښې داخل شوے دے۔ بلکې د هغوی له اقتباسه هم او د پټې خزانې له عبارته هم دا خبره واضحه ده چې محمد طاهر دینی علوم له پینځویشت کلنۍ نه اګاهو حاصل کړی دی۔ خو چونکې هغهٔ دینی علوم په مستنګ کښې حاصلول او په کلو کلو هلته د پلار سره وسیدلے دے او شاعر دوست

www.pukhto.net

محمد عمر یې په قندهار کښې وسیدو - او د هغه وینا محمد هوتک نقل کړې ده چې "زه لس کاله د محمد طاهر سره په مجلس او وینا یم" نو که چرې محمد طاهر اند ازاً د لسو کالو د اخل شوی وی او لس کاله یې تحصیلات کړی وی او له هغې پس ته قندهار ته راغلے وی نو دا وتیلے شو چې قندهار ته د راتلو په وخت به یې عمر شل کاله یا پینځویشت کاله وه څکه چې محمد هوتک یې ځوان ګڼی - او بیا چې کله یې په قندهار کښې دکانداری شروع کړې ده نو سمدستی یې دکان د عالمانو او فاضلانو مجلس ګاه نه دے جوړ شوے بلکې دې به هم کافی وخت اخستے وی - تر دې حده خو دا خبره ټیک ده - ولې محمد عمر چې له دې سره د لسو کالو نه په مجلس او وینا دے نو دا ممکنه نه ده څکه چې محمد طاهر په وړو کوالی کښې چې لا به یې شاعری نه کوله مستنګ کښې د پلار سره وسیدو او تعلیم یې حاصلوو - نو نه پوهیږو چې محمد طاهر ته دا لس کاله د محمد عمر سره د دوستانې د چرته نه حاصل شوی دی - بله خبره همیش صاحب دا کړې ده چې "آیا دا ممکنه نه ده چې دا هر څه په ۲۵ کلنۍ کښې شوی وی؟" (حواله مخکښې تیره شوې ده) نو که دا سې یې وه ګڼو نو بیا به یا خو محمد عمر مستنګ ته بوتلل پکار وی او یا به محمد طاهر جمریانے په قندهار کښې د علم حاصلولو دپاره دا کملو علماوو خوا له راولو - هله به د محمد هوتک جوړه کړې افسانه سمیږی -

دا ته دیرشم شاعر ملا محمد ایاز نیازی په ذکر کښې د کلونو د ذکر نه علاوه چې کوم اهم اعتراض د قلندر صاحب له خوا شوے دے هغه دا دے

www.pukhto.net

چې ملا محمد ایاز نیازی د میاں عبد الحکیم قدس سره العزیز مرید دے۔ او دا میاں عبد الحکیم د حبیبی صاحب د حاشیې مطابق د یولس سوه پنځوسمې هجری قمری نه اګاهو د قندهار نه کاکړستان ته تلے دے۔ پته خزانه په یولس سوه دوه ځلویښتمه هجری قمری کښې مکمل شوې ده یعنې د دې تذکرې د مکمل کیدو په وخت دغه ولی الله ژوندے وۀ نو د تذکرې مولف د هغۀ دپاره ولې د "قدس سره العزیز" الفاظ استعمال کړی دی ځکه چې دا الفاظ د وفات شوی سړی دپاره استعمالیږی۔ د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی چې---

" عام طور د مغفرت دعا د مړ شوی انسان دپاره کولے شی ولې په پښتنه معاشره کښې د ژوندی انسان دپاره هم د مغفرت د دعا حقیقت په خپل ځاې دے مثلاً "خدایې دې وبخښه"، "خدایې دې په جنت کا" یا "خدایې دې جنتونه درکا" وغیره۔ او بیا بناغلی معترض چې د کوم لغت په حواله د "قدس سره العزیز" معنیٰ خدایې پاک دی د ددۀ قبر مقدس کړی راوړې ده هغه هم سمه نۀ ده او اختلاف ورسره کیدے شی۔

"سره" هغه روحانی راز ته وتیلے شی چې له یوې سینې نه بلې ته منتقل کیږی۔ ځکه نو قدس سره العزیز معنیٰ باید دا وشی چې خدایې پاک دې د ددۀ روحانی راز مقدس کړی۔ لسان العرب نومې لغت د "سره" د ځنو نورو معنو سره یوه معنیٰ د "ځاې" او "مکان" هم کړې ده۔ دغه معنیٰ کۀ مونږ په خپل عام مفهوم کښې

www.pukhto.net

وپکارو و نو بیا به د قدس سره العزیز معنیٰ د اسې شی " خدایې پاک دې د ددهٔ ځایې یا مکان مقدس کړی او هر کله چې په یو ځایې یا مکان کښې ژوندی خلق اوسی نه چې مړی نو ځکه دا اعتراض باطل شی چې ګنی د قدس سره العزیز الفاظ د مړو دپاره پکار ولی شی البته کهٔ ځوک دا اعتراض وکړی چې د ځایې یا مکان نه مقصد قبر دے نو دا به غلطه خبره ځکه وی چې کهٔ هر کله لغت ځایې او مکان لیکلی شول نو د قبر لیکل هم ورته ځهٔ ګران کار نهٔ وهٔ ـ بیا هم کهٔ ځوک زما د دغو معروضاتو سره متفق نهٔ وی نو د شیخ بدر الدین سرهندی کتاب حضرات القدس ته دی متوجه شی چرته چې موصوف د ذکر شیخ عبد الحیٔ قدس سره د عنوان لاندې لیکی ---

" شیخ عبد الحیٔ سلمه ربه از اخیار و اصحاب و زبده احباب حضرت ایشان، در اصل از حصار شادمان است ـ ص ـ ٣٦٦"

بیا لیکی ---

" و سن شریف شیخ نواحی شصت سال بود که به مکه رفته سلمه الله والبقا ص ـ ٣٦٨"

مقصد دا شو چې شیخ بدرالدین سرهندی شیخ عبد الحیٔ ته د هغهٔ په ژوند کټ مټ هم هغه شان دعا کړې ده لکه چې محمد ایاز نیازی خپل پیر عبد الحکیم ته د هغهٔ په ژوند کړې ده او دا ځکه چې د حضرات القدس د تکمیل کال ١٠٥٧ هجری او شیخ عبد الحی

www.pukhto.net

د مړینې کال ۱۰۷۰ هجری دے۔" (7)

اګاهو له نور بحث نه ضروری ګڼم چې د مختلفو فرهنګونو کړې د "سر" او قدس الله سره معنی ګرانو لوستونکیو ته وړاندې کړم---

۱۔ بیان اللسان عربی اردو د قاضی زین العابدین سجاد میرټهی د "سر" دا معنې کوی -- راز، پوشیده، جماع، ذکر، نکاح، زنا، د بښځې اندام نهانی، دهر څیز اندرونی برخه - دیوې وادۍ بښنۀ مقام (ترجمه) (8)

۲۔ مصباح اللغات عربی اردو د ابو الفضل مولانا عبد الحفیظ بلیاوی ې د اسې معنې کوی -- راز، طریقه، د وادۍ مینځ، خالص څیز، بښنۀ او افضل څیز، د قمری میاشتې وروسنی یا آخری شپه، د هر څیز مغز او جوف "دننه برخه" (ترجمه) (9)

۳۔ فیروز اللغات اردو جدید ایډیشن د "قدس سره - قدس الله سره العزیز" معنې څۀ په دې ډول کوی - د دعا کلمه ده - پاک دې وی راز د هغۀ - د مرحومو مشرانو د نامې سره د رحمة الله علیه په ځای مستعمله ده - (ترجمه) (10)

٤۔ القاموس العصری د الیاس انطون الیاس د " سر" معنیٰ پټ او د عیسایانو یو مذهبی تهوار کوی - (ترجمه) (11)

۵۔ A Dictionary of Urdu Classical Hindi and English د John T.Platts M.A د لفظ "قدس" دلاندې لیکی---

Qaddasa Sirra-hu :- May God hallowed his grave -

Quddisa-Sirra-hu (Passive) :- May his tomb be purified or

www.pukhto.net

hallowed (used in speaking of a deceased King or great man).

الله دې د هغۀ قبر مقدس کړی - د وفات شوی بادشاه یا لوی سړی دپاره وئیلے شی - (ترجمه) 12

٦- اردو پښتو لغت جلد دوم د سید انوار الحق د "قدس" د لاندې لیکی -- قدس الله سره العزیز - قدس سره - خدائ دې د هغۀ قبر پاک کړی - د تیرو شوو بزرګانو او مشرانو د نوم سره په طور د دعا وئیلے شی - 13

٧- جامع اللغات جلد چهارم د عبد المجید د "قدس" د لاندې لیکی ---- قدس الله سره العزیز - قدس سره - الله دې د هغۀ قبر پاک کړی - د وفات شوو بزرګانو د نوم سره استعمالیږی - (ترجمه) 14

٨- A Comprehensive Persian English Dictionary by F. Steingass Ph.D. May his grave be د قدس سره د لاندې لیکی -- hallowed (speaking of a departed king or great man)

الله دې د هغۀ قبر مقدس کړی - د وفات شوی بادشاه یا لوی سړی دپاره وئیلے شی - (ترجمه) او د "سر" معنئ (قبر) کوی - د قدس سره معنئ پته خزانه فی المیزان کښې هم له دې لغاته په ٢٠١ اخستے شوې ده - 15

٩- Arabic English Lexicon د Edward William Lane د "سر" معنئ Soul (روح) کوی او وائی And one says of a deceased holy man قدس الله سره (May God sanctify his soul)

د وفات شوی بزرګ دپاره وئیلے شی چې الله دې د هغۀ روح مقدس کړی - (ترجمه) 16

www.pukhto.net

۱۰۔ فیروز اللغات اردو د قدس الله سره العزیز معنیٰ داسې کوی "الله پاک دې د ډډ راز (قبر) مقدس کړی ۔ د مرحومو بزرګانو دپاره د رحمة الله علیه په ځای استعمالیږی ۔ (17)

د حضرات القدس نه چې محترم همیش صاحب د شیخ عبد الحق خبره رانقل کړې ده د دغه کتاب اردو ترجمه د اکټر غلام مصطفیٰ خان سابق صدر شعبه اردو سنده یونیورسټی کړې ده ۔ هغوی د دې تذکرې متعلق په خپله مقدمه کښې یو ځای لیکی ---

"غالباً اس کی تکمیل ۱۰۵۸ ہجری کے بعد ہوئی، کیونکہ آخری باب (حضرت دوازدہم) میں جہاں حضرت مجدد رحمۃ اللہ علیہ کے خلفاء کا ذکر شروع ہوتا ہے میر محمد نعمان (المتوفی ۱۸ صفر ۱۰۵۸ ہجری) کے نام کے ساتھ "قدس سرہ" خود کتاب کے متن میں ہے ۔ اس لئے ظاہر ہے کہ یہ کتاب اس تاریخ کے بعد تک لکھی جاتی رہی اور خود شیخ بدر الدین بھی اس تاریخ کے بعد تک زندہ رہے ۔ (حضرات القدس مقدمہ ص ۔ ۸۷) (18)"

ترجمه :۔ د دې تکمیل غالباً د یو زر اتهٔ پنځوسمې هجری نه پس شوے دے ځکه چې اخری باب (حضرت دوازدهم) کښې چې چرته د حضرت مجدد رحمة الله علیه د خلفاوٗ ذکر شروع کیږی، د میر محمد نعمان المتوفیٰ یو زر اتهٔ پنځوسم هجری له نامې سره "قدس سره" خپله د کتاب په متن کښې راغلی دی ۔ ځکه نو ظاهره ده چې دا کتاب له دغې وخت نه پس ته هم لیکلے شهٔ او په خپله شیخ بدر الدین هم له دغې تاریخ نه پس ته هم ژوندے وو ۔

د دې اقتباس نقل کولو نه مې غرض دا وو چې د اکټر غلام

www.pukhto.net

مصطفیٰ خان هم "قدس سره" کلمه خاص د مړ شوی انسان دپاره ګڼی -

په پښتو اردو او فارسی وغیره کښې قدس الله سره العزیز یوازې نه استعمالیږی بلکې ډیرو ځایونو کښې قدس الله روحه او ضریحه هم اکثر استعمالیږی یعنې چې الله پاک دې ئې روح پاک کړی - الله پاک دې قبر پاک کړی - او په دې خبره ټول لغتونه یوه خلهٔ دی چې دا د مړو خلقو دپاره استعمالیږی - محترم همیش صاحب په پورته نقل شوی اقتباس کښې دا خبره کړې ده چې "سره" هغه روحانی راز ته وئیلے شی چې له یوې سینې نه بلې ته منتقل کیږی - " بیا وړاندې لیکی چې لسان العرب نومې لغت د " سره" د ځنو نورو معنو سره یوه معنیٰ ځائ او مکان هم کړې ده -" (حواله تیره شوې ده) او له دې دوو خبرو نه د هغوی د عربی دانی اندازه ښه په اسانه لګیدے شی - اصل لفظ "سر" دے او هغه ئې "سره" لیکی د عربی د قواعدو مطابق د "سره" معنیٰ چرې هم ځائ او مکان نهٔ شی کیدے البته د "سر" معنیٰ ځائ او مکان کیدے شی - "سر" پسې وروستو "ه" چې کوم بزرګ ته دعا کولے شی د هغهٔ دپاره ضمیر دے - د "سره" معنیٰ د هغهٔ مکان یا د هغهٔ ځائ - پکار ده چې همیش صاحب داسې لیکلے وے چې "سر هغه روحانی راز ته وائی -" لسان العرب چرته هم "سره" ته دغه معنیٰ نهٔ ده لیکلې -

باقی د همیش صاحب دا خبره چې "عام طور د مغفرت دعا د مړ شوی انسان دپاره کولے شی ولې په پښتنه معاشره کښې د ژوندی انسان دپاره هم د مغفرت د دعا حقیقت په خپل ځائ دے "نو داسې نهٔ ده د مغفرت دعا د مړ او ژوندی دواړو دپاره کیدے شی او دا یوازې په پښتنه معاشره

www.pukhto.net

کښې نه بلکې په هره معاشره کښې شته او هر ځای ژوندیو انسانانو ته د مغفرت دعا کولې شی۔

بل اصل خبره دا ده چې راز ځنګه مقدس کیدے شی۔ او چې هر کله دا کلمه د مرحومو بزرګانو دپاره د رحمة الله علیه په ځای مستعمل ده نو له مرګه پس یا خو د هغۀ روح مقدس کیدے شی او یا د هغۀ قبر ځکه چې له مرګه پس یې هم دغه ځیزونه پاتې وی۔ بل په دې بحث کښې اصلی خبره دا ده چې محمد هوتک دا دعائیه کلمه د یو ژوندی انسان دپاره استعمال کړې ده او یو لغت هم دا نۀ دی وئیلی چې دا کلمات د ژوندیو بزرګانو دپاره استعمالیږی۔ ځکه نو په دې ضمن کښې کۀ ځوک د محمد هوتک یا حبیبی صاحب هر ځومره دفاع کوی نو ځای نۀ نیسی۔ او کۀ ځوک دا وائی چې محمد هوتک محض تذکره نګار وۀ د عربی عالم نۀ وۀ نو حبیبی مرحوم خو یو لوی عالم او فاضل وۀ هغوی ځنګه په دې غلطی غلی پاتې شوی دی۔ خو د اسې ښکاری چې دا غلطی د محمد هوتک نۀ ده بلکې له حبیبی صاحب نه سرزد شوې ده۔

محترم همیش صاحب د حضرات القدس فارسی نه یوه حواله ورکړے ده چې ما ګرانو لوستونکیو ته پیش کړه۔ چې د تذکرې لیکونکی شیخ بدر الدین سرهندی رحمة الله علیه په خپله دغه تذکره کښې د شیخ عبد الحیّ ذکر د "ذکر شیخ عبد الحیّ قدس سره" د عنوان لاندې کړے دے۔ کیدے شی چې هم دا اسې وی ځکه چې ما د دیر کوشش نه پس هم دغه فارسی کتاب پیدا نۀ کړے شو۔ البته د دغه کتاب اردو ترجمه چې مخکښې تری هم

www.pukhto.net

ما یو اقتباس گرانو لوستونکیو ته پیش کړو ما په دے غرض وکتو نو په هغې کښې د هم دغه شیخ ذکر د " شیخ عبد الحیٔ سلمه ربه" د عنوان د لاندې شوے دے۔ کیدے شی د فارسی په دغه ذکر شوے نسخه کښې غلطی شوے وی۔ گنی په دغه نسخه کښې صرف عنوان کښې دغه کلمه استعمال شوے ده په نور ذکر کښې نۀ ده راغلے نو غالب گومان دے چې دغه عنوان مرتب ورکړے وی او د مرتب په وخت کښې به شیخ عبد الحیٔ وفات شوے وو۔ بل دا چې د دغه کتاب د اردو مترجم هیڅ قسمه نوټ نۀ دے لیکلے د اسې ښکاری چې د کوم فارسی کتاب نه یٔ ترجمه کړې ده په هغې کښې قدس سره نۀ وۀ لیکلے شوے۔

هم د دې شاعر په ذکر د قلندر مومند صاحب بل اعتراض څۀ په دې دول دے چې ----

" محمد هوتک د محمد ایاز نیازی په باره کښې لیکی (په میاشتو ورک وی له کوره--- په شپو شپو ویښ وی او پر دښتو او غرو گرځی ذکر کاندې ---اکثر په غرو کښې گرځی) او د دې باوجود هم دومره وخت لری چې د (شعر غونډ دیوان لری)-" 19

د دې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی چې ---

" بل اعتراض دا شوے دے چې هر کله ملا محمد ایاز نیازی په میاشتو ورک (د دغه نه پس بناغلی معترض د "سیاحت کا" الفاظ مصلحتاً نظرانداز کړی دی) په شپو شپو ویښ او په دشتو او غرونو گرځی نو د شعرونو دیوان یٔ کوم وخت ولیکلو؟ مقصد

www.pukhto.net

دا شو چې د ملا محمد ایاز نیازی د دیوان د حقیقت متعلق هم لوستونکی د شک په لومه کرفتارول غواړی چې په دومره مصروف ژوند کښې شاعر آخر د شعرونو دیوان څنګه ولیکلو- خو په دومره مصروف ژوند کښې کهٔ یو سړے د خوب کولو او خوراک څښاک دپاره وخت ویستلے شی نو بیا چې په شپو شپو ویښ هم وی او په دشتونو او غرونو هم ګرځی چې د شعر لیکلو دپاره تري نوري بهترینې موقعې ډیرې کمې دی - په داسې موقعو هم کهٔ یو شاعر شعرونه نهٔ وائی نو آخر بل کوم وخت به یې وائی او بیا محمد هوتک خو د ا هم نهٔ دی وئیلی چې د ملا محمد ایاز نیازی دیوان ډیر ضخیم وو او یا په زرګونو اشعارو مشتمل وهٔ- بهر حال کهٔ احمد شاه ابدالی غوندې مصروف بادشاه د شعرونو دیوان پریښوے شی نو د ملا محمد ایاز غوندې پاکباز عاشق او دانایې راز ولې نه؟" 20

له دې نه پس همیش صاحب د بابر بادشاه د ترک بابری او د خواجه عبید الله د رساله مدحیه حواله هم ورکړې ده - همیش صاحب په بره نقل شوی اقتباس کښې په خپل معترض د خیانت الزام لګولے دے چې بې ځایه دے - ځکه چې هغوی د خپل مقصد خبره راخستې ده او هغې پسې یې خایې خالی پریښې دے چې هر لوستونکے تري دا اندازه په اسانه لګولې شی چې دا پوره اقتباس نهٔ دے پیش شوے - او عام طور باندې خلق د طوالت نه د بچ کیدو په خیال هم دغسې کوی - باقی څومره پورې چې د محمد ایاز سارې

www.pukhto.net

خبره ده نو هغه صفا خبره ده چې د پټې خزانې مولف وائی چې په شپو شپو ویښ وی او په غرو گرځی او په میاشتو له کوره ورک وی - ددې خبرې سره د لوستونکی ذهن ته هم دغه خبره راځی چې بیا نو دا دیوان کله ولیکلو ؟ په دې ضمن کښې د احمد شاه بابا او ظهیر الدین بابر حوالې ورکول ټیک خبره نه ده - د خوشحال بابا نه مصروف ژوند بل هیڅا هم نه دې تیر کړے او له هر چا نه زیاته شاعری ې هم کړې ده - خو د دیو ټولو حضراتو په حقله څوک دا نه شی وئیلے چې په میاشتو میاشتو به له کوره ورک وو او په غرو او دشتو به گرځیدل - بل په هغه زمانه کښې په غرو او دشتو کښې هغه ته د لیکلو سهولیات لکه کاغذ او سیاهی وغیره څنگه میسر وو ؟ حال دا چې د محمد هوتک په وینا هغه په دغو غرو کښې دومره وخت تیر کړے دے چې حیوانات هم ورسره بلد شوی وو او ده ته به ې هیڅ نه وئیل - بل همیش صاحب دا خبره هم کړې ده چې محمد هوتک خو دا نه دی وئیلی چې دیوان ې ډیر ضخیم وه او یا په زرگونو اشعارو مشتمل وه ؟ که داسې وی نو بیا لږ کلام ته دیوان نه شی وئیلے ځکه چې دیوان ردیف وار وی نو که په هر یو حرف ې یو یو غزل هم وئیلی وی اول خو دا ممکنه نه ده چې یو یو غزل ې په هر یو حرف وئیلی وی لکه چې د زړو دیوانونو نه بنکاره ده پخوانیو شاعرانو په یو یو حرف لس لس اته اته غزلې وئیلی دی - خو بیا هم که مونږ یو یو غزل فرض کړو نو د پښتو حروف د څلویښتو نه ډیر دی - او پته خزانه کښې چې د هغه کوم کلام راغلے دے هغه رباعی دی او پخوانیو شاعرانو به چې کله ردیف وار غزلې پوره کړې نو بیا به ې نور

www.pukhto.net

متفرقات په دیوان کښې راوړل - نو ضروری خبره ده چې دیوان ې یو څو غزلې نه وے او نه د محمد هوتک غوندې د خلاصة الفصاحت مصنف د شمار څو غزلو ته دیوان وئیلے شی - هغه څو پیر صفا وئیلی دی چې غوند دیوان لری - د مصروفیتونو باوجود ممکنه ده چې یو شاعر خپل دیوان مرتب کړی ولې محمد ایاز نیازی یو خو په دولسمه صدی کښې ژوند کولو او دا هغه زمانه وه چې د لیکلو دومره سهولیات لکه چې نن سبا ته میسر دی هغه وخت نه وو - د پټې خزانې د روایت مطابق هغه د تارک الدنیا سړے وه په شپو شپو به وینبر وه او په غرو او دشتو به گرځیده - خدا نو که د هغه په ذکر دغه اعتراض وشی نو خاې لری -

په پټه خزانه کښې د محمد ایاز نیازی څلور رباعی د نمونې په طور راوړلی شوی دی - د هغې په حقله محترم مشر قلندر صاحب لیکی چې ---

"دیو څلورو وارو کښې یوه رباعی هم د رباعی په هغه وزن کښې نه ده چې د دولسمې صدی شاعرانو به په کښې رباعیانی وئیلې - د دې رباعی په جدید وزن کښې هم دریمه مصرع له وزنه خارجیږی -

زړونه خوښ کړه دانیکی ده د ربنتیا
مکړه چا باندې تیر نه په جفا
د خدایې کورمه ورانوه په ستمو
د خدایې کورو گنه زړه چې وی صفا

www.pukhto.net

دا رباعی د "دل بدست آرد که حج اکبر است

از هزاراں کعبہ یک دل بہتر است

د تاثر لاندې لیکلې شوې ده خو دا خبره محۀ دومره اهمیت نۀ لری

خکه چې پټه خزانه کښې نور هم ډیر شعرونه داسې دی۔" (21)

په پټه خزانه کښې د محلورو معلومو شاعرانو نه علاوه د نورو

تقریباً ټولو شاعرانو په کلامونو کښې فنی غلطۍ رشته او قلندر صاحب پرې

په خپل کتاب کښې د "فنی ارخونه" د عنوان لاندې بحث کړے دے۔ محترم

همیش صاحب دهغوی د دې اعتراض په جواب کښې لیکی۔۔

"بل اعتراض دا شوے دے چې د محمد ایاز نیازی د کلام د نمونې

په طور کومې محلور رباعیانې ورکړے شوی دی دغو کښې یوه

رباعی هم د رباعۍ په هغه وزن نۀ ده کوم کښې چې د دولسمې

صدۍ شاعرانو رباعۍ وئیلی دی ۔ دا اعتراض هم غلط دے ۔

حافظ محمد چې د عبد الحلیم اثر افغانی په قول د دولسمې

هجری صدۍ د وروستۍ زمانې یو مشهور دینی عالم، صوفی

او پښتو ژبې شاعر او ادیب تیر شوے دے د هغۀ دا محو رباعیانې

د وزن دا اعتراض باطلوی"۔۔ (22)

او له دې نه پس یې د حافظ محمد دوه رباعیانې پیش کړی دی۔ او په حاشیۀ

ورته "تیر هیر شاعران ص ۹٤" لیکلی دی ۔ حالانکې په تیر هیر شاعران

کښې دغه کلام په صفحه ۹۵ راغلے دے۔

د دې په جواب کښې زۀ دومره عرض مناسب ګڼم چې په تیر هیر

www.pukhto.net

شاعران کښې د حافظ محمد د کلام نمونو ته اثر صاحب مرحوم رباعیاني وئیلی دی ـ او په صفحه ۹۳او ۹٤ یې ورومبۍ رباعی دا پیش کړې ده ـ ـ

نور روښان دے لکه وۀ په هغه شان

څۀ شو کۀ یې نۀ وینی راندۀ نابینایان

شهد هغه رنګ خوارۀ عجب شیرین دی

کۀ پرې نۀ پوهیږی څۀ شو تلخ دهان

ناامید شو همګی د تشنګانو

چې خبر نۀ شو په بحر بې پایان

لکه ځوک چې وی دننه په تیارۀ کښې

نور کم نۀ شۀ د آفتاب ماه تابان

حل حرمت سره جدا دی یکتا نۀ دی

کۀ پرې نۀ پوهیږی څۀ شو منطقیان 23

اوس کۀ زمونږ فاضل نقاد دې ته هم رباعی وائی نو هغه به دهغوی فراست وی ـ

د ملا محمد ایاز نیازی په رباعیې د قلندر صاحب د دې اعتراض جواب همیش صاحب نۀ دے کړے چې دا د فارسی ترجمه ده ـ په دے حقله یې خاموشی اختیار کړے ده ـ البته د رباعیې دریمه مصرعه چې قلندر صاحب دوزن نه خارج ګڼلے وه په حقله لیکی چې ـ ـ

" پاتې شوه د محمد ایاز نیازی دلاندې رباعیې د دریمې مصرعې په وزن د اعتراض خبره نو دا هم د کاتب سهو ښکاری او کیدے شی

www.pukhto.net

چې د "ستمونو" په ځای یې "ستمو" لیکلے وی ۔" (24)

مطلب دا چې د کوم اعتراض جواب نۀ کیږی نو هغه د کاتب په اوږو بارولے شی ۔

د نهۀ دیرشم شاعر محمد حافظ بارکزی په ذکر د قلندر صاحب اعتراض څۀ په دے ډول دے ---

"نهۀ دیرشم شاعر محمد حافظ بارکزے دے چې د محمد هوتک معاصر خو دے ولې دے ورسره خپل تعلقات نۀ بیانوی ۔ او د هغۀ د کلام نمونه یې هم د هغۀ له کتابه راخستې ده ۔ حسب معمول یې د پیدائش د کال ذکر نۀ دے کړے ۔" (25)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې بناغلی همیش صاحب د اوسنی لیکوال حواله ورکړے ده چې په هغې کښې هم دغسې شوی دی ۔ نو گران لوستونکی کۀ داد شوی اعتراض جواب گڼی نو داد هغوی خو بنه ده ۔ په دے ما څو ځله مخکښې هم خبره کړې ده ۔

د څلویښتم شاعر نصر الدین خان اندړ په ذکر قلندر صاحب داسې اعتراض کوی ---

" د څلویښتم شاعر نصر الدین خان اندړ د پیدائش د کال او د ژوند د پیښو ذکر نۀ دے شوے ۔" (26)

د دې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

" کۀ محمد هوتک د نصر الدین خان اندړ د ژوند د پیښو ذکر نۀ دے کړے او یا د پیدائش کال یې نۀ دے ښودلے خو نۀ به وو ورته

www.pukhto.net

معلوم کنه ـ د شاعر په حقله دغه لږ ډیر معلومات هم د پښتو ادب ډیر لوئ خدمت دے ـ بیا هم د اسې ډیر مثالونه شته چې ډیرو تذکره نګارانو په خپلو تذکرو کښې د ډیرو لیکوالو نۀ خو د پیدائش کال ښودلے دے او نۀ ئې د ژوند د پیښو په حقله څۀ لیکلی دی ـ مثلاً تیر هیر شاعران کښې عبد الحلیم اثر افغانی د "مسکین"، "محمد فهیم" او د اسې نورو ډیرو شاعرانو نۀ خو د پیدائش کال په ګوته کړے دے او نۀ ئې د هغو د ژوند د پیښو ذکر کړے دے ـ" (27)

دلته بیا هم هغه چل شوے دے ـ د اعتراض په جواب کښې د نورو غلطیو تکرار شوی دی ـ حالانکې نصر الدین خان اندړ د محمد هوتک همعصر دے او کۀ په تیر هیر شاعران کښې اثر افغانی صاحب د کومو خلقو د پیدائش تاریخونه او د ژوند پیښې نۀ دی لیکلی نو په هغې کښې یو هم د هغۀ همعصر نشته ـ ځکه چې هغه ټول تیر هیر شاعران دی ـ بیا هم اثر افغانی مرحوم د مسکین په حقله لیکی ----

"مسکین د شیخ رحمکار کاکا صاحب مرید او خلیفه وۀ او په خواجه مسکین صاحب به یادیدلو (ملاحظه کړئ تذکره شیخ رحمکار صفحه ۱۳۵ په حواله د مجمع البرکات) عالم صوفی او د پښتو ژبې شاعر دے ـ هر کله چې کاکا صاحب علیه الرحمة په ۱۰۶۳ هجری کښې په حق رسیدلے دے نو وئیلے شو چې خواجه مسکین د ۱۱۰۰ هجری داخری حصې پښتون شاعر دے ـ" (28)

www.pukhto.net

دغه شان د محمد فهیم په حقله لیکی ---

"دا محمد فهیم د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب علیه الرحمة نمسے دے او شجره نسب یې د اسې ده -- محمد فهیم ابن دلد ار الدین (دلد ا رگل) ابن آزاد گل (ضیاء الدین شهید) ابن شیخ رحمکار علیه الرحمة (تذکره شیخ رحمکار ص - ۱۶۶) په دې حساب د دولسمې صدۍ د منخنۍ حصې شاعر دے۔ 29

گرانو لوستونکیو ته به معلومه وی چې مرحوم اثر صاحب د هغو زړو شاعرانو تذکره لیکلے ده چې دري سوه کاله اګاهو تیر شوی وو او دومره معلومات یې ورکړی دی او د پټې خزانې مولف د خپل همعصر شاعر په حقله د معلوماتو ورکولو نه عاجزه دے۔ او زمونږ فاضل نقاد یې موازنه د تیر هیر شاعران سره کوی - سړے حیران شی - په تیر هیر شاعران کښې چې اثر صاحب مرحوم کوم ماخذونه ښئیلی دی هغې کښې دیر شته ولې د پټې خزانې د مولف یو ماخذ تر اوسه نه دے پیدا شوے۔

له دغې نه پس د یو ځلویښتم شاعر ملا نور محمد غلجی په ذکر قلندر صاحب داسې اعتراض کوی ---

" د دۀ د ذکر په سلسله کښې دا خبره اهمه ده چې دۀ به "مشکواة شریف او بخاری شریف او هدایه او کنز او طریقه محمدیه او نور مروجه کتب" په یو ځای لولول - حالانکې د ځو سوه کاله راسې چې د درس نظامی کوم کتاب مقرر دے په هغۀ کښې دا کتابونه بیل بیل مضامینو سره د تعلق په وجه یو استاذ نه

www.pukhto.net

لولوی۔" (30)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب کښې لیکی ---

"بناغلے معترض په خپله وینا لوستونکو له دا تاثر ورکوی چې ګنی ملا نور محمد غلجے چرته په یوه داسې باقاعده او لوړ دارالعلوم کښې کم از کم پروفیسر وو چرته چې لږ نه لږ په شلګونو استاذان او په سوګونو شاګردان وو ۔ خو ولې دا ممکنه نه ده چې چرته په یو جمات کښې پخپل فالتو وخت یو دوه ځلور د علم خواهشمندو ته چې کیدلے شی هغوی هم د ژوند له ځنو مجبورو له مخه د باقاعده وخت نه درلودلو په وجه له شاعر ځخه ذکر شوؤ کتابونو درس اخستلو؟ او که داسې نه هم وی نو د نن نه کم از کم شپیته کاله وړاندې نسبتاً د علم په دغه جدید دور کښې که په سرکاری مدرسو کښې هم یو استاذ ځلور پینځه مضمونونه لولولے شول نو که ځو سوه کلونه وړاندې ملا نور محمد غلجی داسې کړی وی نو دے کښې د اعتراض ځه خبره ده؟" (31)

د قلندر صاحب اعتراض ما پیش کړو هغوی داسې ځه خبره نه ده کړے چې د هغې نه دا تاثر ولاړیږی چې ګنی ملا نور محمد غلجے چرته په لوړ او باقاعده د ارالعلوم کښې پروفیسر وو ۔ خو محترم تړې دغه تاثر اخستے دے ۔ دے ته زه د هغوی فراست وئیلے شم ۔ د قلندر صاحب په

www.pukhto.net

اقتباس کښې د نصاب په ځای کتاب په غلطی لیکلے شوے دے چې په "سبحان الله" کښې ټیک شوے دے خو بیاغلے همیش صاحب پرې نه دے پوه شوے او د نصاب په ځای یې کتاب هم هغسې لیکلے دے ، حالانکې دا یوه ډیره بیکاره غلطی ده ځکه چې د درس نظامی مقرر شوے کتاب نه وی بلکې مقرر شوے نصاب یې وی - اوس زه د نور بحث نه اګاهو د پټې خزانې اصل عبارت نقل کوم، محمد هوتک ددے شاعر په ذکر کښې لیکی ---

"ملا نور محمد اوس په پنجوائی کښې تدریس کا مشکوة شریف او بخاری شریف او هدایه او کنز او طریقه محمدیه او نور مروجه کتب په تدریس لولی -" 32

د پټې خزانې له دې عبارت نه صفا بیکاره کیږی چې ملا نور محمد غلجی تدریس کولو او دغه یې پیشه وه - ځکه چې محمد هوتک دا نه دی لیکلی چې په یو جومات کښې امام وو او کله کله به ورله دوه ځلور تنه راتلل او دینی سبق به یې تري وئیلو - د قلندر صاحب اعتراض دا دے چې دا ټول کتابونه د بیلې بیلې موضوع سره د تعلق لرلو په وجه یو استاذ نه لولوی او هم دا ټیک خبره ده - لکه نن سبا هم زمونږ په عالمانو کښې څوک شیخ القرآن دی څوک شیخ الحدیث دی - څوک په فقه کښې متخصص دی او څوک په منطق او ادب کښې شهرت لری - دا ټول علوم په یو ځای لولول یو نادر کار دے او که دا سې څوک وی هم نو مونږ وئیلے شو چې دا سې ممکنه ده خو د اسې خلق نادر وی چې په دے ټولو علومو په یو وخت دومره پوهه لری چې تدریس یې کولے شی - نو که د ملا نور محمد غلجی متعلق هم

www.pukhto.net

محمد هوتک دا وئیلے وے چې دیر متبحر عالم دے او دا ټول علوم تدریس کوی نو مونږ به په هغې نادرو خلقو کښې ګڼلے وے ۔ د قلندر صاحب ددې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب دانګریزی سکولونو ذکر کړے دے چې یو استاذ ځلور پینځهٔ مضامین لولوی ۔ خو شاید چې همیش صاحب ته دا پته نشته چې دینی علوم ځلور پینځهٔ نهٔ دی بلکې د درس نظامی مطابق ټول اوولس فنون دی ۔ او بیا د یو یو فن ګڼ کتابونه په نصاب کښې شامل دی ۔ ځکه نو دانګریزی سکولونو د مضامینو سره ئې موازنه پکار نهٔ ده ۔

قلندر صاحب د پټې خزانې د دوه ځلوېښتم شاعر عبد الطیف الحکزی په ذکر داسې اعتراض کړے دے ۔۔

" د دې شاعر په ذکر کښې د وږد نظم مآخذ نهٔ دے ښئیلے شوے حالانکې د شاعر په باره کښې وئیلی شوی دی چې هغه په مجالسو کښې اشعار ارتجالاً لولی او دا صراحت نهٔ دے شوے چې د ددهٔ کوم دیوان یا د شعرونو مجموعه هم شته ۔" (33)

د هغوی ددې اعتراض په جواب کښې همیش صاحب لیکی ۔۔۔

"دارمستیټر په خپل کتاب "د پښتو نخوا د شعر هار وبهار" کښې خو هم دا کشرو وږدو وږدو چاربیتو مآخذونه نهٔ دی ښودلی او فی البدیع چاربیتی شاعرانو لکه نوره دین، حمید او احمد ګل وغیره په ضمن کښې ئې دا صراحت نهٔ دے کړے چې دغو شاعرانو د چاربیتو کومه مجموعه هم لرله کهٔ نه ۔ حالانکې دا د هغهٔ دپاره ګرانه خبره ځکه نهٔ وه چې یو خو د حکومت مرسته

www.pukhto.net

ورسره وه او بل دغو شاعرانو کښې اکثر ژوندی وو او دا قسمه معلومات ترې مولف په ډیره اسانه ترلاسه کولے شول۔" (34)

په دې حقله به زهٔ دومره عرض وکړم چې نهٔ خو دا رمستیتر دا دعویٰ کړے ده چې ما د پښتو نخوا د شعر هار وبهار دپاره دیرش کاله تحقیق کړے دے او نهٔ هغه تذکره ده ۔ د هغهٔ غرض د پښتو شاعری جمع کول وو د شاعرانو متعلق معلومات ورکول نه ۔ لکه چې د کتاب له نامې نه ښکاره ده ۔ بیا هم هغهٔ پوره کوشش کړے دے او چې کوم معلومات یې نهٔ دی ترلاسه کړی نو د هغې په حقله یې په مقدمه کښې خپل عذر پیش کړے دے ۔ نهٔ پوهیږم چې د همیش صاحب غوندې عالم بنده ولې دا کتاب په دلیل کښې پیش کړے دے ۔ محمد هوتک تذکره لیکله نو په هغې کښې دغه معلومات چې اعتراض پرې کولے شی ثبت کول پکار وو ۔ او دا د تذکره نګار ذمه واری ده ۔ او کهٔ بل تذکره نګار هم دغسې غلطی کړے وی نو هغه هم غلطی ده ۔ او د یو اعتراض د جواب دپاره د بل غلطی په ګوته کول د اعتراض جواب نهٔ شی کیدے۔

د خلویښتم شاعر سید ال خان ناصر په ذکر قلندر صاحب د اسې اعتراض کوی ---

"د ذکر ورومبی فقره داسې ده "محمد هوتک له الف خان ناصره روایت کوی" د خپل خان متعلق د واحد غائب دا صیغه په ټول کتاب کښې په ورومبی ځل استعمال شوے ده او سبب یې نهٔ دے ښکیلے شوے ۔ د سید ال خان ناصر غوندې د مشهور او معروف

www.pukhto.net

سړی د پیدائش د کال ذکر هم نه دے شوے او نه دا خبره څرګنده کړے شوے ده چې د دۀ دا بدله له کومه اخستے شوے ده ۔ د سید ال خان ناصر په باره کښې محمد هوتک دا هم لیکلی دی چې دے عالم سړے وۀ مروجه علوم یې لوستی وو خو کومه بدله چې د دۀ د کلام د نمونې په طور نقل شوے ده هغه د اسې ماته ګوډه، بې وزنه او غلطه ده چې له هیڅ عالمه یې توقع نه شی کیدے۔" (35)

د محترم قلندر صاحب د دې اعتراض چې "په ټول کتاب کښې په ورومبی ځل محمد هوتک د ځان دپاره د واحد غائب صیغه استعمال کړے ده او د دې یې هیڅ سبب نه دے بیان کړے" جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی ---

"دلته شاعر د خپل تحریر انداز بدل کړے دے او دا د هر لیکوال حق دے ۔ د انداز د دغه بدلون په حقله د کوم قسم اعتراض هیڅ جواز نه لری"۔(هکذا) (36)

ګران لوستونکی به پوه شوی وی چې قلندر صاحب د انداز تحریر د بدلیدو خبره نه ده کړے ۔ هغوی دا وئیلی دی چې په ټوله پټه خزانه کښې په ورومبی ځل محمد هوتک د ځان دپاره د واحد غائب صیغه استعمال کړے ده او د هغې وجه یې نه ده بیټیلے ۔ محترم همیش صاحب د پټې خزانې د مولف دغې حرکت له د "انداز تحریر بدلولو" نامه ورکوی او د لیکونکی حق یې ګڼی ۔ خو دا د انداز تحریر بدلول نه دی ۔ زۀ دا منم چې لیکونکے اختیار لری چې د لیک په وخت د بیان پیرایه بدله کړی یعنې چې

www.pukhto.net

په یو ځایې کښې د یو ځیز دپاره کوم الفاظ استعمال کړی نو بل ځایې ې بیا د هغې لفظ دپاره نهٔ استعمالوی خو چې کوم الفاظ استعمالوی نو د هغې مطلب هم هغه وی - په پټه خزانه کښې هر ځایې محمد هوتک دا وائی "ماته پلار روایت وکا" ماته فلانی ووې" وغیره وغیره خو د سید ال خان ناصر په ذکر کښې له دې جملې " محمد هوتک له الف خان ناصره روایت کا" نه داسې ښکاری چې ځوک دریم تن داذکر کوی - او محمد هوتک ې هیڅ وجه نهٔ ښئ - او بیا ډیره عجیبه خبره خو دا ده چې فاضل مفسر او محشی چې علمیت ې مسلم وهٔ هم په دے حقله ځهٔ نهٔ دی وئیلی - زما په خیال د دې غلطی وجه دا ده چې دا تذکره یو تن د بل لیکونکی په نوم لیکله نو تر وسه وسه ې کوشش کړے دے خو د سید ال خان ناصر په ذکر کښې تر ې دا خبره هیره شوے ده خکه نو په ځایې د دې چې دا ولیکی چې "ماته الف خان ناصر روایت وکا" لیکلی ې دی چې "محمد هوتک له الف خان ناصره روایت کا" او دا غیر شعوری طور سره شوی دی - هر ځو کهٔ دا داند از تحریر بدلول نهٔ دی بیا هم همیش صاحب له پکار وو چې د متقدمینو له نثر نه ې دا سې د" انداز تحریر د بدلولو" ځهٔ نمونې پیش کړے وے -

د قلندر صاحب د دې اعتراض چې " باوجود د دې چې شاعر یو عالم سړے وهٔ بدله ې ماته گوډه، بې وزنه او غلطه ده " (حواله اګاهو تیره شوے ده) په جواب کښې همیش صاحب لیکی ---

" ضروری نهٔ ده چې یو ډیر ښهٔ عالم دې ډیر ښهٔ شعر ونه هم ووائی - شاعری د لوې خدائې تعالیٰ له خوا یوه تحفه ده چې په

www.pukhto.net

چا ئې پیرزو شی هغه ته ئې ورکړی - د شعر و سخن په هر دور کښې دیر د اسې مثالونه شته چې د دیرو کم علمو شاعرانو په مقابل کښې د دیرو عالمانو شاعری ټیټه او کم وقعت حامله وی -" (37)

د فن په حواله سره تخلیق او اختراع یوه معنیٰ لری او د فن ظاهری اصول لکه بحور او اوزان وغیره بله معنیٰ لری - د تخلیق او اختراع تعلق د فطری استعداد سره دے دا که د یو عالم شاعر برعکس په یو نالوستی شاعر کښې موجود وی نو د هغه شاعری به د معنویت له اعتباره د عالم په نسبت وچته شاعری وی - خو تر څو پورې چې د فن د خارجی اصولو تعلق دے نو د دې دپاره اکتسابی استعداد پکار وی - او په اکتسابی پوهه کښې عالم ته پکار دی چې په نالوستی فنکار یا شاعر د خپلې پوهې یا اکتساب څخه نا څخه برتری ولری - د قلندر مومند صاحب د شوی اعتراض تعلق هم د دې دویم قسم یعنې د فن خارجی اصولو سره دے - د بناغلی همیش صاحب خبره په خپل ځائ ټیک ده خو قلندر صاحب چې د سید ال خان ناصر په شاعری کوم اعتراض کړے دے نو په هغې کښې هغوی دا خبره نه ده کړے چې گنی د سید ال خان ناصر شاعری ټیټه او کم وقعته ده - بلکې هغه ماته گوډه او بې وزنه گڼلی ده - او د هغې په رڼا کښې مونږ نومورے شاعر د فن د خارجی اصولو نه ناخبره گڼلے شو - یو عالم شاعر ټیټه او کم وقعته شاعری خو کولے شی ولې ماته گوډه او بې وزنه شاعری نه شی کولے -

www.pukhto.net

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۸
2. هم دغه کتاب ص - ۱۹۹،۱۹۸
3. تول پارسنګ ص - ۱۹۹
4. پټه خزانه فی المیزان ص - ۱۹۹
5. هم دغه کتاب ۲۰۰،۱۹۹
6. تول پارسنګ ص - ۲۰۲
7. هم دغه کتاب ص - ۲۰۴،۲۰۳
8. بیان اللسان د قاضی زین العابدین میر تهی
9. مصباح اللغات د عبد الحفیظ بلیاوی
10. فیروز اللغات جدید ایډیشن اردو
11. القاموس العصری د الیاس انطون الیاس
12. A Dictionary of Urdu Classical Hindi & Englh

    د John T. Platts
13. اردو پښتو لغت دویم جلد د سید انوار الحق
14. جامع اللغات څلورم جلد د عبد المجید
15. A Comprehensive Persian & English Dictionary

    د F.Steingass Ph.D
16. Arabic English Lexicon

www.pukhto.net

د Edward William Lane

17 فیروز اللغات اردو

18 حضرات القدس اردو ترجمہ مقدمہ ص ۔ ۸۷

19 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۲۰۲،۲۰۱

20 تول پارسنگ ص ۔ ۲۰۵

21 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۲۰۲

22 تول پارسنگ ص ۔ ۲۰۶،۲۰۵

23 تیر ھیر شاعران ص ۔ ۹۴،۹۳

24 تول پارسنگ ص ۔ ۲۰۶

25 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۲۰۲

26 ھم دغہ کتاب ص ۔ ۲۰۳،۲۰۲

27 تول پارسنگ ص ۔ ۲۰۸،۲۰۷

28 تیر ھیر شاعران ص ۔ ۱ حاشیہ

29 ھم دغہ کتاب ص ۔ ۵۹

30 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۲۰۳

31 تول پارسنگ ص ۔ ۲۱۰۔۲۰۹

32 پتہ خزانہ دوھم چاپ ص ۔ ۱۶۴،۱۶۲

33 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۲۰۳

34 تول پارسنگ ص ۔ ۲۱۰

35 پتہ خزانہ فی المیزان ص ۔ ۲۰۴،۲۰۳

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

۵۰۸

36 تول پارسنگ ص - ۲۱۱

37 هم دغه کتاب ص - ۲۱۱

www.pukhto.net

ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ

د پټې خزانې دریمه برخه د هغو زنانوو په ذکر مشتمله ده چې هغوی په پښتو کښې شاعری کړې ده - په دوی کښې وړومبے زنانه نازو توخی ده چې د پټې خزانې څلور څلویښتمه شاعره ده - د دې په ذکر د قلندر مومند صاحب له خوا یو اعتراض داسې شوے دے---

" د دې محترمې د پیدائش کال خو "محمد هوتک" ته معلوم وۀ او ۱۰۶۱ هجری یې ثبت کړے دے خو د وفات کال یې نۀ محمد هوتک ته معلومه وۀ او نۀ د "محمد هوتک" فاضل او معمر والد بزرګوار ته چې په ۱۰۲۹ هجری کښې پیدا شوے وۀ او د بی بی نازو نه ۳۲ کاله مشر وۀ او په کال ۱۱۳۶ هجری کښې د میرویس نیکۀ له وفاته (۱۱۲۷) نهۀ کاله پس وفات شوے وۀ - [1]

محترم همیش صاحب د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې لیکی چې --

" د مرحوم اسد قریشی تذکره سویلی ستوری کۀ وپلټلے شی نو معلومه به شی چې تذکره نګار باوجود د دې چې د مرحوم رشید علی خان دهقان همعصر وۀ د پیدائش کال خو یې ۱۹۲۶ عیسوی په ګوته کړے دے ولې د مړینې په حقله یې لیکی "لږه موده کیږی چې وفات شو" - " [2]

محمد هوتک چې د نازو انا متعلق څومره معلومات ورکړی دی

www.pukhto.net

دومره ې په خپله دغه تذکره کښې د چا په حقله نه دی ورکړی ۔ خکه نو پکار وو چې د هغې د وفات کال ې هم لیکلے وے ۔ حالانکې د هغې د پیدائش کال ې لیکلے دے ۔ د پیدائش د کال لیکلو نه ې د وفات کال لیکل زیات اسان وو خکه چې نازو توخی د محمد هوتک د والد بزرګوار همعصره وه ۔ باقی که اسد قریشی دغسې کړی وی نو هم غلطه ې کړے ده ۔ خو دا د محمد هوتک د غلطی جواب نه شی کیدے ۔

هم د دې شاعرې په ذکر قلندر مومند صاحب وړاندې دا اعتراض کوی چې ---

" د نازو بی بی دا رباعی محمد هوتک ته د هغه پلار اورولے وه

سحر که وو د نرکس لیمه لانده
څاڅکے څاڅکے ې له ستر کو څڅیده
ما ویل څه دی کښلی ګله ولې ژاړې
ده ویل ژوند مې دے یوه خله خندیده

دا رباعی د اقبال له دې رباعی نه ماخوذه ده :-

شبے زار نالید ابر بہار
کہ این زندگی گریہ پیہم است
درخشید و برق سبک سیر گفت
خطا گفتہ خندہ یک دم است

ترجمه :- یوه شپه د سپرلی وریځې په زار زار ژړل چې دا ژوند مسلسله ژړا ده ۔ تیز برق وپرقیده او وے وئیل خطا دې

www.pukhto.net

وونیل (ژوند) دیوي لحظي خندا ده ـ

د نازو ادي سره ترلي شوي رباعی د خیال او مقصد له رویه ډیره تیته بلکي غلطه ده ـ ځکه چې گل سره د سحر د خندلو تلازمه ترلي شوے ده او د نازو ادي گل سحر ژاړی بیا چې پوښتنه کیږی نو گل وائی چې زما ژوند یوه خلهٔ خندیدهٔ دی حالانکي له دي نه مخکښي په ژړا وهٔ ـ داسي غیر شاعرانه رباعی داقبال دیو لطیف شاعرانه خیال نه د متاثر شوی د دریمي درجي د شاعر تخلیق کیدے شی ځکه چې اقبال د سپرلی وریځ په ژړا وینی او وائی چې ژوند یوه مسلسله ژړا ده ځواب کښي ورته برق وپرقیدهٔ (او مرشهٔ) او وے وئیل چې دا خبره دي صحیح نهٔ ده بلکي ژوند د یوي لمحي خندا ده ـ گران لوستونکی دي دواړه رباعیاني په خپله د غور لاندي راولی او د اصل او نقل قضاوت دي پخپله وکړی ـ" 3

د هغوی د دي اعتراض په جواب کښي محترم همیش صاحب لیکی چې ---

" پاتي شو د رباعی متعلق دا اعتراض چې د علامه اقبال د یوي رباعی نه ماخوذ ده ـ دغه اعتراض ته په شعری ادب کښي د توارد له حقیقته کهٔ انکار وونیلے شی نو بې ځایه به نهٔ وی ـ" 4

له دي علاوه هغوی په خپل کتاب کښي هم په دغه بحث کښي په حاشیه لیکی ---

www.pukhto.net

"دنازو توخی د دغه رباعیږ او علامه اقبال د شعرونو ذکر مرحوم عبد الرؤف بینوا د خپل تالیف " میرویس نیکهٔ" په صفحه ۲۹ کړے دے ۔ او باده فروش کم از کم د علامه اقبال د دغو شعرونو (چې د رباعیږ په نامه یې د خپل کتاب په صفحه ۲۰۵ نقل کړی دی) په حقله د مرحوم بینوا د ذکر شوی تالیف په حواله نهٔ ورکولو د ادبی دیانتد اریږ تقاضا هم نهٔ ده تر سره کړے او د علامه اقبال د شعرونو نه چې دے ورته رباعی وائی دغه پینځم شعر د کوم مصلحت له مخه نهٔ دے راوړے۔۔

نه دانم گلشن کی بر داین خبر

سخن ها میان گل و شبنم است

د علامه اقبال د شعرونو په حقله مرحوم بینوا لیکی "هم دا پورتنے فکر دے چې د اوسنی عصر مشهور فیلسوف او شاعر اقبال په خورو الفاظو کښې ادا کړے دے۔" 5

د اقبال د شعرونو ذکر له هر چا نه اگاهو محترم حبیبی صاحب د میزان په لسمه ۱۳۲۳ هجری شمسی کښې په پته خزانه د خپلو تعلیقاتو په اخره کښې د "نگاهی به نشر کتاب پته خزانه" د عنوان د لاندې کړے دے۔ (و گورئ پته خزانه دوهم ایډیشن ص ۲۸۱) خو داسې بنکاری چې گران مشر پته خزانه لا پوره نهٔ ده کتلې۔

کهٔ محترم همیش خلیل صاحب لکه د محتسب ادبی خیانت کونکیو پسې گرځی نو د "نازو انا یاد" کښې دغه خبره پوهنمل عبد

www.pukhto.net

الخالق رشید هم بې د بینوا د حوالې نه کړے ده - په هغې خیانت د محترم نقاد خاموشی د کوم مصلحت له مخه ده ؟ عبد الرؤف بینوا خو د اقبال او نازو انا خیال یو ګڼی او قلندر صاحب د نازو انا خیال ټیټ او غلط ګڼی -

بناغلی عبد الرؤف بینوا د نازو انا دغه رباعی د اقبال د شعرونو ماخذ ګڼی - حالانکی د اسې نه ده پکار - ځکه چې د خیال له رویه د نازو انا رباعی دومره ټیټه او بې خونده ده چې د یو مبتدی شاعر نه ې توقع نه شی کیدے د اقبال په شعرونو کښې د سپرلی د وریځې وریدل د ژړا دپاره تلازمه ده او د نازو انا په شعرونو کښې څاڅکے څاڅکے څخیدل د ژړا دپاره تلازمه ګرځولے شوے ده - د علامه اقبال په شعرونو کښې برق یو پرق وکړی او ورته ووائی چې غلط دې ووې ژوند یوه خلهٔ خندا ده - یعنې د برق پرقیدو له د خندا سره تشبیه ده - ولې د نازو انا ګل ژاړی او چې هغه تړې پوښتنه وکړی نو وائی چې ژوند مې یوه خلهٔ خندا ده - حالانکې هم دغه ګل له سحره راهسې ژاړی خندلی ې له سره دی نه - بل دا چې لکه قلندر صاحب وئیلی دی ګل سره د سحر د خندلو تلازمه تړلې شوے ده - لوستونکی دې پرې غور وکړی - باقی پاتې شو د اقبال شعرونو ته رباعی وئیل نو دا غلطی له قلندر صاحب نه شوے ده - او کهٔ د پینځم شعر راوړو خبره وی نو هغه ې ځکه نهٔ دے پیش کړے چې د هغې د موضوع سره تعلق نه وو - هر څهٔ چې وی خو د نازو انا دغه رباعی د اقبال د شعرونو نه ماخوذ ده - او د خیال له رویه ډیره بې خونده او ټیټه ده -

د پټې خزانې پینځهٔ څلویښتمه شاعره "حلیمه حافظه" ده - د دې په

www.pukhto.net

ذکر قلندر صاحب داسې اعتراض کوی --

" پینځه محلو یینتمه شاعره حلیمه حافظه ده چې محمد هوتک ې د خوشحال بابا لور او د عبد القادر خان خور ګڼی - د اشرف خان هجری هغه نظم کښې چې په کښې ې د خپل خاندان د شاعرانو ذکر کړے دے د دې بی بی ذکر نشته - تاریخ مرصع ې هم ذکر نه دے کړے نو "در حیرتم که باده فروش از کجا شنید" کهٔ وو ټیلے شی چې خوشحال بابا، اشرف خان هجری او افضل خان د پښتنو روایاتو مطابق د خپل خاندان د زنانو ډنک نهٔ شهٔ کولے نو دا به غلطه ځکه وی چې خوشحال بابا د مرجانی ابی ذکر کولو او د یوې لور تاج بی بی نوم ې اخستلو چې "نیک بخته لور مې وه قرآن خوانه، کتابونه ې لوستی وو په طاعت په عبادت کښې وه" او چې افضل خان د تاریخ مرصع په یوه صفحه کښې د خپل خاندان د لوستو مستوراتو نومونه اخستے شو نو د خوشحال بابا د یوې شاعرې لور ذکر به ې هم کړے وے - خو فرض ګڑی چې دا اعتراض صحیح دے نو بیا د محمد هوتک والد صاحب ته دا تفصیلات چا ورسول او بیا خاص طور سره د بنو د سفر په دوران کښې چې له اکوړی نه د هغه وخت د مزل له اعتباره دیر لرې ځای وهٔ -" 6

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې صاحب د تول پارسنګ لیکی چې ---

www.pukhto.net

"دا خبره بیخی غلطه ده چې ګنی اشرف خان هجری په خپل نظم کښې د خپل تبر د ټولو شاعرانو ذکر کړے دے۔ البته یو څو نومونه یې ذکر کړی دی او هغه هم نارینه دی۔ بیا خوشحال بابا د خپلو یو دیرشو لونو او نه اشرف خان هجری او نه افضل خان د دغو تفصیل ذکر کړے دے او نه یې د ټولو د نومونو ښودلو ضرورت محسوس کړے دے۔ بیا خوشحال بابا که په خپل بیاض کښې د تاریخ مرصع په صفحه ۳۱۵ د خپلې یو لور (دلته د ګرامر مطابق د یوې لور پکار وه) تاج بی بی نوم اخستے دے نو هغه د نارو غتیا په مخصوصو حالاتو کښې اخستلے شوے دے۔ دغه شان د خپلې یو خور (دلته هم یوې خور پکار وه) او قادر خان د مور ذکر یې هم کړے دے چې دغه دواړه هم لکه د تاج بی بی د ناروغه وے۔ بلکې تاج بی بی خو دومره سخته ناروغه وه چې مړه هم شوه او بیا د خپل وصیت مطابق د خپلې نیا تر څنګه ښخه کړے شوه۔ خوشحال بابا که د تاج بی بی نوم اخستے دے نو هغه په سخته ناروغتیا کښې د پدری محبت له جذبې آخر بل څه کیدے شی؟ د خوشحال بابا خو دیرش نوری هم لونه وے (دلته "دیرش نورې لونه هم وے" لیکل پکار وو) دهغو نومونه یې ولې نه اخستل؟" دغه شان دا خبره بې بنیاده ده چې د تاریخ مرصع په صفحه ۲۵۷ افضل خان د خپل خاندان د لوستو مستوراتو نومونه اخستی دی"۔

www.pukhto.net

د پټې خزانې له روایته دا خبره بنکاره ده چې بی بی حلیمه یوه ښه شاعره وه، د قرآن حافظه وه، او په خپل عصر سر آمد اقران وه. مشکلات د مثنوی شریف او مکتوبات د حضرت امام ربانی قدس سره یې حل کول. نو د خوشحال بابا د نورو لوڼو په نسبت پکار وو چې د دې ذکر خوشحال بابا اشرف خان هجری یا افضل خان ضرور کړے وے. د خوشحال بابا نه دا توقع نه شی کیدے چې هغه به د دومره ښې شاعرې او عالمې لور ذکر نه کولو. هغه خو د بهرام سره د سختې دښمنۍ باوجود هم د هغه د خوښ نویسۍ تعریف کړے دے. بل که چرې د خوشحال بابا په لوڼو کښې بی بی حلیمه دومره ښه شاعره وے لکه څنګه چې محمد هوتک یې ګڼی نو بیا تر ننه د هغې د کلام نمونه ولې چا له په لاس نه ده ورغلے. حال دا چې د خوشحال بابا د خامنو او نمسیو ټول دیوانونه پیدا شوی او چاپ شوی دی.

په پټه خزانه فی المیزان کښې د کتابت د غلطۍ له وجې د لسو مستوراتو په ځای "لستو مستوراتو" لیکلے شوے دے چې په اغلاط نامه کښې له تصحیح نه پاتې شوے دے. محترم همیش صاحب د کتابت د دغه غلطۍ په حقله لیکی ---

"دغه شان دا خبره هم بې بنیاده ده چې د تاریخ مرصع په صفحه ۲۵۷ افضل خان د خپل خاندان د لوستو مستوراتو نومونه اخستی دی. افضل خان صرف د بهادر خان، عالم خان، فیروز خان، شریف خان او جلال خان، محمد خان او بنادی خان، عبد الله خان او حکیم خان (چې مور یې پیر خیله وه او هم له دغه نسبته

www.pukhto.net

به ې ورته پیر خیله وئیله) میندو نومونه اخستی دی - بیا دا دعویٰ چې دغه ټولې لوستې وے دپاره هم کوم روایت، دلیل یا ثبوت نه دے پیش کړے شوے خکه نو د دغو "لوستو مستوراتو "د لوستې د دعوې د کومې مستندې حوالې په عدم موجودګۍ کښې مونږ مجبور یو چې دغه ته هم سروپ دروغ ووایو-" (8)

که همیش صاحب د تاریخ مرصع دغه صفحه لږه په غور کتلے وے، نو د کتابت غلطی ته به ې سروپ دروغ نه وو وئیلی - د تاریخ مرصع په دغه صفحه ۲۵۷ د دې لسو مستوراتو نومونه راغلی دی :-

۱- تارو که د ملک اکو ټبر د یحییٰ خان مور

۲- نندر کو د ملک اکو ټبر د نظام مور

۳- دردانه د ملک اکو ټبر د یوسف خان مور

٤- پنجو د ملک اکو ټبر د خضر خان او عبدالغفور مور

٥- پائی د ملک اکو ټبر د طاؤس خان مور

٦- فاطمه د یوسف خان لور

۷- قذیفه د یحییٰ خان ټبر د بهادر خان او عالم خان مور

۸- نیک زن د یحییٰ خان ټبر د فیروز خان مور

۹- رائی د یحییٰ خان ټبر د محمد خان او بنادی خان مور

۱۰- خانو د یحییٰ خان ټبر د شریف خان او جلال خان مور (2)

چونکې په دې صفحه د مستوراتو دغه لس نومونه ذکر شوی دی نو ظاهره ده چې قلندر صاحب به "لسو مستوراتو" لیکلی وی خو کاتب "لستو

www.pukhto.net

مستوراتو" لیکلے دے۔

محترم همیش صاحب لیکلی دی چې خوشحال بابا د خپلو یو دیرشو لونو او نۀ اشرف خان هجری او نۀ افضل خان د دغو تفصیل ذکر کړے دے ۔ په دې حقله زما عرض دا دے چې کۀ چرې د خوشحال بابا په یو دیرش لونو کښې بی بی حلیمه حافظه شاعره او عالمه وے نو خامخا به ې ذکر کړے وے۔

محترم قلندر صاحب د شپږ ځلوېښتمې شاعرې بی بی نیک بختې په ذکر داسې اعتراض کوی---

" شپږ ځلوېښتمه شاعره بی بی نیک بخته چې د دریمې خزانې دریمه شاعره ده محمد هوتک د خپل پلار په روایت معرفی کوی چې هغۀ د هغې ذکر " اولیایۍ افغان" نومې کتاب کښې لیدلے وۀ او د هغې د وادۀ او د ورومبی ځوی د پیدائش او د هغې د کتاب د تکمیل کلونه ې په کښې لیکلی وو خو د بی بی نیک بختې د پیدائش او وفات کال په کښې نۀ وۀ۔" (10)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ---

" د بی بی نیک بختې متعلق د لوستونکو د ذهنونو په افق چې معترض د خپل زړۀ د برأس د وریځو خورولو په کومو ناکامو کوششونو کښې مصروف دے د هغې رښتنت مرحوم عبد الحلیم اثر افغانی په خپل تالیف " تیر هیر شاعران" کښې داسې کوی --

www.pukhto.net

(بی بی نیک بخته د شیخ الله داد لور ده - پلار نیکهٔ یٔ اشنغر کښې دمامون زو پیران وو) دپټې خزانې ددې روایت چې تحقیق مو وکړو نو معلومه شوه چې دا روایت صحیح دے - شیخ الله داد تراوسه پورې داشنغر لویه ستانه ګڼلې شی - لکه نور الدین (نوره دین) دبر بر کلی وسیدونکے چې وائی --

رامدد شے په هر دم میاں الله داده

مخکښې نرم عجب ګرم دے بازار دے (ص - ۱۸)" (۱۱)

ددې په جواب کښې به زهٔ دومره عرض وکړم چې قلندر صاحب د بی بی نیک بختې له وجوده انکار نهٔ دے کړے - صرف دهغې د پیدائش او وفات په کال نهٔ لیکلو یٔ اعتراض کړے دے - او محترم همیش صاحب دهغې اعتراض په جواب ګښې د عبد الروف بینوا یوه غلطی پیش کړې ده - د بی بی نیک بختې حال د پټې خزانې د مولف د وینا تر مخه هغهٔ د خپل پلار نه چې هغهٔ د اولیایٔ افغان نه اخستے وهٔ تر لاسه کړے دے - همیش صاحب په خپل بره نقل شوی اقتباس کښې د ددې ښیئلو کوشش کړے دے چې ګنی د هغوی همعصر د بی بی نیک بختې له وجود نه انکاری دے - خو داسې بیخی نهٔ ده ما د قلندر صاحب د کتاب نه اقتباس ګرانو لوستونکیو ته پیش کړو - باقی د بی بی نیک بختې ذکر په مخزن افغانی کښې راغلے دے - محترم همیش صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې په ابتدائی معروضاتو کښې د قلندر صاحب ددې خبرې ---

"د کتاب دریمه حصه (دریمه خزانه) کښې چې د کومو

www.pukhto.net

میرمنو ذکر راغلے دے هغو کښې هم څه د مخزن افغانی
په وروستی حصه کښې ذکر شوی دی خکه نو د کتاب
هغه وجه تسمیه چې ذکر شوه د اطمینان قابله نه ده۔" (12)

په جواب کښې لیکی چې ---

" د کتاب په دریمه برخه (دریمه خزانه) کښې د کومو میرمنو د
ذکر په حقله چې د مخزن افغانی د وروستی برخې نه د استفادې
کوم الزام لګولے شوے دے هغه هم د حقیقت له مخه یو د اسې
بهتان دے چې په ادب کښې به ې شاید مثال په مشکله هم پیدا نه
شی ۔ حقیقت دا دے چې د مخزن افغانی په وروستی برخه کښې
د کومو میرمنو ذکر راغلے دے هغه دا دی ۔ بی بی دویه بی بی
راستی، بی بی شیخ زادی، بی بی صورت او بی بی مجذب ګمنام
چې پته خزانه ې د هیڅ قسمه ذکر نه کوی ۔ بیا هم محمد هوتک
چې د کومو میرمنو ذکر کړے دے د هغو نومونه دا دی ۔ نازو
توخی، بی بی حلیمه، بی بی نیک بخته بی بی زینب بی بی
زرغونه او بی بی رابعه چې مخزن افغانی کښې هډو د سره نشته
۔ د د اسې بنکاره حقیقت نه د ستر ګو پټولو پحقله به آخر څوک
څه جواب وکړے شی ۔ دغه نه دې بناغلی لوستونکی خپله
اندازه ولګوی چې په پته خزانه په پټو ستر ګو د د اسې بې بنیاده
بهتانونو آخر څه مقصد کیدے شی؟ او کومه جذبه په کښې کار
فرما ده؟۔" (13)

www.pukhto.net

دبی بی نیک بختی ذکر په مخزن افغانی کښې داسې راغلے دے --

شیخ قاسم افغان قادری رحمۃ اللہ علیہ کی والدہ نیک بخت تھی ۔ جو شیخ اللہ داد افغان زمند موزئے جس کے آباؤ اجداد علاقہ ہشتنگر میں قبیلہ محمد زئی کے سردار تھے کی بیٹی تھی ---------- بی بی نیک بخت کے ہاں پہلے ایک لڑکی پیدا ہوئی جس کا نام رقیہ رکھا گیا ۔ یہ لڑکی چھوٹی عمر ہی میں فوت ہو گئی تھی ۔ رقیہ کی پیدائش کے ایک سال بعد حضرت غوث الدارین (شیخ قاسم) کی ولادت ہوئی ۔ (14)

ترجمہ :- د شیخ قاسم افغان قادری رحمة الله علیه مور بی بی نیک بخته وه چې د شیخ الله داد افغان موزنی چې پلاران نیکونه یې د اشنغر په علاقه د محمد زنیو د قبیلې سردار وه لور وه --- دبی بی نیک بختې ورومبۍ یوه لور وشوه چې رقیه نوم یې ورله کښیښودو ۔ دا جینۍ په کم عمرۍ کښې وفات شوه ۔ د رقیې د پیدائش نه یو کال پس حضرت غوث الدارین (شیخ قاسم) پیدا شو ۔

او د پټې خزانې محشی حبیبی مرحوم د پټې خزانې په تعلیقاتو ۲۶۵ صفحه لیکی ---

"این خانم عارفه و عالمه از مشاهیر نسوان افغانی است، که مولف ما شرح حال وی خوب نگاشته، و چیز یکه نعمت الله هروی درمخزن ازین خانم بزرگوار ذکر می کند ، با نوشته این کتاب موافق است، نعمت الله بعبارات ذیل وی را می ستاید --

(حضرت شیخ قدم دو زوجه داشت یکی والده حضرت غوث الزمان فردالاوان نائب غوث الثقلین فی الدوران حضرت قاسم افغان قادری رحمة الله علیه که

www.pukhto.net

باسم بی بی نیک بخته بنت شیخ الله داد از مردم افغان موزی بود، آباؤاجداد او در قصبه اشنغر قدوه اولس ممن زئی بود۔)

ترجمه :۔ دا عارفه او عالمه بی بی د افغانانو مشهورو میرمنو کښې ده ۔ چې زمونږ مولف یې حال ډیر ښه لیکلے دے ۔ او څه چې نعمت الله هروی د دې بی بی متعلق ذکر کړی دی هغه د دې کتاب لیکلو سره موافق دی ۔ نعمت الله په لاندینو الفاظو دهغې ستاینه کوی ۔

(د حضرت شیخ قدم دوه ښځې وے یوه د حضرت غوث الزمان نانب د غوث الثقلین دوران حضرت قاسم افغان قادری رحمة الله علیه چې نوم یې بی بی نیک بخته د شیخ الله داد افغان موزی لور وه ۔ پلاران نیکونه یې د اشنغر د خلقو ستانه وه)۔

اوس دې نو گران لوستونکی اندازه ولگوی چې د همیش صاحب خبره څومره ټیک ده ؟ ځکه چې د پټې خزانې شارح هم دا خبره منی چې بی بی نیک بخته هغه پښتنه میرمن ده چې له پټې خزانې نه اگاهو یې حالات مخزن افغانی ذکر کړی دی ۔ لوستونکیو به دا هم کتلی وی چې د پټې خزانې شارح دا خبره کړې ده چې د نیک بختې متعلق نعمت الله هروی څه لیکلی دی هغه زمونږ مولف هم لیکلی دی ۔ آیا د دې مقصد دا خو نه دے چې د پټې خزانې لیکلو په وخت مخزن افغانی د محمد هوتک زیر مطالعه وه ؟

داووه څلویښتمې شاعرې بی بی زینب په ذکر د قلندر صاحب له خواشوے اعتراض دادے چې --

www.pukhto.net

"اووهٔ څلوېښتمه (د دريمې خزانی څلورمه) شاعره بی بی زينب ده چې د محمد هوتک معاصره او د هغهٔ د مهربان بادشاه خور او د ميرويس نيکهٔ لور ده ـ خو د پيدائش د کال علم يې هيڅا ته نشته نهٔ محمد هوتک ته نهٔ د هغهٔ عالم پلار ته، نهٔ بادشاه حسين ته او نهٔ د بی بی زينب استاذ نور محمد غلجی ته ـ په مختلفو بحرونو کښې د بی بی زينب د ليکلې د شاه محمود د مرثيې په باره کښې هم دا نهٔ دی وئيلی شوی چې له کومه د محمد هوتک لاس ته راغلې ده ـ"

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې همېش صاحب د نظير لدهيانوی د "تذکره الشعراء اردو" حواله ورکړې ده چې په هغې کښې د سيد انشاء الله خان، حيدر علی آتش، مظفر علی خان اسير، سيد ظهير الدين ظهير، مير مهدی مجروح، مولانا آزاد، احسان شاه جهان پوری، سائل دهلوی مولانا حسرت موهانی او عبد الحميد عدم وغيره د ولادت نيټې او د کلامونو مآخذ نهٔ دې ښيئلے شوے ـ نو د دې په جواب کښې هم زهٔ دا وايم چې نظير لدهيانوی غلطئ کړې ده ـ او په دې به هم ګڼو کسانو اعتراضونه کړی وی ـ بل غټه خبره دا ده چې په دغې يادو شويو شاعرانو کښې يو هم د بادشاه خوے او ورور نشته ـ د بی بی زينب خبره داسې نهٔ ده هغه د يو ډير لوې سړی لور ښيئلې شوې ده ـ او د بادشاه خور ده ـ نو پکار ده چې د هغې د پيدائش او وفات تاريخونه معلوم وے ـ

دا تهٔ څلوېښتمې شاعرې په ذکر د قلندر صاحب اعتراض داسې دے

www.pukhto.net

چې ---

" اتهٔ څلویښتمه شاعره زرغونه ده چې پښتو کښې ې د بوستان ترجمه په ۹۰۳ هجری کښې کړې ده ۔ د پلار نوم ې معلوم دے ۔ د دې د ا کتاب په ۱۱۰۲ هجری کښې لیدلے شوے دے خو د دې خبرې څهٔ ضرورت نهٔ دے محسوس شوے چې د مولف پلار د دې شاعرې د ولادت او وفات کلونه معلوم کړے وے ۔" (17)

د دې اعتراض په جواب کښې هم محترم لیکونکی د نورو خلقو غلطی قطار کړی دی ۔ او ظاهره ده چې دغې ته هیڅ یو باشعوره لوستونکے د شوی اعتراض جواب نهٔ شی ونیلے ۔

د نهٔ څلویښتمې شاعرې رابعې په ذکر د قلندر صاحب اعتراض څهٔ په دې ډول دے ---

" د کتاب مولف ې ذکر ۔ خپل دوست محمد طاهر جمریانی په سند کوی او دا نهٔ بیانوی چې محمد طاهر ته دا روایت چا رارسولے دے ۔ دا محمد طاهر جمریانے هم هغه شاعر دے چې ذکر ې د پټې خزانې د شپږ دیرشم شاعر په حیث شوے دے ۔ خو هلته محمد هوتک د ا ضرورت نهٔ دے محسوس کړے چې جمریانے مونږه سره معرفی کړی او دلته پرې حاشیه لیکی چې "نام قومے است از توخی پښتون" (۳۳) خدا ې خبر چې د ا خیال ورته وروستو څنګه راغے ؟" (18)

د دې په جواب کښې همیش صاحب د نورو کتابونو غلطی په گوته

www.pukhto.net

کړی دی چې په هغې کښې هم دغه شان شوی دی ۔ البته یوه خبره چې قلندر صاحب کړې ده او بړه نقل شوه ۔ په هغې کښې هغوی د پټې خزانې حاشیه لیکونکے محمد هوتک ښیلے دے ۔ داسې نه ده د پټې خزانې حاشیې مرحوم حبیبی صاحب لیکلی دی ۔ کومه چې محترم همیش صاحب ډیره په فخر سره په دې الفاظو پیش کړې ده ---

" بناغلے معترض د خپلو بې خایو او بې بنیادو اعتراضاتو په خوش فهمۍ کښې تر دومره حده مبتلا شوے دے چې دا ورته هم معلومه نه ده چې د پټې خزانې حاشیه محمد هوتک نه بلکې محترم حبیبی صاحب لیکلی ده باید چې دې له دا پرتوګ جوړ کړی چې -- گرتے ہیں شاهسوار ہی میدان جنگ میں ۔" 19

د کتابت په غلطۍ یا د لیکونکی په یوه سهوه دومره کړه تړل د عالم سړی کار نه دے ۔ ځکه چې د انسان نه غلطی کیږی لکه چې محترم همیش صاحب په خپل دے کتاب کښې "قلب السیر" په کتابیاتو کښې د صدر خان خټک تصنیف ګڼلے دے ۔ یا یې د پادری خیر الله نه پادری خیر محمد جوړ کړے دے ۔

ځومره پورې چې د اعتراض تعلق دے نو محترم مشر د یوې غلطۍ په موندو دومره خوشاله شوے دے چې د شوی اعتراض جواب یې هم له ذهن نه وتلے دے ۔ حاشیه حبیبی مرحوم لیکلی ده ۔ نو چې هر کله د طاهر جمریانی ذکر د رابعې نه اول شوے دے پکار ده چې هلته یې دغه حاشیه لیکلې وے خو داسې نه دی شوی ۔

www.pukhto.net

د پټې خزانې د پنځوسم شاعر چې د مولف والد محترم دے په ذکر د قلندر صاحب له خوا شوے اعتراض دا دے چې ---

"محمد هوتک دا هم وائی چې د دۀ پلار په هغو جنګونو کښې شریک وۀ چې میرویس نیکۀ له ګرګین خان سره کړی وو - حالانکې تاریخ کښې د د اسې یو جنګ هم ذکر نشته چې د میرویس نیکۀ او ګرګین خان تر مینځه شوے وۀ - تاریخ د یوې خونړې واقعې ذکر کوی چې د هغې په نتیجه کښې ګرګین ووژلے شو کۀ دغه واقعې ته محمد هوتک "جنګونه" وائی نو وائی به - 20

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب لیکی چې ----

"بناغلی معترض چې کومې خونړې واقعې ته اشاره کړې ده غالباً موصوف ګرګین خان ته د میرویس خان نیکۀ له خوا د میلمستیا او شرابو هغه واقعه ګڼلی ده کومه چې قاضی عطا الله خان مرحوم "د پښتنو تاریخ" اول جلد، بناغلی سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل "پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې" سر جان مالکم په "تاریخ ایران"، سید جمال الدین افغانی "تتمة البیان" او میلسون په "تاریخ افغانستان کښې ذکر کړې ده - ولې دا خبره د هیرولو نۀ ده چې سلطان محمد "تاریخ سلطانی" او جارج نیون "د افغان او پارس جګړه" او عن چې محمد هوتک هم په "پټه خزانه" کښې د

www.pukhto.net

گرگین خان دوژلو دا واقعه په بیل بیل دول لیکلې ده ۔" (۷۱)

له دې نه پس محترم همیش صاحب د پټې خزانې نه د محمد هوتک لیکلې د دغې جنګ حال نقل کړے دے ۔ او لوستونکیو ته یې د فیصلې کولو وینا کړې ده ۔ د حیرانتیا مقام دے خکه چې هم هغه جعلی کتاب یې په دلیل کښې پیش کړے دے ۔

دویم اقتباس محترم همیش صاحب له "تتمة البیان" نه پیش کړے دے چې د میرویس نیکهٔ او گرگین خان د جنګ په حقله دے ۔ د قلندر صاحب اعتراض دا دے چې سیوا له دغې یو جنګ نه چې گرگین خان په کښې وژلے شوے دے نور کوم جنګونه د میرویس نیکهٔ او گرگین خان تر مینځه شوی ذی چې مولف دا خبره کوی چې ---

"هغه وقت چې خان علیین مکان حاجی میر خان په قندهار کښې د گرگین خان سره جنګونه کړل، نو زما پلار هم په دغو جګړو کښې ملګری وهٔ ورسره ۔" (۷۲)

همیش صاحب له پکار وو چې د هغو جنګونو یو فهرست یې پیش کړے وے ۔ خکه چې تاریخ په دې حقله خاموش دے ۔

محترم قلندر صاحب د محمد هوتک د والد صاحب په حالاتو کښې یو اعتراض دا هم کړے دے چې -----

"په ۱۱۲۰ هجری کښې چې د صفوی بادشاه لښکرې راغلې نو داؤد د میرویس نیکهٔ سپه سالار وهٔ ۔ دا وخت د هغهٔ عمر ۹۱ کاله وهٔ له میرویس غوندې تکړه او هوښیار جرنیل نه دا توقع نهٔ شی

کیدے چې هغه به د یو دومره اهم کار دپاره دومره بودا سړے منتخب کړے وے خاص طور سره په داسې صورت کښې چې محمد هوتک د خپل پلار د علم او فضل ذکر خو کوی خو د جنګی مهارت په باره کښې یې څه نه وائی۔" (23)

د هغوی د دې اعتراض په جواب کښې محترم همیش صاحب د یو امریکنی جرنیل چې نوم یې هم ورله نه ورځی خبره کړې ده چې هغه د څلور اتیاو کالو په عمر کښې هم جرنیل وۀ۔ نو تر کومه چې د دغې جرنیل پوره نوم نه وی ښیټلے شوے په دې بحث نه شی کیدے۔ د دغې جرنیل متعلق همیش صاحب لیکلی دی چې په وړومبی جنګ عظیم کښې هم جنګیدلے وۀ او په دویم جنګ عظیم کښې هم او بیا په کال نولس سوه څلور شپیتم کښې مړ شوے دے او تر دغه وخته جرنیل وۀ۔ نو اول خو په وړومبی جنګ عظیم کښې امریکه جنګیدلې نه وه او که همیش صاحب ته معلومه وی نو بیا پکار دی چې هغه محاذ په ګوته کړی چې چرته جنګیدلې وه۔ فاضل نقاد ته دې دا معلومه وی چې دا یو قانون دے چې فیلډ مارشل نه ریټائرډ کیږی۔ کیدے شی چې دغه یاد شوے جرنیل هم څوک فیلډ مارشل وی۔ هر څه چې وی خو بیا هم د محمد هوتک د والد محترم د جرنیلی د عمر او د دغه جرنیل د جرنیلی د عمر تر مینځه داووو کالو فرق دے۔

قلندر صاحب په خپل کتاب کښې چې اقتباس ترې بره نقل شو میرویس نیکۀ ته جرنیل وئیلی دی۔ محترم همیش صاحب د هغې په حقله

www.pukhto.net

لیکی ---

"ورومبے خو دا کتل پکار دی چې میرویس بابا جرنیل وو کۀ سیاسی قهرمان؟ بیا کۀ کرګین خان سره د جنګونو په وجه میرویس بابا ته څوک جرنیل وائی نو کم از کم د پیر روښان او مغلی حکومت تر مینځه په چوره او توراغه د جنګونو باوجود بیاهم پیر روښان ته تر اوسه لاچا جرنیل نۀ دی وئیلی۔" (24)

نۀ پوهیږم چې په فاضل نقاد د جرنیل لفظ ولې بد لګیدلے دے۔ جرنیل د انګریزی ر تورے دے او معنیٰ یې مشر او واکمن ده۔ کوم سړے چې چا سره جنګیږی او د خپلې ډلې مشری کوی هغۀ ته جرنیل وئیلے شی۔ کۀ پیر روښان ته څوک جرنیل نۀ وائی نو دا د هغوی خوښه ده۔ زما په خیال خو پیر روښان او فقیر ایپی دواړه جرنیلان وو۔ بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق ګڼو خلقو دا خبره کړې ده چې هغه یو زبردست جرنیل وو۔ او ډیر لرې به نۀ خو محترم همیش صاحب ته زمانه ښه پته ده چې په خدائی خدمتګار تحریک کښې څومره جرنیلان وو۔ او خپله به د دوئ په کلی کښې هم څوک جرنیل وۀ۔

د پټې خزانې د اخری شاعر محمد هوتک چې د کتاب مولف دے په ذکر هم قلندر صاحب ګڼ اعتراضونه کړی دی۔ ورومبے اعتراض څۀ په دې ډول دے---

"د میرویس نیکۀ د جدوجهد په دوران کښې د ۳۵ کالو وۀ خو د دغه قومی تحریک کوائف دے د پلار په روایت بیانوی او د اسې

www.pukhto.net

بنکاری چې د پښتنو په دې لویه مبارزه کښې دے بالکل غیر جانبدار وۀ۔" (25)

ددې په جواب کښې همیش صاحب لیکی ----

" هر کله چې د هغۀ پلار په دغو حالاتو کښې نیغ په نیغه ملوث وو نو څکه د هغۀ د پلار روایت زیات قوی وو او لکه د هر بنۀ لیکوال (؟) محمد هوتک هم دغه قوی روایت ته اهمیت ورکړے دے ۔ پاتې شو دا اعتراض چې محمد هوتک پخپله دغه جنګ کښې ولې غیر جانبدار وو نو دغه ضمن کښې عرض دادے چې کۀ په افغانستان کښې د روسی جارحیت په نتیجه کښې د افغان مجاهدینو او روسی فوځونو تر مینځه د جنګ حالات کوم افغان مورخ د افغان مجاهدینو د کوم کمانډر یا کوم هغه رهنما چې دغه جنګ کښې خپله هم شریک پاتې شوے وی په روایت ولیکی نو دې کښې داغتراض کولو آخر کومه موقعه ده؟ " (26)

د دې په جواب کښې به زۀ دومره عرض وکړم چې د میرویس نیکۀ او ګرګین خان ترمینځه کوم جنګ شوے وۀ ولې په هغې کښې محمد هوتک لکه داوسنو افغانانو تارک وطن شوے وو څۀ؟ چې یوه خبره یې هم په خپله حواله نۀ ده لیکلې ۔ افضل خان خټک جنګونه هم کول او تاریخ یې هم لیکلو ۔ او داسې چرې نۀ دی شوی چې یو مورخ دې د خپل عصر تاریخ یا یوه واقعه بیانوی او په خپله حواله دې په کښې یوه خبره هم نۀ کوی ۔

د محمد هوتک په حالاتو د قلندر صاحب بل اعتراض دادے چې --

www.pukhto.net

"محمد هوتک په ۱۰۸٤ هجری کښې پیدا شوے دے او د عمر تر اتلسم کال یعنې ۱۱۰۲ هجری پورې دۀ له خپله پلاره سبق وئیلو د ۱۱۰۲ هجری نه تر ۱۱۳٦ هجری پورې د محمد هوتک د مصروفیاتو په باره کښې پته خزانه هیڅ نۀ ښئ - په دې کال چې د دۀ پلار مړ شی او دے د شاه حسین دربار ته راشی نو بیا د دۀ د ادبی ژوند ابتدا وشی - حالانکې د کتاب په ابتدا کښې دے دا وائی چې دۀ له دیر شو کالو راسې د پښتنو شاعرانو د تذکرې لیکلو کار شروع کړے وۀ - په دې حساب دۀ دا کار له ۱۱۱۱ هجری نه شروع کړے وۀ خو په خپلو حالاتو کښې دۀ دا تفصیل نۀ دے ښئیلے -" (27)

د دې په جواب کښې محترم همیش صاحب بیا تاریخ مرصع ته رجوع کړې ده چې افضل خان هم د خپل پلار حالات په تفصیل نه دی ښئیلی - نو په دې حقله زما عرض دا دے چې اعتراض د محمد هوتک د پلار په حالاتو لیکلو نۀ دے شوے - محمد هوتک خپل حالات په خپله لیکلی دی - نو هغې کښې ولې تفصیل نۀ دے ښئیلے شوے - لکه څنګه چې افضل خان خپل حالات په تفصیل پیش کړی دی -

د محمد هوتک په حالاتو د محترم قلندر مومند صاحب له خوا شوے بل اعتراض دا دے چې ---

"د محمد هوتک پلار چې کوم علوم لوستی وو په هغو کښې د طب ذکر نشته ځکه نو د محمد هوتک په زده کړیو علومو کښې هم د طب علم شامل نۀ دے او دا یوه قدرتی خبره وه ځکه چې دۀ

www.pukhto.net

ټول علوم له پلاره زده کړی وو او پلار یې چې کوم علم نه وه حاصل کړے هغه ده خپل ځوی ته نه شه ښټیلے - خو دا خبره ډیره عجیبه ده چې سره د دې چې طب نه داوډ لوستے وه او نه محمد هوتک خو بیا هم موخر الذکر صاحب په بیان د طبابت او علاج یو کتاب خلاصة الطب په نامه لیکلے دے او چې دا کتاب یې په ۱۱۳۹ هجری کښې شاه حسین ته پیش کړو نو هغه ورته سل طلاوې صله ورکړه -" (28)

د دې اعتراض جواب محترم همیش صاحب په دې الفاظو کوی--

" چې د محمد هوتک پلار کوم علوم لوستی وو هغو کښې د علومو تفصیل نه دے بیان شوے -" (29)

زه دا منم چې د محمد هوتک د پلار په حالاتو کښې هغه د خپل پلار د زده کړیو علومو نومونه نه دی ښټیلی خو په خپل حال کښې لیکی چې ---

" او سن ته د تمیز ورسیدم نو مې پلار درس راته شروع کا او تر اتلسم کاله د عمر مې ولوستل احکام د دین او فقه او اصول او تفسیر او د فصاحت علوم لکه قافیه او عروض او بیان او معانی او نور -" (30)

او هم دا اقتباس محترم همیش صاحب هم پیش کړې دے او لیکی چې -----

" د ذکر شوی اقتباس وروستے لفظ "نور" چې "علم طب" په

www.pukhto.net

کښې شاملیدے شی د اعتراض شنډولو او بې بنیاد کړخو و یو بل دلیل دے۔" (31)

دغه اقتباس کښې وروستے لفظ "نور" چې همیش صاحب پرې خپله دفاع کوی د علم طب دپاره نه د.. ستعمال شوے بلکې د فصاحت د علومو د تفصیل دپاره استعمال شوے دے۔ نه . میږم چې زمونږ فاضل نقاد دې خبرې ته ولې پام نه کوی - په زیر تذکره اقتباس کښې "اود فصاحت علوم" نه پس د حرف تشبیه "لکه" داستعمال باوجود چې څوک له "نور" نه مراد علم طب اخلی نو هغه به په خان پورې خلق خندوی -

د محمد هوتک په حالاتو د قلندر صاحب څلورم اعتراض دا دے چې --

"د محمد هوتک د دیوان په برخه کښې ونیلی شوی دی چې نور اشعار مې په دیوان کښې یو ځاې دی شائقان د علم او شعر ې له دیوانه لولی۔ نو که د اسې وی نو پکار ده چې د دې دیوان ډیرې نسخې وې اوس له دوی یوه خو پاتې وے - خو له بده مرغه یواځې د محمد هوتک نه بلکې پته خزانه کښې چې د کومو قلمی دیوانونو او نسخو ذکر دے هغو کښې یوه هم په دیو څلوېښتو کالو کښې بنکاره نه شوه۔" (32)

د دې جواب همیش صاحب داسې کوی ---

د وروستی اعتراض جواب دا دے چې که د محمد هوتک د قلمی دیوان کومه نسخه یا پته خزانه کښې د ذکر شوو قلمی دیوانونو

www.pukhto.net

او نسخو یوه نسخه هم په دغو څلویښتو کالو کښې پیدا نه شوه نو د شیخ ملی د دفتر کومه قلمی نسخه خو هم کم از کم د څلور و څلور نیمو سوو کلونو تیریدلو باوجود پیدا نه شوه۔ 33

د شیخ ملی دفتر په حقله به زه دومره عرض وکړم چې دا ضروری نه ده چې کتاب دې وه ۔ ځکه چې خوشحال بابا د خیرالبیان او مخزن په حقله لیکلی دی او کتلی یې هم وو ۔ او د شیخ ملی د دفتر په حقله وائی چې ---

دوه کاره دی په سوات کښې که خفی دی که جلی

مخزن د درویزه دے یا دفتر د شیخ ملی 34

دې شعر کښې لف و نشر غیر مرتب دے ۔ داخون درویزه مخزن ته یې جلی او د شیخ ملی دفتر ته یې خفی ونیلی دی ۔ یعنې د خوشحال بابا په زمانه کښې هم په دغه دفتر عمل کیدو او ذکر یې کیدو خو وو نه لکه چې د شعر نه بنکاره ده ۔

له دغې نه پس همیش صاحب د تواریخ افاغنه او د خوشحال بابا د ځنو نورو کتابونو حواله ورکړې ده چې دا هم تراوسه نه دی پیدا شوی ۔ دا ټیک ده چې نه دی پیدا شوی ۔ خو صرف خوشحال بابا به واخلو هغه د خیر البیان او مخزن ذکر کړے وه او هغه پیدا شو ۔ د مرزا خان انصاری ، دولت لوانی ، واصل ، قلندر وغیره ذکر هغه د شاعرانو په حیثیت کړے وه ۔ په هغوی کښې د مرزا خان انصاری او دولت لوانی ، دیوانونه پیدا شو او د ځنې نورو لږ ډیر کلامونو په لاس راغلل ۔ دغسې د

www.pukhto.net

پښتو ټول زارۀ کتابونه چې د هغې متعلق هیڅا هم څۀ نۀ وو وئیلی پیدا شو او چاپ شو ۔ خو د پټې خزانې په نسخو او دیوانونو کښې یو هم تر ننه په لاس را نغلو ۔

حوالې

1. پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۰۴
2. ټول پارسنګ ص ۔ ۲۱۲
3. پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۰۴،۲۰۵
4. ټول پارسنګ ص ۔ ۲۱۲،۲۱۳
5. هم دغه کتاب ص ۔ ۲۱۲،۲۱۳ حاشیه
6. پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۰۵،۲۰۶
7. ټول پارسنګ ص ۔ ۲۱۳،۲۱۴
8. هم دغه کتاب ص ۔ ۲۱۴
9. تاریخ مرصع ص ۔ ۲۵۷
10. پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۰۶
11. ټول پارسنګ ص ۔ ۳۱۵
12. پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۳
13. ټول پارسنګ ص ۔ ۸۰۷
14. مخزن افغانی اردو ترجمه ص ۔ ۶۶۲
15. پته خزانه دو هم چاپ تعلیقات ص ۔ ۵.

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

16 پټه خزانه فی المیزان ص - ۲۰۶،۲۰۷

17 هم دغه کتاب ص - ۲۰۷

18 هم دغه کتاب ص - ۲۰۷

19 تول پارسنګ ص - ۲۱۹

20 پټه خزانه فی المیزان - ۲۰۸

21 تول پارسنګ ص - ۲۱۹،۲۲۰

22 پټه خزانه دوهم چاپ ص - ۱۹۶

23 پټه خزانه فی المیزان ص - ۲۰۸

24 تول پارسنګ ص - ۲۲۱

25 پټه خزانه فی المیزان ص - ۲۰۹

26 تول پارسنګ ص - ۲۲۳،۲۲۴

27 پټه خزانه فی المیزان ص - ۲۰۹

28 هم دغه کتاب ص - ۲۰۹،۲۱۰

29 تول پارسنګ ص - ۲۲۵

30 پټه خزانه دوهم چاپ ص - ۲۰۰

31 تول پارسنګ ص - ۲۲۵،۲۲۶

32 پټه خزانه فی المیزان ص - ۲۱۰

33 تول پارسنګ ص - ۲۲۶

34 ارمغان خوشحال ص - ۷۵۵

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

www.pukhto.net

اِنۡ یَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ

"د پټې خزانې راویان" د عنوان لاندې قلندر صاحب د رحمان بابا د پیدائش او وفات په کلونو د مفصل بحث په دوران کښې د محترم کامل صاحب مرحوم له خوا د رحمان بابا د پیدائش او وفات د قیاسی کلونو سره اختلاف کوی او لیکی ----

"زما استدلال دا دے چې ورومبے خو دا ثابته نه ده چې اشرف خان هجری لکه چې عام طور سره ګڼلے شی په دکن کښې بندی وه، تاریخ مرصع د ګوالیار د بند په زمانه کښې اشرف خان بندی ګڼی خو د اشرف خان دیر هغه شعرونه چې هغه په دکن کښې لیکلی دی دا نه څرګندوی چې هغه بندی وه۔ د مثال په طور دا څو شعرونه پیش کوم --

رب دې ورک آتشین غږ د دې سرنا کا
دم په دم و مرده غم راته احیا کا
بیجا پور لره چې راغلم که مې غوږ کړ
ولې هم هغه فغان دے چې ې دا کا
د وطن عیش و عشرت به مې هیر نه شی
بیجا پور که راته ډک همه په زر کا

www.pukhto.net

غم به هومره دلیری په هجری نه کړه
که یو گل دیار په رنگ وے په دکن کښې
نیرنگی دجهان گوریّ زمانیو
دهجری مکان دکن جان په کابل شه
زه هجری دائم هوس دخپل وطن کړم
بیجا پور که هر څه ښه داورنگ شاه دے
چې هر دم یې غم دیار په زړه څرخیږی
بیجا پور که همه گل هجری ته کاغ دے
زه خټک په بیجا پور اشنا په روه دے
ولایت موسره ارِ دهندو بار دے
چې هجری غوندې جدا وی له یارانو
که بادشاه شی په دکن عمر یې خوار دے
یاره ذوق په روه کړه په دکن خوښ یم
مه مې تن لره څکوه نه دې دا کار دے
یار مې پاتې په وطن زه په دکن شوم
اوس به یار نسمه بل په بیجا پور کښې
که هر څو په دکن ډیرې دی دلبرې
هجری ته په غوره ونیوې گوهرې
چې په مهر مې تل یاد کړی مرگ دې مه وے
لب شکرې سیمین بړې مو کمرې

www.pukhto.net

د قلندر صاحب موقف لکه چې لوستونکیو ته به له دې اقتباس نه ښکاره شوے وی دا دے چې اشرف خان هجری اول قید وۀ بیا ازاد کړے شو خو وطن ته راتلے نۀ شو یعنې په دکن بیجاپور کښې ې ازاد ژوند تیرولو۔

محترم همیش صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې دهغوی د دې مقالې جواب نۀ وۀ کړے خو وروستو ې د "جرس" د جنوری مارچ ۱۹۹۵ عیسوی په ګڼه کښې دهغې مقالې د یوې وړې غوندې برخې د جواب ورکولو کوشش کړے دے۔ له دې نه اګاهو د محترم زرین انځور او آصف صمیم په شریک کتاب "د پټې خزانې میزان ربنتیا میزان دے؟" کښې زرین انځور د دې مقالې جواب کړے دے، دهغوی دلائل هم دغه دی کوم چې محترم همیش صاحب پیش کړی دی۔ ځکه نو ګران لوستونکی دې زما دا مقاله دهغو دواړو محترمو لیکونکیو جواب وګڼی۔

محترم همیش صاحب په خپله دغه مقاله کښې لیکی---

"اصل کښې د خوشحال خان خټک د ذکر شوۀ حالاتو نه ځینو خلقو ته دا غلط فهمی شوې ده چې ګنې اشرف خان هجری به هم لکه د خپل پلار په ګوالیار کښې د قید و بند نه پس بیجاپور کښې ازاد ساتلے شوے وی او د خیال دغه مانې ې د شاعر د ځینو شعرونو په بنیاد ودرولې ده او په ګوالیار کښې ې ځکه بندی ګڼی چې افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې لیکلی دی۔ حالانکې په دې خبره هر سړے پوهیږی چې د حکومت په کور

www.pukhto.net

کښې د اشرف خان هجری هغه سیاسی حیثیت نه وه کوم چې د خوشحال خان خټک وه ـ ځکه نو دا ګومان خطا دے چې ګنی اشرف خان هجری هم د خپل پلار غوندې د قید نه پس دکن بیجاپور کښې ازاد وه ـ (2)

قلندر صاحب ته د خوشحال بابا د ذکر شویو حالاتو نه غلط فهمی نه ده شوې بلکې د اشرف خان هجری د هغو شعرونو نه یې ثابته کړې ده چې هغه په دکن بیجاپور کښې لیکلی دی او دا تړې نه ثابتیږی چې ګنی دا د قید و بند شاعری ده ـ باقی د ګوالیار د قید په حقله چې یو محقق او نقاد د هغه د خوی په لیکلی تاریخ اعتبار نه کوی نو څه به کوی؟

قلندر صاحب له بره ذکر شویو شعرونو نه دا اندازه لګوی چې اشرف خان هجری قید نه بلکې دغه وخت کښې ازاد وه خو وطن ته نه شو راتلے ـ د همیش صاحب موقف دا دے چې نا هغه تر اخره قید وه او په قید کښې یې خودکشی کړې وه ـ او دا خبره هغوی ځکه کوی چې شیر محمد خان ګنډا پور په خپل تاریخ "تاریخ خورشید جهان" کښې د اشرف خان په حقله دا خبره په دیو الفاظو کړې ده ---

"ضیاء الدین فرزند کاکا صاحب اعانت بهرام خان نموده ازین سبب اشرف خان، ضیاء الدین را قید کرد و ازین سخن اورنگزیب ناراض شده اشرف خان مقید گردانید و اشرف خان هم در آن قید خانه خودکشی کرد پس بجائے او محمد افضل خان فرزند اشرف خان رئیس شد ـ مگر از نزاع و خدشه بهرام خان به آرام گزران کردن نمی توانست ـ درین حالت پر حسرت خوشحال خان وفات

www.pukhto.net

کرد و بعد ازو بهرام خان نیز مرد و محمد افضل خان شصت و یک سال حکمرانی بالاستقلال نموده انتقال کرد۔" 3

ترجمه :- ضیاء الدین د کاکا صاحب خوی د بهرام مدد کړے وۀ له دې وجې نه اشرف خان هغه قید کړو ، په دې خبره اورنګ زیب ډیر خفه شو او اشرف خان یې قید کړو۔ اشرف خان هم په هغه قید خانه کښې خودکشی وکړه وروسته د هغۀ په ځای د هغۀ خوے محمد افضل خان رئیس شو ، خو د بهرام د نزاع او ویرې له وجې یې په ارام ژوند تیر نۀ کړے شو په دې پر حسرت حالت کښې خوشحال خان وفات شو او د هغۀ نه پس بهرام خان هم مړ شو او محمد افضل خان یو شپیته کاله په استقلال سره حکمرانی وکړه او مړ شو۔

کامل صاحب مرحوم د تاریخ مرصع په مقدمه کښې د تاریخ خورشید جهان نه د دغې اقتباس لړه برخه نقل کړې ده او د اسې تنقید پرې کوی ----

"اوس کۀ په دغه عبارت غور وکړو نو وائی چې :-

۱۔ اشرف خان چې وفات شو نو افضل خان رئیس شو۔

۲۔ خو ریاست یې د بهرام خان د مخالفت له عمله بې سکونه بې ارامه وۀ۔

۳۔ په دغه پر حسرته حالاتو کښې خوشحال خان وفات شو۔

نۀ چیرې سند شته نۀ تاریخ شته او نۀ سن ۔ کۀ دا خبرې صحیح وی نو خوشحال خان د اشرف خان د مرګ یا مبینه خودکشی نه

www.pukhto.net

وروستو د بهرام او افضل خان د نزاع په دوران کښې وفات شوے
وۀ ۔ د افضل خان او بهرام خان نزاع خو د اشرف خان
کرفتاری سره شروع شوه او د اشرف خان او خوشحال خان د
ژوند او د دغه نزاع څۀ موده ضرور شریکه ده ۔ او خوشحال
بابا هم د دغه نزاع په دوران یا حالت پر حسرت کښې وفات شوے
وۀ ۔ خو د تاریخ خورشید جهان د مولف لکه چې هغۀ د واقعاتو
ترتیب قائم کړے دے د اشرف خان د مرګ نه پس د خوشحال خان
مړینه بیانول عجیبه خبره ده ۔ ځکه چې افضل خان راته د نیکۀ د
مرګ کال د اشرف خان هجری او ګوهر خان د تاریخی قطعو په
بنا ۱۱۰۰ هجری او د پلار د مرګ کال د ازاد خان د قطعې په بنا ۱۱۰۶
هجری بنیۍ ۔ علاوه له دې اشرف خان د خپل مرګ نه پس څنګه د
پلار په مرګ قطعه او مرثیه چې دواړه به تاسو په دغه کتاب کښې
ولولئ، ولیکله ۔ د اشرف خان په دیوان کښې نور هم قطعی
شهادت د دې خبرې شته چې خوشحال بابا د هغۀ نه اګاهو په ۱۱۰۰
هجری کښې حق رسیدلے وۀ ۔

لکه چې تاسو ولیدل د تاریخ خورشید جهان مولف لیکی
چې د بهرام د مړینې نه پس افضل خان په استقلال یو شپیتۀ کاله
حکمرانی وکړه ۔ بهرام خان کله مړ وۀ او له کومه کاله افضل خان
یو شپیتۀ کاله په استقلال خانی او سرداری وکړه؟ مولف
موصوف خو راته نۀ بنیۍ خو د تاریخ مرصع د مولف د بیان له

www.pukhto.net

رویه بهرام خان په ۱۱۲٤ هجری کښې وفات شوے وۀ۔ (اصل کښې د ۱۱۲٤ هجری په ځائ ۱۰۲٤ هجری لیکلے شوے دے چې بنکاره غلطی ده ۔ بلکې له دغې کال نه وروستو دوه خله ۱۰۸۵ هجری هم لیکلے شوے دے چې هغه هم ۱۱۸۵ هجری لیکل پکار وو ۔ ناقل) 4

مطلب د ا چې د تاریخ خورشید جهان مولف په دغه اقتباس کښې څومره خبرې کړی دی نو په هغې کښې صرف یوه خبره صحیح ده او هغه دا ده چې خوشحال خان بابا، بهرام خان، اشرف خان او افضل خان مړۀ شوی وو ۔ نورې ټولې خبرې غلطې دی۔

زمونږ د فاضل مقاله نګار ددې مقالې نه هم دا ظاهر یږی چې هغوی هم د تاریخ خورشید جهان له رویه اشرف خان هجری تر اخره قید او په قید کښې ې خودکشی کونکے ګڼی خکه چې یو ځائ کښې د اشرف خان هجری دیو شعر پیش کولو نه پس لیکی ---

" اوس د درد، کرب، رنج او غم له زهرو ډک د شعر دا اجام د اشرف خان هجری په قید د ګواهی سره سره آیا د تاریخ خورشید جهان د مولف شیر محمد خان ګنډه پور د دغه وینا هم تصدیق نه کوی؟ چې (اشرف خان هم در آن قید خودکشی کرد ص۔۲۲٤)" 5

خو له دې مقالې نه تقریباً کال مخکښې د فاضل مقاله نګار له خوا د افضل خان خټک "بازنامه" سره د تحقیق او مقدمې د اداره علم و فن پیښور نه چاپ شوې ده ۔ دهغې په مقدمه کښې لیکی ---

www.pukhto.net

"خان زاده شیر علی خان چې څه لیکلی دی داسې بریښی چې د هغه ټول معلومات د شیر محمد خان کنډ ه پور په "تاریخ خورشید جهان" ادانه دی۔ او شیر محمد خان کنډه پور چې دغه لږ کښې څه لیکلی دی هغه نه خو کومه حواله لری او نه کوم سند او دیرې داسې خبرې ې لیکلی دی چې په اتبار ې د تامل فکر او لتې ضرورت دے۔" 6

لکه چې لوستونکیو وکتل په تاریخ خورشید جهان کامل صاحب مرحوم هم تنقید کړے دے او په خپله ې هم فاضل مقاله نگار بې حوالو او بې سنده ګڼی او اعتبار پرې نه کوی - نو نه پوهیږم چې هم د دغه مورخ د اشرف خان په قید کښې د خودکشی کولو خبره په کوم دلیل منی؟

ګرانو لوستونکیو به کتلی وی چې د تاریخ خورشید جهان ټول معلومات غلط دی - مونږ سره صرف یو تاریخ مرصع داسې شته چې هغه د اشرف خان هجری خوی لیکلے دے او تراوسه هر چا مستند ګڼلے دے - په تاریخ مرصع کښې افضل خان خټک لیکی ---

"خبر راغلے چې خان جنت مکان (اشرف خان - ناقل) بادشاه په قلعه د ګوالیر محبوس کړ۔" 7

د بدقسمتی نه تاریخ مرصع بیا د اشرف خان هجری متعلق مونږ ته هیڅ قسمه بنکاره او واضحه معلومات نه راکوی سیوا د هغو جرګو نه کومې چې د اشرف خان هجری د قید نه د راخلاصولو په غرض شوی دی

www.pukhto.net

او د افضل خان خپل نیکهٔ ته په دې وټیلو "هذا فراق بینی و بینک" ختمې شوی دی- بیاې د وفات تاریخ راته په دې الفاظو بنیّ ----

"په دا میان کښې خان جنت مکان چې په بیجاپور کښې وهٔ د وفات خبر یې راغلے په سنه زر سل شپږ لکه تاریخ یې آزاد زمونږه ترهٔ وټیلے دے---

د هجرت یې زر سل شپږ وهٔ اشرف خان چې فوت شهٔ یاره

"غم اندوه" د دهٔ تاریخ دے کهٔ حساب کړې وهٔ یې شماره 8

اوس چې د تاریخ خورشید جهان بیان غلط شو او تاریخ مرصع یې صرف د ګوالیار د قید ذکر کوی بیا سیوا د مرګ نه بل واضحه خبر نهٔ راکوی نو مونږ مجبور یو چې د اشرف خان هجری دیوان ته رجوع وکړو - او هم دغسې محترم قلندر صاحب کړی دی د هجری هغه شعرونه یې پیش کړی دی چې له هغې نه دا اندازه لګی چې هجری تر مرګه قید نهٔ وهٔ-

د قلندر صاحب له خوا د اشرف خان هجری په پیش کړو شوو ګڼو شعرونو کښې صرف دا دوه شعره فاضل مقاله نګار د خپل بحث دپاره منتخب کړی دی ---

"رب دې ورک آتشین غږ د دې سرنا کا

دم په دم و مرده غم راته احیا کا

بیجاپور لره چې راغلم کهٔ مې غوږ کړ

دلې هم هغه فغان دے چې یې دا کا

www.pukhto.net

او لیکی چې ----

زهٔ حیران په دې یم چې له دغو شعرونو څخه دا ثابتیږی چې

ګنی هجری په بیجاپور کښې بندی نه بلکې ازاد وهٔ؟ او که

خامخا له ذکر شوو شعرونو څخه دا مطلب اخلی چې دتورئ

(سرنا) اواز محض ازاد خلق اوریدلے شی او بندیان تر ې محروم

وی نو د دې مطلب به دا وی چې باد او هوا هم صرف په ازادو

خلقو لګی او بندیان تر ې محروم وی -" 9

زهٔ نهٔ پوهیږم چې محترم مقاله نګار ولې په دې شعرونو نهٔ دے

پوهه شوے حالانکې د دویم شعر ورومبی مصرعه داده چې ---

بیجاپور لره چې راغلم که مې غوږ کړ

د بیجاپور زندان نهٔ یادوی بلکې بیجاپور یادوی - په بندی خانو کښې سرنا

نهٔ شی غږولے او نهٔ په جیلونو کښې د سرنا اواز اوریدے شی - د پیښور

جیل د ښار په مینځ کښې پروت دے او که څوک تحقیق کول غواړی نو د

پیښور جیل د حوالاتیانو او قیدیانو نه دې پوښتنه وکړی -

قلندر صاحب د هجری دا شعر هم پیش کړے دے چې اګاهو

نقل شو ---

د وطن عیش و هوا به مې هیر نهٔ شی

بیجاپور که راته ډک همه په زر کا

که چرې هجری تر مرګه په زندان کښې وے نو په دې شعر کښې د بیجاپور

په ځای زندان ولې نهٔ وئیلو بلکې له شعر نه خو دا ښکاری چې په بیجاپور

www.pukhto.net

کښې ورته ډیر مراعات هم حاصل وۀ خو شاعر صرف د وطن ارمان کولو - زما په خیال د اشرف خان هجری په دیوان کښې کۀ دا زاد ژوند آئینه دار نور شعرونه نۀ هم وے نو صرف دا یو شعر هم د دې ثبوت دپاره کافی دے چې هغه په بیجاپور کښې قید نۀ وۀ - خو فاضل مقاله نگار په دې شعر هیڅ بحث نۀ دے کړے -

دغسې دا شعر هم قلندر صاحب پیش کړے دے ولې فاضل مقاله نگار ترې صرف نظر کړے دے او دخپلو لوستونکیو نه ې پټ ساتلے دے --

غم به هومره دلیری په هجری نۀ کړه

کۀ یو گل دیار په رنگ وے په دکن کښې

سوچ پکار دے چې دا د زندان شعر کیدے شی - دغسې دا شعر ---

نیرنگی د جهان گوری زمانیو

د هجری مکان دکن جان په کابل شۀ

مکان او دکن یادوی خو زندان نۀ یادوی - بل شعر کښې وانی --

زۀ هجری دانم هوس د خپل وطن کړم

بیجاپور کۀ هر څو بنۀ دا و رنگ شاه دے

چې تر مرگه قید وۀ نو دا ولې نۀ وانی چې هر څو کۀ دا و رنگ شاه زندان بنۀ دے - بنکاره ده چې دا و خت قید نۀ وۀ - بل شعر دا دے ---

چې هر دم ې غم دیار په زړۀ څرخیږی

بیجاپور کۀ همه گل هجری ته کاغ دے

دا هم د زندان شعر نۀ شی کیدے - دغسې دا شعر ---

www.pukhto.net

زهٔ خټک په بیجاپور اشنا په روه دے

ولایت مو سره اړ دهندوبار دے

که په قید کښې مړ وے نو خان به ئې په بیجاپور نه یادوٗ بلکې داسې به ئې وئیل چې "زهٔ خټک د بیجاپور زندان کښې پروت یم" - دغسې دا شعر هم دے ---

چې هجری غوندې جدا وی له یارانو

که بادشاه شی په دکن عمر ئې خوار دے

لوستونکی دې انصاف وکړی چې دا د قید شاعری کیدے شی - د شعر نه ښکاره ده چې هلته ورته ډیر مراعات هم حاصل وهٔ لکه چې وړومبے هم یو شعر ذکر شو - بل شعر ئې دا دے ---

یار مې پاتو په وطن زهٔ په دکن شوم

اوس به یار نیسمه بل په بیجاپور کښې

دلته هم خان په دکن یادوی په زندان کښې نه - بل شعر ئې دا دے --

که هر څو په دکن ډیرې دی دلبرې

هجری ته په غوره ونیوې گوهرې

نو که دا شعر هم څوک د قید د زمانې گڼی نو هغه به د خپل فراست ثبوت ورکوی - چونکې له دیو شعر ونو نه ظاهره ده چې اشرف خان هجری ټول عمر په قید کښې نه دے تیر کړے خکه نو فاضل مقاله نگار په خپله مقاله کښې نه پیش کړی دی او نه ئې پرې بحث کړے دے - حالانکې قلندر صاحب دغه شعرونه د خپل موقف دپاره پیش کړی دی پکار ده چې همیش صاحب په

www.pukhto.net

خپله مقاله کښې د دیو شعرونو ذکر او جواب کړے وے۔

محترم همیش خلیل صاحب په خپله دغه مقاله کښې یوه خبره دا کړې ده چې---

"اګر که د یو شاعر خینې شعرونه د هغه د ژوند د خینې حالاتو صحی عکاسی هم کوی ولې خینې شعرونه یې د حقیقت خلاف یو شاعرانه مبالغه یا د شعری فن د روایت، نه د فائدې ترلاسه کولو په شوق کښې وئیلی وی۔ خکه نو د شعر د سیاق و سباق او پس منظر په رڼا کښې باید د شعر معنیٰ او مفهوم واخستلے شی او محض خپل مقصد ته په غلطه طریقه د تقویت رسولو نه ګریز وشی۔" (10)

د فاضل مقاله نګار له دې خبرې سره زما پوره پوره اتفاق دے خو پکار ده چې د قلندر صاحب له خوا د هجری بره ذکر شوی شعرونه د سیاق و سباق او پس منظر په رڼا کښې محترم مقاله نګار پیش کړے وے۔ دغو شعرونو کښې لکه چې لوستونکیو ته وړاندې شو هیڅ قسمه شاعرانه مبالغه نه ده شوې۔ دا هم هغه قسم شعرونه دی چې د اشرف خان هجری د صحی حالاتو عکاسی کوی۔ او دغه وجه ده چې فاضل مقاله نګار په خپله مقاله کښې پرې بحث نه دے کړے۔

که زمونږ فاضل مقاله نګار په دې خبره اصرار کوی چې د قلندر صاحب له خوا د هجری پیش کړی شوی شعرونه د حقیقت خلاف شاعرانه مبالغه یا د شعری فن د روایت نه د فائدې ترلاسه کولو په شوق کښې وئیلی

www.pukhto.net

شوی دی نو بیا چې په خپله مقاله نګار د کومو شعرونو نه استنباط کوی دغه حکم په هغو شعرونو هم لګیدے شی۔

محترم قلندر صاحب د هجری دا شعرونه هم پیش کړی دی چې فاضل مقاله نګار پرې بحث نه دے کړے۔

ما له شعره شغل کړ په بیجا پور کښې

چا وې تا لره راځی د هند افغان دے

بل مطلب یې په زړه نشته بې دیدنه

خواهش کا د غزلونو سخن دان دے

وې مې ژړې بر بر راوله نادانه

د دانا سړی مجلس داد دیز دان دے

د دې شعرونو پیش کولو نه پس قلندر صاحب لیکی---

"که دا شعرونه په زندان کښې لیکلی شوی وی نو د دې مطلب دا شه چې د هندی مغلو بندی خانو کښې په ملاقاتونو هیڅ پابندی نه وه او بندیانو په کښې د اسې خلق خان سره ساتلی شو چې دوی ورته نادان وئیلے شه او هغوی به نه خفه کیده۔" (۱۱)

شعرونه به ګرانو لوستونکیو کتلی وی او د جیل د ماحول نه به هم خینې خینې خلق خبر وی۔ د افغانستان د عالمانو خو نه شم وئیلے خو محترم مقاله نګار په خپله جیل تیر کړے دے او ښه تړې خبر دے او دا هم یوه منلې شوې خبره ده چې د پاکستان جیلونه کوم سهولیات لری دا د مغلو د وخت په جیلونو کښې نه وو۔ د افغانستان د عالمانو استثنیٰ مې خکه

www.pukhto.net

وکړه چې د "زنخیرونو شاعر" کښې ددې شعرونو په حقله لیکی چې --

" کله چې هجری ته په زندان کښې یو شاعر ورحاضریږی او له

هغه سره په شعر او شاعری خبرې کوی نو هجری وانی-" (12)

او له دې نه پس ې دغه پوره نظم پیش کړے دے- په نظم کښې داسې شعرونه هم شته چې هجری ورته خپل بیاض وړاندې کړے دے- نو زما په خیال د افغانستان عالمان د جیلونو د حاله بیخی واقف نه دی- ګنی داسې خبرې به ې هیچرې نه کولے- په جیل کښې داسې خلق د قیدیانو سره په دې ترقی یافته دور کښې هم نه وی چې هغوی له سوال جواب وړی راوړی او هغوی ورته "نادان" هم ونیلې شی- او بغیر د پانسی د سزا یافته تن نه بل هیچا له ملاقاتی دننه جیل ته نه پریږدی-

محترم قلندر صاحب د اشرف خان هجری د یو نظم دا شعرونه پیش کوی او لیکی ----

"په ما هر زمان اختر دے چې تاوینم

بې دیدنه دې دکن شه راته خار

په اخلاص شه رارواته فکر مه کړه

و همت وته شی لنډه لویه لار

تل دې لاف دپت کاوه په خپل وطن کښې

دکن څه دے که ربنتیا کوے اختیار

تر هندوې کمه مه شه په یاری کښې

چې په یار پسې له اوره نه کا یار

www.pukhto.net

د لیلیٰ غوندې ربنتیا و کړه نامی شه

په مجنون پسې وطن کړه هندوبار

په دکن کښې ناوې جونه کمې نه دی

که مې زړه په چا کولے لږ قرار

د دیر شو شعرونو دې نظم کښې له خپلې وطنی محبوبې نه بار بار او په اصرار د اخواست شوے دے چې له روهه دکن ته راشی اوس نه یو خبر چې د مغلو د زمانې په بندی خانو کښې سیاسی قیدیانو ته د اسراعات حاصل وو چې خپلې محبوبې خان سره ---- شی-" 13

د دې په جواب کښې مقاله نگار لیکی ----

" دغو خلقو ته د اغلط فهمی شوې ده چې کنی قیدی خپلې محبوبې ته د هغه سره په زندان کښې د وسیدلو خواست کړے دے - حالانکې حقیقت د اسې نه دے بلکې قیدی خپله محبوبه وطن نه د بیجاپور زندان ته ملاقات دپاره راغواړی - قیدی سره (د دیر و مخصوصو حالاتو سیوا) په ملاقات هیڅ پابندی نه وی او نه د اپابندی په خوشحال بابا وه نه په اشرف خان هجری او نه د هغه وخت په نور و سیاسی بندیانو وه -" 14

گران لوستونکی دې فیصله وکړی چې په دې نظم کښې چې شعر ونه ې پیش شو اشرف خان هجری محبوبې ته د ملاقات کولو دپاره خواست کړے دے او که د ژوند تیرولو دپاره ې رابللې ده؟

www.pukhto.net

مقاله نگار وړاندې لیکی ---

"خو د دیرشو شعرونو د نظم نه یې صرف د خپلې خوښې اووه شعرونه رانقل کړی دی حالانکې دغو شعرونو کښې یو شعر هم د اسې نشته چې د اتړې واضحه شی چې ګنی هجری خپله وطنی محبوبه په زندان کښې د خپل ځان سره اوسولو دپاره راغواړی او بیا په تیره تیره د اشعر خو ډیر واضح دے چې قیدی خپله محبوبه لکه چې وړاندې هم عرض شوے دے محض د ملاقات دپاره راغواړی نه چې زندان کښې ځان سره وسولو دپاره - شعر دادے ---

که په ما پسې رانه شې و دکن ته
په دروغ دې راته کړه دمینې شمار

محترم مقاله نگار وائی چې له دې شعرونو نه دا نه واضحه کیږی چې ګنی هجری خپله محبوبه زندان کښې د خان سره وسولو دپاره راغواړی - نو دا چا ونیلی دی او کله یې ونیلی دی؟ قلندر مومند صاحب خو دا وائی چې دغه وخت هجری په زندان کښې نه وه - او کوم واضح شعر چې محترم همیش خلیل صاحب پیش کړے دے هغه بره نقل شه - چې وړومبی مصرعه یې داسې ده --

که په ما پسې رانه شې و دکن ته

که د ملاقات دپاره دې راغوښته لکه چې مقاله نگار ګڼلی ده نو بیا یې داسې ولې نه ونیل چې ---

www.pukhto.net

ملاقات له چې مې رانه شې دکن ته

یا هم د دغې نظم دا شعر چې ----

د لیلیٰ غوندې رښتیا و کړه نامی شه

په مجنون پسې وطن کړه هندو بار

د شعر دویمه مصرعه کښې خپل وطن پرېښول او بل وطن وطن کولو خبره شوې ده بیا هم مقاله نګار وائی چې ملاقات له یې راغوښته ـ د شعر فهمی هم څه حد وی ـ او بیا دا شعر چې ---

په دکن کښې ناوې جونه کمې نه دی

که مې زړه په چا کولے لږ قرار

نو که مونږ د تاریخ خورشید جهان د مولف د یوې بې حوالې او بې سنده خبرې (بقول مقاله نګار) او د پټې خزانې د دفاع کونکیو خبره وه منو نو دا به هم منو چې هجری سره په قید کښې ناوې جونه هم وسیدې او هغه ته میسرې هم وے خو دهغه زړه پرې قرار نه کولو او خپلې وطنی محبوبې ته یې خواست کولو ـ عجیبه قید وه ـ

دغسې دا اشرف خان هجری د یو نظم دا شعر ونه هم قلندر صاحب پیش کړی دی او لیکی ---

یوه ورځ د باغ په سیل ومه وتلے

د چمن په سر دلبره وه ولاړه

ما وې اے د صباحت په سریر ناستې

تر تا خار شه د دکن دلبرې واړه

www.pukhto.net

نو کۀ د دې ټولو مراعاتو او خصوصی رعایتونو باوجود د پښتنو مشران او کشران په دې اصرار کوی چې اشرف خان هجری بیجا پور کښې ټول عمر په زندان کښې تیر کړے وۀ نو بیا به دا خامخا منو چې د داسې انصاف پسنده واکدارانو سره د اشرف خان هجری ټول اختلاف د گناه تر حده غلط وۀ۔ 16

ولې فاضل مقاله نگار د دې شعرونو په حقله نه دا وئیلی دی چې دا شاعرانه مبالغه ده او نه ئې په خپله مقاله کښې ذکر کړی دی ۔ گران لوستونکی دې فیصله وکړی چې دا د زندان شعرونه کیدے شی او کۀ نه؟

قلندر صاحب په دلیل کښې د سکندر خان خټک دا یو شعر پیش کړے دے او لیکی ---

چې پیره په دا مکان د وطن نۀ کړې

مگر خوښ د تا مکان دهندو بار شۀ

د دې شعر په دویمه مصرعه کښې کۀ د مکان په ځاې "زندان" راغلے وے نو د وروسۍ مصرعې د "مکان" سره به ئې د تضاد په وجه تاثر هم ډیر زیات شوے وے او د "حقیقت" مطابق به هم وۀ خکه چې د هجری په باره کښې تراوسه دا دعوئ کیدے شی چې هغه په دکن کښې بندی وۀ خو چې د دې شعر دویمه مصرع کښې "مکان" دے او "زندان" نه دے نو مونږ وئیلے شو چې په هغه دیار کښې اشرف خان خپل مکان کښې وسیدۀ۔" 17

محترم همیش صاحب د دې په جواب کښې لیکی ---

www.pukhto.net

"اوس د سکندر خان خټک په قول د اتو شلو شعرونو په دغه ترجیع بند کښې دغه دوه شعرونه لږ هم ولولئ۔۔

په دا لږ احوال مې زړه صبر ونه کړ

احوال جمع د مدت وه ما ونه وې

څلورم د محرم چې سن د غضبج دے

په تلوار سړے رخصت وه ما ونه وې

هر کله د شعر د لیکلو کال چې ۱۰۹۳ هجری ثابت شو او دغه وخت به د اشرف خان د قید په مشکله یو کال تیر شوے وه او چونکې د قیدی د قید ابتدا نی څو کلونه په ګوالیار کښې تیر شوی وو نو ثابته شوه چې ذکر شوے منظوم خط دکن بیجاپور ته نه بلکې ګوالیار ته لیږلے شوے وه او دا خبره شعر کښې د "مکان" فرضی معنیٰ غلطه ثابتوی۔" 18

په زیر بحث مقاله کښې راغلی دغو دوو شعرونو کښې د دویم شعر ورومبی مصرعه مکمله بې وزنه ده ۔ او چې د کوم لفظ نه د کال استخراج شوے دے هغه "غضبج" لیکلے شوے دے چې ۱۸۱۰ تړې راووځی ۔ او د فاضل مقاله نګار له خوا تراوسه د دې تردید یا تصحیح نه ده شوې۔ حالانکې د جرس دغه ګڼه د کال نولس سوه پینځه نوی ده ۔ په ادبی ستوری دوهم ټوک کښې ح ۔ رفیع دا شعر داسې راخستے دے۔۔۔

څلورم د محرم چې سن غصج دے

په تلوار سړے رخصت وه ما ونه وې

www.pukhto.net

بناغلے ح ـ رفیع د دغې منظوم خط په حقله په خپل دغه کتاب کښې لیکی ---

" دا لیک یو تاریخی باب او له ادبی پلوه د پښتو ادب یو شهکار دے چې په لوستو سره به ې یقیناً زما د وینا ملاتړ شئ ـ په دې لیک کښې یوه مهمه خبره د لیک د نیټې ده په لیک کښې وټیل شوی چې افضل خان اوس د شلو کالو شاوخوا عمر لری او د لیک د لیکلو کال ې "غفح" (۱۰۸۸ هق) دے خو دا سم نه دے نو ځکه د نورو سندونو په رڼا کښې دا نیټه سمولے شو خصوصاً په دې برخه کښې له مونږ سره تاریخ مرصع چې باوری متن او د وخت اثر دے، ښه مرسته کولې شی ، افضل خان له خپل صراحت له مخې دې په ۱۰۸۸ هق کښې د شل کلنی شاوخوا نه بلکې د دولس کلنې په شاوخوا کښې وه او هم په دې کال اشرف خان نه وه بندی شوے او د دده د بندی کیدلو وخت د ۱۰۹۲ هق د ثور یو دیرشمه یا د جوزا اول دے په هم دې ترتیب په دې کال د دوی کډې توتکی ته تللې او له هم دې کال وروسته افضل خان شل کلنی ته ورلندیږی نو ځکه مونږ د "غفح" کلمه د کاتب بې احتیاطی ګڼو او دا کلمه به "غصج" تصحیح کوو چې ۱۰۹۳ هق کال ترې راووځی او دا هغه وخت دے چې د سکندر خان د لیک ټول محتویات په تاریخ مرصع کښې له راغلو پیښو سره سمون خوری ـ دا چې د لیک په متن کښې د خان خوشحال خان نوم

www.pukhto.net

نشته خان دا وخت له کډو بیل په نظام پور کښې وۀ او اشرف خان ته به هرو مرو د دې خبرې پته وه نو خکه سکندر خان په لیک کښې موضوع ته نغوته نۀ ده کړې۔" 19

د بناغلی رفیع د وینا مطابق په نظم کښې "غفح" لفظ راغلے دے خو نومورے مولف ېې د کاتب بې احتیاطی ګڼی ۔ او د کاتب د "غفح" نه "غصج" جوړوی حالانکې له دې نه "غقج" هم جوړیدے شی چې کال تری ۱۱۰۳ هجری راووځی او د رفیع صاحب د "غصج" نه زیات قرین قیاس هم دے ۔ او لکه چې څنګه بناغلی ح۔ رفیع منلے ده په دغه منظوم خط کښې د خوشحال بابا ذکر بیخی نۀ دے شوے او هغۀ ورله دا توجیه کړې ده چې دغه وخت خوشحال بابا په نظام پور کښې وۀ او اشرف خان هجری ته به هرو مرو د دې خبرې پته وه خکه، دا خبره سمه نۀ ده خکه چې سکندر خان د ټولو وړو لویو ذکر کوی خو خپل ورور اشرف خان ته د پلار متعلق بیخی خبره نۀ کوی او یو ځوے داسې نۀ شی کولے چې مشر ورور ته په خط کښې د ټول خاندان څۀ چې د ملګرو او دوستانو احوال بیان کړی او د پلار ذکر دې نۀ کوی او بیا په داسې حال کښې چې پلار ېې د ډیر عمر هم وی۔ د سکندر خان خپلک له خوا اشرف خان هجری ته د خوشحال بابا ذکر صرف په دې وجه نۀ کول چې هغۀ ته به هرو مرو پته وه چې دا وخت په نظام پور کښې او سی هډو دلیل نۀ دے۔ کۀ اشرف خان ته د پلار په حقله علم وه نو د خامنو ، وروڼو او نمسیو په حقله هم ورته پته وه۔ نو بیا د هغوی د ذکر وړ په دغه منظوم خط کښې شوے دے۔

www.pukhto.net

پښتو اکیډمۍ کښې پرته قلمی نسخه چې ډیره خوشخطه او صفا لیکلې شوې ده کښې دغه لفظ "غفح" دے ۔ او لکه څنګه چې ښاغلی ح۔ رفیع وئیلی دی له غفح نه ۱۰۸۸ هجری کال راووځی او دغه وخت اشرف خان هجری قید نه وۀ ۔ ځکه نو تر کومه چې د دغه منظوم خط بله قلمی نسخه نه وی پیدا شوے او دا خبره نه وی سپینه شوې چې اصل لفظ څه دے تر هغې زۀ د همیش صاحب دا خبره چې د دې منظوم خط د لیکلو کال ۱۰۹۳ هجری دے منلے نه شم ۔ البته له نظم نه دومره پته لګی چې د خوشحال بابا د وفات نه پس لیکلے شوے دے ځکه چې دهغۀ ذکر په کښې نشته ، بله دا چې د خط لیکلو او لیږلو په وخت اشرف خان هجری له قیده وتې او په بیجاپور کښې ئې د نظر بندۍ ورځې شپې تیرولې ځکه چې په قلمی نسخه کښې هم او ادبی ستوری دوهم ټوک کښې هم دې نظم ته دا لیکل شوی دی ---

"خط په اشرف خان جیو چې هندوستان لره استولے شوے وۀ،
احوال د وارو په نظم کښې راوورشۀ ۔" (20)

کۀ چرې دغه وخت هجری په زندان کښې وے نو سکندر خان په قطعاً دا نه لیکل ۔ یا به ئې د هندوستان په ځائې زندان لیکلو او یا به د هندوستان زندان لیکلو ۔

قلندر صاحب د کامل صاحب مرحوم په حواله د سکندر خان څټک د نظم نه شعرونه پیش کړی دی خو حواله ئې نه ده ورکړې ځکه نو دهغې په حقله محترم همیش صاحب لیکی چې ---

www.pukhto.net

" دا نۀ دی ښودلی شوی چې کامل مرحوم د سکندر خان د ذکر شوی نظم خبره کوم ځای کړې ده؟ اقتباس نه صرف دومره قدرې معلومیږی چې کامل مرحوم د نظم صرف ذکر کړے دے او بس۔ اوس سوال دا پیدا کیږی چې دغو خلقو د سکندر خان ذکر شوے شعر له کومه راوړو او په حواله ورکولو ې خپل ادبی فرض ولې تر سره نۀ کړو؟ خو حقیقت دا دے چې ذکر شوے شعر د هغه ترجیح بند نه اخستلے شوے دے کوم چې محترم حبیب الله رفیع خپل کتاب ادبی ستوری دوهم ټوک کښې په وړومبی ځل ادبی دنیا سره متعارف کړے دے۔" (21)

لکه چې اګاهو ووئیلی شو قلنډر صاحب حواله نۀ ده ورکړې پکار ده چې حواله ې ورکړے وے۔ نور تر کومه چې د ح۔ رفیع د ذکر نۀ کولو خبره ده نو د هغۀ کتاب "ادبی ستوری" محترم قلندر صاحب ته د پټه خزانه فی المیزان لیکلو په وخت میسر نۀ وۀ ۔ ځکه چې په کتابیاتو کښې د دغه کتاب نوم نشته۔ ګنی چې د افغانی لیکونکیو کوم کتابونه هغوی ته میسر وو د هغې ذکر ې کړے دے۔

ګران مشر په خپله مقاله کښې دا خبره هم کړې ده "چې نۀ په خوشحال بابا د ا پابندی وه نۀ په اشرف خان هجری او نۀ د هغه وخت په نورو سیاسی بندیانو" (حواله اګاهو تیره شوې ده) حالانکې په خپله زیر بحث مقاله کښې ې یو ځای دا هم لیکلی دی چې ما ګرانو لوستونکیو ته پیش کړل چې "د اشرف خان هجری هغه سیاسی حیثیت نۀ وۀ کوم چې د

www.pukhto.net

خوشحال بابا وۀ" ـ بله دا چې د دې خبرې هیڅ حواله ې نۀ ده ورکړې چې د ا معلومات هغوی ته له کومه شوی دی ـ خکه چې محترم قلندر صاحب د مآثر عالمګیری په حواله لیکی ---

" حقیقت دا دے چې د بادشاه خپل خوی معظم چې ٤٠ هزاری وۀ او هم دغلته کښې قید وۀ نو هغۀ او خامنو ته ې د سر خرڅیلو اجازت هم نۀ وۀ ـ" (22)

محترم همیش صاحب وړاندې لیکی ---

" بیا هم د دغه نظم یو ډیر اهم شعر چې دکن بیجاپور کښې د اشرف خان هجری د ازاد ژوند د مفروضې تردید کوی په ذکر ئې کولو ې د (تدلیس) د جرم ارتکاب کړے دے ـ د نظم نه صفا معلومیږی چې قیدی ته په خپل یو پیغام کښې وطنی محبوبې د خپلې یوې ناروغتیا ذکر کړے دے او ناروغتیا دا ده چې د هغې په څټ د انه ختلې ده او قیدی هجری ورته وائی چې دا زمونږ دوارو تر مینځه د بیلتون هغه اور دے چې ستا په څټ د د انې په شکل او زما (هجری) په پښو لکه د تور مار ودۀ شو ـ بیړیو یعنې د پښو زنځیر ته د تور مار سره تشبیه ورکړې شوې ده ـ" (23)

محترم مقاله نګار یو خل بیا د تدلیس لفظ د خیانت د پاره استعمال کړے دے ـ تدلیس د یو ځیز عیب پټولو ته وئیلے شی ـ باقی دغه اهم شعر چې همیش صاحب یادوی دا دے ---

www.pukhto.net

سیاه مار لکه دما په پښو ودهٔ شهٔ

غمې ستا په څټ کهٔ کړې وی گزار

د محترم مقاله نگار کړې د دې شعر تشریح چې بره نقل شوه سره لږ اختلاف کوم او هغه داسې چې (چې هر کله زهٔ په دکن بیجاپور کښې بندی شوم نو دغې غم ستا په څټ گزار وکړو او د دانې په شکل کښې بنکاره شهٔ ۔) په دویمه مصرعه کښې د ضمیر "ې" د وړومبۍ حادثې دپاره ده ۔ څکه نو دا تشریح چې (د بیلتون اور ستا په څټ د دانې په شکل او زما په پښو لکه د تور تور مار ودهٔ شو) غلطه ده ۔ خو د دې شعر کهٔ هر څنگه تشریح وشی نو دا ترې نهٔ ثابتیږی چې گنی هجری، تر مرگه په زندان کښې وهٔ ۔ قلندر صاحب دا نهٔ دی وئیلی چې هجری د قید نه خلاص شو نو اکوړی ته راغلو بلکې هغه وائی چې بیا په بیجاپور کښې ساتلے شو او وطن ته د تلو اجازت ورته نهٔ وهٔ ۔ نو کیدے شی چې د تور مار په پښو ودهٔ کیدل هغهٔ د ټول عمری وطن بدری دپاره تشبیه استعمال کړے وی ۔ څکه چې قلندر صاحب دهغهٔ دا فارسی شعر هم پیش کړے دے او لیکی ---

پس ازاں کش قلم عفو بورزم راندی

بعد ایام کثیر و پس از اعمار دراز

"پس له هغه چې د معافی قلم دې زما په گټه (یا دا کهٔ لفظ بوزرم وی نو زما د گناه په پیټی) دیرې ورځې او وږدې مودې نه پس راکښلو او بیا په دې خپله حیرانتیا بنکاره کوی چې د گناه د معافی نه پس زهٔ ولې څو کارغانو ته حواله شوم ۔ نو د گناه د

www.pukhto.net

معافی، باوجود خدائ خبر چې د اخیال ولې کیږی چې اشرف خان هجری په بندی خانه کښې وۀ۔" (24)

د اشرف خان هجری له دې شعر نه پس هم چې څوک دامنی چې هغۀ په قید کښې خودکشی کړې وه نو دا به ډیره عجیبه خبره وی۔

قلندر صاحب په یو ځائ کښې طنزآ دا خبره کړې ده چې کۀ د مغلو قیدیانو ته دومره مراعات حاصل وو نو بیا خو هغوی انصاف پسنده وو او اختلاف ورسره غلط وو ۔ زمونږ فاضل مقاله نګار دې خبرې له یو بل رنګ ورکړے دے لیکی ----

"د ځینې خلق د اشرف خان ټول اختلاف د ګناه تر حده غلط ګڼی او دغه شان اشرف خان ئ په ناکرده ګناه ګناهګار کړے دے او دا خبره ئ شاته کړې ده چې اشرف خان خو دغو انصاف پسنده واکدارانو په وفاداری، کښې د خپل پلار سره هم په بې وفایی، کښې دومره وړاندې تللے وۀ چې دغو انصاف پسنده واکدارانو ته ئ په خپله علاقه د خپل عظیم پلار نۀ پریښولو مچلکه هم ورکړې وه او دغو انصاف پسنده واکدارانو سره د دومره لوئ وفاداری، باوجود بیا هم دا خلق لګیا دی اشرف خان هجری خپلو لوستونکیو ته د انصاف پسنده واکدارانو سره د اختلاف په وجه د یو ملزم په شکل پیش کوی۔" (25)

د هغوی د خبرې د جواب نه اګاهو دا وضاحت کوم چې په نقل شوی اقتباس کښې د "خلق" نه مراد قلندر مومند صاحب دے۔ په دې یو

www.pukhto.net

ورو کی اقتباس کښې مقاله نګار "انصاف پسنده" بیا بیا استعمال کړے دے ۔ ما خو ورومبے ووئیل چې قلندر صاحب طنزآ وئیلی دی چې اشرف خان هجری ته په قید کښې د نوکرانو ساتلو، خپلې محبوبې راغوښتلو، نوړ یارانو جورولو اجازت وو نو بیا خو مغل دیر انصاف پسنده وو ۔ قلندر صاحب نه اشرف خان هجری ګناهګار کړے دے او نه ئې مغلو حاکمانو ته انصاف پسنده وئیلی دی ۔ زما په خیال چې په دې طنز خو به هر سړے پوهیږی ۔

مقاله نګار وړاندې لیکی ---

"بیا که اشرف خان هجری واقعی ازاد وے او لکه د ازادو خلقو هر چرته په تللو قادر وے، نو وطن ته د راتللو خپل هغه خواهش ئې ولې نه تر سره کولو، کوم چې دغه لاندې شعر کښې محسوسیږی ---

زه هجری دائم هوس د خپل وطن کړم

بیجاپور که هر څو ښه داورنګ شاه دے 26

ما اول هم دا خبره وکړه چې اشرف خان هجری هیڅا هم په دې معنو کښې ازاد نه دے ګڼلے چې ګنی هغه هر خوا تلے شو ۔ د زندان نه وتے وه او وطن ته په تللو ئې پابندی وه ۔ او هم د دغه نظر بندۍ په وخت کښې لیکلی فارسی نظم کښې ورته هغوی اشاره کړې ده ۔ چې د معافۍ باوجود زه ولې یو څو کارغانو ته حواله شوم ۔ شعر داسې دے ---

www.pukhto.net

گشت تفویض ہماندم بہ کلاغانے چند

اختیار بنگہ داشتن و محبس باز 27

قلندر مومند صاحب په خپل کتاب کښې یو ځای لیکی ---

"د اشرف خان هجری د دیوان له یو فارسی نظمه د اسې ښکاری چې د گرفتاری په لسم کال "شهنشاه غفور" (لکه چې هجری اورنگ زیب ته نوم ورکوی) هغه معاف کړے وۀ ۔" (حواله تیره شوې ده)

محترم قلندر مومند صاحب د هجری فارسی شعر نۀ دے پیش کړے زۀ ئې پیش کوم ---

عرضکے ہست زہے را بہ شہنشاہ غفور

سایہ عدل بہ فریاد غریبے انداز 28

ترجمه: ۔ یو ورځ کے عرض مې دے شهنشاه غفور ته چې د غریب په فریاد د خپل عدل سیوری وکړه ۔ او هم د دې نظم څلورم شعر هغه دے چې قلندر صاحب پیش کړے دے او اګاهو ما ګرانو لوستونکیو ته وړاندې کړو۔

نو کۀ چرې اورنگ زیب هغه نۀ وۀ معاف کړے نو بیا ورته هجری شهنشاه غفور ولې وائی ۔ پکار دی چې فاضل مقاله نګار د دې هم څۀ توجیه پیش کړی ۔

قلندر صاحب په خپل کتاب کښې یوه خبره دا هم کړې ده چې هر کله اشرف خان هجری په زندان کښې مړ وۀ نو بیا د هغۀ دیوان څنګه دلته راورسید ۔ په جواب کښې ئې مقاله نګار لیکی ---

www.pukhto.net

" فراقنامه له هنده څوک راوړے شی نو د اشرف خان هجری دیوان ولې نه شی څوک راوړلے ۔" (29)

د دې په جواب کښې زما دا عرض دے چې خوشحال بابا په قید کښې مړ نه وه بلکې په خپل وطن کښې د افریدو په ډنبره کښې چې د افغانستان او د پښتونخوا ځنې عالمان یې په تیراه کښې یو ځای ګڼی مړ شوے وه ۔

فاضل مقاله نګار مخکښې د قلندر صاحب له خوا د اشرف خان د فارسی شعر چې په کښې د ګناه د معافۍ خبره شوې ده پیش کولو په حقله لیکی چې ---

ولې دا افسوس خبره خو داده چې هم دذکر شوی فارسی شعر نه وړاندې شعر باندې یې یو څل بیا خاموشی مصلحت ګڼلے دے ۔ شعر دادے --

"تسع بگزشت که در نار عتابت هستیم

سال عاشر شده بر عمر عذابم آغاز

(نهۀ کاله وشول چې ستا د عتاب په اور کښې سوزم او د عذاب د عمر لسم کال مې را د بره شو ۔) اوس که بالفرض مونږ دا وه منو چې د قید د لسم کال په آغاز د هغه ګناه معاف کړے شوه او په ځای د قید هغه ازاد کړے شوے وی نو بیا دغه شعر سره به څه کوو --

ده سال و چند ماه شده کز عتاب شاه

محبوس گشته ایم درین دار عاصیان

www.pukhto.net

یعنې څو میاشتې دپاسه لس کلونه تیر شو چې د بادشاه له عتابه د
گناهگارو په دغه دنیا (زندان) کښې بندی یم۔" 30

فاضل مقاله نگار "دار عاصیان" ته په لیندو کښې "زند ان" لیکلے دے۔ پته نشته چې د دار عاصیان ترجمه هغوی ولې زندان کوی۔ ځکه چې گناهگار خلق یوازې په زند انونو کښې نه وی بلکې بهر دنیا کښې هم وی۔ او نه تر اوسه چرته یوې ډکشنرۍ د دار عاصیان دغه معنیٰ کړې ده۔ ما خو مخکښې هم عرض وکړو چې هجری په خپل دغه فارسی نظم کښې اورنگ زیب ته شهنشاه غفور ونیلی دی د نظر بندۍ د وخت نظم دے او دا عرض ورته کوی چې یو ځل دې زه معاف کړم نو بیا دې ولې څو کارغانو ته حواله کړم۔ نو که د لسم کال نه پس هم هجری ځان بندی گنی نو نظر بندی هم یو قسمه قید او عتاب وی۔ او په دغه نظم کښې دا شعرونه هم شته ---

گرچه اصدار چنین حکم پس از عفو گناه
دور بود از کرم شاه به صد تیر انداز
یعلم الله خبرم نیست نمیدانم هیچ
کیف وزرے که بران بنده معاتب شد باز 31

ترجمه :- د عفو نه پس داسې حکم کول د بادشاه د کرم نه ډیره لرې خبره ده۔ الله پاک خبر دے زه هیڅ خبر نه یم او نه راته علم شته چې په کومه گناه زه دوباره معتوب شوم۔

قلندر صاحب دا نه دی ونیلی چې تیک لس کاله تیر یدو نه پس

www.pukhto.net

هجری اورنگ زیب معاف کړے دے۔ بلکې هغوی خو د فارسی هغه شعر پیش کړے دے په کوم کښې چې د عذاب د عمر د لسم کال شروع کیدو خبره شوې ده۔ او په ورپسې شعر کښې وائی چې پس له هغې دې زما په گناه د معافی قلم راکښو۔ نو ممکنه ده چې څۀ دپاسه لس کاله تیریدو نه پس له زندانه راوتی وی۔

د اشرف خان هجری له دیوان نه قلندر صاحب ثبوت پیش کړے دے چې د لسو کالو تیرولو نه پس مغل حکمران هغه پرینبے دے۔ او دا خبره یوازې هغوی نۀ ده کړې بلکې د پټې خزانې عالم او فاضل مشرح، مترجم او محشی حبیبی صاحب مرحوم هم کړې ده۔ حبیبی صاحب مرحوم لیکی---

"خوشحال چې اوس نو سپین ږیرے او زور شوے وۀ خپل مشر زوے اشرف خان متخلص په هجری ؒ د قوم خان کړ مگر بهرام اشرف خان ونیولے او په ۱۰۹۳ هجری کښې ؒ د مغلو په لاس ورکړ، چې لس کاله په بیجا پور کښې بندی وۀ او آخر هم هورې مړ شو۔" (32)

له دغې نه علاوه یو بل ځاې کښې لیکی------

"اشرف خان هجری ؒ تخلص او د خان زوی دے، لوې د شعر دیوان لری، چې یوه برخه ؒ راورتی په گلشن روه کښې چاپ کړې ده، او د دۀ د شعر روښه قریحه ښۀ ښکې څرگندیږی۔ دے په ۱۰۹۳ هجری کال د مغلو لښکرو په بیجاپور کښې د دکن بندی کړ،

www.pukhto.net

او پس له لسو کالو حبسه، هوري د وطن په بیلتون کښې مړ شو۔" (33)

دا خبرې حبیبی صاحب مرحوم د خوشحال خان خټک مرغلرې په مقدمه کښې کړی دی۔ او چې له کومو کتابونو نه یې استفاده کړې ده په هغې کښې تاریخ مرصع او خورشید جهان هم شامل دی۔ او لکه چې مخکښې خبره شوې ده خورشید جهان اشرف خان هجری په قید کښې خودکشی کونکے ګڼی۔ ولې عالم او فاضل حبیبی مرحوم د خورشید جهان دغه خبره کۀ په خپله مقدمه کښې رد کړې نۀ ده نو منلې یې هم نۀ ده۔ د پټې خزانې مدافعین کۀ د قلندر صاحب خبره د ضد او عناد په وجه نۀ منی نو پکار ده چې د حبیبی صاحب مرحوم خبره وۀ منی۔ او حبیبی صاحب مرحوم هم اشرف خان لس کاله بندی منی۔

د اشرف خان هجری د پښتو او فارسی دواړه دیوانونه محترم همیش صاحب چاپ کړی دی خو په دواړو دیوانونو کښې داسې شعر نشته چې د قید د یولسم، دولسم، دیارلسم یا څوارلسم کال ذکر په کښې شوی وی۔ د پټې خزانې دفاع کونکیو او د تاریخ خورشید جهان د خودکشی خبره منونکیو له پکار دی چې دا ثابته کړی چې لس کاله او څو میاشتې قید تیرولو نه پس هجری شاعری پریښې وه او یا بې هوشه شوے وۀ۔

حوالې

(1) پټه خزانه فی المیزان ص۔ ۲۳۵، ۲۳۶، ۲۳۷

www.pukhto.net

2 جرس جنوی مارچ ۱۹۹۵ ۔ ص ۔ ۲۳

3 تاریخ خورشید جهان فارسی ص ۔ ۲۴۴

4 تاریخ مرصع ص ۔ ۴۲، ۴۳

5 جرس جنوری مارچ ۱۹۹۵ ص ۔ ۳۸، ۳۹

6 بازنامه دافضل خان ختک پیش نامه ص ۔ ۸

7 تاریخ مرصع ص ۔ ۴۹۴

8 هم دغه کتاب ص ۔ ۴۸۷

9 جرس جنوری مارچ ۱۹۹۵ ص ۔ ۲۵، ۲۶

10 هم دغه مجله ص ۔ ۲۳

11 پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۳۸، ۲۳۹

12 دزنخیرونو شاعر ص ۔ ۸۴

13 پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۳۸ و ۲۳۹

14 جرس جنوی مارچ ص ۔ ۲۸

15 هم دغه مجله ص ۔ ۲۹

16 پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۳۹، ۲۴۰

17 پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۴۱

18 تول پارسنگ ص ۔ ۳۶

19 ادبی ستوری دوهم توک ص ۔ ۳۳۳، ۳۳۴

20 هم دغه کتاب ص ۔ ۳۴۴

21 جرس جنوری مارچ ۱۹۹۵ ص ۔ ۳۴، ۳۵

Pukhto.Net
www.pukhto.net

22 پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۳۹

23 جرس جنوری مارچ ۱۹۹۵ ص ۔ ۳۰،۲۹

24 پته خزانه فی المیزان ص ۔ ۲۴۰

25 جرس جنوری مارچ ۱۹۹۵ ص ۔ ۳۳،۳۲

26 هم دغه مجله ص ۔ ۳۸

27 د اشرف خان هجری د فارسی دیوان ص ۔ ۱۲۱

28 هم دغه دیوان ص ۔ ۱۲۰

29 جرس جنور مارچ ۱۹۹۵ ص ۔ ۲۹

30 هم دغه مجله ص ۔ ۳۳ و ۳۴

31 د اشرف خان هجری د فارسی دیوان ص ۔ ۱۲۱

32 د خوشحال خان خټک مرغلری مقدمه ص ۔ ۱۷

33 هم دغه کتاب مقدمه ص ۔ ۷۷

Pukhto.Net
www.pukhto.net

www.pukhto.net

لَاتَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ

د پټې خزانې په رد کښې د محترم قلندر صاحب لیکلی شوی کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې یو باب د اینکرانزم سره تعلق لری - هغوی د ددې باب په شروع کښې د اینکرانزم تعریف په دیو الفاظو کوی --

"اینکرانزم هغه تاریخی غلطۍ ته وائی چې یو لیکونکے یوه واقعه له خپله وقوعه مخکښې یا وروستو وختونو ته منسوبه کړی -"

[1]

او دغه شان هغوی په "پته خزانه" کښې یو دوه داسې غټې بیلګې (دلته بیلګه په هغه معنیٰ نه ده په کومو کښې چې ئې د افغانستان عالمان استعمالوی - په پښتو کښې بیلګه مال مسروقه یعنې د غلا مال ته وئیلے شی) موندلی دی چې د اینکرانزم سره تعلق لری - ورومبۍ بیلګه هغوی د ښکارندوی دا دوه شعرونه پیش کوی او لیکی ---

"په پسرلی چې ئې تیرون په اټک و کا
غاړه غاړه ئې تری سوللہ زړونه
په هر کال اټک د دۀ ښۀ راغلے کاندې
غوړوی په څنډو خپل پاستۀ سالونه

بناغلی حبیبی د دیو شعرونو ترجمه داسې کړې ده --

وقتیکه در موسم بهار بر اتک گزشت
دلهائی مردم کران تا کران دریا پلے را تشکیل داد

www.pukhto.net

اتک ہر سال بہ وے خوش آمدید میگوید

وریگ ہائے نرم خود را بر کرانہا می پراگند

دیو دوارو شعرونو کښې "اټک" د "اباسین" په معنو کښې استعمال شوے دے حالانکې د ښکارندوی (چې ورته د سلطان شهاب الدین غوری ۶۰۲-۵۶۹ هجری معاصر وئیلے شوے دے په وخت کښې د "اټک" دنوم دموجودګی هیڅ تاریخی ثبوت نشته۔" (2)

له دې نه پس قلندر صاحب د اکبر نامې نه هغه اقتباس پیش کړے دے چې په کښې د نیلاب او د لنډی سیند د یو ځای کیدو په مقام د یوې قلعې جوړولو ذکر شوے دے او دا ئې لیکلی دی چې د دې نوم "اټک بنارس" شو۔ او دا په کال ۹۸۹ هجری کښې کښیښودلے شوے نوم دے۔ د اکبر نامې نه علاوه قلندر صاحب د منتخب التواریخ انګریزی، طبقات اکبری، توزک جهانګیری، مآثر عالمګیری او ریاض السیاحة نه هم اقتباسونه راخستی دی چې ټول پرې اکبر نامې سره متفق دی او د ټولو په نتیجه کښې ئې دا خبره کړې ده چې ---

"نو دا بیا هیڅ کله ممکنه نۀ ده چې د شهاب الدین غوری (۶۰۲-۵۶۹ هجری) مطابق ۱۲۰۷-۱۱۷۴ عیسوی معاصر شاعر ښکارندوی دې د سیند په حیثیت اټک وستائی۔ اټک په پښتو کښې هیڅرې د سیند دپاره نۀ دے استعمال شوے او کۀ چا ترې دا معنئ راوکښلې ده نو اټک نه بلکې د اټک سیند ئې یاد کړے دے۔ دا سیند لکه چې د منتخب التواریخ په حواله ووئیلی شو فارسی کښې د نیلاب او

www.pukhto.net

هندی کښې د سند ساګر په نامه یاد شوے دے۔" (۵)

له دې نه پس محترم قلندر صاحب د تاریخ مرصع نه یو څو نمونې ورکړی دی چې په کښې اټک د مقام دپاره او آب سیند د اباسین دپاره استعمال شوے دے ۔ د هغوی د کتاب په جواب کښې محترم همیش صاحب په خپل کتاب "تول پارسنګ" کښې د اینکرانزم د باب جواب نه وۀ کړے خو اوس د جرس جولائی ستمبر ۱۹۹۶ عیسوی په ګڼه کښې هغوی د دغې پاتې باب د جواب ورکولو کوشش کړے دے ۔ هغوی په خپله دغه بې حوالو مقاله کښې لیکی چې ---

"دا اعتراض شوے دے چې هر کله شهاب الدین غوری او هغۀ د همعصر شاعر بنکارندوی په دور اټک په نامه اډو د سره کومه علاقه نۀ وه نو څنګه بیا د نیلاب یا سیند ساګر دپاره بنکارندوی د اټک نوم وپکارولو؟ خو په پته خزانه د اعتراضونو د زنخیر دا هم یوه داسې کړی ده چې د حقیقت په میزان کښې هم څۀ وزن نۀ لری ځکه چې د اټک په نامه یوه علاقه کم نه کم د لوئ شیر شاه سوری د مرګ د ۱۱ ربیع الاول ۹۵۲ هجری نه پس د هغۀ د څوی سلیم شاه په دور کښې د "اټک" په نامه یوه علاقه تاریخ مونږ ته داسې په ګوته کوی ---

"د دغو واقعاتو نه پس سلیم شاه د خپلې دارالخلافې (؟) ګوالیار نه واپس شو او کله چې دیلی ته ورسیدو نو خبر شو چې همایون د هندوستان په اراده اټک ته رسیدلے دے ۔(منتخب

www.pukhto.net

التواریخ ص - ۲۷۷ اردو نه ترجمه)"

د پورته ذکر شوی اقتباس له مخه دا ټک په نامه یو خائ، علاقه یا ښار د اکبر بادشاه دا ټک قلا نه کم از کم اووۀ دیرش کاله وړاندې هم مونږ ته دا ټک د تاریخی ثبوت حقیقت په ګوته کړے دے او دا د ښکارندوی د قصیدې وئیلو نه وړاندې هغه تاریخی ثبوت دے چې معترض ته د منتخب التواریخ د حوالو ورکولو باوجود بیا هم په نظر نۀ دے ورغلے چې په پته خزانه په پټو ستر ګو د اعتراضونو په بهیر کښې یو ځل بیا په موصوف د تدلیس الزام ثابتوی-" (4)

په دې اقتباس له نورو خبرو کولو نه اګاهو غواړم چې په نقل شوی اقتباس کښې د "تدلیس" په لفظ بحث وکړم ځکه چې ګران مشر همیش صاحب په دې لفظ نۀ دے پوهه شوے او د خپل معترض دپاره ئې استعمال کړے دے - د تدلیس معنیٰ دائرة المعارف اسلامیه داسې کوی ---

"تدلیس :- اخفائے عیب ته وئیلے شی - د عربی لغت مطابق د تدلیس معنیٰ داده چې د تجارتی مال څخه نقص یا عیب د خریدار نه پټول - او د محدثینو په اصطلاح کښې د حدیث څخه عیب پټول چې هغه یا خو د متن سره یا د سلسله رواة سره یا د ماخذ سره یعنې د هغې شیخ سره متعلق وی چې له چا نه روایت شوے وی -

(ترجمه) (5)

نو اوس چې د دې تعریف او معنیٰ په رڼا کښې ګورو نو د همیش

www.pukhto.net

صاحب له خوا په خپل معترض لګولے شوے د تدلیس الزام غلط دے ۔ ځکه چې هغوی د منتخب التواریخ څخه عیب له چا نه پټ کړے نه دے ۔ که د مقاله نګار له دغې خبرې نه د ا مطلب وی چې کوم اقتباس ما پیش کړے دے دا د هغوی معترض قصداً پټ کړے دے او لوستونکیو ته یې نه دے ښیئلے نو دا په خیانت کښې خو راتلې شی ولې تدلیس ورته نه شی وئیلې ۔ اول خو قلندر صاحب په خپل کتاب کښې چې د منتخب التواریخ نه څخه اقتباسونه راخستی دی نو د کتاب په متن کښې یې هم او په حوالو کښې یې هم د ا وضاحت کړے دے چې د ا اقتباسونه ما د منتخب التواریخ انګریزی ترجمې نه اخستی دی ۔ او په انګریزی ترجمه کښې د اټک غاړه نه ده یاده شوې ځکه نو د هغوی په معترض د خیانت الزام هم نه شی لګیدې ۔ د دې برعکس محترم همیش خلیل صاحب پخپله د تدلیس بنکار شوے دے ځکه چې د عبدالقادر بدایونی اصل تاریخ منتخب التواریخ په فارسیږ ژبه کښې لیکلې شوې دے په هغې کښې د مقاله نګار له خوا پیش کړی شوی اقتباس کښې د اټک غاړه نه ده یاده شوې ۔ دغسې د هم دغه تاریخ په انګریزی ترجمه کښې هم اټک نه دے یاد شوے ۔ مقاله نګار د دواړو یادو شوو کتابونو یعنې اصل فارسی او انګریزی ترجمې د شتوالی باوجود د اردو ترجمې نه استفاده کړې ده ۔ او د اردو مترجم د فارسیږ د متن "بکنار نیل آب" او د انګریزی ترجمې د Banks of Indus ترجمه د اټک غاړه کړې ده ۔ فاضل مقاله نګار له پکار وو چې د اردو ترجمې دغه عیب یې ګرانو لوستونکیو ته ښیئلې وے ۔ نو د تدلیس بنکار شوے به نه وۀ ۔

www.pukhto.net

لوستونکیو به کتلی وی چې فاضل نقاد د اکبر د عهد نه اګاهو دا تک په نوم د یوې علاقې یا ښار د ثابتولو دپاره صرف یو ترجمه شوے تاریخ په ګوته کړے دے ۔ او له هغې نه ې استناد کولو سره سره په خپل همعصر د تدلیس غلط الزام هم لګولے دے ۔ لکه چې مخکښې ورته اشاره وشوه منتخب التواریخ عبد القادر بد ایونی ولد ملوک شاه چې د اکبر د عهد یو مشهور مورخ دے په فارسۍ ژبه کښې لیکلے دے ۔ د همیش صاحب نقل شوے اقتباس په فارسی چاپ کښې داسې دے ---

"و بعد ازین وقائع سلیم شاه مراجعت بجانب گوالیار که پای تخت ساخته بود نموده بدهلی رسیده بود که خبر آمد که محمد همایون بادشاه بکنار آب نیل بقصد تسخیر هند رسیدند ۔

ترجمه :- له دې واقعاتو نه پس سلیم شاه د ګوالیار پله روان شو چې هغۀ خپل پایه تخت جوړ کړے وۀ چې کله دهلی ته ورسید نو خبر راغے چې همایون بادشاه د هند تسخیرولو دپاره د آب نیل غاړې ته رارسیدلے دے ۔

اوس دې ګران لوستونکی وګوری چې عبد القادر بدایونی مرحوم اټک لیکلے دے او کۀ د آب نیل غاړه ۔ هر کله چې په هغه وخت کښې اټک نۀ وۀ جوړ شوے خکه نو مورخ د آب نیل غاړه لیکلې ده ۔

له ټولو نه اګاهو دا تاریخ په انګریزۍ کښې د ایشیاټک سوسائټۍ بنګال دپاره په دریوۀ جلدونو کښې ترجمه شوې دے ۔ ورومبے جلد George S.A.Ranking M.D په ۱۸۹۸ عیسوی کښې ترجمه کړې دے او

www.pukhto.net

دویم او دریم جلد ې په ۱۸۸٤ عیسوی کښې چاپ شوې او W.H.Lowe M.A ترجمه کړے دے ۔ اوس هم دغه د مقاله نګار له خوا پیش کړے شوے اقتباس زهٔ له دې انګریزی ترجمې سره موازنه کوم ۔ انګریزی مترجم لیکی ---

" After the events Salem Shah returned towards Gwaliar, which he had made his metropolis, and had arrived at Dihli when tidings arrived that Muhammad Hamayun Padshah had reached the banks of the Indus with the aim of conquering Hindustan.

د دې اقتباس ترجمه هم هغه ده چې مقاله نګار پیش کړې ده فرق صرف دومره دے چې د Banks of Indus ترجمه د سند د غاړې په ځاې د اټک غاړه شوې ده ۔ نو اوس په داسې صورت کښې چې اصل فارسی کښې د آب نیل غاړه او په انګریزی ترجمه کښې Banks of Indus ده نو زهٔ وئیلے شم چې د اردو مترجم نه غلطی شوې ده ۔ او فاضل مقاله نګار په دلیل کښې پیش کړې ده ۔ او یواځې د انه د هم دغه اردو ترجمې د یادې شوې صفحې دا حاشیه ې هم نظر انداز کړې ده ---

" اټک د حسن آبدال او پیښور تر مینځه واقع دے ۔ یوه زمانه کښې دې ښار جنګی اهمیت لرلو ۔ ۹۸۹ هجری / ۱۵۸۱ عیسوی کښې اکبر دې ځاې کښې یوه مستحکمه قلا جوړه کړې وه ۔ د قلا کنډر اوس هم د دې د ښې ابادی او ښائست نخښه پته ورکوی ۔ د دې ځاې پراچه سوداګر مشهور دی ۔ چې د کابل او

www.pukhto.net

قندهار پورې ېې تجارت وۀ ـ د اټک د لیدو قابل ځیز د سندھ
دریاب پل دے ـ دلته سندھ دریاب ته د اټک دریاب وائی ـ" 8

او شاید څکه چې هغۀ اټک ښار یاد کړے دے اباسین نه ـ

لکه چې مخکښی ووئیلی شو د اټک دریاب ته پخوا اباسین، آب سیند، نیلاب او سندھ ساګر وئیلې شو ـ بلکې پوهاند عبد الشکور رشاد صاحب خو د اباسین نه تر جهلم پورې ټوله علاقه په سند ساګر یادوی ـ نو د محترم مقاله نګار دا خبره غلطیږی چې د قلا جوړولو نه اګاهو دلته د اټک په نوم ښار یا ابادی وه ـ هغوی د فوائد فقیر الله په تعلیقاتو کښې په صفحه شپږ اویا د روتاس قلا په حقله لیکی ---

"د جهلم د رود او د اباسین (رود سندھ) تر مینځ سیمه سند ساګر په نامه یادیږی ـ په سند ساګر کښې جهلم ته نزدې یو غر د روتاس په نامه سته ـ سلطان العادل شیر شاه سوری (٩٤٧ـ٩٥٢ هـ ق) چې په ٩٤٧ هـ ق کال له سند ساګر څخه د هندوستان لورې ته ستنیدې د روتاس غرۀ په لمن کښې ېې د یوې کلا (هکذا) د ودانیږ تیږه کښیښودله ـ 9

دغسې په شپږ کاله پس دا اینکر انزم د باب د جواب کونکی په ډیر شوا خون پیدا کړے دلیل غلط شو ـ

تراوسه ګڼ تاریخونه لیکلی شوی دی خو مقاله نګار له صرف دغه یو ترجمه شوې تاریخ د اسې په ګوتو ورغلې دے چې په هغې کښې شوې غلطی ېې دلیل ګرځولې ده ـ خو د خپل دغې دلیل د کمزورتیا احساس

www.pukhto.net

ورسره مل دے خکه خو لیکی چې ----

"د ذکر شوی تاریخی ثبوت نه علاوه هم دا حقیقت مونږ نه شو په شا کولے چې هره تاریخی قلا تر اوسه په کومه علاقه تعمیره شوې ده هم د هغه علاقې په نوم بللې شوې ده لکه د شاګی قلا، د جهلم قلا، د لاهور بادشاهی قلا او د کالنجر قلا وغیره دا ټولې قلاګانې په دغه حقیقت ګواهی لی چې د دغو قلاګانو د تعمیر نه وړاندې د شاګی، جهلم، لاهور او کالنجر په نومونو په دغو علاقو له وړومبیه کوم کلی یا ښاریې موجودې وے چې وروستو بیا دغه قلاګانې هم د دغو خایونو یا ښارونو په نامو یادې شوې - او که دا حقیقت وی نو بیا ولې دې دا ټک قلا جوړولو وړاندې دلته هم دا ټک په نامه کوم خائ یا ښار نه وی اباد -" (10)

فاضل مقاله نګار په دې اقتباس کښې دا خبره کړې ده چې قلا په کومه علاقه کښې جوړه شی نو هم د هغې علاقې په نسبت ورته نوم اخستې شی - د هغوی دا خبره تقریباً ټیک ده تقریباً مې خکه ووې چې دیرې داسې قلاګانې شته چې ښارونه ې هم تړې وړاندې اباد شوی وو او بیا هم ورته د ښار یا علاقې په نسبت سره نوم نه شی اخستې - لکه د بالاحصار قلا ته ځوک هم د پیښور قلا نه وائی او نه د کابل بالاحصار قلعه ته ځوک د کابل قلعه وائی دغسې د شیر شاه سوری جوړه کړې د روهتاس قلا ته ځوک هم د جهلم قلا نه وائی - خو بیا هم محترم مشر په دلیل کښې پیش کړې ده - دغه رنګ د لاهور قلعه هم په شاهی قلعه یادولې شی - که محترم لیکونکے خامخا د پټې

www.pukhto.net

خزانې د دفاع ذمه اخستی وی نو پکار دی چې څۀ بل دلیل پیدا کړی څکه چې دهغوی پیش کړی دلیلونه غلط شو۔

دائرة المعارف اسلامیه داټک په حقله لیکی ۔۔

"په مغربی پاکستان کښې یوه قلعه چې د دریائے سندھ او دریائے کابل د یو ځائې کیدو د مقام نه لږه بنکته ده ۔ داټک قلعه اکبر په ۹۸۹ هجری مطابق ۱۵۸۱ عیسوی کښې د اټک بنارس په نوم د خپل ورور مرزا حکیم د حملو خلاف هندوستان ته د د اخلیدو د لویې لارې بچ کولو په غرض جوړه کړې وه چې له کابله په پیښور راتیره شوې ده ۔ دنوم دهمعصره تشریحاتو دپاره فرشته او دابو الفضل اکبر نامه وګورئ ۔ (ترجمه) (11)

پنجاب دسټرکټ ګزټیئر چې په ۱۹۰۶ عیسوی کښې لیکلے شوے دے او بیا په ۱۹۳۰ کښې نظر ثانی شوے دے داټک په حقله لیکی ۔۔۔

"Attock District, which takes its name from the famous ford and fort at the north-west corner of the district, a name accorded to it by Emperor Akbar. (12)

ترجمه :۔ د اټک ضلعې نوم د مشهور ګودر او قلعې نه چې په شمال مغربی ګوټ کښې ده اخستې شوے دے ۔ دا نوم اکبر بادشاه ورکړے دے ۔

هم دغه ګزټیئر داټک قلعې په حقله بل ځائې لیکی ۔۔

"Akbar gave it the name of Attak Banaras in

www.pukhto.net

contradistinction to that of Katak Banaras, the chief

13 Fort at the other extremity of his Empire.

ترجمه :- اکبر دې (قلعې) له اټک بنارس نوم ځکه ورکړو چې د کټک بنارس د لویې قلعې چې د هغۀ د سلطنت په اخری سر کښې ده نه ې بیلتون وشی -

د قلندر صاحب موقف دا دے چې ---

"اټک په پښتو کښې هیڅری د اباسین دپاره نۀ دے استعمال شوے او کۀ چا تري دا معنیٰ وکښلې ده نو اټک نه بلکې د اټک سیند ې یاد کړے دے - دا سیند چې د منتخب التواریخ په حواله ووئیلے شو فارسی کښې د نیلاب او هندی کښې د سند ساګر په نامه یاد شوے دے - د مثال دپاره به زۀ د تاریخ مرصع نه څو داسې مثالونه ورکړم چې هلته اټک د مقام دپاره او آب سیند د اباسین دپاره استعمال شوے دے -"

په اباسین کښې د خوشحال خان بابا د کشتی د دوبیدو د واقعې په تفصیل کښې وائی "خان علیین مکان د دوۀ دریو سړیو سره په تخته پاتو شۀ تخته د کانیو تر څنډو اوبو کښته پورته بنورولې هر چې د اټک په لوری پریواتۀ هغه خلاص شول-- هر چې د خیر آباد و لورته پریوتل هغه واړه غرق شو" دلته دا خبره یاد ساتل پکار دی چې دا کشتی په اباسین (د بنکار ندوی اټک) کښې روانه وه او افضل خان د اباسین یو خوا ته اټک او بل خوا

www.pukhto.net

ته د خیر آباد کلے یادوی ۔" 14

محترم همیش صاحب په خپله دغه بې حوالو مقاله کښې د اخبره هم کړې ده چې ---

"چې کوم سیند له کومې علاقې تیریږی یا په کومه علاقه کښې بهیږی هم د هغه علاقې په نوم یادیږی لکه د میچنۍ سیند به واخلو دا سیند په بروغل کښې د بروغل سیند، وادی یارخون کښې د یارخون سیند، مستوج کښې د مستوج سیند، چترال کښې د چترال سیند، کونړ کښې د کونړ سیند او میچنۍ په علاقه کښې د میچنۍ سیند په نومونو یادیږی ۔ دغه شان د اټک سین چې د اټک له سیمې تیریږی نو د خپلو نورو نومونو سره پخوا هم د اټک سین یا اټک دریاب په نامه یادیدو او نن هم د اباسین سره د اټک سیند یا اټک دریاب په نامه یادیږی۔ او د دې ثبوت دادے چې داکبر بادشاه درباری شاعر فیضی دا سین د اټک دریاب په نامه هم یاد کړے دے وائی ---

نامه نوشتم به خانه ختک را

که پل بندی کنید به دریائے اتک را 15

په زړو تاریخونو او نورو کتابونو کښې د اباسین نوم نیلاب او آب سیند یا سند ساگر راغلے دے۔ کۀ په یو تاریخ کښې داکبر د زمانې نه وړاندې دریائے اټک چرته استعمال شوې وی نو د پټې خزانې مدافعینو له پکار دی چې پیش ې کړی ۔ او تر څو چې اټک په حیثیت د یو مقام نۀ وی ثابت شوے

www.pukhto.net

نو دهميش صاحب دغه خبره دمنلو نۀ ده۔

دا حقيقت دے چې ځنې سيندونه د علاقې په نسبت سره يادېږي خو اطلاق ئې په ټولو سيندونو کول د خپل فراست ثبوت ورکول دی۔ ځکه چې داسې سيندونه هم بلا ډير دی چې د علاقو په نسبت ورته نومونه نۀ شی اخستې لکه درياۍ پنجکوړه، جيندے، سردرياب، ستلج، راوی او داسې نور۔

په نقل شوی اقتباس کښې مقاله نګار په قول د هغۀ د فيضی يو شعر پيش کړے دے چې مکمل بې وزنه دے۔ فيضی دلسمې صدۍ يو بزرګ ترين شاعر دے زۀ دا هيڅ کله هم نۀ شم منلے چې ګنی هغۀ به د اسې بې وزنه شعر وئيلے وی۔ او نۀ ښاغلی مقاله نګار د شعر حواله ورکړې ده چې لوستونکی ئې اصل ماخذ ته رجوع وکړی۔ بلکې په ټوله مقاله کښې ئې د حوالو ورکولو نه داسې پرهيز کړے دے لکه د شوګر مريض چې د خوږو څيزونو نه پرهيز کوی۔ د پيش کړی شوی شعر مطلب دا دے چې "خط مې د ختڼکو خان ته وليکلو چې د اټک په درياب پل وتړئ۔" دا ډير د حيرانۍ مقام دے چې د اکبر اعظم له دربار نه د هغۀ درباری شاعر د ختڼکو د يو خان په نوم خط ليږی او د پل جوړولو امر ورته کوی۔ يادہ دې وی چې د ختڼکو خان نۀ د اکبر اعظم وزير وۀ او نۀ څۀ بل غټ عهديدار۔ چې دومره دروند کار ورته حواله کولې شۀ۔ نو تر کومه چې د دغې شعر ماخذ او د وئيلو کال نۀ وی ښيئلے شوے تر هغې په دې بحث نۀ شی کيدے۔

د محترم قلندر صاحب د دې خبرې په جواب کښې چې "اټک چا

www.pukhto.net

هم په پښتو کښې د اباسین دپاره نۀ دے استعمال کړے" (حواله اګاهو تیره شوې ده) محترم همیش صاحب لیکلی دی ---

"د اشرف خان هجری په دغه شعر کښې کۀ د اټک نه څوک د اټک سیند معنیٰ نۀ اخلی نو دا د هغۀ خپله خوښه البته لوستونکی دې ږې ولولی او خپله دې فیصله وکړی چې دې شعر کښې د اټک معنیٰ د اټک سین ده او کۀ نه؟

ما هالۀ ماتم د خان وکړو په وینو

چې اټک وته مې شاکړه په ژړا شوم 16

نۀ پوهیږم چې په دې شعر کښې د استعمال شوی اټک نه څنګه محترم نقاد د اټک سیند مراد اخلی - ځکه چې په شعر کښې د اسې هیڅ څۀ اشاره نشته - چې اټک په اټک سیند محمول کړې شی - له دغې شعر نه پس مقاله نګار لیکی ----

"او هم په اټک د پورې وتلو غوندې چې د نربدا په دریاب پورې وتو نو وئیلی ږې وو --

د هوسیږ په ښکر برات د وصل مخ شۀ

چې راپورې په ندیږ د نربدا شوم 17

په دې شعر کښې ښکاره ده چې هغوی د نربدا ندیږ یادوی او پرې د پورې وتلو خبره هم کوی - او فقط نربدا ورته نۀ وائی بلکې نربدا ندیږ ورته وائی - کۀ چرې په وړومبی شعر کښې ږې د اسې وئیلې وے چې له اټک چې شوم راپورې په ژړا شوم

www.pukhto.net

نو بیا به په دغې شعر کښې د اټک نه لوستونکیو اټک سیند مراد اخستې وو او کۀ فرض کړه اشرف خان هجری هډو اټک سیند یاد کړې وی نو د دې د شوی اعتراض سره تعلق څۀ دے؟ څکه چې اشرف خان هجری خو د اکبر نه پس تیر شوے دے۔ د اکبر د زمانې نه اګاهو د اټک موجودګی ثابتول پکار دی پس نه۔ له دغې دوارو شعرونو پیش کولو نه پس مقاله نګار لیکی۔۔

"خو بیا هم کۀ څوک د اشرف خان هجری په وړومبی ذکر شوی شعر کښې د اټک له کلمې د اټک سین په معنیٰ کښې د شک ګنجائش ته ځائې ورکوی نو د خوشحال بابا د دغه شعر په حقله به اخر څۀ دلیل پیش کړې شی؟۔۔۔

مروت یاری تړې مۀ غواړه خوشحاله
هر سړے چې اوبۀ وڅښی له اټکه

زما په خیال د خوشحال بابا دا ډیر واضحه شعر د دې اعتراض چې "اټک په پښتو کښې هیڅرې د اباسین دپاره نۀ دے استعمال شوے" یو داسې واضحه تردید دے چې دغه ضمن کښې د نورو ټول بحث دروازې ې بندې کړې۔" (18)

د دې په جواب کښې به زۀ دومره ووایم چې اګاهو ما د قلندر صاحب د کتاب نه یو اقتباس پیش کړې دے چې په هغې کښې هغوی دا خبره کړې ده چې " کۀ چا تړې دا معنیٰ وکښلې ده نو اټک نه بلکې اټک سیندې یاد کړے دے۔" (حواله تیره شوې ده)۔ خو په دې حقله زما خپل خیال دا دے چې د خوشحال بابا په دې شعر کښې د اټک نه مراد مقام دے سیند نه۔ او کۀ

www.pukhto.net

خامخا ئې فاضل نقاد منلو ته تیار نۀ وی نو بیا دومره عرض کوم چې خوشحال بابا کۀ اباسین ته اټک وئیلی وی نو د دې د اینکرانزم د شوی اعتراض سره څۀ تعلق دے۔ دا خو ثابته ده چې اټک نوم د اکبر باچا ایښې نوم دے او فاضل نقاد ئې نۀ منی نو پکار دی چې د اکبر د عهد نه اګاهو اټک په حیثیت د یو مقام یا سیند ثابت کړی نو مونږ به نورې ټولې خبرې مفروضې وګڼو ۔ او د فاضل نقاد خبرې ته به ترجیح ورکړو ۔ کۀ د خوشحال بابا له خوا اباسین په اټک یاد شی نو خوشحال بابا خو هم د اکبر نه ډیر پس ته تیر شوے دے۔

د مقاله نګار په خیال د خوشحال بابا د پیش کړی شوې شعر مطلب دا دے چې څوک د اباسین نه اوبۀ وڅښی نو د هغۀ نه مروت او یاری مۀ غواړه ۔ یعنې د اباسین اوبۀ هغه دبې مروتۍ سوب ګڼی ۔ زۀ دا بیخی نۀ شم منلې څکه چې هغه کله په هند کښې قید شو نو د اباسین او لنډی د اوبو ارمان ئې په دې الفاظو کښې وکړو ---

اباسین ورته ناره وکړه په زوره

و لنډی ته وینا ووایه حلیمه

ګوندې وی چې بیا مې ستاسې جام نصیب شی

په ګنګا جمنا به نۀ یم تر قدیمه

19

بل نن هم په افریدیو کښې یو متل استعمالیږی چې " د تیراه اوبۀ وڅښی نو د خیر طمعه تري مۀ کوه ۔" نو تیراه د کوم سیند نامه ده ؟ تیراه خو د یوې علاقې نوم دے ۔ دغه رنګ خوشحال بابا هم د یو مقام د اوبو

www.pukhto.net

صفت بیان کړے دے ۔ قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د تاریخ مرصع نه ډیرې نمونې پیش کړی دی چې اټک په کښې د مقام دپاره استعمال شوے دے ۔ د دومره نمونو په موجودګی کښې د خوشحال بابا په اکی یو شعر کښې د اټک نه اباسین مراد اخستل زما په خیال علمی کار نه دے ۔ فاضل مقاله نګار له تاریخ مرصع نه بنهٔ خبر هم دے او خائې ئې په خپل کتاب کښې تري اقتباسونه هم پیش کړی دی ۔ نه پوهیږم چې د دې مقصد دپاره هغوی تاریخ مرصع ته ولې رجوع نه کوی ۔ زه دلته د تاریخ مرصع نه د اټک د استعمال یو څو نمونې پیش کوم چې لوستونکیو ته اند ازه وشی چې افضل خان خټک اټک د اباسین دپاره استعمالولو او که نه ؟---

۱۔چې اکبر باچا له کابله و هندوستان ته وجاروت مان سنګهٔ راجا ئې په اټک پریښې ۔

۲۔په سن مذکور ئې قلعه د اټک سازه کړه مسمیٰ ئې په اټک بنارس کړه ۔

۳۔عرضداشت د کنور مان سنګهٔ او د خواجه شمس الدین محمد له اټکه راغلے چې مرزا محمد حکیم سخت بیمار دے ۔

٤۔په سن انصو پینځهٔ نوی په اټک بنارس داخل شهٔ ۔

٥۔هر ګاه چې باچا په نواحی د اټک راغلے ۔

٦۔په پینځو یشتم تاریخ د ذوالحجې په قصد د راولپنډی چې په میان د رهتاس او د اټک واقعه ده ۔

۷۔بهاګو خان چې په اشارت د دارا شاه اټک ته راغلے ۔ دے په اټک

www.pukhto.net

کښې وو۔

۸۔ هالۀ لاقلعه د اټک بنارس نۀ وه بنا شوې و نیلاب ته راغے۔ (20)

گران لوستونکی دې په دې نمونو کښې د اټک په ځایۍ اباسین ولګوی او مطلب دې تري واخلی ۔ کۀ چرې له دیو خبرو نه مطلب ټیک وختو نو بیا د فاضل نقاد خبره باید چې وۀ منلې شی۔

فاضل مقاله نګار د خپلو غلطو حوالو پیش کولو نه پس یوه خبره دا هم کړې ده چې---

" خکه نو دا مفروضه غلطه شوه چې ګنی د اټک کلمه د اکبر بادشاه د ذهن اختراع ده۔" (21)

فاضل مقاله نګار د اکبر بادشاه سرکاری تاریخ او د هغه وخت غیر سرکاری تاریخ منتخب التواریخ چې په خپله یې د هغې د اردو ترجمې نه استفاده کړې ده او دلیل یې تري نیولے دے بیخی غلط ګرځولی دی ۔ دغسې د دغو دواړو تاریخونو نه پس ډیرو ګنو تاریخونو ، ګزټیئر آف پنجاب او دائرة المعارف اسلامیه ټولو د اکبر نامې سره اتفاق کړے دے ۔ خو بیا هم فاضل مقاله نګار دغه مفروضه ګنی ۔ لوستونکی دې په خپله فیصله وکړی چې مونږ به د اټک قلعې د جوړونکی او د هغه وخت د مورخینو خبره منو کۀ د هغوی نه څلور سوه کاله پس ته د یو مقاله نګار ۔ او کۀ مقاله نګار د منتخب التواریخ د مصنف خبره نۀ منی نو بیا د هغۀ د کتاب له اردو ترجمې نه اقتباس ولې پیش کوی ؟ پکار دی چې بیا د دغې تاریخ دغه خبره هم ونۀ منلې شی۔

www.pukhto.net

له دغې بحث نه پس مقاله نګار د قلندر صاحب د دې اعتراض چې د اینکر انزم سره تعلق نه لري ---

"د دې شعر په دویمه مصرعه کښې "سالونه" یو تورے استعمال شوے دے چې حبیبی مرحوم یې ترجمه "ریګ هاے نرم" کړې ده - دا لفظ پټه خزانه کښې د زبدة الفصحا ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی په ذکر کښې د هغه د یو کتاب (شاید نثر) په نامه "د سالو وربمه" کښې استعمال شوے دے او حبیبی مرحوم پرې په حاشیه کښې لیکلی دی "سال بمعنې سرمه ریګ است" سال د میده شکې معنیٰ لري - په دې لحاظ "سالو" د "سال" جمع ده چې د کال د جمع په وزن یې اند ازه کولے شو - پښتو قاموس یې هم سرمه ریګ معنیٰ کړې ده خو جمع یې نه ده ورکړې حالانکې دا قاموس عام طور سره د ټولو اسماؤ جمع بیانوی - زړه پانګه د "سال" معنیٰ داسې کوی "وړې شکې پښتو قاموس اخستی او د پکتیا په خنو برخو لکه منګل، خدران کښې په هم دغه معنیٰ ژوندی ده -" متاسفانه زړه پانګه هم د دې کلمې د جمع صیغه نه بیانوی - پټه خزانه یې یو ځل جمع "سالو" او بل ځاې "سالونه" بیانوی - پښتو کښې د کال جمع هم کله کله په مغیره حالت کښې "کالو" او معمولاً "کالونه" کیږی خو هر کله چې د "نه" جمع معمولاً هغه اسماؤ کښې راځی چې شمیرلے شی خکه نو د سال (شګه) جمع په دې قاعده سالونه صحیح نه ده - او د دې توری په باره کښې هم د

www.pukhto.net

اجنبیت په وجه د مصنوعیت الزام صحیح ثابتیږی -" (22)

په جواب کښې د خوشحال بابا د پینځو شعرونو پیش کولو نه پس لیکی ---

"دغو شعرونو کښې د "غر" جمع "غرونه" او "غرو" د "سمه" جمع "سمې" او "سمونه" او "افغان" جمع "افغانو" او افغانان" شوې ده - خصوصاً بیا د سمه او افغان جمعې پرله پسې سمونه او افغانو نه خو په مغیره حالت کښې او نه معمولاً شوی دی بلکې د شعری ضرورت له مخه شوی دی او په دغه شعری ضرورت نه صرف پښتو شاعری کښې بلکې فارسی او اردو ژبو کښې ډیرو لویو لویو شاعرانو هم عمل کړے دے - بیا د خوشحال بابا دا شعر --

چې د شعر فکر ورشی په خوارۍ کښې

سپینې وریژې په مزه شی ورته گال

"گال" په فارسی کښې غوښت ته وائی او گال هم په هغو اسماؤ کښې راځی چې شمیر لے نه شی - آیا زه اوس دا پوښتنه کولے شم چې د گال جمع به په مغیره حالت کښې گالو صحیح وی او که معمولاً به یې جمع گالونه سمه وی ؟ او که گالونه صحیح وی نو بیا د سال په جمع سالونه اخر د ا اعتراض په کومه جذبه شوے دے ؟ -" (23)

د قلندر صاحب اعتراض ما وړومبے پیش کړو د هغوی د اعتراض مطلب دا دے چې پښتو خزانه کښې د "سال" جمع یو ځای "سالو" او بل ځای "

www.pukhto.net

سالونه" شوې ده - نو مونږ دا لفظ لکه د "کال" په شان ګڼلی شو چې په مغیره حالت کښې ې جمع "کالو" او معمولاً ې جمع "کالونه" کیږی - خو هغوی دا وضاحت هم کړے دے چې په پښتو کښې هغه اسماء چې شمیرلے شی او د "کال" په وزن وی د جمع په حالت کښې ورسره معمولاً "ونه" او په مغیره حالت کښې ورسره "و" لګولے شی - نو هر کله چې "سال" یعنې شګه داسې اسم نه دے چې شمیرلے شی نو ددې جمع یو ځاې په "و" او بل ځاې په "ونه" سره ولې شوې ده؟ محترم همیش صاحب د خوشحال بابا یو شعر چې نقل شو پیش کړے دے چې په کښې د فارسی لفظ "گال" استعمال شوے دے - چې په هغو اسماو کښې راځی چې شمیرلے نه شی - او د خپل همعصر نه ې پوښتنه کړې ده چې د گال جمع به "گالو" صحیح وی او که "گالونه"؟ که "گالونه" صحیح وی نو بیا په "سالونه" ولې اعتراض کولے شی - نو خبره دا ده لکه څنګه چې مقاله نګار منلې ده چې "گال" شمیرلے نه شی ځکه نو ددې توری جمع هم نشته - او دغسې "سال" هم دے چې شمیرلے نه شی - د گال جمع هم گال ده لکه څنګه چې په پښتو کښې د "غوښت" جمع نشته - ولې د پټې خزانې لیکونکی او دریافت کونکی د ددې نه شمیرلے کیدونکی توری جمع هم بیان کړې ده - د پښتو قاموس او زړه پانګه حوالې خو قلندر صاحب ورکړی دی البته پښتو سیند هم "سال" تورے د سرمه ریګ په معنیٰ اخستے دے او جمع ې هغه هم نه ده کړې -

محترم قلندر صاحب په خپل کتاب کښې د اینکرانزم د باب په اخر کښې په حوالو او حاشیو کښې د اخبره هم کړې ده ---

www.pukhto.net

"توزک جهانگیری کښې شهنشاه جهانگیر صراحت کوی چې "
سال" یا "شال" د کامې (جلال آباد) په علاقه "جالې" ته وائی ۔" (24)
ولې فاضل مقاله نګار په دې خبره هډو څه تبصره نه ده کړې ۔ حالانکې دا
خبره په توزک جهانګیری کښې راغلې ده او اهمیت هم لری ۔
د اینکرانزم دویمه بیلګه چې قلندر صاحب پیش کړې ده د حلیمې
حافظې د ذکر سره تعلق لری ۔ دوی په خپل کتاب کښې لیکی ---
" د اینکرانزم یو بل مثال د "بی بی حلیمه حافظه" په سلسله کښې
پټې خزانې راوړے دے ۔ پته خزانه د خوشحال بابا د "لور" په
باره کښې محمد هوتک د خپل پلار په روایت هسې وائی --
زما پلار --- هسې وائی چې مشکلات د مثنوی شریف او
مکتوبات د حضرت امام ربانی قدس سره حل کوی ۔" (25)
د محترم قلندر صاحب تحقیق دا دے چې د حضرت مجدد الف ثانی
رحمة الله مکتوبات چې په دریو بیلو بیلو دفترونو کښې منقسم وو او
بیل بیل تاریخی نومونه یې لرل په وروسبی ځل په نولکشور پریس کښې
یو ځای د مکتوبات امام ربانی په نوم چاپ شوی دی ۔ او نولکشور پریس د
هغوی د معلوماتو مطابق په ۱۲۷۵ هجری کښې قائم شوے وۀ ۔ نو دا ممکنه نه
ده چې مکتوبات امام ربانی د چاپ کیدو نه دوه سوه کاله اګاهو حلیمی
حافظې ته رسیدلی وی ۔
د دائرة المعارف اسلامیه هم د مکتوبات امام ربانی په حقله دغه
معلومات راکوی چې قلندر صاحب بیان کړی دی ۔ زمونږ فاضل مقاله نګار

www.pukhto.net

د دغې اعتراض په جواب کښې په خپله دې مقاله کښې لیکی ---

"دا اعتراض هم لکه د تیرو ټولو اعتراضونو هیڅ ارزښت نه لري خکه چې د اسلامیه کالج پیښور په لائبریرۍ کښې د مکتوبات امام ربانی په نامه د فارسۍ کومه اصل قلمی نسخه د "عدد مسلسل ۹۳۹ نمبر موجوده ده د دې قلمی نسخې په فهرست د کتاب نوم په دغو الفاظو درج دے - (فهرس جلد اول مکتوبات امام ربانی مجدد الف ثانی رضی الله لعلی عنه) جلد اول نه مقصد " درالمعرفت دے چې د حضرت مجدد الف ثانی خلیفه مولانا یار محمد الجدید البدخشی الطاقان (؟) په کال ۱۰۲۵ هجری کښې جمع کړے دے او د اهل بدر د شمیر مطابق په دې سوه دیارلس خطونو مشتمل دے - ذکر شوې خطی نسخه په ۹ رمضان المبارک ۱۰۸۳ هجری کښې لیکلې شوې ده او صرف ورومبی جلد ته په کښې "مکتوبات امام ربانی " وئیلی شوی دی - د دې قلمی نسخې حقیقت د دې دعوې تردید کوی چې کنی مکتوبات امام ربانی د هغو دریو دفترو مجموعې ته وائی کوم چې په دیارلسمه صدۍ کښې مرتب او چاپ شوی دی او دیره ممکنه ده چې هم ذکر شوې خطی نسخه یا د دې کوم نقل د بی بی حلیمه حافظه د مطالعې لاندې راغلی وی -" (26)

محترم همیش صاحب د اسلامیه کالج د یوې قلمی نسخې چې د هغوی د وینا مطابق په ۱۰۸۳ هجری کښې لیکلې شوې ده حواله ورکړې ده او

www.pukhto.net

لیکلی ئې دی چې په فهرس د کتاب کښې ورته مکتوبات امام ربانی لیکلی شوی دی - نو چې هر کله په ۱۰۸۳ هجری کښې د لیکلی شوی کتاب فهرست وی نو مونږ دا ګڼلی شو چې فهرست وروستو چا جوړ کړے دے ځکه چې په هغه وخت کښې د کتابونو فهرستونه نه شو جوړولی - او په دې خبره محترم همیش صاحب زما نه ښه پوهیږی او ښه خبر دے ځکه چې هغوی زیات زاړه کتابونه ایډټ کړی او چاپ کړی دی - د اسلامیه کالج په لائبریرۍ کښې پرته یاده شوې قلمی نسخه په ورومبی ځل په ۱۰۸۳ هجری چې مقاله نګار ۱۰۸۲ هجری لیکلې دے قلمی شوې ده او بیا په ۱۲۷۴ هجری کښې د غلام جیلانی کاتب په قلم لیکلې شوې ده - مطلب دا شو چې د دیارلسمې صدۍ قلمی نسخه ده - او حلیمه حافظه که چرې وه نو هغه به په یولسمه صدۍ کښې وه - ځکه چې د خوشحال بابا لور ګڼلی شی - د غلام جیلانی کاتب په حقله زما نه زیات معلومات محترم مقاله نګار لری چې غلام جیلانی هغه کاتب دے چې د نولسمې صدۍ په اخره کښې ئې د انګریزانو دپاره پښتو کتابونه لیکل نو که هغه په دیارلسمه صدۍ کښې فهرست جوړ کړی نو دا څه نااشنا خبره نه ده - بیا هم د فهرست او د متن په خط کښې فرق شته - دا سې ښکاری لکه چې بل تن لیکلی وی - لکه څنګه چې د مولانا عبد الرحیم مرحوم په جوړ کړی د اسلامیه کالج د کتابونو په فهرست کښې دغې قلمی نسخې دپاره مکتوبات امام ربانی نوم استعمال شوے دے -

www.pukhto.net

حوالې

1. پټه خزانه فی المیزان ص - ۳۱۵
2. هم دغه کتاب ص - ۳۱۶
3. هم دغه کتاب ص - ۳۱۸،۳۱۹
4. جرس جولائی ستمبر ګنه ص - ۵۹،۶۰
5. دائرة المعارف اسلامیه ورومبے جلد ص - ۹۹۶
6. منتخب التواریخ فارسی ص - ۱۱۱
7. منتخب التواریخ انګریزی ص - ۵۲۹
8. منتخب التواریخ اردو ترجمه ص - ۲۷۷
9. فوائد فقیر الله ص - دوه اویا
10. جرس جولائی ستمبر ګنه ص - ۶۰،۶۱
11. دائرة المعارف اسلامیه شپږم جلد ص - ۱۸۶
12. ګزټیر اف پنجاب اټک دستر کټ ص - B
13. هم دغه کتاب ص - ۳۱۴
14. پټه خزانه فی المیزان ص - ۳۱۸،۳۱۹
15. جرس جولائی ستمبر ګنه ص - ۶۱،۶۲
16. هم دغه مجله ص - ۶۳
17. هم دغه مجله ص - ۶۲
18. هم دغه مجله ص - ۶۲،۶۴

www.pukhto.net

19 ارمغان خوشحال ص - ٤٥٢

20 تاریخ مرصع ص - ٢٤٥، ٢٤٦، ٢٤٦، ٢٤٧، ٢٤٧، ٢٤٧، ٢٢٤، ٢٦٥

21 جرس جولائی ستمبر گنه ص - ٦٢

22 پته خزانه فی المیزان ص - ٣٢١، ٣٢٢

23 جرس جولائی ستمبر گنه ص - ٦٥، ٦٦

24 پته خزانه فی المیزان ص - ٣٢٨

25 هم دغه کتاب ص - ٣٢٢

26 جرس جولائی ستمبر گنه ص - ٦٦، ٦٧

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

Pukhto.Net
www.pukhto.net

اِنَّ هٰذَا لَا اختِلَاقٌ

" پټه خزانه" کښې د ځلورو معلومو شاعرانو نه علاوه د اسې شاعران هم معرفی شوی دی د کومو په حقله چې زمونږ متقدمینو مونږ ته هیڅ قسمه معلومات نه دی راکړی ۔ حالانکې زمونږ متقدمینو کښې ګڼو شاعرانو په خپلو کلامونو کښې د خانه دورانديې تیرو شویو شاعرانو او د خپل دور د شاعرانو په حقله څه نا څه معلومات ضرور راکړی دی ۔ لکه خوشحال بابا چې وائی ---

چې لاف وهی د شعر
نن په دا دور دی دیر
خدایې دې نه کا چې به وایم
حال د دیو تیر و بیر
څوک پاوے څوک نیم پاوے دے
قلندر په کښې نیم سیر
چې زمونږ د په حساب دے
هیڅ مې نه دے واصل هیر
بل دولت فقیر دې پاوه
زه تړې څو سر شاهی تیر

دغسې په یوه بله قصیده کښې چې د خپل شعر تعریف کوی نو داسې وائی ---

www.pukhto.net

د میرزا دیوان مې وماندۀ په ګوډی

مسخره مې ارزانی خویشکی زمند کړ

کۀ دولت وۀ کۀ واصل وۀ کۀ دا نور وو

په خبرو مې دهر یوۀ ریشخند کړ 2

نو په پټه خزانه کښې چې محمد هوتک مونږ سره کوم شاعران معرفی کړی دی په هغو کښې هغه شاعران چې له خوشحال بابا نه اګاهو تیر شوی دی او یا د هغۀ همعصر وو د هغوی ذکر د ستر خوشحال بابا غوندې عالم سړی نۀ دے کړے حالانکې خوشحال بابا په د اسې یو دور کښې ژوند کولو کوم چې دغو شاعرانو ته ډیر نزدې وۀ۔ نو ضروری خبره ده چې خوشحال بابا ته به د محمد هوتک په نسبت د دغو شاعرانو (کۀ چرې وو) زیات معلومات حاصل وو خود ستر خوشحال بابا چې یوازې شاعر ادیب نه بلکې یو لوړ نقاد هم وۀ له خوا په دغې شاعرانو کښې د یوۀ تن هم ذکر نۀ کول مونږ په دې وینا مجبور وی چې دغه هډو له سره شاعران نۀ وو ۔ خوشحال بابا چې په کوم شعر کښې د دولت او واصل ذکر کړے دے په هغې کښې " کۀ دا نور وو" نه د هغۀ هغه شاعران مراد دی د کومو په حقله چې ې دا شعرونه وئیلی دی ---

یو په حال او په ماضی کښې هسې نۀ وۀ

چې بنکاره ې د خبرو راته خوند کړو

له چا نه په پښتو کښې ما میزان لیدلې نۀ دے

میرزا په دا زبان کۀ وئیل کړی دی تللی 3

www.pukhto.net

د سنو له خوا د رحمان بابا د وفات "نظر ثانی" شوے کال یعنې ۱۱۲۸ هجری قمری ټیک وګڼو نو په نسبت د محمد هوتک عبد الرحمان بابا دغو شاعرانو ته د زمانې په لحاظ ډیر نزدې وه او ضروری خبره ده چې هغه ته به د دغو شاعرانو په حقله د محمد هوتک نه زیات معلومات حاصل وو ولې داسې نه ده -

دغه شان اشرف خان هجری چې د شاعرانو ذکر کوی نو څه په دې دول یې کوی چې ---

شاعران د پښتنو کو یا څیر ددی
د مرزا شعر شمله بلکې افسر دے
تکلف په دا کښې نشته باور وکړه
په دافن یې کوې وړے له یو هر دے
نن په دا دور که ښه شاعران غواړې
که دوه دری تنه دګر یو قلندر دے
خوږ زبان په زمانې شکرې لونی
هغه واف چې مستقر یې پیښور دے
درحمان په وینل حای د لقب نشته
چې یې ما شعر منظور کړ د معتبر دے
ارزانی دولت د خپل دور بلبل وو
نن یې وللې زمانې د شعر فر دے

www.pukhto.net

د واصل له شعره څخه وایم و چا ته

چې زما په مخ یې پوري د حال ور دے

نور قابل د یادو نه دی په دا ذیل

نه یې شعر سنجیده نه د باور دے 5

په دې یادو شویو شاعرانو کښې هم له بد قسمتۍ نه هغه شاعران نشته کوم چې محمد هوتک دریافت کړی دی او د اشرف خان هجری همعصر یا له هغه نه اګاهو تیر شوی دی - که د پټې خزانې مدافعین د اشرف خان هجری له دې شعره چې ---

نور قابل د یادو نه دی په دا ذیل

نه یې شعر سنجیده نه د باور دے

د محمد هوتک دریافت کړی شاعران " قابل د یادو نه دی " کښې شمارل غواړی نو د ا به غلطه وی - ځکه چې په پټه خزانه کښې د معرفی شویو دغو شاعرانو کلام نه غیر سنجیده دے او نه بې باوره دے -

د خوشحال بابا د کورنۍ یو بل صاحب دیوان شاعر کامګار خان خټک هم د څنو همعصرو شاعرانو ذکر کړے دے لکه د عبد الحمید بابا ذکر داسې کوی ---

چړې نه چې باد خبر عبد الحمید که

چې کامګار غزل داستا په مضمون ووې 6

د سعید ذکر په دې الفاظو کوی ---

www.pukhto.net

د کامگار ئې و جواب ته څۀ امکان دے

چې سعید په پښتو شعر تړئین کیښو 7

دغه رنګ نجیب هم د دغه دور شاعر دے هغه د څنو شاعرانو ذکر په خپل

دیوان کښې داسې کړے دے---

د شعرا ؤ سر حلقه عبد الرحمان دے

زۀ نجیب ددۀ د شعر دامنګیر یم

چې ئې شعر لا مثل دے باندې نښائی

کۀ رحمان وائی په شعر عالمګیر یم

د کامګار د ابې هوده خبره ګوره

چې وئیل که خان بادشاه زۀ ئې وزیر یم

څۀ خوشحال وۀ څۀ کامګار وۀ څۀ ئې شعر

په احوال د ګوښې ګوښې زۀ خبیر یم

چې د شاه د غلام فرق نۀ شی کولے

حق حیران زۀ د کامګار په دا تقریر یم

چې خبر دی د رحمان له خوا زه شعره

هغه څوک د سلیم کله دیوان کسی

د اجواب مې د سلیم ددې غزل دے

چې په خپله خود بینۍ کښې څوک خان کسی 8

قنبر علی خان چې دیوان ئې محترم همیش صاحب چاپ کړے دے د

څنو شاعرانو ذکر داسې کوی چې---

www.pukhto.net

تتبع قنبر رحمان ددې غزل کا

چې دا مست په میو راغے یار دچادے

دا جواب د علی خان قنبر علی کا

چې وجود مې له تیرې دعدم وخوت

دا جواب قنبر صدیق د دې غزل کا

چې ګیسو کړه په سپین مخ آشفته ته

د حمید جواب قنبر علی تکرار کړۀ

بددې نه منی دلبر زما کاته

تتبع قنبر مرزاد دې غزل کا

په غافل باندې دسودسودا شوه تروته 9

دغه رنګ د خوشحال بابا د دې غزل په جواب کښې ډیرو شاعرانو غزلې وئیلی دی ---

لکه زۀ په یار مئین یم بل به نه وی مئین هسې

لکه زۀ پسې غمژن یم بل به نه وی غمژن هسې

چې خوشحال خټک یې وائی په پښتو ژبه خبرې

په فارسی ژبه به نه وی کۀ پوهیږې سخن هسې 10

نو هم په دغه زمکه د خوشحال بابا خوی عبد القادر خان خټک د قافیې د معمولی تبدیلی سره څۀ دا رنګې وئیلی دی --

لکه زۀ په یار مفتون یم بل به نه وی مفتون هسې

لکه زۀ پسې محزون یم بل به نه وی محزون هسې

www.pukhto.net

دا غزل په پښتو ژبه چې بیان عبدالقادر کړ

11 دروغژن یم که بې خانه وائی بل یو پښتون هسې

د عبدالقادر خان خټک دا تعلی چې معزالله مومند ته رسیدلې ده نو هغه داسې وئیلی دی ---

لیونے کړمه عالم ته ستا دستر گو افسون هسې

خدائ زما تر لاسه راکړ دا دولت د جنون هسې

معزالله دې جواب وکړ په پښتو عبدالقادره

12 اوس ثانی د استا پیدا شه په دا دور پښتون هسې

محمدی صاحبزاده په دغه زمکه داسې طبعه ازمائی کړې ده ---

د اسور اور دے که څه نور دے او که تاوّد بیلتون هسې

لکه وږے چې مې وریت کړ په تنا کو لړمون هسې

ومړستا په بیلتانه کښې د دیدن په ارمان گوره

13 محمدی غوندې لا گوره چې پیدا شه پښتون هسې

په هغه زمانه کښې چې د طباعت انتظام هم نه وه زمونږ د متقدمینو دا حال دے چې دیو بل له کلامه خبر دی او دیو بل جوابونه ې کړی دی - ولې د پټې خزانې د څلورو معلومو شاعرانو نه علاوه نور ټول داسې شاعران دی چې زمونږ متقدمینو ې څه ذکر نه دے کړے - او نه هغوی زمونږ د دیو معلومو شاعرانو په زمکو غزلې وئیلی دی - اوس دې لوستونکی په خپله اندازه ولگوی چې د پټې خزانې د دغو شاعرانو د ذکر نه کولو څه وجه کیدے شی ؟

www.pukhto.net

دغه رنګ زمونږ دا متقدمین چې ډیره زمانه ېې مونږ ته علم نه وه او دیوانونه ېې په ګوتو نه وو راغلی مونږ ته معلوم شو دیوانونه ېې پیدا او چاپ شو - ولې دپټې خزانې ددغو شاعرانو کتابونه ترننه د چا په لاس نه دی راغلی او نه چرته د یو ملک په لایبریرۍ کښې د چا تر نظره شوی دی - پټه خزانه چې د کومو کتابونو دروایتونو نه ډکه ده او یا مونږ ته د کومو کتابونو درک راکوی هغه دادی ---

١- د شیخ متی بابا کتاب " د خدائ مینه"

٢- د محمد ابن علی البستی "تاریخ سوری"

٣- د شیخ کټه متی زی "لرغونی پښتانه"

٤- د بنکارندوی د بوللو غټ کتاب

٥- د بستان بړیځ کتاب "بستان الاولیاء"

د کامران خان کتاب "کلید کامرانی" (دا خبره دې یاده وی چې د پټې خزانې په اسماء الکتب کښې ددې کتاب ذکر نه دے شوے -)

٧- اعلام الوذعی فی اخبار اللودی

٨- غرغښت نامه

٩- تذکره غرغښت

١٠- د زرغون خان د غزلو دیوان

١١- تحفه صالح

١٢- مسائل ارکان خمسه

١٣- جامع فرائض

www.pukhto.net

١٤۔ گلدسته زعفرانی

١٥۔ افضل الطرائق

١٦۔ القرائض فی رد الروافض

١٧۔ اولیائے افغان

١٨۔ ارشاد الفقراء

١٩۔ قصص العاشقین

٢٠۔ محمود نامه

٢١۔ روضه ربانی

٢٢۔ محاسن صلواة

٢٣۔ تحفه واعظ

٢٤۔ نافع مسلمین

٢٥۔ خلاصة الفصاحت

٢٦۔ خلاصة الطب

٢٧۔ د محمد هوتک دیوان

٢٨۔ دسالو ورڼمه

په پته خزانه کښې د خوشحال بابا، رحمان بابا، عبدالقادر خان خټک او یونس نه علاوه چې نور څومره شاعران ذکر شوی دی د هغوی دواوین تر ننه په لاس رانغلل ۔ زمونږ د متقدمینو په حقله ډیر معلومات مونږ له مستشرقینو راکړی دی ولې داسې یو مستشرق تر اوسه پیدا نه شه چې هغه د دې شاعرانو ذکر کړے وی او یا یې د دوی د کتابونو نخښه پته

www.pukhto.net

ښيتلی وی - او دا يوه ډيره د تعجب خبره ده - ولې بيا هم د پټې خزانې مدافعين دا خزانه قابل تمسک ګڼی - او د پښتو ادب د تاريخ د غلط بنياد کښيښودلو ناکام کوشش کوی ----

بسوخت عقل ز حيرت که اين چه بوالعجبی ست

بله عجيبه خبره چې په دې تذکره کښې ليدے شی هغه دا ده چې څنې پښتانه په مخزن افغانی کښې نعمت الله هروی ياد کړی دی ولې هغه بغير له عيسیٰ مشوانی نه يو تن شاعر نه دی ګڼلے - اودا تذکره ې شاعران ګڼی او مونږ ته ې د کلام نمونې هم راکوی - او هيڅ يو لوستونکے به دې منلو ته تيار نه شی چې محمد هوتک له نعمت الله هروی نه زيات عالم فاضل او د زياتو ذرائعو خاوند و ګڼی ځکه چې نعمت الله هروی د شيخ عيسیٰ مشوانی کوم شعرونه راخستی دی هم هغه شعرونه محمد هوتک هم په خپله خزانه کښې پيش کړی دی صرف دومره کار ې کړے دے چې د څوارلسمې صدی د شاعری سره ې برابر کړی دی - لکه د مثال په طور شيخ بستان بړيځ، بهلول لودی، علی سرور لودی په مخزن افغانی کښې نعمت الله هروی ذکر کړی دی ولې شاعران ې نه دی ګڼلی - دغسې د ملا زعفران ذکر سلطان محمد خان په تاريخ سلطانی کښې کړے دے خو دا ې نه دی وئيلی چې شاعر وه او پته خزانه ې شاعر ثابتوی - هم دا ملا زعفران تاريخ خورشيد جهان او جهانکشای نادری هم ذکر کړے دے ولې د شاعری په حقله ې مونږ له هيڅ معلومات نه راکوی - د پير محمد مياجی ذکر جهانکشای نادری کړے دے ولې د شاعری په حقله ې هيڅ نه وائی صرف

www.pukhto.net

د پټې خزانې مولف د شاعر په حیث پیژندے۔ هم دغه رنګ بابو جان بابی هم د پټې خزانې یو شاعر دے چې ذکر یې جهانکشای نادری او تاریخ سلطانی کښې راغلے دے خودواړه تاریخونه یې د شاعری ذکر نه کوی۔ سیدال خان ناصر هم د پټې خزانې یو شاعر دے چې ذکر یې په جهانکشای نادری، نادر نامه اوتاریخ سلطانی کښې راغلے دے خود شاعری په حقله یې دغې درې واړو تاریخونو څخه نه دی وئیلی۔ واحد پټه خزانه یې دیو شاعر په طور پیژندلی کوی۔ دغسې د بی بی نیک بختې ذکر هم مخزن افغانی کړے دے خو د هغې د شاعری په حقله یې څخه نه دی وئیلی۔ دغه رنګ د کلید کامرانی د مصنف کامران خان سدوزی ذکر هم کنو تاریخونو کړے دے خو یو مورخ یې هم د شاعری په حقله معلومات نه لری۔ واحد پټه خزانه ده چې دغه ټول مشاهیر یې شاعران ادیبان ثابت کړی دی۔

له دې نه علاوه په پټه خزانه کښې محمد هوتک خنې داسې توری هم استعمال کړی دی چې نه خو متقدمینو استعمال کړی وو او نه اوس استعمالیږی۔ او د پټې خزانې فاضل محشی په دغو توریو نوټونه لیکلی دی۔ او لیکی چې دا توری پخوا د اسې استعمالیدل او اوس له استعماله پریوتی دی او بیا یې ټیک تلفظ هم داعرابو په ذریعه لوستونکیو ته بنیې۔ په داسې صورت کښې لوستونکی مجبوره دی چې د محشی یوه خبره ومنی یعنې دا چې دا توری اوس متروک دی او چې دا ومنی نو بیا دا سوال ذهن ته راځی چې هر کله دا توری متروک دی نو د دې توریو صحیح تلفظ محشی ته څنګه معلوم شو؟ زه دلته هغه توری لوستونکیو ته پیژندل کوم

www.pukhto.net

چې د پټې خزانې د حاشیو لیکلو په وخت متروک شوی وو او فاضل محشی یې د تلفظ ښیلو سره سره معنې هم کړی دی ---

تورے	معنیٰ
غوږن	اګاه
سوان	سهولت و ارامی
زوی نیو	بچه خوانده
برغه	نفع و فائده
غبرګون	جواب
څلوریځ	رباعی
یادی	یادول
پرتمین	باشکوه، جلالی
پنځ	پیدائش
رپ	تپش
تون	ځای
باړی	اجرت
پارکی	د شعر ټوټه
پلن	پیاده
زړن	بهادر او دلاور
مخسور	سرخرو
بوللہ	قصیده

www.pukhto.net

تیرو ظالم

څغلا زغلول، منډه وهل

لور مهربانی

شنار نامبارک

نمنځی چار متقی، پارسا

پلاز تخت (دا تورے خوشحال بابا استعمال کړے دے خو په دغه معنیٰ نه په کومه چې پته خزانه کښې راغلے دے)

تیکنه عدالت

څوار صبر او استقامت

کړونگی آبشار

ریږدله زلزله

سار همسر

جګړن لښکر او عسکر

څنډونه افق

رپی جنډه، بیرغ

آړه تبدیل

تورن تهمتی، چې تور پرې لګیدلے وی

تورا افترا

دوه یخ مثنوی

محترم قلندر مومند صاحب په دغه توریو کښې په یو څو

www.pukhto.net

توریو لکه "پلاز" ، "تیرو" ، "تیکنه" ، "ریږدلی" او "لور" باندې بحث کړے دے ۔ خو هغه توری کوم چې په غلطو معنو په دغې تذکره کښې استعمال شوی دی په هغې محترم محشی هیڅ قسمه نوټ نه دے لیکلے چې لوستونکی تري دا نتیجه ښه په اسانه ویستې شی چې محشی هم ورسره په دې غلطیو کښې شریک دے ۔

هغه توری چې په غلطو معنو کښې په دغه تذکره کښې استعمال شوی دی په هغې محترم قلندر مومند په خپل کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې د "بیلگې" د عنوان لاندې بحث کړے دے ۔ زه دلته هغه توری لوستونکیو ته پیش کول غواړم کوم چې په دې تذکره کښې راغلی دی او قلندر صاحب نه دی پیش کړی ۔۔

توړے	هغه معنی چې حبیبی مرحوم کړی دی
بډ	د بد په وزن د همسر او مقابل په معنیٰ
غوږن	اګاه، اوس نه استعمالیږی
سوب من	د فتح او ظفر په معنیٰ
ماته	شکست
زوی نیو	د بچه خوانده په معنیٰ اوس نه استعمالیږی
هسک	آسمان
تون	ځای
مرستی	مددګار
ویارنه	حماسی نظم

www.pukhto.net

اتل	نابغه پهلوان
پیژندو	روشناس، معروف، صاحب نام و نشان
پلن	پیاده
ودنه	نشو نما
زړن	دلاور، دلیر
بوللە	قصیده
واکمن	اختیار دار
ژوبلور	جنگی عسکر
ځغلا	د ځغل نه
لور	مهربانی
نمنځی چار	متقی، پرهیز گار
درملی	علاج
ژوبلل	زخمی کول
ویر	غم، ماتم
باتلی	بوتلی
ځوار	صبر، استقامت، ارام او سکون
تور نمری	سیاه پوش
کړونکی	آبشار
مسا	مسیدل
ویرنه	سوګواری

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

سار	مثل
ویر من	ماتم زده، سوګوار
ځلونه	دخل جمع
مخور	رونیدار او معزز
جګړن	لشکر او عسکر
تیرون	ګزر
بودتون	بتخانه
ربښتون	ربښتین، راستګو، صادق
ژبور	سخنور، زبان دار
پیژندون	معرفی
تیکاونه	ارام او راحت
غبرګون	جواب
منښت	قبلول
هیسته	لری، اخوا
تیار	ماهر اوس هم استعمالیږی
سورار	خشک او سوزان
ښندنه	بخشش، عطا
سوده	تسکین، اطمینان
ګړندی	د فعال، جدی او کارکن په معنیٰ
تیرنه	تجاوز او تعدی

Pukhto Net
پښتو
www.pukhto.net

میړۀ مخے ° مرد روئ د هغې ښځې دپاره وئیلے شی چې د سړو کړۀ وړۀ لری۔

کرور ۔ سخت او کلک

د پښتو ژبې یو بل تورے چې نن سبا ئ زیات خلق "اوښکې" وائی پخوا په دے صورت کښې نۀ شو وئیلے بلکې اوښې به ئ وئیلو ۔ نن هم اکثرې زنانه اوښې وائی او ځنې مشران ئ هم هغه د پخوا په شان استعمالوی۔ د پښتو مشهور شاعر، فلسفی د باچا خان بابا مشر ځوې غنی خان ئ هم اوښې وائی ۔ د لیکوال دمئ د میاشتې کال نولس سوه شپږ نوی ګڼه کښې د هغوی یو د لاس لیک چاپ شوے دے په هغې کښې هم هغوی اوښې لیکلے دے ۔ تر اوسه ما ته دا پته نۀ ده لګیدلې چې دا تورے څنګه او کله دې اوسنی شکل ته راغلے دے البته دومره ضرور وئیلے شم چې زمونږ متقدمینو په دے اوسنی شکل کښې نۀ استعمالولو ۔ ولې په پته خزانه کښې دا تورے یو ځائ کښې د متقدمینو د تعامل د قاعدې برخلاف په هم دے اوسنی شکل کښې د اسې راغلے دے۔۔۔

شبنم په ګلو ښکاری

زما اوښکې داړې داړې

خو ناب څی ستا لغمه زما په مخ کښې لاړې لاړې

تمامه شپه کړم تیره په ژړا په ناړې ناړې

ښکاره شوه چې مجنون شوم

www.pukhto.net

لیونتوب مې اوس عیان سو

بوستان بنکلې زیبا دے

رنګین په اوښکو زما دے

د زړۀ پرهار ګلګون دے چې بلبل په تماشا دے

په مینه مې زړۀ وچاودې تۀ وایې په خندا دے

نتلی د بیلتون یم

زۀ سید ال دا مې بیان سو

14

حالانکې په زړو قلمی دیوانونو کښې چرته هم "اوښکې" نۀ دی استعمال شوی بلکې ټولو متقدمینو "اوښې یا اوشې" لیکلی دی ۔ د افغانستان د حکومت له خوا په ۱۳۲۰ هجری شمسی کښې چاپ شوے کتاب "شیخ بستان بړیځ" کښې څیړندوی دوست شینواری د "شیخ بستان بړیځ د بدلې څو لغتونه" د عنوان لاندې د نورو لغتونو نه علاوه په اوښکه او اوښه هم بحث کړے دے ۔ بناغلے دوست شینواری لیکی ۔

"دا کلمه د شیخ بستان بړیځ په بدلو (؟) کښې د (اوښکې) په لیک دود راغلے ده ۔۔۔

"اوښکې مې څاڅی پر ګریوان یو وار نظر کړه پر ما۔

راسه ګزر کړه پر ما

زۀ داسې فکر کوم چې دا کلمه به اصلاً (اوښې) وی، نه اوښکې او دا به د کاتبانو د قصدې یا سهوې تحریف له امله (اوښکې) شوې وی ځکه چې تر څو چې د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو خورا

www.pukhto.net

لرغونو قلمی نسخو ته مراجعه کوو هلته ګورو چې د (اوښه) کلمه د (ک) تورے نه لری ـ مثلاً د خوشحال خټک په لومړی قلمی نسخه کښې هر ځایې (اوښه) ده خو وروسته بیا کاتبانو (اوښکه) کړے ده لکه دغه بیت ـ

د بنو اوښې مې پاسه پرې تارونه
بیلتانه په تن په مثل د طنبور کړم

نو دا چې د رحمان بابا، حمید او نورو پخوانیو شاعرانو په متونو کښې (اوښکه) راغلے ژه فکر کوم دا به د کاتبانو تحریف وی۔" 15

دوی هم په دغه لړ کښې مخکښی لیکی ـــ

"(اوښکه) د شیخ بستان بریخ د لهجوی خصوصیت زیرنده نه شو بللے ځکه چې د لویدیځې لهجې په لرغونو اشعارو کښې هم (اوښه) راغلے ده ۔" 16

د محترم دوست شینواری د دې اقتباس نه دا نتیجه راوخی چې په پټه خزانه کښې د (اوښې) په ځایې (اوښکې) لیکل د کاتب تحریف دے ۔ په دې ضمن کښې زه دومره عرض لرم چې که چرې په ټوله پټه خزانه کښې د (اوښې) په ځایې (اوښکې) لیکلې شوے وے نو بیا به مونږ د هغوی د تحریف خبره منلے وے ۔ خو متاسفانه د پټې خزانې کاتب زیات (اوښې) او کم (اوښکې) لیکلے دی ۔ او له دغې نه دا ثابتیږی چې د پټې خزانې لیکونکی په یو داسې وخت کښې ژوند کولو چې (اوښکې) تورې په ادب کښې رواج موندلے وه او تر خپله وسه یې کوشش کړے دے چې د

www.pukhto.net

دولسمي صدي املا برقراره وساتی خکه نو زیات يې (اوښې) او کم کوز يې (اوښکې) لیکلے دی - بله خبره دا ده چې د پټې خزانې اخری کاتب په چا چې د تحریف الزام لګولے شی او د پټې خزانې د مدافعینو له لاسه دهرې غلطی ذمه وار ګرځولے شی په وخت کښې هم د (اوښې) جدید شکل یعنې (اوښکې) نه شو لیکلے -

د پټې خزانې فاضل محشی د محمد هوتک له خوا لفظ "اوښې" په "اوښکې" لیکل د حاشیې لیکلو محتاج نه دی ګڼلی - حالانکې محشی او مفسر مرحوم حبیبی صاحب د پښتو ادب ژوره مطالعه لرله او په پښتو زور ادب کښې هر ځای اوښکو ته اوښې وئیلی شوی دی د هغې باوجود هم د محشی او مفسر په دې غلطی غلی پاتې کیدل دا ښئ چې دا غلطی هم لکه چې د هغوی خپله وی خکه نو هیڅ قسمه نوټ يې پرې نه دې لیکلے - په پته خزانه کښې د ا تورے په دواړه شکله کښې لیکل دا ثابتوی چې پته خزانه په یولس سوه یو څلویښتمه او دوه څلویښتمه هجري کښې نه چرته په ځوارلسمه صدي کښې جوړه کړې شوې ده او دا کوشش شوے دے چې د یولسمې او دولسمې صدي رسم الخط ولیکلے شی -

حوالې

1. ارمغان خوشحال ص - ۷۰۳
2. هم دغه کتاب ص - د

www.pukhto.net

٦٢٦

3 هم دغه کتاب ص ـ ٥ او ١٣

4 د رحمان بابا کلیات ص ـ ١٤٥، ٢٧٠

5 رحمان بابا د دوست محمد خان کامل ص ـ ٢٧

6 د کامگار خټک دیوان ص ـ ١٣٥

7 هم دغه دیوان ص ـ ٨٢

8 د نجیب دیوان ص ـ ١٥١ او ٢٩٦

9 د قنبر علی دیوان ص ـ ٣٠، ٣١، ٣٦، ٣٩، ٤٠

10 ارمغان خوشحال ص ـ ٦٤٦، ٦٤٧

11 حدیقه خټک ص ـ ١٨٧، ١٨٨

12 د معز الله مومند دیوان ص ـ ٢٢٢

13 د محمدی صاحبزاده دیوان ص ـ ١٩٢، ١٩٣

14 پته خزانه ص ـ ١٧٤

15 شیخ بستان بریخ ص ـ ٤٢، ٤٣

16 هم دغه کتاب ص ـ ٤٣

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



Pukhto.Net
www.pukhto.net

وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ

خپل دستار دې میخانه کښې لږ سمبال کړه

قلندر ته داسې مۀ وایه چې نور شه (1)

د پټې خزانې میزان رښتیا میزان دے؟ د محترم محمد آصف صمیم او زرین انځور شریک زیار دے چې د محترم قلندر مومند صاحب د پټه خزانه فی المیزان په جواب کښې لیکلے شوے دے۔ او یو سل دوه شپیتۀ مخونه لری۔ چې ټولې په کښې ځلور مقالې دی دوه د محترم آصف صمیم او دوه محترم زرین انځور لیکلی دی۔ کتابت ئې سید محی الدین هاشمی کړے دے چې یو ښۀ لیکونکے او مترجم هم دے۔ دلیکوالی فن نومې کتاب ئې چاپ شوے دے۔ دغه رنګ د صدیق الله رښتین یو کتاب ئې د پښتو ګرامر په نوم په پښتو کښې ترجمه کړے هم دے۔ د کاتب د دومره کوالټ درج کولو نه به زما مدعا لوستونکیو ته وروستو معلومه شی۔

هر څو کۀ په دې کتاب کښې د پټه خزانه فی المیزان پوره جواب نۀ دے شوے او لوستونکی نۀ شی قانع کولے خو بیا هم ورته د هغې جواب وئیلے شی۔ د دې کتاب په سریزه کښې محترم لیکونکی لیکی --

"چې زمونږ دا هیله وه چې د پټې خزانې میزان رښتیا میزان دے؟ په ښۀ قطع او صحافت او ښۀ کاغذ تاسو دوستانو او د پښتو ادبیاتو مینه والو ته وړاندې کړو خو په دې کار کښې هم د خپلو مادی امکاناتو د نشتوالی له

www.pukhto.net

امله پاتې راغلو، امید دے چې زمونږ معذرت به وۀ منئ" - ❷

او لکه چې د بشریت تقاضا وه مونږ دغه معذرت ومنلو - خو یوه خبره چې په دې سریزه کښې نۀ ده لیکلے شوے لیکل ئې پکار وۀ "چې دا کتاب مونږ ډیر په تادیۀ کښې لیکلے دے یعنې باستعجال تمام شوے دے" نو کم از کم زما د قلم مخه به نیولے شوے وه - خو افسوس چې داسې نۀ دی شوی-

ما همیشه د کتابت غلطیۀ د ټولو کتابونو قدر مشترک ګڼلے دے او چرې مې پرې ځۀ نۀ دی وئیلی- خو دغې دوارو محترمو لیکونکیو په خپل دغه کتاب کښې زیات بحث د پټه خزانه فی المیزان د کتابت په غلطیو کړے دے- حالانکې په هغه کتاب کښې د هغوی د جواب دپاره ډیر ځۀ وو چې د هغې جواب یا وضاحت کیدے شو لکه د مثال په طور په پټه خزانه کښې محترم قلندر صاحب د کلن، استوګه، ګروهیدل، مواس، بهیر، ګوانې په استعمال او د هغې پۀ معنو اعتراض کړے وو نو باید چې د هغې جواب شوے وے- په پټه خزانه فی المیزان کښې د کتابت د غلطیو نه زۀ انکار نۀ کوم او چې کومې غلطیۀ هغوی په ګوته کړی دی نو د دې نه زیاتې غلطیۀ په کښې شته دے- او پکار دی چې ټیک شی- حالانکې د دغه کتاب په اخره کښې د "سبحان الله" د عنوان د لاندې هغوی سم او ناسم ټکی لیکلی دی خو بیا هم په کښې ډیر ناسم ټکی پاتې شوی دی- اوس کۀ چرې د هغې په دویم ایډیشن کښې هم دغه غلطیۀ ټیک نۀ شی نو بیا به ډیره بده خبره وی-

www.pukhto.net

باید چې محترم قلندر صاحب د دې نوټس واخلی او په راتلونکی ایډیشن کښې دا غلطی رفع کړی۔

خو مره پورې چې د تنقید تعلق دے نو محترم آصف صمیم او زرین انخور دوئ زمانه دیر ښه پوهیږی خکه چې هغوی په خپل دغه شریک زیار کښې د تنقید خنې اصول ښنیلی دی او محترم قلندر صاحب ئې گرم کړے هم دے او خائې په خائې ئې ورته وزّان هم ونیلی دی۔ خو زهٔ دیر په ادب سره عرض کوم چې تر اوسه پورې کوم یو تنقید نگار د کتاب د کتابت غلطی د خپل بحث موضوع گرځولی دی؟ خکه چې دغې دواړو محترمو لیکونکیو پوره یوه مقاله د هغې کتاب په غلطیو لیکلے ده کومې چې د کاتب نه شوی دی او د پروف کتو په وخت هم پاتې شوی دی۔ او دغې د کتابت غلطیو ته ئې په خپل شریک کتاب کښې د "املائی تحریفات او تصریفات" نوم ورکړے دے۔ حالانکې دغه املائی تحریفات او تصریفات نهٔ دی۔ او د دغې کتاب پروف ریډنګ ښاغلی سید محمود ظفر کړے دے او هغهٔ په خپله یوه مقاله کښې دغه غلطی منلے هم دی۔ البته زهٔ دلته د محترم آصف صمیم، زرین انخور او نورو لوستونکیو د کتو دپاره هغه تحریفات ذکر کوم، کوم چې د عبد القادر خان خټک په دیوان مطبوعه قندهار کښې شوی دی او محترم حبیبی مرحوم مرتب کړے دے۔ او د هغوی دغه تحریفات بلکې خیانتونه محترم انوار الحق صاحب او محترم همیش خلیل صاحب دواړو په گوته کړی دی۔ د عبد القادر خان خټک دیوان په ورومبی خل په قندهار کښې په ۱۳۱۷ هجری شمسی کښې چاپ شوے دے۔ بله قلمی نسخه په کال

www.pukhto.net

۱۹۶۶ عیسوی کښې محترم سید انوار الحق صاحب چاپ کړے ده د دغې دیوان چې حدیقه خټک نومیږی او یونیورسټی بک ایجنسۍ چاپ کړے دے، په مقدمه کښې ښاغلی انوار الحق صاحب د معروضات تر عنوان لاندې دغه تحریفات په ګوته کړی دی او لیکی--

"دا فهرست ما د دې علاقې لیکلې شوې محلورو نسخو د مقابلې نه پس تیار کړے دے او بله خبره دا چې زهٔ خپله هم د دغه علاقې وسیدونکے یم، دومره خو به زهٔ هم د خپلې علاقې یا د خوشحال خان د کورنۍ د ژبې نه واقف یم او بیا په دې فرق خو هر څوک پوهیدے شی"۔ (3)

او بیا له دې نه پس ئې د هغې توریو یو مکمل فهرست ورکړے دے چې ټول یو سل او اتهٔ اویا توری دی چې مفغن کړی شوی دی (وګورئ حدیقهٔ خټک د سید انوار الحق)۔ په دغه معروضاتو کښې هغوی دغه غوړه په یو خاص تن نهٔ ده وراړولے البته دومره ئې لیکلی دی---

خدائ به پرې شهٔ خبر وی چې اورته په افغانستان کښې به دا مهربانی کوم یو مهربان کړے وی او په څهٔ نیت، خو الفاظ په ډیر وخایونو کښې شهٔ په زړور تیا او بې دریغه بدل کړی شوی دی اوکوشش دا شوے دے چې د پیشور د علاقې په خائ د افغانستان مروجه پشتو دې په کښې راوستې شی۔ (4)

او بیا هم په دغه بحث کښې یو بل خائ لیکی چې---

www.pukhto.net

د عبد القادر خان خټک دې کلام سره چې دلته څه شوی دی نو د ناپوهۍ او کم فهمۍ په سبب او کۀ په افغانستان کښې څه شوی دی نو قصداً او ارادتاً شوی دی۔ کله د یوې مخې نۀ دے شوے تولو ورسره تر خپله حده شیګړه کړے ده۔ (5)

له دغې نه وروستو محترم هميش خليل صاحب هم د عبد القادر خان خټک ديوان په کال ۱۹۶۷ عيسوی کښې چاپ کړے دے۔ هغوی هم لکه د محترم سيد انوار الحق صاحب په شان دغه ادبی خيانت غندلے دے او ليکی۔۔

"د دواړو نسخو د مقابله کولو په اوان کښې يوه بله ضروری خبره ما هم محسوس کړه او هغه دا چې د قندهار چاپ نسخه کښې د شاعر عربی او فارسی الفاظو ته د پښتو جامه ور پغاړه شوے ده لکه ۔۔۔۔

قلمی نسخه	قندهار نسخه
سنګ دلانو	دبر زړونو
لبان	شوندان
آهو چشمو	هوسۍ سترګو
خشک و تر	وچ لاندۀ
سيه چشمې	تور سترګې
گل صد برګ	سل پانے ګل

www.pukhto.net

توانګر	بډائی
زلفې	څنګ
مردانو	میړونو
کرباس	خمتا
بزرګانو	لویانو
روپوشی	مخ پټی

په دغه حقله ما د شاعر خپل الفاظ په خپل خاې پریښول- او مشکل الفاظو حل کوم چې ما حاشیه کښې موزون ګڼلو هغه مې حاشیه کښې ولیکلو او د باقی مشکل الفاظو مې فرهنګ جوړ کړو چې د کتاب سره وروستو شامل کړې شو- 6

دا د دیوان عبد القادر خان سره شوے زیاتے دلته ذکر کول مناسب نه وه خو صرف په دې غرض مې وړاندې کړو چې یو خو د پروف په غلطیو و تحریفاتو کښې فرق واضحه کړې شم - او دیو محترمو لیکونکیو ته د تحریفاتو اصلی نمونه وښنیلے شم - او بل مې په دې غرض هم وړاندې کړل چې د مرزا حنان بارکزی په دیوان کښې کوم چې محمد معصوم هوتک چاپ کړے دے په مقدمه کښې د لهجې بدلولو خبره شوے ده - محترم محمد معصوم هوتک په دغه دیوان کښې په صفحه "عین" لیکی جی---

"د متونو د برابرولو په وخت کی د شاعر د لهجی په پام کی نیول یو ډیر ضروری کار دے - د بناغلی زلمی

www.pukhto.net

هیوادمل دا خبره بیخی پر ځای ده چې وائی "دا د متن
څیړنې یو عمده اصل دے چې مصحح او د متن
څیړونکے باید د متن په ژبه کی لاس وهنه ونه کړی---
دیر خله اړویدلی شوی دی چې موږ باید کلاسیک متنونه
په معیاری لهجه (؟) خپاره کړو ۔ دغه خبره د متن
څیړنې له اصولو مخالفه خبره ده ، موږ نه شو کولے
چې د احمد شاه بابا دیوان په یوسفزئ لهجه خپور کړو،
یا د پیر محمد کاکړ، شمس الدین کاکړ او حنان بارکزی
دیوانونه په شرقی لهجه تهیه او چاپ کړو۔ دغسې عمل
کۀ له یوې خوا د متن څیړنې له موازینو سره مغائرت
لری، له بلې خوا د شاعرانو د کلام شعری کیفیت ته هم
زیان رسوی۔ 7

دیره د افسوس خبره ده چې د احمد شاه بابا، پیر محمد کاکړ، شمس الدین
کاکړ او د میرزا حنان بارکزی د دیوان د لهجې اړولو خبره خو کوی ولې د
عبد القادر خان خټک له دیوانه سره شوے دغه زیاتے بیخی نه یادوی د لهجې
اړولو خبره خو داسې وی چې د هغې هر لوستونکی ته پته لگی چې د دې
لهجه اړولے شوے ده خو د عبد القادر خان په دیوان کښې ټوله لهجه نه ده
اړولے شوے صرف فارسی او عربی توری مفغن کړی شوی دی۔ او داسې
مفغن کړی شوی دی چې هغه دیر جدید وضع کړی شوی توری دی او د عبد
القدر خان خټک په وخت کښې د هغې توریو د استعمال گومان هم نه شی

www.pukhto.net

کیدے۔

اوس دې ګران لوستونکی انصاف وکړی چې دا ادبی خیانت نه دے؟ خو محترم همیش خلیل صاحب په دې هیڅ څوک ګرم کړی نه دی، صرف الفاظ ئې په ګوته کړی دی۔ او دا حرکت داسې حرکت دے چې د ناقل او کاتب نه ئې احتمال نه شی کیدے بلکې د یو عالم، شاعر او ادیب کارستانی معلومیږی۔

ولې د حیرت خبره دا ده چې د افغانستان محترم لیکونکی دغې حرکت ته نه ادبی خیانت وانی او نه ئې تحریفات بولی۔ د عبد القادر خان خټک دیوان د قندهار چاپ د محترم حبیبی مرحوم کارنامه ده۔ او لکه چې لوستونکیو ته ښکاره شوه چې زمونږ د پښتونخوا دوۍ لویو لیکونکیو د مغوی دغه حرکت غندلے دے۔ ولې د افغانستان یو لیکونکی تر اوسه د دې حرکت غندنه نه ده کړے۔ او لکه د محمد معصوم هوتک د مرتب کړی دیوان نه چې ما کوم اقتباس رانقل کړو په هغې کښې د متن پوهنې اصول ښئیلی شوی دی خو صرف زمونږ دپاره، او د دیوان عبدالقادر خان خټک دغه زیاتے ئې نظر انداز کړے دے۔ حالانکې پښتانه مثل کوی چې دانګ لوړد یار دوست دپاره، او خبره د خدائ دپاره۔

محترم آصف صمیم او زرین انځور د پټه خزانه فی المیزان د کتابت غلطیو ته خو د املائی تحریفاتو نوم ورکوی ولې د دغې ادبی خیانت په حقله هیڅ نه وائی او نه د انوار الحق صاحب د دې خبرې جواب ضروری ګڼی چې "دا په څه نیت شوی دی"۔ نه پوهیږم چې لوستونکی به د د دغې

www.pukhto.net

تحریفاتو او خیانت په لړ کښې د افغانستان د لیکونکیو خاموشی په څه محمولوی؟ - څکه چې زمونږ دپاره خو شنۀ زمری دی- دلته ماته داکبر اله آبادی یو شعر رایادشو چې---

ہم آہ بھی کرتے ہیں تو ہو جاتے ہیں بد نام
وہ قتل بھی کرتے ہیں تو چرچا نہیں ہوتا

لکه چې ما اګاهو ذکر وکړو چې مونږ دا قسمه د کتابت غلطی د تولو کتابونو قدر مشترک ګڼو هر څو کۀ دا څۀ ښۀ فعل نۀ دے- دا قسمه د کتابت غلطی او په هغې مقالې لیکل به هله سود مند وو چې د دغې ښاغلیو په خپل شریک کتاب (چې کاتب یې لیکونکے هم دے) کښې دا قسمه غلطی نۀ وے- څکه چې پښتانۀ متل کوی چې تۀ زما بده مور مۀ کنځه نو زۀ به ستا بنه مور نۀ کنځم - نن چې زۀ د دغې دوارو محترمو په کتاب څۀ لیکم نو د هغې وجه صرف دا ده چې هغوی د یو کتاب د کتابت په غلطیو باندې د لیکلو د کوشش ابتدا کړے ده -څکه نو زۀ ځان په حقه ګڼم چې د دوئ په دغه کتاب کښې هم دغه قسمه د کتابت غلطی په ګوته کړم او لوستونکیو ته ثابته کړے شم چې په کوم کتاب کښې غلطی دیر پې دی - راځئ چې وګورو--

صفحه	ناسم تکے	سم تکے
۱۳	نیمګړتیا	نیمګړتیا
۱۳	توګه	توګه
۱٤	توګه	توګه
۱٤	توګه	توګه

www.pukhto.net

١٤	اظهاره	ظاهره
١٥	څرګند	څرګند
١٥	لزلو	لرلو
١٥	حتی	حتیٰ
١٦	خانګرو	خانګړو
١٩	توګه	توګه
٢٠	لوستونکو	لوستونکیو
٢١	حتی	حتیٰ
٢١	فرهنګ	فرهنګ
٢٢	حتی	حتیٰ
٢٣	بستونو	بنستونو
٢٤	حافطی	حافظی
٢٥	ګرځیدلی	ګرځیدلی
٢٦	نیمګړتیا	نیمګړتیا
٢٦	هیڅ اړه لری	هیڅ اړه نه لری
٢٧	حتی	حتیٰ
٢٨	ګوندی	ګوندی
٢٨	بیلګه	بیلګه
٣٠	موصوعاتو	موضوعاتو
٣١	اسمعیل	اسماعیل

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

٣٣	وگنی	وگنی
٣٣	توجهات	توجیهات
٣٤	خنی	خینی
٣٦	توگه	توگه
٣٦	توگه	توگه
٣٦	بیلگی	بیلگی
٣٦	ورونه	ورونه
٣٨	پختگی	پختگی
٤٠	بناعلی	بناغلی
٤٢	وے	وی
٤٣	پام	خیال
٤٣	سترگو	سترگو
٤٥	حتی	حتیٰ
٤٧	څنگه	څنگه
٤٨	نیمگړتیا	نیمگړتیا
٤٨	گوندی	گوندی
٤٨	اگاهانه	اگاهانه
٤٩	څرنگ	څرنگ
٤٩	خوږیږے	خوږیږی
٤٩	سترگو	سترگو

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

٤٩	غالب	غالب
٥٠	معنی	معنیٰ
٥١	محنگه	څنگه
٥٣	رحمان	رحمن
٥٦	رحمان	رحمن
٥٩	شاعر کی	شاعری کی
٥٩	بنستیرو	بنستیزو
٦٤	گلدسته	گلدسته
٦٤	انور الحق	انوار الحق
٦٤	ایجنسے	ایجنسی
٦٤	ایجنسے	ایجنسی
٦٤	یونیورستے	یونیورستی
٦٦	لرغوینو	لرغونیو
٦٨	گل	گنل
٦٩	تحقیق	تحقیق
٨٨	بناعلی	بناغلی
٩٣	ماحذ	ماخذ
٩٣	لوستلا	لوستلے
٩٤	کرستومتی	کرستومیتی
٩٤	بیک	بیگ

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

٩٥	بیلکه.	بیلگه
٩٦	ماخد	ماخذ
٩٧	یاس	پاس
٩٨	فاصل	فاضل
٩٩	شوه	شهٔ
٩٩	پیژندګلی	پیژندګلی
٩٩	دارلتالیف	دارالتالیف
١٠٠	ایډشنونه	ایډیشنونه
١٠١	سه	ښه
١٠٣	ماحذونو	ماخذونو
١٠٤	لکادیمئ	اکادیمۍ
١٠٨	ارځښت	ارزښت
١٠٨	تپر	تیر
١١١	نیمګړی	نیمګړتیاوی
١١٣	ورونو	وروڼو
١١٦	ګام	ګام
١٢٠	عوڅ	غوڅ
١٢٢	بیلګه	بیلګه
١٢٣	وګړی	وګړی
١٢٤	حتی	حتیٰ

www.pukhto.net

١٢٤	اېکل	اتکل
١٢٥	ګوالپار	ګوالیار
١٢٦	طفیان	طغیان
١٢٨	قیدیانو	قیدیانو
١٢٩	حتی	حتیٰ
١٣٠	حتی	حتیٰ
١٣٠	حتی	حتیٰ
١٣١	هنګامی	هنګامی
١٣٢	حتی	حتیٰ
١٣٤	ګګن محل	ګګن محل
١٣٨	بللی	بلبلی
١٣٩	لاتګ	راتګ
١٤١	داګه	داګه
١٤٣	ګرفتاریٰ	ګرفتاریه
١٤٦	تاریح	تاریخ
١٤٩	ګاه	ګاه
١٥١	بیګاه	بیګا
١٥١	ګه	ګه
١٥١	ګهی	ګهی
١٥١	حتی	حتیٰ

www.pukhto.net

١٥٢	روزگار	روزگار
١٥٢	حرگی	جرگی
١٥٢	خپگان	خفگان
١٥٣	عالباً	غالباً
١٥٣	څرگنده	څرگنده
١٥٣	حپت	حیثیت
١٥٣	څرگنده	څرگنده
١٥٣	هعه	هغه
١٥٤	گوالیار	گوالیار
١٥٤	لیکول	لیکوال
١٥٤	حتی	حتیٰ
١٥٤	مرگ	مرک
١٥٥	څرگندیدنه	څرگندیدنه
١٥٥	حتی	حتیٰ
١٥٥	خرگند	څرگند
١٥٦	څرگند	څرگند
١٥٦	مرگه	مرگه
١٥٦	حتی	حتیٰ
١٥٦	حهان	جهان
١٥٦	سترگی	سترگی

www.pukhto.net

۱۵۷	حتی	حتیٰ
۱۵۷	گرم	گرم
۱۵۷	ذلجلال	ذوالجلال
۱۵۸	گنی	گنی
۱۵۸	څرگنده	څرگنده
۱۵۹	نصیب	نصیب

دا ټولې یو سل دوه دیرش غلطۍ دی۔ زۀ نۀ پوهیږم چې د پټې خزانې کومه چې د هغوی "معنوی هستی" ده د هغې دفاع خو کوی خو د پښتو د خپلې مورنۍ ژبې د املا او رسم الخط خیال ولې نۀ ساتی۔ دا دري واړه محترم ملګري ښۀ پوهه او زیرک لیکونکی دی نو ایا زۀ دا پوښتنه کولے شم چې دوئ د پښتو د املا او رسم الخط خیال ولې د نظر دلاندې نۀ ساتی۔ په دې ټکو کښې د کومو یو مکمل فهرست چې ما لوستونکیو ته وړاندې کړو کیدے شی چې لوستونکی په دې کښې څنې غلطۍ غلطۍ ونۀ ګڼی خو زۀ دومره وایم کۀ چرې په دې کتاب کښې ارخښت کۀ هر خائ په یو شکل کښې لیکلے شوے وے نو ما به چرې هم ورته غلط نۀ وۀ ونیلے دغه شان په دې کتاب کښې دواړه قسمه ګاف یعنې کوندې واله هم شته او کاف فارسی هم ، خکه نو ما په غلطیو کښې وشمارلو۔ دغسې "کیدے" لفظ هم په دې کتاب کښې په یو حالت کښې نۀ دے راغلے ۔ چرته "کړای" او چرته "کړے" لیکلے شوے دے۔ او د "نۀ" او "نه" ، "هغۀ" او "هغه" هم څۀ

www.pukhto.net

تمیز نشته۔ دغه رنګ د "زړۀ" او "زړه" د "لاړه" او "لاړۀ" فرق هم نۀ دے ساتلے شوے۔ زۀ نۀ پوهیږم چې زمونږ نوے نسل به د پښتو د دې املانه څۀ نتیجه اخلی۔ او کۀ چرې د ا د کاتب غلطیۀ وی نو د هغۀ کوانف ما اول لوستونکیو ته پیش کړی دی چې د پښتو استاذ هم دے۔ دغه رنګ هغه د پښتو توری چې په اخره کښې یې "ی" راځی او د جمعې په وخت هغه په "یو" بدلیږی د هغې هم چرته خیال ساتلے شوے دے او چرته نه۔ حالانکې دغه چل په پښه خزانه فی المیزان کښې هم شوے دے او دې محترمو لیکونکیو پرې اعتراض هم کړے دے۔ خو په خپله د هغې غلطیۀ بنکار شوی دی۔

پښه خزانه د "سبحان الله" نه بغیر دریې سوه دریې اویا مخونه لری او دومره د کتابت غلطیۀ په کښې نشته لکه څومره چې په دې شریک کتاب کښې موجودې دی (د پښه خزانه فی المیزان د هغې غلطیو کومو ته چې په سبحان الله کښې اشاره نۀ ده شوے د شمیر معلومولو دپاره کۀ لوستونکی غواړی نو د دیو محترمو دغه شریک کتاب دې وګوری) اودّ دې قضاوت دې هم ګران لوستونکی وکړی چې دې ته به څۀ وایو ؟ پښتنو مشرانو خو د داسې موقعې د پاره یو خاص متل کړے دے۔ خو زۀ لکه د دغې دوارو محترمو لیکونکیو دې غلطیو ته نۀ د دوئ ښوئیدنې وایم او نۀ تیندکونه لکه چې هغوی د محترم قلندر مومند صاحب په کتاب پښه خزانه فی المیزان کښې دغه قسمه غلطیو ته ښوئیدنې او تیندکونه وئیلی دی۔ او نۀ هغه متل دلته نقل کول مناسب ګڼم۔

دیو ښاغلیو په پښه خزانه فی المیزان کښې په راوړیو شوۀ

www.pukhto.net

شعرونو کښې د کتابت غلطيو ته هم د تحريفاتو او تصريفاتو نوم ورکړے دے۔ ولې په خپله ې د محترم ايوب صابر مرحوم د غزل يو شعر په دليل کښې په داسې طريقه پيش کړے دے چې په خپله د دغې جرم ښکار شوی دی۔ دغه شعر داسې راوړلے شوے دے۔۔۔

دزړګی چې وينه وځځوم بيت شی

زمانې زما نقصان ته خو پام وکړه 9

حالانکې د ايوب صابر مرحوم د غزل دغه شعر چې د هغوی په کتاب خيګر خون کښې چاپ شوے هم دے داسې دے۔۔۔

دزړګی چې وينه وځځوم بيت شی

زمانې زما نقصان ته خو خيال وکړه 10

په دغه شريک کتاب کښې د پروف ريډنګ نه علاوه د خپلې معنوی هستی يعنې د پټې خزانې دفاع کونکيو څنې نورې خبرې هم کړی دی چې انشاء الله په خپل خپل ځائ ې به ې جواب وشی۔ خو دلته چې دا وخت زهٔ کومه خبره د ذکر ور ګنم هغه دا ده چې په دغه کتاب کښې يو دفاع کونکی ښاغلی صميم صاحب ليکلی دی چې۔۔۔

" ماته د ښاغلی قلندر مومند د " ابتدائی معروضات " د لوستو په ترڅ کښې د پټې خزانې دويم چاپ ته د ۱۳۳۷ هجری شمسی کال د ليکلو پر وخت يو نهٔ توجيه کيدونکی خيال څکه راپيدا شو چې يو خوبه راته په

www.pukhto.net

تحقیقی چارو کښې د ښاغلی قلندر هغه د وسواس تر
حده احتیاط رامخته شو بل خوا به راته دا خیال پیدا شو
چې پر طباعتی چارو دیر زړۀ تړل نۀ دی پکار کیدے شی
چې پر کومه چاپی نسخه ۱۳۳۷ هجری شمسی هم لیکل
شوی وی، بیا به مې دا ذهن ته راغله چې کۀ ښاغلی قلندر
د (۱۳۳۷) او (۱۳۳۹) تر مینځ فرق ته قائل نۀ وے نو
محمد هوتک به ئې په هم دغه بې احتیاطو د طنز او
خندنیو ښکار کیدے نه۔ او چې پر دې یوه هم قانع نۀ
شوم، نو هم دا راته غوره وبرینبیده چې راشه وۀ خو ئې
لیکه کۀ تیروتی وی ښاغلی قلندر لوئې سړے دے
همیشه ئې له علمی لورونو برخور شوے ئې وۀ به دې
بخښی او کۀ خدائې مۀ کړه تیندک ئې خورلے وی ازاله به
ئې و کا، اعتراف چا شکست ګڼلے دے۔ (۱۱)

د محترم آصف صمیم د دې اقتباس نه دا ښکاری چې هغه د قلندر مومند صاحب "پته خزانه فی المیزان" دومره بې تولې کړے دے چې یو خوا خو دا اعتراف کوی چې زۀ ئې له علم نه فیض یاب شوے یم او لوئې سړے دے ولې بل خوا ورته وزّان وائی او په اکثرو ځایونو کښې ورته تش قلندر هم وائی او دغه د سن غلطی دومره عظیمه ګڼی چې د هغې دپاره ئې بیل عنوان "بے بے بله خړئ" ټاکلے دے۔ دلته د نور ځۀ وئیلو نه اګاهو زۀ د ښاغلی صمیم په خدمت کښې یو عرض دا پیش کوم چې د پټې خزانې ټول

www.pukhto.net

دفاع کونکی د پټې خزانې د دفاع په لړ کښې اکثر دا خبره کوی چې "د دې غلطیٔ احتمال د کاتب نه ممکن دے"۔ خو د بل د کتاب کاتب ورته ولې د کراماً کاتبینو غوندې بنکاری؟ د پټه خزانه فی المیزان کاتب انوار الحق داؤدزے دے چې لکه د سید محی الدین هاشمی غوندې دګری هولډر او لیکونکے نۀ دے۔ او په حیثیت د یو کاتب د هغۀ نه د دې غلطیٔ احتمال ممکن دے او د هندسو په لړ کښې اکثر د اسې کیږی۔ خو دا خبرې زۀ د محترم قلندر صاحب د دغه غلطیٔ د توجیه دپاره بیخی نۀ کوم۔ هسې د دوئ د دغې خبرې په ضمن کښې می ذهن ته راغلې۔

څومره پورې چې د دغه دویم چاپ د سن تعلق دے کوم چې قلندر صاحب ۱۳۳۷ هجری شمسی لیکلے دے او محترم آصف صمیم صاحب وائی چې دا ۱۳۳۹ هجری شمسی دے۔ لکه چې بناغلی صمیم لیکلی دی "چې د دغې ابتدائی معروضاتو لوستو په وخت یو نۀ توجیه کیدونکی خیال خکه را پیدا شو چې یو خو به راته په تحقیقی چارو کښې د قلندر هغه د وسواس تر حده احتیاط رامخته شو" ۔ په دې خبره کښې ماته صداقت نۀ بنکاری ګنی نو محترم صمیم به دغه د دویم چاپ نسخه لږه په غور کتلے وه او په طباعتی چارو به ې دیر زړۀ نۀ ترلو۔ خو لکه چې ما اګاهو ووې هغه د قلندر صاحب دغې کتاب بیخی بې تولې کړے دے ګنی دیر پوهه او زیرک انسان دے د هغۀ نه دا قسمه غلطی زما په خیال ممکنه نۀ وه۔ د دغه تذکرې د دویم چاپ کال په پټه خزانه فی المیزان کښې ۱۳۳۷ هجری شمسی ولې لیکلے شوے دے د دې په حقله به زۀ دومره ووایم چې د "تاریخی پس منظر" د عنوان د لاندې په

www.pukhto.net

صفحه یو سل دوه پنځوسمه خو هغوی دا هم لیکلی دی چې...

او کۀ چرې په ۱۳۵٤ او بیا په ۱۳۵٦ کښې د علامه مرحوم د نوم څرګندونې په نتیجه کښې د حبیبی صاحب هغه مرحوم سره کړې وعده نۀ ماتیده نو ۱۳۳۹ هش (د پټې خزانې د دوهم چاپ کال) او ۱۳٤۲ هش (د پښتانۀ شعراء دریم ټوک د چاپ کال) کښې کۀ د علامه مرحوم نوم ښکاره کړے شوے وے نو هم به دغه وعده نۀ ماتیده"۔ (12)

نۀ پوهیږم چې محترم صمیم صاحب پټه خزانه فی المیزان پوره لوستے نۀ دے او کۀ دغې کتاب ډیر بې تولې کړے دے چې په معروضاتو کښې ۱۳۳۷ کال وینی او په صفحه یو سل دوه پنځوسمه ۱۳۳۹ هجری شمسی نۀ وینی چې ورسره دا هم لیکلی شوی دی چې د پټې خزانې د دوهم چاپ کال۔ خو د حیرانی مقام دے چې محترم صمیم صاحب دومره یوه باریکه غلطی په پټه خزانه فی المیزان کښې خو وینی خو په دغه معنوی هستی کښې ورته په نظر نۀ راځی۔ حالانکې لکه چې د نقل شوی اقتباس نه ښکاره ده چې د دغې د لوستو په وخت د هغۀ ذهن ته ډیرې خبرې راغلی دی خو بیا ئې هم تحقیق نۀ دی کړے او چې څۀ ئې لیکل غوښتل هغه ئې لیکلی دی۔ د پټې خزانې دویم ایډیشن په ۱۳۳۹ هجری شمسی یعنې ۱۹٦۰ عیسوی کښې خور شوے دے۔ او هر کله چې د یو کتاب دویم ایډیشن چاپ کیږی نو په هغې د دویم چاپ دپاره مقدمه لیکلے شی او دا مقدمه هم په هغه کال لیکلی شی په کوم کښې چې دغه ایډیشن چاپ کیږی۔ په ورومبی ایډیشن کښې اکثر داسې کیږی چې خلق

www.pukhto.net

پرې د چا نه لیکل واخلی او بیا د څه مجبور و له کبله د چاپ کار وخندیږی نو په هغې کښې د چاپ د کال او د مقدمې د کال تر مینځه فرق راشی او هغه ممکن هم دے خو باید چې هغې سره هم وضاحت کولے شی۔ خو د پټې خزانې د دویم چاپ او د مقدمه طبع دوم ترمینځه د دوۂ کلونو فرق دے او هیڅ څه داسې وضاحت نۀ لری چې د مقدمې لیکلو نه پس کومه داسې پیښه راغلې وه چې د کتاب طباعتی کار پرې خندیدلے وۀ ۔ او عجیبه خو دا ده چې دا د دوۂ کلونو فرق د دغې کتاب دفاع کونکیو تر ننه نۀ دې محسوس کړې ۔ او نۀ دا غلطی د کتاب د متن سره تعلق لری چې جواب به ېۍ په دې خبره وشی چې "په استعجال تمام شوے دے خکه نو د کاتب نه ېۍ احتمال ممکن دے۔"

زۀ د آصف صمیم صاحب دپاره نه او د لوستونکیو دپاره دا خبرې ضروری ګڼم او هیله لرم چې ګران لوستونکی به قانع کړے شم خکه چې د هغۀ په زړۀ کښې د دغې اعتراض کولو نه اګاهو دیرې خبرې راغلی دی او په په یوه هم نۀ دې قانع شوے نو چرته زۀ او چرته د هغوی قانع کول۔

البته لوستونکیو ته صرف دومره عرض کول غواړم چې ما کوم معروضات پیش کړل د هغې په رنا کښې به د یو کتاب د دویم ایډیشن د مقدمې لیکلو کال ګڼی د کتاب د چاپ کیدو کال نۀ شی ګڼلے ؟ او کۀ نۀ شی ګڼلے نو بیا دا پوښتنه د محترم صمیم صاحب نه د دغې کتاب د یو دفاع کونکی په حیثیت، پکار ده چې په دغه دویم ایډیشن کښې د اسې ولې شوی دی ؟ خکه چې دومره باریکه غلطی (هر څو کۀ هغه غلطی نۀ ده) د بل په کتاب

www.pukhto.net

خو وینی ولی په خپله معنوی هستی کښې ورته په نظر نه راځی ایا د دی وجه دا خو نه ده چی دوئ خپلی دغی معنوی هستی سره دومره عقیدت لری چی د تنقید په نظر ورته کتل هم نه غواړی - پښتنو ځه ښه وئیلی دی چی "خپل بد د وولو مینځ وی" - زه خپلی خبری د فیضی صاحب په دی شعر ختموم چی --

ته زما دلمن داغ ته گوته نیسے

گوری نه چی ستا په زنه باندی خال دے

حوالی

1. سباون دویم ایډیشن ص - ٧٤
2. د پټی خزانی میزان ربنتیا میزان دے؟ ص - ٦
3. حدیقه خټک مرتبه سید انوار الحق ص - ٢٧
4. هم دغه کتاب ص - ٢٧
5. هم دغه کتاب ص - ٣١
6. د عبد القادر خان دیوان د همیش خلیل ص - ٦ الف او ٧ الف -
7. د میرزا حنان بارکزی دیوان په سریزه، سمون او لغتنامه د محمد معصوم هوتک ١٣٧٠ هجری شمسی کال چاپ ص - ع
8. دیوان اکبر اله آبادی ص - ٥٧ د مکتبه فیاض اردو بازار لاهور
9. د پټی خزانی میزان ربنتیا میزان دے؟ ص - ٤٢
10. خیګر خون د مرحوم ایوب صابر - ١٣٣

www.pukhto.net

11 د پټی خزانی میزان ربنتیا میزان دے؟ ص۔ ۱۰۲ او ۱۰۳

12 پټه خزانه فی المیزان ص ۔ ۱۵۲

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ

د "جرس" د جولائی ستمبر ۱۹۹٦ عیسوی په گڼه کښې د ښاغلی ع رفیع یوه مقاله "د رحمان بابا د زیږیدو او مړینې کلونه" چاپ شوې ده ـ د خپلې دغې مقالې د یوې صفحې شان نزول بیانولو نه پس ښاغلے اصلی مقصد له راغلے دے ـ اګاهو له دې نه چې د هغوی د دغې "عالمانه" مقالې جواب وکړم ضروری ګڼم چې ګرانو لوستونکیو ته دا خبره واضحه کړم چې د افغانستان عالمان د رحمان بابا د زیږیدو او مړینې کلونو له ولې دومره اهمیت ورکوی ګنی نو په پښتنو کښې خو نور هم داسې ګڼ شاعران تیر شوی دی چې د هغوی په حقله هیڅ قسمه معلومات نشته ـ زما په خیال د دې صرف یوه وجه ده او هغه دا چې د افغانستان عالمان د یو جعلی لیکونکی یو جعلی کتاب په خلقو منل غواړی ـ دغه جعلی کتاب پټه خزانه دے چې د چاپ کیدو نه پس پرې پښتنو لیکونکیو، ایرانیانو او مستشرقینو د خپلو خپلو شکونو اظهار کړے دے او ورته ئې د شک په نظر کتلی دی ـ محترم قلندر مومند صاحب د دغې جعلی تذکرې په رد کښې پوره کتاب "پټه خزانه فی المیزان" لیکلے دے او په دلائلو ئې ثابته کړے ده چې دا تذکره جعلی ده ـ اوس اوس یو بل خیرک محقق او نقاد محترم سعید ګوهر صاحب په خپل کتاب "پټه خزانه فی الحقیقت" کښې هم دا خبره ثابته کړه چې تذکره او تذکره لیکونکے دواړه جعلی دی ـ تراوسه د افغانستان د عالمانو له

www.pukhto.net

خوا د قلندر مومند صاحب د کتاب تسلی بخش جواب نه دے شوے -
دغسې د ګران سعید ګوهر دلائل هم لکه د قلندر صاحب د دلائلو ناقابل تردید
دی - د پټې خزانې مدافعین چې ګران سعید ګوهر صاحب ورته "برخود
غلط" وائی د مدللو جوابونو په خای لګیا دی د دغه تذکرې په معترضینو
الزامونه او تهمتونه لګوی - د دې تذکرې د جعلیت اندازه د دغو دواړو یادو
شویو عالمانو نقادانو له کتابونو کتلو نه لګی - زه دا وخت د دې تذکرې د
جعلیت صرف یو ثبوت د ګرانو لوستونکیو په وړاندې پیش کوم - او هغه
دا دے چې دا تذکره د یو پښتوس لیکونکیو حالات او کلامونه لری چې په
هغې کښې هم یو تذکره نګار او یو د هغه والد محترم دے خوشحال بابا،
رحمان بابا، عبد القادر خان خټک او یونس د اسې شاعران دی چې له دې
تذکرې نه اګاهو خلقو ته معلوم وو - مطلب دا چې د پینځه ځلویښتو
لیکونکیو نیمګړی حالات او د کلام نمونې په کښې شاملې دی - بیا هم دا
تذکره زما د معلوماتو مطابق ځلور ځله د افغانستان حکومت له خوا چاپ
شوے ده - او په فرانسیسی، انګریزی، فارسی، جرمنی او روسی ژبو
کښې یې هم ترجمې شوی دی - له دې خبرې نه به د افغانستان عالمان هم
انکار ونه کړی چې له دغې تذکرې نه ښه او مستند کتابونه په پښتو کښې
شته چې هیڅا پرې تراوسه د شک اظهار نه دے کړے - لکه خیر البیان،
مخزن، د خوشحال بابا دستار نامه، تاریخ مرصع، وغیره - که د افغانستان
عالمان د پښتو ادب خدمت کول غواړی نو د دې یادو شویو کتابونو ترجمې
ولې په نورو ژبو کښې نه کوی - صرف دغه یوه تذکره چې خپل پردی

www.pukhto.net

ورته د شک په نظر ګوري او حیثیت یې متنازعه دے ولې بیا بیا په مختلفو ژبو کښې ترجمه کوی ؟ لکه چې د پټې خزانې د مقدمې نه ښکاره ده د افغانستان عالمان د فارسی ادب سره مقابله کول او د پښتو ادب تاریخ د فارسی ادب نه مخکښې ثابتول غواړی چې یوه ناممکنه خبره ده ۔ زما په خیال خو دا علمی کار نه دے ۔ که څوک دا ووائی چې پښتو د حضرت آدم علیه السلام د زمانې نه شروع شوے ده نو په دې څه نه کیږی ۔ څکه چې شرعه ظاهر ګوری په میدان څه دی ؟ زه خو خپله دا خبره قابل عار ګڼم چې خپله ژبه قبل مسیح ثابتوم او په میدان د اردو ادب هومره سرمایه هم نه لرم ۔ د رحمان بابا د پیدائش او مړینې د کلونو خبره هم د دغې تذکرې د جعلیت یو ثبوت دے ۔ د دې وړ د وضاحت پیش کولو نه پس زه د ګرانو لوستونکیو نه معذرت غوښتونکے اصل موضوع له راځم ۔

بناغلی ح رفیع د خپلې مقالې په وړومبی برخه کښې د رحمان بابا د پیدائش په کال بحث کړے دے لیکی ---

"د رحمان بابا د زیږیدو د نیټې پاکلو په باب د دې په دیوان کښې د اخلی سند یواځې یو بیت دے چې د وخت د باچا اورنګزیب د مړینې په یاد یوه وړه قصیده کښې راغلې --

تر پنجاه و پنجه تیر شوې

ته لاځان بولې پسر

د دې مرثیې د وئیلو کال لوئ محقق ارواښاد (هکذا) استاد دوست محمد خان کامل مومند د پخو سندونو او استدلالونو په رڼا کښې

www.pukhto.net

۱۱۱۹ هجری قمری کال اټکل کړے او تر اوسه د دې اټکل ماتونکے هیڅ سند نشته نو مونږ چې د دې قصیدې د وئیلو کال ۱۱۱۹ هجری قمری وټاکو او ۵۵ کلونه ترې کم کړو نو د رحمان بابا د زیږیدو کال ۱۰٦٤ هجری قمری راوځی - دا بیت ډیر پوخ داخلی شهادت دے خو په هغه صورت کښې چې په ټولو نسخو کښې یو راز وے څۀ رنګه چې دا بیت په یوه نسخه کښې "تر پنجاه تر--- تیر شوے" هم راغلے په دوو نورو نسخو کښې "تر پنجاه تر نجاه تیر شوے" په بنه (؟) دے او په ټولو نسخو کښې چې بناغلی قلندر مومند د کلیات دپاره کتلی دی د "تر پنجاه تر پنجه تیر شوې" راغلے دے - په نورو نسخو کښې ۍ نورې بنې (؟) هم شته نو ځکه د پاخۀ سند په توګه تکیه نۀ شی پرې کیدلے -" (1)

عالم او فاضل لیکونکی له پکار وو چې دلته ۍ د رحمان بابا تر اوسه د ټولو پیدا شویو نسخو تعداد ګرانو لوستونکیو ته ښیئلے وے او بیا ۍ هغه نسخې هم په شمار ښیئلے وے چې کومو کښې دغه مصرعه په بدل شکل کښې راغلے ده - نو شاید چې ګرانو لوستونکیو ته په فیصله کښې اسانی پیدا شوے وے - محترم کامل مرحوم او قلندر صاحب د رحمان بابا د کلیات دپاره ټولې د شلو نه زیاتې نسخې کتلی دی - په دغو ټولو نسخو کښې لکه چې لیکونکی هم منلے ده د دغې مصرعې قرأت یو شان دے - د دې برعکس کۀ دریم څلور نسخې د اسې وی چې په هغې کښې دغه مصرعه په بدل شکل وی نو پکار دی چې د ګڼو نسخو مصرعه صحیح وګڼلے شی - او هم د اسې

www.pukhto.net

پکار دی۔

بناغلے لیکونکے وړاندې لیکی ---

"په دې تو گه دا بیت د بشپړې اتکا، څخه لویږی او د رحمان بابا د زیږیدو کال باید د یو بل سند له مخې وپلټو۔" (2)

له دې نه پس بناغلے لیکونکے د حقائقو رابرسیره کولو دپاره بل سند ته رجوع کوی ۔ راځئ چې دا سند ې وگورو ---

"د رحمان بابا د زیږیدو کال پټا کل کیدو په برخه کښې بل اهم سند چې د رحمان بابا د زیږیدو دقیق کال ې ښودلے دے پته خزانه ده چې د رحمان بابا تر مړینې پینځلس کاله وروستو لیکل شوې او د هغې سند هم د محمد هوتک چې د رحمان بابا معاصر تذکره نگار دے بیاض دے ۔ بیاض د رحمان بابا د زیږیدو کال ۱۰۴۲ هجری قمری کال لیکلے چې پټې خزانې تکیه پرې کړې ده۔" (3)

بناغلے لیکونکے هغې تذکرې له تلے دے د کومې متعلق چې اګاهو خبرې وشوې ۔ چې د چاپ نه پس پرې تراوسه پورې شکونه شوی او اوس په مستندو دلائلو جعلی ثابت شوے کتاب دے ۔ که چرې دا کتاب یعنې پته خزانه جعلی ثابت شوے نه هم وے صرف متنازعه وے نو هم ې د سند په طور پیش کول علمی تقاضا نه وه ۔ او د یو داخلی شهادت په مقابله کښې د دغې غیر مستند کتاب سند پیش کول د عقل کار نه دے ۔ پښتانه مټل کوی چې زما دې په پیرې شک دے او ته وائې چې مریدان رانه وگوره ۔ یا زه مرم د غوچې ته بیا وې غوچې ۔

www.pukhto.net

د افغانستان د عالم لیکونکے چې د پټې خزانې د مدافع په حیثیت هم هر چا ته معلوم دے د اعلم نه لری چې د پټې خزانې تذکره نگار د رحمان بابا د پیدائش کال د خپل بیاض نه نه دے راانقل کړے بلکې محمد هوتک دغه کال د محمد رسول هوتک له بیاضه راخستے دے ۔ مطلب د اچې بناغلے لیکونکے د خپلې "معنوی هستی" د جعلیت Shock دومره متاثر کړے دے چې د اهم ورته نه یادیږی چې بیاض د رحمان بابا د معاصر تذکره نگار نه بلکې د محمد رسول هوتک وو ۔ زه بناغلی لیکونکی ته عرض کوم چې یو څل دې بیا دغه تذکره په غور ولولی چې اننده دا سې تیند کونه نه خوری ۔

مونږ د بناغلی لیکونکی دغه د جعلی کتاب سند په ډیرو وجوهاتو نه شو منلے ۔ لکه کامل مرحوم چې د دغې تذکرې د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری قمری غلط ثابت کړو نو بیا ئې هم د دغې تذکرې لیکلے د رحمان بابا د پیدائش کال هم په یقین سره نه قبلولو لکه چې په دې مقاله کښې به تاسو ته د کامل مرحوم دغه خبره پیش کړے شی ۔ او اوس خو پته خزانه جعلی ثابته شوے ده څکه نو د اعتبار لائقه بیخی نه ده ۔ پاتې شو د محمد رسول هوتک بیاض نو که دغه بیاض د رحمان بابا د زیږیدو کال راخستے دے نو دا هم د دغې کتاب د مولف کارنامه ده ۔ څکه چې په پښتو ټول زور ادب کښې دا سې یو تن نشته چې هغه د دغې بیاض څه ذکر کړې وی او نه تراوسه لکه د پټې خزانې د نورو مصادرو پیدا شوے دے ۔ څکه نو زه د بناغلی مقاله نگار دغه معتبر شهادت رد کولو کښې خان حق په جانب کښم ۔

بناغلی لیکونکی د محترم کامل مرحوم دا اقتباس پیش کړے دے

www.pukhto.net

چې ---

"په هر حال د قیاس له رویه په پټه خزانه کښې لیکلے د رحمان بابا د زیږیدو کال کۀ مشکوک او مشتبه هم وی نو د غلط کیدو په ثبوت کښې یې له مونږ سره څۀ دلیل نشته ۔" 4

ولې د اسې بیخی نۀ ده کامل مرحوم په خپل کتاب رحمان بابا کښې دا هم لیکلی دی چې ---

"په پټه خزانه کښې درج د رحمان بابا د زیږیدو کال ما څکه په یقین قبول نۀ کړو او ذمه د اری مې یې دم مولف ته وسپارله چې لکه وړاندې مې عرض کړے دے د پټې خزانې مولف چې د رحمان بابا د وفات کوم تاریخ لیکلے دے هغه د ډیر قوی او اعتبار ور شهادت له رویه غلط دے ۔" 5

دا هم هغه خبره ده چې مخکښې ورته اشاره وشوه ۔ د کامل مرحوم د خبرې مطلب دا دے چې په پټه خزانه کښې د رحمان بابا د وفات کال غلط لیکلے شوے دے څکه نو هغه یې د پیدائش هغه کال چې پټې خزانې راخستے دے په یقین سره نۀ قبلوی ۔

د رحمان بابا د پیدائش او وفات په حقله د کامل مرحوم د تحقیق سره لکه چې بناغلی لیکونکی ته معلومه ده قلندر صاحب په خپل کتاب پټه خزانه فی المیزان کښې او هم په خپله مقاله کښې چې "رحمان پوهنه" چاپ ده اختلاف کړے دے ۔ د هغوی دلیل دا دے چې --

کۀ مونږ په ۱۱۱۹ هجری قمری کښې د رحمان بابا عمر پینځۀ

www.pukhto.net

پنځوس کاله فرض کړو نو د رحمان بابا د پیدائش کال ۱۰٦٤ هجری قمری راوځی او که د اسې وی نو د خوشحال بابا د وفات په وخت په ۱۱۰۰ هجری قمری کښې به د رحمان بابا عمر شپږ دیرش کاله منل پکار وی ـ حالانکې د اسې کول به ډیر غلط وی ځکه چې که چرې د خوشحال بابا د مرګ په کال رحمان بابا د شپږ دیرشو کالو وے نو دا به ډیره غیر اغلبه خبره وه چې خوشحال بابا به ې د شاعر په حیثیت ذکر نه کولو ـ 6

بناغلے لیکونکے ددې خبرې په جواب کښې لیکی چې ---

خوشحال بابا تر قلندر پرته (؟) نور کشر شاعر یو هم نه دے یاد کړے او هغه ې هم په تمسخر یاد کړے، سره له دې چې هم دا سړے بیا اشرف خان د ښه شعر خاوند بللے نو له دې نه د رحمان بابا د یادولو توقع کول او بیا د هغه د نه یادولو له امله د رحمان بابا عمر ۳۹ کاله راتیټول عجیبه منطق دے چې مونږ ې یو تش توهم بللے شو نه استدلال او استناد ـ دا خبره هغه وخت نوره ښه سپینیږی چې د خوشحال بابا ځامنو ته راشو دې په خپلو ګنو ځامنو کښې تر بهرام پرته --

عطارد دې نور قلم له لاسه کیږدی

چې په دا خوبی ر بهرام انشا. املا کړه

یو هم د شاعر او ادیب په حیث نه یادوی بلکې اشرف خان عابد خان، صدر خان، سکندر خان، قادر خان، ګوهر خان، او خپل

www.pukhto.net

نور خامن نثر د خامنو په حیث یادوی نه د شاعرانو، ادیبانو په
توګه، که دښاغلی قلندر یاده شوې توجیه معیار وګرځوو نو بیا
به حتماً حکم کوو چې اشرف خان او د خوشحال خان بابا نور
خامن د خوشحال بابا د مرینې تر وخته شاعران شوی نه وو او که
شاعری ئې کولے نو حتماً به خوشحال بابا د دوئ د شاعری یادونه
کړې وه ـ" (7)

لکه چې قلندر صاحب په خپل کتاب او هغه مقاله چې په رحمان
پوهنه کښې چاپ شوے د ښاغلی چې رحمان بابا د دغو شاعرانو نه چې
خوشحال بابا یاد کړی دی په هر لحاظ ښه او وچت شاعر وه نو که چرې د
خوشحال بابا په ژوند رحمان بابا دومره شهرت حاصل کړے وے نو بیا د
خوشحال بابا له خوا د هغه نه د کمزوریو شاعرانو یادول او هغه نظر انداز
کول څه معنئ لری ـ

دغسې یو بل خائ کښې ښاغلے لیکونکی لیکی ---

" د خوشحال بابا له خوا د رحمان بابا نه یادول د دده د کشر توب دلیل
هیڅ کله هم نه شی کیدے ځکه خوشحال بابا د وخت یو نابغه او
بې جوړې ادیب وو ده ته د خپل ادبی قوت پته وه نو ځکه ئې تر
ځان نه په مشرانو ادیبانو او شاعرانو هم ستر که نه ډکیده (هکذا)
او دوئ ئې اکثره په تمسخر او ملنډو یاد کړی ـ" (8)

نو که چرې مونږ د ښاغلی لیکونکی خبره وه منو نو بیا د دې
خبرې جواب پکار دے چې آیا رحمان بابا هغه دومره هم نه ګنلو چې غندنه

www.pukhto.net

ې ورله کړے وے۔ او په تمسخر او ملنډو ې یاد کړے وے؟

بیا وړاندې دا خبره کوی چې خوشحال بابا بې له بهرام نه د چا د شاعرۍ ذکر هم نۀ دے کړے او په دلیل کښې ې دا شعر پیش کړے دے۔۔۔

عطارد دې نور قلم له لاسه کیږدی

چې په ۔ا خوبۍ بهرام انشاء املا کړه 9

اوس چې یو عالم فاضل لیکونکے له دې شعر نه دا مطلب اخلی چې ګنی بهرام شاعر وۀ نو ما له دهغۀ په حال رحم راځی۔ خو صرف دومره به ووایم چې ۔۔۔ بسوخت عقل زحیرت که این چه بوالعجبی است

عطارد د یو ستوری نوم دے چې دبیر فلک هم ورته وئیلے شی۔ د هغۀ متعلق دا مشهوره ده چې هغه د اسمان منشی دے، کاتب دے لیکل کوی نو خوشحال بابا چې په عطارد قسم ږدی نو هغه صرف له دې وجې چې بهرام د هغۀ نه زیات خوشنو ۔ ش دے ۔ کۀ چرې بناغلے لیکونکے دا ثابته کړی چې عطارد چرته د عربۍ یا فارسۍ یا پښتو ژبې یو لوئ شاعر تیر شوے دے او خوشحال بابا هغه یاد کړے دے نو زۀ به بهرام د شاعر په حیثیت وۀ منم۔ کۀ نۀ وی نو د شعر نه معنئ بنکاره ده چې "عطارد دې نور قلم له لاس نه کیږدی ځکه چې بهرام په ډیره خوبۍ املا لیکل شروع کړل۔" باید چې بناغلے لیکونکے پرې یو خل بیا سوچ وکړی۔

او کۀ د یو ساعت دپاره مونږ د بناغلی لیکونکی دا خبره وۀ هم منو چې صرف بهرام خوشحال بابا شاعر یاد کړے دے نو دا غلطه ده ځکه چې خوشحال بابا صدر خان خټک هم شاعر ګڼلو۔ لکه چې صدر خان خټک په

www.pukhto.net

مثنوی آدم درخانیږ کښې وائی ---

یوه ورځ په اشتغال وو

داشعار په قیل و قال وو

هغه دم له عاشقانو

له ربښتینو صادقانو

مذکور پیښ شۀ ناګهانه

ما عرض وکړ له زبانه

دیر اشعار له هره بابه

کتابت شۀ بې حسابه

د عشاقو افغانانو

د ماضیو عاشقانو

کتاب بویه چې نګارشی

وروستو پاتو یو یادګارشی

دۀ وې ښۀ دې ووې ځویه

یو کتاب په دا باب بویه

کۀ د عمر څۀ وفا وی

له کار بار فرصت زما وی

له آدم له درخانیږ

بویه ښې سخن رانیږ

www.pukhto.net

چې منظوم یوه نسخه شی

یادګار پاتو په ستنه شی

او کۀ پاتو شی له مانه

زۀ روان شم له جهانه

تۀ منظومه کړه بالجزم

دا قصه په بنکلی نظم

په جهان کښې دا ګفتار شی

اے فرزنده چې یادګار شی 10

کۀ لیکونکے دا اعتراض کوی چې دا خو د خوشحال بابا بیان نۀ دے بلکې صدر خان خټک ونیلی دی نو هم ېۍ خبره سمه نۀ ده ۔ خو بیا هم زۀ د خوشحال بابا له یوې قصیدې نه دا خبره ثابتوم چې هغۀ خپل ځامن شاعران یاد کړی دی ۔ خوشحال بابا په خپله یوه قصیده کښې وائی ۔۔

مګر زۀ ېۍ چې ګویا په شاعری کړم

پښتانۀ ېۍ پوهول ایزد تعال

په دا بند وبست به نور ترما بهتر شی

پس له ما چې کا د شعر قیل او قال

نن زما خویه یو څو دی برخوردار شه

چې په دا هنر کښې نۀ لری همال 11

نۀ پوهیږم چې فاضل نقاد د خوشحال بابا کلیات نۀ دی کتلی او کۀ د خپل موقف دپاره ېۍ تري صرف نظر کړے دے ۔ له دې نه زیات تعریف به

www.pukhto.net

خوشحال بابا څخه وکړی - لکه چې د شعر نه بنکاره ده خوشحال بابا خپل یو څو ځامن شاعران یادوی او په تعریف کښې وائی چې په دے هنر کښې سیال نه لری - نو اوس دې ګران لوستونکی انصاف وکړی چې فاضل لیکونکے په خپله دغې دعویٰ کښې څومره رښتونے دے -

دغه رنګ اشرف خان هجری په یو نظم کښې د خپلې کورنۍ د شاعرانو ذکر په دې ډول کوی --

اولاً به داستاد له حاله وایم

چې یې شعر جهانګیر لکه قمر دے

په پښتو ژبه چې چا شعر بیان کړو

د هموو نظم ستوری د ډډه نمر دے

چې خوبی د هغه نمر وایې مهجوره

چې یې نام دهر نیولے سر په سر دے

اوس یې وایه حقیقت د شاګرد انو

چې هر یو له دے هنره بهره ور دے

قادر خان که بحر بولم دروغ نه دی

چې یې فکر د اصلی درو مصدر دے

د سکندر شعر د څخه سره مخے کړم؟

طبیعت یې ډیر د درو منور دے

د اشعارو ملک یې ټول په ژبه خپل کړو

په سر یر د نظم شاه بل سکندر دے

www.pukhto.net

صدر خان، عجب گوهر سخن شناس دی

رحمان لاپه داهنر دتورو غر دے (12)

د قلندر صاحب موقف دا دے چې رحمان بابا په شعرونو کښې کومې تعلې کړے دی نو که چرې دا خوشحال بابا ته رسیدلے وے نو خامخا به یې هغه جواب کړے وے۔ بلکې خوشحال بابا خو څه چې د هغه خویې اشرف خان هجری د قلندر په یوه شاعرانه تعلې غصه شوې او سخت جواب یې کړے دے نو که چرې د رحمان بابا دا تعلې ---

خوشحالا او دولتا مې غلامان دی

زه رحمان په پښتو ژبه عالمگیر یم

یو خوشحال یو کم سل خټک نور په طبیعت کښې

څارشه د رحمان دسړینی تر یوه فرده

که یې شعر د رحمان مومند تر غوږ شی

غوږ به نه باسی په شعر د خوشحال څوک

دا غزل په حاشیه و کښه رحمانه

د خوشحال د بیاض پانې په وریږدی (13)

هغه ته رسیدلے وے نو د قلندر د جواب نه به یې ورله سخت - واب ورکړے وو خکه چې د قلندر شاعرانه تعلی د دومره سختې غندنې نه ده څومره چې د رحمان بابا پاس ذکر شوے تعلې دی - خو اشرف خان هجری د رحمان بابا د دغو شاعرانه تعلو هیڅ نوټس نه دے اخستے - خکه نو د خبره صحیح ده چې ۱۱۰۶ هجری پورې د رحمان بابا ټوله شاعری اشرف

www.pukhto.net

خان هجری ته نه ده رسیدلے - که فاضل لیکونکے دا خبره نه منی نو باید چې دا ثابته کړی چې د رحمان بابا د دغو شاعرانه تعلو جواب د خوشحال بابا و د هغه د خوی اشرف خان هجری له اړخه د کومو وجوهاتو په بنا نه دے شوے؟ - فاضل لیکونکی په خپله دغه مقاله کښې دا خبره کړے ده ---

"د خوشحال بابا له خوا د رحمان بابا نه یادول د دې د کشر توب دلیل هیڅ کله نه شی کیدے ځکه خوشحال بابا د وخت یو نابغه او بې جوړې ادیب ، وو، دې ته د خپل ادبی قوت پته وه نو ځکه یې تر خان نه په ټولو ادیبانو او شاعرانو هم ستر که نه رکیده - او دوی یې اکثر په تمسخر ملنډو یاد کړی دی" - (حواله اګانو تیره شوے ده)

دا اقتباس یو ځل مکښې هم نقل شوے دے دلته هم فاضل لیکونکی د دروغ بیانی نه کار اخستے دے - ځکه چې خوشحال بابا د مرزا خان انصاری تعریف کړے دے دا ئی ---

له چانه په پښتو کښې ما میزان لیدلے نه دے

مرزا په دا بان کښې وئیلی کړی دی تللی (14)

نو اوس که څوک د دغه ټوله تعریف نه وائی نو دا به د هغه "فراست" وی - او که نباغلے د خوشحال بابا د شعر په جواب کښې پیش کوی او وائی چې دلته یې ور پورې خندا او ملنډه کړے ده ---

د مرزا دیوان مې وماندې په ګودی

مسخره مې ارزانی خوشکی زمند کړ (15)

Pukhto.Net
www.pukhto.net

نو داسې بیخی نه ده د خوشحال بابا نه اګاهو د پښتو ورومبے صاحب دیوان شاعر مرزا خان دے د هغه دیوان په ګوډی د منډلو مطلب دا دے چې د هغه دیوان مې د خلقو د نظره پناه کړو - یعنې زما شعر د هغه نه بنه دے او دا یو حقیقت دے - په دې شعر کښې هم مرزا بنه شاعر یادشوے دے - باقی په کوم نظم کښې چې خوشحال بابا د ګنو شاعرانو ذکر کړے دے د هغې نه فاضل لیکونکی په خپله مقاله کښې یو څو شعرونه پیش کړی دی چې زه ې دلته یو څل بیا پیش کوم ---

چې لاف وهی د شعر

نن په دا دور دی دیر

خدائ دې نه کا چې به وایم

حال د دیو تیر و بیر

څوک پاوے څوک نیم پاوے دے

قلندر په کښې نیم سیر

زمونږه په حساب دی

هیڅ مې نه دے واصل هیر

بل دولت فقیر دې پاوه

زه تر ې څو سر شاهی تیر

بناغلے رفیع لیکی چې خوشحال بابا د خپل عصر دا شاعران د شعر لاف وهونکی بلل شاعران نه - د هغوی له دې خبرې سره هم زه اختلاف لرم که چرې د لیکونکی دغه خبره زه وه منم نو بیا به خوشحال بابا هم شاعر نه

www.pukhto.net

منم ځکه چې په دغه نظم کښې هغوی خپل ځان هم دوه ځله یاد کړے دے چې "زمونږه په حساب دے" او "زهٔ تر ې ځو سر شاهی تیر" - زهٔ نهٔ پوهیږم چې بناغلے لیکونکے ولې په دې نهٔ دے پوه شوے - د شعر لاف وهونکے صرف شاعر کیدے شی بل ځوک نهٔ شی کیدے - خوشحال بابا د دغو ټولو شاعرانو اول درجه بندی کړے ده او بیا ې ورسره خپله موازنه کړے ده - کهٔ چرې هغهٔ دوی شاعران نهٔ ګڼل نو بیا ې ورسره خپله موازنه ولې کوله - زهٔ فاضل لیکونکی له مشوره ورکوم چې په دے خبره لږ سوچ وکړی او د جذباتیت مظاهره دې نهٔ کوی -

باقی د اشرف خان له خوا چې د رحمان بابا کوم تعریف شوے دے هغه شعر دا دے چې ---

د رحمان په وتیل ځای د لقب نشته

چې ې ما شعر منظور کړ متبر دے

محترم قلندر صاحب له دې شعر نه مخکښې شعر په حقله لیکلی دی چې ---

"عام طور سره زمونږ نقادانو د دې شعر نه مخکښې شعر --

خونږ زبان په زمانې شکرې لونی

هغه واف چې مستقر ې پیښور دے

هم د رحمان بابا په باره کښې ګڼلے دے حالانکې دا شعر د قلندر باره کښې دے -"

17

له دغې نه پس قلندر صاحب د هغه نظم نور شعرونه پیش کړی دی

www.pukhto.net

چې په یو شعر کښې د شاعر ذکر او په بل کښې ئې تعریف شوے دے ۔ چونکې له دغې شعر نه اګاهو د قلندر شعر دے او په چاپ شوے نسخه کښې دغه شعر داسې دے ۔۔

خوږ زبان ئې په زمان شکرې لونی

هغه واف چې مستقر ئې پیښور دے

نو محترم قلندر صاحب لیکی چې ۔۔

"نو بیا هډو دنور بحث سوال نه پیدا کیږی او ورومبی مصرعه کښې د "ئې" ضمیر غالب به خامخا قلندر ته راجع کیږی ځکه چې لا د رحمان بابا ذکر نه دے شوے او اضمار قبل الذکر یواځې عربی کښې نه بلکې هر ځای به کښې غلط دے ۔" 18

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې فاضل لیکونکے لیکی ۔۔۔

" اضمار قبل الذکر او نور ګرامری قواعد ماتول شاعرانو ته یو روا کار دے ۔" 19

د فاضل لیکونکی د دې توهم په حقله صرف زه دومره وایم چې مثلاً؟ ځکه چې په دغه حقله مثال سر خورلے دے ۔ زما په خیال خو شاعر له دهر چا نه زیات ضروری دی چې د قواعدو او ګرامر خیال وساتی ۔ که له دې توهم نه د لیکونکی مراد ضرورت شعری وی نو د ضرورت شعری دا معنیٰ نه ده چې د قواعدو او ګرامر نه دې انحراف وشی ۔

له دغې نیمګړی جواب نه پس فاضل لیکونکے لیکی ۔۔۔

" له بلې خوا په دې بیت کښې " هغه واف چې مستقر ئې پیښور

www.pukhto.net

دے" د مستقر کلمه د زیات پام وړ ده ځکه مستقر د استوګنځی په معنیٰ ده یا په بل وضاحت د پیښور د "چرته چې پاتې کیږی" د ننني اصطلاح تعبیر دے چې د فعلی استوګنځی معنیٰ لری ۔ نه د اصلی او مسقط الرأس ۔ د رحمان بابا مستقر پیښور وو او نه ته د پیښور بلبل وئیلی شوی سره له دې چې قلندر دا وخت د کن استوګن دے۔" 20

دلته هم فاضل لیکونکی دا نه ده ثابته کړے چې قلندر په کوم کال له پیښوره دکن ته تلے دے ۔ او چې تر څو دا نه وی ثابته شوے مونږ دا خبره تش توهم بللے شو ۔ بل لکه چې فاضل لیکونکی د "مستقر" معنیٰ "د پاتې کیدو د ځایٔ کړې ده "نو رحمان بابا خو په پیښور کښې نه پاتې کیدو ۔ هغه خو به په بهادر کلی کښې پاتې کیدو ۔

بناغلے رفیع په خپله دغه مقاله کښې وړاندی لیکی ۔

"قلندر صاحب دا توجیه هم کوی چې اشرف خان د رحمان بابا د شعر معتبر کیدو ثبوت خپله منظوری بولی نو ځکه ئې په ټوله زمانه شکرې لونډ نه منی ۔ دا توجیه سمه نه ده شاعران عادتاً خان لوړ ګڼی او اشرف خان خو حق هم لری او حق هم خان ته ورکوی ۔ ځکه هم د یوه لوئ شاعر خوشحال خان خټک خوے او هم په خپله لوئ او بنه شاعر دے ۔ نو دلته دادبی حکم او قاضی په حیث د رحمان بابا شعر بې عیبه او معتبر ګڼی ۔او که دلته د قلندر صاحب دې خبرې ته هم غوږ شو چې که د رحمان بابا هغه

www.pukhto.net

شعرونه اشرف خان ته رسیدلی وی چې خوشحال بابا ې په کښې غندلے نو رحمان بابا ته به ې هم د قلندر غوندې ځواب ورکړے وے۔" (21)

د قلندر صاحب د دې خبرې "چې اشرف خان د رحمان بابا شعر د خپلې منظورۍ په وجه معتبر ګڼی" په جواب کښې په پورته نقل شوی اقتباس کښې دا خبره کړے ده چې "دا توجیه سمه نه ده شاعران عادتاً ځان لوړ ګڼی" (حواله اګاهو بیان شوے ده) نو هم په دغه نظم کښې اشرف خان هجری ځان له مرزا نه ولې لوړ نه ګڼی۔ دغسې دارزانی او دولت ې هم تعریف کړے دے او ځان ې تر ې لوړ نه دے ګڼلے۔له دې نه پس بناغلی هغه شعرونه پیش کړی دی چې اشرف خان د قلندر په جواب کښې وئیلی دی۔ او له هغې نه پس لیکی---

"نو که ربنتیا هم اشرف خان هجری داسې ضدی او انتقام جو طبیعت درلودے لکه څنګه چې قلندر صاحب درک کړے نو بیا هم ناممکنه وه چې هغه قلندر ته ې چې دے ې حیران کړے د پیښور بلبا، وئیلی وی او یا ې د ښه شاعر مهر ورته لګولے وی۔" (22)

اشرف خان هجری قلندر صاحب ضدی نه دے ګڼلے څه چې دی هغه ې له دغو شعرونو نه ثابته ده۔ د قلندر معمولی شاعرانه تعلی ې قابل جواب ګڼلے ده او جواب ې ورکړے دے۔ که بناغلے لیکونکے ې انتقام جو او ضدی ګڼی نو دا به د هغه خپل خیال وی۔ او نه د چا دیوې غلطې دعوې

www.pukhto.net

جواب ته څوک ضدی توب وئیلے شی ۔ کۀ اشرف خان په یو بل خائ کښې د هغۀ تعریف کړے دے نو دا نۀ ده ثابته چې تعریف د دغې جواب نه پس شوے دے او کۀ اګاهو ؟ چې دا نۀ وی ثابته نو د لیکونکی دغه خبره هیڅ وزن نۀ لری ۔ بل دا هم څۀ ضروری نۀ ده چې د چا تعریف وشی نو ګنی د هغۀ د شاعرانه تعلې دې جواب نۀ شی ورکولے ۔

له دې بحث نه پس ښاغلی لیکونکے د رحمان بابا د دیوان د داخلی شهادتونو په بنا د هغۀ د پیدائش کال د شاه جهان په وخت کښې ښیی او په دلیل کښې یې دا شعرونه پیش کړی دی ---

اورنګزیب او شاه جهان غوندې اشراف

صدقه شه تر منصور غوندې نداف

کۀ غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې

بیا به نۀ مومم دارا او شاه جهان

نو کۀ له دې شعر نه ښاغلے دا فرض کوی چې هغه د شاه جهان په وخت کښې سن شعور ته رسیدلے وو نو بیا خو به دا هم منی چې رحمان بابا د منصور په وخت کښې هم ژوندے وۀ خکه چې په شعر کښې خو هغوی اورنګزیب او شاه جهان غوندې اشراف له منصوره صدقه کول غواړی ۔ او دغه شان به د رحمان بابا له دې شعرونو دا هم منو ---

دا جواب رحمان هغه کا چې دولت وے

کۀ دلبر د دیدن مې پیاپې را کا

www.pukhto.net

د مرزا او ارزانی دعوې به پرې کړه

قدر دان د شاعرانو رحمان راغے (24)

چې رحمان بابا د دولت، ارزانی او مرزا په وخت کښې سن شعور ته رسیدلے وو - ښاغلی لیکونکی د رحمان بابا دے شعر ته ---

کهٔ غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې

بیا به نهٔ مومم دارا او شاه جهان (25)

فولادی مقاومت کونکے داخلی شهادت وئیلے دے - نو لکه چې له دې شعر نه به لوستونکی اندازه ولګوی دا شعر د شاه جهان له وفاته پس وئیلے شوے دے لکه چې د شعر په دویمه مصرعه کښې د "بیا نهٔ موندو" خبره شوے ده - او د شاه جهان خوے دارا کله هم بادشاه نهٔ دے پاتې شوے، له دې دارانه مراد دایران بادشاه دے۔

د فاضل لیکونکی شعر فهمی ما هم په دې مقاله کښې د خوشحال بابا له هغې شعر د تشریح نه ثابته کړه چې په نتیجه کښې ئې لیکونکی بهرام شاعر ګنلې دے۔ دغه شان له دې شعر نه هیڅ کله هم دا نهٔ ښکاره کیږی چې ګنی رحمان بابا د شاه جهان په بادشاهی ر کښې سن شعور ته رسیدلے وو، دا هم د لیکونکی فراست دے - د تیرو ښو بادشاهانو ذکر عموماً کیږی او ورپسې ارمان کولے شی - کیدے شی رحمان بابا هم دغسې د اورنګزیب د ناکړدو له وجې د شاه جهان ارمان کړے وی - کهٔ د رحمان بابا په شاعری ر کښې د شاه جهان د وخت یوه پیښه بیان شوې وی بیا د لیکونکی خیال صحیح دے - تش په یو بادشاه پسې د ارمان کولو نه مونږ دا نهٔ شو ګنلے چې ګنی هغهٔ دې د

www.pukhto.net

هغه بادشاه دور کښې سن شعور ته رسیدلے وی - نن هم خلق د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ارمان کوی۔

د رحمان بابا د پیدائش کال محترم قلندر صاحب ۱۰۸۱ هجری قمری نه مخکښې هیڅ کله نۀ منی - او دا دلیل هغوی په خپله مقاله چې په رحمان پوهنه کښې چاپ شوے ده پیش کړے دے چې ---

" کۀ د رحمان بابا دا ذکر شوی شعرونه اشرف خان هجری لوستی وے نو دا شعرونه به هم تر ې نۀ وو پاتې شوی - په دے دلیل مونږ دا وئیلے شو چې د اشرف خان هجری تر مرګه ۱۱۰۶ هجری پورې د رحمان بابا شاعرانه عمر دومره نۀ وۀ چې مونږ ې د ۱۰۶٤ هجری کال د پیدائش کال وګڼو - تر ۱۱۰۶ هجری پورې کۀ مونږ دیر فیاضانه قیاس هم وکړو نو د رحمان بابا عمر به ۲۵ کاله ګڼو او په دې حساب به د هغۀ د پیدائش کال ۱۰۸۱ هجری نه مخکښې هیڅ کله نۀ وی -" (26)

د هغوی دا دلیل لیکونکی توهم بللے دے او پخپله ې د یو جعلی کتاب پټې خزانې کال ته ترجیح ورکړے ده - زۀ د ګرانو لوستونکو په خدمت کښې دومره عرض کوم چې د قلندر صاحب د ذکر شوی دلیل په مقابله کښې د لیکونکی دلائل بیخی بې وزنه دی - او د قلندر صاحب دغه دلیل د یو جعلی کتاب د سند په ذریعه رد کول د عالمانو کار نۀ دے۔

له دې نه پس مقاله لیکونکی د رحمان بابا د وفات د کال په حقله هم خبرې کړې دی - زۀ د ګرانو لوستونکیو نه معذرت غوښتونکے د اسانی

www.pukhto.net

دپاره لږ په تفصیل کښې تلل غواړم۔

د رحمان بابا ژوند مرحوم حبیبی صاحب په پښتانۀ شعراء کښې تر ۱۱۱۸ هجری قمری پورې ګڼلے دے۔ بیا چې کله هغوی پته خزانه راپیدا کړه نو په هغې کښې د هغوی د دغې خیال توثیق شوے وو۔ بیا د پټې خزانې نه پس ته چې کامل مرحوم د پټې خزانې دغه د وفات کال غلط ثابت کړو نو د افغانستان عالمانو د یونس دیو شعر نه په جدیده املا کښې ۱۱۲۸ هجری کال راویستو ۔ او د پټې خزانې کال ئې د محمد عباس کاسی په سر ور وتپلو ۔ حالانکې دا د کتابت غلطی نۀ شی کیدے۔ د دغې کال راویستو په وخت دغو عالمانو دې خبرې ته سوچ ونۀ کړو چې مونږ خو به له دغې مصرعې نه ۱۱۲۸ هجری کال راوباسو خو د میرویس نیکۀ د فال وکښلو افسانې سره به څۀ کوؤ ۔ خکه چې ښکاره خبره ده چې رحمان بابا د دوئ په نظر ثانی شوی کال یعنې ۱۱۲۸ هجری کښې وفات شوی وی نو د هغۀ له وفاته نهۀ کاله اګاهو د هغۀ دیوان څنګه مکمل شو او میرویس نیکۀ له څنګه ورسیدو ۔ ظاهره ده نیمګړې دیوان خو اول د چا لاس له رسیدے نۀ شی او کۀ چرې ورسی نو بیا ترې فال وکښل نۀ شی کیدے ۔ د فال افسانه خو د پټې خزانې لیکونکی د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری کیدو په بنیادونو جوړه کړے وه ۔ د افغانستان د عالمانو د یونس له شعر نه د ۱۱۲۸ هجری کال استخراج په حقله زۀ دومره وایم چې دیران ئې وګټو خو پتے ئې بائیلو ۔ یعنې د کامل مرحوم جواب خو ئې وکړو خو د پټې خزانې د جعلیت یو بل ثبوت ئې راپیدا کړو۔

www.pukhto.net

اوس زهٔ د یونس په هغه شعر خبرې کوم چې ښاغلی لیکونکی په دویم څل غلط پیش کړے دے۔ له دې نه اګاهو په غړګه کښې هم ښاغلی رفیع د دې شعر حواله ورکړے وه او دغه کال ئې تړې راویستلے وو ۔چې په جواب کښې ئې قلندر صاحب په رحمان پوهنه کښې لیکی ---

" د غړګې په مقاله کښې چې له کومې مصرعې نه ۱۱۲۸ هجری کال راوکښلے شوے دے هغه شمیر زما په حساب غلط دے۔" (27)

له دې نه پس هغوی د مقالې نه پیش کړے شوے مصرعه سره د ابجدی ارزښته نقل کړے ده او لیکی چې ----

" د شپږم ټکی ابجدی ارزښت ۷۶ نه بلکې ن،و،ی ۵۰ + ۶ + ۱۰ = ۶۶ دے۔" (28)

له دې نه پس د پټې خزانې یو بل مدافع محترم همیش صاحب په خپل کتاب تول پارسنګ کښې هم دغه مصرعه په دلیل کښې پیش کړه او هغه هم په جدیده املا کښې او د "مهمان" په څائې ئې په کښې "میهمان" ولیکلو ۔ مطلب چې د ۱۰ کلمے ئې ورله پوره کړو ۔ خو د مهمان په څائې د "میهمان" لیکلو څهٔ وجه ئې ونهٔ ښیښله ۔ د یونس په چاپ شوی دیوان کښې عبدالله خدمتګار صاحب حاشیې لیکلی دی ۔ او دغه مصرعه کښې ئې مهمان لیکلے دے او هیڅ قسمه نوټ ئې پرې نهٔ دے لیکلے چې ګنی په قلمی نسخه کښې میهمان دے ۔ څکه نو د هغوی د حاشیې نهٔ لیکلو نه مونږ دا ګڼلے شو چې په چاپ شوی دیوان کښې شعر هم هغه شان دے څنګه چې په قلمی نسخه کښې راغلے دے ۔ څکه نو مونږ د همیش صاحب له خوا دغه مصرعه په دغه شکل

www.pukhto.net

کښې نه شو منلے ۔ د یونس د قلمی دیوان له کوم چې دغه دیوان چاپ شوے دے یوه فوټو کاپۍ د کراچۍ په میوزیم کښې پرته ده ۔ په هغې کښې هم میهمان نه دے لیکلے شوے ۔

اوس ښاغلی رفیع دغه مصرعه بیا په دلیل کښې پیش کړے ده خو لکه د وړومبی ځل ې بیا تیندک خوړلے دے ۔ د شعر نه استخراج اسان کار نه دے ۔ ښاغلے لیکونکی له دې مصرعې ---

چې له دې سرایه په نوې سرائۍ مهمان شه

ابجدی ارزښت داسې راوکښلے دے ---

٨ + ٣٥ + ١٤ + ٢٧٦ + ٧ + ٦٦ + ٢٧١ + ١٤٦ + ٣٠٥ = ١١٢٨ هـ ق (29)

یعنې د "چې" عدد ٨، د "له" عدد ٣٥، د "دې" عدد ١٤، د "سرایه" عدد ٢٧٦، د "په" عدد ٧، د "نوې" عدد ٦٦، د "سرائۍ" عدد ٢٧١، د "مهمان" عدد ١٤٦ او د "شه" عدد ٣٠٥ لیکلے شوے دے ۔ زما د حساب مطابق داسې جوړیږی ---

چې	١٣
له	٣٥
دې	١٤
سرایه	٢٧٦
په	٧
نوې	٦٦
سرائۍ	٢٧١
مهمان	١٣٦

www.pukhto.net

شة ۳۰۵

میزان ۱۱۱۸

فاضل لیکونکی د مهمان عدد ۱٤٦ حساب کړے دے - چې غلط دے - کیدے شی دا غلطی هم مقاله نگار په کاتب خوار باندې وروتپی - له دې نه علاوه په دې شعر دا اعتراضات هم کیدے شی :-

۱- د زړې املا مطابق نۀ دے یعنې املا ئ جدیده بلکې ننني ده که په دے حساب مونږ د مصرعو نه استخراج کوو نو تراوسه ونیلی شوی ټول تاریخونه به غلط شی -

۲- د یونس په دغه ټوله مرثیه کښې د تاریخ وئیلو څۀ اشاره نشته لکه چې د متقدمینو دستور وو -

۳- کله چې د یونس دیوان چاپ کیدو نو خدمتگار صاحب پرې ګنې حاشیې لیکلی دی او معمې ئ حل کړی دی ولې هغه وخت دې تاریخ ته د چا پام نۀ دے شوے - حالانکې د کراچی په میوزیم کښې پرتې فوټو کاپی کښې دے غزل ته په حاشیه دا لیکل شوی دی چې --

"دا بدله (؟) ئ د رحمان بابا په مرثیه کښې وئیلې ده"- 30

خو هغه وخت چا هم له دې نه تاریخ راویستل خو لرې خبره ده د تاریخ د مصرعی شک ئ هم پرې نۀ دے کړے - ځکه چې دغه ټول غزل د تاریخ هیڅ اشاره نۀ لری -

فاضل لیکونکی لیکلی دی چې ---

"د هم دې مرثیې له مخې د رحمان بابا د مړینې کال ۱۱۲۸ هجری

www.pukhto.net

بدل شوے دے او تر دې وروسته د دیوان بل هیڅ داخلی شهادت نشته چې ژوند یې وغځوی او هم کوم باوری خارجی شهادت نه مومو چې رحمان بابا تر دې وروسته ژوندے وښئ۔" (31)

دا خبره ټیک ده چې د رحمان بابا په دیوان کښې د ۱۱۲۳ هجری د واقعې نه علاوه د اسې واقعه نشته چې مونږ د هغه عمر نور وړد کړو ۔ خو دلته زه یوه خبره ضروری ګڼم او هغه دا چې د پټې خزانې د روایت مطابق له دې دیوانه فالونه هم ویستے شو ۔ او ګڼې نسخې یې هم کتابت شوے وے محمد هوتک دا اندازه ولې نه شوه لګولے چې رحمان بابا یې په ۱۱۱۸ هجری کښې وژلے دے ۔ که د دې په جواب کښې بناغلے مقاله نګار دا خبره کوی چې هغه وخت په کښې د ګل خان جمال خان دغه مرثیه نه وه لکه چې همیش صاحب وئیلی دی نو بیا له نیمګړی دیوان نه فال اخستل څه معنیٰ لری ۔

محترم قلندر صاحب داخون ګدا له یوې مرثیې نه چې د قائم خان په مرګ وئیلے شوے ده او د قائم خان د مرګ کال ښئ نه د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۶۳ هجری ثابت کړے دے ۔ د دغې مرثیې اخری شعر دا دے چې ۔۔

زه ګدائې په خپل خائې باندې قائم کړم

له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لار (32)

ولې متاله لیکونکے ورسره اتفاق نه کوی ۔ او لیکی چې ۔۔۔

" کله چې اخون ګدا کتلی چې په دې مرثیه کښې یې دیره ښه شاعری کړے نو د شاعرانه عقیدت له مخې یې خان د رحمان بابا قائم مقام ګڼلے دے چې دا معنوی ارتباط لری زمانی نه" ۔ (33)

www.pukhto.net

گرانو لوستونکیو به د مقاله نگار د شعر فهمی اندازه لګولې وی چې د خوشحال بابا د شعر نه یې کومه نتیجه اخستے ده - ځکه نو د هغۀ په دې توهم دې د حیرانتیا اظهار نۀ کوی - د لیکونکی خیال دے لکه چې نقل شو چې دا به یې د شاعرانه عقیدت له مخې وئیلی وی - نو زۀ به دومره عرض وکړم چې دا خو یې بل خایې هم وئیلی شو - د قائم خان په مرثیه کښې یې ضرورت څۀ وۀ ؟ بنکاره خبره ده چې په کوم کال قائم خان وفات شوے دے هم په هغه کال رحمان بابا هم وفات شوے دے -

د بناغلی مقاله نگار د توهم جواب هم د دوئ په دے زیر بحث مقاله کښې موجود دے لیکی ---

"مرثیه لیکل یا په شعر کښې د یوۀ مړی یادول په ادبی جهان کښې د ننني ژورنالیزم د فوقی خبر حیثیت لری، شاعر یا د چا په مړینه خواښینی کیږی یا په مړی باندې له خواښینی شویو کسانو سره د خوا خوږی له پاره مرثیه لیکی او یا د خپل عمومی تاثر څرګندونه په کښې کوی او دا هغه وخت وی چې د واقعې اثر لاخور وی او تاثیر یې لانوې وی -" (۵۲)

د بناغلی لیکونکی له دې فرضیې نه ثابتیږی چې د قائم خان د وفات په کال رحمان بابا هم وفات شوے دے او اثر یې لاخور دے خکه یې په مرثیه کښې ذکر کوی - نو چې هر کله مقاله نگار دا منی چې اخون ګدا د قائم خان د وفات کال وئیلے دے نو بیا په هم دغه کال د رحمان بابا وفات ولې نۀ منی ؟ شاید خکه چې د پټې خزانې مانی پرې راپریوخی - حالانکې هغه دس

www.pukhto.net

راپریوتې ده دا بیله خبره چې مقاله نګار لا تسلیم کړے نه ده ـ و ما علینا الا البلاغ ـ

حوالی

1. جرس د جولائی ستمبر ګڼه ص ـ ۲۹،۲۸
2. هم دغه مجله ص ـ ۲۹
3. هم دغه مجله ص ـ ۳۰،۲۹
4. هم دغه مجله ص ـ ۳۰
5. رحمان بابا ص ـ ۹۰۸
6. رحمان پوهنه ص ـ ۳۲
7. جرس جولائی ستمبر ګڼه ص ـ ۳۶
8. هم دغه مجله ص ـ ۳٤
9. هم دغه مجله ص ـ ۳۶
10. مثنوی ادم درخانی ص ـ ۱٤۱
11. ارمغان خوشحال ص ـ ۹
12. رحمان بابا د دوست محمد خان کامل مرحوم ص ـ ۲۷
13. رحمان پوهنه ص ـ ۳۷،۳۶
14. ارمغان خوشحال ص ـ ۱۳
15. هم دغه کتاب ص ـ ۵
16. جرس جولائی ستمبر ګڼه ص ـ ۳۵

www.pukhto.net

17 رحمان پوهنه مقاله ص۔ ۳۵،۳۴

18 هم دغه کتاب ص۔ ۳۶

19 جرس مجله د جولائی ستمبر ګڼه ص۔ ۴۳

20 هم دغه مجله ص۔ ۴۳

21 هم دغه مجله ص۔ ۴۴

22 هم دغه مجله ص۔ ۴۴

23 هم دغه مجله ص۔ ۴۷،۴۶

24 د رحمان بابا دیوان ص۔ ۳۷،۲۹

25 جرس د جولائی ستمبر ګڼه ص۔ ۴۷

26 رحمان پوهنه ص۔ ۳۸

27 هم دغه کتاب ص۔ ۴۲

28 هم دغه کتاب ص۔ ۴۲

29 جرس جولائی ستمبر ګڼه ص۔ ۴۹

30 دیونس د دیوان فوټو کاپی کراچی میوزیم

31 جرس جولائی ستمبر ګڼه ص۔ ۴۹

32 رحمان پوهنه ص۔ ۴۵

33 جرس جولائی ستمبر ګڼه ص۔ ۴۹

34 هم دغه مجله ص۔ ۳۳

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

وَتِلْكَ حُجَّتُنَا

د لوړالاتی بلوچستان نه د خوریدونکی تماس مجلې په دویمه گڼه کښې د محترم قلندر مومند صاحب یوه مقاله "کامل مرحوم او پټه خزانه" چاپ شوې وه چې د تماس په دریمه گڼه کښې ئې د محترم زلمی هیواد مل له خوا د "اړوانباد کامل مومند او پټه خزانه" تر عنوان لاندې جواب شوے دے۔

محترم زلمے هیواد مل صاحب په خپله دغه مقاله کښې لیکی چې ---

"شفاهی تائید او تردید که څه هم د یو ډیر لوئ علمی شخص له خوا وی د یو اثر په ارزښت باندې څه موثریت نه لری ۔ د مثال په ډول که څوک تش دومره ووائی د فلانی کار زما دمننې ور دے یا نه دے، دغه ډول شفاهی یادونې د یوې مسئلې یا معضلې په حل او ثبوت او هم دا رنگه ئې په ابطال کښې کوم اغیز نه لری ۔ دا روش له علمی میتودونو سره مغایرت لری او نقاد ان ویسا پرې نه کوی"۔ (1)

د محترم زلمی هیواد مل صاحب دا وینا په سر سترگو خو ایازه دا پوښتنه کولے شم چې دا قانون یا دا اصول به دهر چا دپاره وی او که یواځې د محترم قلندر مومند دپاره وضع کړے شوی دی ۔ که یواځې په محترم

www.pukhto.net

قلندر مومند اپلائی Apply کولے شی نو بیا خو انصاف نۀ دے او کۀ دھر چا دپارہ وی نو بیا زۀ ھم ھغه خبره نقل کوم کومه چې محترم قلندر مومند دزرین انځور په جواب کښې کړے ده چې --

دوئ دغه اعتراضونه د بناغلی عبد الحی حبیبی په هغه دعویٰ ولې نۀ کوی چې د پټې خزانې د قلمی نسخې په باره کښې د علامه عبد العلی اخونزاده له وفاته پس بناغلی حبیبی کړې ده او ما پرې پته خزانه فی المیزان کښې مفصل بحث کړے دے"۔ 2

او کۀ چرې د دې خبرې جواب هم محترم زلمے هیواد مل صاحب لکه د محترم همیش خلیل صاحب دا کوی چې ---

" کیدلے شی چې عبد العلی اخونزاده مرحوم لکه چې عام طور سره د خلقو عادت دے ، علامه مرحوم هم محترم حبیبی د کتاب په حقله له دغه کاره منع کړے وی"۔ 3

نو بیا پس د مرګه د هغۀ نوم ولې اخستے شوے دے۔ او دا خبره هم هغه شان شفاهی ده د کومې په حقله چې محترم زلمے هیواد مل صاحب دا وائی چې "نقادان ویسا پرې نۀ کوی۔"

محترم زلمی هیواد مل صاحب یو خوا خو دغه اصول او قواعد مونږ ته بښیلی دی او بل خوا ې هم په دغه مقاله کښې د هغې اصولو نه انحراف کړے دے او یوه شفاهی قیصې ې بیان کړې ده ۔ او دیره د حیرت

www.pukhto.net

خبره پکښې دا ده چې هغه کسان ئې پکښې ګواهان کړی دی کوم چې په دې قصه کښې د فریق حیثیت لری او په دغه وجه ئې ګواهی نه شی منلے کیدے۔ دغه قصه که یو خوا شفاهی ده نو بل خوا په یوه لویه هستیٔ تهمت لګول دی ۔ د مرحوم کامل مومند غوندې په یو لوړ ادبی نقاد پسې له مرګه وروستو دا سې خبرې منسوب کول د هغهٔ د روح سره زیاتے دے۔ د پښتو ادب هیڅ یو غړے دا خبره د مرحوم کامل مومند خبره نه شی ګڼلے ۔ بلکې دا به د یو داسې ذهن اختراع ګڼی چې د خپلی دفاع دپاره ورسره دارو ګولیٔ ختم شوی وی ۔ او لکه د نیز وړی د کبل تر ړې ته هم لاس اچوی ۔ هیواد مل صاحب یو خوا شفاهی قیصیٔ نه منی او بل خوا ئې کوی ۔ زما د پټې خزانې دفاع کونکیو ته دومره عرض دے چې "اتامرون الناس بالبر و تنسون انفسکم"۔

د پټه خزانه فی المیزان په جواب کښې محترم زرین انځور او محترم آصف صمیم په خپل کتاب د "پټې خزانې میزان ربښتیا میزان دے؟" کښې د محترم قلندر مومند د دغه خبرې په جواب کښې وئیلی وو چې دا شفاهی خبرې دی خو دا خبره ئې نه وه کړې حالانکې د کامل مرحوم پورې منسوب شوے دا خبره د پټې خزانې د منونکیو دپاره زبردسته وسله وه او زهٔ دا نه شم وئیلے چې محترم زلمی هیواد مل، بناغلی رفیع او محترم همیش خلیل به دا خبره د دې لیکلو نه اګاهو چا ته نه وی کړې ۔ نو پکار وو چې محترم صمیم او انځور دا خبره په خپل دغه اثر کښې د هیواد مل یا د رفیع صاحب په حواله کړې وے ۔ خو داسې نه دی شوی او څکه نه دی

www.pukhto.net

شوی چې محترم صمیم او انخور په شفاهی خبرو تنقید کړے وو خکه ې شفاهی خبره نه کوله - خو بنه وه محترم زلمی هیواد مل صاحب دا فرښ ترسره کړل -

د پټه خزانه فی المیزان په جواب کښې د محترم همیش خلیل صاحب په کتاب تول پارسنګ کښې په دې حقله کافی بحث شوے دی هلته هم هغوی د دې خبرې د ذکر نه قلم نیولے دے حالانکې په تول پارسنګ کښې خاې په خاې محترم قلندر مومند ته بد دیانته هم وئیلے شوی دی - بلکې تر دې پورې چې لوې پښتون رهنما فخر افغان باچا خان بابا ې هم نه دے معاف کړے - او صرف په دې ې په هغه لویه هستۍ پسې خبرې کړی دی چې محترم قلندر مومند د هغه د سیاسی دلې سره تعلق لری - تر اوسه په باچا خان بابا پسې دا قسمه خبرې د هغوی سیاسی مخالفینو هم نه وے کړے - زه دلته د تول پارسنګ نه هغه خبرې رانقل کوم کومې چې د یو ستر پښتون مشر په حقله محترم همیش صاحب کړی دی، لیکی --

"بناغلی همعصر خو د یو داسې انسان په مرګ په یوه ساه دریې مرثیې لیکلے شی چې د شپیتو کلونو د خپلو سیاسی غورزو پرزو نه پس خپله سیاسی نظریه په اباسین لاهو کړی، د یو بهرنی دښمن خلاف خو سیاسی جهاد شروع کړی ولې د یو بل دیر ظالم بهرنی دښمن جارحیت ته هرکلے ووانی، قوم د دې د وړاند ې حلالولے شی، د ملت د وینو ې د کور د وړاندې ویالې

www.pukhto.net

بهیږی خو دامن دغه فرشته هیڅ نه وائی ـ" ❹

او هر کله چې د محترم زلمی هیواد مل د بیان مطابق هغه د دې واقعې ګواه هم دے ـ نو هغوی په ټول پارسنګ کښې دغه شفاهی قیصې ولې نه ده کړے ـ د دې نه زه په وثوق سره دا وئیلے شم چې دا افسانه د آصف صمیم، زرین انځور او محترم همیش خلیل د کتابونو لیکلو نه ډیره پس ته جوړه کړے شوے ده ـ

د محترم زلمی هیواد مل دا شفاهی قیصې که یو خوا د هغوی د پیش کړی قانون او اصولو خلاف ده نو بل خوا په مرحوم کامل مومند پس د مرګه دروغ وئیلی شوی دی ـ زه د محترم زلمی هیواد مل نه دا پوښتنه کوم چې ---

دا اسې څه امر مانع وه چې کامل مرحوم د قلندر صاحب د دغې مقالې سره د انتهائی اختلاف باوجود د هغې جواب نه شو ورکولے؟ او آیا د کامل مرحوم غوندې د یو لوړ نقاد نه دا توقع کیدے شی چې یوه مقاله چې هغه ې د لیکونکی خپله هجو ګنې په جواب کښې څه ونه لیکی؟ حالانکې دا هغه وخت وه کله چې محترم کامل مرحوم او محترم قلندر مومند د رحمان بابا په کلیات کار کولو ـ

له دې نه پس محترم د کامل مرحوم د کتاب خوشحال خان خټک نه دا اردو یو اقتباس رانقل کړے دے او ورپسې لیکی چې ---

"تر کومه خایه چې ماته معلومه ده ارواښاد کامل مومند د

پټې خزانې په باب په خپل لوړ لیکلی نظر کښې ترمیم نه

www.pukhto.net

دے کړے استاد کامل چې د پټې خزانې په باب کوم علمی
او انتقادی نظر درلود هغه ې لیکلے هم دے او په شفاهی
دول ې په خپلو بحثونو کښې هم مطرح کاوۀ د استاد
کامل د دې انتقادی نظر معنیٰ هیڅ کله د ا نۀ وه چې
ګوندې دوې د پټې خزانې په اصلیت مشکوک وو۔" (5)

د هغوی د دې خبرې په جواب کښې زۀ د مرحوم کامل مومند د هغه انګریزی مقالې کومه چې اول په ډان کراچی او بیا په فرنټیر پوسټ پیښور کښې چاپ شوے ده ځنې اقتباسات رانقل کوم چې لوستونکی پخپله فیصله وکړی چې کامل مرحوم په خپل انتقادی نظر کښې ترمیم کړے وۀ کۀ نه ؟ د دې انګریزی اقتباساتو پښتو ترجمې محترم قلندر صاحب په خپله مقاله کښې کړے وے ۔ زۀ ې دلته هم هغسې په انګریزی کښې بې له ترجمې نه لوستونکیو ته وړاندې کوم۔

د کامل مرحوم دغه مقاله داسې شروع کیږی۔

The first Pushtoon writer, a poet
the historicity of whose person and work we
cannot reasonably doubt, is Shiekh Essa Mashwani (6)

کۀ چرې هغوی پته خزانه یو مستنده تذکره ګنلے نو بیا به ې امیر کرور ورومبے شاعر یاد کړے وۀ۔

د دغې نه پس هغوی داسې لیکی

www.pukhto.net

The man of letters,

who appears on the literary stage of

Pushtoonkhva (the side or land of

the Pushtoon) after Shiekh Essa is a

highly controversial and dynamic

personality in the literary and political

history of the Pushtoons on account of

his religious views . He is Bayazeed,

son of Abdullah Urmar - (7)

او هڅه کله چې د رحمان بابا ذکر له راورسی نو داسې لیکی چې

Rahman Baba belonged to Deh

Bahadur, a well known village in the

Peshawar Momand area on both sides .

of the river Bara, though mostly on the

right side. The village is situated about

five miles (eight Kms) south of

Peshawar city. in spite of such a great

www.pukhto.net

and well deserved popularity the poet has enjoyed among his countrymen, very little is known about his life. Puttah Khazana (The hidden Treasure), a book published in Afghanistan gives the years of the Poet's birth and death as 1042 H. (1632-3 Ch.E.) and 1118 H. (1706-7 Ch. E.) but the authenticity of the book is very doubtful. 8

اوس د دې جملې

The authenticity of the book is very doubtful

ترجمه دې لوستونکی وکړی- چې کامل مرحوم د دې تذکرې استناد مشکوک ګڼلو او کړ نا ؟

زما مدعا د هیواد مل صاحب جواب بیخی نه وه او نه زه هغوی قانع کولے شم خو د ګرانو لوستونکی دپاره مې د کامل مرحوم یوه خبره هم د هغوی د انګریزی مضمون نه پیش کړه - او امید لرم چې ګران لوستونکی به د دې خبرې نه د کامل مرحوم د انتقادی نظر اندازه ولګوی -

www.pukhto.net

د رحمان بابا د تاریخ وفات په بحث کښې محترم هیواد مل صاحب د نورو ډیرو کتابونو حوالې ورکړی دی چې دغه قسمه تاریخی غلطۍ لری۔ په دې لړ کښې د نورو کتابونو حوالې ورکول داسې دی لکه څوک یو تن ته ووائی چې دا غلط کار یا دا جرم دې ولې وکړو او هغه په جواب کښې د نورو مجرمانو ذکر شروع کړی چې دا کار خو فلانی هم کړے دے او فلانی هم کړے دے نو دا د خبرې جواب نۀ دے۔ بلکې څان له ملګری کتل دی۔ په ادبی لیکنو کښې دا قسمه خبرې او بیا د یو پوهه لیکونکی له قلمه داسې خبرې وتل خو بل هیڅ قسمه تاثر نۀ ورکوی۔

بله خبره دا چې د یونس د شعر نه د رحمان بابا د مرګ کال راووځی نه دغه بحث کښې هم د محترم قلندر مومند د هغه مقالې کومه چې په رحمان پوهنه کښې چاپ شوے ده ذکر نۀ دے شوے۔ کۀ چرې مونږ د یونس د دغې شعر نه د رحمان بابا د مرګ نیټه ۱۱۲۸ هجری ومنو نو تراوسه د نورو ټولو شعرونو نه استخراج شوی تاریخونه به غلط شی۔ ځکه چې د یونس دغه شعر د کوم نه چې استخراج شوے دے بیخی په نوے املا کښې دے حالانکې هغه وخت دا املا نۀ وه۔ بل دا چې دا شعر په هغه غزل کښې دے کوم چې د "ش" په پټی کښې دے۔ او چې د کوم شعر نه دا استخراج شوے دے هغه زۀ دلته هم هغسې نقل کوم لکه چې څنګه محترم هیواد مل صاحب نقل کړے دے شعر دا دے۔۔

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شۀ

چې له دې سرایه په نوې سرایۀ مهمان شۀ

www.pukhto.net

د عبد الله خدمتگار په مرتب شوی د یونس دیوان کښې په یوولسم مخ دا شعر داسې راغلے دے ۔

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شو

چې له دې سرایه په نوې سرایۍ مهمان شو (9)

او بیا وروستو دا غزل د "ش" په پټې کښې داسی راغلے دے چې ردیف یې "شۀ "دے ۔ کۀ چرې د دې غزل ردیف "شۀ "وی نو بیا دا غزل د "ھ" په پټې کښې راوړل پکار وو ۔ باید چې لوستونکی د قلندر مومند صاحب هغه مقالې ته رجوع وکړی کومه چې په "رحمان پوهنه" کښې چاپ شوے ده ۔ کۀ چرې څوک د هغه وخت د چا یو شعر هم په دې املا کښې پیش کړی نو زۀ به دا استخراج ټیک وګڼم ۔

په دې ضمن کښې زۀ د یو تاریخ رانقل کوم چې د "عهد جدید" د اختتام تاریخ دے او له یو نامعلومه تن له خوا لیکلے شوے دے او په دغه کتاب کښې هغوی راوړے دے ۔ لیکی چې---

د اتمام تاریخ یې روح په داشان ووې

چه انجیل راغي لربَ پر مسیح

under the last line the numerical value of each letter has been written. They yield a total of 1865, but the figure 5 under the ھ of چه ha. (10) been deleted.

www.pukhto.net

د دې د نقل کولو نه مې غرض داوۀ چې پخوا به "چه" په دې صورت کښې نۀ شوه لیکلے او هغه د دې انګریزی اقتباس نه ښکاره ده ۔ او تر کومه پورې چې د یونس قلمی دیوان نۀ وی کتلے شوے تر هغې پورې دا خبره د منلو نۀ ده ۔ خکه چې په چاپ شوی دیوان کښې لکه چې وړاندې مې ذکر وکړو دغه شعر په دوه شکله راغلے دے ۔ او د "ش" په پټې کښې راوړلے شوے دے نو ظاهره ده چې د "ه" عدد خو به ترې خامخا کمولے شی ۔ او چې دغسې وکړو نو بیا تر ۱۱۲۸ هجری نۀ راووځی ۔

محترم قلندر مومند په خپل کتاب "پته خزانه فی المیزان" کښې د "پټې خزانې راویان" د عنوان دلاندې یوه خبره دا هم کړې ده چې ---

" دې ضمن کښې دا اضافی خبره هم هیروول نۀ دی پکار چې محمد هوتک د رحمان بابا ذکر په وړومبۍ خزانه کښې کړے دے چې عنوان یې د محمد هوتک په خپلو الفاظو کښې دا دے ۔" په بیان کښې د هغو شاعرانو چې پخوا تیر سوی دی او مونږ ته د دوی ویناوې ښکاره دی "نو کۀ دا خبره ومنلے شی چې رحمان بابا په ۱۱۲۸ هجری کښې وفات شوے وۀ نو په ۱۱۴۱ هجری کښې خو به دا وئیل صحیح نۀ وو چې رحمان بابا په هغو شاعرانو کښې یو دے چې "پخوا تیر سوی دی" ۔ ظاهره ده چې دا خبره هم د دې دعوې ثبوت کیدے شی چې پته خزانه په یو داسې دور کښې لیکلې شوې ده چې د رحمان بابا زمانه ترې "پخوا" تیره شوې وه او دا دور د ۱۱۴۲-۱۱۴۱ هجری دور نۀ شی کیدے ۔" (۱۱)

www.pukhto.net

د پټې خزانې مدافعینو په پټه خزانه کښې د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هجری د کتابت غلطی گرخولې ده او د یونس د شعر نه په کوم کښې چې د مرگ کال نۀ دے بیان شوې د ۱۱۲۸ هجری کال راویستو کوششونه کوی. لکه چې اگاهو پرې بحث شوے دے نو هسې کۀ د یو ساعت دپاره دغه کال د هغوی د وفات کال وگنلے شی نو بیا دا سوال راپورته کیږی چې بیا نو د رحمان بابا ذکر په ورومبیر خزانه کښې ولې شوے دے. لکه چې محترم قلندر صاحب دغه سوال کړے دے۔ پکار دی چې زلمے هیواد مل صاحب د دې څخۀ مدلل جواب وکړی۔

هم په دغه مقاله کښې محترم زلمی هیواد مل یوه بله ضمنی خبره دا کړې ده چې قلندر مومند لیکی چې---

"پټه خزانه د پښتو قدیم نثر نگار ابو محمد هاشم سروانی او پخوانے منشور کتاب د (سالو وزمه) نښیی۔ زۀ استاذ قلندر ته په ډیر معذرت سره عرض وړاندې کوم چې دا دول خبرې پر پټه خزانه یو دول تهمت دے۔ په پټه خزانه کښې راغلی دی "نقل کا چې ابو محمد یو کتاب کښلے وۀ چې په هغۀ کښې د عربیر د اشعارو فصاحت او بلاغت بیان کړے وۀ او نوم یې وۀ د "سالو وزمه"۔ دلته په صراحت سره نۀ د نثر ذکر شته او نۀ د نثر نگار۔ دا چې د پټې خزانې شارحینو او یا له دې کتاب څخه استفاده کونکو د پټې خزانې په عبارت کښې د "کښلے وۀ" له

www.pukhto.net

کلمې څخه دا کتاب منشور ګڼلے او ابو محمد هاشم ې
لومړے نشرنګار بللے دا د هغوی کار دے ۔ استاذ قلندر
مومند د پټې خزانې په باب په خپلو لیکنو کښې د
شارحینو او استفاده کونکو د ناسمو تعبیرونو او
توجیهاتو پړه هم په خوارکی محمد هوتک او د ده پر پته
خزانه اچولے ده"۔ (12)

په دې لړ کښې محترم زلمی هیوادمل صاحب ته زما دا عرض دے
چې د "سالو وړمه" له ټولو نه اول مرحوم حبیبی صاحب د نشر کتاب ګڼلے
او مشهور کړے وه ، نو هغه وخت دا خبره کول پکار وه ۔ اوس خو که
ورته ځوک د نشر کتاب وائی نو حق لری څکه چې دا کتاب تر اوسه پیدا
شوے نه دے چې پته ې ولګی ۔ باقی د محترم زلمی هیوادمل صاحب دا
خبره چې په پته خزانه کښې د نشر او نشر نګار صراحت سره ذکر نشته نو دا
خو د حبیبی صاحب نه تپوس پکار وه چې هغوی ورته په کوم اساس د نشر
کتاب وئیلو ۔ د حبیبی صاحب نه پس ته چې نورو کومو خلقو ورته د نشر
کتاب وئیلے دے هغوی ګرم نه دی ۔ څکه چې هغوی ټولو د حبیبی صاحب
اتباع کړې ده ۔ لکه جرس کراچی، د جنوری، مارچ په ګڼه کښې د پروفیسر
داور خان داؤد یوه مقاله "د پښتو نشر ارتقاء" په نوم چاپ شوې ده ۔ نومورے
په خپله دغه مقاله کښې لیکی---

د عبد الحیٔ حبیبی د وینا مطابق دے (ابو محمد هاشم) په
کال ۲۲۳ هجری کښې زیږیدلے او په کال ۲۹۷ هجری

www.pukhto.net

کښې وفات شوے دے هم په دې حقله محمد هوتک په پته
خزانه کښې لیکی چې "دے د پښتو ژبې لیکوال وۀ دۀ په
پښتو کښې یو کتاب کښلے وۀ "دسالو ورځمه" ـ عبدالحیٔ
حبیبی ددې کتاب په حقله لیکی" تاسفانه چې دا کتاب
اوس نشته او د پښتو په منثور ادب کښې چې کوم
لومړنی کتاب مونږ ته معلوم دے هغه هم دغه د سالو
ورځمه ده چې د نسیم ریګستان معنیٰ لری او داسې ښکاری
چې دا کتاب به د پښتو له لومړنو مولفانو څخه وو۔" (13)

نو اوس هر کله چې محترم حبیبی مرحوم ورته منثور کتاب وائی او د
هغۀ نه پس ورته ټول لیکونکی هم د نثر کتاب وائی نو مونږ به داکثریت او د
پټې خزانې د مشرح خبره منو ـ بل د زلمی هیوادمل صاحب دا خبره چې د
پټې خزانې شارحینو د "کښلے وۀ "نه دا ګڼلے ده چې دا منثور کتاب وۀ دا
د ځغوی کار دے او هیوادمل صاحب ورته په پته خزانه تهمت وئیلے دے نو
زۀ دومره عرض کوم چې اول خو دا تهمت دے نا او کۀ وی نو بیا حبیبی
مرحوم لګولے دے ـ زلمی صاحب په دې خبره کښې د محمد هوتک دفاع
کړې ده او د حبیبی مرحوم خبره ئې هم رد کړے ده ـ د زلمی هیواد مل
صاحب دا خبره ټیک ده چې په پته خزانه کښې په صراحت سره د نثر او نثر
نګار ذکر نشته خو دا پته تړې ډیره په اسانه لګی چې دغه کتاب کۀ چرې
وی نو د نثر به وی ځکه چې د پټې خزانې داسلوب نه ښکاره ده ـ زۀ دلته د
پټې خزانې نه یو څو نمونې د لوستونکیو په خدمت کښې پیش کول

www.pukhto.net

ضروری ګڼم چې دا پته وشی چې د "کښلی وۀ" نه مراد د نثر کتاب دے او کۀ نه --۔

"شیخ متی بابا لوئ عالم او د دین مرشد وۀ په غنډاب کښې ئې یو کتاب و کښلی چې نوم ئې د "خدائ مینه" وۀ په دغه کتاب کښې متی بابا خپل شعرونه هم و کښل" (14)

په دې خبره کښې "خپل شعرونه هم و کښل" نه دا ظاهریږی چې دغه کتاب د نثر وۀ ۔ دغسې په پته خزانه کښې د شیخ بستان په ذکر کښې لیکی چې --

"او هغه وقت چې وطن ته راغے په سنه ۹۹۸ هجری ئې د اولیا۔ الله په بیان کتاب د "بستان الاولیا۔" و کښې او زما پلار رحمة الله علیه دغه کتاب په ښو راوک کښې د حسن خان برېځ په کور کښې لیدلے وۀ چې په دې کتاب کښې شیخ بستان علیه الرحمة د ډیرو پښتنو اولیا۔ حالونه او کرامتونه او خوارق د عادات کښلی وۀ او ډیر ډیر اشعار ئې هم رانقل کړی وو ۔ له نورو شاعرانو او له خپلو شعرو څخه ۔" (15)

د دې اقتباس نه هم دا سې ښکاره کیږی چې دغه کتاب د نثر وۀ او شعرونه ئې هم په کښې نقل کړی وو لکه چې د "هم" نه واضحه ده ۔ دغسې د دوست محمد کاکړ په ذکر کښې لیکی چې --

" دوست محمد علیه الرحمه په خپل کتاب کښلی دی چې

www.pukhto.net

زما پلار بابړ خان هم یو کتاب په شعر کښلی وۀ"۔ (16)

نۀ پوهیږم چې زلمی هیوادمل صاحب له کومې دا معلومات حاصل کړی دی چې د "سالو وړمه" د نشر کتاب نۀ دے ۔ باید چې مونږ ته ې دا معلومات په خپله دغه مقاله کښې راکړے وے ۔ او کۀ د "سالو وړمه" نومے کتاب پیدا شوے وی او له دوئ سره وی نو دهغې مونږ ته علم نشته ۔ ما په وړومبی خل دا خبره واوریدله چې د "سالو وړمه" د نشر کتاب نۀ دے او دا وړومبی موقع ده چې د محترم حبیبی صاحب د رائ سره د پټې خزانې د یو دفاع کونکی اختلاف راغے ۔

باقی د قلندر صاحب دا خبره چې "پټه خزانه د پښتو یم نشر نگار ابو محمد هاشم سروانی او پخوانے مُنشور کتاب د "سالو وړمه" "نبیی" نو د دې خبرې مطلب دا نۀ دے چې گنی په پټه خزانه کښې دغسې لیکلی شوی دی ۔ په پټه خزانه کښې د دغې کتاب په حقله په صراحت سره دا ذکر نشته چې د نشر وۀ او کۀ د نظم ۔ او هم دا اعتراض د ټولو نه اگاهو محترم قلندر مومند په خپل کتاب کښې د " پټې خزانې مآخذ " د عنوان د لاندې دا اسې کړے دے ---

"دغسې د هغۀ د پښتو کتاب " د سالو وړمه " په باره کښې نۀ د مآخذ د ښینلو ضرورت محسوس شوے دے او نۀ دا تفصیل شته چې دا کتاب په نثر وۀ او کۀ په نظم ۔" (17)

له دې اقتباس نه دا خبره په ډاګه کیږی چې وړومبے اعتراض قلندر صاحب د دغې کتاب په حقله کړے وۀ ۔ پکار وو چې کله د پټې

www.pukhto.net

خزانې محشی، مدون او مترجم دغه کتاب منشور ګڼلے وۀ نو چې زلمی هوادمل صاحب خپل دغه نقطه نظر پیش کړے وے۔ ددې کتاب او ددې کتاب د لیکونکی ذکر په پټه خزانه کښې راغلے دے، د پټې خزانې محشی، مدون او مترجم دا کتاب منشور ګڼلے دے او له هغۀ نه پس د افغانستان او زمونږ د وطن ډیرو خلقو منشور ګڼلے دے، نو اوس ګۀ څوک دا خبره وکړی چې "پټه خزانه" وړومبے منشور کتاب" دسالو وړمه ښیی "نو په دې کښې د اعتراض څۀ خبره ده۔

په اخر کښې به زۀ دومره عرض وکړم چې د پټې خزانې په حقله د کامل مرحوم خیال ما لوستونکیو ته ښکاره کړو۔ او ګۀ څوک کولے شی نو د محترم قلندر مومند د مقالې په مخالفت کښې دی د کامل مرحوم څۀ خو لیکلے ثبوت پیدا کړی۔ ځکه چې تر کومې پورې لیکلے څیز په ګوتو نۀ وی راغلے، نو مونږ ې د زلمی هیواد مل د وضع کړی قانون له مخه ربنتیا نۀ شو ګڼلے۔ او تر هغې به د کامل مرحوم د دغې مقالې په حقله خاموشی د هغوی رضا ګڼو۔ ځکه چې د اسلامی نقطه نظره خاموشی رضا ګڼلے شی۔

حوالې

1. تماس مجله لور الائی بلوچستان دریمه ګڼه کال نولس سوه څلور نوی ص۔ ۲٤

2. هم دغه مجله لور الائی بلوچستان دویمه ګڼه کال نولس سوه څلور

www.pukhto.net

3. نوی ص۔ ۱۲

4. تول پارسنگ ص۔ ۲۶

5. هم دغه کتاب ص ۱۳۹

6. تماس مجله دریمه گڼه ص۔ ۳۵

7. د کامل مرحوم انگریزی مقاله Pashto Literature during the Mughal period فرنټیر پوسټ پیښور فائل۔

8. هم دغه انگریزی مقاله

9. هم دغه انگریزی مقاله

10. د یونس دیوان مقدمه ص۔ یوولسمه

11. د جیمس فلر بلمهارټ او دی این میکنزی Catalogue of Pushto Manuscripts ص۔ ۴۲

12. تماس مجله دریمه گڼه کال نولس سوه څلور نوی ص۔ ۳۷
جرس مجله کراچئ جنوری، مارچ کال نولس سوه پینځه نوی، ص۔ ۵۳

13. پته خزانه دوهم چاپ ص۔ ۲۴

14. هم دغه کتاب ص۔ ۶۶

15. هم دغه کتاب ص۔ ۸۸

16. پته خزانه فی المیزان ص۔ ۱۷۹۔۱۸۰

www.pukhto.net

اشاریہ (الف)
داشخاصونومونہ

(آ)

آتش (خواجہ حیدر علی آتش) : - ۵۲۳

آدم : - (حضرت آدم علیہ السلام) ۳۷ - ۳۸ - ۶۵۵

آدم درخانی : - ۶۶۳

آزاد خان (دخوشحال بابا خوے) : - ۵۴۴ - ۵۴۷

(ا)

ابدالی (حضرت احمد شاہ بابا) : - ۷۰ - ۷۲ - ۱۳۱ - ۲۰۳ - ۲۹۳ - ۴۵۶ - ۴۹۱ - ۴۹۲ - ۶۳۵

ابرھہ : - ۳۷

ابو القاسم : - ۱۹۸ - ۴۶۹ - ۴۷۱

اتک حضرت جی صاحب : - ۱۵۵

اثر افغانی (عبدالحلیم اثر) ۸۳ - ۴۲۴ - ۴۲۵ - ۴۲۶ - ۴۹۴ - ۴۹۵ - ۴۹۷ - ۴۹۸ - ۵۱۸

احسان شاھجہان پوری : - ۵۲۳

احمد بن محمد بن یحییٰ : - ۳۸۶

احمد گل ۵۱۰

احمدی جیو : - ۱۷۴ - ۱۷۵

اخون درویزہ : - ۴ - ۲۸ - ۷۲ - ۱۴۹ - ۲۷۸ - ۴۳۱ - ۵۳۴

اخونزادہ (علامہ عبدالعلی) ۳۱۵ تا ۳۲۳ - ۴۵۸ - ۶۴۹ - ۶۸۵

اخون عبدالغفور (سوات باباجی) : - ۴۷۸

اخون قاسم : - ۲۹ - ۷۲ - ۲۱۳

اخون گدا : - ۱۸۶ - ۲۰۳ - ۶۸۰ - ۶۸۱

ادیب (عبدالکافی) ۲۹۳

ارزانی : - ۵۰ - ۱۴۵ - ۱۵۱ - ۱۵۲ - ۱۵۶ - ۶۰۶ - ۶۰۷ - ۶۰۸ - ۶۶۷ - ۶۷۲ - ۶۷۴

اسد قریشی : - ۵۰۹ - ۵۱۰

اسعد سوری : - ۳۸۱ - ۳۸۲ - ۳۸۳ - ۳۸۴

اسماعیل (حضرت اسماعیل علیہ السلام) : - ۳۶ - ۳۷

اشرف خلیل : - ۲۶۴

اعلیٰ حضرت محمد ظاھر شاہ : - ۱۳۶ - ۴۶۳

افریدے (قاسم علی خان) - ۸ - ۹ - ۱۰ -

www.pukhto.net

۱۳۔ ۱۴۔ ۶۲۔ ۱۷۲

افضل خان خٹک :۔ ۷۵۔ ۷۶۔ ۷۹۔

۸۴۔ ۸۵۔ ۱۲۰۔ ۱۲۸۔ ۱۵۵۔ ۱۵۶۔ ۱۶۵۔ ۱۶۹۔

۲۱۳۔ ۲۴۶۔ ۳۷۷۔ ۳۷۸۔ ۳۷۹۔ ۳۸۰۔

۴۳۵۔ ۴۳۶۔ ۴۳۷۔ ۴۴۸۔ ۴۵۰۔ ۴۵۲۔

۵۱۴۔ ۵۱۵۔ ۵۱۶۔ ۵۱۸۔ ۵۳۰۔ ۵۳۱۔ ۵۴۱۔

۵۴۲۔ ۵۴۳۔ ۵۴۴۔ ۵۴۵۔ ۵۴۶۔ ۵۴۷۔

۵۵۹۔ ۵۸۷۔ ۵۹۳

افضل خان د جمال گڑی :۔ ۹۸

افغانی (سید جمال الدین) :۔ ۵۲۶

اکبر اعظم (جلال الدین

محمد اکبر) :۔ ۳۸۶۔ ۴۴۱۔ ۴۴۲۔ ۵۸۰۔

۵۸۲۔ ۵۸۳۔ ۵۸۶۔ ۵۸۷۔ ۵۸۸۔ ۵۸۹۔ ۵۹۱۔

۵۹۲۔ ۵۹۳۔ ۵۹۴

اکبر الہ آبادی :۔ ۶۳۷

اکورے (ملک) :۔ ۹۶۔ ۴۷۶۔ ۴۷۷

الفت (گل باچا) :۔ ۶۸۔ ۶۹۔ ۷۱۔ ۷۲۔

۱۴۹۔ ۱۵۰

الف خان ناصر :۔ ۵۰۲۔ ۵۰۴

الہبار افریدے :۔ ۱۱۲۔ ۴۷۶۔ ۴۷۷

الیاس بن مضر :۔ ۳۷

امیر خان :۔ ۸۔ ۱۹۔ ۲۰۔ ۲۱۱۔ ۲۱۷

امیر کرور :۔ ۳۳۳۔ ۳۳۴۔ ۳۳۵۔ ۳۳۸۔

۳۴۰۔ ۳۸۳۔ ۶۰۷۔ ۶۸۹

اندر (نصیر الدین خان) :۔ ۱۱۱۔ ۳۴۶۔

۴۹۶۔ ۴۹۷

انصاری (مرزا خان انصاری) :۔ ۷۲۔

۱۴۵۔ ۱۵۱۔ ۱۵۲۔ ۱۵۶۔ ۲۸۰۔ ۳۰۴۔ ۳۰۶۔ ۴۳۲۔

۵۳۴۔ ۶۰۶۔ ۶۰۸۔ ۶۱۱۔ ۶۶۷۔ ۶۶۸۔ ۶۷۲۔ ۶۷۴۔

انوار الحق داؤدزے (کاتب) :۔ ۶۴۸

انوری :۔ ۳۸۵۔ ۳۸۶۔ ۳۸۷

اورنگزیب عالمگیر (محی الدین

محمد اورنگزیب) :۔ ۱۰۰۔ ۳۹۶

۵۴۰۔ ۵۴۲۔ ۵۴۹۔ ۵۶۶۔ ۵۶۷۔ ۵۶۸

۵۷۰۔ ۶۵۵۔ ۶۷۳۔ ۶۷۴

الیاس انطون الیاس :۔ ۴۸۵

ایاز :۔ ۱۱۳

ایڈورڈ ولییم لین :۔ ۴۸۶

ایمل کانسی :۔ ۴۷

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

(ب)

بابا ھوتک :- ۱۱۲-۳۷۰-۳۷۱-۳۷۲-۳۷۳

۳۷۵-۳۷۶

بابر (ظھیر الدین محمد بابر) :- ۳۷۷

۴۴۱-۴۹۱-۴۹۲

بابڑ خان :- ۴۲۳-۴۳۰-۴۳۱-۶۹۹

بابو جان :- ۴۷۸-۶۱۶

بارکزے (ملا محمد حافظ) :- ۵۰

۱۰۸-۱۱۱

باسط :- ۱۷۵

بدایونی عبد القادر :- ۵۸۱-۵۸۲

بریالے باجوڑے :- ۱۰۷

بریالے عبد الکریم :- ۳۲۱

بڑیچ (شیخ بوستان) :- ۵۴-۱۰۹-۱۱۰-

۱۱۱-۱۱۲-۲۸۳-۲۸۵-۲۹۴-۳۴۷-۴۰۲

۴۰۳-۴۰۴-۴۰۵-۶۱۳-۶۱۵-۶۲۳-۶۲۴-۶۹۸

بھادر خان (د خوشحال بابا

خوے) :- ۵۱۶-۵۱۷

بھادر خان (صدر الزمان) :- ۱۰۶-۱۱۱

۴۶۸-۴۷۱-۴۷۲-۴۷۳

بھادر شاہ اول (ابو المظفر سراج الدین

محمد بھادر شاہ غازی) :- ۱۳۸

بھاگو خان :- ۵۹۳

بھرام خان (د خوشحال بابا

خوے) :- ۳۷۸-۴۴۹-۵۱۶-۵۴۲-۵۴۳

۵۴۴-۵۴۵-۵۷۰-۶۶۰-۶۶۲-۶۷۴

بھلول لودی (سلطان) :- ۵۰-۸۶-۶۱۵

بیاض (شاعر) :- ۲۰۲-۲۵۶

بی بی حلیمہ حافظہ :- ۱۰۳-۱۰۸-۱۰۹

۱۱۰-۱۱۱-۱۱۳-۱۱۴-۵۱۳-۵۱۴-۵۱۶-۵۱۸

۵۲۰-۵۹۸-۵۹۹-۶۰۰

بی بی دویہ :- ۵۲۰

بی بی رابعہ :- ۵۲۰-۵۲۴-۵۲۵

بی بی راستی :- ۵۲۰

بی بی زرغونہ :- ۵۲۰-۵۲۴

بی بی زینب :- ۵۲۰-۵۲۲-۵۲۳

بی بی شیخ زادی :- ۵۲۰

بی بی صورت :- ۵۲۰

بی بی مجذب گمنام :- ۵۲۰

بی بی نیک بختہ :- ۸۸-۱۱۴-۵۱۸

Pukhto.Net
www.pukhto.net

۵۱۹۔ ۵۲۰۔ ۵۲۱۔ ۵۲۲۔ ۶۱۶

بیدل (دپښتو شاعر) :۔ ۵۰۔ ۱۳۰

۳۰۴۔ ۳۰۵

بیلیو :۔ ۲۳۳۔ ۲۵۵۔ ۲۶۰۔ ۲۶۱

۲۶۴۔ ۳۰۲۔ ۳۰۹۔ ۳۵۳

بینوا (عبدالرؤف) :۔ ۶۴۔ ۶۶۔ ۱۱۰

۱۳۲۔ ۱۳۳۔ ۱۳۶۔ ۴۱۸۔ ۴۶۳۔ ۳۶۴

۴۷۹۔ ۵۱۲/۵۱۳۔ ۵۱۹

بیوریج (دبابر نامی مترجم) :۔ ۱۶

(پ)

پادری خیر الله :۔ ۲۵۵۔ ۲۵۶۔ ۳۰۰

۳۰۱۔ ۳۰۲۔ ۳۵۳۔ ۵۲۵

پانی :۔ ۵۱۷

پنجو :۔ ۵۱۷

پنڈت کرتا کشن :۔ ۱۲

پیر بابا (سید علی غواص ترمذی

رحمة الله علیه) :۔ ۱۵۵

پیر روښان (بایزید انصاری) :۔ ۵۲۹

۶۹۰

پیر محمد کاکړ :۔ ۲۰۷۔ ۲۱۶۔ ۶۳۵

پیر معظم شاه :۔ ۳۷۳

(ت)

تاج بی بی :۔ ۵۱۴۔ ۵۱۵

تاروکه :۔ ۵۱۷

تاس لی جان مهر :۔ ۲۱۳

تتار خان کانسی :۔ ۴۷

تقی اوحدی :۔ ۳۸۷

تقی کاشی :۔ ۳۸۶

توخی (ملاباز) :۔ ۱۱۱

تیمن بابا :۔ ۳۴۷۔ ۴۰۲

تیمور شاه سدوزے :۔ ۴۵۶

(ج)

جارج ایس اے رینکنگ :۔ ۵۸۲

جارج نیون :۔ ۵۲۶

جان تی پلیمتس :۔ ۳۰۹۔ ۴۸۵

جلال خان :۔ ۵۱۶۔ ۵۱۷

جهانگیر (سلیم نور الدین محمد

جهانگیر) :۔ ۴۴۲۔ ۵۹۸

جوناتن سوفټ :۔ ۳۲۵

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

جیمس فلر بمبا[illegible] - ۱۱

(خ)

خدران (عبدالرحیم) [illegible] ۲۷ - ۲۹۱

خلاند (ابوالخیر) : - ۳۲۱

(ح)

حاجی بهادر صاحب

رحمة الله علیه : - ۱۵۵

حاجی خلیفه : - ۳۸۷

حاجی دریا خان

رحمة الله علیه : - ۱۵۷

حافظ الپورے : - ۲۰۳

حافظ رحمت خان

رحمة الله علیه : - ۱۲۶ - ۱۲۷

حافظ محمد : - ۴۹۴ - ۴۹۵

حافظ محمد عبدالقدوس

قاسمی : - ۳۲۵ - ۳۲۶

حالی (مولانا الطاف حسین) : - ۲۷۹

حبیب الله (شاعر) : - ۲۵۱

حسرت (مولانا سید فضل الحسن

موهانی) : - ۵۲۳

حسن خان برپیخ : - ۶۹۸

حسن کانسی : - ۴۸

حسین (شاعر) : - ۲۰۱ - ۲۴۱ - ۲۴۴ - ۲۶۸

حسین بن منصور حلاج : - ۴۳۹ - ۶۷۳

حضرت علی کرم الله وجهه : - ۶۶

۶۷ - ۶۸ - ۳۴۹

حضرت مجدد الف ثانی

رحمة الله علیه : - ۴۸۷ - ۵۱۶ - ۵۹۸

۵۹۹ - ۶۰۰

حضرت عمر فاروق رضی الله

عنه : - ۶۷۵

حضرت محمد صلی الله

علیه وسلم : - ۳۷۳ - ۵۲۹

حضرت معاویه رضی الله

عنه : - ۶۶ - ۶۷ - ۶۸

حکیم خان : - ۵۱۶

حمزه بابا (امیر حمزه خان

شینوارے) : - ۲۳۰ - ۲۴۱ - ۲۴۲ - ۲۸۷

۲۹۱ - ۲۹۳ - ۴۱۶

حمید : - ۵۰۱

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

حمید بابا (عبدالحمید مومند) : - ۳۰
۳۳ - ۶۲ - ۱۶۵ - ۱۶۷ - ۱۶۹ - ۲۰۰ - ۲۴۴ - ۲۵۱
۲۶۷ - ۲۹۷ - ۲۹۸ - ۲۹۹ - ۳۰۱ - ۳۰۳ - ۳۰۵
۳۰۶ - ۳۰۹ - ۶۰۹ - ۶۱۱ - ۶۲۴
حنیف خلیل : - ۲۲۸
حیات سکندر : - ۳۷۹

(خ)

خاطر غزنوی : - ۲۴۹
خانزاده شیر علی خان : - ۵۴۶
خان جهان لودی : - ۳۷۰ - ۳۸۰ - ۴۳۶
خدکی سلطان : - ۳۷۹
خدمتگار بختانی (عبدالله) : - ۵۱
۱۳۱ - ۱۳۳ - ۱۳۴ - ۱۳۵ - ۱۸۰ - ۴۵۲ - ۴۵۳ - ۴۵۴
۴۵۷ - ۴۶۴ - ۷۶۶ - ۶۷۹ - ۶۹۳
خرشبون : - ۴۸ - ۳۷۹
خروتے نور محمد : - ۲۶۷ - ۳۳۴
خضر خان : - ۵۱۷
خلیق (عبدالخالق) : - ۹۴ - ۹۵
خواجه شمس الدین محمد : - ۵۹۳
خواجه عبدالله - ۴۹۱
خواجه کلاں : - ۱۵
خواجه محمد بنگش : - ۲۱۷ - ۲۲۰
۲۴۳ - ۳۰۴ - ۳۰۵
خوربدل : - ۴۳۲
خوشحال شهید : - ۹۹
خوگیانے (محمد امین) : - ۴۷۷ - ۴۷۸
خیال بخاری (عظیم شاه) : - ۵۱ - ۳۰۶

(د)

دارا (دایران بادشاه) : - ۶۷۳
داراشکوه : - ۶۷۴
داؤد خان هوتک : - ۲۶۷ - ۲۷۱
۳۷۲ - ۳۷۴ - ۳۷۵ - ۵۲۷
داور خان داؤد : - ۶۹۶
دردانه : - ۵۱۷
دلدارالدین : - ۴۹۸
دوست شینوارے : - ۶۲۳ - ۶۲۴
دوست محمد کاکړ : - ۴۲۲ - ۴۲۳
۴۲۶ - ۴۲۷ - ۴۳۰ - ۴۳۱ - ۴۳۲ - ۴۳۳
۴۳۴ - ۶۹۸
دولت شاه سمرقندی : - ۳۶۸ - ۳۷۰

Pukhto.Net
پښتو نیټ
www.pukhto.net

۳۸۶

دولت لون : - ۶۹ - ۷۲ - ۱۴۵ - ۱۵۱

۱۵۲ - ۱۵۶ - ۳۰۷ - ۵۳۴ - ۶۰۵ - ۶۰۶ - ۶۰۷

۶۰۸ - ۶۶۶ - ۶۶۸ - ۶۷۲ - ۶۷۳ - ۶۷۴

دهقان (رشید علی خان) : - ۵۰۹

(د)

دار مستریتر : - ۹۷ - ۹۹ - ۵۰۱ - ۵۰۲

داکتر ایس دبلیو فیلن : - ۳۵۰

داکتر سید انوار الحق : - ۳۴۹ -

۳۹۶ - ۴۷۱ - ۴۸۶ - ۶۳۱ - ۶۳۲ - ۶۳۶ - ۶۴۰

داکتر غلام مصطفیٰ خان : - ۴۸۷ - ۴۸۸

داکتر میکنزی : - ۱۱

دبلیو ایچ لو : - ۵۸۳

دورن برنارد : - ۲۶۴ - ۳۵۳

(ر)

راجه مان سنگھ : - ۵۹۳

راحت زاخیلی : - ۲۵۶ - ۳۵۳

رازی امین احمد : - ۳۸۶ - ۳۹۸ - ۴۳۹

راورتی (ایچ جی) : - ۷۰ - ۷۲ - ۷۵

۷۷ - ۲۳۳ - ۲۶۰ - ۲۶۱ - ۲۷۶ - ۳۰۰ - ۳۰۱ - ۳۰۲

۳۰۶ - ۳۰۹ - ۳۵۳ - ۵۷۰

رحمت داوی : - ۲۴۵ - ۲۸۰

رحمت هوتک : - ۱۱۹ - ۱۴۲ - ۱۶۵ - ۱۶۶

۱۶۷ - ۱۶۸ - ۱۶۹ - ۱۷۰ - ۱۷۵ - ۱۷۸ - ۱۷۹ - ۱۸۵

۱۸۶ - ۴۵۲ - ۴۵۸ - ۴۵۹ - ۴۶۴ - ۴۶۵ - ۴۶۶

۴۶۷

رشاد (عبدالشکور) : - ۶۳ تا ۷۱ - ۱۲۴

۱۲۵ - ۱۳۲ - ۱۳۳ - ۱۷۵ - ۱۷۶ - ۱۷۷ - ۱۷۸

۴۵۶ - ۴۵۷ - ۵۸۴

رښتین (صدیق الله خان) : - ۲۵۷ - ۲۵۸

۲۵۹ - ۶۲۹

رضا قلی خان : - ۳۸۷

رفیع (حبیب الله) : - ۱۲۴ - ۱۳۲ - ۵۵۸

۵۵۹ - ۵۶۰ - ۵۶۱ - ۵۶۲ - ۶۰۷ - ۶۵۳ - ۶۵۵

۶۶۸ - ۶۷۱ - ۶۷۷ - ۶۷۸ - ۶۸۶

رقیه : - ۵۲۱

رودکی : - ۴۰۵ - ۴۰۶ - ۴۰۷

ریدی خان : - ۴۷۹

ریورند لوینتال : - ۴۶۹ - ۴۷۱

www.pukhto.net

(ز)

زرغون خان جنت مکان :- ۵۰- ۴۲۲

۴۲۳- ۴۲۴- ۴۲۵- ۴۲۶- ۴۳۰- ۴۳۲- ۴۳۳

۴۳۴- ۶۱۳

زرین انخور :- ۳۲۶- ۳۴۹- ۳۵۱

۳۵۳- ۵۴۱- ۶۲۹- ۶۳۱- ۶۳۶- ۶۸۵

۶۸۶- ۶۸۷- ۶۸۸

زمند :- ۴۸

زیار (داکتر مجاور احمد) :- ۲۲۵

زین الدین کاتب :- ۱۳۱- ۱۳۴- ۱۳۵- ۴۵۲

۴۵۳- ۴۵۴

(س)

سائل دهلوی :- ۵۲۳

سر جان میلکم :- ۵۲۶

سردار محمد نعیم خان :- ۳۲۲

سر سید احمد خان :- ۱۲۷

سروانی (ابو محمد هاشم) :- ۵۰- ۵۴

۴۰۱- ۵۹۵- ۶۹۵- ۶۹۶- ۶۹۹

سرپن :- ۴۸

سعد خټک :- ۵۲- ۶۱- ۶۲- ۱۳۰- ۲۰۱

۲۷۷- ۴۳۲- ۶۰۹- ۶۱۰

سعید گوهر :- ۶۵۳- ۶۵۴

سکندر خان خټک :- ۶۶- ۱۶۵- ۱۶۷

۱۶۹- ۱۹۹- ۲۴۳- ۲۷۰- ۵۵۷- ۵۵۸- ۵۵۹

۵۶۰- ۵۶۱- ۵۶۲- ۶۰۰- ۶۶۵

سلطان سنجر :- ۳۸۵

سلطان شهاب الدین غوری :- ۳۸۵

۵۷۸- ۵۷۹

سلطان محمد :- ۵۲۶- ۶۱۵

سلمان ساوجی :- ۴۲۴- ۴۲۶

سلیم (شاعر) :- ۶۱۰

سلیم شاه :- ۵۷۹- ۵۸۲- ۵۸۳

سلیمان ماکو :- ۷۰- ۷۲

سوری شیخ اسعد :- ۵۴

سیال کاکړ :- ۴۶

سیدال خان ناصر :- ۱۱۱- ۵۰۲- ۵۰۳

۵۰۴- ۵۰۵- ۶۲۳

سید انشاء الله خان انشاء :- ۵۲۳

سید حسین :- ۲۰۶

سید حسین کاتب :- ۵۸- ۵۹- ۶۰

www.pukhto.net

سید (سیف الرحمان) : - ۱۰

سید ظہیر الدین ظہیر : - ۵۲۳

سید میر : - ۱۲۶

(ش)

شاد محمد خان : - ۲۸۷

شاہ بیگ خان کابلے : - ۴۳۹ - ۴۰۰ - ۴۴۱

۴۴۲ - ۴۴۳

شاہ بیگ خان ولد امیر ذوالنون : - ۴۴۱

شاہ جہان (خرم شہاب الدین

صاحبقران ثانی) : - ۶۷۳ - ۶۷۴

شاہ حسین ہوتک : - ۱۰۵ - ۱۰۷ - ۱۱۲ - ۱۱۶

۱۱۹ - ۱۲۲ - ۳۳۹ - ۴۴۹ - ۴۵۰ - ۴۵۱ - ۴۷۱ - ۴۷۲

۵۲۳ - ۵۳۱ - ۵۳۲

شاہ عالم (محمد معظم سید قطب

الدین محمد) : - ۱۴

شاہ عبدالرحمان بختیار : - ۴۸

شاہ محمد غوث : - ۱۵۷

شاہ محمود ہوتک : - ۴۷۵ - ۴۷۹ - ۵۲۳

شتانن گاس : - ۴۸۶

شرف : - ۴۳۲

شریف خان : - ۵۱۶ - ۵۱۷

شمس الدین ختک : - ۲۱۱

شمس الدین کاکڑ : - ۲۰۸ - ۲۱۶ - ۲۶۸

۶۳۵

شوق گوپاموی (قدرت اللہ) : - ۳۰

شیخ احمد ابن سعید اللودی : - ۴۰۷ - ۴۰۹

شیخ اسماعیل سربنے : - ۴۸ - ۳۷۹ - ۶۳۸

شیخ اللہ داد : - ۵۱۹ - ۵۲۱ - ۵۲۲

شیخ بدر الدین سرہندی : - ۴۸۴ - ۴۸۷

۴۸۹

شیخ حبیب اللہ : - ۱۵۵

شیخ رحمکار (حضرت کستیر گل

کاکا صاحب رحمۃ اللہ علیہ) : - ۴۹۷ - ۴۹۸

شیخ رضی لودی : - ۳۳۳ - ۳۳۹ - ۴۰۷ - ۴۰۸

۴۰۹ - ۴۱۰

شیخ سعدی (مصلح الدین) : - ۳۳

شیخ ضیاء الدین شہید : - ۴۹۸ - ۵۴۲ - ۵۴۳

شیخ عبدالحنی قدس سرہ : - ۴۸۴ - ۴۸۷

۴۸۹ - ۴۹۰

شیخ عبدالقادر جیلانی

www.pukhto.net

رحمة الله علیه : ۔ ۸۹

شیخ عیسیٰ مشوانے : ۔ ۸۶۔ ۱۴۸۔ ۴۰۶

۴۱۰۔ ۴۱۱۔ ۴۱۲۔ ۴۱۳۔ ۴۱۵۔ ۶۸۹۔ ۶۹۰

شیخ قاسم افغان : ۔ ۵۲۱۔ ۵۲۲

شیخ قدم : ۔ ۵۲۱

شیخ کتہ : ۔ ۳۸۲۔ ۳۸۳۔ ۶۱۳

شیخ متی : ۔ ۸۶۔ ۶۱۳۔ ۶۹۸

شیخ محمد صالح : ۔ ۱۱۲

شیخ ملکیار : ۔ ۱۱۱۔ ۳۷۶۔ ۳۷۷۔ ۳۷۸

۳۷۹۔ ۳۸۰۔ ۳۸۱

شیخ ملی : ۔ ۵۳۴

شیخ نامدار : ۔ ۴۳۲

شیدا (کاظم خان) : ۔ ۸۔ ۱۰۔ ۱۱۔ ۱۳

۲۰۶۔ ۲۸۰

شیر خان لودی : ۔ ۳۸۷

شیر شاہ سوری : ۔ ۵۷۹۔ ۵۸۴۔ ۵۸۵

شیر محمد گنداپور : ۔ ۵۴۲۔ ۵۴۵۔ ۵۴۶

شیر محمد ھوتک : ۔ ۱۴۶۔ ۱۵۰۔ ۱۵۱۔ ۱۵۲۔ ۱۵۳

(ش)

شبادی خان : ۔ ۵۱۶۔ ۵۱۷

شبکار رندوی : ۔ ۱۴۷۔ ۲۷۵۔ ۲۷۶۔ ۲۷۸۔ ۲۸۱

۳۳۵۔ ۳۳۹۔ ۳۸۵۔ ۳۸۶۔ ۳۸۷۔ ۳۹۷۔ ۵۷۷

۵۷۸۔ ۵۷۹۔ ۵۸۰۔ ۵۸۷۔ ۶۱۳

(ص)

صابر (سلطان محمد) : ۔ ۲۲۵۔ ۳۲۱

صابر (محمد ایوب) : ۔ ۶۴۶

صابر (محمد شفیع) : ۔ ۱۵۷

صاحبزادہ امتیاز احمد : ۔ ۴۶۹۔ ۴۷۱

صاحبزادہ فیضی : ۔ ۶۵۱

صدر خان خٹک : ۔ ۶۲۔ ۶۶۔ ۸۲۔ ۱۲۹

۱۶۵۔ ۱۶۷۔ ۱۶۹۔ ۵۲۵۔ ۶۶۰۔ ۶۶۲۔ ۶۶۴۔ ۶۶۶

صدیق : ۔ ۲۰۸۔ ۲۱۶۔ ۶۱۱

صدیق خان : ۔ ۴۵۶

صمیم (محمد آصف) : ۔ ۳۲۶۔ ۳۴۹۔ ۳۵۱

۳۵۳۔ ۵۴۱۔ ۶۲۹۔ ۶۳۱۔ ۶۳۶۔ ۶۴۶۔ ۶۴۸

۶۴۹۔ ۶۵۰۔ ۶۸۶۔ ۶۸۷۔ ۶۸۸

(ط)

طاٹر (محمد نواز) : ۔ ۸۲

طاؤس خان : ۔ ۵۱۷

طاھر خان : ۔ ۱۲۶۔ ۳۷۸

www.pukhto.net

(ظ)

ظفر (سید محمود) : ۔ ۱۶۵۔ ۶۳۱

ظفر کاکاخیل (بہادر شاہ) : ۔ ۴۶

۲۶۰۔ ۵۲۶

(ع)

عابد خان : ۔ ۶۶۰

عالم خان : ۔ ۵۱۶۔ ۵۱۷

عائشہ درانی : ۔ ۴۵۷

عبدالخالق رشید : ۔ ۵۱۳

عبدالرحمان : ۔ ۹۲

عبدالصمد خان : ۔ ۴۵۶

عبدالعزیز کاکڑ : ۔ ۴۷۶

عبدالعظیم بابا : ۔ ۱۸۶

عبدالغفور : ۔ ۵۱۷

عبدالقادر خان خٹک : ۔ ۳۰۔ ۳۳۔ ۵۰۔ ۶۹

۷۲۔ ۷۶۔ ۷۷۔ ۱۱۲۔ ۱۱۶۔ ۱۱۷۔ ۱۱۸۔ ۱۲۲۔ ۱۲۳۔

۱۲۹۔ ۱۴۸۔ ۱۹۸۔ ۲۱۴۔ ۲۴۳۔ ۳۳۹۔ ۳۴۰۔ ۵۲۔

۳۹۳۔ ۳۹۵۔ ۳۹۶۔ ۴۶۱۔ ۴۶۷۔ ۴۶۸۔ ۶۹۔ ۴۷۰

۵۱۴۔ ۵۱۵۔ ۶۱۱۔ ۶۱۲۔ ۶۱۴۔ ۶۳۱۔ ۶۳۳۔ ۶۳۴

۶۳۵۔ ۶۵۳۔ ۶۵۴۔ ۶۶۰۔ ۶۶۵

عبداللطیف اخکزے : ۔ ۵۰۱

عبداللہ ارمر : ۔ ۶۹۰

عبداللہ بن عبدالمطلب : ۔ ۳۷۔ ۳۸

عبداللہ خان : ۔ ۵۱۶

عبدالمجید : ۔ ۴۸۶

عبدمناف بن قصی : ۔ ۳۸

عجب خان : ۔ ۶۶۶

عدم (عبدالحمید) : ۔ ۵۲۳

عدنان : ۔ ۳۷

عزیز لونی : ۔ ۳۲۰

علامہ محمد اقبال : ۔ ۵۱۰۔ ۵۱۱۔ ۵۱۲۔ ۵۱۳

علی خان اشنغرے : ۔ ۶۲۔ ۱۶۵۔ ۱۶۷۔ ۱۶۹

۲۰۲۔ ۲۱۵۔ ۲۶۳۔ ۲۶۸۔ ۲۶۹۔ ۲۷۷۔ ۳۰۹۔ ۶۱۱

عمران (شاعر) : ۔ ۱۸۰۔ ۱۸۱

عیسیٰ (حضرت عیسیٰ

علیہ السلام) : ۔ ۳۸۔ ۱۲۸

(غ)

غرغبنت بابا : ۔ ۴۲۲۔ ۴۲۳۔ ۴۳۲۔ ۴۳۴

غریب : ۔ ۲۰۸

غلام جیلانی کاتب : ۔ ۱۲۔ ۶۰۰

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

غلام علی آزاد : - ۳۸۷- ۴۲۴- ۴۲۶

غلام محی الدین : - ۴۳۲

غنی خان (لیونے فلسفی): - ۶۲۲

(ف)

فاطمه : - ۵۱۷

فتح علی خان : - ۴۳۲

فخر افغان (عبدالغفار خان

مرحوم) : - ۶۲۲- ۶۸۷

فردوسی : - ۴۷۲

فریادی (سید محمد رسول) : - ۳۲۱

فقیر الله : - ۵۵۴

فقیر ایپی (حاجی مرزا علی خان

رحمة الله علیه : - ۵۲۹

فیاض (شاعر) : - ۱۹۹

فیروز خان : - ۵۱۶- ۵۱۷

فیض الله قریشی : - ۴۲۴- ۴۲۵

فیض علی کاتب : - ۱۱- ۱۲- ۱۳

فیض طلب خان : - ۱۳۱- ۱۳۳- ۱۳۴

۱۳۵- ۴۵۲- ۴۵۳- ۴۵۴- ۴۵۶- ۴۵۷

فیضی (د فارسی شاعر او د

ابو الفضل ورور) : - ۵۸۹

(ق)

قادر : - ۲۶۴

قاضی حبیب الله : - ۹۱- ۹۲- ۹۳

قاضی زین العابدین : - ۳۵۰- ۴۸۵

قاضی صفی الله : - ۸۷- ۹۰- ۹۱- ۹۲- ۹۳

قاضی عبدالرحمان : - ۲۱۳

قاضی عطاء الله مرحوم : - ۵۲۶

قائم خان : - ۶۸۰- ۶۸۱

قذیفه : - ۵۱۷

قرطبی (امام ابی عبدالله محمد

ابن احمد انصاری) : - ۷۷

قطب الدین اوشی : - ۴۸

قطب الدین بختیار کاکی : - ۴۳۵

قلندر : - ۲۰۶- ۳۰۸

قلندر (د خوشحال بابا معاصر) : - ۴۳۲

۵۳۴- ۶۰۵- ۶۰۸- ۶۶۰- ۶۶۶- ۶۶۸- ۶۶۹- ۶۷۰

۶۷۱- ۶۷۲

قلندر سلطان : - ۳۷۹

www.pukhto.net

قمر اختر حیات : ۔ ۲۹۳

قنبر علی خان : ۔ ٦١٠ ۔ ٦١١

(ک)

کاکاجی

(صنوبر حسین مومند ۔ ٤١٩ ۔ ٤٢٠

کامگار خان خٹک : ۔ ۔ ۱۸۸ ۔ ۲۵۱

۳۰۷ ۔ ٦٠٩ ۔ ٦١٠

کامران خان سدوزے ۔ ٦١٣ ۔ ٦١٦

کامل مومند (دوست محمد خان) : ۔ ۱۰

٤٦ ۔ ٤٨ ۔ ٤٩ ۔ ۷۸ ۔ ۷۹ ۔ ۱۲۰ ۔ ۱۲٤ ۔ ۳۷۸ ۔ ۳۷۹

۳۸۰ ۔ ۳۸۹ ۔ ٤١٢ ۔ ٤١٧ ۔ ٤١٨ ۔ ٤١٩ ۔ ٤٢٠ ۔ ٤٢٧

٤٢٩ ۔ ٤٣٧ ۔ ٥٣٩ ۔ ٥٤٣ ۔ ٥٤٦ ۔ ٥٦١ ۔ ٥٦٢ ۔ ٦٥٥

٦٥٦ ۔ ٦٥٨ ۔ ٦٥٩ ۔ ٦٧٦ ۔ ٦٨٤ ۔ ٦٨٦ ۔ ٦٨ ۔ ٦٨٩

٦٩١ ۔ ۷۰۰

کانسی : ۔ ٤٨

کریمداد : ۔ ٤٣١

کمال الدین شیرانے : ۔ ۳۲۳

کند : ۔ ٤٨

(گ)

گرگین خان : ۔ ٥٢٦ ۔ ٥٢٧ ۔ ٥٢٩ ۔ ٥٣٠

گل خان جمال خان : ۔ ۱۱٦ ۔ ۱۲۲ ۔ ۱۲۳ ۔ ۱۳۹ ۔ ٦٨٠

گوہر خان خٹک : ۔ ۳٤ ۔ ۳۵ ۔ ٦۲ ۔ ۲٤۹ ۔ ٦٠ ۔ ٦٦٦

(ل)

لر [illegible] (پہلوان خان) : ۔ ٤۷

لودی علی سرور : ۔ ۱۱۲ ۔ ٤٤٤ ۔ ٤٤٥ ۔ ٦١٥

(م)

مانی : ۔ ۲٤۷ ۔ ۲٤۸ ۔ ۲٤۹

متھ کانسی : ۔ ٤۷ ۔ ٤٨

مجروح بہاؤ الدین : ۔ ۹۷

مجروح میر مہدی : ۔ ۵۲۲

محمد ابن علی البستی : ۔ ٦١٣

محمد امین سرپریکڑے : ۔ ۲۵٦

محمد بختاور خان : ۔ ۲۸۷

محمد حافظ بارکزے : ۔ ٤۹٦

محمد خان : ۔ ۵۱٦ ۔ ۵۱۷

محمد داؤد : ۔ ٤٦۷

محمد رفیق : ۔ ۲۸۱

محمد صالح علیہ الرحمۃ : ۔ ٤۳۸ ۔ ٤۳۹

www.pukhto.net

۴۴۳۔ ۴۴۴۔ ۴۴۵

محمد صدیق پوپلزے : ۔ ۴۷۵

محمد طاهر جمریانے : ۔ ۴۸۰۔ ۴۸۱۔ ۴۸۲

۵۲۴۔ ۵۲۵

محمد عادل : ۔ ۴۷۹

محمد عباس کاسی : ۔ ۵۷۔ ۵۹۔ ۶۴۔ ۷۲

۸۷۔ ۹۰۔ ۱۳۷۔ ۱۳۸۔ ۱۴۵۔ ۲۴۷۔ ۲۶۰۔ ۲۶۱۔

۲۶۶۔ ۲۶۸۔ ۳۲۳۔ ۳۳۴۔ ۳۳۵۔ ۳۵۴۔ ۳۵۵

۳۵۶۔ ۳۶۰۔ ۴۰۲۔ ۶۷۶

محمد عمر خان : ۔ ۴۸۰۔ ۴۸۱۔ ۴۸۲

محمد فهیم : ۔ ۴۹۷۔ ۴۹۸

محمد گل رحیم اسماری : ۔ ۹۱۔ ۹۲۔ ۹۳

محمدی جان : ۔ ۱۷۴۔ ۱۷۵

محمدی صاحبزاده : ۔ ۱۲۹۔ ۱۶۵۔ ۱۶۷۔

۱۶۹۔ ۱۷۴۔ ۱۷۷۔ [illegible] ۴۱۶۔ ۴۱۷

۴۵۵۔ ۴۵۶۔ ۴۶۹۔ ۴۷۱۔ ۱۲،

محمود (شاعر) : ۔ ۹۸

محمود غزنوی : ۔ ۱۱۳۔ ۴۷۲

مخلص روښانے : ۔ ۱۴۵۔ ۱۵۱۔ ۱۵۲۔ ۱۵۶

مراد شینوارے : ۔ ۱۷۹

مرجانی ابی : ۔ ۵۱۴

مرزا حکیم : ۔ ۵۸۶۔ ۵۹۳

مرزا حنان بارکزے : ۔ ۲۱۷۔ ۲۷۳۔

۶۳۴۔ ۶۳۵

م۔ر۔ شفق : ۔ ۴۷۷

مسعود محمد گل : ۔ ۱۱۱۔ ۱۱۹۔ ۱۶۸۔ ۳۴۳

۳۴۴۔ ۴۶۴۔ ۴۶۵۔ ۴۶۶۔ ۴۶۷۔ ۴۷۰

مسکین شاعر : ۔ ۴۹۷

مطیع الله نیکهٔ : ۔ ۲۲۹۔ ۲۴۷

مظفر جنگ : ۔ ۱۰

مظفر علی خان اسیر : ۔ ۵۲۳

معاذ الدین خټک : ۔ ۲۰۴

معد بن عدنان : ۔ ۳۷

معز الله مومند : ۔ ۲۰۲۔ ۲۱۵۔ ۲۲۶

۲۲۷۔ ۶۱۲

معصوم هوتک : ۔ ۶۳۴۔ ۶۳۶

معظم : ۔ ۵۶۳

ملک اکو : ۔ ۵۱۷

ملوک شاه : ۔ ۵۸۲

ملا الله یار الکوزے : ۔ ۴۳۸۔ ۴۳۹

www.pukhto.net

۴۴۴۔ ۴۴۵

ملا ایوب تیمنی : ۔ ۴۲۲۔ ۴۲۴۔ ۴۲۶

ملا باز توخی : ۔ ۴۴۸

ملا پیر محمد میاں جی : ۔ ۴۷۵۔ ۶۱۵

ملا زعفران : ۔ ۴۴۹۔ ۴۵۰۔ ۴۵۱۔ ۶۱۵

ملا لتار : ۔ ۲۳۔ ۲۴۔ ۱۸۶۔ ۲۷۱۔ ۲۷۲
۲۹۰۔ ۳۰۸

ملا محمد ایاز نیازی : ۔ ۴۸۲۔ ۴۸۳۔
۴۸۴۔ ۴۹۰۔ ۴۹۱۔ ۴۹۳۔ ۴۹۴۔ ۴۹۵

ملا مست : ۔ ۶۸۔ ۷۲

ملا نعمت اللہ : ۔ ۲۱۲

ملا نور محمد غلجے : ۔ ۳۳۹۔ ۴۹۸
۴۹۹۔ ۵۰۰

منشی احمد جان : ۔ ۷۰۔ ۷۲

مولانا ابو الکلام آزاد
(محی الدین احمد) : ۔ ۵۲۳

مولانا جامی (عبد الرحمان) : ۔ ۳۰

مولانا شبلی نعمانی
(محمد شبلی) : ۔ ۳۶۸۔ ۳۶۹۔ ۳۷۰۔
۳۸۴۔ ۴۰۸

مولانا عبد الحفیظ بلیاوی : ۔ ۴۸۵

مولانا عبد الرحیم مرحوم : ۔ ۶۰۰

مولانا عبد القادر : ۔ ۳۲۵۔ ۳۲۶

مولانا فضل الرحیم : ۔ ۹۱

مولانا محمد اسرائیل : ۔ ۴۷۷۔ ۴۷۸

مولانا یار محمد الجدید : ۔ ۵۹۹

مولوی شریف احمد : ۔ ۱۵۶

مہر (مولانا غلام رسول) : ۔ ۲۴

مہین : ۔ ۲۰۳

میاں جناب کاکاخیل : ۔ ۲۱۲

میاں حسیب گل کاکاخیل : ۔ ۲۱۲

میاں روښان (بایزید انصاری) : ۔ ۷۲

میاں شمس الدین : ۔ ۲۵۲

میاں عبد الحکیم : ۔ ۴۸۳۔ ۴۸۴

میاں عمر محمکنے
رحمۃ اللہ علیہ) : ۔ ۹۷۔ ۱۵۷۔ ۱۵۸

میاں قاسم افغان : ۔ ۸۸۔ ۸۹

میاں نعیم : ۔ ۵۰۔ ۵۱۔ ۲۰۷۔ ۲۷۷۔ ۳۰۴
۳۰۵۔ ۳۰۶۔ ۳۰۸

میر سید محمد عتابی : ۔ ۳۹۷

www.pukhto.net

میر محمد نعمان : - ۴۸۷

میر ویس خان بابا : - ۷۵- ۷۷- ۷۸- ۷۹

۸۱- ۱۳۸- ۱۳۹- ۱۴۰- ۱۴۱- ۱۴۲- ۱۵۵- ۳۷۹

۳۸۰- ۴۳۵- ۴۵۰- ۴۵۲- ۵۰۹- ۵۱۲- ۵۲۳-

۵۲۶- ۵۲۷- ۵۲۸- ۵۲۹- ۵۳۰- ۶۷۶

میلسون : - ۵۲۶

(ن)

نازو انا : - ۱۰۷- ۱۳۲- ۱۳۳- ۱۷۵- ۳۴۷-

۵۰۹- ۵۱۰- ۵۱۱- ۵۱۲- ۵۲۰

نزار بن معد : - ۳۷

نجیب : - ۱۸۶- ۱۹۹- ۲۴۴- ۶۱۰

نجیب الله قاضی زاده : - ۴۳۲

نصر لودی : - ۴۰۷- ۴۰۹

نصیر آبادی (مرزا طاهر) : - ۳۰

نظام : - ۵۱۷

نظامی عروضی سمرقندی : - ۴۷۲

نظیر لدهیانوی : - ۵۲۳

نواب محمد اندر : - ۴۶۷- ۴۶۸- ۴۶۹- ۴۷۰

نواز خیک : - ۴۳۲

نور الله : - ۶۲

نور جهان (ملکه) : - ۱۱۳

نور محمد خان : - ۱۶۳- ۱۷۰- ۱۷۴- ۱۷۵

نور محمد غلجے : - ۵۲۳

نوره دین اخون : - ۵۰۱- ۵۱۹

نندرکو : - ۵۱۷

نیک زن : - ۵۱۷

نیازی خلیل خان : - ۵۰- ۲۹۷- ۲۹۸-

۳۰۲- ۳۰۵

(و)

واصل روبنانے : - ۵۳۴- ۶۰۵- ۶۰۶

۶۰۹- ۶۶۸

وزیر محمد گل خان

مومند : - ۶۳- ۶۴- ۶۵- ۴۷۹

(ه)

هاشم بن عبد مناف : - ۳۸

هاشمی (سید محی الدین) : - ۲۵۷- ۶۲۹

۶۴۸

هاشمی (مولانا عبد القدوس) : - ۷

هجری (اشرف خان خټک) : - ۱۵۶- ۱۶۵

۱۶۷- ۲۱۴- ۵۱۴- ۵۱۵- ۵۱۶- ۵۱۸- ۵۳۹- ۵۴۰

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

تا ۵۷۱ ـ ۵۹۰ ـ ۵۹۱ ـ ۶۰۸ ـ ۶۰۹ ـ ۶۶۰ ـ ۶۶۱

۶۶۵ ـ ۶۶۶ ـ ۶۶۷ ـ ۶۶۹ ـ ۶۷۱ ـ ۶۷۲ ـ ۶۷۳

۶۷۵

هروی (نعمت الله) : ـ ۸۷ ـ ۸۹ ـ ۹۰ ـ ۹۵

۳۷۰ ـ ۳۷۶ ـ ۴۳۶ ـ ۵۲۱ ـ ۵۲۲ ـ ۶۱۵

همایون (مغل شهنشاه) : ـ ۵۷۹ ـ ۵۸۲ ـ ۵۸۳

هوتک (محمد رسول) : ـ ۹۹ ـ ۴۳۴ ـ ۶۵۸

هیبت خان کاکړ : ـ ۳۷۰

هیواد مل (زلمے) : ـ ۶ ـ ۴۲ ـ ۴۳ ـ ۴۴ ـ ۴۵

۶۴ ـ ۳۲۶ ـ ۶۳۵ ـ ۶۸۴ ـ ۶۸۵ ـ ۶۸۶ ـ ۶۸۷

۶۸۸ ـ ۶۹۱ ـ ۶۹۲ ـ ۶۹۵ ـ ۶۹۶ ـ ۶۹۷ ـ ۶۹۹ ـ ۷۰۰

(ی)

یحییٰ خان : ـ ۵۱۷

یسع : ـ ۱۷۴

یعقوب : ـ ۱۷۸

یوسف : ـ ۱۷۴ ـ ۱۷۵ ـ ۱۷۸

یوسف خان : ـ ۵۱۷

یونس خلیل : ـ ۵۱ ـ ۱۱۰ ـ ۱۱۲ ـ ۱۱۸ ـ ۱۱۹ ـ ۱۲۳

۱۲۴ ـ ۱۲۵ ـ ۱۲۶ ـ ۱۲۷ ـ ۱۲۹ ـ ۱۳۰ تا ۱۳۷ ـ ۱۴۲ ـ ۱۴۸

۱۶۳ تا ۱۸۹ ـ ۲۰۱ ـ ۲۱۵ ـ ۲۴۴ ـ ۲۵۵ ـ ۲۶۴ ـ ۳۵۱

۴۵۲ تا ۴۵۹ ـ ۴۶۱ ـ ۴۶۲ ـ ۴۶۳ ـ ۴۶۵ ـ ۴۷۶ ـ ۴۷۸

۶۱۴ ـ ۶۵۴ ـ ۶۷۶ ـ ۶۷۷ ـ ۶۷۸ ـ ۶۷۹ ـ ۶۹۲

۶۹۳ ۶۹۴ ـ ۶۹۵

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

اشاریہ (ب)
دکتابونو نومونہ

(الف)

آدم درخانی (قلمی) :- ۴۳

آزاد افغانستان مجلہ :- ۳۱۶

اخلاق محسنی :- ۳۰

اخلاق نامہ :- ۳۰-۳۳-۲۴۰-۲۴۱

ادبی ستوری دوھم

پتوک :- ۵۵۸-۵۶۱-۵۶۲

اردو انگلش ډکشنری :- ۳۵۰

اردو پښتو لغت

ډاکټر انوار الحق :- ۳۴۹-۴۸۶

اردو کلاسیکل هندی اینډ

انګلش ډکشنری :- ۳۰۹-۴۸۵

ارشاد الفقرا :- ۱۴۷-۶۱۴

ارمغان خوشحال :- ۹۶-۲۳۷-۳۹۵

اسرار العارفین :- ۱۴۶-۱۵۱

اعلام الوزعی فی اخبار

اللودی :- ۴۰۷-۶۱۳

افضل الطراتق :- ۱۴۷-۶۱۴

افغان آف فرنټیر پاسز :- ۳۲۰

اکبر نامہ :- ۵۷۸-۵۸۶-۵۹۴

القاموس العصری :- ۴۸۵

القرائض فی رد

الروافض :- ۱۴۷-۶۱۴

المنجد عربی اردو :- ۳۰۹

اوسنی لیکوال :- ۴۷۵-۴۹۶

اولیائے افغان :- ۱۴۷-۵۱۸-۵۱۹-۶۱۴

(ب)

بابر نامہ (انګریزی) :- ۱۶-۱۷

باز نامہ دافضل خان :- ۵

بخاری شریف :- ۴۹۸-

بستان الاولیا :- ۳۴۷-۴۰۲-

۶۱۳-۶۹۸

بوستان سعدی :- ۳۳-۵۲۴

بیان اللسان عربی اردو :- ۳۵۰-۴۸۵

بیلیو ډکشنری :- ۲۳۳-۲۵۵-۲۶۰-
۲۶۱-۲۶۴-۲۸۴-۲۹۸-۳۰۰-۳۰۹

(پ)

پټه خزانه فی الحقیقت :- ۶۵۳

پټه خزانه فی المیزان :- ۳-۷-۵۷-۶۳

۷۵-۸۶-۸۷-۱۲۲-۱۳۸-۱۴۵-۱۶۳-۱۹۵-۲۱۹

www.pukhto.net

۲۳۳-۲۳۴-۲۴۲-۲۴۵-۲۵۵-۲۶۲-۲۶۴

۲۷۱-۲۷۳-۲۷۵-۲۸۳-۲۸۵-۲۸۹-۲۹۰-

۲۹۷-۳۱۵-۳۳۳-۳۴۲-۳۵۵-۳۵۹-۳۶۰-

۳۶۶-۵۱۶-۵۶۲-۵۷۷-۶۱۹-۶۲۹-۶۳۰-

۶۳۶-۶۴۵- ۶۴۷-۶۴۸-۶۵۳-۶۵۹-

۶۸۵-۶۸۶-۶۹۴

پته خزانه یوه لغوی خزانه :- ۲۲۵

پښتانه د تاریخ

په رنا کښې :- ۴۶-۵۲۶

پښتانه شعراء :- ۹۹-۱۳۱-۱۳۳-۱۳۴-

۱۳۸-۱۴۲-۱۴۳-۱۵۲-۱۸۵-۱۸۶-۳۱۸-

۴۱۱-۴۱۲-۴۱۳-۴۵۲-۴۵۳-۴۵۴-۴۵۵-

۴۵۷-۴۵۸-۴۵۹-۶۴۹-۶۷۶

پښتو او پښتانه په سویلی

پښتونخوا کښې :- ۴۶

پښتو پښویه :- ۷۲

پښتو خبری :- ۷۲-۷۳

پښتو سیند :- ۲۳۳-۲۵۰-۲۸۴-

۳۵۳-۳۵۶-۵۹۷

پښتو قاموس :- ۲۶۰-۲۷۸-۲۸۴-۲۸۵-

۲۸۶-۲۹۱-۲۹۸-۳۰۰-۳۵۳-۳۵۴-۴۶۰-

۵۹۵- ۵۹۷

پښتو گرامر :- ۶۲۹

پښتو لنډی :- ۲۲۱-۲۲۲-۲۲۳-۲۹۳

پښتو مجله پیښور :- ۴۵-۸۳

پښتو مجله کونړ :- ۳۲۳

پښتو مرکه :- ۷۰-۷۲

پلوشه مجله کراچی :- ۳۲۱

پنجاب دستر کتب

گزټیئر (انگریزی) :- ۵۸۶-۵۹۴

(ت)

تاریخ احمد شاهی :- ۴۵۶

تاریخ افغانستان :- ۵۲۶

تاریخ ایران :- ۵۲۶

تاریخ خان جهانی :- ۴۸

تاریخ خورشید جهان :- ۴۶-۵۴۲-۵۴۳

۵۴۴-۵۴۵-۵۴۶-۵۴۷-۵۵۶-۵۷۱-۶۱۵

تاریخ سلطانی :- ۵۲۶-۶۱۵-۶۱۶

تاریخ سوری :- ۳۸۱-۳۸۲-۳۸۳-۶۱۳

تاریخ فرشته :- ۵۸۶

www.pukhto.net

تاریخ مرصع :- ۲۸-۲۹-۴۳-۴۶-۴۷
۴۸-۷۵-۷۶-۸۴-۸۵-۹۶-۹۷-۱۲۰-۱۲۳
۱۵۵-۱۵۶-۲۴۵-۲۴۶-۲۶۵-۲۶۹-۲۸۱
۳۷۷-۳۷۸-۳۷۹-۳۸۰-۴۰۱-۴۰۲-۴۰۳
۴۰۴-۴۰۵-۴۰۶- ۴۳۵-۴۳۶-۴۳۷-۴۴۸
۴۵۲-۵۱۴-۵۱۵-۵۱۶-۵۱۷-۵۳۱-۵۳۹-۵۴۱
۵۴۳-۵۴۶-۵۴۷-۵۵۹-۵۷-۵۷۹-۵۸۷
۵۹۳-۶۵۴
تاریخی پلتنی :- ۳۱۷-۳۱۹-۳۲۱
تتمة البیان :- ۵۲۶-۵۲۷
تجوید افغانی :- ۱۴۶
تحفه صالح :- ۱۴۷-۴۳۹-۴۴۴-۴۴۵-۶۱۳
تحفه واعظ :- ۱۴۷-۶۱۴
تذکرة الاولیاء
دسلیمان ماکو :- ۷۰-۷۲-۴۳۹
تذکرة الشعراء
دولت شاه سمرقندی :- ۳۶۸-۳۷۰-۳۸۴
۳۸۶-۴۰۸
تذکرة الشعراء
دطاهر نصیر آبادی :- ۳۰-۳۲
تذکرة الشعراء
دنظیر لدهیانوی :- ۵۲۳
تذکره شیخ رحمکار
رحمة الله علیه :- ۴۹۷-۴۹۸
تذکره غرغښت :- ۴۲۳-۴۲۴-۴۳۰
۴۳۱-۴۳۲-۶۱۳
تذکره غوثیه :- ۱۵۷
ترک بابری :- ۱۵-۱۶-۱۷-۲۳-۴۹۱
ترک جهانگیری :- ۵۷۸-۵۹۸
تفسیر صاوی :- ۷۷-۷۸
تفسیر قرطبی :- ۷۷
تفسیر مواهب الرحمان :- ۸۰
تقویم التاریخ :- ۳۸۷
تقویم تاریخی :- ۷-۸-۹-۱۰-۱۱-۱۲
۱۴-۱۵-۱۶-۱۷-۲۰-۲۱-۲۲-۲۴-۴۰۴
تماس مجله دویمه گڼه :- ۶۸۴
تنظیم مجله صوابی :- ۲۹۳
تواریخ افاغنه :- ۳۷۳-۳۷۴-۵۳۴
تواریخ حافظ رحمت خانی :- ۲۶۵
۳۷۰-۳۷۳-۳۷۷-۳۷۸

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

تول پارسنگ :- ۳-۷-۱۰-۱۳-۱۵-۱۹-۲۳
۵۲-۵۷-۶۵-۷۷-۷۹-۸۱-۸۷-۹۳-۹۵-۱۳۴
۱۵۱-۱۶۵-۱۷۱-۱۷۹-۱۹۵-۲۱۹-۲۲۳-۲۲۷
۲۲۹-۲۳۴-۲۳۵-۲۳۷-۲۳۸-۲۳۹-۲۴۰
۲۴۱-۲۴۲-۲۴۵-۲۴۶-۲۴۷-۲۵۰-۲۵۷
۲۵۸-۲۵۹-۲۶۲-۲۶۵-۲۶۶-۲۶۷-۲۸۵
۲۹۰-۲۹۹-۳۱۶-۳۲۵-۳۳۵-۳۴۱-۳۵۱
۳۶۵-۳۶۶-۳۷۷-۳۸۱-۴۵۷-۵۱۴-۵۱۹
۵۴۱-۵۷۹-۶۷۷-۶۸۷-۶۸۸
تیر ہیر شاعران :- ۴۲۴-۴۲۵-۴۹۴
۴۹۷-۴۹۸-۵۱۸

(ج)

جامع الفرائض :- ۱۴۷-۶۱۳
جامع اللغات :- ۲۸۰-۳۵۰-۴۸۶
جدید اردو پښتو لغت :- ۲۸۰
جرس مجلہ کراچی
جنوری مارچ ۱۹۹۵ :- ۵۴۱-۵۵۸-۶۹۶
جرس مجلہ کراچی
جولائی ستمبر ۱۹۹۶ :- ۵۷۹-۶۵۳
جہان کشائے نادری :- ۶۱۵-۶۱۶

(خ)

خیگر خون :- ۶۴۶

(چ)

چمن بے نظیر :- ۵
چھار مقالہ :- ۴۷۲

(ح)

حدیقہ خٹک :- ۳۹۵-۳۹۶-۴۶۸
۴۶۹-۴۷۰-۴۷۱-۶۳۲
حضرات القدس اردو :- ۴۸۷
حضرات القدس فارسی :- ۴۸۴
۴۸۷-۴۸۹
حیات افغانی :- ۴۶

(خ)

خزینہ افغانی :- ۲۱۴
خطوط غالب :- ۲۴
خلاصۃ الاشعار :- ۳۸۶
خلاصۃ الطب :- ۱۰۶-۱۴۷-۵۳۲-۶۱۴
خلاصۃ الفصاحت :- ۱۰۵-۱۱۵-۱۱۸
۱۴۷-۳۶۷-۳۷۴-۳۹۱-۴۲۹-۴۹۳-۶۱۴

Pukhto.Net
پښتو نیټ
www.pukhto.net

خوشحال خان خټک اردو : - ۳۸۹
۴۲۷ - ۶۸۸
خیر البیان : - ۶۳ - ۶۵ - ۶۸ - ۷۲ - ۱۰۷
۲۷۰ - ۳۲۵ - ۳۲۶ - ۵۳۴ - ۶۵۴
خیر اللغات : - ۲۳۳ - ۲۶۴ - ۲۸۴
۲۹۸ - ۳۰۰

(د)

دائرة المعارف اسلامیه : - ۸۰ - ۳۸۶
۳۹۷ - ۴۰۷ - ۵۸۶ - ۵۹۴ - ۵۹۸
دابو القاسم دیوان : - ۴۶۹ - ۴۷۱
داحمد شاه بابا دیوان : - ۷۰ - ۷۲ - ۶۳۵
دار المعرفت : - ۵۹۹
دازادی جنگ : - ۹۴
دافغان او پارس جګړه : - ۵۲۶
دامیر خان دیوان : - ۸ - ۱۹ - ۲۰
دبریښنا کیسه : - ۲۵۶
دبیدل دیوان : - ۱۳۰
دپټی خزانی میزان
دښتیا میزان دے؟ : - ۳۴۹ - ۵۴۱ -
۶۲۹ - ۶۸۶
دپښتنو تاریخ : - ۵۲۶
دپښتو نخوا د شعر
هار و بهار : - ۷۰ - ۷۲ - ۵۰۱ - ۵۰۲
دحضرت صاحب مناقب : - ۴۲۵
دحنان بارکزی دیوان : - ۲۷۳ - ۶۳۴
دخدائ مینه : - ۶۱۳
دخوږ دل دیوان : - ۴۳۲
دخوشحال خان خټک دیوان : - ۳۸۸
۳۸۹ - ۳۹۱ - ۳۹۴ - ۳۹۵
دخوشحال خان خټک
کلیات : - ۲۶۷ - ۲۷۰ - ۳۳۹ - ۴۴۵
دخوشحال خان خټک
مرغلری : - ۵۷ - ۵۸ - ۵۹ - ۶۰ - ۷۲ - ۱۰۳
۱۰۴ - ۱۱۲ - ۲۲۶ - ۴۱۶ ۴۱۷ - ۵۷۱
دخیبر ادب : - ۱۷۹
ددولت قلمی دیوان : - ۶۹ - ۷۲
درحمان بابا دیوان : - ۶۹ - ۷۲ - ۱۱۶ - ۱۱۸ -
۱۱۹ - ۱۲۲ - ۱۳۸ - ۱۳۹ - ۱۴۰ - ۱۴۱ - ۶۷۳ - ۶۸۰
درحمان بابا کلیات : - ۴۱۷ - ۴۱۸ - ۴۱۹
۶۵۶ - ۶۸۸

www.pukhto.net

د زرغون خان دیوان : - ٦١٣

د زنخیرونو شاعر : - ٥٥٣

د سالو وړمه : - ٤٠١- ٥٩٥- ٦٩٥- ٦١٤- ٦٩٦- ٦٩٧- ٦٩٩- ٧٠٠

دستار نامه : - ٣٠- ٣١- ١٢٨- ٢٤٧- ٢٤٨ ٢٤٩- ٣٣٩- ٣٤٩- ٣٥١- ٤٣٢- ٦٥٤

د سعید دیوان : - ٥٢- ٦١- ٦٢- ١٣٠- ٤٣٢

د شیدا دیوان (قلمی) : - ٨- ١١- ١٢

د عبدالقادر خان خټک دیوان : - ٦٣١ ٦٣٣- ٦٣٤- ٦٣٥- ٦٣٦

د علی خان دیوان : - ٦٢

د قاسم علی خان دیوان : - ١٠- ١٣- ١٤- ٦١

د لیکوالی فن : - ٦٢٩

دلے او شها : - ١٢٩

د محمد رسول هوتک بیاض : - ٦٥٨

د محمد هوتک دیوان : - ١٠٦- ١٤٧- ٦١٤

د محمد هوتک ژوند او مزار : - ٤٢

د محمدی صاحبزاده دیوان : - ٤١٤- ٤١٦ ٤١٧- ٤٦٩- ٤٧١

د مرزا خان انصاری دیوان : - ٧٢- ٤٣٢ ٦٠٦

د مطیع الله نیکهٔ دیوان : - ٢٢٩- ٢٤٧

د معز الله مومند دیوان : - ٢٢٦

د ملا لتار دیوان : - ٢٣٠- ٢٤- ٢٧١ ٢٧٢- ٢٩٠

د میاں نعیم دیوان : - ٥١

د ناز و انا یاد : - ١٠٧- ١٣٢- ١٣٣- ١٧٥ ٤٥٧- ٥١٢

د نجیب دیوان : - ٦١٠

د هجری دیوان : - ٤٣٢- ٥٤٧- ٥٤٩ ٥٦٧- ٥٧٠

د هند په کتب خانو کښی د پښتو قلمی نسخو فهرست : - ٤٣

د یونس دیوان : - ٥١- ١١١- ١٢٣- ١٢٤- ١٢٦ ١٢٩- ١٣٠- ١٣١- ١٣٢- ١٣٣- ١٣٤- ١٣٥- ١٦٣- ١٦٤ ١٧٠- ١٧١- ١٧٣- ١٧٤- ١٧٦- ١٧٧- ١٧٩- ١٨١- ١٨٥ ١٨٦- ١٨٧- ٤٥٢- ٤٥٣- ٤٥٤- ٤٥٥- ٤٦- ٤٥٧ ٤٥٨- ٤٥٩- ٤٦٣- ٦٧٧- ٦٧٩- ٦٩٣- ٦٩٤

www.pukhto.net

(د)

دان اخبار کراچی : - ۶۸۹

(ر)

راورتی دکشنری : - ۲۳۳ - ۲۵۵ - ۲۶۰

۲۶۱ - ۲۷۶ - ۲۷۸ - ۲۸۳ - ۲۹۸ - ۳۰۰ - ۳۰۹ - ۴۶۰

رحمان بابا د کامل مرحوم : - ۱۲۴ - ۶۵۹

رحمان پوهنه : - ۱۲۴ - ۱۳۷ - ۶۵۹ - ۶۶۱

۶۷۵ - ۶۷۷ - ۶۹۲ - ۶۹۳

رساله مدحیه : - ۴۹۱

رساله میت : - ۱۴۶

رڼا مجله پیښور : - ۴۱۸

روضة السلاطین : - ۳۰

روضه ربانی : - ۱۴۷ - ۶۱۴

روهی متلونه : - ۲۲۴ - ۲۹۴

ریاض السیاحة : - ۵۷۸

(ز)

زړه پانګه : - ۲۸۴ - ۲۹۸ - ۳۰۰ - ۵۹۵

۵۹۷

زړه عهد نامه : - ۲۵۶ - ۲۶۵

زیرے مجله : - ۳۱۶

(س)

سباون : - ۳۹۶

سرو آزاد : - ۳۸۷

سکام مجله کوئٹه : - ۳۲۳

سکندر نامه : - ۶۱

سلوک الغزات : - ۶۸ - ۷۲

سویلی ستوری : - ۴۷۵ - ۵۰۹

سیر السالکین : - ۲۱۳ - ۲۱۴ - ۲۶۵

سیف المبتدی : - ۹۱ - ۹۲ - ۹۳

سیف المبتدین : - ۸۷ - ۹۰ - ۹۱ - ۹۳ - ۹۴

سیف الملوک او بدری جماله - ۶۶

(ش)

شټائن گاس : - ۲۷۶ - ۲۷۸ - ۴۸۶

شخصیات سرحد : - ۱۵۷

شرح العقائد پښتو قلمی : - ۶۲

شرعة الاسلام : - ۶۲

شعر العجم : - ۳۶۸ - ۳۷۰ - ۳۸۵

۴۰۸ - ۴۲۴

شیخ بستان بریخ : - ۱۱۲ - ۶۲۳

Pukhto.Net
پښتو ډاټ نیټ
www.pukhto.net

(ط)

طبقات اکبری : ۔ ۵۷۸

طریقه محمدیه : ۔ ۴۹۸۔ ۵۰۰

طلوع افغان مجله : ۔ ۵۸۔ ۵۹

(ظ)

ظفر اللغات : ۔ ۲۷۸۔ ۲۸۶۔ ۲۸۷

۲۸۹۔ ۴۶۰

ظواهر السرائر : ۔ ۱۵۷

(ع)

عجائب البدن : ۔ ۴۳۹

عربک انگلش لکیکان : ۔ ۴۸۶

عرفات العاشقین : ۔ ۳۸۷

علم خانه دانش د

عبد القادر خان خټک : ۔ ۱۲۸۔ ۲۱۳

عهد جدید قلمی : ۔ ۶۹۳

(غ)

غرغښت نامه : ۔ ۱۴۷۔ ۴۲۲۔ ۴۲۳۔ ۴۲۴

۴۲۶۔ ۴۲۹۔ ۴۳۰۔ ۴۳۱۔ ۴۳۲۔ ۴۳۳۔ ۴۳۴۔ ۶۱۳

غرګه : ۔ ۱۲۴۔ ۱۲۵۔ ۱۲۷۔ ۱۳۲۔ ۶۷۷

غیاث اللغات : ۔ ۲۷۹

(ف)

فالنامه : ۔ ۲۴۰

فراق نامه : ۔ ۵۶۸

فرنټیر پوسټ اخبار : ۔ ۶۸۹

فرضیة الجمعة : ۔ ۴۲۵

فرهنگ آصفیه : ۔ ۲۷۹

فرهنگ زبان

و ادبیات پښتو : ۔ ۶۴۔ ۱۷۶

فرهنگ عمید : ۔ ۱۲۸

فضل نامه : ۔ ۳۰

فوائد شریعت : ۔ ۴۳۔ ۶۶۔ ۶۹۔ ۷۲

۲۱۳۔ ۲۵۶

فوائد فقیر الله : ۔ ۵۸۴

فیروز اللغات اردو : ۔ ۲۷۸۔ ۳۵۰

۴۸۵۔ ۴۸۷

فیروز اللغات فارسی : ۔ ۳۴۸۔ ۳۴۹

(ق)

قامة الجمعة : ۔ ۴۲۴

قرآن حکیم : ۔ ۷۵۔ ۸۰۔ ۸۳

قصص العاشقین : ۔ ۱۴۷۔ ۶۱۴

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

قصه د بهرام شهزاده

او گل اندامی : - ۴۳

قصه شاه و گدا : - ۳۰ - ۳۳

قلب السیر قلمی : - ۳۴ - ۳۵ - ۶۲

۲۴۹ - ۵۲۵

(ک)

کرستو میتی : - ۲۳۳ - ۲۵۵ - ۲۶۴

کلنی (کابل) : - ۳۲۴

کلید افغانی : - ۱۳۱ - ۴۱۴

کلید کامرانی : - ۴۰۷ - ۶۱۳ - ۶۱۶

کلیله او دمنه : - ۴۳

کنز : - ۴۹۸ - ۵۰۰

کیتلاگ آف پشتو

مینوسکرپټس : - ۱۱ - ۱۹ - ۲۱ - ۲۲ - ۶۹۳

(گ)

گلدسته د عبدالقادر خان

خټک : - ۳۰ - ۳۳ - ۴۳ - ۱۲۹ - ۳۵۲

گلدسته زعفرانی : - ۱۴۷ - ۴۴۹ - ۴۵۱ - ۶۱۴

گلستان سعدی : - ۳۳

گلستان مجله کونړه : - ۳۲۰ - ۳۲۱

گلستان منتخبات قلمی : - ۴۳ - ۴۴ - ۴۵

گلشن روه : - ۷۰ - ۷۲ - ۷۵ - ۷۷ - ۵۷۰

(ل)

لرغونی پښتانه : - ۳۸۱ - ۳۸۲ - ۳۸۳ - ۶۱۳

لرغونے قندهار : - ۳۵۷

لسان العرب : - ۴۸۳ - ۴۸۸

لغات افغانی : - ۲۳۳ - ۲۶۴ - ۲۹۸ - ۳۰۰

لغات کشوری : - ۲۷۶

لمړے کتاب د پښتو : - ۷۰ - ۷۲ - ۷۳

لیکوال منی ۱۹۹۶ : - ۶۲۲

لیکوالی املا او انشا : - ۶۸ - ۷۲ - ۱۴۹

لیلیٰ مجنون د

سکندر خان خټک : - ۲۷۰

(م)

مآثر عالمگیری : - ۵۶۳ - ۵۷۸

مثنوی ادم خان

درخانی : - ۸۲ - ۶۶۳

مثنوی شریف : - ۵۱۶

مجمع البرکات : - ۴۹۷

مجمع الفصحا : - ۳۸۷

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

مجمع اللغات : - ۲۷۶

مجمل : - ۳۸۶

محاسن صلاة : - ۱۴۷ - ۶۱۴

محمود نامه : - ۱۴۷ - ۶۱۴

مخزن : - ۴ - ۵ - ۴۳ - ۶۸ - ۷۲ - ۴۳۱ - ۵۳۴ - ۶۵۴

مخزن افغانی : - ۵ - ۴۶ - ۸۶ - ۳۷۰ - ۳۷۶ - ۳۸۰ - ۴۰۳ - ۴۰۴ - ۴۰۵ - ۴۰۶ - ۴۱۲ - ۴۱۳ - ۴۴۴ - ۴۴۵ - ۵۱۹ - ۵۲۰ - ۵۲۱ - ۵۲۲ - ۶۱۵ - ۶۱۶

مخزن الاسرار : - ۴ - ۵

مرآة الخیال : - ۳۸۷

مرآة العالم : - ۳۸۷

مسائل ارکان خمسه : - ۱۴۷ - ۶۱۳

مشکواة شریف : - ۴۹۸ - ۵۰۰

مصباح اللغات : - ۳۰۹ - ۴۸۵

مظلوم رحمان : - ۱۵۶

مکتوبات امام ربانی : - ۵۱۶ - ۵۹۸ - ۵۹۹ - ۶۰۰

منتخب التواریخ اردو : - ۵۸۰

منتخب التواریخ انگریزی : - ۵۷۸ - ۵۸۷

منتخب التواریخ فارسی : - ۵۸۱

۵۸۲ - ۵۹۴

میرویس نیکه : - ۵۱۲

(ن)

نادر نامه : - ۶۱۶

نفحات الانس : - ۳۰

نیرنگ عشق : - ۳۰ - ۳۳

(و)

وحدت اخبار : - ۶۰۷

ورکه خزانه : - ۲۰

(ه)

هدایه : - ۴۹۸ - ۵۰۰

هفت اقلیم : - ۳۸۶ - ۳۹۷ - ۴۰۸ - ۴۲۹

(ی)

یوسف زلیخا : - ۳۰ - ۳۳ - ۲۴۳

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net